

# مه پېړۍ یون

## پينځم ټوک

(یونلیکنې)

محمد اسمعیل یون

۱۳۹۶ل

### په دې څوارلس ټوکیزو کلیاتو کې

**لومړی ټوک (پنځوني او ژباړې):** متکور، په اورونو کې سندرې، د ټولنپوهنې له نظره په افغانستان کې د واک جوړښتونه، په افغانستان کې د جګړې جنایتکارانو محاکمه، د افغانستان فرهنګي میراثونو ته یوه کتنه، فلسفه او فلسفي بهیر (۱- ۹٦۹) مخونه.

**دویم ټوک (راټولونې):** هیلې، نیمګړي ارمانونه، د لوونو فصل، سیندونه هم مري او د پښتو ادب لرغونې دوره (۹۷۰- ۲۱۱۳) مخونه.

**درېیم ټوک (راټولونې):** د نازو انا یاد، د استاد الفت نثري کلیات (۲۱۱۴- ۳۲۱۰) مخونه.

**څلورم ټوک (یونلیکنې):** د اماراتو سفر، که یون دی یون دی، د پنټاګون تر څنډو، د کرملین په زړه کې (۳۲۱۱- ۴۲۷۴) مخونه.

**پنځم ټوک (یونلیکونه):** د ډیلي تخت هېرومه، دري ورځې د افسانو په وطن کې، د خدای(ج) تر کوره (۴۲۷۵- ۵۳۱۹) مخونه.

**شپږم ټوک (کلتوري او څېړنیز اثار):** استاد زیار د پښتني فرهنګ یو ځلاند ستوری، د ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو کتابښود، ساینسي پرمختیاوې، هیله د خپلو سریزو په لمن کې، د کتابونو په وړمو کې (۵۳۲۰- ٦۱۳۳)مخونه.

**اووم ټوک (کلتوري او څېړنیز اثار):** فرهنګي فقر، له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل، د افغانستان فرهنګ ته اووښتي زیانونه، مرکه او مرکې، کلتوري یون، جنګ او فرهنګ په افغانستان کې (٦۱۳۴- ۷۱۱۹) مخونه.

**اتم ټوک (سیاسي او ټولنیز اثار):** بېړنۍ لویه جرګه: ولسواکي او زورواکي، افغانستان په سیاسي کړلېچ کې، د سمون په لټه (۷۱۲۰- ۸۱[illegible]) [illegible]ونه.

**نهم ټوک (س[illegible] او [illegible]ولنیز اث[illegible]):** ک[illegible] [illegible]وال [illegible]ه [illegible] [illegible]ملی [illegible]رماني په کړلېچ کې، ملي هویت او ملي عزت (۸۱۴۸- ۹۳۰٦) مخونه.

**لسم ټوک (سیاسي او ټولنیز اثار):** ملي درسونه، د ارګ نا ویلې خبرې (۹۳۰۷- ۱۰۳۴۹) مخونه.

(پاتې د پښتۍ ۳ مخ)

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیمه پېړۍ یون

## پنځم ټوک

## (یونلیکنې)

محمد اسمعیل یون

۱۳۹۶ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# نيمه پېړۍ يون

## پنځم ټوک

(يونليکنې)

ليکوال: **محمد اسمعيل يون**

خپرندوی: **د افغانستان ملي تحريک**

ډيزاين: **فياض حميد**

چاپکال: **۱۳۹٦ لمريز**

چاپشمېر: **۱۰۰۰ ټوکه**

**د خپرندوی د خپرونو لړ: (۱۴۲)**

وېبپاڼه: **www.melitahrik.com**

**د دې کتاب د چاپي او انلاين خپرولو ټول حقوق له خپرندوی سره خوندي دي**

**٤٢٧٥**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ:

# د افغانیت، اسلامیت او انسانیت

# رښتینو لارویانو ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نیولیک



| ګڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| • | د استاد یون پنځوس کلن یون | ٤٢٨٦ |
| • | زما د نیمې پېړۍ یون | ٤٣٠٢ |
| | **د ډیلي تخت هېرومه** | |
| ١ | د ډیلي تخت هېرومه | ٤٣١٧ |
| ٢ | د سفر علت او ضرورت | ٤٣٢٥ |
| ٣ | له کابله تر ډهلي | ٤٣٣١ |
| ٤ | څلور ساعته په ډیلي هوایي ډګر کې | ٤٣٣٦ |
| ٥ | د هوټل لومړۍ شپه | ٤٣٤٤ |
| ٦ | د کورس لومړۍ ورځ | ٤٣٤٧ |
| ٧ | یوه غرمنۍ له خان ثناالله خان سره | ٤٣٥٢ |
| ٨ | یوه غرمه له استاد خالق رشید سره | ٤٣٥٤ |
| ٩ | په هند کې افغان ناروغان | ٤٣٥٧ |
| ١٠ | لودي ګارډن ( لودي بڼ) | ٤٣٦٤ |
| ١١ | قطب مینار | ٤٣٧٠ |
| ١٢ | بهایي مرکز | ٤٣٧٩ |
| ١٣ | یوه غرمنۍ په ډیلي ښار کې | ٤٣٨٨ |
| ١٤ | ګاندي څلی | ٤٣٩٤ |
| ١٥ | جامعه ملیه اسلامیه | ٤٤٠٣ |
| ١٦ | د کتابونو نړیوال نندارتون | ٤٤٠٦ |
| ١٧ | دویم سفر ( تر ډیلي بهر) | ٤٤١٢ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ۱۸ | د اګرې پر لوري | ٤٤١٨ |
| ۱۹ | د اګرې لومړۍ کتنه | ٤٤٢٨ |
| ۲۰ | یوه غرمنۍ په اګره کې | ٤٤٣٤ |
| ۲۱ | تاج محل | ٤٤٣٧ |
| ۲۲ | یوه شپه په ګرېنډ هوټل کې | ٤٤٥٩ |
| ۲۳ | له اګرې نه تر جیپوره | ٤٤٦٤ |
| ۲٤ | امبر کلا | ٤٤٧٣ |
| ۲۵ | یوه شپه په جیپور پېلس هوټل کې | ٤٤٨٢ |
| ۲٦ | سبا ناری په جیپور پېلس کې | ٤٤٨٧ |
| ۲۷ | جنتر منتر | ٤٤٨٩ |
| ۲۸ | له جیپوره تر ډهلي | ٤٤٩٧ |
| ۲۹ | غرمنۍ په جانپټي ریسورټ کې | ٤٤٩٩ |
| ۳۰ | ددې سفر نتیجه | ٤٥٠٣ |
| ۳۱ | یو ماښامی د کرکېټ په خوشالۍ کې | ٤٥٠٧ |
| ۳۲ | د اجمل خټک په یاد غونډه | ٤٥١٣ |
| ۳۳ | د کرکېټ خوشالي او وچه مېوه | ٤٥١٨ |
| ۳٤ | بیا هم د کرکېټ د شوق په دام کې | ٤٥٢٢ |
| ۳۵ | جامع مسجد - زوړ ډیلی | ٤٥٢٦ |
| ۳٦ | یوه غرمنۍ په کریم هوټل کې | ٤٥٣٢ |
| ۳۷ | لعل کلا یا سره کلا | ٤٥٣٥ |
| ۳۸ | څو شپې په ګوردواره کې | ٤٥٤٤ |
| ۳۹ | د هېوادونو پېژندنه | ٤٥٥١ |
| ٤۰ | د مذهبونو یوه بله ننداره | ٤٥٥٩ |
| ٤۱ | د پاني پت پر لوري | ٤٥٦٢ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ٤٢ | له ډېلي تر پاني پته | ٤٥٦٨ |
| ٤٣ | د ابراهيم لودي مزار | ٤٥٧٧ |
| ٤٤ | د بوعلي شاه قلندر زيارت | ٤٥٨٣ |
| ٤٥ | د پاني پت ډگر | ٤٥٨٨ |
| ٤٦ | يو جنگ له دوو ليد لورو | ٤٥٩٥ |
| ٤٧ | له پاني پته تر ډېلي | ٤٥٩٩ |
| ٤٨ | د خپل هېواد پېژندنه | ٤٦٠٤ |
| ٤٩ | د خواجه نظام الدين زيارت | ٤٦٢٢ |
| ٥٠ | مغول گارډن | ٤٦٢٨ |
| ٥١ | بوده پارک | ٤٦٣٢ |
| ٥٢ | د ال انډيا راډيو کتنه | ٤٦٣٥ |
| ٥٣ | لس مناظرې | ٤٦٥١ |
| ٥٤ | په هند کې فرهنگي ولولې | ٤٦٨١ |
| ٥٥ | مېلمستياوې | ٤٦٩١ |
| ٥٦ | بري ليکونه | ٤٦٩٦ |
| ٥٧ | په هند کې د پښتنو واده | ٤٧٠١ |
| ٥٨ | په ډېلي کې وروستۍ ورځ | ٤٧١٠ |
| ٥٩ | سروجني نگر بازار | ٤٧١٢ |
| ٦٠ | خيرالمنازل مسجد | ٤٧١٦ |
| ٦١ | پرانه کلا | ٤٧١٩ |
| ٦٢ | انډيا گېټ | ٤٧٤٣ |
| ٦٣ | پليکا بازار | ٤٧٤٦ |
| ٦٤ | په ډېلي کې وروستۍ شپه | ٤٧٤٩ |
| ٦٥ | له ډېلي نه تر کابله | ٤٧٥٢ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درې ورځې د افسانو په وطن کې


| | | |
|---|---|---|
| ۱ | د تحریک یادښت | ٤٧٦١ |
| ۲ | استاد یون او دا یونلیک | ٤٧٦٢ |
| ۳ | یادونه | ٤٧٦٩ |
| ٤ | درې ورځې د افسانو په وطن کې | ٤٧٧١ |
| ٥ | هلمند پېژندنه | ٤٧٧٥ |
| ٦ | د سفر پیل | ٤٧٧٨ |
| ٧ | الوتکه او مرکې | ٤٧٨١ |
| ٨ | هرکلی | ٤٧٨٤ |
| ٩ | بُست مېلمستون | ٤٧٨٦ |
| ۱۰ | د سیمینار پیل | ٤٧٨٩ |
| ۱۱ | د هلمند توت | ٤٧٩٩ |
| ۱۲ | د بُست راډیو کتنه | ٤٨٠١ |
| ۱۳ | اراکوزیا پوهنتون | ٤٨٠٤ |
| ١٤ | د ناد علي پر لوري | ٤٨٠٨ |
| ١٥ | نادعلي او ښوونځې | ٤٨١١ |
| ١٦ | د ملي تحریک غونډه | ٤٨١٧ |
| ١٧ | بُست پروډکشن | ٤٨٢٠ |
| ١٨ | بُست پوهنتون | ٤٨٢٣ |
| ١٩ | د لښکرګاه واټونه | ٤٨٢٨ |
| ٢٠ | ملت بابا پارک | ٤٨٣٤ |
| ٢١ | هلمند سیند مشاعره | ٤٨٣٧ |
| ٢٢ | نړیوال (انټر نېشنل کمپلیکس) روغتون | ٤٨٤١ |
| ٢٣ | د سفر وروستۍ ورځ | ٤٨٤٣ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ۲٤ | سباوون رادیو ټلوېزیون | ٤٨٤٤ |
| ۲۵ | ملي راډیو ټلوېزیون | ٤٨٤٧ |
| ۲٦ | د هوايي ډګر پر لوري | ٤٨٥٠ |
| ۲۷ | کابل او د ژوندون انګړ | ٤٨٥٤ |


## د خدای (ج) تر کوره


| | | |
|---|---|---|
| ۱ | د تحریک یادښت | ٤٨٥٩ |
| ۲ | ښاغلی استاد یې غوښتی و... | ٤٨٦٠ |
| ۳ | د خدای(ج) تر کوره او یو څو نورې خبرې | ٤٨٦٦ |
| ٤ | د حج هیله | ٤٨٦٩ |
| ۵ | د حج پوخ نیت او تیاری | ٤٨٧٤ |
| ٦ | له کوره تیاری | ٤٨٧٧ |
| ۷ | دوه ساعته په کور کې | ٤٨٨٠ |
| ۸ | یو ساعت په عیدګاه کې | ٤٨٨٣ |
| ۹ | درې ساعته په هوايي ډګر کې | ٤٨٨٦ |
| ۱۰ | په الوتکه کې د عمرې نیت | ٤٨٩٠ |
| ۱۱ | د افغانانو انتظام | ٤٩٠١ |
| ۱۲ | له جدې څخه د مکې مکرمې پر لوري | ٤٩٠٤ |
| ۱۳ | عماره یا استوګنځی | ٤٩٠٩ |
| ١٤ | د لومړۍ عمرې لپاره تیاری | ٤٩١٢ |
| ۱۵ | د لومړۍ عمرې پر لوري | ٤٩٤٠ |
| ۱٦ | د طوافونو پیل | ٤٩٥٤ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ۱۷ | لمونځونه او طوافونه | ٤٩٥٩ |
| ۱۸ | سعودي مېشتي افغانان | ٤٩٦٣ |
| ۱۹ | عرفات ته لومړی سفر | ٤٩٦٧ |
| ۲۰ | د طوافونو دوام | ٤٩٧٥ |
| ۲۱ | د افغانانو مېلمستيا | ٤٩٨١ |
| ۲۲ | جبل النور ته د تگ هوډ | ٤٩٨٥ |
| ۲۳ | جبل النور ته د ختلو تکل | ٤٩٨٨ |
| ۲٤ | د بغلان ځوانان او سهار چای | ٤٩٩٨ |
| ۲٥ | مسجد الحرام او د جماعت هيله | ٥٠٠١ |
| ۲٦ | لمونځ، خوب او طواف | ٥٠٠٤ |
| ۲۷ | د پلار لپاره طواف | ٥٠٠٧ |
| ۲۸ | د ماښام او ماسخوتن لمونځونه او دروند خوب | ٥٠١٢ |
| ۲۹ | لمونځ، خپلې مور او خپلوانو لپاره طواف | ٥٠١٤ |
| ۳۰ | اتم طواف او خپلې مېرمنې ته د روغتيا هيله | ٥٠١٨ |
| ۳۱ | د افغانانو مېلمستيا | ٥٠٢١ |
| ۳۲ | د جمعې لمونځ او سور لمر | ٥٠٢٩ |
| ۳۳ | تحريکوالو او ټولو افغانانو لپاره طواف | ٥٠٣٥ |
| ۳٤ | د بغلان ځوانان او د عزت پگړۍ | ٥٠٣٨ |
| ۳٥ | خپل استوگنځی او يادښتونه | ٥٠٤٤ |
| ۳٦ | طواف او يوځل بيا خپل هېواد ته دعا | ٥٠٤٦ |
| ۳۷ | خوندوره کړايي | ٥٠٥٥ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ۳۸ | اسلامیت او ټول بشریت ته طواف | ۵۰۵۹ |
| ۳۹ | د لغمان د حاجیانو مېلمستیا | ۵۰٦۵ |
| ٤۰ | یو ځل بیا د بغلان ځوانان | ۵۰٦۸ |
| ٤۱ | ناروغي او یادښتونه | ۵۰٦۹ |
| ٤۲ | عبادت او د وطن احوال | ۵۰۷٦ |
| ٤۳ | د حاجي صابر صمیمانه مېلمستیا | ۵۰۷۹ |
| ٤٤ | د ښارونو او قومونو یوه پرتلنه | ۵۰۸٤ |
| ٤۵ | منی شریف ته د تگ لارښوونه | ۵۰۸۷ |
| ٤٦ | د منی شریف پر لوري | ۵۰۹۲ |
| ٤۷ | منی شریف او د لومړي ماسپښین مازیگر او ماښام لمونځونه | ۵۰۹۸ |
| ٤۸ | د عرفات پر لوري | ۵۱۰۹ |
| ٤۹ | عرفات او د جنت یوه وړه ننداره | ۵۱۱۲ |
| ۵۰ | د ماسپښین لمونځ او د عالمانو ترمنځ د نظر اختلاف | ۵۱۱٤ |
| ۵۱ | د محشر یوه بېلگه | ۵۱۱۷ |
| ۵۲ | د مزدلفې شپه | ۵۱۲۱ |
| ۵۳ | د جمرو (شیطانانو) د ویشتلو تیاری | ۵۱۲٦ |
| ۵٤ | د غټ شیطان ویشتل او بیا قرباني | ۵۱۲۸ |
| ۵۵ | د ماسپښین لمونځ او فرضي طواف | ۵۱۳۱ |
| ۵٦ | ډوډۍ او خوب | ۵۱۳٤ |
| ۵۷ | منی شریف ته تگ او بېرته راتگ | ۵۱۳۵ |
| ۵۸ | له خوگیاڼو عزیزانو سره د ماسخوتن ډوډۍ | ۵۱۳۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ٥٩ | سعودي مېشتو افغانانو سره لنډه ناسته | ٥١٤١ |
| ٦٠ | ماسپښین لمونځ او بیا د شیطانانو ویشتل | ٥١٤٣ |
| ٦١ | د مازیګر او ماښام لمونځ او د ملا صاحب د پند څو خبرې | ٥١٤٦ |
| ٦٢ | په منی شریف کې وروستۍ ورځ | ٥١٥٢ |
| ٦٣ | سهار لمونځ او جبل الثور | ٥١٥٥ |
| ٦٤ | د جبل الثور پر لوري | ٥١٥٩ |
| ٦٥ | د سهار چای او استراحت | ٥١٦٧ |
| ٦٦ | پرله پسې طوافونه | ٥١٧١ |
| ٦٧ | د سوکالۍ احساس او مېلمانه | ٥١٨٤ |
| ٦٨ | وروستۍ عمره | ٥١٨٧ |
| ٦٩ | د حج او اوقافو وزارت له وزیر سره ملاقات | ٥١٩٧ |
| ٧٠ | د طایف پر لوري | ٥٢٠٢ |
| ٧١ | د لغمانیو واده | ٥٢٠٥ |
| ٧٢ | وداعي طواف | ٥٢١١ |
| ٧٣ | د سهار چای او د مکتب پر لوري | ٥٢١٦ |
| ٧٤ | د مدینې منورې پر لوري | ٥٢٢١ |
| ٧٥ | د حضرت رسول الله(ص) مبارکه روضه | ٥٢٣٠ |
| ٧٦ | د احد غر او د شهیدانو زیارت | ٥٢٣٣ |
| ٧٧ | د مدینې منورې څو نور سپېڅلي او تاریخي ځایونه | ٥٢٣٦ |
| ٧٨ | د بدر پر لوري | ٥٢٤٣ |
| ٧٩ | یوه ښه خوندوره افغاني ډوډۍ | ٥٢٥٣ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ۸۰ | د پېریانو دره | ۵۲۵٦ |
| ۸۱ | د ماسپښین لمونځ او پرهېزانه | ۵۲٦۲ |
| ۸۲ | جنت البقیع | ۵۲٦٤ |
| ۸۳ | د اسلام د انحصارولو یوه بېلګه | ۵۲٦۸ |
| ۸٤ | د افغانانو یوه بله صمیمانه مېلمستیا | ۵۲۷۲ |
| ۸۵ | یادښتونه او د غزني ملګري | ۵۲۷٦ |
| ۸٦ | تر نبوي مسجد چاپېره دوره | ۵۲۸۲ |
| ۸۷ | مدینه منوره او غزنیچی ښوروا | ۵۲۸۷ |
| ۸۸ | د افغانانو اوسېلي | ۵۲۹۱ |
| ۸۹ | د جمعې لمونځ او د لغمانیو مېلمستیا | ۵۲۹٤ |
| ۹۰ | د اخلاص ډوډۍ او د عزت لونګۍ | ۵۲۹۸ |
| ۹۱ | د خدای(ج) رسول ته وروستی سلام او خدای پاماني | ۵۳۰۰ |
| ۹۲ | په مدینه منوره کې وروستۍ شپه او د سفر تیاری | ۵۳۰٤ |
| ۹۳ | هوایي ډګر | ۵۳۱۰ |
| ۹٤ | کابل کې هرکلی | ۵۳۱٦ |
| ۹۵ | ختم او خیرات | ۵۳۱۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د استاد یون پنځوس کلن یون

ښاغلي پوهاند دوکتور محمد اسمعیل یون زموږ د زمانې په تېره بیا د سختو حالاتو یو مخکښ فکري مبارز دی. ده د افغانستان د کورنیو او بهرنیو مخالفینو، جنگسالارانو او فسادگرو پر وړاندې د مبارزې یوه ځانگړې لاره، چې د قلم، ژبې او جرئت لاره وه، غوره کړه. دا یې د خپل ولس او خلکو د اوږدو مبارزو تر ټولو غوره، بریالۍ او ژغورندویه لاره او مبارزه وبلله. دی که په کابل کې و او یا هم په نورو ولایتونو کې، خپلو ملي او فرهنگي هلو ځلو ته یې دوام ورکړی، همدا علت و چې افغانانو دده د مبارزې پر حقانیت، ربنتینولۍ او ز‌ړورتیا باور پیدا کړ، ډېری افغانان په ځانگړې توگه ځوانان یې تر ځنگ ودرېدل او دې مبارزې ته یې لا نور ځواک وروبانبه. یون ددې ځوانانو په راټولېدو سره پرځان لا باوري شو او خپلې دې مبارزې ته یې په سیستماتیک ډول دوام ورکړ.

که وویل شي چې یون د افغاني ټولنې، ملي تفکر او د مظلوم اکثریت د غږ پورته کولو یو بریالی ویاند دی، نو مبالغه به مې نه وي کړې. ددې لپاره چې ښاغلی یون په بشپړه توگه وپېژنو، نو غواړم دلته یې د ژوند، اثارو او افکارو پر بېلابېلو برخو لنډه رڼا واچوم:

**۱-زوکړه:** محمد اسمعیل یون د حاجي محمد خان زوی او د هدایت خان لمسی دی، پر (۱۳۴٦ل) کال د کب پر (۱۸) مه نېټه د لغمان ولایت د الینگار ولسوالۍ د (الوخېلو) په یوې روښنفکرې کورنۍ کې زېږېدلی دی. یون لا د شپږم ټولگي زده‌کوونکی و چې پلار یې وفات شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کور سرپرستي او د ژوند نورې چارې خپله ده ته ورپرغاړه شوې. خو په دې سختو شرایطو کې یې هم خپل هوډ قوي وساته، هم یې د کورنۍ سرپرستي کوله او هم یې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ.

**۲- زده کړې:** محمد اسمعیل یون پر (۱۳۵۳ل)کال د الینگار ولسوالۍ د (سلینگار) په لومړني ښوونځي کې، چې د یون له کوره په پلي مزله یې نږدې یو نیم ساعت واټن درلود، په لومړي ټولگي کې شامل شو، یون یو کال د سویې ازموینه ورکړه او یو ټولگی یې ارتقا وکړه، پر (۱۳۵۷ل)کال دې ښوونځي ته نوې ودانۍ جوړه شوه او د یون کور ته نږدې ساحه کې اباد شو. پر (۱۳۵۸ل) کال دا ښوونځی د حکومت د مخالفینو له خوا وسوځول شو، یون د نورو زده کوونکو په شان له ښوونځي څخه بې برخې شو، یون له درس سره د خپلې مینې او د کورنۍ د موافقې پر اساس کابل ته راغی او دلته پر (۱۳٦۱ل) کال یې د کابل په (ده خدایداد) او بیا په (ده یحیی) لېسو کې خپلې زده کړې پسې تعقیب کړې. پر (۱۳٦۲ل) کال د کابل په خوشال خان لېسه کې شامل او پر (۱۳٦٦ل) کال ترې په دویمه نومره فارغ شو، (۱۳٦۷ل)کال د کابل پوهنتون په ژبو او ادبیاتو پوهنځي کې شامل او پر (۱۳۷۰ل) کال ترې اول نومره فارغ شو، پر (۱۳۷۰ل)کال یې د یاد پوهنځي پښتو څانگې کې د کدر ازموینه ورکړه، په یاده ازموینه کې بریالی او پر همدې کال د (نامزد پوهیالي) په رتبه د پښتو څانگې د کدر غړی شو. یون پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۳۸۵ل)کال د کابل پوهنتـون د ژبـو او ادبیـاتو پـوهنځي پـه ماسـترۍ پروګرام کې شامل او پر (۱۳۸۷ل)کال کې ترې فارغ شو.

یون د (کابل پوهنتون) علمي مجلې موسس هم دی او درې کاله یـې ددې مجلې مدیریت هم ورپرغاړه و.

محمـد اسـمعیل یـون پـر (۱۳۹۲ل) کـال د کابـل پوهنتـون د ژبـو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې د دوکتورا (PhD) پروګرام کـې شـامل شـو او د تحصیل دا پړاو یې هم پر (۱۳۹٦ل) کال په بریالیتوب سره بشپړ کړ.

یون پر پورتنیو زده کړو سربېـره د لنـډ مهالـه کورسـونو، ورکشـاپونو او سیمینارونو لپاره په کور دننه او بهر په ځینو برخو کې زده کـړې کـړې دي او لنډ مهاله کورسونه یې هم تعقیب کړي دي.

یون له (۱۳۷۰ل) کال څخه چې د کابل پوهنتون په کدر کـې شـامل شوی، بیا تر (۱۳۹٦ل)کال پورې په مـنظم ډول تـدریس کـړی او پـه دې یاده موده کې یې لـه (نـامزد پوهیـالي) څخـه نیـولې بیـا تـر (پوهانـدۍ) وروستۍ لوړې پوهنتوني رتبې پورې ټـولې رتبـې پـه ترتیـب سره بشـپړې کړي او د هرې رتبې لپاره یې له پوهنتوني مقرراتو سره سم ځـانګړی اثـر لیکلی دی.

**۳- دندې:** یون چې کله په ښوونځي کې د څلورم، پـنځم او شـپږم ټولګي زده کوونکی و، نو د ښوونځي د ترانې د ټـیم غـړی و، سـپورت سره یې هم مینه درلوده، په ښوونځي کې د خپل عمر په هلکانو کې د والیبال

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټيم غړی و، یون چې کله له لغمان څخه کابل ته راغی، نو دلته په (خوشال خان) لېسه کې د ادبي انجمن مشر شو. یون د ثانوي زده کړو پر مهال (۹-۱۲) ټولګي پورې موده کې له یو شمېر اخبارونو او مجلو سره قلمي همکاري درلودله او د ځينو چاپي خپرونو له خوا ورته حق الزحمه هم ورکول کېدله. یون په کابل پوهنتون کې د تحصیل پر مهال هم د لیکوالو د ټولنې غړی، د ځوانو لیکوالو د ټولنې د مشرتابه غړی، د خوشال فرهنګي ټولنې د ځوانانو د برخې مسول او یو شمېر نورو فرهنګي ټولنو غړی پاتې شوی دی.

یون لا په (۱۲) ټولګي کې و چې د (هیلې) په نامه یې د لرو او برو افغانانو د ځوانو شاعرانو یوه شعري ټولګه راټوله او پر (۱۳٦٦ل) کال یې چاپ کړه.

د پوهنځي پر وروستي کال یې دوه اثار: د خپلو شعرونو ټولګه (مټکور) او د ولسي شاعر (محمد عالم حیران) د شعرونو ټولګه (نیمګړي ارمانونه) چاپ کړل.

یون د تنظیمي جګړو پر مهال کله په کابل او ځينې وختونه په پېښور کې اوسېده، هلته په پېښور کې یې (هیله) مجله چاپوله، د (معارف) مجلې همکار و، په جرمنې کې د دوو افغاني کلتوري ټولنو؛ (د افغانستان کلتوري ودې ټولنه) او (د پښتني فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنې) استازی هم و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمـد اسـمعیل یـون د طالبـانو د نظـام تـر ړنګېـدو وروسـته پـر (١٣٨١ل)کال لومړی په ختیزو ولایتونو کـې د ملګـرو ملتونـو د مرسـتو د ځانګړي دفتر یوناما (UNAMA) مشاور او ډېر ژر په یـادو ولایتونـو کـې د بېړنۍ لويې جرګې لپاره د انتخاباتو د دفتر مشر شو. یون دا دنـده هـم پـه ښه ډول ترسره کړه.

یون پر (١٣٨٢ل)کال د بېړنۍ لويې جرګه چې نږدې (١٦٠٠) تنـو پـه کې له ټول افغانستان څخه ګډون درلود، غړی و، د جرګې د مشرتابه لپـاره ټاکنې وشـوې او یـون د رایـو پـه اکثریـت سره د بېړنـۍ لـويې جرګـې د لومړي منشي په توګه انتخاب شو، د منشیتوب دنـده یـې هـم پـه ښـه ډول ترسره کړه او بیا یې د یادې جرګې په باب (بېړنۍ لویه جرګـه- ولسـواکي او زورواکي) تر نامه لاندې یو ځانګړی اثر هم ولیکه.

یون پر (١٣٨٥ل)کال د افغانستان او پاکستان تـر مـنځ د (امـن ګـډې جرګې) لپاره د افغانستان له لوري د منشي په توګه غوره شو او دا دنده یـې هم په ښه ډول ترسره کړه.

یون پر (١٣٨٥ل)کال د جمهور رییس حامـد کـرزي د یـوه ځـانګړي فرمان له لارې د امنیت شورا دفتر د فرهنګي چارو د رییس په توګـه غـوره شو، اوه کاله یې دا دنده پر مخ یوړه او جمهور رییس حامـدکرزي تـه یـې په ډېرو ملي او فرهنګي مسایلو کې خپلې مشورې ورکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یون پر (۱۳۹۲ل)کال په حکومت کې د ولسمشر له خوا جنگسالارانو او فسادگرو ته د زیاتو امتیازاتو له ورکړې سره د مخالفت له امله له خپلې دندې استعفی ورکړه او پر همدې کال یې (د افغانستان ملي تحریک) په نامه د یو ازاد، فرهنگي، مدني، ټولنیز، ملي او سیاسي حرکت بنسټ کېښود.

## ۴-کورنی ژوند:

استاد یون پر (۱۳۷۴ل) کال له (اریـن مومنـد) سره واده وکړ، اوس څلور اولادونه لري (هیله، سمسور، سوله او ودان). (هیلـه) او (سمسـور) دا مهال (۱۳۹٦ل کال) پـر لـوړو زده کـړو بوخـت دي، (سوله) او (ودان) د ښوونځي زده کوونکي دي او مېرمن یې (ارین یون) په ولسي جرگه کـې د ننگرهار د خلکو منتخبه استازې ده.

## ۵-فعالیتونه:

**الف- ټولنیزه برخه کې:** یون لـه (۱۳٦٦ل)کـال څخـه بیـا تـر (۱۳۹٦ل)کال پورې په ټولنیزو چارو کې زیات کارونه ترسره کړي دي، په یاده موده کې یې په سلگونو زرو هېوادوالو سره لیدنې کتنې کـړي دي، په سلگونو ټولنیزې غونډې یې جوړې کړي، د خلکو مشکلاتو ته یې ځان رسولی، د نورو ملگرو او ملي تحریک د ملگرو په مرسته یې مصیبت ځپلو خلکو ته مرستې وررسولي. په کابل، کندوز، بغلان، بدخشان، فاریاب، بلخ، هلمند، ننگرهار، پکتیا، خوست، لغمان، کونړ او د هېواد په نورو سیمو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې زلزله ځپلو، سېلاب ځپلو، جنګ ځپلو او نورو مصيبت ځپلو هېوادوالو ته د ملي پانګوالو مرستې رسولې دي، د دولت او خيريه ټولنو پام يې هغو ته وراړولی او لـه دې لارې يـې خلکـو تـه پـه مسـتقيم او نامسـتقيم ډول د ميليونونو ډالرو مرستو د ور رسولو زمينه برابره کـړې ده. د مصيبت ځپلـو خلکو لپاره يې لوی رسنيز کمپاينونه هم ترسره کړي او دا کـار ددې سـبب شوی چې هم دولت او هم خيريه ټولنې غمځپلو سيمو ته ځـان ورسـوي. د جګړې ټپيانو ته د وينې د ورکړې لپاره يې څو پروګرامونه جوړ کـړي او همدارنګه يې د خلکو مدني او اعتراضيه غونډو ته لاره هواره کـړې ده. د مسجدونو او کلينيکونو په جوړونه کې يـې ونـډه اخيسـتې، د صـحي اوبـو لپاره يې د ژورو څاګانو په کيندنه او د چاپېريال د پـاک سـاتلو لپـاره يـې هم د هېوادوالو مرستې اړمنو هېوادوالو ته رسولې دي. په مجمـوعي ډول د ټولو هغو خيريه او ټولنيزو کارونو شمېر چـې يـون پـه تېـرو (۳۰) کلونـو کې ترسره کړي تر (۱۰۰۰) ګټورو او مرستندويه کارونو زياتېږي.

**ب- سياسي برخه کې:** محمد اسمعيل يون سره له دې چې لـه کوم سياسي ګوند سره تړاو نه لري او نه يې غړيتوب لري، خو په خپله يـې له نورو روښنفکرو افغانانو سره په ګډه (د افغانستان ملي تحريک) په نامـه د يو ملي، مدني، خدماتي، ټولنيز، ملي او سياسي حرکت بنسـټ ايښـی دی. ددې تحريک له لارې يې په هېواد کې يو شمېر سـياسي فعاليتونـه تـرسره کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یون له یو شمېر نورو افغانانو سره په ګډه په هېواد کې د ولسواکۍ د ټینګښت، د جنګسالارانو او فسادګرو د زور کمونې، له منځه وړنې او همدارنګه د عادلانه سیاسي نظام د ټینګښت لپاره ګڼ شمېر لاریونونه ترسره کړي او په ځینو نورو دا ډول مظاهرو کې یې ګډون کړی دی. دا مظاهرې ټولې سولییزې او هدفمنې وې. د ټولو هغو غونډو، لاریونونو، جرګو، مرکو، سیاسي سیمینارونو او ورکشاپونو شمېر چې یون په مستقیم او نامستقیم ډول او د نورو هېوادوالو په مرسته جوړ کړي په تېرو (۳۰) کلونو کې تر (۸۰۰) بېلابېلو غونډو اوړي.

د ملي او اسلامي هویت د خوندیتابه لپاره یې ټینګه او متواتره مبارزه د ملي او سیاسي مبارزو یوه بېلګه ده.

**ج- فرهنګي برخه کې:** یون د یو خپلواک لیکوال په توګه په تېرو دېرشو کلونو کې ګڼ شمېرفرهنګي، علمي او اکاډمیک خدمتونه ترسره کړي،په ګڼو چاپي، راډیویي او ټلویزیوني مرکو کې یې د و اقعیتونو او حقایقو د څرګند بیان له امله د خلکو په زړونوکې ځای نیولی دی. که څه هم ډېر خلک د یون لیکنې، مرکې او نظریات خوښوي، خو یو شمېر داسې خلک هم شته، چې د یون سرسختي مخالفین دي؛ د هغه ملي او ګټورو نظریاتو ته هم غلط رنګ او تعبیر ورکوي، دا ډول اشخاص، چې اکثره یې زورواکي او د سیاسي ډلو ټپلو غړي او مشران دي، د یون نظریات خپلو شخصي او تنظیمي ګټو ته خطر بولي، نو ځکه یې په ټینګه مخالفت کوي. هر کله چې یون کومه لیکنه او مرکه کړې، نو دده پر وړاندې یې مثبت او منفي غبرګونونه دواړه راپارولي دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



منفي غبرگونونه اکثره وخت د هغو اشخاصو او ډلو له خوا وي، چې په تېر کړکېچن سیاسي بهیر کې یې ډېرې نامشروع گټې ترلاسه کړي او ځانونه یې مطرح کړي دي.

مثبت غبرگونونه اکثره د ولس د مشرانو، روښنفکرانو او نورو مخورو له خوا وي، خو یون په دغسې سختو اغزنو او تنگو شرایطو کې بیا هم خپلو فرهنگي، سیاسي او ټولنیز کارونو ته دوام ورکړی دی.

د ټولو هغو لیکنو، مرکو او ویناوو شمېر چې استاد یون په تېرو (۳۰) کلونو کې د هېواد په داخل او بهر کې له چاپې، غږیزو، لیدنیو او برېښنایي رسنیو سره کړي تر (۱۲۰۰) عنوانو لیکنو، مرکو او ویناوو اوړي.

د استاد یون اوسنی فرهنگي کارونه، چې تاسو یې اوس په مسلسل ډول گورئ، د تېرو دېرشو کلونو په بهیر کې ترسره شوي دي. استاد یون په تېرو (۳۰) کلونو کې تر (۵۰) عنوانو زیات اثار لیکلي چې نږدې ټول یې چاپ شوي، دا اثار یې هم په برېښنایي ډول، هم په کتابي ډول او هم په (CD) کې لوستونکو ته وړاندې کړي دي. استاد یون پر خپلو فرهنگي کارونو سربېره د گڼو فرهنگي ټولنو د غړي، همکار او موسس غړي په توگه هم خپل فرهنگي رول ادا کړی دی، په پېښور کې یې د دوو المان مېشتو فرهنگي ټولنو (دافغانستان دکلتوري ودې ټولنې) او(د پښتني فرهنگ د ودې پراختیا ټولنې) د همکار په توگه د بېلابېلو لیکوالو په لسگونو اثار، ایډیټ او چاپ کړي دي. دغه راز یې د سلگونو کورنیو مشاعرو، ادبي غونډو او سیمینارونو په جوړونه کې ونډه اخیستې ده، خپله یې هم په سلگونو مشاعرې،سیمینارونه او علمي ورکشاپونه جوړ کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په رسنیزه برخه کې یې د (ژوندون) په نامه یو رسنیز مرکز جوړ کړی چې ژوندون راډیو ټلوېزیون په کې فعالیت لري، دا راډیو ټلوېزیون د ټول هېواد په کچه نشرات لري او د سټلایټ او وېبسایټ له لارې یې هم ټولې نړۍ ته نشرات رسېږي.

په اکاډمیکه برخه کې یون د ( کونړ) او (لغمان) پوهنتونونو په تاسیس کې اساسي نقش لوبولی دی او اوس دا دواړه پوهنتونونه په زرګونو محصلین لري، دغه راز د یو شمېر خصوصي ښوونځیو او پوهنتونونو په جوړونه کې یې هم مرسته کړې ده. یون د (هیلې، شمشاد او کابل پوهنتون) په نامه د درېو مجلو د مسول مدیر په توګه هم خپله دنده اجرا کړې ده. پر خپلو کتابونو سربېره یې د بېلابېلو لیکوالو نږدې (۴۰۰) عنوانو بېلابېلو اثارو ته د چاپ زمینه برابره او د یو شمېر نورو د سمون چارې یې هم پر مخ وړې دي.

په سیمه ییزه او ملي کچه یې د (۳۰) کلونو په بهیر کې تر (۱۱۰۰) زیاتې ادبي، علمي او فرهنګي غونډې، سیمینارونه او ورکشاپونه جوړ کړي دي.

## چاپ شوي اثار یې په دې ډول دي:

## الف- پنځونې:

| کتاب نوم | ځرنګوالی | چاپکال |
|---|---|---|
| • مټکور | (لومړۍ شعري ټولګه) | دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال. |
| • په اورونو کې سندرې | (دویمه شعري ټولګه) | دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال. |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ب- راټولونې:

- هیلې (ګډه شعري ټولګه) دويم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- نیمګړي ارمانونه (د حیران شعري ټولګه) دويم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د لوونو فصل (ګډه شعري ټولګه)دويم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د نازو انا یاد (د سیمینار د لیکنو ټولګه) دويم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د الفت نثري کلیات (د الفت نثرونه) درېیم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- سیندونه هم مري (د اسحق ننګیال شعري منتخبات) دويم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د پښتو ادب لرغونې دوره (لومړی ټولګی) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.

## ج- ژباړنې:

- د ټولنپوهنې له نظره: په افغانستان کې د واک جوړښتونه، د (پوهنوال روستار تره کي) اثر دويم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- .د افغانستان فرهنګي میراثونو ته یوه کتنه (د نینسي دوپرې اثر) دويم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- په افغانستان کې د جګړې جنایتکارانو محاکمه(د پوهنوال روستار تره کي) اثر دويم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- فلسفه او فلسفي بهیر (د استاد افغانیار اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.

## د- یونلیکنې:

- د اماراتو سفر (د اماراتو یونلیک) دويم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- که یون دی یون دی (د اروپا یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- دپنټاګون ترخنډو (د امریکا یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- د کرملین په زړه کې (د روسیې یونلیک) لومړی چاپ۱۳۸۹ ل کال.
- د ډيلي تخت هېرومه (د هند یونلیک) لومړی چاپ۱۳۸۹ ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- درې ورځې د افسانو په وطن کې (د هلمند یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- د خدای تر کوره (د حج یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.

## هـ- څېړنې او شننې:

- د محمدگل خان مومند اند و ژوند ته یوه لنډه کتنه (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- استاد زیار د پښتني فرهنگ یو ځلاند ستوری (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- دکابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي پښتو کتابښود (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- د افغانستان فرهنگ ته اوښتي زیانونه (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د پښتو شعر هندسي جوړښت (علمي اثر) شپږم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- ساینسي پرمختیاوې (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- بېړنۍ لویه جرگه ولسواکي او زورواکي (سیاسي څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- اندیال خوشال (د څېړنیزو لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- هیله د خپلو سریزو په لمن کې (د تحلیلي لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- کلتوري یون(د ادبي څېړنیزو لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- فرهنگي فقر (د کلتوري څېړنیزو لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- مرکه او مرکې (له بېلابېلو لیکوالو سره د مرکو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- خوشال په خپل ایډیال (د څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- دکتابونو په ورمو کې (پر بېلابېلو اثارو د لیکل شویو سریزو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- افغانستان په سیاسي کړلېچ کې (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- پښتو لیکنی سمون (ژبنی څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- اوسنۍ رسنۍ (څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- که نړیوال ماته وخوري؟ (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- جنګ او فرهنګ په افغانستان کې (د کلتوري څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- د سمون په لټه (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- کتاب الشعر (د علمي څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- کره کتنه (علمي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- ادب تاریخ (علمي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- ملي درسونه (د سیاسي لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ل کال.
- د نجات خلی (څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ ل کال
- د ارګ نا ویلې خبرې (سیاسي څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ل کال.
- د زمانې په کړلېچ کې (څېړنیز او تحلیلي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ل کال.
- ملي هویت او ملي عزت (څېړنیز او تحلیلي اثر) ۱۳۹٦ل کال.
- د خادم نړۍ لید (څېړنیز اثر) ناچاپ ۱۳۹٦ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد یون د (۱۳۹٦ل) کال د کب پر (۱۸)مه نېټه په تذکره کې د لیکل شوي عمر له مخې پوره پنځوس کلن شو، ژوند یې د نیمې پېړۍ وروستي حد ته ورساوه. خو دا نیمه پېړۍ له منډو، تړړو، ستونزو، کړاوونو، جنجالونو او همدارنگه له بریاوو سره مله وه. له لومړي ټولگي څخه مخکې دوران خو بېخي د ماشومتوب دوران وي، په هغه کې انسان له زیاترو مسوولیتونو څخه بې غمه وي. له لومړي ټولگي څخه بیا تر دولسم ټولگي پورې د زده کړې زمانه وي، یون سره له دې چې په دې دوران کې د پلرنۍ مینې له نعمته محروم شو، د کور د سرپرستۍ دروند مسوولیت ورپه غاړه شو، خو دې سره سره یې خپلو زده کړو ته یې دوام ورکړ، په همدې بهیر کې یې ادبي پنځونې وکړې او د (۱۲) ټولگي په بهیر کې یې د خپلو ادبي هڅو یا راټولونو لومړۍ ثمر (هیلې) گډه شعري ټولگه چاپ کړه. د ژوند درېیم پړاو یې د تحصیل دوره ده چې د څلورو کلونو په ترخ کې یې په ښه ډول ترسره کړه. په دې بهیر کې یې (مټکور)، (د لوونو فصل)، (نیمگړي ارمانونه) او (د نازو انا یاد) اثار ټولنې ته وړاندې کړل. د ژوند بله مرحله یې د گټو خدمتونو مرحله ده چې له (۱۳۷۱ل) کال څخه پیل بیا تر دې دمه (۱۳۹٦ل) کال پورې رارسېږي.

دا نو د گټو خدمتونو مرحله ده چې پوره شپږ ویشت کاله وخت یې ونیو او ده هم په کې ښې ډېرې هلې ځلې وکړې چې مونږ یې دمخه یادونه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که یوازې په فرهنګي برخه کې د تېرو دېرشو کلونو په بهیر کې موږ د استاد یون له خوا ټول لیکل شوي، ژباړل شوي او راټول شوي اثار محاسبه کړو، نو تر (۱۵۰۰۰) کتابي مخونو یې شمېر اوړي او دا بیا که دده د لیکوالۍ پر (۳۰) کلن عمر وووېشو نو د ورځې لږ تر لږه یو نیم مخ کار کېږي. یانې استاد په (۳۰) کلونو کې یوه ورځ هم بې له لیکوالۍ نه ده تېره کړې. دا په داسې حال کې ده چې په سلګونو بېلابېل لیکل شوي پیغامونه، ویناوې، مرکې، مباحثې، مناظرې او لکچرونه لا په دې کمیت کې شامل نه دي. ددې ترڅنګ هغه په سلګونو غونډې، مظاهرې، ټولنیز او سیاسي خدمتونه ترسره کړي، چې موږ یې دمخه یادونه وکړه، هغه لا له دې فرهنګي کار څخه جلا دي، که دا ټول کارونه سره محاسبه کړو، نو رښتیا هم سړی فکر کوي چې دا دومره کارونه د هر چا په وس پوره نه دي. هغه چا چې استاد یون سره له نږدې کارونه کړي وي، هغو ته د استاد د کار اوسپله، زغم، هوډ او اراده معلومېږي. هر سړی ورسره کار هم نه شي کولای، یو ستړی، ستومانه او سرګردانه خو ګټور او مثمر ژوند لري، زه ورسره له (۱۳۸۳ل) کال راهیسې کار کوم، د کار او فشار کچه یې ماته تر هر چا زیاته معلومه ده. د همدغو کارونو برکت و چې افغانستان کې د ملتپالنې یوه نوې جذبه، روحیه او ولوله راپیدا شوه. داسې یو وخت هم دلته تېر شو چې د واکمنو جنګسالارانو پر وړاندې چا سونې هم نه شو کولای، خو استاد یې په مقابل کې ودرېد، ځوانانو یې ملاتړ وکړ او بیا یې ولس هم ملاتړ ته راودانګل. د هېواد ملي او اعتقادي هویت په خطر کې و، د ملي هویت تذکرو کې د (دین) او (ملت) د سترو ارزښتونو د لیکلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخنیوی کېده، خو استاد یون او ملګرو یې د اسلامیت او افغانیت غږ اوچت کړ او ان د کرزي او غني حکومتونو هم د دې رسا غږ او داعیې مخه ونه شوه نیولی. په داسې حال کې چې افغانستان پردیو ایډیالوژیو سخت زیانمن کړی و، د یوه ملي فکر رغول او ځلول اسانه کار نه و، خو د استاد یون او دده په شان د ځینو نورو شخصیتونو برکت و چې د ملي هویت، ملي فکر او ملي ویاړونو ولولې تر هرې بلې ایډیالوژۍ زیاتې ځلېږي. زه نه غواړم دا لیکنه تر دې زیاته اوږده کړم، ځکه د استاد مبارزه دده په فعالیتونو او همدارنګه د استاد په ټولو اثارو کې انځورېږي. خو ددې څو ټکو یادونه مې ځکه وکړه چې زموږ راتلونکی نسل د استاد د ملي او فرهنګي مبارزو او د هغه د زمانې له چاپېریال څخه خبر شي.

استاد یون ته د اوږد عمر او لا زیاتو بریاوو په هیله

ضیاء الرحمن ضیاء

کابل- ژوندون راډیو ټلوېزیون

(۱۳۹٦ل) کال د کب، (۲۷)مه نېټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما د نیمې پېړی یون

ژوند یو سفر دی، پیل، منځ او پای لري. د (۱۳۹٦ل) کال د کب پر (۱۸)مه نېټه زه د تذکرې د رسمي سن له مخې پوره پنځوس کلن شوم. په دې مانا چې په دې نړۍ کې مې پوره پنځوس کاله مزل وکړ. دا مزل به ګوډ و مات و، له ستونزو او کړاوونو به ډک و، هدفمن او بې هدفه به هم و، خو هر څه چې و، ژوند و نو. له کومې ورځې چې مې ښي او کیڼ لاس پېژندلی، کوښښ مې کړی چې هدفمن ژوند ترسره کړم، خو ټول کارونه د انسان په وس پوره نه دي، چاپېریال کله پر سړي داسې کانې وکا چې د ژوند بهیر او د فکر مسیر یې وربدل کا. له کومې ورځې چې مې قلم ګوتو کې نیولی، نو بیا پر ځان پوه شوی یم چې نه هر څه چې وي، هر څومره ستونزې چې وي، وي دې، ملت ته باید یو څه وکړم. د شعر په لیکلو مې شعور نور هم وده وکړه، خوشال بابا وایي چې شعر مشتق دی له شعوره، نو کېدی شي شعور مې وده کړې وي او احساس مې ځورېدلی وي چې د ژوند دې بلې نړۍ ته یې هم متمایل کړم. د ښوونځي په لسم ټولګي کې وم چې د وخت په اخبارونو کې مې شعرونه چاپ شول، دا زما د زیاتې هڅونې سبب شول. پر همدې مهال په خوشال خان لېسه کې د ادبي انجمن مسول وم. دې سره مې د خپل وخت له ځینو اخبارونو سره قلمي همکاري پیل شوه او په دې ډول مې په رسمي ډول ادبي سفر هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیل شو. خو له شعر او شاعرۍ سره مې مینه ان له هغه وخته وه چې په ښوونځي کې شامل شوم.

په دولسم ټولګي کې وم چې د (هیلې) په نامه مې د لرو او برو پښتنو افغانانو د ځوانو لیکوالو یوه تذکره یا غورچاڼ برابر کړ او پر (١٣٦٦ل) کال چاپ شو، د پوهنځي پر وروستي کال مې د (نیمګړي ارمانونه) ، (د لوونو فصل) په نامه دوه راټولونې او هم مې د خپل شعرونو ټولګه (مټکور) چاپ کړې. په دې ډول نو له (١٣٦٦ل) کال څخه بیا تر (١٣٩٦ل) کال پورې چې پوره دېرش کاله کېږي، ما له فرهنګي دایرې بهر ژوند نه دی کړی او که د چا خبره ووایم چې یوه ورځ هم له فرهنګي کار او روزګاره بهر نه یم پاتې شوی، مبالغه به مې نه وي کړې. البته په دې تېر دېرش کلن بهیر کې ځینې سیاسي کارونه له ناچارۍ څخه راباندې تحمیل شوي او ځینې ټولنیز کارونه مې په خپله خوښه ترسره کړي، خو دا کارونه مې هم د خپل ولس د سوکالۍ، د ملي واکمنۍ د ټینګښت او د فرهنګي کارونو د ملاتړ لپاره ترسره کړي دي. په (١٣٨٥ل) کال زه د جمهوري ریاست د ملي امنیت شورا دفتر د فرهنګي چارو رییس وم. دا مهال زما له منظم فرهنګي کار څخه څه باندې دوه لسیزې عمر تېر شوی و، په څنګ کې د نورو هغو ملي، سیاسي او ټولنیزو کارونو پر وړاندې چې ما یې د سرته رسولو هیله لرله، سخت خنډونه موجود وو، له خپلو ملګرو؛ ضیاءالرحمن ضیاء او وفاالرحمن وفا سره مې مشوره وکړه چې راځئ فرهنګي کار ته اړم شو، دا کارونه جانبي عوارض نه لري او که لري یې هم کم دي، تنګنظره سیاسي اشخاص ورسره ژر حساسیت نه ښیي او که دوی حساسیت ښکاره هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي، نو موږ به خپل کار ترسره کړی وي. ددې فرهنګي کار لپاره مو یو پلان جوړ کړ، په څه باندې دوو کلونو کې مو د نږدې دوویشتو کلونو په ترخ کې شوي فرهنګي کارونه راټول او منظم کړل. زما له خوا ټول پخواني لیکل شوي کتابونه او راټولونې مې له سره منظم او تر سمون وروسته مو چاپ ته تیار کړل، دا کار که څه هم ډېر ستونزمن و، خو پخې ارادې موږ خپل هدف ته ورسولو. ټول (۳۳) عنوانه بېلابېل اثار مو پر یوه وخت چاپ کړل. (۱۳۸۷ل) کال زما لپاره د فرهنګي کارونو یو غوره کال و. د خوږې خاطرې په توګه مې په ذهن کې دی. هغه وخت مې هم په یادښتونو کې لیکلي او ملګرو ته مې هم ویلي وو چې هېواد کې حالات ترینګلي دي، پر ژوند یوه شېبه هم باور نه شته، نو هر چا چې هر څومره فرهنګي کارونه کړي یانې اثار یې لیکلي دي، باید په خپله یې راټول او چاپ کړي.

زما کار یوه نوې تجربه وه، ځینو نورو لیکوالو هم هڅه وکړه دا تجربه تکرار کړي، خو په لاره کې ټکني شول، خپل کارونه یې بشپړ نه کړای شول. زما د خپلې تجربې له مخې ترڅو چې کار ته کار ونه وایې او خپله یې ترسره نه کړې، کارونه په خپل سر نه خلاصېږي. کله چې مې د عمر نیمه پېړۍ مزل وواهه، نو یو ځل بیا مې زړه کې راتېره شوه چې د خوشال بابا په وینا چې د عمر اساس پر باد ایښی دی، نو بیا خو پرې اعتماد هم په کار نه دی، راځه دا ځل د خپل ټول فرهنګي ژوندانه کړي کارونه چې دا وخت پوره دېرشو کلونو ته رسېږي، بیا له سره منظم او کلیاتو په بڼه چاپ کړه. له دې کار څخه مې هدف دا و چې په ژوند کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې نه دي غوښتي څوک راڅخه ازار شي او یا د چا د اوړو پېټی شم، هسې نه چې تر مرگ وروسته زما لیکنو او اثارو پسې، ښه دي، که خراب، کمزوري دي که قوي، هنري دي که ناهنري، څوک سرگردانه شي او پر راټولونې یې ځان ستړی کړي. له خدایه شکر کاږم چې ژوند یې راته د نیمې پېړۍ وروستي حد پورې راورسوه، دا د هغه لوی ذات پېرزوینه ده، که نور یې راته وغځوي، نو هم لویه مهرباني به یې وي او که نه برخلیک یې راته وخته لیکلي وي، نو ژوند خو د هغه لوی ذات ډالۍ ده، هر وخت یې اخیستلای شي. په دې خاطر مې یو ځل بیا پر ټولو پخوانیو چاپ او وروسته پر ځینو ناچاپو اثارو گوتې ووهلې او د محتوایي وېش له مخې مې سره منظم کړل، ټول پنځوس عنوانه شول چې راټولونې، پنځونې، ژباړنې او څېړنې ټولې په کې شاملې دي. دا ټول پنځوس عنوانه بیا د شکل او محتوایي وېش له مخې په (۱۴) بېلابېلو ټوکونو کې تنظیم شول او (نیمه پېړۍ یون) نوم ورته ورکړل شو.

دا پنځوس بېلابېل اثار چې ښه مې پورته ورته یاده کړه زما د نیمې پېړۍ په تېره بیا (۳۰) کلونو فرهنگي سفر پایله او ثمره ده چې خپلو قدرمنو هېوادوالو ته یې وړاندې کړم. که څېرې په هېواد کې جگړه او ناورین نه وای، نو کېدی شول تر دې زیات کار ترسره شوی وای، خو موږ بدمرغه نسل وو چې له ډېر تنکي زلمیتوبه مو جگړه پیل شوې او دادی تر نږدې سپینږیرتوبه لا دوام لري. زه د ښوونځي په شپږم ټولگي کې وم چې جگړې د پلار له خواږه نعمته محروم کړم. له هغې ورځې بیا تر دې لیکنې پورې (۳۸) کاله تېرېږي، خو د پلار مرگ مې د پرونۍ ورځې د ترخې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاطرې په شان په ذهن کې انځور دی. ما غوندې په ملیونونو افغانانو د جگړې ټپونه او دردونه لیدلي دي.

نږدې دوه نسلونه په جگړه کې راگیر شول او لوی شول. د جنگ نسل د فرهنگ نسل نه دی. جگړه ډېره بدمرغه پدیده ده، د فرهنگ او تمدن د عمرونو مېوه او ثمره په یوه ساعت کې پوپناه کړي، نو په داسې یوه جگړه ییز چاپېریال کې چې هر څوک د ټوپک تر واکمنۍ لاندې د قلم د حاکمیت لپاره کار کوي، له اور سره د لوبو په مانا دي. له دې معترضه جملې څخه مې هدف دادی چې زموږ راتلونکی نسل باید پر دې پوه شي چې که ما او زما د عمر ټول پښت راتلونکي نسل ته څه ډېر بډایه فرهنگي سوغات نه دی ډالۍ کړی، نو په دې کې زیات قصور د زمانې دی. خدای(ج) دې وکړي چې زموږ راتلونکی پښت زموږ په شان د ډول ډول انقلابونو د ژرندو تر پلونو لاندې گیر نه شي، چې د غنم د دانې په شان یې ژوند محوه شي او یا یې هم اغزن چاپېریال د ژوند مېوه پخېدو ته پرې نه ږدي. الله تعالی دې وکړي زموږ راتلونکی پښت زموږ د زمانې له تاوجن چاپېریال څخه ښه پند او عبرت اخیستی وي او د یوه سوکاله ژوند او پرمختللي افغانستان لپاره ورته مناسب فرصتونه برابر شي.

ددې لیکنې په دې برخه کې غواړم د خپل ژوند په پنځوس کلن بهیر او په تېره بیا په (۳۰) کلن فرهنگي ژوند کې له ټولو هغو دوستانو څخه مننه وکړم چې په یو نه یو ډول یې زما د فرهنگي مبارزې لاسنیوی کړی دی. خپل مرحوم پلار ته د دعا لاسونه پورته کوم چې زما مزل یې تر شپږم ټولگي پورې راورساوه او بیا یې د خپل ابدي سفر لمنه ونیوه، خو ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې د جنازې بازو ته اوږه ور نه کړای شوه او نه مې د مرګ پر مهال د هغه مبارکه څېره ولیده، د پلار قبر مې معلوم نه دی. د ژوند یو ارمان مې دا و چې کاشکې یې قبر معلوم وای چې لکه د مرغۍ د بچي په شان مې پرې وزرې غوړولای وای، څو شپې ورسره ارام غځېدلای وای، د هغه د هغو مهربانیو قدر مې کړی وای چې زه یې پر اوږو ګرځولای وم. بازار ته یې بیولی وم، مېلې ته یې بیولی وم، ډاکتر ته یې بیولی وم، پټې به یې جیب کې راته پیسې ایښودلې، له نورو پټې. اوس مې نو له خدایه لویه هیله همدا ده چې تر مرګ وروسته مې لومړی ملاقات له خپل پلار سره وشي، په ښنو کې ورته ورغېږم راورغېږم او خپله مینه پرې ماته کړم.

مور مې راسره ډېره په تکلیف شوې، د ژوند ټول ارمان یې خپل زوی ته و، زه یې د یوازیني زوی په توګه ډېر نازولی یم، ځان یې په تکلیف کړی، خو زه یې سختو ته یې نه یم پرې ایښی، ماته یې د تعلیم زمینه برابره کړې، د ټیکري په پیڅکې پورې تړلې پیسې یې راته رالېږلي، خو زه یې بې خرڅه کړی نه یم، بختور وم چې د مور جنازې ته مې په خپله اوږه ورکړه، د وفات پر وخت مې د هغې جنازې ته ځان ورساوه، لکه د مرغۍ بچي چې د خپلې مور ښنو ته رغړي، داسې ترې تاو راتاو شوم، سترګې مې ورته ښکل کړې، سترګې یې رڼې وې، لکه چې د خپل یوازیني زوی لیدو ته په طمع وې، مور مې ډېر وخت غېږ کې ونیوله، داسې چې زه به یې کلک غېږ کې نیولی وم، ایا څوک به وي چې د داسې یوې صحنې پوره انځور وکاږي.

له جلال اباده تر لغمانه مې د مور د تابوت سر ته ناست وم، ډېر مې ورته وکتل، په لیدو یې نه مړېدم، له حج څخه مې ورته کفن راوړی و، د خدای په کور مې موښلی او د زمزم په اوبو مې مینځلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خپلو خوږو خویندو مې هم ډېره مننه کوم چې زما په روزنه او پالنه کې یې ډېر زیات زیار گاللی، له مشرانو او کشرانو خویندو ټولو څخه ډېره مننه، خو ما یې لا د خدمت حق نه دی اداکړی، له خپلو ټولو استادانو څخه چې له لومړي ټولگي څخه بیا د دوکتورا او پوهاندۍ تر کچې یې گام پر گام زما معنوي ملاتړ کړی، له خپلو ټولو هغو دوستانو، ملگرو، لیکوالو، د مال او عزت له خاوندانو څخه هم ډېره مننه چې په دې نیمه پېړۍ کې یې له ماسره مادي مرسته او لاسنیوی کړی دی.

له خپلې مېرمنې او اولادونو څخه ډېره مننه کوم چې په تېرو (۲۲) کلونو کې یې راسره د ژوند ډېرې سړې او تودې وگاللې او زما فرهنگي چارو کې یې له ما سره تر وروستي بریده مرستې وکړې.

له قلموالو، لیکوالو او نورو هغو دوستانو چې زما د اثارو په کمپوز، سمون او چاپ کې یې په یو نه یو ډول مرسته کړې له ټولو منندوی یم، خدای(ج) دې ټولو ته اجرونه او ثوابونه ورکړي، که ددغو ټولو دوستانو مالي او معنوي ملاتړ نه وای، نو خدای خبر چې زه د دغومره کارونو د سرته رسونې جوگه شوی وای او یا دغه اثار تر تاسو دررسېدلي وای او هم نور فرهنگي، ټولنیز او ملي کارونه ترسره شوي وای.

له ټولو یوه نړۍ مننه


ستاسو د ټولو یون

(۱۳۹۶ل) کال د کب (۱۹)مه

کابل- افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ډیلي تخت هېرومه

## (د هندوستان یونلیک)

محمد اسمعیل یون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه:


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | د ډیلي تخت هېرومه |
| لیکوال: | محمد اسمعیل یون |
| خپرندوی: | یون کلتوري یون |
| چاپشمېر: | ۳۰۰۰ ټوکه |
| چاپکال: | ۱۳۸۹ل کال |
| د لیکوال پرله پسې نومره: | (۳۵) |
| د خپرندوی پرله پسې نومره: | (۳۵) |
| کمپوزر: | ضیاالرحمن ضیا |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ډیلي تخت هېرومه

**خو نه هېرېږي ....**

**دعلامه اقبال شعر او د هند دیوې ملي ترانې پیل دی چې وایي:**

**((سارې جهان سې اچهی   هندوستان همارا))**

**خپل هېواد پر هر چاګران دی او هرڅوک له هغه سره مینه لري، کله کله دغه مینه تر دې حده هم رسېږي، چې له ایمان سره یې یوشان شي او باید داسې هم وي، په دې چې یوڅوک او یوشی په یوه سـیمه کـې پیداکېږي، هلته لویېږي او هلته وده کوي هغه په طبیعي توګه له هـم هغې سره خپل اړیکي، احساس او ترتولو مهم  خپل تخیل ملګری کوي او دا هغه وړتیا ده چې دیوه توکم اوتولنې نوی نسل د نویو هڅو او نویو بریاوو پر لوري بیایي .**

**هندوستان او د دغه هېواد خلکو او ان  هغو ځواکونو چې دغه هېواد یې کلونه کلونه تر  واک او ځواک لاندې و، دا یوه وړتیا درلوده چې  دلته یې د علم او قلم پر وړاندې له دښمنۍ څخــه کــار نــه دی اخیســتی، همداده چې د خلکو اندوژوند یې له انځورونو او بتــانو نیــولې بیــا تــر اوسنۍ پرمختللې تاریخ لیکنې پورې له چا پټ نه دی پاتې شوی. همدا ده چې یو شمېر هندي پوهان  دا هم وایي: ((زموږ خپــل اندوژونــد او تاریخ  زموږ  پر تیرو باندې انځوردی .))**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې خبرې یوه مانا داهم ده چې دلته ددغه هېواد خلکو خپل تاریخ او ژوند یا په خپله لیکلی او یا هم نورو د دوی په باره کې څه لیکلي دي.

همدا وجه ده چې دنړۍ پرمخ داسې تاریخ او داسې ملت چې لیک او لیکنه یې درلودل، نه شته چې په هغو کی ددغه هېواد یادونه نــه وي شوې؛ هرڅوک چې دلته راغلي او یا له دغې لارې تېرشــوي، هغــوی ددغه هېواد د ټولو ځانګړنو کیسې او افسانې هم لیکلي او هم یې پــه شفاهي توګه له ځان سره بېلابېلوخواووته لېږدولي دي. په دې ډله کې ډېرمهم یې (ابن بطوطه) او (فرانسوابرنیر) وو، چې د هند او سیمې پــه اړه یې لیکنې د نړیوالو لپاره په هر اړخیزه توګه د پاملرنې وړ دي.

د هند او هندو د مادي او معنوي ارزښتونو انعکاس په هر اړخیزه توګه د هر ملت او هرې ژبې په تــاریخ کــې یــومهم څپرکــی دی، خــارجي سیلانیان او زایرین؛ هغوی چې دچا خبره له آدمه تردې دمه دلته راغلي او هرڅه یې دپاملرنې وړلیدلي، هغه یې په یوه ادبي ډول کــې د ادب، هنر او تاریخ مینه والو ته دیوه فرهنګي میراث او یوې نادرې ډالۍ پــه توګه سپارلي دي .

دپښتو ادب او تاریخ په زرینو پاڼوکې دهند پوهنې یولوی څپرکی له زرګونو کلونو راپه دېخوا خونــدي دی، د لویــو اوحساســو لیکوالــو او شاعرانو، چې پر دغې خوا رامخه شوې، دوی ددغه ګاونډي هېواد پــه باب یوڅه خامخــا ویلــي دي. خوشــال ختــک پــه دغــه برخــه کــې ترټولومخکښ دی، هغه د هندپوهنې او هندپېژندنې په برخه کې داسې میراث را پرې ایښی، چې هغه اوس زموږ د دواړو ملتونو په تــاریخي او فرهنګي ویاړونوکې ځانګړی ځای او اهمیت لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هر ډول له هغه مهاله چې په افغانستان کې د نوي ادب او رسنیو نوی بهیر رامنځته شوی، په دغه ترڅ کې هم له خپلواک هندوستان سره، که څه هم ښکېلاک پر دوو برخو ووېشه، زموږ اړیکي همداسې پیاوړې پاتې شول او د نږدې یوې پېړۍ په اوږدوکې یې په پښتو ادب کې په اوسنۍ ځانګړې وړتیا او فورمونو کې انعکاس وموند، یوه بېلګه یې په دغه ادب کې دسفرنامو او یادښتونولیکل وو، چې په اوسني عصرکې لومړنۍ سفرنامه دپښتو نومیالي لیکوال اوپوهاند اروابښاد صدیق الله رښتین ولیکله او په هغې کې یې د خپل یوه سفر داسې خبرې، چې دپښتنولپاره دحیرانتیا وړښکارېدې، وکښلې دا پر هغه مهال دهندوستان په اړه یوانځوریزه اوهنري خبرتیا وه.

دادی تر استاد رښتین وروسته دهغه پرلاره دهغه یوه بل لاروي ګران یون صاحب هم پل کېښود، له هغو پخوانیو پلونو یې د هېرښت ګردونه پورته کړل او د خپلو سترګو لیدلی حال یې، چې زموږ له ژوند او تاریخ او دهند له تاریخ سره تړاو لري، زموږ په واک راکړ او دغه یونلیک ( دډېلي تخت هېرومه )یې ولیکه، دغه یونلیک د بیان پر طرز او خپل ادبي خوند سربېره په زړه پورې خبرتیایي او معلوماتي برخې لري. دا یونلیک زموږ ځوان نسل ته یوه ښکلې ډالۍ ده، چې کولای شي ددې په واسطه د هند له تاریخ او کلتور سره څه ناڅه اشنا شي او مهمه لا په کې دا چې د خپل سیاسي او ادبي تاریخ یوه ورکه خزانه په کې ومومي.

یون خپل دا یونلیک په منطقي تسلسل سره اوډلی او د ضروري معلوماتو لپاره یې ګنو اثارو ته هم مراجعه کړې ده. دا یونلیک یوازې د سترګو لیدلی حال نه دی، بلکې د تاریخي او کره اسنادو له مخې د نن، پرون او تېر پرون یو منطقي تړون هم دی. د تېرو درېو لسیزو ناخوالو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترڅ کې چې د خپلو او پردیو له خوا د افغانستان پر تېر ویاړمن تـاریخ ډول ډول ګردونه راوړل شول او زموږ د تاریخ دښمنانو هڅه وکړه چـې تاریخي واقعیتونو ته هم بل ډول رنګ ورکړي، دا اثر د هغو پر وړاندې یو مستند ځواب دی. دا اثر زموږ په ځوان نسل کې پر خپل ځـان د بـاور روحیه روزي او د دوو هېوادونو او ملتونو د تاریخ مشترکات ځلوي.

یون صاحب څو ځوځلي هند ته راغلی، خو داځل راتګ یی له نـورو هغو سره په دې توپیردرلود، چی له یوې بریا سره مل و، هغـه ددغـې لیکنې په ترڅ کې په هراړخیزه توګه داسې څه دي چې ډېرې خبرې او ډېرې لیدنې په کې نوې لوستلای شئ .

نن سبا په زرګونو ځوانان په هند کي درس وایي، که دوی هر یو، یوه یوه کرښه دخپل استوګنځي په څنګ کی دافغاني ویاړونو په اړه ولیکي، نو هغه به په زرګونوکرښې شي، داسې چې له هغو څخه به زموږ خلک او زموږ نوی نسل ګرد سره خبر هم نه وي. هسې خو دکتواز او زرمت یاران له سلګونو کلونو راهیسې د (کلکتې) او (اسام) د تودو شپو خړ ستوري په میاشتوکلونو دلته شمېري، خوډېرلږ په کې داسې دي چې باید ځان پر دغه خاوره باندې له خپلو ویاړونو خبرکړي، خو زموږ ځوان کول باید داکار ونه کړي ، دوی باید دلته پر ډېرو شیانو ځانونه خبرکړي.

زموږ دپښتو او پښتنو دویاړونو یوه ناپښتون منتقد یومهال په یـوه بحث کې په رښتینې توګه دا اعتراف وکړچې : (( که زه هندوستان ته نه وای راغلی او دلته مې دپښتنو برم، پرتم او ددوی فرهنګپالنه نـه وای لیدلې او نه مې وای محسوس کړې، نو ما به تل ددوی پر وړاندې په پټو سترګو قضاوت کاوه ....)) دغو محصلینو ته په ټولیزه توګه زه تل همدغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشوره ورکوم او وایم چې د زده کړې یو هدف مو باید ځان پېژندنــه او دځان تاریخ پېژندنه هم وي .

یون صاحب ددغه اثرپه لیکلو سره بیا یوبېلګیز او شعوري ګام پورته کړ، په دې هیله چې ددغه اثر لوستونکي او مینه وال به یې په شعوري توګه ولولي او په شعوري توګه به دغه حرکت په هرځای کې چې وي، له یون سره بدرګه کړي .

دیون دلازیاتو بریو په هیله

په درناوي

پوهنوال دوکتورعبدالخالق رشید

نوی ډیلی- هندوستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



سریزه:

# د ډیلي تخت هېرومه

((د ډيلي تخت هېرومه)) زما پنځم یونلیک دی، چې درنو لوستونکو ته وړاندې کېږي، یونلیکنه د نورو هغو په شان کـوم داســې ادبــي یــا ژورنالستیک فورم نه دی چې ټاکلی شکل، حد او برید ولري. له زریــزو راهیسې د پېړیو په اوږدو کې یونلیکونه لیکل شوي، پر خپل وخت بــه یې دومره ارزښت درلود که نه، خو یونلیک داسې یو شــی دی، لکــه د سرو زرو په شان؛ څومره چې پرې زمانه اوړي، ارزښــت او قیمــت یــې زیاتېږي. د چینایي (هیون تسنګ) او د (ابن بطوطه) عرب یونلیکونــه هغه یونلیکونه دي، چې زموږ په هېواد کې د تاریخي موادو د استخراج لپاره ترې ګټه پورته کېږي او زیاته یادونه یې کېږي. ابن بطوطــه خــو د هغه وخت د ګڼو اسلامي هېوادونو د تاریخ یوه برخه د تاریخ حافظې ته سپارلې ده. لکه څنګه چې نننۍ زمانه موږ ته نوې او سباني نسل ته زړه ده، دغسې پخوانۍ زمانه هم پخواني نسل ته نوې او موږ ته زړه ده. زمانه د پرون، نن او سبا درې نومونه لري او همدا پړاوونه وهي. لکه څنګه چې پخواني یونلیکونه اوس ډېر ارزښت لري، اوسني به سباته ډېر ارزښــت ولري. د یو یونلیک ارزښت په دې کې نه دی چې پېښــې د یــو جامــد تصویر په شکل ثبت کړي، بلکې ستر ارزښت یې په دې کــې دی چــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېښو ته خوځون ورکړي (د پېښو ویډیویي انځورنه وکـړي.) ؛ پېښـې داسې ثبت کړي لکه څنګه چې دي او څنګه یو بل سره تړاو لري. د یوه جامد او ویډیویي یا خوځنده تصویر ترمنځ توپیر په همدې کې دی چې جامد (بې حرکته تصویر) یوازې د یوه حالت انځورنه کوي، خو ویډیویي تصویر په یوه انځور کې د څو حالتونو انځورنه ده. په یونلیک کې مهمه خبره داده چې لیکوال د تجربو په مسلسل بهیر کې څه پیغام لېږدوي. یوه ټولنه چې د پېړیو په اوږدو کې یې د تکامل دا وروستۍ بڼـه خپلـه کړې، د لیکوال په لومړۍ کتنه، هغه څه ډول ارزول کېږي؟ لـه خپلـې ټولنې سره یې د هغې پرتلنه څه ډول ده؟ مشترکات او توپیرونه یې څه دي؟ ټولنه د عقایدو او افکارو د کوم مسیر او بحران لـه حالتـه تېـره شوې؟ د خلکو د تفکر مجموعي ظرفیت څرنګه دی؟ کلتوري او ټولنیزو کشمکشونو، پرمختیاوو، د ټولنې په جوړښت او وده کـې څـومره رول لرلی دی؟ داسې ډېر مسایل شته چې د یونلیک د ظاهري جغرافیـایي چاپېریال د انځورنې ترڅنګ ورته فکر په کار دی. په یونلیک کې دا هم مهمه ده چې لیکوال خپل پیغام په کومه بڼه لېږدوي؟ پیغام څرګنـد، شعاري او ناربطه دی که نه د ضرورت، واقعیت او عینیـت لـه مخـې د الفاظو په مناسب لباس کې؟ (( د ډیلي تخت هېرومه)) کې ما غوښـتي چې داسې پیغامونه په کې ولېږدوم چې هم واقعیت لري، هم ربط او هم د دواړو (افغاني او هندي) ټولنو په ګټه دي. زموږ د تاریخ یوه درنه برخه په هندوستان کې پرته ده، د هېواد نوي او راتلونکي نسل تـه د تـاریخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې برخې ځلول یوه اړتیا ده. هندوستان له افغانستان سره تر یوه حده مشترک او ګډ کلتور لري، هند د تحمل داسې یوه ټولنه ده چې ډېـرې تاریخي تجربې یې په لمن کې راټولې شوې دي. د یوې ګڼ قومیزې، ګڼ مذهبیزې او ګڼ کلتوریزې ټولنې د ثبات او پرمختګ راز په څه کی دی؟ دغه راز ته ګوته نیول، د هغه سپړل او په خپله ټولنه کې له دې لاسته راغلو تجربو څخه په وړیا ډول ګټه اخیستل، هغه پیغــام دی چــې مــا غوښتي په دې یونلیک کې یې په طبیعي ډول ځای پرځای کړم. دا چې زه به څومره په دې هدف کې بریالی شوی یم او دا چې د یونلیک فزیکي جغرافیه د څومره پیغامونو د ځایونو ظرفیت لري، دا هغه مســایل دي چې درانه لوستونکي به یې خپله ارزونه کوي، خو زما چې څومره وس و، په هند کې د دوه میاشتنۍ استوګنې او سفر د مهال په ګډون مې نږدې یو کال پر دې یونلیک پرله پسې کار وکړ چې دا بڼه یې خپلــه کــړه. د یونلیک لومړنۍ او ابتدایي بڼه مې د سفر پر مهــال لیکلــې او لــومړني معلومات مې هم د بېلابېلو کرکټرونو او راویانو له خولې لیکلي، تر کمپوز وروسته مې د ایډېټ پر وخت دا محتویات او ارقام څو ځله کره کړي، له بېلابېلو کتابونو او په انټرنېټ کې له بېلابېلو سایټونو مې ګټه پورته کړې ده. هغه اثار چې ترې ګټه پورتــه شــوې دا دي: (( د ســرمحقق زلمــي هېوادمل: په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ودې او ایجاد پړاوونــه، د علامه پوهاند حبیبي: د پښتو ادبیاتو تاریخ، د محمد هوتک: پټه خزانه، د نثار احمد صمد: د شېرشاه سوري څــو کیســې، د صــفیې حلــیم: د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهوپال پښتانه، په کابل خپرېدونکې هند مجله، د عتيق الله پـاځون: د افغانستان تاريخي اطلس، هېواد ورځپانه)) او ځينې نور چاپي اثار. پـه یونلیک کې مې د اثارو سيستماتيک اخځ ځکه نه دی ورکړی چې ما له هغو اثارو څخه اکثره محتوا راټوله کړې او دلته مې ځای کړې ده. د اړتيا وړ محتوا اکثره د اثارو په یوه یا څو مخونو کې نه وه؛ د محتــوا ځینــې برخې د يادو شويو اثارو د څو بېلابېلو مخونو د مانا نچوړ و، بله دا چــې یونلیک د یو علمي اثر بڼه هم نه لري چې یو څوک دې ضرور له علمي ميتود سره سم اخځونه هم ځای پرځای ياد کړي. تر اوسه پورې په پښتو او د افغانستان په دري ژبو کې د یونلیکونو شمېر ډېر زيات نه دی او نه ورته لکه د ځينو نورو ادبي او ژورنالستيکو فورمونو په شان څه داسې کوټلي معيارونه، اصول او قاعدې غوره شوي، چې ليکوال دې د هغو په رڼا کې حرکت وکړي، کېدی شي یو وخت داسې راشي چې ګڼ شــمېر یونلیکونه وليکل شي او بيا د هغو د ليکدول او محتوا پر بنسټ یو لــړ معيارونه وضع شي او ورو ورو دا ليکنی فورم هم د یو لړ مشخصو اصولو تابع شي، خو اوس چې دا یونلیک ګورئ، دې ته مخکې تر مخکې کوم شکلي معيارونه نه وو ټاکل شوي.

دا چې دې یونلیک ته مې ولې (( د ډيلي تخت هېرومه)) نوم ورکړی؟ دا هم یوه تاريخي ريښه لري. د پاني پت د فاتح لوی احمدشاه بابـا یــو ښکلی غزل دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ســـــتا د عشـــق لـــه وينـــو ډک شـــول ځيگرونـــه
ســـــتا پـــه لاره کـــې بـــايلي زلمـــي ســـرونه
تاتـــه راشـــمه، زړگـــى زمـــا فـــارغ شـــي
بـــې لـــه تـــا مـــې اندېښـــنې د زړه مارونـــه
کـــه هـــر څـــو مـــې د دنيـــا ملکونـــه ډېـــر شـــي
زمـــا بـــه هېـــر نـــه شـــي دا ســـتا ښـــکلي باغونـــه
د ډيلـــي تخـــت هېرومـــه چـــې رايـــاد کـــړم
زمـــا د ښـــکلې پښـــتونخوا د غـــرو ســـرونه
د رقيـــب د ژونـــد متـــاع بـــه تـــار پـــه تـــار کـــم
چې پـــه تـــورو پښتانـــه کـــا گوزارونـــه
د فـــريـــد او د حـــميد دور بـــه بيـــا شـــي
چـــې زه و کـــاندم پـــه هـــر لـــوري تاختونـــه
کـــه تمامـــه دنيـــا يـــو خـــوا تـــه بـــل خـــوا شـــي
زمـــا خـــوښ دي ســـتا خـــالي تـــش ډگرونـــه
احمدشاه بـــه دغـــه ســـتا قـــدر هېـــر نـــه کـــا
کـــه و نيسي د تـــمام جـــهان مـــلکونه.

دا شعر له لسيزو راهيسې زما په حافظه کې و. ډېر زيات افغانـان دا شعر خوښوي. کله چې له استاد خالق رشيد سره له ډيلي نه د پاني پت پر لوري روان وو، نو له استاد څخه مې وپوښتل: (( دا چې احمدشاه بابا د ډيلي تر تخته د پښتونخوا د غرونو سرونو ته ترجيح ورکوي، اساسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



علت يې شايد د وطني مينې او محبت عنصر وي، هر چا بانـدې خپـل وطن ګران وي، خو ددې ترڅنګ کوم بل فرعي علت هم لري که نه؟)) استاد خالق رشيد موسکی شو، ويې ويل: ((طبعاً لري يې)) ما وويل: (( استاده دا راته ووايه چې احمدشاه بابا په اوړي کې هند ته راغلی و که په ژمي کې؟ که په اوړي کې راغلی و، دلته خو اور باديږي، که دا ماته چې يو عادي سړی يم، هم د ډيلي تخت راکړي والله که ورته ټينګ شم، پاتې خو لا احمدشاه بابا. هغه وخت خو نه برېښنا وه، نه ايرکنډېشن، پر امير او فقير د ګرمۍ زور يو ډول تطبيقېده، زموږ د کندهار ځوانان چې کابل ته راشي، زړه يې تنګېږي پاتې خو لا هندوستان. طالبان چې به کله له کندهاره کابل ته راغلل، له جګړې څخه به نه ستړي کېدل، خو کابل کې به يې زړه تنګېده، نو د کندهار مېلې، شړومبې او غېږې به يې يادېدلې، نو که احمدشاه بابا په اوړي کې هندوستان ته راغلی وي او دلته يې بيا سوبې هم کړي وي، نو زه فکر کوم تر جګړې به هم د هند ګرمۍ زيـات ځورولی وي.)) استاد خالق رشيد راته وويل: (( کله چې پاني پت ته لاړ شو، وبه ګورې چې جګړه څه وخت پيل شوې ده؟)) رښتيا هم هلته چې لاړو نو جګړه د (جولای) پر مياشت پيل شوې وه، چـې د سـرطان لـه مياشتې سره سمون خوري او پوره درې مياشتې يې، چې ښه ګرم اوړی و، دوام کړی دی. استاد خالق رشيد ته مې وويل: ((دا خو رښتيا هر څه په ګرمۍ کې تېر شوي دي.)) خير په هر صورت د بابا دا شعر زمـا ډېـر خوښېده او له هېواد سره يې د بابا د ژورې مينې انځورنه کوله، نو ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې ددې شعر د تاریخي او هېوادني ارزښت له مخې د هغه د یوې مسرې نیمه برخه ((د ډیلي تخت هېرومه)) ددې یونلیک د عنوان په توګه غوره کړ.

لکه څنګه چې دمخه مې یادونه وکړه؛ ددې یونلیک لومړی متن مې په هند کې د خپل دوه میاشتني سفر په ترڅ کې لیکلی او بیا مې د بېلابېلو سرچینو په واسطه د یوه کال په ترڅ کې کره کړی. زما تر بیا بیا کتنې وروسته مې ګران ورور (اسد ساحل) ته چې زما د سفر ملګری و، د کتنې لپاره ورکړ، (اجمل فدایي) هم د ځینو یادونو په تازه کولو او د ځینو تصویرونو په کره کولو کې خپله مرسته وکړه، بیا مې هند کې استاد خالق رشید ته، چې هغه هم ددې یونلیک یو اساسي کرکټر دی، ولېږه، د هغه تر کتنې او سمون وروسته مې یو ځل بیا په کې څه بدلون راوست، زما تر بیا کتنې وروسته مې یو ځل بیا اسدساحل، عطاالله حیران او ښاغلي (داود سلیم) ته ورکړ، هغوی هم یو ځل بیا وکوت، وروسته مې بیا ایډیټ کړ، بیا مې ګران (وفاالرحمن وفا) ته ورکړ، هغه هم په ځیر سره وکوت. وفاالرحمن زما ټول اثار له یوې مخې کتلي، په ایډیټ کې اوس دومره پوخ شوی چې دی یې یوځل وګوري، نو زما زړه ایله ډاډه شي. کله چې وفاصیب وکوت نو د وروستي سمون لپاره یې بیا ماته راکړ، ما د وروستي ځل لپاره وکوت او بیا نو د چاپ پر لوري لاړ، په دې کې خو مې لا د ښاغلي ضیاءالرحمن ضیاء یادونه ونه کړه چې نه یوازې یو پوخ کمپوزر دی، بلکې یو ښه لیکوال او پوخ ایډیټر هم دی. د ضیاالرحمن ضیاء ګوتې د خدای په فضل د پښتو متن له ټایپ او سمون سره داسې روږدې شوي لکه چغل چې د غنمو پاکي له ناپاکۍ څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلوي؛ هر لیکلی متن چې ده ته ورکړې په لومړي پړاو کې د یاګانو پــه ګډون، د (پر، له، د، په، ځینې، څنې، په منځ، ترمنځ، سربېره، برسېره) او داسې نورې په سلګونو کلمې خو سم له لاسه پر خپل خپل ځای سموي او کاروي. کله چې ضیاءالرحمن ضیاء په ننګرهار کې و د یو شمېر هغو لیکوالو لاس پرې ډېر ازاد و چې د زیاتې لیکنې لېوال وو، خو د ایډېټ یا سمون اوسېله یې نه لرله، کله چې ضیاءالرحمن ضیاء له جــلال ابــاده کابل ته راغی، نو د یو شمېر لیکوالو د سواد منګی هم مات شو. زمــا د ټولو اثارو په کمپوز او اتومات ایډېټ کې دده پراخ زغــم، لکــه د نــورو پورتنیو ښاغلو په شان هم د ستاینې وړ دی او هــم د یــادونې. لــه دې پورته یادونې څخه مې موخه دا وه چې زما دې یونلیک هم لاس په لاس یو دوراني یون کړی او بېرته ماته رارسېدلی دی. زه د ټولو هغو دوستانو منندوی یم چې په مستقیم او نامستقیم ډول یې ددې اثر په بشپړاوي او چاپ کې مرسته او همکاري کړې ده. هیله لرم چې دا اثر د نړۍ پــه دې سیمه کې د دوو سترو ملتونو د پېژندنې په برخه کې لږ تر لږه د یوه څرک په توګه کار وکړي.

په ټوله فرهنګي مینه

پوهندوی محمد اسمعیل یون

د (۱۳۸۹ل) کال د تلې (۲۵)مه

د افغانستان د جمهوري ریاست

د ارګ ماڼۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سفر علت او ضرورت

زه په دې نړۍ کې د هغو انسانانو له جملې څخه یم، چې ډېر سفرونه کوي. ژوند خپله یو سفر دی؛ پیداشي، پیل شي، ترسره او پناه شي. سفر د ژوند ملګری دی او ژوند د سفر. سفر په ژوند کې کېږي او ژوند په سفر کې. زما دا درېیم ځل دی چې هندوستان ته ځم؛ دوه ځله لــه خپلــې مېرمنې سره د هغې د ناروغۍ د علاج په خاطر او دا درېیم ځل بیا بــل ډول (ښوونیز) سفر و. په تېرو اوو اتو کلونو کې ټــولنیزو، سیاســي او د ژوند نورو بوختیاوو داسې سره سرګردانه کړی یم، چې یوه ورځ دمه هم راته ډېر غنیمت ګڼل کېږي. له هغې ورځې چې زه (د جمهوري ریاست د امنیت شورا دفتر کې د فرهنګي چارو مسول) په توګه دنده اجراکوم، د نورو سیاسي بوختیاوو ترڅنګ مې خپل اساسي فرهنګي کار ته هم کار ویلای دی. کله چې زه دې دفتر ته راغلم، نو په لومړي سر کــې اکثــرو (ارګمېشتو) مامورینو زما د کار هرکلی وکړ. د هېواد په کچه مې یو څو ملي کارونه ترسره کړل، چې هم یې د جمهور رئیس پام ځانته راواړوه او هم یې ولسي ګټه څرګنده وه. دې پرمختګونو ورو ورو زما د نورو کارونو او ملي پلانونو پر وړاندې خنډونه راوټوکول. کله چې ما د خپلو ټولنیزو او ملي کارونو پر وړاندې خنډونه په خپلو سترګو ولیدل او خپل وس مې ورسره پرتله کړ، د خنډونو او وس انډول مې برابر نه و، نو د خپــل کــار مسیر مې بدل کړ، ومې غوښتل همغه هدفونه له بلې لارې ترسره کړم؛ هسې خو هم زما آر مسلک او کار فرهنګي هڅې دي، نو دا زما لپاره لا

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو ښه چانس شو چې که څوک مې د نورو سیاسي او ملي کارونو څرګند مخالفت او ممانعت کوي، نو د فرهنګي کارونو او خدمتونو مخالفت تــه خو په څرګند ډول هېڅ دلیل او منطق نه شي برابرولای.

د فرهنګي کار لپاره مې یوه ستراتیژي جوړه کړه: یو هغه فرهنګــي کارونه وو چې دولتي او نادولتي وو او یا د نورو فرهنګیانو د کارونو لپاره کار و، هغو ته مې د دفتر کاري مهالوېش جوړ کړ او بل هغــه فرهنګــي کارونه وو، چې ما د تېرو شلو کلونو په بهیر کــې کــړي وو، د هغــو بیــا انسجام او انتظام ته ډېره اړتیا وه؛ د تېرو لیکلو چاپي او ناچــاپ اثــارو اوډنه، منظمونه او بیا چاپ، ددې لپاره مې هم یو پلان جوړ کــړ، خپــل




په کابل سرینا هوټل کې د کتابونو د مخکتنې غونډه

ملګري: (وفاالرحمن وفا) او (ضیاءالرحمن ضیاء) دواړه مې په کې شریک کړل، کارونه مو هم سره ووېشل، د شلو کلونو په بهیر کې مې خپل ټول چاپي او ناچاپ اثار، متفرقه، نوې او پخوانۍ لیکنې ټول سره راټول کړل، ډلبندي مې کړل، پر کمپوز، سمون او چاپ مو پیل وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه نیم کاله مې په پرله پسې ډول پر دې پروژه کار وکړ، ان تـر دې چې پر دې مهال کوم چېرته پر سفر هم تللم، نو د کتابونو توري به راسره وو، په الوتکه کې به مې توري لوستل او لیکنې به مې سمولې.**

**په مجموعي ډول مې په کتابي سایز تر (۳۵) زره مخونو زیات ایډېټ وکړ، دې کار نو زه او زما ملګري له ذهني پلوه ښه ستړي کړو. کله چې ټول (۳۳) واړه کتابونه چاپ شول او په کابل سرینا هوټل کې د هغـو د پرانیستې غونډه جوړه شوه، نو تر هغه وروسته مې ځان داسې احساس کړ، لکه یو لوی غر مې چې له اوږو پورته شوی وي.**

**په کابل سرینا هوټل کې د کتابونو د مخکتنې غونډې کـې د ځینـو کورنیو او بهرنیو مېلمنو ترڅنګ، په کابل کې د هند سفارت د سیاسي**




**چارو مسول ښاغلي جي پي سنګ(J.p.singh) هم ګډون کړی و. هغه بیا یو وخت ماته د هند په سفارت کې د کتابونو د مبارکۍ ترڅنګ وویل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



((ډېر زيات کار دې کړی، هر کله که هندوستان ته د تفريح لپاره تللې، نو زه دې په خدمت کې يم، د سفر ټول امکانــات زه برابــروم.)) ښــاغلي سنګ ته مې وويل: ((هند ته خو ځم، خو دا چې څه وخت به لاړ شم دا به وخت ته وګورو.)) هغه وويل: ((غږ به ستا له خوا وي. که کــورنۍ دې هم بيايې، مور به د وېزې ټول امکانات برابر کړو.))

د (۱۳۸۸ل)کال په (وري) کې مې بيا له ښاغلي جي پي سنګ ســره ناسته وکړه، هغه وخت د جمهوري رياست د ټاکنو اوازې شوې، نو ځکه مې سفر پاتې شو، په دې کې څو مياشتې تېرې شوې، خو وخت برابر نه شو، بيا مې پرېکړه وکړه چې د جمهوري رياست د ټاکنو پر دويمه ورځ به ځم، دا ټاکنې هم وشوې، خو دا انتخابات هم پر يو بل جنجال واوښتل، بيا مې وويل، کله چې وروستۍ نتيجه اعلان شوه، پر همغه ورځ به ځم، نتيجه چې اعلان شوه د دويم پړاو مسله په کې مطرح شوه، دا يــو بــل جنجال شو، خو هغه جنجال هم په پای کې په يو بل ډول حل شو، خــو تر هغه وروسته هم شرايط همداسې پسې سختېدل. په پای کــې مــې غوڅه فيصله وکړه چې دا ځل هر څه کېږي ځم به. ښــاغلي جــي پــي سنګ ته مې وويل: ((دداسې يو کورس زمينه برابره کړه چې هم درس ولولم، هم استراحت وکړم او هم مې په فکر کې يو څه تغير راشي.))

هغه وويل: ((د IT او انګليش کمونيکشن په برخه کې کورسونه لرو، د دوو مياشتو زيات و کم وخت لپاره دي.)) ما وويل: ((همدا انګليسي ژبه تعقيبوم.))

د (۱۳۸۸ل)کال د (عقرب) مياشت وه، له دفتره مې يو غوښتنليک ترتيب کړ او جمهور رئيس سره مې د ملاقات زمينه برابره کړه. ولسمشر ته مې وويل: ((ډېر ستړی شوی يم، غواړم د څه وخت لپاره هند ته لاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شم، هم به یو لنډ مهالی کورس ولولم او هم به لږ دمه وکړم.)) هغه راته وویل: ((څه غواړې؟)) ما وویل: ((اجازه غواړم.)) هغه په غوښتنلیک کې**

د افغانستان اسلامي جمهوریت
دملي امنیت شورا دفتر
د فرهنګي چارو ریاست

| نېټه | وړاندیز | حکم |
|---|---|---|
| | د افغانستان د اسلامي جمهوریت د جمهوري ریاست محترم مقام ته!<br>زه پوهندوی محمد اسمعیل یون د ملي امنیت شورا د دفتر د فرهنګي چارو رئیس، غواړم د هندوستان هېواد ته د یوه لنډ مهالي کورس لپاره لاړ شم، زه هیله لرم نوموړي کورس ته د تګ لپاره اجازه راکړئ او هم هیله من یم په همدې ټاکلې موده کې د ملي امنیت شورا په دفتر کې زما ټول دفتري حقوق خوندي وساتل شي.<br>په درنښت<br>پوهندوی محمد اسمعیل یون<br>د ملي امنیت شورا دفتر<br>د فرهنګي چارو رئیس | وکتل شو!<br>د ملي امنیت شورا دفتر ته!<br>د هندوستان هېواد ته د لنډ مهالې زده کړې لپاره پوهندوی محمد اسمعیل یون ته د تګ اجازه ورکړئ او د زده کړې پر مهال یې دفتري حقوق خوندي وساتئ!<br>حامد کرزی<br>د افغانستان د اسلامي جمهوریت<br>جمهور رئیس |

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امنيت شورا دفتر ته وليکل: ((د هندوستان هېواد ته د لنــډ مهــالي کورس لپاره اجازه ورکړئ او تر بېرته راتګ پورې يې په دفتر کې تــول حقوق خوندي وساتئ!.)) دا حکم يې امضا کړ او بېرته يې راکړ، ما ترې پر خپل وخت منته وکړه.

د ژوند متواترې سترياوې او د انګليسي ژبې د زده کړې ضرورت ددې سبب شو چې په پای کې دې سفر ته لاره اواره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له کابله تر ډهلي

د (۲۰۱۰م)کال د جنورۍ پر (۲) او د (۱۳۸۸ل)کال د مرغومي پر (۱۲) مه نېټه د الوتکې ټکېټ او د سفر نور لوازم تېول برابر شول. زما د سفر ملګري (اسدالله ساحل) چې (د افغانستان د علومو اکاډمۍ د سيمه ييزو مطالعاتو په مرکز) کې کار کوي، د سفر تخنيکي امکانات ټول برابر کړي وو. پر همدې ورځ له اسدالله ساحل او ثناالله خان تسل سره په کابل کې د وچې مېوې منډه يي ته ورغلو، نږدې (۳۰) کيلو وچه مېوه مو، چې مميز، توت، مټاک (چارمغز) بادام، پسته او نور په کې شامل وو، واخيستل. له افغانستانه چې څوک هندوستان ته ځي، نو تر وچې مېوې بله ښه ډالۍ نه شته، چې هلته يې يار و دوست ته ورکړي. د شپې مې په خپل بيک کې د سفر ټول ضروري شيان کېښودل. اسدالله ساحل سره مې په زړو مکروريانو؛ زموږ د کور مخې پارکينګ کې د سهار پر شپږو بجو وعده کېښوده، ساحل هم ټيک پر شپږو بجو راغی، له هغه ځايه د هوايي ډګر پر لوري وخوځېدو، شپږ نيمې بجې هلته ورسېدو،ان تر اصلي وخته لا دمخه ورسېدو. څرنګه چې زما موټر هوايي ډګر ته د ننوتو کارت درلود، نو د کابل نړيوال هوايي ډګر د ترمينل تر وره پورې په اسانۍ سره لاړو. د ډګر له پوليسو مو وپوښتل: چېرته لاړ شو؟ هغوی وويل: ((نوي ترمينل ته لاړ شئ!)) له هغه ځايه په دوو درېو دقيقو پلي مزله ترمينل ته ورسېدو. دا لومړی ځل و چې نوي ترمينل ته لاړم، که څه هم د جوړېدو له پيل او پای څخه يې ښه خبر وم، خو له دې ترمينله

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مې الوتنه نه وه کړې. کله چې ترمینل ته داخل شوم، نو زړه مې خوشاله شو، یو نوی عصري ترمینل چې د وخت ټولې اړتیاوې یې په پـام کــې نیولې دي. سرې چې (سرۍ) وي او په خپل هېواد کــې دا ډول ابــادي وګوري، نو زړه یې باغ باغ شي. که څه هــم دا ترمینــل د مســاحت او**




د کابل د نړیوال هوايي ډګر نوی ترمینل

**وسایلو له پلوه د نړۍ د پرمختللو هېوادونو له ترمینلونو سره سیالي نه شي کولای، خو زموږ د هوايي ډګر له زاړه ترمینل سره یې ډېــر زیــات توپیر درلود. دغه راز د منځنۍ اسیا او د درېیمې نړۍ د نورو هېوادونو د هوايي ډګرونو تر ترمینلونو که ښه نه و، نو خراب هم نه و. دا ترمینل د جاپان هېواد په (۳۵) ملیونو ډالرو وړیا مرستې جــوړ شــوی دی. (۶۰) متره سور او (۳۷۰۰) متره اوږدوالی لري.**

**د ترمینل پاکي او صفايي خورا زیاته وه، امنیتي چــارې یــې د یــوې خصوصي امنیتي کمپنۍ پر غاړه وې. زموږ بیکونه یې د چک له سکېنر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ماشینه تېر کړل. ځینې بیکونه یې تر چک ماشینه وروسته بیا راسپړل او یو یو شی یې بیا چکاوه. زموږ بیکونه یې هم همدې پروسې ته کېښودل، موږ نو خپل شیان په بیکونو کې داسې منظم ایښي وو، چې لټون او تلاشۍ یې نظم ته ښه زیان اړولای شو، خو موږ بیا هم د همدې ډول تلاشۍ په باب هېڅ ونه ویل. مخکې تر دې چې زما او د اسدساحل بیکونه دې حالت ته لاړ شي، له امنیتي مسولینو څخه د یو تن، چې مخابره یې په لاس کې وه، پر ما سترګې ولګېدې، راغی ماسره یې ښه ګرم ستړي مشي وکړل، ماته یې وویل: ((یون صیب چېرته ځې؟)) ما وویل: ((هند ته))، ویل یې: ((بیکونه دې چېرته دي؟)) ما ویل: ((هغه دي؛ دویم ځل تلاشۍ ته منتظر یو)) سملاسي یې زموږ بیکونه راواخیستل، هغوی ته یې وویل: ((د یون صیب بیکونه دي.)) ان تر هغه ځایه یې موږ بدرګه کړو چې هلته بیکونه تلل کېږي، تسمه ترې تاوېږي او مارک یا نښه پرې وهل کېږي. موږ ترې مننه وکړه، خو د نامه پوښتنه مې ترې ځکه ونه کړه چې هغه به ویل ماتاسې سره دومره مرسته وکړه او ته مې لا په نامه هم نه پېژنې. خپل غټ بیکونه مو هلته تسلیم کړل او خپله له وړو وړو کڅوړو سره د ترمینل دویم پوړ ته پورته شو، هلته یو ځل بیا وروستی چک و او له سکېنر ماشینه تېرېدل، دا نو بیا همغسې له نړیوال معیار سره برابره تلاشي وه؛ دا ماشین هېڅ اوسپنیز شی نه شي زغملای، تر هغې تلاشۍ هم تېر شو او هغه هال ته لاړو چې ټول مسافرین په کې د الوتنې لپاره انتظار باسي.**

**په هال کې ډېر وخت منتظر پاتې شو، خو د ټلېفون دې کور ودان وي، یوازې یې پرېنښودو؛ دقیقه پر دقیقه به زنګونه راتلل، ما هم دا وخت غنیمت وګاڼه، ځینو هغو دوستانو ته چې دا ډېر وخت ورسره په تماس**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې نه وم پاتې شوی، هغو ته مې زنګونه ووهل، د حال واحوال پوښتنه مې وکړه. د هند په سفارت کې مې ښاغلي جي پي سنګ (J.p.singh) ته، چې ددې سفر په برابرولو کې یې مرسته کړې وه، هم یــو میســېج (پیغام) ورولېږه او مننه مې ترې وکړه. ساعت یوولس بجــې شــو، خــو بیاهم د الوتنې پته ونه لګېده، په هال کې د مسافرینو په منځ کې یــو شمېر داسې مسافرین هم وو، چې زه یې پېژندلم، ځینو به ستړي مشي راکړل، د حال پوښتنه به یې وکړه او ځینو بیــا د سیاســي او ټــولنیزو حالاتو د بدلون په باب پوښتنې کولې. ما به هم ورسره خپلې اندېښنې او معلومات شریکول.

تر ډېر اوږده انتظار وروسته، څه کم دولس بجې وې چې الوتکې ته د



د هند د هوايي لیکې یوه الوتکه

ورختو جوګه شو. تر معمول چک وروسته الوتکې ته پورتــه شــو او پــر خپلې څوکۍ کېناستو. زه او اسد ساحل څنګ په څنــګ پــر څوکیــو کېناستو. د الوتکې ستوارډیستانو په الوتکــه کــې د ســفر شــرایط، د احتمالي خطر په حالت کې له بېړنیو دروازو څخه د وتلو لارې چارې او د ضرورت پر وخت له اکسیجن څخه ګټه اخیستنه تشریح کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هندي ستوارډېستانې هغومره ښکلې نــه وې، لکــه د ځینــو نــورو هېوادونو د هوایي شرکتونو خدمې چې ګورې. په هند کې چې کــومې ښکلې او بیا ډېرې ښکلې نجونې پیدا شي، نو له فلمونو او ډرامو څخه نه وزګارېږي، ایله د فلمي کمپنیو اړتیاوې پوره کړي، تر هوایي شرکتونو یې ډېر کم څرک رارسېږي. زموږ د افغاني شرکتونو ستوارډېستانې تر هندي هغو ښکلې او پاکې ښکاري. (انډین ایــرلاین) (د اریانــا افغــان هــوایي شرکت) ته په خدماتو کې تقریباً نږدې دی. ډېر څرګند توپیر په کې نــه**




**لیدل کېږي، خو دا دواړه هوایي شرکتونه د نړۍ له پرمختللــو هــوایي شرکتونو سره د سیالۍ جوګه نه دي. غرمنۍ مو په الوتکه کې وخوړه، د افغانستان پر وخت نږدې یوه نیمه او د هند پر وخت نــږدې دوه نیمــې بجې وې چې ډیلي هوایي ډګر ته ورسېدو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلور ساعته په ډیلي هوایي ډګر کې

کله چې الوتکه د ډیلي پر هوایي ډګر کښته شوه، نو له میده میــده باران سره سپین ګردونه او د سپینو وریځو یو څپه هم راورسېدل. دې ډول ګرد ته په هند کې فوګ (Fog) وایي چې په لس مترۍ کې دې هم څوک نه ښکاري، د الوتکې پیلوټ اعلان وکړ: ((د هوا د خرابۍ له امله تاسو همدلته په الوتکه کې پاتې کېږئ او کله چې موږ ته د هوایي ډګر د لارښوونکو له خوا معلومات راکړل شول، بیا به تاسو ته اعلان وکړو او د ترمینل مخې ته به ځو.)) پر ما باندې چې د غرمې ډوډۍ تــر خــوراک وروسته ضرور خوب راځي، دا وخت مې د ځان لپاره غنیمت وګڼــه او زموږ د یوه کلیوال په اصطلاح ((د خوب ګېر مې ولګاوه))؛ (نږدې نــیم ساعت) به ویده شوی وم، چې بېرته مې سترګې وغړولې، همغه خرک او همغه درک و، بیا مې اخوا دېخوا په الوتکه کې پر ایښودل شویو مجلو لږ وخت تېر کړ، خو الوتکه له ځایه د خوځېدو نه وه، په الوتکه کې چې دې هر چاته کتل له تندي یې د ناراحتۍ احساس له ورایه ښکارېده، چا بــه خپله خوله وازه کړه، ساه به یې وکښله، چا به خپل دواړه لاسونه جګ کړل او پر شا څوکۍ به یې راتاو کړل، ځینې به د الوتکې په دهلېز کــې څو ګامه کښته پورته لاړل، ځینې شوخو افغان ځوانانو بــه د الــوتکې پورته چت کې هغه بټن بار بار وهله چې هرند به یې کاوه، خو دې ټولــو تنګسیاوو پر الوتکې هېڅ اغېز ونه کړ، همداسې ځای پرځای ولاړه وه، (نږدې دوه نیم ساعته) همدلته ځای پرځای پاتې شو، نور نــو د خلکــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خَلق دومره تنګ شوی و، چې چا سره خبره هم نه کېده، تر دوه نيمو ساعتونو ځنډ وروسته الوتکې د ترمينل پر لوري حرکت وکړ، يو ځای ته چې ورسېدو، دا يې نو وروستی تمځای و. څو دقيقې وروسته د الوتکې تر سينې پورې (۳۰۲) ته ورته اوږد هندي موټر راورسېده، په هغه کې سواره شو او د ترمينل د دخولي وره له لارې ترمينل ته ورداخل شو.

کله چې ترمينل ته ننوتو، نو مسافرين په څو اوږدو ليکو کې ولاړ وو؛




د هنديانو لپاره ځانته ليکې او د بهرنيانو لپاره جلا ځانګړې ليکې وې، بهرنيان په دوو ځانګړو ليکو کې ولاړ وو. سره له دې چې ويل کېږي په بهر کې هرڅه د قانون مطابق ترسره کېږي، خو دلته ليکې نه منظمې وې او نه هم د قانون مطابق؛ په رڼو سترګو دې ليدل چې يو څوک درڅخه مخې ته کېده. د پاسپورټونو د ټاپې لګولو مامورين هم د هنديانو د خوی مطابق ډېر سست وو، ورو ورو يې کار کاوه، د سړي يې دومره زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تنګاوه تا به ویل چې پر لاس یې خوله ولګوې، یو ځل به یې کمپیوټر ته کتل، بیا به یې شخص ته، بیا به یې کاغذونو ته، پر هـر شـخص بـه دا عملیه څو ځله تکرارېدله، په تېره بیا پر هغو افغانانو چې ناروغان به وو، زاړه به وو او پر ژبه به هم نه پوهېدل او نابلده به هـم وو. مـوږ چـې د مامورینو پر دې سست حرکت پوه شو، نو ځان مو د خدای هیلـې تـه وسپاره. په لیکه کې (د ننګرهار پوهنتون د هندي ځانګې) یو ټـولګی محصلین هم راسره مخامخ شول، دوی د ستاژ یا عملي زده کړو لپاره د هند (اګرې) ښار ته روان وو. په ننګرهار پوهنتون کې هندي څانګه نوې جوړه شوې او محصلین یې د ژبې د زده- کړې په موخه د ټاکلي وخت (یو سمستر) لپاره هند ته ځي. دوی سره مو تر روغبړ وروسته د حال او احوال پوښتنه وکړه، ډېر ځنډ مو پر سیاسي، ټولنیزو او ادبي بحثونو تېر شو، دې کار زموږ پام پر بله کړ؛ د اوږده او رنځوونکي انتظار بار راباندې لږ څه کم شو. سیاسي بحثونه کله کله ښه پر دې وي: یو خو په کـې د تجربو تبادله کېږي او بل د شخصي بحث یا غیبت پرځای چې د یو چـا شخصیت په کې داغمن کېږي، تر هغه خو سیاسي بحث ډېر ښه دی، په دې شرط چې د نظر وسعت په کې وي، افکار په کې تبادله کېږي او یوه نیمه نوې خبره هم په کې زده کېږي. (نږدې دوه ساعته) په همدې لیکه کې ولاړ وو چې په پای کې زموږ نوبت راورسېد، تر دخولي وېزې وروسته زه او اسد ساحل د خپلو بیکونو په لټه کې شو، تر (پنځه لـس دقیقـو) انتظار او پلټنې وروسته مو خپل بیکونه ترلاسه کړل او له هوایي ډګره د وتلو په حال کې شو، خو مخکې تر دې چې له هوایي ډګره ووځو، ساحل د هغې کمپنۍ مسول ته، چې د کورس مسولیت یې درلود او مخکې تر مخکې یې، موږ ته په راکړي لاربښود کې نوم لیکل شوی و، ټلېفون وکړ،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه وویل: ((تاسو ته په هوايي ډګر کې موټر ولاړ دی.)) له ترمینله چې راووتو نو د هغو سلګونو هرکلیوالو لیکو تـه راورسـېدو چـې د خپلـو مسافرینو انتظار يې کاوه، چا، چاته لاسونه خوځول، د چا پر سینه د چا نومونه لیکل شوي وو، چا د چا نومونه پـر لوحـو لیکلـي وو او څـوک همداسې ولاړ وو. د لیکو نیمايي برخې ته چې ورسېدو، نو پر محبـوب الله محبوب مو سترګې ولګېدې، چې له لرې يې موږ ته لاس خوځـوه: ((یون صیب، یون صیب دلتـه یـم، دلته یم.)) محبوب الله محبوب سره یوځای شو، تر روغبـړ وروسـته لـه هوايي ډګره ووتو. محبوب زموږ یـو تکړه فرهنګي ملګری دی، عمر یـې کم، قد يې ټیټ، خو کار يې زیات او ارادې یـې لـوړې دي، ډېـر لـوړ اجتماعي خصلت لري، په فرهنګـي





کارونو او ټولنیزو روابطو کې ډېر فعال دی. محبوب وویل: ((زه ان یوولس بجې راغلی وم، بیا مې دلته د معلوماتو له دفتره وپوښتل، هغوی وویل: د هوا د خرابۍ له امله مو الوتنې ځنډولي، خو بیا هـم زه همدلتـه پـه هوايي ډګر کې پاتې شوم. ښه په خیر راغلئ!)) محبوب نو موږ پسې ډېر خپه و، اسدساحل ورته د معلوماتو پاڼه ورکړه، هغه سملاسي ټلېفـون وکړ او هغه ډرېور يې پیدا کړ چې موږ پسې هوايي ډګـر تـه راغلـی و. محبوب اردو ژبه ډېره ښه زده کړې ده، ډرېور سره لست و، موږ اوو تنو افغانانو ته منتظر و. هغه وویل: ((ستاسو څلور تنه نور افغانان هم هلته منتظر دي، ټول به هلته ورشو او بیا به یوځای هوټل ته لاړ شـو.)) لـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هوايي ډګره راووتو، په یوه څنډه کې څلور تنه افغانان (دوه نرینه او دوه ښځینه) له خپلو درنو بیکونو سره ولاړ وو. ستړي مشي مو سره وکړل، خپل ځانونه یې معرفي کړل، خو نومونه یې ما حافظې ته ونه سـپارل، ډرېور وویل: ((په لست کې ماسره اوه کسه یاست د (اجمل) په نوم یو تن پاتې دی.)) ساحل ورته وویل: ((هغه موږ سره په الوتکه کې نه و.)) ډرېور**



**وویل: ((ځو به نو؟)) موږ وویل: ((هو ځو به.)) د محبوب په شمول مـوږ اوه کسه کېدو، خو دوی یو وړوکی سوزکي موټر رالېږلی و. په موټر کې ایله زموږ د کابلیو انډیوالانو بیکونه ځای شول، هغوی تـه مـو وویـل: ((تاسې ځئ، موږ په بل ټکسي کې درپسې درځو!)) ډرېور وویل: ((د بل ټکسي چارچ موږ نه ورکوو.)) موږ وویل: ((دوی په خیر ورسوه، د ټکسي کرایه موږ خپله ورکوو.)) زه (یون)، او محبوب سره پاتې شو اسد ساحل هم هغو سره لاړ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**محبوب د بل ټکسي موټر لپاره ټکېټ واخیست، یو سوزکی راغی، په هغــــه کـــې دواړه کېناســـتو او د هوټـــل پـــر لـــوري مـــو**




**حرکت وکړ. په لاره کې نرمې هوا او د ډیلي ښار رڼاګانو یو عجیب خوند کاوه، محبوب سره مو په دې لاره کې ښه ګپ شپ چالان کړ، محبــوب چې د نویوالي یا ماډرنیزم سخت پلوی دی، پر یو شمېر افغان لیکوالــو همېش نیوکه کوي او وایي: ((د دنیا له حال و احواله خبر نه دي، په زړو ببولالو کې راګیر دي او ډېر دودیزوال دي.)) ما محبوب ته وویل: ((زموږ په کلي کې یو ملا دی، ډېر چالاکه او تر نورو ملایانو یې سترګې خلاصې دي، څه ناڅه یې دنیا هم لیدلې ده، د کلیوالي ملایانو ســخت مخــالف دی. هغه د کلیوالي ملایانو په باب وایي)): (( دوی داسې مســطور دي چې هېڅ لمر یې نه دی لیدلی ؛ نه یې بهر ځای لیدلی، نه بهر دوی چــا لیدلي، نو ځکه خو د دنیا له حاله خبر نه دي.)) محبوب بیا په خندا شو ((یار که نه بیا دې له ملا سره تشبه کړم، زه یو ازاد سړی یم.)) ما ویل نه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې ملا مثال خو دلته ستا په ګټه دی. محبوب ته مې وویل: ((څنګـه چکر به راکوې که نه؟)) هغه وویل: ((چکر که چکرونه، دا وایه چې جیب دې ډک دی که تش؟)) ما وویل: ((دلته چکر په جیب پورې تړلی؟)) هغه وویل: ((بلکل، د هند کلتور داسې دی چې دلتــه خلــک ډک جیبونــه راشي نو تش جیبونه بېرته ځي)) ما وویل: ((ځکه نو ته څلوېښــت زره کلدارې معاش اخلې، څومره وخت وشو د ښځې خاوند نه شوې.)) هغه وویل: ((یار ته عجیبه خبرې کوې، دلته هډو د ښځې ضرورت پېښېږي نه.)) ما وویل: ((ښه نو دلته هر څه پراخ بنسټ دي؟)) بیا مــې ورتــه د ((پراخ بنسټ)) ټوله کیسه وکړه چې دلته د کاغذ پر مــخ یــې لیکــل، کېدی شي د کاغذ وزرونه وسېزي. محبوب بیا یو کړس خندا وکړه. پــه همدې بحث بحث کې مطلوب هوټل ته نږدې شو، خــو ټکســي ډرېــور چندان بلد نه و، څو ځله یې اخوا دېخوا په کوڅو کې تــاو راتــاو کــړو، محبوب مجبور شو، هوټل والا ته څو ځله ټلېفون وکړي، د هوټــل پــه شاوخوا کې تر نږدې شل دقیقو سرګردانۍ وروسته مو هوټل پیدا کــړ. جي کی ون، ام بلاک، رانی کسل هوټل (GK1. M Block Rani Castle Hotel).

ډرېور له محبوب څخه څه نورې پیسې هم (د اضافي چارج) په توګه واخیستې، ما محبوب ته وویل: ((ټول حساب دې زه درپــوره کــوم، دا پیسې له خیره وساته چې کوژده او واده دې پرې وشي.)) هغه بیــا پــه خندا شو: ((په دې چس مس به څه وشي که پیسې راکوې، نو بیا خــو هغه غټو خزانو ته لاس کړه په دې چس پس څه نه کېږي)) ما وویل: ((پر خزانو خو ښاماران ناست دي، همــدې څــاڅکي څــاڅکي نــه دریــاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړېږي، تاته خو پيسې هسې هم نه پکارېږي، ځکه تاته خـو همدلتـه




هندۍ ښځه کوو، پيسې به هم درکړي او واده به دې هم وشي؛ دوه ګټې به وکړې: ملنګه دوه ګټې دې وکړې: هم دې خير ټول کړ هم دې وکړل ديدنونه. ته به هم پيسې ترلاسه کړې او هم به ښځه درته ميلاو شي.))

همدې ټوکو ټوکو کې هوټل ته پورته شو. د هوټل هرکليـوال مـوږ تـه هرکلي ووايه، هر چاته مخکې تر مخکې اتاق مشخص شـوی و، خپلـو اتاقونو ته پورته شو، خپل بيکونه مو ځای پرځای کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د هوټل لومړۍ شپه

رانی کسل هوټل (Rani Castle Hotel) چې د ډيلي په یوه معتبــره سیمه (جي کې ون (Gater klash one) کې موقعیت لري، د ډيلي یــوه قیمتي سیمه ده. راني کسل هوټل داسې یــو هوټــل دی، چــې پنځــه



اسد ساحل په راني کسل هوټل کې

ستوریزو کې نه حسابېږي، خو تر نورو مېلمستونو او هوټلونو یــو څــه لوکس دی. ددې هوټل د یوه اتاق کرایه په یوه شپه کې تقریباً درې، درې نیم زره کلدارې ده، خو دا چې زموږ کوربنې کمپنۍ به څو کرایه ورکوله، ددې پته موږ ته نه وه، خو داسې اټکل کېده چې دې کمپنۍ د ډېر وخت لپاره اتاقونه کرایه کړي وو، نو کېدی شي، کرایه یې تر نورو مسافرینو یو څه ټیټه وي. د هوټل اتاقونه ښه مناسب او پراخ وو، هر اتاق ځــانګړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تشناب، ټلویزیون او د انټرنېټ پوره اسانتیاوې لرلې. د ماسختن اته بجې ډوډۍ تیاره شوه، د هوټل منتظم ټولو ته خبر ورکړ چې: ((پـر همـدې وخت ډوډۍ ته راشئ، هم به ډوډۍ وخورو او هم به یـو لنـډ میټنـګ وکړو.)) اته بجې ډوډۍ ته پورته شو.**

**د ډوډۍ پر مهال د هوټل یو منتظم (بټه چاري) وویل: ((نن ستاسـو**



اسد ساحل، فرهاد ، نذیره هاشمي، زرغونه پوپل او اجمل فدایي

**لومړنۍ ورځ ده، د ماسختن ډوډۍ او سهار چای ستاسو پر مـوږ دی، د غرمې ډوډۍ که چېرې تاسې دلته خورئ نو پیسې به یې ورکوئ، (۳۰۰) کلدارې، که مېلمه درسره وي، د هغو به خپلې پیسې ورکوئ. دا هوټل د کشمیریانو دی، دلته اسلامي غذا تیارېږي، له مذهبي پلوه غذا ته کومه اندېښنه مه کوئ، دلته چې هر څه راوړل کېږي، ټول حلال دي. د ډوډۍ مینو مو وخت پر وخت بدلېږي، تاسې هم کولای شئ خپـل فرمـایش ورکړئ!.)) موږ چې لومړی ځل ډوډۍ وخوړه، ډوډۍ یې ډېره ښه نه وه، تر ډوډۍ وروسته یې ایس کریم هم راوړ او د چای لپاره یـې ځـانګړي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترموزونه هم راکړل. ویې ویل: ((له مهم ضرورت پرته اتاقونو تــه ډوډۍ وړل لازم نه بولو، خو که چېرې ستاسو کوم یو کله پر خپل مشخص ټایم ډوډۍ ته نه شئ راتللای، نو موږ ته ټلېفون وکړئ، ډوډۍ به درته اتاق ته در وړو. سبا ستاسو درسونه پیلېږي، کولای شئ چې د ډوډۍ وخت کې ساعت نیم بدلون راولو. خو ستاسو په خوښه او ضرورت. سهار مــو لــه همدې ځایه موټر وړي او بېرته مو راوړي.))


تر ډوډۍ وروسته بېرته اتاق ته لاړو، تر ناوختــه مــو گــپ ولگــاوه، محبوب ته مو وویل: ((ته هم همدلته پاتې شه! ناوخته دی.)) محبوب له اسد ساحل سره اتاق ته لاړ او زه د خوب غېږې ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کورس لومړۍ ورځ

سهار تر چاى وروسته موږ ته احوال راکړ شو چې ستاسو کورس نــن پيلېږي، خو تر غرمې وروسته. زموږ د افغانانو بل ګروپ چې د ګرافيک کورس يې تعقيباوه، هغوى سهار مهال ورغلي وو. (يوه بجه او پنځه لس دقيقې) د همدې هوټل په يوه سوزکي ګاډي کې سواره شو، (پينځه لس دقيقې) وروسته هلته اپټېک (APTECH) کورس ته ورســېدو. اپټېــک




کورس د ډيلي ښار په سوټ ايکسټېنشــن ټــو ( Sout Extension II) برخه کې موقعيت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**همدې کورس ته مخامخ درې تاریخي ودانۍ هم شته چې په هند کې د پښتنو واکمنۍ په مهال پورې اړه لري، دوه ودانۍ یې اوس نوم نه لري او د زمانې له حافظې وتې دي، خو یوه لویه یې اوس هم نـوم او لوحــه لري. دا ودانۍ د براخان (لوی خان) په نامه یادېږي. اپټېک (APTECH) یوه هندي نړیواله روزنیزه موسسه ده چې تر اوسه یې په ملیونونو زده کوونکي روزلي دي. دا محصلین د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو پـورې اړه لري. ددې کمپنۍ مرکزي دفتر په ممبۍ کې دی، په ډېلي او نورو لویــو ښارونو کې هم څانګې لري. د کمپیوټر په بېلابېلو څانګو او د انګلیسي ژبې د زده کړې په برخه کې محصلین روزي. دوی د هند لــه حکومــت سره تړون لري، هغوی ورته پیسې ورکوي او دوی ورته محصلین روزي. دوه بجې کورس پیل شو. لومړی د کورس یــوه اداري مســوله مېــرمن (سونیا) راننوته، ځان یې معرفي کړ. بیا یې د ګرافیک کــورس اســتاده مېرمن (ریمي کرن) معرفي کړه، تر هغې وروسته یې د کورس دوه تنــه نور مسولین: (هانېت او کارتېک) معرفي کړل. بیا یې موږ ته نوبت راکړ چې ټول یو بل ته ځان معرفي کړو. پـر دې ورځ تقریبــاً د پنځــه لســو هېوادونو محصلینو ځانونه معرفي کړل چې دغه هېوادونه په کې شامل وو:**

**افغانســتان، مالــدیف، کمبودیــا، زامبیــا، ســوډان، لاوس، چیلــي، ارمنستان، ویتنام، منګولیا، نیپال، ترکمنستان، موزمبیق او مدغاسکر.**

**تر هغه وروسته یې بیا د هویت کارت د جوړولو لپاره ځانګړې فورمې راکړې، د کورس لپاره درسي مواد چې تدریسي کتابونه، یوه کتابچــه، پنسل، پنسل پاک، قلم او پنسل تراش په کې شامل وو، ټول یې په یوه بیک کې د پکېج په شکل ایښي وو، هغه یې راکړل، یو ځل بیا د محصلی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پر څوکۍ کېناستم، یوازې زه نه وم، نور داسې کسان هم وو چې په خپلو هېوادونو کې یا د پوهنتون استادان وو او یایې هم پر لوړو څوکیو کـار**



**کاوه. د محصلۍ یا متعلمۍ پر څوکۍ ناسته یو ځل بیا سړي ته د خپـل ماشومتوب او زده کړې دورې خواږه او بـې مســولیته وختونـه ور پـه یادوي.**

**نن خو لومړۍ ورځ وه، ډېرې خبرې ونه شوې، د کورس یوې مسولې (سونیا) وویل: ((نن ډېرې خبرې نه کوو، سبا به له خپلو استادانو ســره پوره پوره معرفي شئ.)) د کورس یو بل تن اداري مسول (هانېت)، پــه هندوستان کې د اوسېدو شرایط، ضوابط او قــوانین تشــریح کــړل، د ترانسپورت سیستم، مقید ځایونه او د کورس اصول یې ټول واضح کړل. دا یې هم وویل: ((هرې پنځه لس ورځې وروسته ستاسو تدریسي وخت بدلون مومي.)) لومړۍ ورځ مو پر همدې تېره شوه. کله چې راني کسل**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هوټل ته لاړو، څو شېبې وروسته (استاد خالق رشید) چې په هند کې د افغانستان کلتوري اتشه دی، پوځي اتشه (مسعود ستانېکزي صیب) او تجارتي اتشه (عبدالمنیر یوسفزي صیب) زموږ اتاق تــه تشــریف راوړ، هغوی سره څو شېبې ناست وو، ګپ مو لګاوه چې (په هند کې د پښتنو جرګې مشر) (ښاغلي ثنالله خان یوسفزي) هم تشریف راوړ. ثنالله خان**



محمد حنیف خان شاستري، یون، استاد خالق رشید او اجمل فدایي

**یوسفزی د هند د کشمیر پښتنو خانانو له جملې څخه دی، اوس هم په کشمیر کې پرېمانه ځمکې او جایدادونه لري، خپله په ډیلي کې اوسي، همدا هوټل چې موږ په کې اوسو، د ده کور له دې ځایه په پلــي مزلــه پنځه دقیقې لرې په دویمه کوڅه کې دی. ثنالله خان هغه پښتون دی چې نه یوازې د پښتو ژبې او ادبیاتو ډېره شتمني یې په خپل ذهن کــې خوندي کړې، بلکې د ډیلي په زړه کې هغه کورنۍ ده چــې د زامنــو او لمسیانو ټولو یې پښتو زده ده او په ښه ډول یې پالي هم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شپې تر اتو بجو مو دوی سره پر بېلابېلو مسایلو خبرې اترې وکړې. ثناالله خان او خالق رشید استاد ډېر نږدې ملګري دي، دواړه چې سره یوځای وي، نو بیا د زړه له اخلاصه ظریفانه او مودبانه ګپ لګوي. ثناالله خان وویل: ((زه په دې ورځو کې ډېر لرې؛ د هند جنوب ته روان یم، لس ورځې هلته تېروم، خو مخکې تر هغه باید تاسو او ستاسو ټول ملګــري یوه غرمه ماسره تېره کړئ، هدف مې دادی چې زما کور ووینئ.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یوه غرمنۍ له خان ثناالله خان سره

لکه څنګه چې دمخه مو یادونه وکړه؛ ثناالله خان چې پر لومړي ځل زموږ لیدو ته راغی، نو ویې ویل: ((زه د هند جنوب ته پر یو سـفر روان یم، خو تر هغه دمخه باید یوه غرمنۍ له ماسره تېره کړئ!)) د همـدې ژمنې او ټینګار مطابق مو دا مېلمستیا ومنله. استاد خالق رشید او خپله ثناالله خان لالا تر غرمې دمخه موږ پسې راغلل، زه (یون)، اسدساحل او اجمل ورسره موټر کې کېناستو، که څه هم لاره دومره لنډه وه چې تـر موټره پلی تګ غوره و، خو د هغوی په ټینګار په موټر کې لاړو، له راني کسل هوټل څخه په پلي مزله ایله (پنځه دقیقې) واټن لري، ډېر ژر کور ته ورسېدو،وروسته محبوب الله محبوب هم راغی. کله چـې د ثنـاالله خان لالا کورته لاړو، نو په هند کې مو ځان داسې احساسوه، لکـه پـه پېښور، کابل او یا هم د سوات د کوم پښتانه یوسفزي په کور کې چـې مېلمانه یو. د کور ټول محیط پښتون پښتون و. ثنـاالله خـان د (۱۳۰۰) ملیوني هندوستان په زړه کې پښتو ساتلې وه، خو زموږ یو زیات شمېر واکمنو د (۲۵) ملیوني افغانستان په زړه (کابل) او په تېره بیا په (ارګ) کې هېره کړې ده: ډېر تفاوت شته په انسان کې د مانا په لحاظ...

ثناالله خان ډول ډول افغاني غذا تیاره کړې وه، د خپل وطن د غـذا پوره پوره مینـه پـرې ماتېدلـه. د ثنـاالله خـان ټـول اولادونـه او ان

(c) ketabton.com: The Digital Library






لمسیان پښتو خبرې کوي. د هندوستان په شان په یوه لویه ټولنه کې د پښتو په شان د یو محکومې او محرومې ژبې ژوندي ساتل اسانه کار نه دی. ثناالله خان ښه د ګپ او شپ سړی دی، د ډوډۍ پر وخت يې هم دومره وخندولو چې پر دې پوه نه شو ډوډۍ ډېر خوندوره وه که ټوکې، تر ډوډۍ وروسته مو چای وڅښه او بیا مو له ثناالله خان لالا څخه رخصت واخیست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یوه غرمه له استاد خالق رشید سره

که څه هم تر دې دمه موږ څو ځله په ډیلي کې د استاد خالق رشید استوګنځي ته ورغلي وو، هغه زموږ ډېر عزت کړی و، نه یوازې دا ځــل، بلکې تر دې دمخه چې زه هر کله له خپلې کورنۍ سره هند ته تللی یم، نو استاد زموږ دومره عزت کړی چې حد نه لري، یو ځل بیا یې یادونــه




وکړه چې یوه غرمه به د رخصتۍ پر ورځ چېرته لرې له ښــاره وځــو. د رخصتۍ ورځ وه، یکشنبه، سهار (۷) بجې له ((ګېتــر کــلاش)) څخــه (ګرین پارک ماین کې) د استاد خالق رشید استوګنځي ته لاړو، هغه موږ ته منتظر و، استاد چای تیار کړی و، چای مو وڅښه، څو شېبې محبوب ته منتظر شو، هغه ټلېفون کې وویل: ((نږدې یم نږدې؛ څو دقیقو کې در رسېږم.)) خو تر نیم ساعت انتظار وروسته مو ایله محبوب الله محبوب پیدا کړ. په موټر کې پوځي اتشه (ستانیکزی صیب) استاد خالق رشید، زه (یون) ساحل، اجمل او محبوب کېناستو، ډېر مزل مو وکړ، د ښار یوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنډېږ (ویسانت کونج) ته ووتو او هلته یو سیمه ییز هوټل تــه لاړو، دا هوټل ښه افغاني غذا تیاروي، استاد خالق رشید راته په ټلېفــون کــې ویلي وو چې نن (بشیر کندهاری) هم راځي، هغه ډېره موده کېږي لــه کندهاره راغلی، لږ شان مریض غوندې دی، زړه یې هم تنګ دی او ویل



چې یون صــیب راغی، نو ما بــه حتماً خبــروې، چـــې لــږ د زړه خوالـــه ســـره وکـــړو. بشـــیر کنـــــدهاری د کندهار یو ځوان امـــــــاتور سندرغاړی دی، د پیسو لپاره نه، بلکې د شوق او خدمت لپاره کله کله سندرې وایي، خو ښې یې وایي.

څه کم یوه بجه هوټل ته ورسېدو. وړوکی خو پاک هوټـل و، اســتاد خالق رشید ورته فرمایش ورکړ، د پسه ورون یې کباب کړ، مــوږ ورتــه وویل: ((استاده دومره څه ورته ووایه چې خوړلای یې شو، زیات څه مه وایه.)) ډېر ښه خوندور کباب یې پوخ کړی و، موږ هم ښه وړي شوي وو، ډوډۍ ډېر خوند وکړ. ښاغلي بشیر کندهاري ښې د مزې ټوکې وکړې، د خپل هنر خاطرې یې هم په کې یادې کړې، کیسه یې د (ببرک کارمل) له وخته پیل کړه، د (رباني) او (طالبانو) د واکمنۍ پر مهال یې لا ښېلې

(c) ketabton.com: The Digital Library






خاطرې لرلې، چې پر هنرمندانو يې ځومره ساحه تنګه کړې وه.

ښاغلي بشيرکندهاري راڅخه هملته خدای پامـاني واخيسـته، دی هلته نږدې اوسېده، هملته پاتې شو او موږ استاد خالق رشيد تر خپلـه ځايه راورسولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په هند کې افغان ناروغان

هند په طبابت کې د نړۍ په کچه پرمختللی هېواد دی او ډېر ناروغان ورته د درملنې لپاره راځي. د دې یو علت دا دی چې په هند کې د ناروغیو د تشخیص لپاره پرمختللې طبي ټکنالوژي کارول کېږي او بله خبره دا ده چې په هند کې درملنه د ډېرو هېوادونو په انډول ارزانه ده. د نړۍ هغه ناروغه خلک چې کله هند ته د ناروغۍ د علاج په خاطر راغلي، کله چې بېرته خپل هېواد ته ستانه شوي له هنده یې ښه خاطره وړې ده. هندیان په پخواني یوناني یا طبیعي طب کې هم پخه تجربه لري. تر اوسه پورې هم، د افغانستان یو زیات شمېر خلک د هندوانو پر یوناني طب باور لري. په افغانستان کې اکثره نالوستي خلک اوس په لرې پرتو سیمو کې د خپلو ګڼو ناروغیو د علاج لپاره یا په ملا تعویذ کوي او یا هم د هندوانو او سکانو له خوا له طبیعي بوټو څخه د جوړو شویو دواګانو یا یوناني طب له لارې د خپلې ناروغۍ د تداوۍ لارې لټوي، خو هر څومره چې عصري طب له خپلو نویو بریاوو او ټکنالوژۍ سره پراخېږي، د یوناني طب او ملایي دم و چوف ساحه راتنګېږي. اوسمهال تر پاکستان وروسته هندوستان په نړۍ کې هغه هېواد دی چې تر ټولو زیات افغان ناروغان د درملنې لپاره ورځي. په کابل کې د هند سفارت د معلوماتو له مخې لږ تر لږه هره ورځ (۳۰۰) تنو افغان ناروغانو ته د هند وېزه ورکول کېږي. د الوتکې د ټکټونو په شمول د هر ناروغ لګښت لږ تر لږه (یو لک هندي کلدارو) یا (یو لکو شل زره افغانیو) ته رسېږي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لګښت اوسط کېدی شي (یو نیم لک هندي کلدارو) ته پورته شي. یانې**




په ډیلي کې اپولو روغتون

**هندوستان له افغانستان څخه پر نورو تجارتي ګټو سربېره هره ورځ لږ تر لږه (څلورنیم سوه لکه هندي کلدارې) چې د (یونیم ملیون ډالـرو) معادل دي، ګټه کوي. د هند په ګڼو روغتونونو کـې د افغـان ناروغـانو تداوي کېږي، (اپولو)، (مکس) او ځینې نور یې ډېر مشهور دي. کله چې د هند روغتونونو ته لاړ شې، نو افغان ناروغان او له هغوی سره د ورغلو پایوازانو دومره ګڼـه ګونـه وي چـې سـړی فکـر کـوي، د کابـل پـه (وزیراکبرخان)، (جمهوریت) او یا هم کوم بل روغتون کې یـم. اکثـره افغانان نابلده وي، له روغتون سره نږدې ځای نـه شـي پیـداکولای، د پېژندنې اکثره سرچینې یې همغه ناروغان وي چې یو ځل هند ته راغلي او بېرتـه یـې پـه خپـل هېـواد کـې دوی تـه د خپلـې درملنـې**

(c) ketabton.com: The Digital Library






داستان بیان کړی دی. په تېره بیا هغه افغان ناروغـان چـې د هنـدي ډاکترانو درملنې پرې ښه اغېز کړی وي، هغه نو بیا خپله ټوله کیسه په زور او زېر سره دوی ته بیانوي، سره له دې چې د دوی ناروغۍ مختلفې وي، همغه روغتون او همغه ډاکتر ته د تګ بلنـه ورکـوي چـې دده د ناروغۍ پر له منځه وړلو یې ښه اغېز کړی دی. دا ډول افغانان چې هلته لاړ شي لکه د بخت او طالع کار دی، کله یې طالع کار وکړي، خو کله یې بخت کوته شي. داسې ناروغان د مناسب ځای په پیداکولو کې هم لـه ډېرو ستونزو سره مخامخېږي، کله کله یې ځایونه لرې وي او کله کله یې ناسم ځایونه په لوړه کرایه نیولي وي.

د ژباړې ستونزه هم وي، یو زیات شمېر افغان ناروغان پـر هنـدي او انګلیسي ژبو سم نه پوهېږي، چې له ډاکتر سره سم افهـام او تفهـیم وکړي؛ مجبور دي د ځان لپاره ژباړونکی ونیسي، ځینې ژباړونکي ښـه خلک وي، افغاني احساس په کې وي، اکثره ژباړونکي هغه افغانان دي چې یا یې په هند کې زده کړې کړې دي، یا هلته ډېره موده مهاجر پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شوي او یا هم هغه افغان هندوان دي چې پخــوا پــه افغانســتان کــې اوسېدل او اوس یې یو زیات شمېر په هندوستان کې اوســي. دې ډول**



**ژباړونکو ته ژباړه اوس د عوایدو د یوې ښې ســرچینې پــه توګــه کــار ورکوي. یو ښه ژباړونکی د احساس او ګټې ترمنځ انډول ساتي؛ مشروع ګټه کوي، طبابت ته د تجارت رنګ نه ورکوي، خو ټول ژباړونکي او ټول ډاکتران بیا دا ډول نه دي؛ د ناروغانو له مجبوریت او مظلومیت څخــه ناوړه ګټه پورته کوي. ښاغلی (شمس) یو له هغو افغان ژباړونکو څخــه دی چې ښه افغاني احساس لري، هم د افغانانو خدمت کوي او هم خپل مشروع فیس اخلي. په هند کې زموږ د استوګنې پر مهال ښاغلي شمس څو ځله له موږ سره ولیدل او د ناروغو افغانانو ډېر غمجن داستانونه یې بیان کړل. یو شمېر ژباړونکي له ډاکترانو سره داسې رابطه لري چې د هر ناروغ پر سر خپل ځانګړی کمېشن اخلي؛ ډاکتر له روغتون او روغتون**

(c) ketabton.com: The Digital Library



والا بیا له درملتون یا درملځي سره د ګټې په زنځیر تړلي دي. که کـوم ناروغ پر دې تسلسل برابر شو، نو که د ځینو رنځونو علاج یې هم وشي،




نوي رنځونه به هم ورته پیدا کړي. هغه رنځنیولي او درد نیولي افغـان ناروغان چې د افغانستان له کلیوالي سیمو ورځي، ډېر ساده زړي وي، اقتصاد یې هم ځپل شوی وي او د ښاري ټګانو له چلونو هم خبر نه وي، نو چې د دوی په لومه کې ونښلي، تر هغه یې زبېښي چې څو یې جیب کې د پیسو بوی وي. کله کله یو ژباړن پر بل ژباړونکي ناروغ پلوري او له هغه څخه کمېشن اخلي، په دې پلمه چې نـاروغ تــه وایــي: ((زه ډېـر مصروف یم تاسو سره به زما بل ملګری لاړ شي.)) د هوټل یا ځای نیولو کې هم له خپل ارتباطي هوټل څخه کمېشن اخلي، ان تر دې چې کلــه ناروغ، روغ یا ناروغ بېرته خپل هېواد ته ستنېږي، نو خپلو خپلوانو تــه څه سوغاتونه اخلي، پر داسې مارکېټ یا دکان یې برابــروي چــې دوی ورسره له پخوا نه په تماس کې وي، له هغو څخه هم خپل کمېشن اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د همدې ژباړونکو په واسطه کله کله په یوه ناروغ، په څــو بېلابېلــو روغتونونو کې څو څو ځله معاینه کېږي او په دې پلمه چې بیا خــو نــه شي راتللای راځه خپل ټول چک اپ ( ټول ځان چک) وکړه، په هغو کې بیا هم څو ډوله معاینې دي (ساده، سلور او ګولډن یا طلایي) چــې لــه درمل پرته یې لګښت تر (۱۲) زرو هندي کلدارو رسېږي.

د تجارت دا ډول لړۍ اوس په هند کې ښه په ګرمۍ سره روانه ده.

د پولیسو راجسترېشن (نوملیکنه) بله ستونزه ده، چې اکثره ناروغان ورسره مخامخ دي. سره له دې چې یو زیات شــمېر افغــان ناروغــان د پولیسو تانې ته له ورتګ څخه معاف دي، خو کله کله ځینې ناروغان او په تېره بیا د هغوی پایوازان له دې ډول ستونزې سره مخامخ وي، دوی مجبور دي د سفر پر لومړیو ورځو او بیا د راتګ پر وخت د پولیسو تانې ته مراجعه وکړي. هلته لومړی ځان ثبت کړي او بیا خپله تزکیه وکړي. د پولیسو ستېشن ته په ولاړه لیکه کې د ناروغانو دومره ګڼه ګونه وي چې په تګ راتګ کې دوه بشپړې ورځې پرې تېرېږي. د ناروغ لپاره ټوله ورځ په لیکه کې ودرېدل اسانه خبره نه ده. نالوستي ناروغان له هغې شېبې چې د هند په هوایي ډګر کې کښته کېږي او د دخولي وېزې پــر مهــال خپله فورمه ډکوي او بیا تر هغه وخته چې افغانستان ته په راتلــونکې الوتکه کې سورېږي، شېبه پر شېبه له مشکلاتو سره مخــامخېږي. پــه ټولیز ډول له ټولو افغانانو او په تېره بیا له ناروغانو سره د هند د عــامو خلکو، حکومت او پولیسو وضعه ډېره ښه ده، د هند پولیس د پاکستان په شان نه دي چې د چاپو پنځه روپو ته یې هم سترګې نیولې وي. کله چې څوک ( کوم افغان) هند ته ځي او بیا ترې بېرته راځي، ډېر کم بــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**داسې پېښې شوې وي چې پولیس له کوم خاص ضرورت پرته د چا د ودرونې یا ځورونې سبب شوي وي.**

**په مجموعي ډول هندوستان د افغان ناروغانو د درملنې لپاره یو مناسب ځای دی، که څه هم د پاکستان په اندول په کې د ناروغانو لګښت یو څه زیاتېږي، خو صحت او عزت یې په کې تر ډېره حده خوندي کېږي.**


**زه درې ځله له خپلې مېرمنې سره د هغې د معدې ناروغۍ د علاج لپاره هند ته تللی یم. موږ د سواد او ژبې مشکل نه درلود، د پولیسو تانې ته له ورتګ څخه هم معاف وو، ډېر په تکلیف شوي نه یو، خو په روغتون کې چې به مې کوم افغان ناروغان کتل او هغوی به د خپلې ناروغۍ او تداوۍ کیسه کوله، نو له زړه به مو ورته وینې څڅېدلې. دا ځل مې هم مېرمن د لسو ورځو لپاره راغلې ده، خپله درملنه یې وکړه، هغې سره زه درې ځله (اپولو) روغتون ته ورغلم، هلته مې ناشمېره افغان ناروغان ولیدل چې له ګڼو ستونزو سره مخ وو، هر یو د غم او درد بېل بېل داستان درلود، خو د ډېر مالي زیان له زغملو سره سره بیا هم په عام ډول له درملنې راضي ښکارېدل.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لودي ګارډن ( لودي بڼ )

**لودي بڼ په ډيلي کې د ښکلو او لويو بڼونو له جملې څخه دی او له تاريخي پلوه خو په لومړنيو هغو کې راځي. لودي بڼ په (۹۰) ايکـړه يـا (۳۶،۴۲) هکتاره ځمکه کې له (۱۵-۱۶) پېړۍ پـورې د لـودي پښـتنو شاهانو له خوا جوړ شوی، چې بيا په کې د همدې پښتنو شاهانو او مهمو شخصيتونو مقبرې جوړې شوې دي، لکه د (محمدشاه) مقبره، (سکندر**



په لودي ګارډن کې یوه تاریخي ودانۍ


**لودي) مقبره. همدارنګه (شش ګنبده) او بړا ګنبده (لويه ګنبده) هم په کې جوړې شوې دي. کله چې موسم ښه وي، نو هره ورځ په لسګونو زره مينه وال ورته راځي، چې په هغو کې له بېلابېلو هېوادونو څخه بهرني**

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیلانیان او خپله اکثره ډیلي مېشتي هندیان شامل دي. د رخصتۍ پر ورځ خو دلته د پښې ایښودلو ځای نه وي.

تېر کال چې زه او مېرمن مې (ارین یون) ډیلي ته راغلي وو، نو زموږ استاد (ښاغلي خالق رشید) تر ټولو لومړی همدلته راوستلو او راته یې وویل: ((راځئ د خپل تاریخ یوه ټوټه دروښیم.)) پر هغه وخت مــو ددې بڼ ځینې مهمې ودانۍ وکتلې، خو په ټول بڼ کې پلي ګرځېــدل راتــه اسانه نه وو. استاد خالق رشید هغه وخت موږ ته وویل: ((د هند اکثــره تاریخي ودانۍ چې ګورئ دا په اسلامي دورې پورې اړه لري او اکثره یې




د پښتنو واکمنو له خوا جوړې شوي، وروسته مغولو همغه ډیــزاین تــه دوام ورکړی، خو توپیر یې په دې کې دی چې د مغولو دوره وروستۍ وه، د دوی پر وخت د مرمر ډبرو د تووړلو صنعت ورو ورو دود شو، خو تر دې دمخه له نورو ډبرو څخه کار اخیستل کېده، چې هغه هم تووړل شوې او صیقل شوې دي، خو د مرمرو په شان سپینې او ښویې نه دي.)) استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



خالق رشید وویل: ((دلته اکثره تاریخي ودانۍ په همدې دوو ســتایلونو جوړې شوي چې یوه ته یې (پټانز ستایل) وایي او بل تــه یــې (مغــولز ستایل) وایي.)) هغه وخت هم موږ د دې بڼ ودانیو ته ګوته په غاښ شو




او ډېر تصویرونه مو په کې واخیستل، زما مېرمن خو به چې د ودانۍ په داخل کې د هر قبر سر ته ودرېده، نو ډېرو دعاګانو به یې زما زړه راتنګ کړ، هملته به مې دېوال ته ډډه ولګوله او یخ شمال به راباندې ډېر ښــه ولګېده. هغې به راته ویل: ((دا پښتانه دي او مسلمانان دي خدای خــو دې ټول وبښي څومره کارونه او ابادۍ یې کړي دي.)) استاد خالق رشید چې به ورته د دوی په هکله نور تشریحات ورکړل، نو دې بــه نــور هــم دعاګانو ته کش ورکړ. هغه ځل موږ د لودي ګارډن ځینې برخې وکتلې، خو څرنګه چې هغه مهال هوا لږ شان ګرمه وه، ومو نه شو کولای چې د بڼ ټولې برخې وګورو، خو هغه ځل استاد خالق رشید مــوږ د (عیســی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان نیازي) مقبرې ته هم بوتللو، د نیازي پر قبر یو ډېره ښکلې ودانــۍ ودانه ده چې د شېرشاهي عصر له شهکاریو څخه ده. عیسی خان نیازی په هند کې د شېرشاهي پېر یو ستر پښتون قومندان و او ډېرې سوبې یې کړې دي. ما او مېرمن مې هغه وخت د نیازي قبر ته ډېر ودرېدلو او ډېرې دعاګانې مو ورته وکړې، خو دا ځل چې هوا هم ښه ده زه (یــون) اجمل، ساحل په ښه دمه کې یو، ثناالله خان تسل هم راسره ملګری دی، محبوب الله خان محبوب ته مو هم زنګ وواهه هغه هم راغی، نو د لودي ګارډن ډېرې برخې مو وکتلې، ددې بڼ یوې برخې ته چــې لاړ شــې د پخوانیو شاهانو یو عظمت درته تر سترګو کېږي، دا ورځ چې د رخصتۍ ورځ وه، په بڼ کې د پښې ایښودلو ځای نه و، ګڼ شمېر هندي کورنۍ له خپلو غړو: لویانو، ځوانانو او ماشومانو سره ورته راغلې وې، په چمنونو کې یې څکالي اوار کړي وو، د خوراک او څښاک شیان یې ټول ځــانونو سره راوړي وو. د تفریح او مېلې ورځې یو ښه انځور یې وړاندې کاوه. په



یون، محبوب، ثناالله تسل او اجمل په لودي بڼ کې

افغانستان کې داسې مېلې او تفریح ځایونه کم دي چې ښځې او نر دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ازاده فضا کې په کې ګډون وکړي، په افغانستان کې په هرې رڼا پسې یوه تیاره راغلې او هر څه یې بیا له خاورو سره برابر کړي دي. زموږ په هېواد کې بېلابېلو کلتوري او ډول ډول مذهبي بنـدیزونو د ازاد ژوند وزرونه تړلي دي. هند سره له دې چې یو ګڼ قومیزه او ګـڼ مـذهبیزه ټولنه ده، خو حکومت یې د ولسواکۍ پر اصل ولاړ دی، هېڅوک پر چـا خپل مذهبي عقاید نه شي تحمیلولای، خو هر څوک حق لـري، خپـل





خپل مذهبي مراسم، افکار او عقاید وپالي. په لودي ګارډن کې چې کله ګرځېدو، نو ځای نیم مو په کې داسې افغانان هم لیدل چې یا له خپلو کورنیو سره وو او یا هم په انفرادي ډول ګرځېدل. د یو چمن د غاړې په پلې لاره کې یو چا ودرولو، سرې سپین ږیری او عمر خوړلی و، په هندي یې وویل: ((تاسو افغانان یا پټانان یاست؟)) موږ وویل: ((هو!)) ده وویل: ((ډېر بهادر خلک یاست، ډېر مېلمه پال.)) ده زیاته کړه: ((زه څو کالـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وړاندې کابل ته تللی وم، هلته افغانانو زما ډېر عزت وکړ، زه هغه خوږې شپې تر اوسه یادوم.)) موږ ورته وویل: ((ته بیا راشه دا ځل به دې مــوږ عزت وکړو!)) سړی په خندا شو، زړه یې و چې موږ سره ډېــرې خبــرې وکړي، خو په پلې لاره کې ډېره ګڼه ګوڼه وه، اجازه مو ترې واخیسته.**

**په لودي ګارډن کې ښه ډېر وګرځېــدو، زړو ونــو د تېــرې زمــانې د**




**خاطراتو تداعي کوله، دومره وګرځېدو چې نور ښه ستړي شو.**

**له لودي بڼه راووتو، د غرمې (۱۲ بجې) وې، په دوو جلا ریکشاوو کې کېناستو او د راني کسل هوټل پر لوري مو حرکت وکړ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قطب مینار

تر څو ورځني تدریس وروسته د کورس اداري مامورینو وویـل: ((د راتلـونکې رخصـتۍ پـر ورځ پـه ډیلـي ښـار کـې تاسـې یـو،



قطب مینار ته ورڅېرمه په یوه تمځي کې

یو ورځنی ټور (چکر) لرئ، په دې سیاحت کې به تاسې د ډیلـي ښـار ځینې مهمې تاریخي ودانۍ او ځایونه هم وګورئ. په تاریخي ځایونو کې یو هم (قطب مینار) دی، بل یې (بهایي مرکز) او بل هم (ګاندي څلـی) دی او که وخت و ځینې نور ځایونه به هم وګورئ، مازیګر به مو بېرتـه خپلو ځایونو ته ورسوو.))

شنبې ورځ وه. سهار اته بجې له (سوت ایسټ) څخه په یو (۳۰۲) ته ورته هندي ساخت موټر کې سپاره شو، لومړی (قطب مینار) ته لاړو، هوا

(c) ketabton.com: The Digital Library







لږ شان یخه وه، یخنۍ لړزولم. لومړی د قطب مینار انګړ ته داخل شو، په دخولي دروازه کې د ټولو چک وشو. قطب مینار په هند کې څه، چې په نړۍ کې له سترو تاریخي منارونو څخه دی. دا مینار په هند کې د افغان واکمن (قطب الدین ایبک) له خوا جوړ شوی دی، ددې مینـــار بنســـټ قطب الدین ایبک ایښی و، خو د هغه د ژوند پرمهال بشپړ نه شو، بیا د هغه زوم دا مینار بشپړ کړ او دا بنه یې خپله کړه.

دا مینار پر (۱۱۹۹م)کال د قطب الدین ایبک له خوا پیل شو او د هغه د زوم (شمس الدین التمش) له خوا بشپړ شو. د مینـــار ټـــول لـــوړوالی (۷۲.۵) متره دی. د مینار اساس یا قطر (۱۴.۳) متره او لوړه وروســـتۍ څوکه یې (۲.۷) متره ده. درې ډوله تیږې یې په کې کارولې دي: د مینار

(c) ketabton.com: The Digital Library





یون او ساحل قطب مینار ته د ورشېرمه ودانیو مخې ته

بدن له یو ډول تیږو څخه جوړ شوی، چې زینتي نه دي؛ زیږې دي او بل ډول هغه تیږې دي چې د مینار پوښ ورڅخه جوړ دی، دا سرې زینتـــي تیږې دي چې په ښه ډول ښویې توږل شوي او په منظم ډول سره اوډل شوي دي. د مینار ټول پوښ له همدې ډلو تیږو جوړ دی او د مینار پــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**برنۍ برخه کې سپينې مرمر ډبرې کارول شوي چې مينار ته يــې ډېــره ښکلا وربښلې ده.**

**د قطب مينار په منځ کــې تــر (شــپږ ټنــو) زياتــه اوســپنه کــارول**




**شوې ده. دغه راز دې مينار ته ورڅېرمه د اوسپنې يوه ســتن ولاړه ده چې د سانسيکرت کتيبه ګنل کېږي او ويل کېږي چې د هندوانو د عزت او شرافت د خدای (ويشنو) په ياد ودرول شوې ده. دې کتيبې پر خپل وخت د وخت لارښوونه کوله، ددې ستنې عمر (۱۶۰۰) کلونو او لوړوالی يې (۷) مترو ته رسېږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



قطب مینار په داسې یوځای کې ودان دی چې شاوخوا یې نورې ګڼې ودانۍ هم ودانې دي. دا داسې ودانۍ دي چې ځینې یې اوس هم روغې پاتې، خو ځینې یې نړېدلې دي. قطب مینار ته ورڅېرمه یو ښکلی




ساحل د قطب مینار په محوطه کې یو مسجد ته ورڅېرمه

جومات هم ودان و، چې دا جومات هم د قطب الدین ایبک له خوا جوړ شوی و او د( قوت الاسلام) په نامه یې یاد کړی و. د قطب الدین ایبک له نامتو امامانو څخه یو هم (بوعلي شاه قلندر) و، چې زیارت یې په پاني پت کې دی او خورا مشهور دی. په یوه بله څنډه کې د مدرسې دېوالونه لا پرځای پاتې وو. د قطب مینار د همدې لویې محوطې په یوه بله برخه کې له قطب مینار څخه نږدې (۳۰۰) متره لرې د علاوالدین خلجي له خوا یو بل لوی مینار هم پیل شوی و چې تر قطب میناره دوه ځله لوی او لوړ و، له بده مرغه چې د هغه د جوړېدو په دوران کې علاوالدین ومړ او هغه نیمګړی پاتې شو، یوه برخه یې تر اوسه هم شته او د (علایي

(c) ketabton.com: The Digital Library






مینار) په نامه یادېږي. غالباً چې تر قطب میناره به د هغه نقشه ځکه په دقت جوړه شوې وه او ښکلا ته به یې زیات پام شوی و، چې ددې مینار تجربه یې هم لرله. د قطب مینار پر تنې د قران کریم آیتونه په داسې یو منظم ډول لیکل شوي چې په اوسنۍ معاصره زمانه کې بــه هــم ډېــر هنرمندان له داسې یو نقش او مهارت څخه عاجز وي. دا مینار د سړي په ذهن کې د اسلامي معمارۍ غرور تازه کوي او سړی پرې د اســلامي تمدن پوره پوره ویاړ کولای شي. خو اوس چې د اسلام په نامه د وحشت او بربریت کوم تصویر د نړۍ د ځینو خلکو په ذهن کې ټوکېدلی، هغه له دې بشري تمدن سره بشپړ تضاد لري. اوس د قطب مینار له تنې څخه له دې وېرې، چې څوک پرې ځانمرګی برید ونه کړي، یــوه اوســپنیزه کټاره راتاوه شوې ده، د قطب مینار دروازې ته غټ قلفونــه پراتــه دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library






څوک نه پرېږدي چې داخل ته لاړ شي، خو پخوا به سـیلانیان همـدې مینار ته ننوتل او د زینې له لارې به (دوه اویا متره) لوړ وروستي حد یا څوکې ته ختل، خو اوس پر مینار د تروریستي برید د وېرې له امله، لـه سیاحانو دا حق اخیستل شوی، نو دلته سړي ته پته لګي چې (زر کاله دمخه یو پاچا د اسلام په نامه د اسلام لپاره دومره خدمت کړی چـې د قران کریم مبارک ایتونه یې د تیږو په ذهن کې حک کړي، خو (زر کاله) وروسته بیا د اسلام په نامه د اسلام د مدعیانو له ګواښه ددې مینـار د نړولو خطر احساسېږي.

د قطب مینار شاوخوا ټول جوړښتونه مو وکتل، ربښتیا هم چې سړی یې یو بلې خیالي نړۍ ته ور ووړ. د انسان ذهن د تیږي ذهن توږلای شي، له تیږې څومره ښکلا پنځولای شي، خپل ځان ته څومره ښکلې ښکلې ودانۍ جوړولای شي، خو ددې ترڅنګ هم ځان او هم نورو تـه ډېـرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېرې ورانۍ هم ور پېښولای شي. رښتیا هم ((جهنم دی هر انسان د بل انسان))، کله کله بیا همدا انسان له خپل علم او غرور سره سره ((لکه غنه په خپل جال کې)) راګیر شي او هر څه ورنه پاتې شي.

د قطب مینار په څنډو کې مو د ښوونځیو پر معصــومو زده کوونکــو سترګې ولګېدې، چې نجونې او هلکان په کې شامل وو؛ له شپږم نه تر لسم ټولګي پورې زده کوونکي به وو.

دوی په داسې حال کې چــې د خپــل ښــوونځي د ادارې لــه خــوا




ددې ځای ننداره ته راوړل شوي وو ؛ (علمي سیر) یې کاوه، ددې دنده یې هم لرله چې له نورو هېوادونو څخه راغلو سیلانیانو ته د قطب مینار په باب په لنډو ټکو کې معلومات ورکړي. له دوی څخه ځینو یې د قطب مینار رنګه انځورونه هم په خپل لاس کاږلي وو او ځینو ســره یــې پــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپین کاغذ کې رنګه تصویرونه هم وو او د قطب مینار په اړه لنډ معلومات، نو بهرنیانو ته به یې دا معلومات او تصویرونه په وړیا ډول ډالۍ کول، په دې ډول د ښوونځیو د زده کوونکو جرئت هم زیاتېده او د بهرنیو معلومات هم کره کېدل، ما چې له خپلو تاریخي ځایونو سره د



یون او ساحل د قطب مینار په محوطه کې د یوې بلې تاریخي ودانۍ مخې ته

هندي زده کوونکو دا میتود، مینه او چلند ولیدل، نو د لوی خدای(ج) دربار ته مې د خپل هېواد ماشومانو لپاره هم د دعا لاسونه پورته کړل چې الله(ج) دې هغوی هم داسې یو مرحلې ته ورسوي. په همدې سوچونو کې له قطب میناره رابهر شو او د (بهایي مرکز) پر لوري وخوځېدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بهايي مرکز

له قطب مینار څخه د (بهايي مرکز) پر لوري وخوځېدو. تر نږدې نیم ساعت مزله وروسته بهايي مرکز ته ورسېدو، بهايي مرکز په یوه بڼ کې ودان دی. دا د نړۍ د بهایانو یو ستر روحـاني مرکـز دی. دا ځمکـه د بهایانو د ټولنې له خوا نږدې (پنځه لسیزې) وړاندې د هند له حکومت څخـه اخیسـتل شـوې او بیـا یـې پـه کـې دا لـوی بـڼ او






دا مذهبي ګونبزه جوړ کړي دي. کله چې بڼ ته ورسېدو نو په دخـولي وره کې تر منظم چک وروسته بڼ ته ورننوتو، د (سل مترو) په واټن پـر یوه سړک لاړو چې په پخو خښتو پوښل شوی و، شاوخوا ته یې زینتـي بوټو ښه ښکلا وربښلې وه. په ټول بڼ کې شنه کبله غوړېدلې وه او ډول ډول ګلان په کې ولاړ وو. تر (سل مترو) مزله وروسته کیڼ لاس ته بلـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پلې لاره ګرځېدلې وه، چې د تنګ لاره يې يوه او د راتګ يې بله وه، بیا چې مو نږدې (سل متره) مزل وکړ، نو يو ځای داسې راغی چې د بوټانو د ایستلو ځای و، هلته ټولو خلکو بوټان ایستل، بوټان يې په يوه کڅوړه**




ساحل او يون د بهايي مرکز په واټ کې

**کې اچول، که دوه درې ملګري وو، نو د ټولو بوټان يې په يوه کڅوړه کې اچول او يوه نومره يې ورکوله، له همدې ځايه بیا تر ګونبزې پورې نږدې (پنځوس متره) لاره وه، دا مزل به ټولو همداسې په لوڅو پښو واهه، خو دا لاره دومره پاکه او صفا وه، چې د چا خبره مړی دې په کې تولې کړې وای نه سپېره کېدله؛ د ګرد څرک په کې نه و.**

**کله چې د ګونبزې دخولي دروازې ته نږدې کېدلو، نو ددې عبادتځي منتظمينو خلکو ته لارښوونه کوله چې په منظم ډول په ليکه کې ودرېږي او خبرې ونه کړي؛ چوپتیا اختیار کړي. د دروازې منتظمينې ټولې ځوانې نجونې وې او ډېرې ښکلې عيناً لکه په الوتکه کې چې ستوارډيستانې وي او په ګوته يې راټولې کړې وي؛ ډېرې پاکې، سوتره او**

(c) ketabton.com: The Digital Library






ډېرې ښکلې وې، ټولو منظم شين رنګی يونيفورم اغوستی و. موږ ټولو ته يې داخل ته د تلو لارښوونه وکړه. کله چې دننه هال ته ننوتو، نو خورا يو لوی هال مو ترسترګو شو، هال دايروي شکل درلود، د هـال د چـت مرکزي لوړوالی نږدې پنځوس متره و او د چترۍ د جوړښت بڼـه يـې درلودله، لاندې ټول متن يې په مرمري ډبرو فرش و او څوکۍ په کې پر منظمو ليکو ايښودل شوې وې، نږدې (يو زر) کسان عبادت کوونکي يې پر يوه وخت ځايولای شول. دا مهال چې موږ په کې وو، د عبادت وخت نه و، چوپه چوپتيا په کې خوره وه، موږ ته پته نه وه چې د دوی مذهبي مراسم به څنګه وي؟ خو دا راته دلته څرګنده شوه چې د دوی پـه دې مقدس ځای کې چوپتيا د مذهبي مناسکو اخلاق ګڼل کېږي. د ګونبزې تر چتر لاندې هال کې ورو ورو وګرځېدو، پر هغو تـازه ګلانـو مـو هـم سترګې ولګېدې چې په ګلدانوکې شاوخوا ايښودل شوي وو او دې ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته یې ځانګړې ښکلا وربښلې وه. کله چې له هاله ووتو، نو لږ څه نور معلومات مو هم ترلاسه کړل؛ بهایي داسې یو مذهبي جریان دی چې ریښه یې له ایران څخه راغځېدلې او هدف یې دادی لکه څنګه چې ټول ادیان مشترک خصوصیات لري، نو باید د ادیانو د هماهنګۍ او یو والي لپاره کار وشي او د مذهبي ټکرونو مخه ونیول شي.

بهائیه فرقه یا مذهبي جریان له (بابیه) فرقې څخه منتصب شوی، میرزا حسینعلي چې په بهاالله مشهور و، د بهائیت بنسټګر دی، نو ځکه خو دې لارې ته (بهائیه) وایي. میرزا حسینعلي پـر (۱۲۳۳ل)کـال پـه





تهران کې زیږېدلی، خو د ایران د وخت واکمنو له خوا کربلا، روسیې، قبرس او فلسطین ته تبعید شوی دی. میرزا حسینعلي د فلسطین پـه (عکا) کې (نهه کاله) تر نظر لاندې و او د عمر وروستي (پنځه لس کلونه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يې هم هلته تېر کړل او همهلته پر (۱۳۰۸ل)کال د (پنځه اویا کلنۍ) پــه عمر مړ شو.**

**ددې عمومي ګونبزې دوو خواوو ته د اوبو ښکلي حوضونه جوړ شوي چې ان د ګونبزې تصویرونه هم په کې ښکاري. کله چــې لــه ګــونبزې راووتو نو ما(یون)، اجمل او ساحل ته وویل: ((راځئ د دوی کتابتون ته لاړ شو چې ځینې مواد او معلومات ورڅخه واخلو.)) کتابتون يــې پــه لاندینۍ برخه کې وو، خو دا مهال تړلی و، بېرته د ګــونبزې د دخــولي دروازې منتظمې ته لاړو، یوه ښایسته جلۍ وه، موږ وویل: ((معلومــاتي مواد مو په کار دي.)) هغې وویل: ((لږ صبر وکړئ!)) څو شېبې وروسته**





**راغله، بروشر يې په لاس کې و، په هندي او انګلیسي ژبو و. ساحل ورته وویل: ((پښتو او یا فارسي مو په کار دی)) هغې وویل: ((په خواشــینۍ سره پښتو او فارسي نه شته. موږ ترې بېرته راوګرځېدو، (شــل متــره)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



واټن به مو نه و وهلای چې جلۍ رامنډه کړه: ((دغــه دی فارســي یــې واخلئ، خو پښتو يې پيدا نه شو.))

هلته بيا مورږ ته د پښتو مظلوميت راښکاره شو. ساحل هغې جلۍ ته وويل: ((بل ځل يې بايد پښتو هم جوړ کړئ.)) هغې وويل: ((په سترگو زه به يې خپلو مشرانو ته ووايم.)) هغــه ډېــره خوشــاله وه چــې د خپــل ((دين)) لپاره يې تبليغاتي کمپاين کړی و. ما (يون)، اجمل او ساحل ته وويل: {گورئ دوی د خپل ((دين)) د تبليغ لپاره له کومې وسيلې کــار اخلي؛ څومره پاکې نجونې يې ودرولي او دا ساحه يې څومره پاکــه ده. زمورږ په ټولنه کې خو د دين لپاره اکثره ملايان تبليغ کوي چې د ځينو په څېره کې قهر او غوصه له ورايه راڅرگندېږي، پر دې نجونو که زمورږ محروم ځوانان برابر شي، نو که نور ((دين)) يې مني که نــه خــو ددې





نجونو په خاطر به ورته تسليم شي} هغوی هم وخندل. بروشر ته مو پام

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو، په بروشر کې د بهايي مذهبي جريان په باب پوره معلومــات وو. د بهايي مذهب له بنسټګره نیولې د هغوی ټول مشران په کې په تسلسل سره معرفي شوي وو، د نړۍ په هر ګوټ کې يې د بهايانو عبادتځايونــه يې په لنډ ډول په بروشر کې معرفي کړي وو او هم يې د خپلو پلويانو او معتقدانو شمېر په کې ليکلی و. په ايران، کاناډا، هندوستان، امريکــا او نورو هېوادونو کې يې خپل شمېر ته اشاره کړې وه. لــه ارقــامو داســې برېښېدله چې په ځينو سيمو کې يې مبالغه کړې وي.

په بهايي مرکز کې ښه ډېر وګرځېدلو، ان تر دې چې ښه ستړي شو. دلته په زرګونو خلک را روان وو، دا خلک ددې لپاره نه راتلل چې ګنې بهايي فکر يا ((عقيدې)) سره مينه لري، دلته يې د راتګ يو غټ علت دا و چې بهايانو خپل دا مرکز په ډېره ښکلې بڼه جوړ کــړی، خلــک ددې ودانۍ سيل ته راتلل، نه دا چې دا ((مذهب)) مني او يا ورسره مينه لري. دا ودانۍ د ګل د يوې غونچې په څېر جوړه شــوې او پــه نــړۍ کــې د




معمارۍ يو شهکار ګڼل کېږي. د ودانۍ داخلي او بهرني متن کې مرمــر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېرې په داسې ظریفانه ډول کارېدلي چې د لوړ هنري ذوق او فن انځورنه کوي.

د بهائیانو دا معبد د هندوستان له ډېرو مشهورو ودانیو څخه دی چې د هند د نیمې وچې (د معبدونو مور) په نامه پېژندل شوی دی. دا ودانۍ چې د (لوټوس) د ګل بڼه لري، ډېرې سترې نړیوالې جایزې یې ګټلې او د نړۍ په ډېرو معتبرو رسنیو کې ددې په باب لیکنې خپرې شوې دي.

دلته جوړ شوی بڼ هم د ننداره‌چیانو لپاره ډېر په زړه پورې دی، خو بهایان د بڼ او ودانۍ له دې ښکلا څخه داسې ګټه اخلي چې خپل ((دین یا مذهب)) ډېرو خلکو ته معرفي کوي او کېدی شي یو




نیم د همدې ښکلا تر تاثیر لاندې راشي او دې لارې ته مخه کړي. له دې څخه معلومېږي هغه دین یا مذهب چې له یو تمدن او پرمختګ سره ملګری وي، د هغه دین تداوم او پرمختګ ته ډېره ښه زمینه برابرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوازې وچ افکار د بشر د ژوندانه ټولې اړتیاوې نه شي خړوبولای. مــوږ چې کله په هندوستان کې د اسلامي تمدن یا مسلمانو واکمنو د سوونو کلونو واکمنۍ ته ګورو او دې بهیر ته نظر اچوو، نو دا راتــه څرګنــدېږي چې په هندوستان کې اسلام یوازې د یوې دینې عقیدې په توګ مطرح نه و، بلکې له اسلام سره هلته یو ســتر تمــدن، پرمختــګ او د ژونــد سهولتونه ملګري وو، ځکه نو اسلام او مسلمانانو هلته دومره مقاوم او اوږد عمر درلود. د همدې مسلمانو واکمنو له جملې څخــه چــې کلــه (اورنګزېب) له مذهب څخه د خپل واک د بقا لپاره ناسمه ګټه پورته کړه او د نورو ادیانو پر پلویانو یې د ژوند ساحه راتنګه کــړه، نــو د مغــولي امپراتورۍ د سقوط عوامل هم ورسره راوټوکېدل. زموږ په افغاني ټولنه کې که هرڅوک غواړي رښتینی اسلام تطبیــق کــړي، نــو د اســلام د اساسي روح مطابق باید اسلام او تمدن، ژوند او پرمختګ سره ټول غاړه غړۍ کړي، یوازې د کلیوالي ملایانو په وچو او سپوره نصیحتونو نه اسلام پرمختګ کوي او نه رښتینې انساني او اسلامي ټولنه جوړېږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یوه غرمنۍ په ډیلي ښار کې

کله چې له بهایي مرکز څخه راووتو، نو ښه د مزې ستړي وو او هم ښه وږي شوي وو، ساعت څه کم یوه بجه وه چې په خپلو موټرو کې سواره شو، موټر د ښار منځ کې یو داسې ځای ته راوړلو چې د هر چا په طبع په کې خوراک او څښاک پیداکېدل، دا ځای (جان پت) نومېده، کله چې موټر څخه کښته کېدلو نو منتظم غږ کړ: ((یو ساعت وروسته به همدلته سره راټولېږو، دلته نږدې میکډونالډ هوټل پیداکېږي، خوښه ستاسو چې




هر څه خورئ)) زه (یون)، اجمل او ساحل همدې نږدې میکډونالډ هوټل ته ورغلو، خورا ګڼه ګوڼه په کې وه، اجمل ترټولو کشر و، هغه وویل: ((تاسو کېنئ، زه به په لیکه کې ودرېږم.)) مور ورته وویل: ((فیش برګر) به راواخلې.)) هلته د هر ډول خوراک تصویرونه وو، هغه همداسې وکړل، خو یو یو ګیلاس ایس کریم یې هم ورسره راوړ، ډوډۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې ډېره خوندوره وه، یا دا چې موږ ډېر وږي وو، ښه چپس یې هم ورسره راوړي وو. میکډونالډ داسې غذا ده چې د نړۍ هر مذهبوال یې کارولای شي، په تېره بیا مسلمانان. ډوډۍ مو ښه په خوند وخوړه، کله چې لـه هوټله راووتو، نو لا یوڅه وخت و، لږ اخوا دېخوا پلي وګرځېدو، دا مهال یو شمېر وږې او غټې نجونې چې ګنې (مرۍ) یې په لاسو کې وې، تر موږ راوتاوې شوې، موږ ته یې وویل: ((دا به اخلئ او ضرور به یې اخلئ)) دا داسې یو ټیپ مخلوق وو، لکه په افغانستان کې چې جټـان وي، لکـه زرکۍ درپورې نښتلې، په پیل کې خو یې ډېرې قیمته وویلې، یوه جوړه غاړکۍ (امېل) چې له وړو مریو جوړه وه، سـل کلـدارې، وروسـته بیـا پنځوس، بیا لسو ته راکښته شوې، بیا داسې وخت راغی چې شل جوړې مو ترې په سل کلدارې واخیستې، ما خو تـرې څلـور پنځـه درجنـه واخیستې، اجمل او ساحل هم یو څه واخیستې، دوی په نورو بهرنیـو پسې هم ډېرې  شله شوې، پر هغوی یې هم ځینې تاوان کړې، دا نجونې ځینو بهرنیو سره دومره ازادو ټوکو ته ووتلې چې د کاغذ پرمخ د لیکلو وړ نه دي، څو شېبې همدلته سره ولاړ وو چې موټر راغلل او ټـول پـه ترتیب سره په خپلو موټرو کې پر خپلـو ځـایونو کېناسـتو او مـوټر د (همایون ګونبدې) پر لوري حرکت وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د همايون مقبره

**تر ډوډۍ وروسته د همايون مقبرې ته لاړو. د همايون مقبره په ډيلي کې يو له ډېرو تاريخي، ظريفو او ښکلو ځايونو څخه ده.**



يون د همايون د مقبرې مخې ته

**همايون د مغول ظهرالدين بابر زوی دی چې د (۱۵۰۸ ميلادي کال) د جنورۍ پر (۱۷مه نېټه) په کابل کې زېږېدلی دی. د بابر تر مرګ وروسته د (۱۵۳۰م کال) د ډسمبر پر (۲۶مه نېټه) د ډيلي پر تخت کېناست، پوره (لس کاله) يې حکومت وکړ او د (۱۵۴۰م کال) د مې پر (۱۷مه نېټه) يې د پښتون (شېرشاه) له لاسه ماته وخوړه، ټول لښکر يې مات شو، او دی د يوه کښتيوان يا ماڼو په وسيله وژغورل شو، ايران (فارس) ته وتښتېد. تقريباً (۱۴ کاله) په ايران کې و. د ايران پاچا (طهماسب) ورسره په دې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرط مرسته وکړه چې شیعه مذهب ته به را اوړي. همایون د فــارس د شیعه واکمنۍ په پوځي او اقتصادي مرســتو، د دې جوګــه شــو چــې څوارلس کاله وروسته د هند تخت بېرته ونیســـي. د (۱۵۵۵م کــال) د فبرورۍ پر (۲۲مه) بېرته د ډیلي د واک خاوند شو او نږدې یو کال او یوه میاشت وروسته د (۱۵۵۶م کال) د جنورۍ پر (۲۷مه نېټه)، له دېواله را وغورځېد او مړ شو. د همایون په دویم ځل واکمنۍ سره تر یوې څوارلس کلنې وقفې وروسته، په هندکې د مغولي واکمنۍ واک پسې وغځېـد، وروسته بیا جلال الدین اکبر، نورالدین جهانګیر، شاه جهان او اورنګزېب عالمګیر په هند کې د مغولي واکمنــو د واک لړۍ ته دوام ورکړ. د همایون مقبرې ته هره ورځ په زرګونو خلک را روان وي، دا مقبره په ښه شان ساتل کېږي. له څــو کلونو راهیســـې د (اغاخــان فونډېشــن) لــه خــوا ددې مقبرې د بیــارغونې چــارې روانې دي. د دې مقبــرې پــه ودانۍ کې پر همایون سربېره د مغولي واکمنۍ د ځینو نورو معتبرو څېرو قبرونه هم شته.




دلته ډېر وګرځېدو. زه له هغه لاربنود کس سره، چې کتونکو ته یــې ددې ځای په باب معلومات ورکول، ډېر وګرځېدلم، هغه د افغانستان په

(c) ketabton.com: The Digital Library



بـــاب هـــم زیـــات معلومـــات درلودل.لـــه مـــا څخـــه یـــې د



افغانستان د ټاکنو، رسنیو، طالبانو، د بهرنیو ځواکونو د شتوالي، امنیتي حالت په باب ګڼ شمېر پوښتنې وکړې. ما ورته په لنډېز او ارقامو سره د افغانستان د پرمختیاوو په باب معلومات ورکړل. زما معلومات دده لپاره



ساحل د پښتون سپه سالار عیسی خان نیازي مقبرې ته ورڅېرمه

نوي او تازه وو، ده له ما څخه ډېره مننه وکړه چې د ده معلومـــات مـــې ورتازه کړل. تر یوې اوږدې سترړیا وروسته، د همایون له مقبرې راووتو.د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**همایون مقبرې محوطې ته نږدې ځینې نورې تاریخي ودانۍ او د مهمو پخوانیو شخصیتونو نورې مقبرې هم شته چې ځینې یې معلومې دي او ځینې لا تر اوسه هم ناڅرګندې پاتې دي. د ستر پښتون ســپه ســالار (عیسی خان نیازي) مقبره هم همدلته نږدې ودانــه ده، دده مقبــره د افغاني دوړ معمارۍ خورا پخوانۍ او بې سارې بېلګه ده. عیســی خــان نیازی د شېرشاهي دورې له نومیالیو مشرانو او مهمو ارکانو څخه و.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګاندي ځلی

د همایون مقبرې تر کتنې وروسته مو د مهاتما ګاندي ځلي پر لوري حرکت وکړ. ګاندي نه یوازې د هند د نیمې وچې لوی عظیم شخصـیت دی، بلکې د نړۍ په سترو انسانپالو شخصیتونو کــې حسـابېږي. دی د عدم تشدد د فلسفې له بنسټګرو څخه و او له انګرېزي استعمار څخـه یې د هند د خپلواکۍ په ګټلو کې اساسي نقش درلود.

(موهنداس کرم چندګاندي) د (۱۸٦۹م کال) د اکتوبر پر (۲مه) نېټه د هندوستان د (ګجرات) ایالت په (فورباندر) سیمه کې زېږېدلی. په (۱۹) کلنۍ کې انګلستان ته د لوړو زده کړو لپاره تللی، بیا بېرته خپل هېواد ته راغلی او بیا سویلي افریقا ته تللی دی. په دې هېوادونو کــې یــې د بېلابېلو ادیانو ژوره مطالعه کړې. ګاندي لــه برتــانیې څخــه د هنــد د خپلواکۍ د ګټلو تحریک جوړ کړ، خو ددې تحریک اساســات د عــدم تشدد پر اصولو ولاړ وو او د وسلې له کارونې پرته یې د هند د خپلواکۍ پر ترلاسه کولو ټینګار کاوه.

تر نږدې نیم ساعت مزله وروسته ګاندي سمادي (ګاندي ځلــي) یــا پارک ته ورسېدو، دا هغه پارک دی چې د ګاندي ځلی په کې جوړ شوی دی. دا پارک په ډیلي کې له مهمو تفریحي پارکونو څخه یو دی. خلــک هره ورځ د سیل او تفریح لپاره دې پارک ته راځــي او ددې ترڅنــګ د ګاندي یادګاري ځلی ګوري او هغه ته دعا کوي. د ګاندي ځلی د پارک په منځنۍ برخه کې په داسې یو ځای کې جوړ شوی چې شاوخوا ځلــورو دېوالونو احاطه کړی او څلور موازي دروازې لري، له بهر څخه دېوالونه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکاري، داسې ښکاري چې سړی نسبتاً لوړ ځای ته خېږي، دپارک لــه




نورو برخو دا برخه لوړه ده، خو کله چې داخل ته لاړ شې، نــو د نــړدې ځلور جریبو ځمکې په اندول په مربع ډول ژوره ساحه لیدل کېــږي، د همدې ساحې په منځنۍ برخه کې د ګاندي یادګاري ځلی دی. د مینار په شان نه دی، بلکې د یوه قبر په شان دی چې تر اوارې ځمکې د نــیم متر په کچه لوړ دی، پر برنۍ او کوزنۍ برخه یې د ګاندي نوم په انګرېزي او هندي ژبو لیکل شوی، سرته یې د سپینو تازه ګلانو ګېډۍ ایښــې او یوه ډیوه پرې بلېږي، په هندو مذهب کې خو مړی سیزل کېږي، دلته د ګاندي جسد نه شته، خو د ګاندي د جسد ایرې دلتــه ســاتل کېــږي، مسلمانانو ته لکه د قبر په شان ښکاري، ډیوه پرې داسې لګېــدلې وې لکه د المپیک مشعل چې همېش بل وي. کله چې دې انګړ تــه څــوک داخلېږي، نو په دخولي دروازه کې به بوټان باسي، نوره دا ټوله دخولي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساحه ګرد سره پاکه ده، تورې زينتي ډبرې پرې فرش دي، د څلـــي پـــه



د ګاندي يادګاري څلی

څلورو کونجونو کې زينتي ونې ولاړې او شاوخوا يې شنه چمنونه دي.


له دې ځايه چې بهرنۍ برخې ته ګورې، نو د دوه درې مترو په لوړوالي دېوالونه درته ښکاري، چې ټوله ساحه يې احاطه کړې ده. پر دېوالونـــو زينتي بوټي راځوړند دي؛ د دېوالونو مخ يې پټ کړی او دې ساحې ته يې عجيبه ښکلا ورکړې ده. د ګاندي له څلي به هر چا خپل خپل تعبير او تاثر اخيسته، خو ما ته د خوشال بابا هغه شعر راپه ياد شو:

چـــې د عــمر يې بنياد په هوا ايښی

پــــه دا هسې ژوندون څه دی اعتماد

(c) ketabton.com: The Digital Library







د ګاندي څلی رښتیا هم ډېر زړه راکښونکی و، پر سړي یې تاثیر کاوه، ګاندي داسې یو شخصیت و چې د انسانیت شعار یې پورته کړی و، سوله یې غوښتله، له جګړې یې کرکه کوله، انسان یې د تعمیم وړ باله، د جنګ جګړې مخالفت یې کاوه، له ټوپک او ماشې سره یې ورانه وه، هغه به ویل: ((ډېر داسې مسایل شته چې زه کولای شم د هغه لپاره ځان قربان کړم، خو هېڅ داسې څه نه شته چې زه دې ځوک د هغه لپاره ووژنم.)) د ګاندي که هر څومره له ټوپک سره ورانه وه، خو بیا هم د ټوپک له ازاره خلاص نه شو؛ پر (۱۹۴۸ م) کال د جنورۍ پر (۳۰مه) د یو وسله وال له خوا په ډزو ووژل شو. اوس هر کال د جنورۍ پر (۳۰مه) د هند د ملي پلار یاد، په همدې محل کې نمانځل کېږي. سوله د ژوند ضرورت دی. سوله د انسان ضرورت دی، سوله د هر ژوندي موجود ضرورت دی. یو وخت په ټول هندوستان کې د کال له ښایسته مېرمنې څخه پوښتنه وشوه، چې ستا د نړۍ په شخصیتونو کې د چا نظریات خوښېږي؟ هغې وویل: ((د ګاندي. دا ځکه چې ګاندي د سولې شعار ورکړی و. سوله زموږ د ژوند د پرون ضرورت هم و، د نن هم دی او د سبا به هم وي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library





د نړۍ دا ډول شخصیتونه که څه هم د نـړۍ پـه یـوه مشخصـــه جغرافیـــه کـــې زیږېدلي او لوی شــوي ، خــو فکرونه او ارمانونه یې د یوې مشخصې جغرافیې په حدودو کې نه پاتې کېږي، ګانـدي د نړۍ د همدې شخصیتونو له جملې څخه دی او زموږ فخر افغان خان عبـدالغفار خـان (باچاخان) هم د همدې شخصیتونو په لیکه کې ودرېږي.

خان عبدالغفار خان د ګاندي تر ټولو نږدې مبارز ملګــری و، دواړه د بېلابېلو ادیانو پلویان وو، سره له دې چې ادیان یې بېل و، خو د مینې او انسانیت مذهب د دواړو یــو و. دواړه د زغم خاوندان وو، خان عبدالغفار پښــتون و، ګانــدي هندو، دواړه په بېلابېلو قومونو او جغرافیو کې زیږېدلي وو، خو د فکر او ارمان جغرافیه یې یوه وه.



ګاندي په زړښت کې

د (ایشین ایج) په نوم په نوې ډیلـــي کـــې د خپرېـــدونکې ورځپاڼې سرمحرر (انندسهای) چې د افغانانو په اړه یې څېړنې کړې، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



شلمه پېړۍ کې د عدم تشدد مبارزې د مخکښانو د ونډې په باب وايي: ((خان عبدالغفار خان، ګاندي او مارتين لوترکينګ هغه شخصيتونه دي چې په ډېرو دلايلو شلمه پېړۍ تعريفوي. د شلمې پېړۍ تعريفوونکي اصلاً ستر صدراعظمان، ولسمشران او پاچايان نه دي. شلمه پېړۍ د بشريت په تاريخ کې د تر ټولو زيات تشدد پېړۍ وه چې دوه نړيوالې جګړې او ګڼ شمېر نورې وړې او خونړۍ جګړې په کې وشوې، خو دوی هغه کسان وو چې په دې جګړو کې يې د سولې خبرې وکړې، د خپل ژوند له ښندلو ونه وېرېدل او داسې وضعيت ته يې ور ودانګل چې هره شېبه يې د مرګ وېره وه، خو دوی نه وېرېدل، دوی له خلکو او ټولنې




يون او اجمل د ګاندي ځلي په برنۍ برخه کې

سره مينه کوله. دوی خلکو ته يوازې دا ويل چې خپلې وسلې لرې وغورځوئ، ګاونډي ته دې په سترګو کې وګوره او ووايه چې ايا موږ ټول ورته شيانو ته اړتيا نه لرو؟ او ځواب طبعاً مثبت و...)) ښاغلي سهای د

(c) ketabton.com: The Digital Library



عدم تشدد له لارې د ګاندي او باچاخان د مقاومت وسیلې داسې په ګوته کوي: (( د خان عبدالغفار خان او ګاندي ځانګړتیا په دې کې ده چې دوی پر مقاومت باور لاره، خو د عدم تشدد پر مقاومت، د دوی پیغام دا و چې زه د دولتي دفتر په مخکې کېنم، چارواکو ته وایم، دا هغه څه دي چې خلک یې غواړي او ستاسو پالیسي سمې نه دي، که خپلې پالیسۍ بدلې نه کړئ، زه د لوږې اعتصاب کوم، همدلته کېنم او څه نه خورم، څو ځلې داسې پېښ شول چې هم ګاندي او هم خان عبدالغفار خان د استعماري پولیسو له خوا ووهل شول، خو دوی ویل، تاسو موږ وهلای شئ خو د عدم تشدد پر مقاومت او زموږ پر شعار چې سوله ده، زموږ عقیده له موږ څخه نه شئ اخیستلای.))


باچاخان


یو بل لیکوال وایي: (( باچا خان په هغه وخت کې یو لک و شل زره کسان پرته له دې چې د تنخواه غوښتنه وکړي، د خدایي خدمتګارو په غورځنګ کې سره راغونډ کړي وو، تاسو یې تصور هم نه شئ کولای چې ته به چاته تنخواه نه ورکوې خو سرې به راځي ډوډۍ به خپله خوري، اوبه به خپلې څښي، خو منډې ترړې به له تا سره وهي.))


باچاخان په سپینږیر توب کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هندي لیکوال او ژورنالیست انندسهای له ګاندي سره د باچاخان د هڅو او عدم تشدد د فلسفې د پراختیا لپاره د ده د فعـالیتونو پـه اړه وایي: (( ګاندي یو بېساری شخصیت و چې په زمانو کې یو ځل راځـي. ګاندي یو ډېر پراخ نفوذ درلود، خو دقیقاً ګاندي ته ورته دده معاصر، خو تر هغه یو څه ځوان یو ډېر لوی او ستر پښتون انسان و چې باچاخان یا عبدالغفار خان نومېده. ده ته په خپله ګاندي د سرحد د ګانـدي لقـب ورکړی و. باچاخان هغه پښتون و، چې کلي په کلي، کور په کور وګرځېد او پښتانه یې پوه کړل چې باید خپلې وسلې لرې وغورځوي. ده همدا راز نننی افغانستان ته سفرونه وکړل او هلته یې د سولې لپاره خپل سـتر پیغام ورساوه او دا پیغام خلکـو ته په زړه پوري و . ده له مینـې پرته لـه خلکـو بـل هـېڅ نـه غوښتل.




باچا خـان لـه تشـدد نـه د پښـتنو د لـرې کولـو، د نـاوړه دودونو او رواجونو د اصلاح او په قومونو کې د قامولۍ د مینې او محبت د پیداکولو په مقصـد د (انجمن اصلاح الافاغنه) په نامه ټولنه جوړه کړه. دی کلـي پـه کلي، کور په کور او سیمه په سیمه ګرځېده، د سـوله ییـز مقاومـت د اهمیت په اړه یې له خلکو سره خبرې کولې او خلک یـې زده کـړې او تعلیم ته هڅول.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاست یو ډینامیک بهیر دی چې کله کله په کې تر اخلاقي معیارونو د چل او مهارت عنصر زیات ځلیږي. وګورئ د یــوې لارې د دوو اتلانــو وروستی برخلیک، دواړو سره په نږدې یوه زمانه کــې د یــوه هــدف او ارمان لپاره څنګ په څنګ مبارزه وکړه، د خپل ملت لپاره د یــوه اتــل ارمان پوره شو خو د خپل ولس لپاره بیا ددې بل اتل ارمان د توطیو په



د افغانستان په جلال اباد کې د باچا خان مقبره

سیند لاهو شو، نن د یوه پر قبر د د رڼا مشعل بلیږي، خو د بل پر قبر د سپېرو خاورو ډېرۍ پرتې دي، هوکې د زمانې قضاوت هر وخت عادلانه نه وي، ویښ ملتونه همداسې وي چې د مشر په رڼا پسې ځي، خو ویده ملتونه بیا همداسې وي چې مشر یې ومري نو د لارې ډیوه یې مړه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جامعه ملیه اسلامیه

**هند په نړۍ کې د اسلامي علومو د یو ستر مرکز په توګه ډېر شهرت لري. د علي ګړ پوهنتون، دیوبند مدرسه او نور په هند او اسلامي نـړۍ کې ډېر مشهور دي.**

**په ډیلي کې (جامعه ملیه اسلامیه) له لویو پوهنتونونو څخه دی چې د اسلامي علومو ترڅنګ نور علوم هم په کې تدریسېږي. جامعه ملیـه**




**اسلامیه (پوهنتون) پر (۱۹۲۰م کال) تاسیس شوی، په لسګونو پوهنځي لري، اوس په کــې (۱۵۴۰۰) محصــلین زده کــړه کــوي، چــې د (۹۹۷) استادانو له خوا ورته تدریس کېږي. په دې پوهنتون کې اوس یو شمېر افغان محصلین هم پر زده کړو بوخت دي. هند اوس هر کال افغانستان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته د لوړو زده کړو (پنځه سوه) بورسونه ورکوي، چې یـو زیـات شـمېر افغانان په ډیلي، پونه، علي ګړ او د هند په نورو ښارونو کې لـوړې زده کړې کوي. په جامعه ملیه اسلامیه پوهنتون کې پښـتو مضـمون هـم تدریسېږي، خو له ښوونکو او تدریسي چلند څخه یې دا ډېـره مـوده کېږي سر ټکېږي. (ثناالله خان تسل) چې زموږ یو تکړه فرهنګي ملګرى دى، د خپلو علمي څېړنو لپاره ددې پوهنتون له یو شـمېر اسـتادانو، محصلینو او مسولینو سره اړیکي لري، هغه څو ځله ماته وویل: ((کلـه چې هند ته لاړې، نو جامعه ملیه اسلامیه ته بایـد حتمـاً لاړ شـې او د پښتو څانګې یا ژبې د محصلینو پوښتنه وکړې!)) دا مهال چې ثنـاالله خان تسل له ښاغلي (بشیر دودیال) او (سرور ماموند) سره د یوه علمي ورکشاپ لپاره همدغه پوهنتون ته راغلي دي، نو زموږ لپـاره مناسـب وخت و چې دا جامعه (پوهنتون) وګورو. سهار زه (یون)، ساحل او اجمل درېواړه په ریکشا کې کېناستو، تر نیم سـاعت مزلـه وروسـته هلتـه ورسېدو، څرنګه چې جامعې څو بابه (دروازې) درلودل، نو د ورکشاپ د ځاى پیداکول موږ ته اسانه نه و، خو تر ډېرو پوښتنو او ګروېږنو وروسته مو پیدا کړ. ورکشاپ لا شروع نه و چې موږ د ورکشاپ تالار ته پورته شو. ثناالله خان تسل موږ د ورکشاپ له ځینو برخوالو سره معرفـي کـړو، د هند له بېلابېلو پوهنتونونو څخه دلته خلـک راغلـي وو. د سـیمینار منتظمې (راداکمار) ته یې هم وروپېژندلو. د (راداکمار) نوم په پښتو کې د تلفظ او جوړښت له مخې (نرینه) ښکاري، خو دا هغه مېرمن ده چې د افغانستان په باب یې ډېرې څېړنې کړې او زموږ د هېواد د سیاسـي او ټولنیز جوړښت په اړه ښه معلومات لري. هغې موږ ته ټینګ ست وکـړ چې په ورکشاپ کې ورسره پاتې شو او په هغه کې ګډون وکـړو. مـوږ

(c) ketabton.com: The Digital Library






وویل: ((رسمي پروسیجر نه خرابوو، ستاسو لیدو ته راغلو، بیا که زمینه مساعده شوه بل وخت به راشو.)) ثناالله خان تسل ماته وویل: ((دلتـه محصلین غواړي چې تاسو سره وګوري)) ما وویـل: ((نـن رخصـتي ده پرېږده چې دوی خپله رخصتي وکړي بیا که وخت مساعد شو، بل وخت به ورسره وګورو.)) له هغو څخه مو رخصت راواخیست، ددې پوهنتون په انګړ کې مو څو یادګاري عکسونه واخیستل او بیا د خپل استوګنځي پر لوري را رهي شولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتابونو نړیوال نندارتون

**په هند کې مو دوه درې اوونۍ تېرې شوې وې، چې یوه ورځ محبوب راته وویل: ((دلته په ډیلي کې هر کال د کتابونو یو نړیوال نندارتون وي، د فبرورۍ په میاشت کې کېدی شي دایر شي. په لسګونو زره عنوانه کتابونه په کې ننداري ته وړاندې کېږي، له هند او نورې نړۍ څخه پــه**




پراګتي میدان کې د کتابونو نړیوال نندارتون

**سلګونو لویې خپرنۍ موسسې او کتاب پلورونکي ورتــه راځــي.)) مــا محبوب ته وویل: ((وخت او ځای یې معلوم کړه او بل کــه کېــږي چــې پښتو کتابونه په کې هم ننداري ته وړاندې کړو، ما خپل کتابونه هســې هم لوکس چاپ کړي، دا به هم ننداري ته وړاندې کــړو او نــور ښــکلي پښتو کتابونه هم، مقصد مې دادی چې پښتو کتابونه په کې هم مطرح**

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي، پر دې پوهېږم چې دلته به اکثره کتابونه طبعاً په انګلیسي، هندي او د هند په نورو ژبو وي، خو زما هدف دادی چې پښتو کتابونه په کـې یاد شي، باینرونه به په انګرېزي ولیکو.)) محبوب وویل: ((ځای خو یـې معلوم دی (پراګتي میدان) دی خو نېټـه او نـور شـرایط بـه یـې لـه (ممتازولي) نه پوښتنه وکړم، هغه هر کال ورځي، زما خو یوازې همـدا سږنی کال دی.)) ما رښتیا نیت کړی و چې په نندارتون کې بـه پښـتو کتابونه ننداریې ته وړاندې کوم، خو وروسته چې مې خپل مصروفیت ته وکتل، له کابله د کتابونو انتقال ته او بیا مې دېته فکر وکړ چې هند خو قانونمنده ټولنه ده، دلته به هر ناشر د خپل قانوني امتیاز په لرلو سـره ددې حق لري چې خپل کتابونه ننداریې ته وړانـدې کـړي، همدارنګـه څومره ټکس به راځي او داسې نور مسایل، نو له خپله نېته واوښتم، خو دا هوډ مې لاټینګ و چې د نندارتون لیدلو ته به ضرور ورځم. نندارتون ته مې شپې ورځې شمارلې، د جنوري میاشت له (۳۰) څخه د فبروري تر (۷) پورې د نندارتون اوونۍ وه، کله چې نندارتون پیل شو، ما ویـل چې پر لومړۍ ورځ به په کې ګډون کوو، هغه ورځ مصروفه تېره شـوه، دویمه، درېیمه، څلورمه او پنځمه ورځ هم همداسې بوختنه وه، په پـای کې مې محبوب ته مې وویل: ((هسې نه چې نندارتون خلاص شي او موږ یې له لیدلو بې برخې شو.)) لنډه دا چې پر وروستۍ ورځ مـو ځـان ور برابر کړ. زه (یون) محبوب، اجمل او ساحل څلـور واړه لاړو. (پراګتـي میدان) ته ورسېدو. ماسپښین مهال و، په زرګونو کسـان ور روان وو. د دخولي وره خولې ته چې ورســېدو، نـو پــه دوو دخــولي دروازو کــې

(c) ketabton.com: The Digital Library





پراګتي میدان کې د کتابونو نړیوال

په سلګونو خلک په لیکه کې ولاړ وو، ننوتل په ټکېټ وو. د یو تن ټکېټ دېرش کلدارې و، اجمل ټکېټونه را واخیستل، یو ډېر لوی کمپونډ یــا د ودانیو مجتمع ته ور داخل شو. موږ په پیل کې فکر کاوه چې دا یوازې د کتابونو نندارتون دی، خو هلته چې لاړو د کتابونو ترڅنــګ د هنــدي کلتور د بېلابېلو څانګو نندارتونونه هم وو. د هرې برخې لپاره جلا ودانۍ په پام کې نیول شوې وه، یوه ځای ته چې لاړو هلته د انتیکــو شــیانو نندارتون و، بل ځای کې د هند د بېلابېلو مذهبونو کستونه، سي ډیانې او نور اړوند شیان خرڅېدل، یوې بلې ودانۍ کې د هنــدي ســوغاتونو ننداړتون و، خــو لنــډه دا چــې پــه لســګونو ودانــۍ وې او ډول ډول ننداړتونونه. محبوب ته مې وویل: ((اصلي ځای ته مو بوځه چې د خپل ذوق شیان وګورو.)) د کتابونو ننداړتون، دخولي دروازې ته ورڅېرمه په چپ لاس کې و. هلته یوه لوی هال ته ور داخل شو، د هال له دخــولي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دروازې نیولې بیا تر پایه په لسګونو ډول ډول غرفې ایښې وې، غرفې له لرګي څخه جوړې وې، خو ډول ډول پوښونه یې درلودل او هر ناشر پرې خپلې لوحې په اوږدو او لنډو ځړولې وې. په هره غرفه کې په لســګونو**



پراګتي میدان کې د کتابونو نړیوال نندارتون

**عنوانه ډول ډول کتابونه ایښي وو. له اکثرو کتابونو سره یې خپلې سي ډیانې هم ملې وې، هغه څوک چې د کتابونو شوقي و، هغه ته نو دا ځای داسې ښکلی ښکاري لکه ملا چې په خیال کې د جنت د حورو په منځ کې ګرځي راګرځي، هر کتاب چې به دې کاته په چاپ او صحافت کې تر بل ښکلی و، د سړي په زړه کې تېرېدل چې ټول واخلي، رښــتیا هــم د پیسو وږي په پیسو او د کتابو وږي په کتابو نه مړېږي. تقریباً پــر ټولــو غرفو وګرځېدلو. د ماشومانو لپاره مصور کتابونه او سي ډیانې په کې تر نورو هر ډول کتابونو زیات وو. په لســګونو هنــدي کــورنۍ لــه خپلــو ماشومانو سره راروانې وې او هرې یوې خپلو ماشومانو تــه د هغــوی د خوښې او اړتیا وړ کتابونه اخیستل. د ماشومانو د کتابونو ترڅنګ تقریباً په اکثرو غرفو کې د ښوونځي د لیک لوست ټول سامان الات هم د یوه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېکج یا بکسې په بنه خرڅېدل، په هغو کې هم د ښوونځي درسي شیان داسې ځای پرځای شوي وو چې د ماشوم څه چې د ماشوم د مور و پلار توجه یې هم ځانته جلبوله، ما چې دا بکسې وکتلې او دا رنګارنګ کتابونه، نو خپلو ماشومانو ته مې ترې یوه یوه بېلګه بکسې واخیستې او همدارنګه هغوی ته د انګلیسي ژبې او  د مصورو کیسو ځینې روزنیز کتابونه مې هم واخیستل. د انګلیسي ژبې له روزنیز کتاب سره سي ډیانې هم ملې وې، د یو کن وین (You can win) په نوم مې یو کتاب هم په (۲۵۰) کلدارې واخیست. دا یو مهم کتاب دی چې هندي لیکوال شیوا خیرا (Shiva  khera) لیکلی دی، د کورس استادې یې هم ډېر توصیف کړی و، په هند کې یې اکثره خلک لولي، دا کتاب د ژوند ښه لارښود دی او تر اوسه پورې څو ځله چاپ شوی، د هر ځل چاپ شمېر یې ملیونونو ټوکو ته رسېږي، د وروستي چاپ شمېر یې (۱،۷۰۰،۰۰۰) ټوکه و. د وروستي چاپ د مخونو شمېر یې (۲۷۶) مخه دی، ما د یوولس سوو کلدارو کتابونه واخیستل، اجمل او ساحل هم یو څه کتابونه واخیستل. د کتابونو نندارتون ډېر خوند وکړ، د هرې کمپنۍ له غرفې څخه چې به دې کتابونه اخیستل، نو هغوی به خپل بروشور په کې اېښووده، دا داسې کمپنۍ دي چې د هند په بېلابېلو لویو ښارونو کې یې خپلې چاپخونې او استازۍ لرلې. د کتابونو ددې هال پر هرې غرفې په لکونو هندي کلدارې لګول شوي او منځ منځ کې یې لکه د مېلې د ورځې په شان ښکلي او رنګه کاغذونه ټکوهلي وو. دا چې دوی به په یوه اوونۍ کې څومره ټکس ورکړی وي، ماته پته ونه لګېده، خو له دې دومره درانه کار څخه پته لګېدله چې ددې د ټکس ورکول هم د هر چا

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وس برابره خبره نه ده، ان په خپله د ځینو هندي ناشرانو په وس هم پوره نه ده.

کتابونه اکثره په انګرېزي او هندي ژبو وو، په اردو لیکدود هم کتابونه په کې پیدا کېدل، د هند په نورو ژبو هم کتابونه په کې وو، خو زیات په انګرېزي او هندي ژبو وو. ما چې د خپلې ټولنې د کتابونو حالت له دې سره پرتله کړ، نو د لسګونو کلونو واټن مې په ذهن کې وګرځېد، موږ چې دې حالت ته رسېږو، نو دوی به کوم حالت ته رسېدلي وي؟

په همدې چورتونو کې له نندارتونه رابهر شو، د لوی خدای(ج) له درباره مې هیله وکړه چې زما په ولس کې هم نوره د توپک




شپېلۍ بنده کړي او د هندوستان په شان د کتاب رنګینې پاڼې په کې وغوړوي. ماښام ماښام خپل استوګنځي ته راورسېدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دويم سفر ( تر ډيلي بهر )

په ډيلي کې تر نږدې يو مياشتني درس وروسته نو د ټولو هيله دا وه چې نور بايد د سيل او اوږده سفر وخت راورسېږي. وخت پر وخت به مو پوښتنه کوله: ((تاج محل ته به کله ځو؟)) د کورس مسولينو بـه ويـل: ((موږ يې درته وايو)) په پای کې همغه ورځ راورسېده.

د فبروري (۹) مـه نېټـه وه، د کـورس اسـتادې مېـرمن (سـوگوتا چکروتي) خپل درس تر نيمايي اړولی و، لږه دمـه شـوه، سـاعت تـه




يې وکتل، ويې ويل: ((اوس به تاسې ته د کورس له اداري څخه څـوک راشي، هغه به تاسو ته ستاسو د سفر په هکلـه معلومـات درکـړي.)) مېرمن چکروتي داسې يوه استاده وه چې د اصولو او پرنسيپونو له مخې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يې تدريس کاوه، د ډېر زغم خاونده وه، د فصاحت او بلاغت له امتيــازه برخمنه وه، ظاهري ښکلا او علمي ښکلا يې دواړه غاړه غــړۍ وې، هــر څومره درس يې چې درکاوه د ستړيا احساس دې نه کاوه.**



اجمل فدايي، استاده سوگوتا چکروتي او اسد ساحل

**شپېه وروسته د کورس يو تن اداري کارکوونکی ښاغلی هانېت (Hanit) رانتوت، بورډ مارکر يې راواخيست، تر ټولو خبرو دمخه يې ټولو ته ښــه راغلاست ووايه، بيا يې وويل: ((د فبرورۍ پر ۱۰مه نېټه (اگرې) ته سفر لرئ، خو سهار وختي پنځه بجې به روانېږو.)) هانېت مهم ټکي پر تخته وليکل:**


**((د فبرورۍ لسمه، سهار څلور نيمې بجې به له هوټله حرکت وکړئ، د سوت ايکستېنش ون (Sout Extension I) مخې ته به راشئ، د هوټــل مسولين به تاسو ته د ترانسپورټ اسانتياوې برابرې کړي، پنځه بجې به ټاکلي ځای ته راشئ، پر پنځه بجو او دېرشو دقيقو حرکت کوو. حرکت**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر همدې ټاکلي وخت دی، که څوک پاتې شول، انتظار ورته نه کېږي. له (ډيلي) څخه تر (اګرې) پــورې (۲۵۰) کيلــو متــره واټــن دی. د خپــل پاسپورټ اصلي کاپي باید راواخلئ، فوتوکاپي په کار نه ده، هلته اصلي کاپي په کارېږي.

(۲۲۵) کيلو متره لاره په (۵-۶) ساعتونو کې وهو. لومړی ځای چې موږ ورته ورځو، هغه (تاج محل) دی، د نړۍ په عجایبو کې شامل یو مهم تاریخي ځای دی، چې ډېره ښکلې معماري په کې شوې ده. تاسې به یې په اړه معلومات لرئ، تاج محل څلور دروازې لري؛ په دې ډول پروت دی:




موږ او تاسې به په جنوبي دروازه کې ودرېږو، خو ګورئ پام کوئ چې بېرته به همدلته راځو، تاسې په تاج محل کې ښه ډېر وګرځئ، خو پر بلې دروازې ونه وځئ، چې بېرته دلته راتګ مو ډېر وخت غواړي، د تاج محل محوطه لس کيلو متره مربع ده، ټول دوه ساعته به هلته پاتې کېږو، یوه بجه به د غرمې ډوډۍ ته ځو، د غرمې ډوډۍ لګښت د هر چا خپل دی، چې څه شی خورئ او څه شی غواړئ، خو د ماښام او سهار چای مو په

(c) ketabton.com: The Digital Library






(اپټېک) دی، هلته  مو تاسو ته په هوټل کې ځای نیــولی او د ماښــام ډوډۍ او سهار چای دواړه په کې شامل دي، تر غرمې ډوډۍ وروسته یوه نیمه بجه اګرې کلا؛ اګره فورټ (Agra Fort) ته روانېږو، هلتــه د لیــدو ښایسته ځایونه دي.

پنځه نیمې بجې په اګره کې ګرېنډ هوټل (Grand Hotel) تــه ځــو، هلته مو ستاسو لپاره اتاقونه بوک کړي دي، د ماښام اوه نیمې بجــې د ماښام ډوډۍ ده. دا ستاسو د لومړۍ ورځې پروګرام دی. هانېــت ښــه ښکلی په اصطلاح سمارټ ځوان و، زموږ په ټولګي کې یو نیم تن په دې منځ کې لږ څه سپېرونی ور زیات کړ؛ ماښام به څه کوو؟ یو تن پوښتنه وکړه: ((نایټ کلپ شته که نه؟ مساج به وي که نه؟)) هانېت ورته وویل: ((مساج شته خو نر د نر لپاره او ښځه د ښځې لپاره، خو هغه څه چې ته غواړې هغه نه شته)) هانېت په خندا شو، ویې ویل: ((له سوډانه دلتــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورس ته یو سړی راغلی و، نوم یې (ابوسوفیان) و، هغه د (اګرې) چکر ته ډېر خوشاله و او ورځې یې شمېرلې، کله چې هلته لاړو، نو ماته یې وویل: ((چېرته دی مساجر؟)) ما د هوټل رسپشن ته وویل: ((ده ته مساجر را وغواړه، هغه یو سړی راوغوښت، ده ته یې وویل: ((دغه دی)) هغه یو تور غټ سړی و، ده چې هغه ته وکتل نو زړه یې له مساجه تور شو، ماته یې وویل: ((دا څه دی؟)) ما ورته وویل: ((دی مساج کوي)) ابوسفیان ډېر خواشینی شو، ویې ویل: ((ما ویل چې نه هغه بل شی به وي.)) دې کې ټولو وخندل نور نو بیا چا د مساج پوښتنه ونه کړه.


هانېت وویل: ((د سفر پر دویمه ورځ چې د فبرورۍ (۱۱ مه نېټه) ده، د سهار اوه نیمې بجې مو سبا ناری دی، اته نیمې بجې له (اګرې) څخه (جیپور) ته روانېږو. جیپور په (راجستان) ایالت پورې اړه لري، له اګرې څخه (۲۳۵) کیلو متره لرې دی. پنځو ساعتونو کې به ورسېږو، یوه بجه به د غرمې ډوډۍ خورو، تر هغه وروسته امبر کلا؛ امبر فورټ ( Amber Fort) ته ځو، دا ډېر ښکلی ځای دی، (۲۸) کیلو متره ساحه لري، په جیپ موټر کې به پنځه پنځه کسان سورېږئ، خو ګورئ چې د جیپ نمبر او خپل ملګري له یاده ونه باسئ! تر هغه وروسته لیک پېلس (Lake palace) یا د سیند غاړې ته ځو دا هم ډېر ښایسته ځای دی. تر هغه وروسته بیا ستي پېلس (City palace) ته ځو، پنځه نیمې بجې جیپور پېلس هوټل (Jaipur palace hotel) ته ځو، د ماښام اوه نیمې بجې د ماښام ډوډۍ ده.

د سفر درېیمه ورځ چې د فبرورې (۱۲مه نېټه) کېږي، سهار اوه بجې د سهار چای دی، سهار اته نیمې بجې جنتر منتر (Janter manter) ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځو، یوه نیمه بجه مارکېټ ته ځو او غرمنۍ خــورو، دوه نیمــې بجــې د ډیلي پر لوري حرکت کوو. موږ په حقیقت کې د یو مثلث په ډول حرکت یا سفر کوو، چې دېته دلته طلایي مثلث




وایي.)) هانېت د سفر په باب نور جزیات هم بیان کړل، ویــې ویــل: ((هلته ډېر شیان مه اخلئ ځکه چې ډېر قیمته دي، خپل ملگــري مــه هېروئ، هر څوک چې پر خپل وخت رانغــی او لــه مــوټره پــاتې شــو، مسولیت یې پر خپله غاړه دی. خپل او د خپل ملگري ټلېفون نمبرونه؛ هانېت (۹۸۷۳٦۷٦٦۷٦)، کارتېک (۹۹۵٦۸٦٤٤٤٦۰) نمبرونه یې پر تختــه ولیکل، ویې ویل چې هره لحظه څه مشکل پیدا شو، موږ تــه ټلېفــون وکړئ!

تر دې ضروري تشریحاتو وروسته د کورس استادې مېرمن چکروتي د تاج محل، شاه جهان، ممتاز، د شاه جهان د واکمنۍ، مینا بازار، د اگرې او جیپور په هکله په زړه پورې معلومات ورکړل او د ســفر د تیــاري دا لاربښوده ورځ پر همدې ځای پایته ورسېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اګرې پر لوري

د شپې یوه بجه او پنځه لس دقیقې وې، چې د خوب مرغیو راباندې خپل وزرونه وغوړول، سهار وختي څلور بجې وې، چې له رسپشن څخه زنګ راغی، له خوبه یې پاڅولم، تشناب ته لاړم، اودس مې وکړ، جامې مې واغوستلې؛ خپل افغاني کالي مې واغوستل، د سفر نور لوازم مې لا مخکې تر مخکې په کڅوړه کې ایښي وو. تر څلورو، پنځه ویشت دقیقې تېرې وې چې رسپشن ته کښته شوم، زه لومړنی سړی وم چې رسپشن ته کښته شوم، خو مخکې تر هغه مې اسدالله ساحل ته زنګ وواهه، هغه وویل: ((زه تیار یم)) څو شېبې رسپشن کې پاتې شوم، ما ویل له وعدې سره سم باید ټول څلور نیمې راغلي وای، له هرکلیوال (رسپشنســـت) څخه مې وپوښتل: ((ډرېور راغلی؟)) هغه وویل: ((پــاوکم پنځــه بجــې راځي)) ما ویل دا خو ډېر ناوخته کېږي، رسپشنیست ته مې وویل: ((یو ځل بیا ټولو ته زنګ ووهه چې تیار شي)) هغه بیا ټول خبر کړل، یو یــو راکښته کېده، خو لنډه دا چې پنځه بجې ټول تیار شو، ډرېور هم لکه د پوډري په شان ورو ورو پر ځمکه څخېده، راڅرګند شو، وروستی سړی چې ټول ورته منتظر وو، یو فلسطیني عرب و چې (ابراهیم) نومېده، له نجونو سره یې ډېره جوړه وه. مخکې ما د عربو په هکله د ځینو دوستانو تجربې اجمل او اسدالله ساحل ته بیان کړې وې، ساحل وویل: ((دا عرب چې ما ولیدل، نو اوس راته لا ښه پته ولګېده چې دوی له اسلام ســره څومره علاقه لري؟ اسلام یې ټول موږ ته راپرې ایښی دی، دوی خپــل

(c) ketabton.com: The Digital Library



عیشونه کوي.)) پنځه بجې او پنځه لس دقیقې وې چې په (سوت ایکستېنشن) کې د (اپټېک) کورس مرکزي دفتر مخې ته ورسېدو.

موږ ویل اوس به نو موټر تیار وي، څو دقیقې مو انتظار وکړ، پنځه کم شپږ بجې وې چې د سفر موټر راغلل، موټر ته پورته شو،



میریال، یون او امیلای سهار وختي سفر ته د تیارۍ پرمهال

د سفر او سیاحت ځانته خپل کلتور وي، کله کله په کې ځینې داسې خبرې او ټوکې هم راځي چې هغه لیکل کېږي نه او یا یې لیکل ښه نه وي، په ګړنې ډول بدې نه برېښي، نو ځکه یې زه هم نه را نقلوم، کله کله د یو ماحول خوږې او ښې خبرې په راتلونکي وخت او بل ماحول کې هغه خوند او رنګ نه شي افاده کولای، چې اصلي حالت کې ورانېدې شوې وي. که څوک وغواړي په اسانۍ سره ترې غلط تعبیر اخیستلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا یادښت چې زه لیکم تر شپږو لس دقیقې تېرې دي، مــوټر همــدا شېبه حرکت وکړ. د ساحل په کمره مو په موټر کې څو قطعې عکسونه




واخیستل، ډیلی په رڼاګانو ښایسته و، سهار وختي د موټرو ډېره ګڼــه ګوڼه نه وي، سړکونه ښه ارام وو.

شل دقیقې تر شپږو تېرې وې چې په موټر کې مې د لمانځه نیت وکړ. په روان موټر کې لمونځ مې له دینپوهانو پوښتلی، هغوی یــې د جــواز دلایل څرګند کړي دي. (ښاغلی استاد محمد اصف صمیم) هغه څوک دی چې د اسلام اصلي روح و روان یې پرځان تطبیق کړی دی. مــا پــه سفر کې څو ځله هغه لیدلی چې روان موټر کې یې لمونځ کړی، څــوک یې پرځان خبر کړي هم نه دي، د صمیم صیب بل ښه عادت دا دی چې په خپل لمانځه او اوداسه بل څوک نه په تکلیفوي، کله چې چېرته لاړ شي، نو ده اول اوبه او مسجد په نښه کــړي وي، غلــی لاړ شـــي اودس

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي او لمانځه ته لاړ شي، داسې نه دی لکه زموږ د کلي ملا عبدالله کاکا، زه له هغه سره یوځای په کابل کې اوسېدلم، یو کرایي کور و، هغه وخت کابل کې جنګونه وو، د کور خاوند هم موږ سره یوځای اوسېده، ټول جرګان اوسېدو. د جنګونو له وجې هر چا خپلې کورنۍ خونــدي ځایونو ته کښېلې وې، زه په یوه کوټه، ملا عبدالله کاکا په بله کوټــه او د کور خاوند په بله کوټه کې اوسېدو، سهار وختي به ملا کاکا موږ لمانځه ته پاڅولو، تر لمانځه وروسته به زه ویده شوم، ملاکاکا به پــه لــوړ غــږ تلاوت شروع کړ، کله به یې تر لمانځه دمخه په جار سره تلاوت کاوه. د کور خاوند د لمانځه ډېر مېړنی نه و، بلــه ورځ یــې اضــطراري جلســه راوغوښته: زه، ملا او دی درېواړه سره کېناســتو، مــلا تــه یــې وویــل: ((مېرمن یې... دې سهار کې ماته خوب راځي، دا د لمانځه لپــاره اودس خو دې لا خیر دی چې ډېر په کې ټوخېږې خرپ او ترپ دې وي، خو دې تلاوت خو دې نور داسې کړو چې څه کوې، که ته دومره لوړ تلاوت کوې، نو لاړ شه مسجد ته، دا کور دی کور)) ملا وویل: ((زه خــو تاتــه کرایــه درکوم، زه خو تلاوت کوم، هم تاسې لمانځه ته پــاڅوم، زه خــو ســتا د خوب لپاره د خدای(ج) دین نه شم پرېښودلای...)) د کور خاوند ورتــه وویل: ((دا مسجد نه دی دا کور دی کور، درته مې وویل که د تلاوت ډېر شوقي یې مسجد ته لاړ شه!)) د دوی ترمنځ خبره خرپ او ترپ ته نږدې شوه. په پای کې یې صلاحیت ماته راکړ چې زه فیصله وکړم. فیصله په دې وشوه: ((ملا به په لوړ اواز تلاوت نه کوي، خو د کور خاوند به سهار لمانځه ته پاڅېږي او په ګډه به لمونځ په جمع کوو.)) ملا هم ښه ټوکي و، اوس په ابدي دنیا دی، خدای دې جنتونه ورکړي، د کور خاوند ته یــې وویل: ((څه چې ته له سره کفره راتېر شوې له دې ټینګ او شنه اسلامه

(c) ketabton.com: The Digital Library



به زه هم یو څه درتېر شم، دا تلاوت خو مې په لوړ اواز ځکه کاوه، چې ته لمانځه ته غاړه کېږدې، که نه د تا خبیث خو له مانځــه ســره ډزې دي ډزې.)) د کور خاوند هم په ګپ کې تر ملا کم نه و، هغه ورته وویل: ((ټول وطن خو مو په دې اسلام (... په ...) کړ، دا یو کور پاتی دی، دې کې مــو هم پرېږدې که نه؟ څنګه مې درته اواز په خوله کې غلی کړ، چرګ چې هم بې وخته اذان وکړي، سر یې د غوڅولو دی، ته خو لا مــلا نښــيې)) دواړو ښه ګپ ولګاوه.

اوس په معاصره نړۍ کــې چــې تــر هرشــي د وخــت کمــی زیــات احساسېږي، د صمیم صیب طریقه ډېره ښه ده:

پټه خوله عبادت کړه په کې ثواب دی
د ریــا عـــبادت تار ګنــه اومـــړی.

په داسې حالت کې چې د ګڼو هېوادونو او ګڼو مذهبونو خلــک پــر



(c) ketabton.com: The Digital Library



**ټاکلي وخت، د ټاکلي هدف لپاره په سفر روان وي، که هر یو د خپل دین د فرایضو مسله، لکه څنګه چې د هر دین کلیوالي ملایان یې وایي، مطرح کړي، نو دا ډول سفرونه خو اصلاً ممکن نه دي او که ممکن هم شي، نو د ورځې سفر به اوونۍ او د اوونۍ سفر به میاشتې ونیسي. موږ په یوه موټر کې د نږدې (۳۰) هېوادونو او بېلابېلو دینونو خلک ناست وو، هېڅ هم د چا دین ته په سپکه نه کتل، ځکه چې د چا دین د چا د کار په مخالف لوري کې نه و. کاشکې زموږ دینپوهان د نړۍ د دغسې عصري ضرورتونو په پام کې نیولو سره د اسلام اساسي مفهوم خلکو ته ورسوي.**

**کله چې له ډیلي ښار څخه تېرېدو، نو د نورو ابادیو ترڅنګ مو د (اورګاډي) پر هغې هوایي لیکې هم سترګې ولګېدې چې نوې جوړېدونکې ده. دا لیکه د لسګونو کیلومترو په اوږدوالي، په ډیلي ښار کې غځېدلې ده، کېدی شي د کال دوو په بهیر کې بشپړه شي، دې سره به د (میټرو) هغه لیکه هم بشپړه شي چې همدا اوس یې د ډیلي ښار پاموړ ترانسپورتي ستونزې حل کړي دي. د اورګاډي دا هوایي او ځمکتلې لیکه لکه د دوبۍ د اورګاډي د هوایي لیکې په شان په عصري سیستم جوړېږي. دا لیکه چې څوک وګوري نو بیا د هندوستان د پرمختګ پر سرعت ښه پوهېږي؛ هندوستان داسې یو ملک دی چې هر څه په خپله کوي او هر څه په خپله کولای شي.**

**د ډیلي ښار په یوه برخه کې یو څه تم شو؛ لس پنځه دقیقې وروسته موټر حرکت وکړ، فکر کوم د ټکس پر سر څه ستونزه وه، اوه بجې له ډیلي ښار څخه ووتو، لومړۍ سیمه چې مخې ته راغله، پرې لیکلي وو: (فرید اباد)، وروسته بیا بله سیمه وه: (زوړ فرید اباد)، ماته بیا هم پته نه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لګېده چې دا سیمې هم د ډېلي ښار مربوطې دي که نه؟ په مــوټر کــې ټول غلي ناست وو، اکثره ویده وو، چا لارښوونه هم نه کوله. زړه کې مې تېره شوه چې کېدی شي دا سیمه د هندوستان د پښــتون شاهنشــاه شېرشاه سوري (فرید خان) نامه سره نسبت ولري.


څو شېبې وروسته پر ما هم خوب راغی، خو ناتراشه ارنډونو هېڅوک ارام ته نه پرېښودل، د چیلي یو محصل (فرانیسکو جاوېر) خو هارنډونو دومره سترې کړ چې د ډرېور شیشه یې وټکوله، ورته یې وویل: ((ډېــر ارنډونه مه کوه)) ډرېور وویل: ((دا یو ضرورت دی.)) هند کې ارنډ په لاره کې د موټر د حرکت لپاره یو اساسي ضرورت دی، خو په نورو پرمختللو هېوادونو کې بېځایه ارنډونه د کنځلو په مانا دي. له دې څخــه مــوږ دا قیاس کولای شو چې په یوه ټولنه کې ترافیکي نظم او قانون پــه کــوم حالت کې دی او په بله کې په کوم؟. کله چې ډرېور د چیلي د محصــل خبره ونه منله، نو هغه د کورس یو مسول ښاغلي (کارټېک) ته خبــره ورسوله، هغه هم د ډرېور ځواب ورکړ، هغه وویل: ((دا یو ضــرورت دی، یوه عادي غلطي کولای شي زموږ او ستاسې ژوند له خطر سره مخامخ کړي، نو تر هغه ښه ده چې ارنډونه وزغمې.)) د چیلي محصل چې لــږ شان مریض هم و بېرته د خپلې څوکۍ پر لوري وخوځېد، زما څوکۍ ته چې راورسېد، ما ورته وویل: ((څنګه خبره یې درته ونه منله؟)) د سر په خوځولو یې وویل: ((نه!)) موټر همداسې خپل حرکت ته دوام ورکړ.

په لاره کې د (مهاراجا هوټل) مخې کې د شلو دقیقو لپاره تــم شــو، تشنابونه یې پاک وو، هوټل او د خرڅلاو خونې په کې وې، خو شیان په کې د اور په بیه وو. اجمل او ساحل یوه جوړه قلمي بترۍ چې په کابــل کې په (شل افغانۍ) کېږي، دلته په (یوســل او شــل هنــدي کلــدارې)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**واخیستې،( ۹) بجې او پنځه لس دقیقې له مهاراجا تمځي څخه د اګرې**





اجمل فدایي او یون

**پر لوري وخوځېدو. د اګرې- ډیلي سړک ډېر بد نه دی، خو د نورې نړۍ د سړکونو په شان هم نه دی، دوه طرفه دی، په هر طرف کې یې دوه دوه موټر پر یو وخت حرکت کولای شي. دلته هم هوا لکه د هندوستان د نورو برخو په شان ګردجنه ښکارېده، د سړک دواړو خواووته په مسلسل ډول ښارګوټي، دکانونه او مارکېټونه اباد وو، خو شاوخوا ځای نیم شنه فضا هم ښکارېده، دا مهال نو شنه غنم په پټو کې ولاړ وو، لکه په ننګرهار کې د حمل میاشتې موسم، خو څومره پاکه او شنه فضا چې په ننګرهار کې احساسولای شې، دلته په هغه کچه نه ده، ګندګي او چټلي په کې زیاته ده، تر دې دمه چې موږ راغلي یو، هر ځای د خوشیو تپې پرتې دي، ځینو ځایونو کې خو یې ښخې ډېرۍ وې، عیناً لکه تر جلال اباد ښاره وړاندې د بهسودو په سیمه او یا هم په لغمان کې تر درونټې لږ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وړاندې د کبانو فارمونو سره چې د خوشيو کومې ډېرۍ دي او هغه ټول ځايونه يې بدرنګه کړي دي. زموږ يو ملګری دی؛ محمد عاشق غريب**



يون په موټر کې د يادښت پرمهال

**نومېږي، د ميدان ودرګو ولايت دی، پنځه لس کاله کېږي په جرمني کې اوسي خو دا يو کال کېږي په کابل کې دنده لري، هر وخت چې ما سره جلال اباد ته ځي، نو چې دې ځای ته راورسېږي، وټوخېږي، بيا په خندا شي وايي چې دا د لغمان ((سوپر مارکېټ)) دی، هغه کله يوه نرۍ خندا هم وکړي، ما ورسره ګپ لګولی و، ما ورته ويلي وو: ((ساده کېږه مه، د لغمانيانو په هر کار کې يو حکمت دی، دا سمه ده چې دا شيان دلته توليدېږي، خو د تقاضا مارکېټ يې تاسو سره دی، نو څه فکر کوې چې په خوشيو کې درنه دومره پيسې ګټو، نو په نورو شيانو کې به مو څومره تېرويستي ياستۍ.)) بيا مې ورته د يو (لغماني) او يوه (وردګ) کيسه وکړه چې دواړه انډيوالان وو، وردګ صادق او لږ شان ساده و، لغماني**

(c) ketabton.com: The Digital Library




ډېر چالاکه و، څو ځله یې وردګ سره چل ول کړی و، اخر هغه یې له دې چلونو ډېر ستړی شوی و، غوښتل یې انډیوالي ورسره پرې کـړي، یـوه ورځ وردګ د لارې پر سر ناست و چې لغمانی پرې برابر شو، تـر نـورو خبرو دمخه یې وردګ ته غوړ سلام ور واچوه: السـلام علـیکم! وردګ ورته وویل: وروره! که دې کې دې چل نه وي، نو وعلیکم السلام. غریب صیب ته مې وویل: ((ته پوهېږې چې زه قدرت ته ورسېږم، څه به کوم؟)) هغه وویل: ((د خلکو د خدمت لپاره به ماسټرپلان جوړوې بیا بـه یـې عملي کوې)) ما ویل نه زه چې واک ته ورسـېدم، اول د ننګرهـار پـه بهسودو او بیا د لغمان په دې کڅ کې دا خوشیي له منځه وړم چې ټوله سیمه یې بدرنګه کړې او د ځایي خلکو کلتـور تـه یـې سـخت زیـان رسولای دی، دا مهمه نه ده چې ستاسې به په ژمي کې ساړه وشي، تـر هغه پورې به ستاسو ځایونو ته هم برېښنا درشي. تر اوسـه مـې هـېڅ وخت او وس نه دی پیدا کړی چې د لغمان او ننګرهـار پـه والیـانو دا سیمې پاکې کړم. د ډیلي او اګرې لارې ته چې ګورې ځای پرځای درته همداسې سیمې ښکارېږي، خو څومره چې له ډیلي څخه د اګرې خواته ځې، شنه فضا او شنې ځمکې زیاتېږي، دا ټوله سیمه د لاس د ورغوي په شان اواره ده؛ غر، غونډۍ او کندې په کې تر اوسـه نـه ښـکاري. د یونلیک دا برخه ژوندۍ لیکم، څه مې چې مخې ته راځي، په روان ګاډي کې لیکنه کوم، موټر هم ډېر جمپونه خوري، لوی (۳۰۲) موټر ته ورتـه ګاډی دی، نږدې څلوېښت کسان په کې ځایېږي، موږ څه کم څلوېښت کسان په کې ناست یو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اګرې لومړی کتنه

لس کم یوولس بجې اګرې ښار ته ورسېدو، د اګرې ښار هم په ګڼه ګوڼه کې تر ډیلي کم نه دی، ډېر لوی ښـار دی، نفـوس هـم پـه کـې همداسې راخوټېږي، نږدې (یو نیم ملیون) تنه نفوس لري. په پنځه لسو دقیقو کې د ښـار لـه دخـولي برخـې تـر اګـرې فـورټ (Agra fort)




پورې ورسېدو، لومړی همدې کلا ته لاړو. دا کلا د مغولو د وخت ابـادي ده، خورا زیات زحمت پرې ایستل شوی دی. ټوله له سرو ډبرو، چې په هندوستان کې خورا زیاتې دي، جوړه شوې ده. کلا پر یوه جګه غونډۍ ودانه شوې، لکه زموږ د بالاحصارونو په شان. په اوسني موسم کې یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځې په لسګونو زره کسان لیدو ته راځي. دا کلا د (جلال الدین اکبر) د واکمنۍ پر مهال د (۸) کلونو په بهیر کې جوړه شوې ده.

جلال الدین اکبر د همایون زوی او د جهانګیر پلار دی. دی د (۱۵۴۲م کـــال) د اکتـــوبر پـــر (۱۵) مـــه نېټـــه زېږېـــدلی او د (۱۶۰۵م



امیلای، ایما ، یون او اجمل اګرې کلا ته پر دخولې لاره

کال) د اکتوبر پر (۱۷) یا (۲۷) مه نېټه وفـات شـوی دی. لـه (۱۵۵۶-۱۶۰۵) یانې د خپل تر ژوند وروستې وخته یې واکمني کړې او د هند په تاریخ کې د (اشوکا) ترڅنګ ډېر اغېزناک او لوی پاچا ګڼل کېده. جلال الدین اکبر د اګرې کلا په ډېرو پخو استحکاماتو جوړه کړې ده. دا کلا د خپل وخت ستره پوځې، اداري او سیاسي کلا وه، چې د هنـد مغـولي واکمنو د خپل حکومت چارې ترې سمبالولې.

انګرېزانو هم دا کلا د پوځي قرارګاه په توګه کارولې او اوس په کـې هندي پوځ هم قرارګاه لري. په دې کلا کې بیا څو نورې کلاګانې دي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د مغولو د کورنۍ بېلابېلو واکمنو پسې غځولي او جوړې کړې، د هر یوه په کې خپل خپل ځای معلوم و. په هره کلا کې ځانګړي چمنونــه وو او سوپې وې، د خپل وخت ښه معماري په کې کارېدلې ده.**

**مغولو په هند کې په لسګونو کلونه حکومت کړی او په دې بهیر کې یې هلته ډېرې ودانۍ جوړې کړې دي. په اګره فورټ کــې یــو ښــکلی**




**مسجد و او یوه ښکلې مدرسه هم وه. د عمومي کلا تر شا، لکه د نــورو پخوانیو شاهي کلاګانو په شان ګردچاپېره لوی خندق ایستل شــوی و، چې غالباً د دښمن د مدافعې په خاطر به له اوبو ډکېده.**

**په کلا کې ښه ډېر وګرځېدو، له همدې ځایه د تاج محل ودانۍ هــم ښکارېده.**

**یوه نیمه بجه بېرته په موټر کې کېناستو، پــه مــوټر کــې معلومــات ورکوونکي وویل: ((اوس ډوډۍ ته ځو، تر هغه وروسته  تاج محل ته ځو، تاج محل ته تاسو ځان سره کمره او ټلېفون وروړلای شئ، خــو ویــډیو کمره خپل (۲۵) روپۍ چارج لري، د خوراک او څښاک شیان، ســګرټ،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سګرټ لایټر او نور شیان لکه سبزیجات نه شئ وروړلای. هلته ماشومان دي تاسو سره په ښه انګرېزي خبرې کوي، خو که غوږ مو ورته ونیوه، بیا مو پرېږدي نه، تر هغه چې پیسې درځخه واخلي، هغوی سره به قطعـاً تماس نه نیسئ.)) دا همغه خبره وه، چې مخکې په اګره فورټ کې پــر موږ تېره شوه، کله چې له اګرې کلا څخه بهر راووتلو، نو لاره کې هلکان، واړه او ځوانان ولاړ وو، د مریو ډول ډول امېلونه ورسره وو، ځینې یې له مرمرو جوړ کړي وو، یوه ته ورنږدې شوم، زمـا زړه و چــې یــو ورڅخــه واخلم، ده ډېر قیمته بیه کړل، دوه زره کلدارې، ما ویل نه یې اخلم، ورو ورو یې د امېلونو تعداد زیات کړ، ما ویل سل کلدارې، ده ویل زر، نور یې هم زیات کړل، ما وویل: دوه سوه، نور یې هم زیات کړل، بلاخره ما وویل: درې سوه، ده تعداد دومره زیات کړ چې ما د افغانستان نرخونو ته وکتل،**



په اګره کلا کې ډله ییز عکس

**دا راته ډېر ارزانه ښکاره شول، شمېر یې تقریباً شلو ته ورسوه، ما اخري**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نرخ څلور سوه ورته ووایه، ده په پلاستیک کې واچول، ما وویل: نه یې اخلم، یو څه یې نور هم پرې ورزیات کړل، ویل یې: (۷۰۰)، ما ویل نه اخرې (۵۰۰) تقریباً ټول دوه ویشت دانې مختلف امېلونه مې په همدې بیه واخیستل، څنګ ته یې بل تن خبر شو، هغه داسې له لاسه ونیولم چې هېڅ خلاصی مې ترې نه و، همداسې یې خپل شیان زیاتول، ماته یې وویل: ((له هغه څخه دې واخیستل، ماڅخه یې هم واخله)) هغه بل دبېره مار هم ورسره ولاړ و، څکه چې همغه دی تحریک کړی و، تر څنګه یې هم ګرځېده، اخر مې ورته وویل: ((دا ټول شیان دې په سل روپو اخلم)) ویل یې: ((همداسې یې درکوم خو وایې خله)) پلاستیک یې راوړ او خپل ټول امېلونه یې په کې واچول، نږدې (۲۵-۳۰) دانې به وو.





پرېښودلم یې نه، دوه سوه مې ورته وویل، ویل یې: ((هېڅ پیسې مه راکوه خو وایې خله)) خو ډېر یې په تنګ کړم، بالاخره اجمل او ساحل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترې په زوره خلاص کړم، په پای کې په څلور سوه کلدارو پرېکړه وشوه، پنځه سوه ګیز نوټ مې ورکړ، ژر یې بل ته غږ کړ: ((ورکړئ د سلو روپو نور)) ما ویل: ((نه یې اخلم)) دوه درې یې نور پرې زیات کړل، خو اجمل ترې سل ګیز په وچ زور واخیست، یو له لوستونې ونیولم ان تر مـوټره



راسره لاړ چې زما شیان په سلو روپو واخله، مـوټر تـه پورته شوم، ما ویل پنځوس، کله چې موټر حرکت وکـړ، ده ویل له مـوټره پیسې راخطا کړه، ما سره پنځوسـې نه و، که سل ګیـز مې ورغورځـولی وای، هغه یې هـم وړه، پر دې وخـت مـوټر لـړ چټـک حرکت وکړ، د ده سودا ونه شوه او زه بېغمه شوم، نو کله چې موټر کې د تاج محل په اړه معلومات ورکوونکي وویل: ((ماشومانو څخه بـه ځـان ساتئ،)) پر ما یوه تجربه تیاره تېره شوې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یوه غرمنۍ په اگره کې

کله چې له اګرې کلا څخه راووتو، نو تر څو دقیقو مزله وروسته موټر د یوه لوی رستورانت مخې ته ودرېد، لارښود وویل: ((دلته هر ډول غــذا




شته، میکډونالډ هم شته.)) له میکډو نال سره چې یوه نړیواله غذا ګڼل کېږي، موږ ښه اشنا وو، نو ځکه یې موږ ته زیات خوند راکړ. که هنــدي غذا وای، خدای خبر چې زموږ د افغانانو په طبیعت برابره شــوې وای. اجمل او ساحل غذا راوړه، لس کم دوه بجې مو د غذا پر خــوراک پیــل وکړ. په پنځه لس شل دقیقو کې مو غذا او ایس کریم وخوړل، بیــا پــه همدې مارکېټ کې د یوې کمرې د اخیستلو په لټه کې شــو، د ســاحل کمره له کاره ولوېده، هغه وویل: ((څه بله کمره به واخلو، دا چې د تاج

(c) ketabton.com: The Digital Library



محل عکسونه راځخه پاتې شي دا خو نو سـخته خبـره ده.)) پـه دې مارکېټ کې چې مو پوښتنه وکړه، دوی وویل: ((دلته نه شــته، دغلتـه وړاندې بل مارکېټ دی، بیګ بازار (Big bazaar) ورته وایي، هلتـه لاړ شئ.)) که څه هم لاربسود له اوله راته ویلي وو چې دغه بازار ته بـه نـه ځئ، ځکه هلته بیا ایسارېږئ، خو موږ ډېر مجبور وو؛ تاج محل کې لـه





کمرې پرته نه کېده، ځکه خو دغه مارکېټ ته لاړو. هلته چې لاړو، درېیم پوړ ته پورته شو، هلته نه وه، یو ځوان ادرس راکړ تلخونې (تکاوي) تـه کښته شو، هلته مو یوه کمره پیدا کړه، خو تر ډېر جنجال وروسته مـو خبره ورسره په (۴۴۹۹) کلدارې خلاصه کړه. ساحل پیسې ورکــړې او کمره مو واخیسته. په هند کې اکثره هغه جنسونه چې نرخونه یې تـر زریز رقم پورته کېږي، نو دوی ترې یوه روپۍ ځکه کموي چې د ټکس په زریز رقم کې برابر نه شي. اجمل له هانېت (د کورس یو تن مسول) سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



تماس ونیو، هغه وویل: ((ژر راځئ، چې ټول موټر تاسې ته منتظر دی.)) پلورونکي ته مو وویل: ((ژر ژر کوه بِل راوړه چې ځو.)) هغــه همــدا




یون او ساحل د بېګ بازار په یو مارکېټ کې

وایي: ((یو منېټ یو منېټ.)) په دې کې یې پر موږ پنځه لــس دقیقــې تېرې کړې، اجمل ته بیا زنګ راغی، وایي: ((چېرته یاستئ؟)) هغه وویل: ((دغه دی په دوو دقیقو کې درسېږو)) پنځه شپږ دقیقې مو نورې هم پر بل تېرې کړې، دا داسې مغازه وه چې هر څه باید له کمپیوټر او چکه تېر شي، له بل پرته څه شی له مغازې نه شي ایستلای، کله چې مو مو بایل واخیست نور مو منډه کړه، ژر ژر د موټر پر لوري وخوځېدو، کلــه چــې عمومي سړک ته ورسېدو، نو له سل متره واټــن څخــه (هانېــت) لاس خوځوي: ((دلته یو! دلته یو!)) ژر ژر ورغلو کله چې موټر ته پورته شو، نو دواړو موټرو حرکت وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تاج محل

**ټیک درې بجې د تاج محل پر لوري وخوځېدو. په پیل کې یې یوځل بیا اعلان وکړ چې د مخکنیو ذکر شویو شیانو ترڅنګ، قلم او کتابچې ته هم اجازه نه شته، دا ټول باید په موټر کې کېږدئ، که څه یادښت ته اړتیا وي له حافظې څخه کار واخلئ! لارښود وویل: ((تاج محل د ښځې او مېړه د مینې سمبول دی، د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه په لکونو خلـک دلته راځي او ددې ځای دیدن کوي او د مینې دا کیسه ورتـه تـداعي کېږي.))**




**وایي چې (شاه جهان) په مغولي پېر کې تر (نورالدین جهانګیر) وروسته پاچا شو، ده له خپلې مېرمنې ( ممتاز) سره بې کچه مینه درلودله، یـو وخت ممتاز ته یوه داسې ناروغي پیدا شوه چې پاچا د نـړۍ ډېـر پـوه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکتـــران ورتــــه راوغوښــــتل، خــــو د هغــــې مــــرض یــــې




تشخیص نه شو کړای. یوه ورځ ممتاز خپل مېړه (شاه جهان) ته وویــل: ((زه خو هسې هم یوه ورځ ځم او پاتې کېږم نه، نو ته به ماته څه وکړې چې ستا د مینې اظهار په کې وي؟)) هغه ورته وویل: ((زه به پر تا داسې ښکلې ګونبده یا داسې ودانۍ جوړه کړم چې په نړۍ کې به یې ساری نه وي، هغه به (ممتاز محل) وي.)) شاه جهان دا ودانۍ پیل کړه، ددې لپاره یې له نورو هېوادونو انجنیران او معماران راوغوښتل، سپینې مرمر ډبرې یې ورته صیقل کړې او په داسې نازک او شفاف ډیزاین یې ودانۍ پیــل کړه چې رښتیا هم په نړۍ کې یې ساری نه و. ممتاز وفات شــوه او پــه همدې ودانۍ کې دفن شوه، هغه ځای چې هغه په کــې دفــن ده اوس (ممتاز محل) نومېږي، کله چې دا ودانۍ بشپړه شوه، نو دومره ښکلې وه چې یو وخت د خپلې مېرمنې د مینې پرځای د پاچا له دې ودانــۍ سره مینه پیدا شوه. دا نو هغه روایتونه دي چې د تاج محل پــه هکلــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوله په خوله بیان شوي دي. د ممتاز تر مړینې یو کال وروسته د تــاج محل د جوړېدو کار پر (۱۶۳۲م)کال پیل شو او پر (۱۶۴۷م) کال پای ته ورسېد. پر دې ودانۍ په ټولیز ډول شل زره (۲۰،۰۰۰) کارګرانو، معمارانو او انجنیرانو چې د اسیا له بېلابېلو برخو څخه راغوښتل شوي وو، کــار وکړ. شاه جهان په خپله ددې ودانۍ په باب داسې وویل:

((ایا ښایي چې یو ګناهکار دلته پناه وغواړي او د یو ښښل شوي انسان په څېر له ګناه پاک شي؟ ایا ښایي چې یو ګناهکار دغې لویې ودانۍ ته لار پیدا کړي او ټول تېر ګناهونه یې له منځه لاړ شــي؟ د دغــې لــویې ودانۍ منظره نورې غمجنې منظرې پیدا کوي، لمر او سپوږمۍ پرې ژاړي. په دې نړۍ کې دغه مانۍ د دې لپاره جوړه شوې چې په دې وسیله یې د جوړونکي لوړتیا او برم څرګند شي.))

یو روایت دا هم دی چې ممتاز پر (۱۶۳۱م) کال د ماشوم پــه زېــږون وفات شوه، خو په هر ترتیب د شاه جهان او مېرمنې مینه یې په نړۍ کې یو مثال دی.

تر یوولس دولس دقیقو مزله وروسته د تاج محل ودانیو کمپلکس ته ورسېدو، تاج محل درې دخولي دروازې لري، موږ یې جنوبي دروازې کې ودرېدو، موټر له عمومي کلا څخه نږدې دوه ســوه متــره لــرې ودروي. ځینې خلک چې سپین ږیري وي او یا څه مشــکل لــري، پــه ګــاډیو، اوښګاډو، بایسکلونو او ځانګړو ګاډو کې چې شپږ شپږ کسه اخلي او ښه سیاحتي بڼه لري، وړل کېږي، خو اکثره خلک چې صحت یې ښــه وي، پلي ورځي. موږ چې نږدې څلوېښت کسیز ګروپ و او ټول تقریباً ځوانان وو، نو له مخکني پلان سره سم پلي روان شو، هر یو ته یو یو بوتل اوبه او د بوټانو د پوښښ لپاره یوه یوه ځانګړې کڅوړه ورکړل شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عمومي کلا په دخولي دروازه کې په سوونو کسان په لیکه کې ولاړ دي، ما له خپل یو همځنګ ملګري څخه پوښتنه وکړه چې هـره ورځ




یون د تاج د کمپلکس د یوې ودانۍ مخې ته

همدا حال وي که یوازې همدا نن دی؟ هغه وویل: ((نن رسمي ورځ ده، د رخصتۍ پر ورځ دلته د پښې ایښودلو ځـای نـه وي.)) هانیـت وویـل: ((تاسو ته مو ځکه نن پروګرام برابر کړ، چې یو خو دلته لږ سهولت وي او بل دا چې د رخصتیو پر ورځ په اګره کې هوټلونه مخکې تر مخکې بوک شوي وي؛ ځای په مشکله پیدا کېږي.)) په لسګونو زره خلک خو به زما ترسترګو تېر شوي وي چې څوک له دې کلا څخـه راووتـل او څـوک ورننوتل، اکثره خارجیان وو، د هر بهرني لپاره دې محـل تـه د ورتـګ اجازه (۱۲) امریکـایي ډالـره او د سـارک هېوادونـو د اتبـاعو لپـاره (۱۰)امریکایي ډالره او په خپله د هندیانو لپاره (۲۰) هندي کلداري وه. د خلکو دې ګڼې ګونې ته چې ګورې تاج محل به تر اوسه پورې زر ځلـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خپل لګښت پوره کړی وي، البته د تاج محل تاریخي او هنري ارزښت د**



یون او ساحل د تاج محل د اصلي مرمریني ودانۍ په دخولي دروازه

**مادي ارزښت په قېمت نه شي محاسبه کېدلای.**

**د تاج محل لومړي کمپلکس ته چې داخل شو، دلته هم خورا ښکلې ودانۍ او چمنونه وو، ټوله سره تیږه کارېدلې وه، خو تـر اګـرې کـلا دا معماري مزینه او ښکلې ښکارېدله، ددې علت شاید دا وي چــې دا تــر هغې وروسته جوړه شوې ده، اکثره برخې یې سلامتې وې، د ورانۍ ډېر کم داغونه پرې ښکارېدل، خو څومره چې د تاج محل ودانۍ ته نــږدې کېدلو، ښکلا نوره هم زیاتېدله. کله چې  د تاج محل د داخلي مرمرینې ودانۍ محوطې ته داخل شو، نو د دوو سوو مترو په واټن د اصلي ودانۍ شکل هم د ځمکې پرمخ او هم د هغې انځور د هغه اوږده حوض د اوبو په متن کې راڅرګند شو، چې د ودانۍ مخې تــه جــوړ شــوی و. دواړو خواوو ته مزین بوټي او شنه چمنونه وو. ښکلو ونو چې د ځینو عمر ډېر ښکارېده، د ودانۍ شاوخوا فضا نوره هم ښکلې کړې وه. د تاج محــل د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مرمرینـــې ودانـــۍ مخـــې تـــه پـــه زرګونـــو کســـان تاوېـــدل**



**راتاوېدل، چا عکسونه اخیستل، څوک ودانۍ ته ننوتل او څـوک تـرې راوتل.**


**زه (یون)، اجمل او اسدالله ساحل هم لومړی شاوخوا چمنوکې، د اوبو د حوض شاوخوا او د سوپو پر سر ښه ډېر وګرځېدلو، هر ځای کـې مـو یادګاري عکسونه واخیستل، بیا د اصلي ودانۍ پر لوري وخوځېـدو. د بوټانو د ایستلو لپاره ځانګړی ځای و، هغو کسانو چې د بوټانو د پوښلو لپاره ځانګړې کڅوړې لرلې، ضرور نه و چې هغوی دې بوټـان وباسـي، هغوی خپلو بوټونو ته پوښونه اچول او بیا ورننوتل، موږ دریـواړو خپـل بوټان، د بوټانو په ځانګړي ځای کې کېښودل، (۰۸۶) نـومره مـې پـه ټلېفون کې قید کړه، پر دخولي زینې ورپورته شو، لین کې ودرېدو، لین**

(c) ketabton.com: The Digital Library






ډېر اوږد و، مار پېچ په شان و، یوځل باید موږ له خروجي دروازې څخه په لیکه کې تر دخولي دروازې رسېدلي وای، بیـا بېرتــه تــر خروجــي




او کله چې بېرته دخولي ته رسېدلي وای، نو بیا زمــوږ د ننوتــو نوبــت

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رسېده، نږدې زر کسه به تر موږ دمخه وو. کله کله تر دې هم ګڼه ګونه زیاته وي او کله کله بیا ګڼه ګونه تر دې کمه وي او په اسانۍ سره خلکو ته نوبت ور رسېږي. سره له دې چې امنیتي پولیسو او د لین مسولینو وخت پر وخت لیکه برابروله، خو بیا هم یو نیم بهرني او خپله کورنیو کله کله بې نوبتي کوله او له بلې خوا به لین ته داخلېدل. موږ په لیکه کې دوه ځله د ودانۍ له بهرنۍ برخې تېر شو او د بیروني نقش ښه ننداره مو**




**وکړه، په تیږو کې یې د غاټولو په ګډون ډول ډول ګلان داسې نقاشي کړي وو چې ته وایې ګل ترې په لاس رابېل کړم؛ داسې ژوندي او مجسم ښکاري، د سپینو ډبرو ترمنځ چې کومه نازکه توره تیږه کارول شوې، ته فکر کوې چې دا یې تور رنګ کارولی دی، خو هغه د تورې تیږې توره لیکه ده. ټوله ودانۍ لکه د چرګې هګۍ داسې ښویې او شفافه ده. غټې**

(c) ketabton.com: The Digital Library







**او وړې ډبرې، لنډې او اوږدې ټولې يې په مناسب ډول کارولې، د تیـــړو کړکۍ یا اشدارې يې لا بل هنر دی چې په اوسني کمپيوټري عصر کـــې يې هم جوړونه اسانه نه ده، د ودانۍ برجونه لا بله ځانگړې ښکلا لري، ودانۍ څلور خواوو ته څلور دروازې لري؛ هرې خواته یوه دروازه، هر پلو ته چې ودرېږې همغه نما درکوي چې په بله خوا کې شته، بیا ددې ودانۍ شرق، غرب خواته یو ډول ودانۍ، سویل ته بل ډول او شمال ته يې سیند دی، خو خپله د تاج محل دې اصلي ودانۍ ته چې له هرې خوا داخـــل شې، همغه یو ډول شکل درکوي. تر ډېر انتظار وروسته موږ ته هم نوبت راورسېد، د ودانۍ داخل ته لاړو، د ودانۍ په داخل کې چـــې پـــه کـــوم**

(c) ketabton.com: The Digital Library




ظرافت کار شوی، بهرنۍ برخه د سړي له ياده وځي، خصوصاً هغه هـال




چې د (ممتاز محل) په نامه يادېږي او د شاه جهان مېرمن (ممتاز) په کې دفن ده، د هغې مقبره يې دومره ښکلې جوړه کړې چې د ژوندي سړي هم مرګ ته اشتياه راولي، دوه قبرونه څنګ په څنګ وو، يو د (ممتاز) او بل د (شاه جهان) و. د مرمرينو ډبرو يوه هکاکي شوې پنجره ترې راتاوه وه، تر هغې وروسته بيا د اوسپنې يوه بله ساتندويه (محافظتي) پنجره ترې راتاوه وه، غالباً چې دا ډېره وروسته ترې راتاوه شوې ده. د مقبرې داخل ته يو دروازه شته، ځينو خلکو ته دا مقبره اوس د يوه مقدس ځای حيثيت لري. په راغلو خلکو کې به ځينو پر پنجرې لاس راکاږه، بيا بـه يې په سترګو او شونډو موښه؛ مچوه به يې، موږ هلتـه څـو عکسـونه واخيستل، هر څومره چې هلته پاتېږې، پر ښکلا يې سړی نه مړېږي، بيا بېرته له خروجي لارې ووتو، خپل بوټان مو واخيستل، مخ قبلې لور ته

(c) ketabton.com: The Digital Library






ورغلو، هلته بیا یو ښکلې ودانۍ وه، یو مسجد هم په کې و، یو سړی راغی ځان یې موږ ته د مسجد امام معرفي کړ. ویل یې: ((که اودس کوئ هلته لاړ شئ)) مخې ته یې لاس ونیو، یو حوض و، هلته د اوداسه ځای و. په تاج محل کې د اوبو سیستم له پخوا څخه ډېر ښه جوړ شوی او دا اوس هم په همغه شکل پاتې دی. د تازه اوبو د بهېدو او د باران د اوبو د ویستو لپاره په کې ځانګړې لارې جوړې شوې دي. تر نورو ودانیو د تاج محل ښه والی دا و چې دلته ټولو ودانیو د تیږو ناوې درلودې، خو په یو شمېر نورو مغولي سټایل ودانیو کې د باران د اوبو د بهېدو لپاره له بامونو څخه د دېوالو پر سر یوازې سوري پرې ښودل شوي دي. پر خپل مرمرین ظرافت او ښکلا سربېره د تاج محل د معمارۍ یو بل کمال دا دی؛ ټول هغه تخنیکي نواقص چې د مغولي سټایل په نورو ودانیو کې شته او د هغو د خرابېدو سبب کېږي، په دې کمپلکس کې نه شته. البته

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ودانیو په تېره بیا د ځمکې د متن ځینو تیږو څه مرض کړی و، ځینې





خو یې د خلکو د ډېرې ګرځېدنې له امله ښویې شوې وې، ځینو رنګ بدل کړی و، ځینې زیړې شوي او ځینو پوټکي اچولي وو، د ودانۍ په ځینو ډبرو کې هم ځای نیم ځینې ډبرې رنځېدلې ښکارېدې، خو په مجموعي ډول ودانۍ ډېره مستحکمه ښکارېدله او دومره ښکلې وه چې د هر چا زړه یې راکښه، رښتیا هم دا د ښځې او مېړه د محبت سمبول دی. کله چې زه ددې ودانۍ دې ښکلا، شان او شوکت ته متوجه شوم او بیا د (شاه جهان) او (ممتاز) د محبت داستان ته، نو ماته د نړۍ د ستر ارواپوه (زیګموندفروید) نظریه په ذهن کې تداعي شوه. فروید وایي: ((ټول بشري پرمختګونه د بشر د جنسي غریزې نتیجه ده.)) هغه لکه د ځینو نورو پوهانو په شان شعر هم د جنسي غریزې د محرومیت نتیجه بولي. د فروید خبرې به په نورو برخو کې سمې وي که ناسمې، خو دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library






ماته ځکه پوره او کره ښکاري چې که   شاه جهان له خپلې مېرمن سره





د زړه له تله مینه نه درلودلای، نو خدای خبر چې دې ودانۍ ته یې زړه ښه کړی وای. انساني مینه د انساني غریزې تابع ده، البته دیني او الهي مینې تر دې غریزه یې مینې لوړې او مستثنی دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بله مسئله د مینې د صداقت مسئله ده، خدای پاک په طبیعت کـــې ډېر رازونه اچولي، یو راز همدا د صداقت او رښتینولۍ د انتقال مســاله ده. پخوا خلک نه پوهېدل چې د هوا په څپو کې غـــږ انتقــالېږي، خــو وروسته د تلگراف، ټلېفون، راډیو او ټلویزیون په جوړولو، بشر ددې راز پر کشف بریالی شو. دا چې ویل کېږي: ((یوه زړه نه بل ته لار وي او د زړه خبره زړه ته لاره کوي)) ساینس به دا هم یو وخت کشف کـړي. وایـــي: ((په اروپا کې یو وخت د منځنیو پېړیو د انځورگرۍ داسې یو کلاسیک**




**اثر ننداریې ته وړاندې شوی و، چې په یو ځل لیدو یې د هر چا زړه ته لاره کوله؛ ډېر زیات کشش یې درلود او ډېر زیات درد یې څرگنداوه. دا داسې یوه تابلو وه چې یوه مور د حرکت په حال کې ده او یوه ماشوم د هغـــې لمنه ټینگه نیولې او په سترگو کې یې اوښکې گرځي، مور که هر څومره هڅه کوي خو ماشوم د هغې لمن نه خوشې کوي.)) د تابلو ټــول درد د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مور او ماشوم په همدې عاطفي تړون کې راټول شوي و، هر چا چې به دا تابلو کتله نو تاثیر یې پرې کاوه. دا تابلو که څه هم ډېره زړه وه خو زړه راکښون یې زیات و. ډېرو معاصرو انځورګرانو ددې تابلو کاپي جوړه کړه**





**او د اوسني وخت ټول امکانات او رنګونه یې په کې وکارول، له همغې تابلوسره یې څنګ په څنګ ننداري ته کېښوده، خو هېڅکله یې هغه کشش پیدا نه کړ چې په اصلي تابلو کې و. شنونکي او ارواپوهان یې تشریح ته راوبلل چې ددې خبرې راز پیدا کړي.**

**یو اروا پوه وویل: ((د انځورګر ژوند لیک راته راوړئ!)) کله چې یې د انځورګر ژوند لیک ولوست، کیسه داسې وه چې په ډېر کوچنیتوب کې د مور د خوږې غېږې له نعمت څخه محروم او یسیر شوی و. اروا پوه وویل: ((دې انځورګر د مور د مینې د محرومیت ټول درد همدې تابلو ته انتقال کړی او دې نورو ورته تابلوګانو کې چې هغه درد نه شته، علت**

(c) ketabton.com: The Digital Library






**دادی چې ددې تابلوګانو دا انځورګران یسیران شوي نــه دي.)) نــو زه فکر کوم چې د تاج محل په ودانۍ کې چې د مینې کوم درد او خوند دی علت یې دادی چې ددې تر شا د یو غمجن داستان برخلیک پروت دی.**

**شاه جهان خو پاچا و، خپلې مېرمنې ته یې تاج محل جوړ کړ، خو هغه څوک چې نه تخت لري نه بخت او ژوند یې د قلم په وړانګو چلېږي، هغه خپلې معشوقې ته له شعر او د زړه له وینو پرته نور څه نه شي ورکولای، نو ځکه خو وایي:**

**د شاهانو ورکړه لعل او جواهر وي**

**د ادب د خاوندانـــو د زړه ویــنې**

**کله چې له تاج محل څخه راووتو، نو اسدالله ساحل او اجمل ته مــې وویل: ((تاج محل مو خوښ شو او که نه؟)) دوی وویــل: ((بالکــل ډېــر ښایسته دی.)) ما ویل دلته د دنیا ډېر لوی لوی شخصیتونه راځي، هر یو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چې راغلی نو تاج محل پرې خپل جادوګر تاثیر پرې ایښی دی. زه فکر کوم چې دې ودانۍ کې د ودانۍ پر ظاهري ښکلا سربېره یو باطني درد او راز هم شته، هغه د زړه درد او محبت دی، د دوو انسانانو تـرمنځ، دا درد او داستان ددې ودانۍ هر کتونکي ته انتقالېږي، نو ځکه پر هغـوی ژور تاثیر کوي. د امریکا جمهور رئیس بل کلنټن هم دلته راغلی و، د تاج محل تر لیدو وروسته یې د هند په پارلمان کې وینا لرله، کلنټن په خپلو خبرو کې وویل: ((اوس په نړۍ کې دوه طبقې خلک ژوند کوي.)) د هند پارلمان چې اکثره زړې ګرګې یې غړي دي، دې خبرې فکرمن کړل چې دوه طبقې خلک څه مانا؟ اوس خو کمونیزم هم له منځه تللای، طبقاتي مبارزه هم نه شته، د امریکا نظام هم پر طبقاتي مبارزې باور نه لري، هند**




**کې خو هسې هم درې طبقې خلک دي: ډېر ماړه، متوسط او ډېر غریب، موږ لا تر اوسه له دې درېو طبقو څخه دوو ته نه یو پورته شوي، البته د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هند حکومت عمومي پالیسي دا ده چې د لوړې او غریبې طبقې واټــن راکم کړي او منځنۍ طبقه زیاته کړي، کلنتن بیا وویل: ((اوس په دنیا کې دوه طبقې خلک ژوند کوي...)) دوی بیا حیران شول، خو په پــای کــې هغه وویل: ((یو هغه دي چې تاج محل یې لیدلی او بل هغه دي چې تاج محل یې نه دی لیدلی.)) دې خبرې نو د هند د پارلمان غړو ته ډېر خوند ورکړ او کلنتن یې په خپلو چکچکو سخت بدرګه کړ، نو اوس چې سړی فکر کوي د کلنتن خبره هم بې حکمته نه وه، ساحل وویل: ((رښتیا هم ډېره پخه خبره یې کړې ده.))**




**شاوخوا نور هم وګرځېدو، د راوتو پرمهال مې اجمل ته وویل: راشــه د اوبو پر سر چې د تاج محل کوم عکس ښکاري، دا عکاسي کړه، هغه چې عکس واخیست ویې ویل: ((دې ته د هېچا پام نه و، تر ټولو ښه عکــس**

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغی)) ما وویل: ((نورو هم دا عکسونه واخیستل، ډېر ښه طبیعي رنګ لري.))

تر هغه وروسته په خروجي دروازه کې زموږ ګروپ نیم راټول و، کله چې ټول راټول شول، بیا ځینو مشترک عکسونه واخیستل، تر هغه وروسته له تاج محله رابهر شو. کله چې بهر شو له وړو ماشومانو او ځوانانو سره د تاج محل ډول ډول نمونې (سمپلونه) وې، په لاسو کې یې نیولې وې او لکه زرکۍ درباندې نښتل، یوه یې ماته کلیبندونه ونیول چې هم کلیبند و او هم په کې د تاج محل وړوکی سمپل په وړه شیشه کې بند و، دانه یې سل روپۍ راته بیه کړ، ما ورته لس وویل، دی پنځوسو بیا دېرشو او په پای کې شلو ته راټیټ شو، ما ویل نه یې اخلم، په پای




کې په لسو راضي شو، څنګه چې یې خبره له خولې ووته، نو لس دانې مې ترې واخیستل، سل ګیز مې ورکړ، لږ چې وړاندې راغلو، بل رامنده

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کړه، همغه کليبندونه يې راته ونيول، ماته يې وويل: ((دانه په شل)) ما وويل په پنځه، ويل يې ((واخله)) ساحل او اجمل تيار ولاړ وو، څه چې ورسره وو هغه ترې دوی واخيستل، ټولو ويل دا خو والله ډېر ارزانه دي، يو څه به نور هم واخلو. ګورو چې زموږ ملګرو څخه هر چا څو څو دانې اخيستي، خو په بېلابېلو نرخونو، چا په لس، چا په شل، چا په دېرش، پر يوې کمبوديايي محصلې (وينډې) باندې خو يې دانه په دېرش کلدارې خرڅ کړی و.**

**لږ وړاندې چې راغلو يوه کوچنۍ ماشومه ولاړه وه، يوه بله غټه جلۍ هم ورسره وه،هغوی سره هم همدا سمپلونه وو، ما ويل په څو دي؟ غټې**




د دمي پرمهال

**وويل: ((دولس په پنځوس)) کوچنۍ وويل: ((ما څخه يې واخله)) غټې وويل: ((ماڅخه)) کوچنۍ باندې مې ډېر زړه درد وکړ، خپل ماشومان مې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**راپه یاد شول، ژر مې ترې واخیستل، پیسې مې ورکـړې، زښـته ډېـره خوشاله شوه، هغې بلې ځخه اجمل او ساحل واخیستل، د ټولو کار وشو، لږ چې وړاندې راغلو، موټر ته نږدې شو، یو بل کوچني ماشوم رامنـډه**



**کړه، کلیبندونه ورسره وو، ماته یې وویل: ((دا راځخه واخله!)) ما ویل په څو دي؟ ده وویل: ((۱۲په پنځوس روپۍ)) ما ویل ته یې وشمېره! ویـې شمېرل، یوولس وو. اهـ یې وکړ، وارخطا شو چې زه به یې ترې وانه خلم، لاس مې پرې کش کړ ما ویل خیر دی درځخه اخلم یې، پنځوس ګـون مې ورکړ، (۱۱) مې ترې واخیستل، ماشوم داسې خوشاله شو، لکه چې ټوله دنیا مې ورکړې وي، دا چې دی به څومره خوشاله شوی وي هغـه خو خدای(ج) او دی ډېر پوهېږي، دا چې زه پر دې دوو ماشومانو څومره خوشاله شوی یم او کله چې مې ددوی پر خوله خندا ولیده، دا نو چـې دې خندا ماته څومره خوند راکړی، هغه نه شم بیانولای؛ له تاج محلـه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې هم دومره خوند نــه دی اخیســتی، لکــه ددې دوو ماشــومانو لــه خوشالۍ څخه، دوی به څومره په ارام زړه نن ماښام خپل کور ته ستانه شوي وي، ډېر کوچنیان وو، ډېر معصوم وو.

شپږ نیمې بجې موټر کې کېناستو، پنځه دقیقې وروسته موټر حرکت وکړ، اوه بجې وې چې د (ګرېنډ هوټل) مخې ته کښته شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یوه شپه په ګرېنډ هوټل کې

**ګرېنډ هوټل (Grand Hotel) په اګره کې له هغو هوټلونو څخه یو دی چې له مېلمنو خالي نه وي، که څه هم اتاق او سرویس (خدمتونه) یې چندان ښه نه برېښېدل، خو ددې ځای په کچه په لومړیو نـه خـو پـه دویمه درجه هوټلونو کې راځي. کله چې د هوټل ریسپشن ته ورسېدو،**




**هرچاته یې خپله خونه معلومه کړه، د اسدالله ساحل او اجمل اتاق (۲۰۱) شو، زما او د ښاغلي فرهاد (بل افغان دی د کمپیوټر ګرافیـک کـورس لولي) (۲۰۲)شو.**

**کله چې اتاق ته راپورته شو، نور له حده باده وتي وو. زه ښه سـتړی وم، فرهاد ته مې وویل: ((زه خو تر ډوډۍ پورې یوه سترګه خوب کوم.))**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه وویل: ((مهرباني وکړه!)) یو لوی چپرکټ و چې پر دوو برخو وېشل شوی و، څرنګه چې یو نفري اتاقونه کم او یا هم کېدی شي قیمته وو، نو موږ ټولو ته یې د دوو کسانو لپاره یو یو اتاق نیولی و. زه چې ستړی وم نو ژر راباندې د خوب څپه راغله، یو سترګه خوب مې وکړ، فرهاد هم ویده شوی و.

زما لا خوب پوره نه و، چې اجمل دروازه ټک ټک کړه، راننوت، ویل یې: ((ویده یاستئ؟)) زه ویښ وم، ما ویل څنګه چل دی؟ ده وویل:




((هوټل والا مې راوست چې دا ټلویزیون درته جوړ کړي او بل اته بجې دي ځو ډوډۍ ته.))

ما ویل سمه ده، ټلویزیون یې جوړ کړ او ډوډۍ ته کښته شو، اکثره کسان راغلي وو، ډوډۍ مو راواخیسته، سرویس یې ډېر بد نه و، خو ډېر ښه هم نه و، پر یوه مېز کېناستو، ډوډۍ چې مو خلاصه کړه، نو (انجنیر نثار بخشي) راغی، هغه هم افغان دی، د پنجشېر دی او دلته په کمپیوټر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ګرافیک کورس کې درس وایي، نثار بخشي تقریباً د خوب په کالیو کې ښکارېده، ما وویل: ((څنګه چل دی انجنیر صیب! ځان دې لکه چې هغه کار... ته تیار کړی دی که څنګه؟)) هغه په خندا شو: ((والله نو په کابل کې خو څه نه شو کولای دلته خو څو ورځې ازاد وګرځو، وګوره دا**



**وېښتان مې هلته له شرمه نه شو رنګولای، دلته مې رنګ کړل، وګوره څنګه ځوان ښکارم؟)) ما ورته وویل: ((ته خو همداسې هم ځوان ښکارې وېښتان رنګولو ته دې څه حاجت دی؟)) ما رښتیا هم فکر کاوه چې دا یې د وېښتانو طبیعي رنګ دی، خو ده راته وویل: ((نه استاده رنګ مې کړل.)) ما وویل: ((خیر دی یوه ټوکه به درته وکړم.)) دوی ټول غوږ غوږ شول، ما وویل: ((په یوه کور کې یو سړی لږ شان زوړ و، خو ښځه یې تر ده ځوانه او غښتلې وه، ده به هر وخت خپل وېښتان او ږیره رنګول، چې ځان غښتلی او ځوان وښیي، یوه ورځ یې ښځه د کور په څه کار کې بنده وه، ده ته یې پر وخت تشناب کې د وېښتانو رنګولو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسباب نه وو برابر کړي، نو سړی ډېر په قهر شو، غږ یې کـړ: وه ښـځې چېرته ورکه یې؟ څه بلا دربانديې لګېدلې ده، چې دا شیان دې نـه دي راوړي؟ ښځې هم لږ جرئت وکړ، غږ یې کړ: وه سړیه خیر دی چې یـوه ورځ دې رنګ نه کړل، چاته ځان ښیې، زور دې ماته معلوم دی او عمـر دې خدای پاک ته، نو پاتې څوک دي چې ته ورته ځان ښیې؟)) دا خبره چې مې نثار بخشي ته وکړه نو ټول له خندا شنه شول، پر دې وخت له مدغاسکر څخه د اغلې (میریال) مور ته پام شو، زموږ څنګ ته راغلــه، ماته یې وویل: ((پروفیسور صیب ولې خاندې؟)) ما وویل: ((هســې دې نثار جان سره مې یوه ټوکه وکړه.)) دې وویل: ((ماته به یې هم کوې)) ما ویل دا خاص دده لپاره وه، دې بیا وویل ((نه ماته به یې هم ضرور کوې)) ما اسدساحل ته وویل: ((ورته ترجمه یې کړه)) هغه چې ورته ټوکه وکړه، ښځه له خندا شنه شوه، ما ورته وویل: ((ګــوره زه ولــې وېښــتان نــه رنګوم)) دې وویل: ((نو ستا زور خپلې مېرمنې ته معلوم دی)) ما وویل: ((البته، عمر مې خدای پاک ته.)) ښځې نور هم وخندل، ماته یې وویل: ((پروفیسور صیب څومره ټوکې دې زده دي، هره ورځ یوه نــوې ټوکــه درسره وي.)) له هغه ځایه په همدې ټوکو ټوکو کې راووتو، یــوه نــږدې دکان ته لاړو، لږې اوبه، د غاښونو بورس او د ږیرې خریولو یوځل مصرف ماشین مو واخیستل. بېرته اتاق ته راغلو، لومړی فرهاد خپل دســمال اوار کړ، لمونځ یې وکړ، بیا ما د هغه پر دسمال لمونځ وکړ، ده خوب تــه پناه یوړه ما ورته وار له مخه وویل چې زه د نن ورځې یادښتونه لیکم، ده وویل: ((زه ستړی یم خوب کوم.)) دادی اوس د شپې دولس نیمې بجې دي چې زه له یادښت لیکلو څخه خلاص شوم او فرهاد په مست خوب ویده دی او خرهاری یې خېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د سهار پر اوو بجو او پنځه لسو دقیقو د چای لپاره لاړو، سهارنۍ یې**



یون او اجمل د سهار چای پرمهال

**هم ساده غوندې وه، پنځه لس شل دقیقو کې مو چای وڅښنه، بېرته چې د اتاق پر لوري وخوځېدو، له لرې په دهلېز کې (لوک پراساد) (د نیپال یو محصل) غږ کړ: ((های پروفیسور یـون!)) لـوک لـوک! (دې خواتـه وګوره) هلته چې مې وکتل دوه روسۍ محصلینې یوه (تاتیانـا) او بلـه (مرینا) پر نڅا بوختې دي او افغاني اتڼ ته ورته نڅا کوي، یوه سندره هم ورسره زمزمه کوي، زه خپل اتاق ته لاړم، خپل کالي مالي مې سره راټول کړل. تر هغه وروسته د ساحل او اجمل اتاق ته چې زموږ له اتـاق سـره همځنګ و، لاړم، ځان مو تیار کړ، پنځه کم اته بجې رسپشن ته لاړو، د سفر اکثره ملګري همدلته راټول شوي وو،اته بجې او پنځه دقیقې وې چې له هوټله ووتو او موټر کې کېناستو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له اګرې نه تر جیپوره

**شل دقیقې په موټر کې منتظر شو، تر څو چې ټول منظم او راټـول شو، اته بجې او پنځه ویشت دقیقې وې چې د جیپور پر لوري مو حرکت وکړ.**


له اګرې تر جیپوره د سفر پرمهال


**په اګره ښار کې د هغې له ښکلا سره سره د خوشیو او چټلیو زیـاتوالی هم له ورایه ښکارېده، (کارټېک) د سفر په هکله لنډ معلومات ورکړل، ویې ویل: ((یوولس بجې به یو چېرته تم کېږو، خو که سړکونه خلاص وو کېدی شي یوه بجه جیپور ته ورسېږو.)) له ډیلي نه تر اګرې او بیا دادی اوس چې له اګرې نه د وتو په حال کې یو، د هندوستان دا برخه ټوله د یوه باغ حیثیت لري؛ شنه او اباده ده، خو چټلي هم په کې پرېمانه ده، د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نفوسو تراکم، مالداري او کاروبار په کې ډېر زيات دي. د اګرې ښار لـه منځه جيپور ته (۲۳۶) کيلو متره لاره ده.

د اګرې ښار بنسټ د (سکندر لودي) له خوا ايښــودل شــوی دی، د (سکندرې) ښکلې ودانۍ ددې ځای په تاريخي ودانيو کې مهمه ودانۍ ګڼل کېږي.




سکندر لودي د سلطان بهلول لودي زوی دی چې د (۱۴۸۹م) کال د جولای پر (۱۷مه) نېټه زېږېدلای او د (۱۵۱۷م) کال د نومبر پر (۲۱) مه نېټه وفات شوی او د ډيلي د لودي ګارډن په سيمه کې دفن شوی دی. د سکندر لودي عصر په هند کې د تمدن او ترقۍ يوه ښه زمانــه وه. ده د نورو اباديو ترڅنګ پر (۱۵۰۳م) کال د اګرې ښار بنسټ کېښود.

په اګره کې د ترافيکو غرفې، چې په افغانستان کې اکثره فلزي او يا کانکرېټي وي، په دې ښار کې يې له سرو غرنيو ډبرو څخه په ډېر ظرافت جوړې کړې دي. کلالي لوښي هم په اګره کې پرېمانه جوړېږي. په اګــره

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کې بېلابېل مذهبونه سره څنګ پــه څنــګ ژونــد کــوي، (مســجد)، (درمسال)، (ګوردواره) (کلیسا) او (مندر) کوڅه په کوڅه شته. له اګرې چې راووتو، نو څو فامیلۍ مخې ته راغلې چې د ښار د کورونو په انډول پاکې وې، له ښاره لرې وتې ساحې د ښار په انډول ډېرې پاکې وې، د لارې په اوږدو کې پر دېوالونو دومره شعارونه، پوسترونه او رنګونه وهل شوي وو چې دېوالونو خپل اصلي رنګ بایلولی و، دا د هند د ورځني سیاسي او تجارتي کلتور یوه برخه ده چې اوس یې افغانستان ته هم لاره کــړې ده. په هر ځای کې د خوشیو موجودیت کېدی شي د ډېرې مالدارۍ او د**




**هغو د اقتصادي ګټې له وجې وي. څومره چې له ښاره لرې کېدو شــنه ساحه زیاتېدله او پراخېدله، د سترګو په لیدو سره ټوله ساحه شــنه او اواره وه، اوس چې د غنمو موسم و، نو اکثرو ځمکو کې شنه غــنم ولاړ وو، د شړشمو ګلانو د سیمې ښکلا لاپسې زیاته کړې وه، خو ځای ځای**

(c) ketabton.com: The Digital Library



به چې د سړک پر سر لوی او واړه بازارونه راغلل، چټلي به ورسره هم له ورايه ښکاره شوه.

دلته د هند په ځينو سيمو کې حکومت ښه دی، عمومي پروژې يې جوړې کړي، خو د ښارونو په تېره بيا د لرې پرتو ښارونو خلک لکه چې په پاکۍ کې له حکومت سره دومره مرسته نه کوي، اکثره ښارونه په نامنظم ډول پراخ شوي دي. د اګرې- جيپور عمومي لاره ښه جوړه شوې، دوه طرفه، هره خوا کې دوه دوه موټره پر يوه وخت حرکت کولای شي، منځ کې ګلدان دی چې ځينې برخې يې شنې خو ځينې يې شنې نه دي، دا شېبه مې ساعت کې نهه بجې او پنځه لس دقيقې دي، پر ما د خوب يوه څپه راغله...

شل کم لس بجې يې د لسو دقيقو لپاره موټر ودروه، ځينو خلکو څه




ستونزه لرله، بېرته يې حرکت وکړ. پنځه دقيقې وروسته د (راجستان) ساحې ته داخل شو، موټر ودرېده چې ټکس ورکړي، دلته قانون دادی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د یوه ایالت موټر چې بل ایالت ته داخلېږي، په تېره بیا توریستي موټر باید همغه ایالت ته ځانګړی ټکس ورکړي.

تر هغه وروسته کله کله راباندې د خوب یوه څپه راتله، اوس چې یوولس بجې دي تر دې دمه چې موږ د سترګو په لید سره کومه ساحه ګورو، ټوله اواره، ټوله شنه، اباده، په ونو او غنمو پوښلې ده، سړک یې هم په ځینو ځایونو کې پر نړیوال معیار برابر دی. تر ډیلي - اګرې سړک او ساحې دا سړک او ساحه ښکلې او پاک دي. په شینوالي کې له اروپا سره سیالي کولای شي، خو په پاکۍ کې نه.




اوس پر لاره یو نیم ځای کې غونډۍ هم راڅرګندې شوې، هغه د سرو ډبرو له کانو څخه یو یې چې په ټول هندوستان کې یې ډبرې کارېږي، هغه هم دادی راڅرګند شو. پاو باندې یوولس بجې وې چې د رومس میډوې (Rooms Midway) په تمځې کې د لنډ استراحت لپاره تم شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ښکلی او پاک ځای و، د بهرنیانو لپاره یې د شیانو خــرڅلاو مغــازې درلودې، رستورانټ یې هم درلود، تشنابونه یې هم پاک وو، خو په دې ځای کې هم شیان د اور په بیه خرڅېدل.

د رستورانټ مخې ته د یو نیم جریب ځمکې په مساحت یــو شــین چمن و، څوکۍ او زانګوګانې په کې ایښې وې او خلکو پــه کــې خپــل تصویرونه اخیستل. نږدې شل دقیقې دلته پاتې شو، هرڅومره ســاحه




چې دې لیدله اباده او شنه ښکارېده، خو په هند کې یو ډول ګــرد وي چې نه درته شین اسمان ښکاري او نه هم ډېرې لرې ســاحې. پــه دې ځای کې له یو کاناډایي سره هم مخ شو، هغه هم له خپل موټره راکښته شوی و، ځان یې موږ ته معرفي کړ، موږ هم ځانونه ورته معرفي کړل. ویې ویل: ((افغانستان کې زموږ عسکر مېشته دي.)) ما وویل: ((هو! خدای دې ورته سرته خیر کوي.)) یو یادګاري عکس یې موږ سره واخیســت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پنځه کم دولس بجې موټر ته پورته شو، لږه شېبه وروسته موټر حرکت وکړ.**

**دا لاره ټوله اباده او ښکلې وه، خو په یو ځای کې د پنځو کیلو مترو په واټــن د ســړک دواړو غــاړو تــه د ډبــرو د توږلــو فــابریکې وې**



یون په رومس مېله وې تمځې کې د یادښت لیکلو پرمهال

**چې له ډبرو څخه یې ډېر ښکلي ښکلي شیان جوړول. سرې ډبرې پــه کې تر ټولو زیاتې وې او د ډول ډول ګونبدو ډیزاینونه یې د ببلګــو پــه توګه ایښي وو. د ډبرو صنعت رښتیا هم له ورایه ښکارېده، چې دلته ډېر لرغونی دی او اوس نور هم د لاپرمختګ په حال کې دی. په ځینو برخو کې د سړک منځ ګلدان کې سرې ډبرې، چې په ښه ډول تــوږل شــوې وې، ودرول شوې وې، سړک ته یې ډېره ښکلا ورکړې وه. په موټر کې ما او ساحل د (مدغاسکر)، (ارمنستان) او (منګولیا) له څو تنو محصلینو سره هم خبرې وکړې، ډېرې خبرې مو د ژبو د کورنیو او مشترکاتو په اړه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



راڅرخېدي. جیپور ته چې نږدې شو، نو په لاره کې لړ لــړ غرونــه هــم راڅرګند شول، ډېر جګ نه وو د کابل د اسمایي غره په کچه به لوړ وو.



د رومس مېلهوي تمځی

ماته خو داسې ښکاره شوه چې د (اګرې- جیپور) سړک یا نــوی جــوړ شوی یا له سره نوی رغول شوی، ځکه چې تر دې دمه پورې په ســړک کې کوم عیب ونه لیدل شو. پر ستېنډرډ برابر و، درې ځایه د ټکس لپاره دروازې وې، له هر موټر څخه ټکس اخیستل کېده، ســړک یــې اکثــره ځایونو کې ډېر مستقیم و، په یو نیم ځای کې یې میلان هم درلود. داغ ماغ په کې نه و. یوه بجه او پنځه ویشت دقیقې وې چې جیپور ښار تــه ورسېدو، تر دې دمه مو چې د جیپور ښار کومې برخې تر نظر شوې تــر (اګرې) ښار پاک راښکاره شو، خو په ښار کې د دېوالونو تر غاړو او نورو ځایونو کې د تش او ډک معذرت رفع کول، دواړو ښارونو کې یو شان و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لاره کې د یو بازار له منځه تېر شو چــې ډېــرې تــاریخي ودانــۍ




په کې وې، خو داسې ښکارېده چې ساتنې ته یې پاملرنه نه کېده.

د ښار په یوه برخه کې د ماسپښــین د لمانځــه د اذان اواز رابانــدې ولګېده، دې څخه معلومه شوه چې په جیپور ښار کې مسلمانان څرګند حضور لري، وخت پاوکم دوه بجې دي. په جیپــور کــې خلکــو ځینــې تاریخي ودانۍ داسې راتوږلي او شاوخوا ته یې خپل کورونه په کې جوړ کړي، لکه د کابل بالاحصار، کاسه برج او نورو برخو کې چې خلکــو پــر تاریخي ځایونو خپل کورونه جوړ کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# امبر کلا

## (Amber Fort)

**کله چې جیپور ښار ته راورسېدو، نو موټر یې په ښار کې ونه دراوه؛ راساً مو د (امبر کلا) پر لوري حرکت وکړ. د ښار په منځ کې د فیلانو یوه قافله له ډول او سورني سره تېره شوه، ناوې یې په ډولۍ کې پر فیل**




**کېنولې وه، د لرغونو ودونو تداعي یې کوله، ښځې او نر ورپسې روان وو، په جیپور کې هم له اوښګاډو څخه کار اخیستل کېده. د هند هر ښار لکه د یو هېواد پایتخت هومره نفوس لري. همدومره پراخ هم دي، خو اکثره ښارونه او ښارګوټي یې ډېر ګډ وډ جوړ شوي، زیاتره ښارونه هم د نفوس او هم د مساحت له پلوه تر کابله لوی ښکاري، جیپور هم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**همداسې درواخله. جیپور (۳.۵) ملیونه نفوس لري، خو مساحت یې د نفوسو په انډول زیات نه دی. جیپور د راجستان ایالت مرکــز دی. اوس دوه بجې شوې چې لا هم موږ په جیپور ښار کې خپل ټاکلي ځای ته نه یو رسېدلي، دا مهال په جیپور کې د یوه ډنډ غاړې ته ورسېدو، د کابل د (کرغې بند) پنځه برابره به وي. ښه تفریح ځایونه یې په کې جوړ کــړي**




**دي. له دې بنده چې تېر شو شاته یې په ونو پوښلې جګې غونډۍ وې. پر یوې غونډۍ جګ غزېدلی دېوال راښکاره شو، له ډېرو جوړ و، له لرې د چین دېوال په شان ښکارېده. له دېواله د غونډیو منځ کې تېــر شــو، مخې ته د غونډۍ پر سر یو څو نورې تاریخي ودانۍ راڅرګندې شــوې، عیناً لکه د کابل بالاحصار ، دې ځای ته (امبر فورټ) یا امبر کلا وایــي. دلته یې کښته کړو، شپږ شپږ تنه یې په جیپ موټر کې کېنولو، راته یې وویل: ((د موټر نمبر له یاده ونه باسئ)) زموږ د موټر نمبر (۰۰۲۱) و. یو تن**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لاربنود يې راسره کېناوه، موټروان هم په خته پټان و، ځان يې معرفـي کړ: ((عزيزخان يم، خو غټ خان نه يم وړوکی خان يم، غټ خانان خـو اصلاً د کابل دي...)) په لسګونو جيپان ولاړ وو. پر يوه زاړه سـړک يـې پورته کړو، دا سړک څلور سوه کاله مخکې جوړ شوی و، پـه تيـرږو يـې پوښلی و.**



**يوې ډېرې تاريخي کلا ته وردننه شو، پر غره غځېدلی دېوال (۱۱) کيلو متره اوږد و، د هند د هغه وخت د يوه محلي واکمن له خوا جوړ شوی، دی يو قبايلي مشر و، (مهاراجا سنګ) نومېده، دا وخت د (اکبر پاچا) د واکمنۍ له مهال سره نږدې مهال و، مهاراجا سنګ په ډيلي کې د هند له مغولي معمارۍ څخه ډېر متاثر شوی و، نو ځکه يـې دلتـه لـه مغـولي معمارۍ څخه کار واخيسته. دلته سړی د هندي او مغولي کلتور يو ګډ حالت ويني. مهاراجاسنګ دلته (۱۲) کاله و، خو دا دېوال ټول په (۲۵) کلونو کې جوړ شوی دی. دننه کلا پر (۱۵۹۲م) کال د من سنګ ( Man singh) له خوا پيل شوې ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په رښتیا سره چې پر دې ودانـــۍ هــم ډېــر زحمــت ایســتل شــوی




یون او ملګري یې د امبر کلا دننه

دی، (څلور څلورنیم سوه) کاله وړاندې د دا ډول ودانیو جوړول اســانه کار نه و، عجیبه خبره خو داده چې پــه دې ټولــو ودانیــو کــې د اوبــو سیستمونه، (راتګ او تګ) دواړه په پام کې نیول شوي دي، خو د اوبو د ایستلو او د باران د اوبو لپاره یې لکه د (تاج محل) په شان ډبریني ناوې نه درلودې، دهلېزونو ته داسې ډبریني کړکۍ په پام کې نیول شوي چې رڼا او هوا ترې داخلېدی شي، خو د لمر وړانګې ترې نه شي داخلېدی. د ضرورت لپاره په کې ځای ځای د اوسپنې کړکۍ هم ټکوهل شــوې وې، له دې څخه ښکارېده چې هغه وخت د اوسپنې صنعت پــوره مــروج و، ځای نیم یې په تیرو کې داسې سیخان تېر کړي وو چې یوه کړکۍ یې له بلې سره نښلوله. امبر کلا ډېره لویه وه، د ودانیو یوه مجموعه پــه کــې راټوله وه. تر (شل کم څلورو بجو) پورې مو د ودانیو اکثره برخې وکتلې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تر څلورو شل تېرې وې چې موټر حرکت وکړ. د دومره وخت په بهیر کې مو د امبر کلا د اساسي کمپلکس مهمې ودانۍ وکتلې، خو دا کلا چـــې غځېدلو دېوالونو یې په مجموعي ډول یوولس کیلو متره ساحه احاطــه**





**کړې او ځای ځای په کې د غونډیو پر سر د ډول ډول ودانیو یوه مجتمع ودانه ده، د ټولو لیدل د یوې ورځې کار نه دی، لږ تر لږه یوه اوونۍ وخت غواړي چې سړی د دې ساحې ټولې ودانۍ له نظره تېرې کړي.**

**کله چې بېرته راوګرځېدو، نو بیا چپ لاس ته همغه د اوبو ځای راغی چې دا هم د همغه مهاراجا له خوا جوړ شوی او اوبه یې کنټرول کـــړې دي. یوه ښکلې ودانۍ یې هم په کې جوړه کړې ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلور نیمې بجې ریل ټرېټ (Reayal Treat) هوټل ته ورسېدو، په**



**موټر کې یې اعلان وکړ چې دلته د بوفې سیستم دی او تاسې کولای شئ خپل فرمایش هم ورکړئ! د بوفې سیستم کې (۲۵۰) کلدارې لګېږي او هغه بل کې کېدی شي زیات یا کم شي. تر پنځو بجو پورې مو ډوډۍ وخوړه، له بوفې سیستم نه مو ګټه پورته کړه، د اوبو په شمول زما د (یون)، ساحل او اجمل (څه کم اته سوه کلدارې) شوې. تر هغه وروسته مو په دکان کې یوه یوه پیپسي واخیستله، تر لږ دمې وروسته موټر ته پورته شو، خو موټر ته تر ختلو مخکې څلور پنځه واړه ماشومان او یو دوه خیراتخورې مېرمنې مو هم بېنوا پرې نښودل، موږ سره خو ټول بهرنیان وو، خو په اکثرو بهرنیانو کې د خیرات ورکولو کلتور نه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شته، افغانانو ته خدای لوی زړه ورکړی دی. خیراتخورو ته مو یـو څـه ورکړل، دا وخت ماته د یوه انگرېز هغه خبره رایاده شوه چې یوه افغان**

ساحل او یون په امبرکلا کې د یو شمېر هندي کارګرو مېرمنو مخې ته!



**ته یې په لندن کې کړې وه، هغه ویلي وو: (( افغانان تر انگرېزانو ډېـرې زیاتې پیسې لري، زیات پانگوال دي.)) افغان ورته ویلي وو: ((نـه بابـا افغانان غریب خلک دي.)) انگرېز ورته بېرته غبرگه کړې وه: ((تـا پـه لندن کې له وزیره نیولې تر عادي ماموره، له پانگواله نیولې تر غریبـه داسې څوک لیدلي چې په لاره کې ودرېږي او ماشوم یا کوم غریب تـه پیسې ورکړي؟)) افغان ورته ویلي وو: ((نه!)) نو بیا انگرېز ورته غبرگـه کړې وه: ((زه افغانستان ته تللی وم، هلته چې به کوم مشر یـا ځـوان چېرته کوم ماشوم ولید نو جیب ته به یې لاس کړ، پیسې به یـې ورتـه ورکړې، داسې پېښه ما تر اوسه په انگلستان کې نه ده لیدلې...))**

(c) ketabton.com: The Digital Library




**پر کشرانو شفقت او پر غریبانو مهرباني زموږ د کلتور یوه برخه ده.**

**چې ګټل خوړل ښنبل کا ځوان هغه**

**چې توره لري د تــورې خان هــغه**

**(خوشال بابا)**

**پاوکم شپږ بجې موټر حرکت وکړ، مسول کس اعلان وکړ چې نن بل**




**ځای ته نه ځو، ښار کې مارکېټ ته ځو، که څوک څه اخلي، نور ځایونه به سبا وګورو. دا دولتي مارکېټ دی، قیمتونه یې لوړ دي خو ټیک دي.**

**دا دولتي مارکېټ (راجستان مارکېټ) نومېده چې هر څــه پــه کــې میلاوېدل، قیمتونه یې هم مناسب وو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**موږ هم په کې څه ناڅه سودا وکړه او د ټولګیوالو له جملې څخه مو**



یون او اجمل په راجستان مارکېټ کې

**هم یو نیم ته یو څه ډالۍ واخیستلې.**

**لس کم اوه بجې په موټر کې کېناستو او موټر د هغه هوټل پر لــوري، چې موږ ته یې د شپې لپاره ریزرف کړی و، حرکت وکړ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یوه شپه په جیپور پېلس هوټل کې

ترنیم ساعت مزله وروسته جیپور پــېلس هوټــل ( Jaipur Palace Hotel) هوټل ته ورسېدو، شل کم اوه بجې وې. د هوټل په رسپشن کې نږدې نیم ساعت پر څوکیو ناست وو، چې کارټېک (د کــورس یــو تــن مسول) اعلان وکړ: ((د ډوډۍ ټایم له اته نیمو څخه تر لس نیمــو بجــو




پورې دی.)) ما ویل څه ښه ده لږه دمه به وکړو. د تېرې شپې په شان بیا یو اتاق دوو کسانو ته ورکړل شو، وېش هم د تېرې شپې په شان و، زه او فرهاد په یو، اجمل او ساحل په بل اتاق کې شولو، زموږ اتاق (۱۰۷) او د اجمل او ساحل (۱۰۵) و. دا هوټل تر (اګرې ګرېنډ) هوټله ډېر لوکس و، څلور ستوریز و، د دوبۍ له ځینو هوټلونو سره یې سیالي کولای شــوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کله چې زه او فرهاد اتاق ته لاړو، نو پر ما د خوب څپه راغلــه، زه څــو شېبې ویده شوم، لږ وروسته اجمل او ساحل اتاق ته راننوتل، ساعت (۹) بجې و، هغوی وویل: ((ډوډۍ ته ځو.)) ډوډۍ ته لاړو، ډوډۍ یې د هغــه بل هوټل ریل ټرېټ (Reayal Treat) په شان لوکسه نــه وه او یــا هــم**



په جیپور پیلس هوټل کې د ماسخوتن د ډوډۍ پرمهال

**کېدی شي موږ ماړه وو، ځکه یې ډېر خوند ونه کړ. د ماسپښــین ډوډۍ مو ډېره ناوخته خوړلې وه، هغه هوټل لوکس نه و، خو خوراک یې مزه دار و. دا بیا بر عکس و. کله چې ډوډۍ ته کښته شو اجمل وویــل: ((زه پــر ځینو کسانو لږ چل کوم.)) خبره دا وه چې له موږ سره د کورس د ادارې په قرارداد کې دا شامل وو چې د غرمې ډوډۍ به د هر چا خپله وي، خو د شپې ډوډۍ او سهارنۍ به مو پر (اپټېک کــورس) وي. اجمــل ځینــو کسانو ته وویل: ((له اپټېک څخه ماته زنګ راغلی و چې ټولو تهووایــه پنځه سوه کلدارې د ډوډۍ قیمــت دی، هــر څــوک یــې بایــد خپلــه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړي...)) د ځینو زړو ته دا خبره پرېوته، یو بل نه یې پوښتنه وکړه، دا




سمه ده؟ ځینو به وویل: ((اجمل ګپ لګوي، دروغ وایي)) خو اجمل په ټوکو ټوکو ځینې خلک وارخطا کړل، خو وروسته اکثره پوه شول چې دی هسې ګپ لګوي، بیا یې ځینو ځوانانو ته وویل: ((اپټېک وویل چې ډوډۍ په پیسو شوه نو مساج مفت شو.)) د مساج پوښتنه خو په همغه لومړۍ شېبه کې ځینو له رسپشن څخه وکړه، په حقیقت کې مساج هېڅ نه و. ډوډۍ مو په ګپ ګپ کې وخوړه، زه (یون)، اجمل او ساحل له هوټله باندې ووتو، څو قدمه اخوا دېخوا لاړو، د هوټل ترڅنګ پر تازه مېوې برابر شو، یوځای کې درې ځوانان ګډ ناست وو، مورږ پوښتنه وکړه.. (ناریال شته؟) هغوی سملاسي له هغه بل دکان څخه راوړ، دا لومړی ځل و چې مورږ ناریال اخلو، ځینو خلکو یې مورږ ته ډېر صفت کړی و، چې ډېره قوي مېوه ده. ډېر ژر یې پرې چاړه راتېره کړه، مورږ وویل: ((نه اول

(c) ketabton.com: The Digital Library






يې قيمت ووايه)) تر دې مخکې دوی مور ته وويل: ((د کوم ځای یاستئ؟)) مور وويل: ((د افغانستان. افغانان يو، پټانان يو، خانان يو.)) ډېر زيات احترام يې وکړ، نور يې ناريال غوڅ کړ،




ويل يې: ((هېڅ پيسې نه اخلو.)) مور وويل: ((ژر يې قيمت ووايه!)) ويل

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې: ((لس کلدارې)) درې دانې يې راوړل، رښتيا هم د وړې هندوانې په کچه و، تقريباً د يوې پيپسي په اندازه اوبه به په کې وې، خوند يې وکړ، د نارنج جوس ته ورته وو. ډېر خوندور وو، اجمل پنځوس روپــۍ ورکــړې، دوی شل بېرته ورکړې، موږ ويل نه دا هم ستاسو شوې، يو خپــل نــوم (جنت)، بل (شاکر) او بل هم څه بل نوم ياد کړ. درېواړه مســلمانان وو،




يادګاري عکسونه مو ورسره واخيستل، ډېره زياته مينه يــې وښــوده، داسې لکه ورک عزيزان چې يو بل سره پيدا کړي. بېرته هوټل ته راغلو، څو شېبې په رسپشن کې کېناستو، يوې اندونيزيايي جلۍ له موږ څخه د افغانستان په اړه څو پوښتنې وکړې، موږ معلومات ورکړل او تر هغــه وروسته اتاق ته پورته شو، دغه يادښت مې پوره کړ، اوس د شپې يوولس بجې دي او تر لمانځه وروسته د خوب پر لوري حرکت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سبا ناری په جیپور پېلس کې

د هوټلوالو عادت وي چې سهار وختي د ګوډمارننګ ( Good morning) په نامه درته زنګ وهي، مانا ویښ شه چې ویده پاتې




اجمل د جیپور پېلس هوټل مخې ته

نه شې، ځینې خلک اکثره پر همدې وخت له هوټله وځي، خو دوی د میرزایانو په اصطلاح پر ټولو (متحدالمال) غږ کوي. شپږ بجې ټلېفون راغی، فرهاد غوږی پورته کړه (Good morning) اواز راغی، زه هم ویښ شوم، فرهاد هم، څو شیبې وروسته فرهاد بهرته د سپورت لپاره لاړ او ما په تشناب کې پر ځان اوبه تېرې کړې، لمونځ مې وکړ، بېرته په کټ کې څملاستم، اته بجې چای ته کښته شولو، تر اته نیمو بجو پورې له چای څخه خلاص شو، چای مو وڅښه، ډېر خوندور نه و، خو تر ماښامنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library







ډوډۍ يو څه ښه و، پنځه ويشت کم نهه بجې موټر ته پورته شو. هوا هم ډېره ښه وه. موټر د (جنتر منتر) پر لوري حرکت وکړ، دا چې جنتر منتر څه شی دی، زه خپله هم تر دې دمه نه پوهېږم، يوازې د (مــداريانو) د يوې اصطلاح په توګه مې اورېدلی دی، هلته به يې وګورو چې جنتر منتر څه ته وايي؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جنتر منتر

پر لاره په موټر کې لاربښود د (راجستان) مانا هم وکړه، ویې ویل: ((راجا، پاچا ته وايي (ستان) د ځای په مانا دی. راجستان مانا د راجاګانو وطن.)) (ستان) روستاړی د ډېرو هېوادونو په نومونو کې راځي، لکه




د جیپور ښار یو واټ

افغانستان، هندوستان، پاکستان، تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان، قزاقستان او نور، ځینې خلک فکر کوي چې (ستان) روستاړی په دري ژبې پورې اړه لري، خو (پوهاند ډاکتر مجاور احمد زیار) په دې نظر دی چې (ستان) تر پښتو او دري دمخه په (اوستا) او (سانسکریت) کې راغلی، وروسته یې دري کې د (ستان) او پښتو کې د (ستون) بڼه غوره کړې، د (ستون) بڼه یې د اوستا او سانسکرېت لومړني شکل ته ډېره

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړدې ده. په پښتو کې اوس د مېلمنو خونې ته (مېلمستون) وايي، يانې د مېلمنو ځای، مړستون (د قبرستان لپاره)، (بړستن) چې د اغوســتو وسیله ده، په دې کې هم د (ستان او ستون) زړی شته خو یو څه بدلون یې کړی دی. ددې ترڅنګ داسې ډېرې نورې کلمې دي چې (ستون) یا (ستان) په کې کارول شوی، نو په دې خاطر پښتو ژبې د دې کلمې هغه اصلي ریښه ښه ساتلې چې سانسکرېټ او اوستا ته نږدې ده.



د جیپور ښار یو بل عمومي واټ

(جیپور) په نړۍ کې د ډېرو لرغونو ښارونو له جملې څخه دی، البتــه د رنګ له پلوه دغه ښار ته (Pink city) (رنګین ښار) هم وايي. له تاریخي پلوه تر (روم) وروسته دویم دی. د ښار پر یو زوړ واټ یې بوتلو چې پــه سلګونو دکانونه په کې وو او ډېر تاریخي ارزښت یې درلود. د دې بــازار ځینو ودانیو وړې وړې کړکۍ لرلې . دا هغه بازار و چې ویل کېږي د مغولو د یو واکمن د واک پر مهال پر ښځو سخت بندیز و، دوی حق نه درلــود

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې بازار ته لاړې شي. دا بازار يې په داسې ډول جوړ کړ چې ښځې د




د جیپور ښار د مغولي پېر یوه ودانۍ

دویم پوړ له کړکیو د بازار ننداره کولای شي، خو بازار ته د کښته کېدو او هلته د ګرځېدو اجازه نه لري. کړکۍ په داسې ډول جوړې شوې وې چې له بهره څوک په کې څوک نه شي لیدلای، خو له دې ځایه بهر کې خلک ښکاري.

مخکې تر دې چې (جنتر منتر) ته لاړ شو لومړی يې (ستي پېلس) ته یوړو. جنتر منتر ته هم له همدې ځایه لاره تللې ده.

(ستي پېلس) ددې ښار یوه اساسي برخه ده، په دې ځای کې یو څو تاریخي ودانۍ وې، تر هغو چې تېر شو یو لوی تعمیر ته يې وردننه کړو، د شل جریبو په اندازه به و، دې ځای ته يې (جنتر منتر) ویلې، موږ ته يې نوم ډېر جالب ښکارېده، خو چې دننه لاړو، یوازې د وخت معلومولو، د لمر او ځمکې حرکت او د ستورو لیدلو د پخوانیو سیستمونو د مــوزیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



حیثیــت یــې درلــود؛ اکثــره نجــومي علــوم پــه کــې وو، خــو




سېږي ته يې دا تداعي کوله چې ننني علومو څومره مزل وهلای دی.

دا مرکز پر (۱۷۲۸م) کال د مهاراجــا جــايي ســنګ ( Mahraja jai singh) له خوا ډيزاين شوی و.

د وخت معلومول، د هوا د درجې تثبيت، د مرکزي او سيمه ييز وخت ټاکنه او د ستورو ګردښت په دې ځای کې معلومېدل، ياني له دې مرکز څخه د علمي او څېړنيزو کارونو لپاره کار اخيســتل کېــده. دا چــې د (جنتر منتر) اصطلاح ولې د مدارياني د ترمينالوژۍ يوه برخه شوه، علت يې شايد همدا وي چې په دې ځای کې هم مهارت دی او د مدارياني په کارونو کې هم له ډېرو مهارتونو کار اخيستل کېږي.

څوک چې له نجومي علومو سره مينه لري، ددې ځای ليدل ورته ګټه لري، خو د عامو سيلانيانو لپاره دومره په زړه پورې نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې له جنتر منتر څخه راووتو، نو د (مهاراجا لیوي من سـنګ)




موزیم ته چې په (ستي پېلس) کې موقعیت لري، لاړو.

لومړی یوځای ته چې (مبارک محل) نومېده، لاړو، په (مبارک محل) کې د پاچا د شخصي ژوند اثار، د ښځو او نرو جامې او د کورونو نور لوازم ایښي وو. مبارک محل د مهاراجـا مـډهو سـنګ ( Mahraja Madho Singh) له خوا د خپلو مېلمنو لپاره جوړ شوی و. تر دې وروسته د موزیم بلې برخې ته چې ورکشاپ (workshop) نومېده ورغلو، په دې هال کې تصویرونه، لاسي صنایع، جامې او نور خرڅېدل. تر دې وروسته یو بـل هال ته لاړو، چې دوه لوی دیګي په کې ایښودل شوي وو، د لوی وزن یې (۳۴۵) کیلو ګرامه، لوړوالی یې (۵.۳) متره و، (۴۰۹۱) لیټره اوبـه یـې ځایولای شوې. څنګ ته دوه (ډولۍ ګانې) وې عیناً لکه زموږ د پښتنو د ودونـــو د ډولـــۍ پـــه شـــان وې، دې ځـــای تـــه یـــې

(c) ketabton.com: The Digital Library






(دېوان خاص) وايه.

تر دې وروسته سبها نيواس (Sabha Niwas) ته لاړو، دې ځای کې د شاه تصويرونه ځوړند وو، همدې ځای کې (دېوان عام) هم و، د وخت پاچا به ځینې خلک خپل حضور ته رابلل. وروسته ترې یوې بلې ودانۍ ته لاړو، دا ودانۍ تر ترمیم لاندې ده، دا د پاچا استوګنځی و، د (دارالامان) مانۍ په کچه به وه، خو په هندي ډیزاین کې. د ودانۍ پر دېوالو کوترې ناستې وې، د ودانیو په چتلولو کې یې پوره ونډه اخیسته، عیناً لکه د کابل په (شاه دوشمشېره) جومات کې چې کوترې کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library






کارونه کوي، دلته هم همغه حال و. د جیپور د راجاګانو دا ځایونه هم ډېر ښایسته وو، یو شی چې په جیپور کې عام و، هغه دا چې غویي خو ازاد وو، بیزوګانې هم ازادې وې او دومره ډېرې وې چې د هر دېوال سر تــه چې به دې وکتل نو بیزو به پرې ګرځېدله. تر هغه وروسته یــې پــوځي موزیم ته لاړو، هلته په کې د دوی د وخت ګاډي، لاسي ګاډي او توپونه ولاړ وو. پنځه ویشت کم دولس بجې له موزیم څخه راووتــو. لــږ اخــوا دېخوا وګرځېدو، ټیک دولس بجې په موټر کې کېناستو. د یادونې وړ ده چې په جیپور کې په ټولیز ډول تر (۵۰۰) کورنیــو پــورې پښــتانه هــم اوسېږي، خو دوی اکثرو پښتو هېره کړې ده، یوازې د ګوتو پــه شــمار داسې پښتانه شته چې هغوی پښتو ګړېدلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستي پېلس همغه مهال هم د راجستان د راجاگانو شخصي شتمني




وه او اوس د نيکونو دغه ميراث يې لمسيانو ته پاتې دی. اوسنی پښت (لمسيان) کولای شي د نيکونو په شتمنيو د خپل ځان لپاره د ژونـد د راحت ټول اسباب برابر کړي او سوکاله ژوند پرې وکړي. د پښتو متـل دلته رښتيا هم مصداق پيداکوي. (پلار گټلې زوی ته اسانه ده.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له جیپوره تر ډهلي

کله چې موټر عمومي سړک ته برابر شو، نو پاکه هوا او شنه فضا مو تر سترګو شوه. دا لویه لاره هم په ښه او اساسي ډول جوړه شوې وه، منځ کې ګلدان او هره خوا پر یوه وخت دوو موټرو حرکت کولای شو. دا ځمکــــه کــــه څــــه هــــم اواره وه، خــــو ځــــای ځــــای



د جیپور ښار یو واټ

غرونه هم تر سترګو کېدل، دلته هم د لارې د سر مارکېټونو، بازارونو او دکانونو کمی نه و. په لاره کې ځای ځای باغونه وو چې سرو او رنګارنګ ګلونو یې د سړي توجه ځانته راجلبوله، د لارې د سر بازارونه ډېر چټل وو، داسې فکر کېږي چې دا بازارونه یا ښارونه ښاروالي قطعاً لري نه او یا خلک په نظافت کې پوره ونډه نه اخلي. غرونه او غونډۍ یې په طبیعي ونو پوښلي وو او لکه زموږ د غرونو پــه شــان د جګــړې او د لرګیــو د سوداګرو ناتار پرې نازل شوی نه و. یوه بجه موټر د ټکس یوې دروازې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library






د لویو لارو پر سر د وړو وړو بازارونو یو انځور

ودرېده. سره له دې چې دا لاره هم ښه وه، خو ماته د دومره ګڼې ګوڼې لپاره کافي نه ښکارېده، کله چې د چک له دې لومړۍ دروازې تېر شو، نو پر دواړو خواوو د سړک جوړولو کار شروع شوی و، ددې کار په تکمیل سره کېدی شي دا سړک د نړیوالو لویو لارو په شان شي. د سرو ډېرو ډېر غرونه هم په لاره کې څرګند شول، تر دې ځایه چې موټر مزل وکړ، نو لږ لږ د ګرمۍ احساس وشو، خو د هېچا هم (ای سي) ته پام نه و، اجمل ورغی، ډرېور ته یې وویل چې (ای سي) چالان کړه، هغه ای سي چالان کړه او دې سره اکثرو د راحت احساس وکړ، تر اوږده مزله وروسته جانپتي ریسورټ (Ganpati Resort) رستورانت ته راغلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غرمنۍ په جانپتي ریسورټ کې

**جانپتي ریسورټ (Ganpati Resort) د لارې د سر یو ډېر ښکلی ریسټورانټ دی، لومړی مو په تشناب کې مخ و لاس ومینځل، هوټل ډېر ښه چمنونه لرل، وړې وړې ویالې او شنې**




**ساحې په کې جوړې وې، ټولې خواوې شنې وې، په چمنونو کې یې هم د ناستې لپاره ځایونه جوړ کړي وو، موږ په ځانګړو خونو کې کېناستو، هوټل والا راغی، موږ ورته وویل: ((مینو راوړه!)) مینو یې راوړه، سور کړی چرګ مو فرمایش ورکړ، یو دال، د چرک دوه کبابه. چرګ کباب ته یې (۲۶۰) کلدارې لیکلې وې، د دالو قیمت مو هېڅ ونه کوت، چپاتۍ ډوډۍ مو ورته وویل چې ورسره رایې وړي، د (سریلانکا) او (مالدیف)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه محصلينې چې غالباً پيسې ورسره خلاصې وې، هلته نــږدې ولاړې



په جانپتي ريسورټ کې د ډوډۍ پرمهال

وې، هغوی مو هم ډوډۍ ته راوبللې، خو د مالديف هغې ډوډۍ ونه خوړه. کله چې يې وروسته بِل راوړ، د درې بوتلو اوبو په شمول نــو ټــولې (۱۵۷۰) روپۍ شوې، موږ ورته وويل چې په مينو کې خو دا قيمتونه نــه وو، دوی وويل: ((تاسو خو د چرګ کباب دوه دوه فرمايش ورکــړی و.)) په داسې حال کې چې موږ ټول دوه خوراکه فرمايش ورکړی، دوی ډبل محاسبه کړی و، ډبل خوراک يې هم داسې و چې زموږ د وطن د بزګرانو ايله دوه غټې مړی کېدلې، يوه چپاتۍ يې په پنځوس کلدارې محاسبه کړه، ټيک يوه مړی کېدله، خير جنجال مو ورسره ونه کړ، پيســې مــو ورکړې، يو بوتل اوبه چې (۱۵) روپۍ کېږي دلته يې (۵۰) روپۍ حســاب کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library






پنځه کم څلور بجې موټر ته پورته شو، له دې ځای څخه تر ډیلي پورې (۱۵۲) کیلو متره لار پاتې ده، چې کېدی شي په نږدې درې ساعتونو کې ور ورسېږو. تر دې وروسته به یو لس پنځه لس دقیقې تېرې وې چې ښي او کیڼ لاس ته مو لویه صنعتي سیمه تر سترګو شوه. د بېلابېلو فابریکو لوحې پرې لګېدلې وې. په لاره کې موټروان دومره ناتراشه ارنډونه کول چې د سړي زړه یې برېښوه، ارنډ لکه د دېوال خواته متیازې کول دلته عادي خبره ده. د ټکس دویمې دروازې ته ورسېدو لږ تم شو. بیا هم تر اوږده، له ګنې ګونې ډک او ستړي کوونکي مزله وروسته د ټکس دریمې دروازې ته ورسېدو، پنځه لس تېرې وې شپږو نه چې (ګورګاوون) ښارګوټي ته داخل شو، دا ډېر ښایسته ځای او ښکلی ښارګوټی دی. د ډیلي ښار په یوه څنډه کې دی، څو دقیقې وروسته د ډیلي دخولي دروازې ته د ټکس لپاره ودرېدو. پنځه لس دقیقې وروسته همغه ځای (سوټ ایکستېنشن) ته چې مونږ، د سفر پر لومړۍ ورځ له همدې ځایه موټر ته پورته شوي وو، راورسېدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر چا ته د خپل هوټل موظف موټر ولاړ و، موږ په دوو ټکسي مـــوټرو




کې تر خپل هوټله (راني کسل هوټل) پورې راغلو، د ماښـــام اوه نیمـــې بجې وې، د هوټل رسپشن کې تر هر کلي وروسته هغوی موږ ته وویـــل: ((څو بجې ډوډۍ تیاره کړو؟)) موږ ورته وویل: ((اته نیمې بجې.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ددې سفر نتیجه

ددې سفر نتیجه کېدی شي ددې سفر له متن څخه استخراج شي، څه چې ما لیدلي، هغه مې تر ډېره حده کټ مټ را انتقال کړي ، خو څه شی چې زه غواړم لږ نور هم راوسپړم، هغه دادي چې څومره یو شی کم وي ارزښت یې زیات وي، محرومیت او محکومیت هم د یو شي ارزښت




په جنتر منتر کې د سفر یو ډله ییز عکس

زیاتوي، څومره چې سړی ډېر تږی وي، اوبو ته یې ډېره اشتها راځي، د تړیتوب په پړاو کې چې سړي ته اوبه میلاو شي، نو د اوبو پر قدر تر هرچا ښه پوهېږي، هغه ته اوبه تر هر څه زیات خوند ورکوي، انسان هر هغه څه ته ډېر لېوال وي چې دی ورته په اسانۍ لاسرسی نه لري. زموږ افغاني ټولنه کې له مشروعو او نامشروع لارو د نر او ښځې پیوستون ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سخت دی، همدا وجه ده چې د ښځې او یا له هغـې سـره د مینـې او محبت قیمت لوړ دی ان د سر په قیمت:**

**دیدن د سر په بدله دی**

**که سر ساتې خاورې به وکړې دیدنونه.**

**بېلابېل سانسورونه ددې سبب شوي چې د ښځې یوه تشـه خولـه خندا او تش کتل هم د تږي نرینه د زړه ګلونه وغوړوي او ډېر لذت ترې واخلي.**

**سـتا د یـوې ورځې خندا وه**

**زه به ژړا درپسې ټول عمر کومه.**

**خو په هغه ټولنه، لکه د هندوستان، په تېره بیا د هند ښاري ټولنه،**




**په دې کې هم بیا ډیلي کې، چې د ښځې او نر ترمنځ د پیوسـتون پـر وړاندې اکثره پولې نړېدلي، ښځو هم هغه کشش له لاسه ورکړی، چې په**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**محرومو ټولنو کې یې لري. انسان (وګړی) لا تر اوسه په ډېرو ټولنو کې (وګړی) یا حیوان دی، (انسان) شوی نه دی، کم شمېر یې د انســانیت**




**پړاو ته رسېدلي دي، د انساني غریزو د مهارولو او صیقلولو لپاره چــې سیستماتیک عقاید او قوانین نه وي، انسان خپله پر یو وحشي حیوان بدلېږي، په دې سفر کې موږ سره د نړدې (۳۲) هېوادونو محصلین وو، چې اکثره یې په خپلو هېوادونو کې مطرح خلک ګڼل کېږي او غالباً یو څوک دي چې تر دې ځایه رارسېدلي، عمرونه یې هم له (۲۵) څخه تر (۵۰) کلونو پورې وو، ښځې او نر دواړه په کې شامل وو، خو په دې درې ورځو کې د ښځې او نر تر منځ بریدونه اکثره ونړېدل، د نرو او ښــځو د هوس اسونه ډېر تېز وو، په هر چمن کې یې د هوس اس ځغاست کاوه، داسې سل په سلو کې ازادي، سل په سلو کې بغاوت هم راټوکــوي، نــو ځکه خو ماته لا ډېره څرګنده شوه، چې بې کنټروله ازادي، بې کنټروله**

(c) ketabton.com: The Digital Library



انارشي زېږولای شي. زه فکر کوم چې ښځو ته د عقايدو په مسير کې د ورکړې ازادۍ تضمين په کار دی، په هر څه کې داسې يو حـد، بريـد او کچه ټاکل په کار دي چې هوسونه د ښځې او نر پر هويت او شخصـيت داسې ګوزار ونه کړي، چې هغه يې د کنټرول وړتيا له لاسه ورکړي. کله چې له سفره راستانه شو، هر سړی به په هره کچه په فزيکي او ذهنـي لحاظ ستړی و، خو زه خوشاله په دې وم چې د ګناه د ښاپېرو له يرغل څخه په داسې حالت کې بچ شوم چې يوازې د دفاعي ځـواک سسـت دېوالونه راته پاتې وو. ډېر څه مې وليدل او ډېرې نوې تجربې مې ترلاسه کړې، خو څه شي ته مې لاس ورنه وړ او د څه شي مزه مې ونه څکله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یو مابښامی د کرکېټ په خوشالۍ کې

د فبرورۍ دیارلسمه نېټه د شنبې ورځ وه، (محبوب) سره مو لا پخوا وعده ایښې وه: ((د شنبې ورځ رخصت یو راشه، چې اجمل او ساحل سره لاړ شو چکر ووهو!)) محبوب الله محبوب زموږ یو فعال فرهنګي ملګری دی چې له تېرو لسو میاشتو راهیسې په



د افغانستان د کرکېټ ملي لوبډله

هند کې اوسي، موږ ورته له ډېرې مینې (محبوبی) وایو. د شپې مې ښه خوب وکړ، تر سهار چای وروسته بیا لږ شان ویده شوم، دولس بجې مې اجمل او ساحل ته زنګ وواهه، ما ویل راځئ چای به وڅښو، بیا به لاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوا هغوی چې راغلل، څو شېبې مو پر کتابونو بحث وکړ، هغوی زما په کمپیوټر کې د سفر عکسونه واچول، دې کې اجمل وویل: ((صبر تر څو چې محبوب راځي، کرکېټ به وګورو.)) تصادفاً کرکېټ پر همغه شــېبه شروع شو او په ژوندۍ بڼه یې د انټرنټ له لارې ښوده، البته تصویري نه خو نومرې یې شېبه پر شېبه ښودلې، اجمل خو د کرکېټ دومره شوقي



د افغان لوبډلي غړي د لوبې تر ګټلو وروسته دخوشالۍ پرمهال

دی چې امتحان هم ورته پرېږدي، زه خو پر کرکېټ چندان نه پوهېږم، خو اجمل چې راته تشریح کړ، نو ماته یې هــم خونــد راکــړ، دا وخــت محبوب هم راغی، هغه هم کرکېټ ته کېناست، لوبــه د افغانســتان او عربي متحده اماراتو ترمنح وه، په پای کې (عربي متحده اماراتو) ټــول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټال سل منډې وکړې، محبوب هم پر کرکېټ مصروف شو، لـړه شـېبه وروسته د (جاويد نوراني) په نامه يو بل افغان هم زما ليدو ته راغی، هغه غوښتل چې افغانستان کې يو (Think tank) ګروپ جوړ کړي، په تېـره بيا په ديني برخه کې، له هغه سره مې په دې اړه مفصلې خبرې وکړې، کرکېټ همداسې روان و، کله چې د افغانستان نوبت راغی، نو پـه اول کې د افغانستان ټيم چندان ښه نه و، اجمل همداسې وارخطا و، کله به کوټې څخه وته کله به بېرته ننوته، په اخر کې د افغانستان دټيم حالت ښه شو، کله چې پنځه باله او يو رنځ پاتې و، نو اجمـل ډېـر وارخطـا و. بلاخره وليکل شول Afghanistan won (افغانستان وګټله)، دې سره نو



محبوب، ميريال، يون او پراسپر

ټول خوشاله شو، ما ورته وويل: ((ځئ چې ځو نو اوس په (کابل- ډيلي هوټل) کې زما مېلمانه ياست.)) هلته لاړو،ډوډۍ مو ښه په خوند وخوړه، (۷۵۰) کلدارې مو ورکړې، کله چې راووتو نو په بازار کې د مدغاسکر له

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هېواد څخه زموږ دوه ټولګیوال اغلــې میریــال بوټــو( Mrs. Myrielle Botou) او ښاغلی محفینو جینــټ پراســپر ( Mr. Mahfeno Jeannot Prosper) مخې ته راغلل، هغوی نو یو څه سودا هم ځان ته اخیستې وه،**




**ما دواړو ته وویل: ((یو شی به زه هم درته واخلم!)) دواړو هېڅ ست ونه کړ، د بوټانو دکان ته ودرېدل، لومړی ښځې یو جوړه بوټان خوښ کړل، بیا مې (پراسپر) ته وویل: ((ته دې هم مېرمنې ته یوه جوړه خوښ کړه))**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغه وویل: ((سمه ده)) بوټان یې واړول راواړول، بیه مــو هــم ورســره خلاصه کړه، خو بیا بېرته پښېمانه شول، ما وویل: ((راځئ بل ځای ته لاړ شو، بوټان څه کوئ راځئ جامې واخلئ!)) دوی وویل: ((بېخي سمه ده)) لنډه دا چې دوه جوړې جامې مې یوه دې پېغلې او بل د سړي مېرمنې ته واخیستې، ډېر زیات خوشاله شول، دواړه (۷۰۰) کلدارې شوې، اجمل جوس ته دعوت کړل، د کېنو جوس یې هم وڅښه، په رېکشا کــې مــو کېنول، د رېکشا کرایه مو ورکړه، دوی د خپل هوټل او موږ د خپل هوټل پر لوري رهي شو. اوس چې د شپې شل کم یــوولس بجــې دي، مــا دا یادښت ولیکه او همدارنګه په انټرنېټ کــې د ایرلنــډ او افغانســتان د**



د افغانستان د کرکېټ ملي لوبډله

**کرکېټ لوبه ګورم، ایرلینډ دا مهال په ۳.۱۸ اورونو کــې (۱۳۴) منــډې جوړې کړي، دا ډېرې زیاتې دي خدای دې د افغانستان ټــیم تــه خیــر کوي، زه لاړم لمانځه ته چې د خپل وطن د ټیم لپاره دعا وکړم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر لمانځه وروسته بیا نېټ ته کېناستم. ایرلنډ (۱۴۲) منډې جــوړې کړې اته لوبغاړي یې وسوځېدل، افغانستان ته په کــار دي چـــې (۱۴۳) منډې جوړې کړي، د افغانستان ټیم لپاره دا اسانه خبره نه ده، خــدای دې فضل وکړي، موږ پر خپل خدای(ج) ډېر ډاډه یو، افغانانو ټول عمر د خدای پر دین ننګ کړی دی. سره له دې چې کرکېټ د دین خبره نه ده، خو موږ باوري یو چې بری او ناکامي د لوی خدای(ج) په لاس کې دي.


اوس چې د شپې پنځه ویشت کم یوه بجه ده، افغانانو د لوی خدای په فضل ایرلنډ ته ماته ورکړه، دادی د شل اوریزو لوبو نړیوال کپ ته یې لاره پیدا کړه. موږ نو شېبه په شېبه لوبه تعقیبوله، دا د افغانستان لپاره یو لوی ویاړ او د عزت کار و. ما(یون) اجمل او ساحل ته وویل: ((پر ما مو بله مېلمستیا هم واوښتله.)) محبوبي ته مو زنګ وواهه چې لوبه افغانانو وګټله، محبوب هم ډېر خوشاله و او موږ نو د سبا پروګرام لپاره د ذهني نقشې پر جوړولو مصروف شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اجمل خټک په یاد غونډه

د فبرورۍ (۱۳) مه نېټه وه چې استاد خالق رشید راته زنګ وواهه: ((سبا ماسپښین د ثناالله خان لالا په کور کې د ارواښاد اجمل خټک په یاد غونډه ده چې له یاده دې ونه وځي، له انډیوالانو سره ورته راشه!)) ما وویل: ((سمه ده.)) ثناالله خان یو




ځل مخکې هم موږ مېلمانه کړي وو، دی د هند د نیمې وچې د سیاسي- ادبي بهیر او قومي مبارزو په باب ډېر معلومات لري او یو ژوندی تاریخ دی. د فبرورۍ (۱۴) مه د غرمې ۱۲ بجې زه (یون)، محبوب الله محبوب، اسدالله ساحل او اجمل فدایي د ثناالله خان لالا کور ته ورغلو، د ال انډیا راډیو د پښتو څانګې پخوانی مشر (ملهوترا بترا)، اوسنی مشر (ممتاز ولي)، (استاد خالق رشید)، په جواهر لعل نهرو پوهنتون کې استاد (مظهر صیب) هم تشریف راوړی و. په دې کې بتراصیب سک هندو او مظهر مسلمان هندی دی. په پیل کې مظهر صیب د قران کریم څو مبارک ایتونه تلاوت کړل، بیا ملهوترا بترا د اجمل خټک د شخصیت په اړه هر اړخیزې خبرې وکړې او دی یې د هند د نیمې وچې یو عظیم سیاسي او فرهنګي شخصیت وباله، بترا وویل: ((اجمل خټک تر پایه پورې د عدم تشدد فلسفې ته وفادار پاتې شو.)) بترا له مرحوم اجمل خټک سره خپلې شخصي خاطرې هم بیان کړې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د هغه پر مړینه یې ډېره خواشیني څرګنده کړه. بترا د خپلو خبرو پــه پای کې وویل: ((سره له دې چې پښتو زما مورنۍ ژبه نه ده، خو اوس زما**




**په حافظه کې ناسته ده او زه په پښتو ژوندی یم)) بترا زیاته کــړه: ((زه اوس ډېر سپین ږیری شوی یم او د ژوند وروستۍ شپې ورځې مې دي، خو په ژوند کې مې دا یو ارمان دی چې کله زه مړ کېږم، نو که ماسره د ځنکدن پر وخت څوک پښتو ووایي نو روح به مې ډېر ارام شي.)) ما چې د پښتون شوي سک دا خبرې واورېدې، نو د مرحوم عاصي اشنغري دا شعر رایاد شو:**

**د مرګ قاصده ځنکدن کې دا پښتو به کوې**
**پــښتنه ساه رانه وانخلې د بادار کوڅه کې**

**بترا راته څومره عظیم شخصیت او خپل تېر او اوسني هغه واکمــن، چې خپله ژبه یې هېره کړې، راته څومره پیکه وبرېښېدل. د مورنۍ ژبې ساتل د شخصیت په وده کې څومره رول لري، هغه پښتون چې پښـــتو یې هېره کړې وي، هغه کې به د پښتونولۍ د جوهر څه څرک ولګي؟ خو هغه سک یا هندو چې پښتو یې زده کړې، د پښتونولۍ څــومره اثــرات**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرې پراته دي، دلته سړي ته لا ښه پته لګي، چې چا پښتو هېره کړې، د پښتونولۍ نور ممیزات یې هم هېر کړي دي، کاشــکې زمــوږ ناپښــتانه شویو پښتنو خو له (بترا) او نورو بشروالو څخه څه عبرت اخیستی وای.

تر بترا صیب وروسته ما (یون) خبرې وکړې، مــا وویــل: ((د زمــانې قضاوت کله کله عادلانه نه وي، بریالي شخصیتونه کله کله ناکام ښیي او کله کله بیا ناکام شخصیتونه د تاریخ په یوه مشخصه مقطع کې بریالي وګڼل شي، د یو چا په بریالیتوب او ناکامۍ کې چاپېریال ډېر رول لري، اجمل خټک او د پښتنو ځینو نورو مشرانو چې په کوم تنــګ او اغــزن چاپېریال کې مبارزه کړې، دا کار د هرچا لپاره اسانه نه و، دوی پر یــوه وخت له څو ډوله ستونزو سره مقابله کړې، خپل شخصیت یې تثبیــت کړی او خپل فکر یې څرګند کړی دی. هغه وخت چې اجمل صیب پــه کابل کې و، موږ به یې وخت پر وخت لیدو ته ورتلو، په کابل کې د هغــه وخت مشکلات موږ ته معلوم وو او هم په کوزه پښتونخوا کې د هغه پر وړاندې پرتې ستونزې موږ ته څرګندې وې، خو ده د ټولو نــاخوالو پــر وړاندې مبارزه وکړه:

د خوشال له خاورې پورته یوه لمبه شوم
بـــل مشال په اباسین او تــاتــره شــوم

دا مشال به لا بل وي او تر څو چې پښتون قوم ژونــدی وي، د ده د لارې لارویان به دده لاره تعقیبوي، اوس موږ ته په کار دي چــې دده د فکر د لاځلونې لپاره د ده چاپي او ناچاپ اثار یو ځل بیا چاپ کړو او هر چاته یې ورسوو، الله تعالی دې اجمل خټک صیب ته فردوس جنت پــه نصیب کړي، ښاغلي ثناالله خان یوسفزي صیب نه هم ډېره مننه کــوم چې دلته یې ددې ناستې زمینه برابره کړه.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماپسې ثنالله خان لالا خبرې پیل کړې، ویې ویل: ((د اجمل خټک صیب پر مورِ دا حق جوړېدو چې د هغه په یاد غونډه جوړه کړو، خو دلته شرایط داسې دي چې د لویو غونډو جوړول په کم وخت کې اسانه نه دي، نو ځکه مې تاسو ته بلنه درکړه.)) ثنالله خان یوسفزي له اجمل خټک سره د خپلو څو خاطرو یادونه وکړه، هغه وویل: [یوه خاطره خو داوه چې زه یو وخت کابل ته تللی وم، هلته زما لیدو ته (زاخېل) او (قمر ګله) راغلي وو، زاخېل وویل: ((ځو د اجمل صیب لیدو ته)) زه هم ورسره لاړم، کله چې د هغه کور ته ورغلو، نو اجمل صیب د زاخېل توصیف شروع کړ چې ډېره ښه هرمونیه غږوي؛ بل هېڅوک داسې هرمونیه نه شي غږولای، د قمرګلې یې هم ډېر توصیف وکړ، لکه هر مشر چې د خپلو هنرمندانو ستاینه کوي، دوی یې ډېر ونازول، زما په باب یې هېڅ ونه ویل، په پای کې زاخېل صیب ورته وویل چې دی (ثنالله خان) نومېږي د کشمیر له پښتنو څخه دی، دلته کابل ته راغلی دی، بیا یې نو له سره ما سره ستړي مشي وکړل، راته یې وویل: ((ما ویل چې ځه زاخېل سره راغلی یې، خیر د دوی د ګروپ سړی یې یا به تبله وهې یا به رباب غږوې، خبر نه وم چې ته د کشمیر پښتون یې.)) بیا یې د کشمیر او هند د ټولو پښتنو پوښتنه وکړه، د پښتنو په حال یې سترګې له اوښکو ډنډ شوې، دا نو د داود خان د حکومت وخت دی، داودخان په پای کې پاکستان او ځینو اسلامي هېوادونو سره موافقې ته رسېدلی و چې د روسیې د نفوذ مخه ونیسي، اجمل خټک ته یې هم ویلي وو چې تا به کوم بل هېواد؛ یوګوسلاویا اویا کوم بل هېواد ته ولېږو، اجمل صیب ډېر پرېشانه ښکارېده.]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثناالله خان اجمل خټک د پښتنو ډېر عظیم شخصیت وباله او ویې ویل چې تر اخره پورې د باچاخان دلارې پیرو پاتې شو.

ورپسې محبوب الله محبوب لنډې خبرې وکړې او اجمل خټک یې یو لوی شاعر وباله. بیا استاد خالق رشید د اجمل خټک په اړه هر اړخیزې خبرې وکړې او ویې ویل: ((هغه په افغانستان کې د خاص احترام وړ شخصیت و، پر خلکو ډېر گران و، په جشنونو کې به د هغه خبرو ته ټول خلک غوږ غوږ وو، دا چې یو زیات شمېر خلکو پر خپلو زامنو د (اجمل) نوم ایښی، دا هم څه تصادفي خبره نه ده، دده د شخصیت اغېز په کې له ورایه ځرگندېږي)) ترڅنگ یې زما ملگري (اجمل) ته اشاره وکړه چې دا دی یو (اجمل) دا اوس هم په دې څنگ کې لرو.




استاد خالق رشید د اجمل خټک په اړه د اردو ژبې د لوی شاعر (احمدفراز) یادونه هم وکړه چې اجمل خټک یې ستر شاعر باله، استاد رشید وویل: ((احمدفراز به ویل چې اجمل خټک د شاعرانو یو نسل روزلی دی، چې هغوی اوس د هغه لاره تعقیبوي، دا د هغه لوی کمال دی. اجمل خټک نه یوازې پښتنو، بلکې د هند نیمې وچې ته ډېر څه ورکړي او تر خوشال خټک وروسته دی دلته په مهمو شاعرانو کې حسابېږي.)) استاد رشید د اجمل خټک په باب نورې په زړه پورې خبرې هم وکړې، په پای کې بترا د پای خبرې وکړې او اجمل خټک ته یې دعا وکړه. غونډه په ډله ییزې دعا سره پایته ورسېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کرکېټ خوشالي او وچه مېوه

د فبروري پر (۱۵) مه نېټه د دوشنبې ورځ سهار ټولګي تــه لاړو، دا داسې مهال و چې افغانستان د کرکېټ شل اوریزو لوبو ته لار موندلې او ماسره دلته په اتاق کې ډېره وچه افغاني مېوه وه، مخکــې مــې هــم د کورس استادې، ادارې او ځینو نورو هندوانو ته یو څه وچه مېوه ورکړې وه، هندوان د افغانستان په وچه مېوه ډېــر زیــات خوشــالېږي، حتــی ډاکټران یې په نسخه کې لیکي، په تېره بیا (بادام) او (پسته.) اجمل او



اجمل او د کورس استاده د افغانستان وچه مېوه تشریح کوي.

ساحل ته مې وویل: ((د دوشنبې پر ورځ به دا وچه مېوه یوسې او پر ټولو ټولګیوالو به یې تقسیم کړې بیا به ورته ووایې چې دا د څه لپاره ده؟))

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوشنبې ورځ چې کله ټولګي ته لاړو، نو ټول راغلل، اجمل د مېوې پر وېش شروع وکړه، ټولو چیغې کړې، دا د څه لپاره؟ یوې نیمې شوخې محصلې به غږ کړ: ((دا د اجمل د کوژدې په مناسبت، اجمل کوژده کړې.)) اجمل یې ښه تر پوزې راوست، بیا استادې ددې بېلابېلو مېوو نومونه پر تخته ولیکل، د بېلابېلو هېوادونو اکثره محصلین دې مېوې ته حیران وو، له کیوبا څخه (رافایل) وویل: ((مورږ قطعاً دا ډول مېوې نه لرو)) بیا استادې وویل: ((افغانستان دا ډول ډېرې زیاتې مېوې لري، هند یې هم لري، خو د افغانستان په شان ډېرې نه دي، افغانستان یې بهر ته ډېرې زیاتې صادروي)) استادې زیاته کړه: ((د (یون مېرمن) نه تشکر کوم چې ماته یې څو موده دمخه ډېره زیاته وچه مېوه رالېږلې وه.)) دې وخت کې اجمل وویل: ((ددې مېوې د وېش په مناسبت تاسې ته وروسته بیا وایم، خو اوس تاسې خپله مېوه وخورئ.))

ټولو یو چکچک وکړ، د محصلۍ څوکۍ داسې ده چې که خپله د




پوهنتون استاد هم پرې کېني، د محصل خصلت او خوی اخلي. مورږ په ټولګي کې له بېلابېلو هېوادونو، لکه موزمبیق او نورو څخه څو پروفیسوران درلودل چې هلته یې عملاً په پوهنتون کې درس ورکاوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دلته چې یو ځل بیا د محصلی پر څوکۍ ناست وو، هغه د محصلی حرکتونه ترې کېدل، ما تر ډېره حده کوښښ کاوه چې ځان کنترول کړم، نو په دې خاطر به استادې ویل: ((پروفیسور یون یوازې ورو ورو موسکا کوي))(Ismael Smiles). د ماسپښین یوه بجه شوه، ټولګی په رخصتېدو شو، اجمل پورته شو له استادې یې اجازه واخیسته، ټولو ته



افغان ملي لوبډله د لوبې تر ګټنې وروسته

یې وویل: ((اوس غوږ شئ چې یو ښه خبر درته وایم)) ټول غوږ غوږ شول، هغوی اکثرو داسې فکر کاوه چې کوم شخصي خبر دی، اجمل وویل: ((تاسې پوهېږئ چې زموږ هېواد کې همېش جنګونه دي، ځینې خلک په نړۍ کې شاید داسې فکر وکړي چې افغانان له جنګه پرته پر بل څه نه پوهېږي، خو حقیقت داسې نه دی، هر کله چې افغانان د ډېر کم وخت لپاره له جنګه راوتلي، نو ډېرې غټې کارنامې یې کړي دي، تاسې وګورئ د افغانستان د کرکېټ ټیم یې یو ښه مثال دی، موږ تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوسه پورې په ټول هېواد کې د کرکټ یو اساسي میدان نه لرو، خــو د افغانستان ټیم بیا هم د کرکټ شل اوریزو نړیوالو لوبو ته د لار موندنې په موخه چې همدا اوس په اماراتو کې روانې دي، د نــړۍ ډېــرو قــوي ټیمونو ته ماتې ورکړه او د لومړي ځل لپاره یې د کرکټ نړیوال جام ته لاره پیدا کړه، هېڅ مملکت په دومره کم وخت کې دومره غټې بریاوې نه دي ترلاسه کړي، مور امریکا، اماراتو، ایرلنډ او نورو ته، چې په کرکټ کې اوږده سابقه لري، ماتې ورکړه، نو دا مېوه (پروفیسور یون) تاسې ته په دې مناسبت تیاره کړې وه)) ټولو چکچک وکړ، چغې یې کړې، لکــه چې له ټولګي نه د کرکټ میدان جوړ شوی وي، همدې سره له ټولګي راووتو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بیا هم د کرکېټ د شوق په دام کې

لکه څنګه چې دمخه مې یادونه وکړه زه یو وخت پــر کرکېــټ نــه پوهېدم، نو ځکه یې خوند هم نه راکاوه، که رښتیا ووایم یو څه مې بدې هم راته، ځکه چې په پاکستان کې ډېر کېده او هغوی خپله ملي لوبــه ګڼله، د اکثرو افغانانو دا عادت دی چې کوم شی د دوی د رقیب هېواد



د کرکېټ ملي لوبډلې کپتان نوروز منګل د بال کټلو پرمهال

خوښېږي، د دوی نه خوښېږي، خو ځینې افغانان چې د کرکېټ پر لوبه پوهېدل، هغوی به پرې داسې روږدي وو، لکه پوډریان چې پــر پــوډرو روږدي وي، اجمل هم د کرکېټ یو پوډري غونــدې و، د افغانســتان او ایرلنډ، افغانستان او اماراتو، لوبه خو مو په ژوندۍ بڼه له انټرنېټ څخه تعقیب کړه. کله چې افغانستان ددغو لوبو وروستۍ لوبه کوله، نــو دې لوبو ډېر خوند وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسي شنبې شپه مابنام اجمل راته وویل: ((نن د کاناډا او افغانستان مېچ دی نو دا هم ډېر جالب دی.)) د شپې ورته کېناستم، افغانستان په




ډېر خوند، ((۲۸۹)) منډې جوړې کړې، کله چــې د کانــاډا د منــډو وار راغی، نو په اول کې ډېر تېز روان وو، داسې ګڼل کېدله چې سل په سلو کې یې وړي، زما زړه یې سوړ کړ، په دې کې زما انټرنېټ هم خراب شو، هرڅومره چې مو هلې ځلې وکړې بېرته وصل نه شو، اجمل لــه خپــل اتاقه زنګ وواهه: ((کاناډا ډېره تېزه روانه ده خدای دې خیر کړي، ډېــر کم احتمال دی چې افغانان یې وګټي.)) ما ورته وویل: ((نور یې څه کول هماغه لوبه یې بس وه، نور به راتلل خپل وطن ته.)) څرنګه چــې زمــا انټرنېټ خراب و نو اجمل وویل: ((زه خپل کمپیوټر راکښته کــوم)) مــا وویل: ((نه درس نه مو وباسي، دا څو ورځې مو په همدې تېرې کــړې))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغه وویل: ((خیر که نتیجه مثبته وه، بیا درته زنګ وهم.)) که افغانان دا لوبه وګټي نو دا به د کرکېټ په تاریخ کې یوه معجزه وي، اجمل هــم د**




**کرکېټ متخصص دی، ده وویل: ((کاناډا خپلې ویکټې ساتلې، که افغانان په پای کې څه وکړي، وبه یې کړي که نه تر اوسه خو حــالات ښــه نــه دي.)) د شپې ډېر ناوخته اجمل زنګ وواهه، ما ته یــې وویــل: ((ویښ یې؟)) ما ویل: ((هوا!))، ((افغانستان خو وګټله)) ما وویل ((نه بابــا)) ده وویل ((کاناډا (۲۸۸) منډې وکړې او نور بالونه یې خلاص شــول.)) مــا وویل ((داڅه وایې؟)) زه چې نور د ویده کېدو په حال کې وم، خوب مې وتښتېده، بېرته مې کمپیوټر چالان کړ، انټرنېټ ته لاړم، ګورم چې وصل شو، د لوبې ټول جزیات مې وکتل، رښتیا هم د معجزې په شان یو کار و.**

**اجمل ته مې بېرته زنګ وواهه: ((یو بله مېلمستیا مــو هــم پــر مــا واوښته، سبا ته به زاړه ډیلي ته ځو، (محبوبي) هلته یو ښه هوټل لیدلی دی)) اجمل هم ډېر خوشاله شو، ما محبوب ته زنګ وواهه، هغــه هــم**

(c) ketabton.com: The Digital Library







**ویښ و، ما ویل چې دادی کاناډا ته یې هم ماته ورکړه، هغه هم سـخت خوشاله شو، هغه وویل: ((دا دنیاوال به څه وایي چې داڅه قسم خلک دي، بله ورځ ټولې نړۍ ته ماتې ورنه کړي.)) ما وویل: ((سبا دې پر ما بله ډوډۍ واوښته، زاړه ډیلي ته به ځو.))**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جامع مسجد - زوړ ډیلی

**( جامع مسجد) په زاړه ډیلي کې جوړ شوی.دا مسجد د شاه جهان په امر پیل شوی او پر (۱۶۵۶م) کال بشپړ شوی دی. جامع مسجد لعل کلا ته مخامخ ودان شوی؛ په زاړه ډیلي کــې موقعیــت لــري، دا د هنــد د مسلمانانو یو مهم مرکز دی، ددې جومات خارجي محوطه تــر (۲۵زره)**





**زیات لمونځغاړي ځایولای شي، جامع مسجد د (شپږو کلونو) په بهیــر کې جوړ شوی او (پنځه زره) کارګرانو پرې کار کړی دی. له لرغونو اثارو څخه چې په دې مسجد کې ساتل کېږي د هوسیو هغه پوټکي دي چې قران کریم پرې لیکل شوی دی. دا مســجد درې ګونبــدې لــري چــې سپینې او تورې مرمر ډبرې په کې پــه ښــکلي ډول کارېــدلې دي، دوه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګې منارې لري چې (۴۰) متره یې ارتفاع ده. ویل کېږي  شاه جهان امر کړی و چې دا مسجد پر یوه جګه غونډۍ جوړ کړئ، زاړه ډیلي کې یــو همدا ځای او یو هم هغه ځای چې لعل کلا (سره کلا) په کې جوړه شوې، د زاړه ډیلي تر نورو سیمو لوړ دي. په واقعیت کې د زاړه ډیلــي د ټولــو سیمو ننداره له دې ځایونو کېدی شي.





یون او ساحل د جامع مسجد د یوه بل باب (دروازې) مخې ته

کله چې له کورسه رخصت شو، رېکشا مو ونیوله، د جامع مسجد پر لوري مو حرکت وکړ، (۴۵) دقیقو کې هلته ورسېدو، د جــامع مســجد مخې سره یې کښته کړو، مسجد درې بابه (دروازې) لري، یوه دروازه یې د شاه جهان دروازه (باب شاه جهان) په نامه ده، لاندې ترې بــازار دی، داسې لکه د افغانستان ځینو سیمو کې چې د جمعې یا یکشنبې ورځې بازارونه وي، اکثره سودا د ځمکې پرمخ پرته وي، ځینې دکانونــه هــم هلته شته، خو نه په دکان کې او نه هم پر ځمکه د چتلیو کمی شته، چا

(c) ketabton.com: The Digital Library




موږ ته ویلي وو چې دلته شیان ډېر ارزانه دي، څو ورځــې دمخــه زه او




مېرمن مې (ارین یون) هم دلته راغلو، خو چې ددې ځــای چتلــي مــو وکتله، نو پرته له دې چې د شیانو د نرخونو پوښتنه وکــړو، پــوزې مــو ونیولې او پښې مو سپکې کړې، (آینه مارکیټ) ته چې تر دې ډېر لوکس دی، هلته لاړو، هلته مو سودا وکړه، خو دا ځل خاص د جامع مسجد د لیدو په خاطر راغلو. د (شاه جهان دروازې) له لارې مسجد ته پورته شو. دا مسجد هم لکه د ځینو نورو تاریخي ځایونو په شان په عمومي ډول له سرو ډبرو جوړ شوی دی. کله چې د مسجد دخولي دروازې ته ورننږدې شو، نو څو قطعې عکسونه مو واخیستل، یو تن راغی، موږ ته یې وویل: ((د مسجد داخل ته کمره مه وړئ او کــه وړئ یــې نــو (۲۲۰) کلــدارې راکړئ.)) زما ملګرو: ساحل او اجمل ورته وویل: ((هغه بله ورځ هم موږ کمره وړې وه، هېڅ خبره نه وه، دا نن دې څنګــه پــه کــې دا خبــره را

(c) ketabton.com: The Digital Library






وایستله؟)) هغه ډېر ټینګار وکړ، ټکېټ یې راوکښه  دا واخله! ما جیب ته لاس کړ، سل کلدارې مې وکښلې، هغه وویل: ((نه (۲۲۰) کلدارې)) ما وویل: ((تاج محل کې کمره وړیا ده او دلته دومره پیسې اخلې؟)) اجمل ورته وویل: ((ټیک ده نه ځو)) اجمل، ما (یون) او ساحل ته وویل: ((ځئ، تاسې په دې دروازه لاړ شئ، زه پر هغې بلې دروازې درځم.)) موږ چې ورننوتو، اجمل کمره په جیب کې له هغې بلې دروازې (باب عبدالله) څخه راننوت، دننه ګورو چې هر چا سره کمره ده او عکسونه اخلي، موږ هم عکسونه واخیستل، د مسجد ټول دېوالونه له سرو ډبرو جوړ دي، د مسجد باندني متن کې هم سرې ډبرې فرش دي، خو د مسجد په داخلي متن کې بیا سپین او تور مرمر کارول شوي، په متن کې یې، لکه د جاینماز په شان نقاشي هم په کې شوې، یانې ډبرین جاینمازونه په کې فرش دي، دا مسجد هم رښتیا ډېر ښکلی دی، هغه ډبرې چې دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارولي دومره غتې او اوږدې دي چې سړی فکر کوي د پخوانیو زمانو د




افسانوي کیسو دېوانو پورته کړي دي. رښتیا هم عقل کار نه کوي چې څلور سوه کاله دمخه دې په داسې برم او شوکت سره ودانۍ جوړه شوې وي. د ودانیو چت د نږدې (۱۵) مترو په اندازه لوړ دی، د کلا دېوالونه هم تر لسو مترو لوړ جوړ شوي، خو په ټولو تیرو کې (له ځمکنې فرش پرته) ښکلی ډیزاین شوی دی. سره له دې چې د هند د واکمنۍ پر سر له مغولو سره د پښتنو ذهني واټن، رقابت او تضاد زیات دی، خو چې په هند کې د ځینو مغولو دا ډول ودانۍ په تېره بیا د شاه جهان د وخت ودانۍ سړی وګوري، نو په زړه کې يې دې شاهانو ته د کینې درجه یو څه راټیټېږي.

د مسجد په بهرني متن کې د اوبو یو حوض دی، چې د اوداسه لپاره ترې ګټه اخیستل کېږي، د باران او چټلو اوبو لپاره تر ډبرو لاندې لښتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایستل شوي، چې دا د مغولي سټایل په ټولو ودانیو، ان تر هغو دمخه او وروسته ودانیو کې هم لیدل کېږي، څو شېبې نور هم هلتــه وو، بیــا د (عبدالله باب) له لارې له مسجده رابهر شو او د کریم هوټل پــر لــوري وخوځېدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یوه غرمنۍ په کریم هوټل کې

**( کریم هوټل) جامع مسجد ته مخامخ؛ په زاړه ډیلي کې موقعیت لري، له دې ځایه یوازې دوه درې دقیقې پلې لاره ده،**



اجمل، محبوب او یون د کریم هوټل په وره کې

**موږ چې کله هلته ورسېدو، نو پوښتنه مو وکړه، په سړک کې دننه یوه تنګه کوڅه ده چې ایله دوه تنه په کې پر یوه وخت جوړه ورننوتی شي، ما چې د زاړه ډیلي چټلي مخکې هم لیدلې وه، باور مې نه کاوه چې دلته به په دې تنګو کوڅو کې هم یو پاک هوټل پیدا شي، خو محبوب یې ډېر صفت کاوه، هغه ته مو هم همداځای ادرس ورکړی و. کله چې هوټل ته ورسېدو، نو په یوه ځای کې د کریم هوټل څلور څانګې دي. سره له دې چې نږدې څلور بجې هلته لاړو، خو ګڼه ګوڼه په کې ښه پرېمانه وه،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېزونه او څوکۍ یې هم ښه پاک وو، ګرمې ډوډۍ پــه کــې سملاســي پخېدلې؛ تیار خپل ډوډۍ پخونکی یې درلود، نرۍ مینې ډوډۍ (پاڑې)او ساده ګردې ډوډۍ دواړه میلاوېدلې، هوټلي ته مو وویــل: ((مینــو دې راوړه!)) مینو یې راوړه، یو دال خوښ کړل، یو (میټور)؛ غوښه او ترکاري ، کوفتې ته ورته غذا ده، یو چکن کړایــي، دا وخــت لا محبــوب نــه و رارسېدلی، ما وویل: ((محبوب چې راشي هغه بــه پــه خپــل زړه څــه راوغواړي.)) موږ ډوډۍ خوړل پیل کړل، دغــه دی چــې محبــوب هــم راورسېد، هغه چکن تندوري (سور کړی چرګ) فرمایش ورکړ. څو ځله مو پرې تازه ډوډۍ راوغوښته، ډوډۍ یې ډېره خوندوره وه، خو اوبه یې چندان خوندورې نه وې، د هوټل پر دېوالونو هغه سندونه ځړول شوي وو چې معتبرو اجنسیو او دلته چې کوم بهرنیــان راغلــي، ډوډۍ یــې خوړلې او له دوی څخه راضي تللــي، نــو هغــوی ورتــه مننلیکونــه او ستاینلیکونه رالېږلي دي، محبوب یې دومره صفت وکړ، ویل یې: ((دا د شاه جهان له وخته چلېږي، اشپز یې د همغه وخت دی، دوی د هغه په دربار کې کار کاوه.)) ما وویل: (( محبوبه اشپزان یــې ژونــدي دي کــه څنګه؟ چې ویې ګورو!)) محبوب وویل: ((هو جي هغه اشپزان نسل په نسل تر دې ځایه رارسېدلي دي.)) ما وویل په تاج محل کــې هــم یــو دکاندار، چې د تاج محل سمپلونه یې خرڅول، وویل زموږ نیکونو تــاج محل جوړ کړی دی))، دا به هم همغسې وي، محبوب بیا په خندا شــو: ((یاره ته په هر شي کې خبرې باسې.)) ډوډۍ مو په خوند سره وخوړه، (۶۷۵) روپۍ یې واخیستې، له هغه ځایه چې راووتو، نو د عمومي کوڅې پر سر د سلماني دکان و، هلته مو وېښتان جوړ کړل، خورا تکړه سلماني و، ما (یون)، ساحل او اجمل وېښتان جوړ کړل، محبوب خو هسې هــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**غواړي وېښتان وکري، نو د وېښتانو جوړولو اړتیا یې نه احساســېږي، د**




محبوب، یون او ساحل په کریم هوټل کې

**هر یو وېښتان یې په څلوېښت کلدارې جوړ کړل، خو د هر یوه پر سر مو (۶۰) کلدارې ورکړې، هغوی ډېر زیات خوشاله شول، له هغه ځایــه مــو پروګرام دا و چې (لعل کلا) ته لاړ شو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لعل کلا یا سره کلا

**د زاړه ډیلي له بازاره تر (لعل کلا) پورې ډېره لاره نه وه، خو محبوب وویـــل: ((زه پلـــی نـــه ځـــم)) اسدســـاحل او اجمـــل پـــر یـــوه، زه او**




**محبوب په بل سایکلګاډي کې ورسپاره شو. دوه کاله مخکـــې چـــې زه (یون)، له خپلې مېرمنې سره هندوستان ته راغلم، نو چې په بایسکلونو کې مو د خلکو دا حال ولید، زړه مې پر همغه ورځ له هندوســـتانه تـــور شو، هغه وخت له مجبوریته موږ په یوه سایکلګاډي کـــې کېناســـتو، د بایسکل والا پښنو ته مې چې وکتل داسې وچـــې او تـــورې وې، لکـــه د شامتورې پښې، خو اوس زما دا درېیم ځل دی چې دلته راځم، نـــو لـــه بایسکل سورلۍ سره بلد شوم. شل شل روپۍ مو ورکـــړې، د لعـــل کـــلا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دخولي دروازې ته يې بوتلو، محبوب وويل: ((که تاسې د خارجيانو په بڼه ځئ نو دوه سوه څو روپۍ ټکېټ کېږي، خو که د هندوانو په جم کې**




**ځئ نو پنځه لس کلدارې، زه به لاړ شم تاسې ته به ټکېټونه واخلم.)) ما وويل: ((محبوب جي! که چېرې په ټکېټ کې درغلي زموږ مليت او هويت بدلوي، نو زه خو همغه خپل قيمت ورکوم، ضرور نه ده چې د دوه سوه کلدارو په بدل کې خپل هويت بدل کړم او ځان هندو کړم.)) هغه وويل: ((نه بابا دا هويت مويت دا زړې خبرې دي، تاسې بايد له نوي ژوند سره ځان عيار کړئ، دا ساحل او اجمل مې هغه تېره ورځ هم په همدې پنځه لس روپګي ټکټونو ورننويستي وو، هېڅ خبره ونه شوه، د دوی مليت بدل شو؟ دوی هندوان شول؟ موږ او تاسې نه پېژني، داسې ښکارو لکه کشميريان.)) محبوب لاړ، لاندې په ځمکتلې کې يوه خونه وه، له هغه ځايه يې څلور ټکېټونه راواخيستل، بهرنيان او هنديان ښه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډلې ډلې ور روان وو. له معمولي تالاشۍ ورتېر شو، زموږ ټکېټونــه یــې چک کړل. لعل کلا ته ورداخل شو، دا هم ډېره تاریخي کــلا ده، دا هــم





یون، محبوب او ساحل د لعل کلا دخولي بازار کې

مغولي امپراتور (شاه جهان) جوړه کړې ده. کله چې شــاه جهــان لــه (اګرې) څخه خپل پایتخت (ډیلی) ته رالېږداوه، نو ددې کلا د جوړولــو امر يې صادر کړی و. د جوړولو کار يې (۹) کاله دوام وکړ او پر (۱۶۴۸م) کال بشپړه شوه. د کلا په لومړۍ دخولي برخه کې یو سرپټی بازار راځي او دننه وړاندې پر مستقیم خط او زاویه دربار دی، هلته به پاچا کېناسته او دلته به عوامو سودا کوله. د (۱۰۰) مترو په اوږدوالي، د (۱۲) مترو پــه پراخوالي او د نږدې (۱۵) مترو په لوړوالي به دا سرپټی بازار جوړ شوی وي. اوس هم په کې دکانونه ښه په ځل او بل سره فعــال وو، د هنــد د تاریخي اثارو تصویرونه او سمبولونه په کې خرڅېدل، خو هرڅه په کې د اور په بیه وو. هر بهرنی، هر هندو ته داسې و، لکه د هوسیو ښکار، پــه

(c) ketabton.com: The Digital Library






ساحل، یون او محبوب په لعل کلا کې

لسو کې چې یو بهرنی هم تېرباسي، دده د ورځې کار پوره کېږي، خــو مورږ چې تر څو ځلې تېر ایستنې وروسته پخې تجربې ته رسېدلي وو، پر مورږ یې (جنتر منتر) چندان تاثیر نه کاوه.

له بازاره چې تېر شو، نو لومړی موزیم ته پورته شو، دا د تاریخي اثارو یو موزیم دی، چې په یوه دوه پوړیزه ودانۍ کې موقعیت لري، د مغولو د وخت، تر هغه لږ څه دمخه او همدارنگه تر هغه وروسته د انگرېزانــو د وخت د جنگي وسایلو نمونې په کې ایښودل شوې دي، د (پاني پت) د جنگ د ډگر یو سمبول هم په کې ایښودل شــوی، دغــو ســمبولونو د جنگ د ډگر انځورنه کوله.

تر هغه وروسته په مستقیم خط د شاه جهان دربار ته لاړو او د هغــه تخــت مــو ولیــده، لانــدې یــوه لویــه ســرپټې ســوپه وه د (۱۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library






مترو په پلنوالي، د (۱۰) مترو په لوړوالي او د (۵۰) مترو په اوږدوالي بــه وه، تخت د دوو مترو په انډول د سوپې په منځنۍ برخه کــې ایښــودل شوی و، شاته یې دروازه هم وه چې شاه به ورته له همغــې لارې راتــه، تخت او د ځمکې متن له سپین بخنو ډبرو جوړ و، خو نورو دېوالونــو او چتونو کې سره ډبره ډېره کارېدلې وه، د ودانۍ ښي لاس ته بیا یو بــل موزیم و چې په هغه کې اکثره د مغولو د وخت اثار، د ژوند لوښي، جامې، د ځینو تاریخي اثارو خطي نســخې پــه کــې ایښــودل شــوي وو. پــر (۱۶۴۴م)کال د شاه جهان د فرمان یوه بېلګه، د اورنګ زېب د فرمانونو بېلګې، د مولوي جلال الدین بلخي د دېوان او همدارنګه د ابوالقاســم فردوسي د شاهنامې خطاطي شوې نسخې یې په کې ایښې وې، د قران کریم یوه نسخه چې په لاس خطاطي شوې وه، هم په کې ایښودل شوې وه، د مغولي پاچایانو د مېرمنو جامې او د کور ځینې نور سامان الات هم په کې ایښودل شوي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د همدې عصر او کورنۍ د نورو شاهانو خطونه او فرمانونه هم په کې وو. لکه د بابر د نیکه خط (۱۴۶۳م)کال هم په کې و، د بابر فرمانونه، د همایون، جلال الدین، د شاه جهان او اورنګزېب اکثره فرمانونه، مهرونه او نور اثار په کې تر سترګو کېدل، د ځینــو شــاهانو مینــاتوري ډولــه انځورونه هم په کې ایښودل شوي وو، د هغو د مېرمنو انځورونه هم په کې ښکارېدل، د دربار د جوړښت انځورګري هم په کې شوې وه. لنډه دا چې د سړي په ذهن کې یې د تېر تاریخ تداعي کولای شوه، سړی یــې لکه د خوب په شان یو بلې زمانې ته وړه، د شنو بخنو سپینو ډبرو درې تعمیرونه چې یو یې په وسط کې و او دوه یې اخوا و دېخوا، هغه مو هم وکتل، فکر کوم چې دا د لعل کلا تــر نــورو تعمیرونــو وروســته جــوړ**





**شوي وي، ځکه د مغولي پېر په لومړیو وختونو کې اکثــره ســره ډبــره کارول شوې، خو په دې تعمیرونو کې  سره ډبره نه وه، دا تعمیرونه هم په**

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ډېره مستقیمه زاویه جوړ شوي چې غالباً د دربار د خلکو د کورونو په توګه به ترې ګټه اخیستل کېده، چپ لاس ته یې یو مسجد هم ودان و، چې دا مهال یې ور بند و، د مسجد څنګ ته بیا یو چمـن و، ونـې او شنې کبلې یې زړه راکښونکې وې، د اوبو یو حوض هم دلته و، د حوض په منځ کې یوه ودانۍ هم وه، چې له سرو ډبرو جوړه وه، د ودانۍ ختیځ پلو ته بیا یو بل مسجد ودان و، حوض دا مهال وچ و، خو غالباً چې اوس ورتـه د واټرپمـپ پـه ذریعـه اوبـه رسـېږي، خـو پخـوا د همغـه




خپل سیستم له لارې اوبه ور رسـېدلې، د لمـر پرېواتـه خواتـه بیـا د انګرېزانو د وخت څو مسلسل تعمیرونه ترسترګو کېږي، له ورایه ښکاري چې د کلا له نورو تاریخي ودانیو سره اړخ نه لګوي، ځینې یې بیا ترمیم شوي او ځینې یې ترمیم لاندې دي. انګرېزانو له دې کلا څخه د خپلې واکمنۍ پر مهال د مهم سیاسي او پوځي مرکز په توګه ګټه اخیستله ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ددې کلا په لومړي سر کې چې موږ کوم موزیم وکوت پــه هغــه کــې د انګرېزانو د وخت د واکمنۍ ځینې تصویرونه هم ترسترګو کېدل. لعل کلا (سره کلا) واقعاً ډېره لویه کلا ده، سره کلا ورته په همدې خــاطر وایــي**



اسد ساحل د لعل کلا د یوې ودانۍ مخې ته

**چې له سرو ډبرو جوړه ده، د کلا په داخل کې له ځینو ودانیو پرته د کلا اکثره برخې او عمومي دېوال له سرو توږل شویو ډبرو جــوړ دی. د دې ټولې کلا اوږدوالی (دوه نیم) کیلو متره دی، لوړوالی یــې پــه بېلابېلــو ځایونو کې تغیر کوي په مجموعي ډول له (۱۶) څخه تر (۳۳) مترو پورې لوړوالی لري. لکه څنګه چې دمخه مو یادونه وکړه په لعل کــلا کــې د بېلابېلو چارو لپاره ډول ډول ودانۍ جوړې شوي، چې ډېرې مشــهورې یې دادي:**

**لاهور دروازه (Lahor gate )، ډیلي دروازه (Delhi gate)، فیل دروازه (Elephent gate)، چاتــــا چـــوک (Chatha Chowk)، نغـــاره**

(c) ketabton.com: The Digital Library





ساحل، یون او محبوب په لعل کلا کې د یوې پخوانۍ ونې ترڅنګ

**خانه** (Naggara khana) **یا نوبت خانه** (Nawbat khana)**، دېوان عــام** (Diwan–i–Aam)**، کرسي** (Qursi) **یا شاهي تخت، لعل (ســره) پــرده** (Lal pardah)**، حیات بخش باغ** (Hayat Bakhsh Bagh)**، دېوان خاص** (Diwan–i– khas)**، خـــاص محـــل** (Khas mahal)**، موســـامان بـــرج** (Mussaman Burj)**، نهر بهشت** (Nahr–i– Behisht)**، میـــزان عـــدالت** (Mezan–i– Adalat)**، ســاوان وبــادان** (Sawan wa Bhadan)**، ظفــر محل** (Zafar mahal)**، حمام** (Hammam)**، زنانه** (Zanana)**، ممتاز محل** (Mumtaz Mahal)**، رنګ محل** (Rang mahal)**، دعوت خانــه** ( Dawat khana)**، موتي مسجد** (Moti masjid) **او ځینې نور. په کلا کې مو ډېــر تصویرونه واخیستل، نږدې شپږ بجې وې چې له سرې کلا څخه راووتو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څو شېبې په ګوردواره کې

کله چې له (سرې کلا) څخه راووتو، نو د کــلا عمــومي دروازې تــه مخامخ يو سور ګونبزي غوندې تعمير دی، محبوب وويل: ((دا د هندوانو عبــادتځی (منــدر) دی، دلتــه بــه هــم ورشــو، وبــه يــې ګــورو



په ګوردواره کې عبادت کوونکي

چې څه حال دی.)) مورې وويل: ((محبوبه! هندوانو نه دې پیسې نــه وي اخيستي، چې دادی دا څو مې درته راوستي، ته خو هسې هم د مذهب كيسه كې نه يې چې مورې پرې خراب نه كړې.)) ده وويل: ((راځئ بابا دې خبرو پسې مه ګرځئ.)) مورې وويل: ((ته بلد يې كه نه او كه نه پــه مــورې ځان بلدوې؟)) ده وويل: ((بلد څنګه نه يم.)) تر څو دقيقو پلــي مزلــه وروسته چې هلته لاړو محبوب رښتيا هم بلد نه و. كله چې د هنــدوانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عبادت ځي (مندر) ته ورسېدو، نو چوپه چوپتيـا ده، محبــوب وويــل: ((دلته يوه (باريکي) شته.)) د محبوب د (باريکۍ) خبره مشهوره ده . يو وخت موږ له څو تنو نورو ليکوالو ســره (کنــدوز) ولايــت تــه روان وو، محبوب اصلاً د کندوز دی، محبوب مو ځان سره موټر کې کېناوه چــې**




**موږ ته به لاره راوښيي، ځکه زموږ اول ځل و چې هلته تللو، کله چې تر (پلخمري) ورتېر شو، نو يوه دوه لارې راځي، يو سړک (مزارشريف) تــه ځي او بل (کندوز) ته، ماښام تياره ده، محبوب ته وايو چې پر کوم سړک لاړ شو، په ښي که په چپ؟ محبوب وويل: ((تاسې صبر کوئ، دلته يوه باريکي ده.)) نو پر دې وخت زموږ، ترافيکي لارښوووني ته پام شو چې يوه خواته يې (کندوز) ليکلی او بلې خواته يې (مزارشريف)، نو هلته موږ ته پته ولگېده، چې محبوب اصلاً د کندوز دی خو تر اوسه يــې کنــدوز ليدلی نه دی، ما ويل محبوبه گوره هغه د کندوز کانه راباندې ونه کړې؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده وویل: ((ته بیا داخبره کوې راځئ چې ځو هېڅ خبره نه شته.)) ما وویل ((نه تاته د دوی مذهب معلوم دی که نه؟ مسلمانان هم د دوی عبادتځي ته ورتللای شي که نه؟)) ده وویل: ((هو ورتللای شي.)) ما وویل: ((پوه یې که هسې وایې؟)) ده وویل: ((ورتللای به شي نو...))، ما ویل ګوره چې خبره دې خرابه کړه، ددې عبادتځي څنګ ته چې ورغلو، نو ګورو چې پر دېوالونو د عبادت کوونکو لوڅ عکسونه لګېدلي، یوازې فرض یې د پښې په راتاوولو پټ کړي، نور یې هر څه ښکاري، عکسونه ټول د نرینه عبادت کوونکو وو. محبوب ته مې وویل: ((داڅه حال دی محبوبه؟)) محبوب هم لکه چې دا یې اول ځل و، حیران و، خو موږ ته یې ځان ډېر بلدي بلدي ښکاره کاوه، دروازې ته ورنږدې شو، موږ پرې غږ کړ! ((محبوبه راځه چې لوڅ دې نه کړي څه کوې؟ بیا دې څوک راخلاصوي.)) خو ښه وه فکر کوم دا یې د عبادت وخت نه و، ارامه ارامي وه، دروازه هم ترلې وه، یوازې یو سړی دننه ښکارېده چې صفایي یې کوله.

د (سل مترو) په اندازه وړاندې لاړو، (چاندني چوک) سره نږدې د سکانو د عبادتځي پر لوري روان یو، د سکانو عبادت ځای ته (ګوردواره) وایي، محبوب بیا ځان ملک ملک کاوه ورننوته، له عبادتځي څخه ګردچاپېره کټاره راتاوه ده، مخکې تر دې چې څوک (ګوردوارې) ته پورته شي، اکثره یې د زینې ډبرې مچوي، زینه نو بیا پاکه او سُتره ده، له سپینو مرمرو جوړه ده، اوبه هم پرې تویېږي او دقیقه پر دقیقه پرې لته تېروي؛ پاکوي یې، لاندې د بوټانو ویستلو لپاره منظم ځای په پام کې نیول شوی دی، ښځې او پېغلې ولاړې دي، د خلکو بوټان اخلي او نومره ورکوي. مامحبوب ته وویل: ((څه حال دی دې ښځو نه خو پوښتنه وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library






په ګوردواره کې مشر عبادت کوونکی

چې اجازه شته که نه څه بل فساد ونه کړې وه محبوبه!)) محبــوب ورو ورننږدې شو، مور ته یې اشاره وکړه: ((راځئ!)) مور هم ورغلو، ویل یې: ((بوټان مو وباسئ!)) یوه پېغله جلۍ او یوه ښځه په دې غرفه کې ولاړې وې، دې ښځې ته مې په ګوډه ماته اردو وویل: ((دا محبوب نومېږي، په جلال اباد کې (سک) شوی، ستاسو دین تــه اوښــتی اوس مــو دلتــه راوستی چې ستاسې هغو مشرانو ته یې ورتسلیم کړو او مور درنــه لاړ شو، مور ته خو څه مشکل نه شته چې پاس لاړ شو؟)) هغې وویل ((نه! بابانانک خو مسلمان و، هغه خو زمور او ستاسو دواړو دی،دلته هره ورځ مسلمانان هم راځي.)) څلور دسمالونه یې راکړل چې باید له سره یې تاو کړو. پر زینې پاس ارام وختلو، په لومړي منزل کې یو لوی تالار دی، غالۍ په کې اوارې دي، خوشبویي لګېدلې ده، خلک ټول څو ځله سجده کوي او بیا غلي کېني، مخې ته یې د یوه ستېج په شان ځای دی، څلور پنځه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کسان پرې ناست دي، مخې ته يې هرمونې، تبلې او میکونه ایښي دي،**




په ګوردواره کې ښځینه عبادت کوونکې

**خپل مذهبي سرودونه وايي، موږ نو غلي غلي له یو کونجه د بل پر لوري روان یو، لکه سړی چې د فاتحې لپاره په لین کې روان وي، ګرد چاپېره وګرځېدو، محبوبي ته مې وویل: ((ژر ژر ځان باسه چې شــاوخوا تــولې کمرې لګېدلي دي، څو ټلویزیوني کمرې هم لګېدلې وې فکــر کــوم د سکانو له کوم ټلويزيوني چینل څخه يې ژوندۍ خپرونې کولې. لانــدې چې د خروجي زينې پر لوري راکښته کېدو، هلته یو ځای و، لکه د قبر په شان، ټول خلک به هلته یو ځل پر سجده پرېوتل، ګنه ګونه هم زیاته وه، یو دوه ښځې او نرينه چې پر سجده پرېوتل، نو موږ ته لاره پيدا شوه، ژر ترې تېر شو او په خیر سره راووتو، بېرته لاړو خپله نومره مو ورکړه او بوټان مو واخیستل، هغې ښځې ته مې وویل: ((دا یو(محبوب) سک شو**

(c) ketabton.com: The Digital Library





په ګوردواره کې مذهبي موسیقیوال

نور به هره ورځ دلته راځي.)) هغې هم سخت وخندل.

کله چې له ګوردوارې څخه راووتو، نو یو څو شېبې نور هم په (چاندني چوک) کې وګرځېدو، د سیارې موسیقۍ یوه ډله مخې ته


د ایجړاګانو یوه ډله د (هولي) مېلې لپاره د موسیقۍ له لارې چنده

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغله چې غالباً ایجراګان به وو، د (هولي) مېلې لپاره یې موسیقي غړوله او چنده یې ټولوله، ځینو ورته لږ لږ پیسې ورکولې، محبوب هم ترې یو پنځوسی نذرانه کړ، په چاندني چوک کې لږ نور هم وګرځېدو. دا چوک د کاروبار لپاره ښه بازار ګڼل کېږي، د هندي سـینما مشـهور سـتوري (اکشي کمار) هم یو وخت دلته کار کاوه،(له چاندني چوک څخه تر چینه پورې) یو فلم یې هم جوړ کړی چې د ده د ژوند د همدې ځای برخه په کې انځور شوې ده. دې چوک کې تر ګرځېدو وروسته نور ښـه سـتړي شوي وو، نور مو نو محبوب د خپلې راډیو پر لوري رخصت کـړ او مـوږ دربواره په رېکشا کې کښناستو او د خپل هوټل پر لوري وخوځېدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د هېوادونو پېژندنه

له ټاکل شوي مهالوېش سره سم باید د فبرورۍ پر (۱۸) مه نېټه پــه کورس کې هر چا د خپل هېواد په باب یو پرزنټېشــن (Presentation) وړاندې کړی وای، د جمعې پر ورځ د پېژندنې دا لړۍ پیل شوه، لومړی د



د کورس استاده مېرمن سوګتا چکروتي او د مالدیف محصله سلما

نیپال، بیا د روسیې او ورپسې د کیوبا محصلینو د خپلو هېوادونو په باب معلومات وړاندې کړل. معلومات ټول په تصویري ډول د سکرین پــرمخ ښودل کېدل، د هر چا لپاره ډېر جالب وو، پر داسې وختونو د هر هېواد په باب غټ معلومات وړاندې کېږي، له جزیاتو ډډه کېږي، ځکــه چــې وخت په کې حتمي قید وي، د هر پرزنټېشن لپاره له (۲۰-۳۰) دقیقــو پورې وخت و. په دې کې د یو هېواد، مساحت، نفــوس، لنــډ تــاریخ، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت ډول، دین، قومونه، ژبې، پیسې، اقتصــاد، ترانســپورت، ملــي سرود، ملي سندرې یا ډانس، تاریخي او تفریحي ځایونه، تولیدات، کلتور




له سوډان څخه محمدعبدالله د خپل هېواد پېژندنه وړاندې کوي.

او ځینې نور غټ مسایل په لنډیز او مصور ډول بیانېدل، رښتیا هم ډېر په زړه پورې وو. پر لومړۍ ورځ چې دا پرزنټېشنونه وړاندې شــول، لــه خپلو هېوادونو سره یې د هغو د وړاندې کوونکو ژوره مینه څرګندوله. موږ افغانان خو د هېواد پالنې ډېرې سندرې اورېدلي، خو چې نور خلک وګورو، ټول له خپلو هېوادونو سره همداسې مینه لري. زمــوږ نوبــت د فبرورۍ پر (۲۱) مه نېټه دی، موږ به کوښښ وکړو چې کوم مسایل پــه ننني پرزنټېشنونو کې زموږ په نظر نیمګړي ښکاره شول، هغه هم پوره کړو. د پرزنټېشنونو تــر وړانــدې کولــو دمخــه د کــورس اســتادې، د هندوستان او ځینو نورو هېوادونو په باب پر سکرین معلومات یا هغــه پرزنټېشنونه وړاندې کړل چې پخوا جوړ شوي وو، د کــورس اســتادې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېرمن سوګتا چکروتي وويل: ((دا پرزنتېشنونه ددې کـورس فارغـانو ترتيب کړي وو، تاسې هم کولای شئ، همـدا ډول معلومـات وړانـدې کړئ.)) د کورس استادې د هند په باب معلومات وړاندې کړل، خـو دا معلومات ډېر په لنډيز سره وو. هند يو لوی او عظيم هېواد دی، د هنـد جمهوريت د اسـيا د وچـې پـه جنـوب کـې موقعيـت لـري، چـې د (۳۱۶۶۱۴۴)کيلو متره مربع مساحت په لرلو سره، چې د هغـه (۹،۵۶) سلنه اوبه احتوا کوي، د مساحت له نظره د نړۍ اووم هېـواد شـمېرل کېږي. دغه هېواد په نړۍ کې د نفوسو د شمېر په لحاظ دويم هېواد دی. ددې هېواد ګاونډيان دي: د هنـد سـمندر پـه جنـوب کـې د عـرب سمندرګی، په لويديځ کې د بنګال سمندر او همدارنګه د دغه هېواد په ختيځ کې د پاکستان اسلامي جمهوريت، له چين، نيپال او بوتان سره په شمال ختيځ او له بنګله دېش او ميانمار سره په ختيځ کې ګډه پوله لري، همدا شان د هند سمندر له لارې سريلانکا، اروپا او اندونيزيا سره هم ګاونډی ګڼل کېږي.

د انډيا (India) کلمه د اندوز (Indus) له کلمې څخه مشتق شوې ده. د هند جمهوريت اساسي قانون ددې هېواد محلي نوم بهارت (Bharat) هم په رسميت پېژني.

د هند د جمهوريت دولتي نظام فـدرال جمهوريـت دی، چـې ددې هېواد اساسي قانون دغه هېواد سوسياليست، سيکولر او دموکراتيک جمهوريت تعريفوي او سياسي رژيم يې پارلماني بڼه لري، چې جوړښت يې له غربي پارلماني سيستم سره ورته تنظيم شوی دی. ددې هېواد د اساسي قانون له مخې دولت درې قوې: مقننه، اجرائيه او قضائيه لري، چې هر يوه مستقله قوه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمهور رئیس د دولت مشر او د پوځ اعلی قومندان دی، چې د پنځو کلونو لپاره د انتخاباتو له لارې انتخابېږي.

صدراعظم د حکومت (اجرائیه قوې) د مشر په توګه د هغه ګوند لـه خوا چې د پارلمان په ولسي جرګه کې یې اکثریت ترلاسـه کـړی وي، غوره کېږي. صدراعظم چې د اجرائیه قوې مشر دی، د جمهور رئیس له خوا ولسي جرګې ته چې (۵۴۵) غړي لري، معرفي کېږي او د اکثریـت رایو په اخیستلو سره ټاکل کېږي.

ددې هېواد مقننه قوه یا پارلمان له دوو برخو څخه متشکله ده، چې لومړی یې د پارلمان پورتنۍ خونه ده، چې راجیا سبها (Rajya Sabha) یا د دولت شورا نومېږي، چې (۲۴۵) غړي لري او د ایالتي پارلمانونو له خوا د نفوسو د تناسب پر بنسټ انتخابېږي، د هغوی د کار موده شـپږ کاله ده. دا برخه یې د افغانستان د پارلمان مشرانو جرګې ته ورته ده.

د پارلمان دویمه خونه ولسي جرګه ده، چې هغه (لوک سـبها) یـا د خلکو کور دی. دا جرګه (۵۴۵) غړي لري، چې په مستقیم ډول د خلکو له خوا د پنځو کلونو لپاره انتخابېږي. لکه د افغانستان ولسي جرګه، په هند کې هر هندي وګړی، چې د (۱۸) کلونو عمر یې پوره کـړی وي، د رایې ورکولو حق لري.

د دولت درېیمه قوه، قضائیه ده، چـې د اساسـي قـانون لـه مخـې مستقله پېژندل شوې او د هغې په سر کې ستره محکمه واقع ده، چې د قاضي القضات له خوا یې مشري کېږي. د سترې محکمې اساسي دنده د هند د سراسري قوانینو تطبیق، د هند د ایالتي عالي محاکمو څارنه او همدارنګه که چېرې د فدرال قانون او ایالتي قانون ترمنځ له یوې خوا او

(c) ketabton.com: The Digital Library



له بلې خوا له اساسي قانون سره د هغو کوم تناقض رامنځته شي، د هغو حلول دي.

له اجرايي پلوه جمهور رئيس، د جمهور رئيس مرستيال او د کابينې شورا، د دولت په سر کې واقع دي. د هند جمهوريت (۲۸) ايالتونـــه او (۷) فدرال اتحادونه (زونونه) لري، چې عبارت دي له:

| | |
|---|---|
| ۱- اندراپردیش | Andhra Pardesh |
| ۲- ارانچال پردیش | Arunachal Pardesh |
| ۳- اسام | Assam |
| ۴- بیهار | Bihar |
| ۵- چهات سیگرا | Chattisgarh |
| ۶- گوا | Goa |
| ۷- گجرات | Gujarat |
| ۸- هریانا | Haryana |
| ۹- هېماچل پردیش | Himachal Pardesh |
| ۱۰- جامو او کشمیر | Jammu&Kashmir |
| ۱۱- جهارخاند | Jharkhand |
| ۱۲- کمانکا | Kamanaka |
| ۱۳- کیرالا | Kerala |
| ۱۴- مدیا پردیش | Madhya Pardesh |
| ۱۵- مهاراشترا | Maharashtra |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| ۱۶- منيپور | Manipur |
| ۱۷- ميغاليا | Meghalya |
| ۱۸- ميئورم | Mizoram |
| ۱۹- نګالند | Nagaland |
| ۲۰- اوړيسا | Orissa |
| ۲۱- پنجاب | Punjab |
| ۲۲- راجستان | Rajisthan |
| ۲۳- سيکيم | Sikkim |
| ۲۴- تاميل ناډو | Tamil Nadu |
| ۲۵- ترپيپورا | Tripura |
| ۲۶- اوترانچل | Uttranachal |
| ۲۷- اوترا پرديش | Uttra Pardesh |
| ۲۸- ويسټ بنګال | West Bengal |

ددې هېواد (۷) فدرال اتحادونه (زونونه) عبارت دي له:

| | |
|---|---|
| ۱- اندامن اونيکو باراسلندز | Andamn And Nicobar Islands |
| ۲- چنديګر | Chandigarh |
| ۳- ددرا او نګرهيولي | Dedra and Nagar Haveli |
| ۴- دامن او ديو | Daman and Diu |
| ۵- لاکز شادوپ | Lakshadweep |
| ۶- پادوچري | Puducherry |

(c) ketabton.com: The Digital Library






## ۷- ډیلـــــي ملـــــي مرکـــــز

National Capital Territory of Delhi.

ددې هېواد پلازمېنـه د ډيلـي ښار دی او ستر ښارونه يې ممبي، کلکته، چيني، بنګلور او حيدر اباد دي. ددې هېـــواد رســـمي ژبـــې هندي، انګرېـزي او (۲۷) نـورې ژبې دي، خو ددې هېـواد (۷۴) سلنه خلک په هندي ژبه غږېږي. د هند د وګړو (۸۰،۵) سلنه هندوان، (۱۳،۴) مسلمانان چې دويم اکثريت کېږي، (۲،۳) سلنه عيسويان، (۱،۹) سلنه سکان، (۱،۹) بودستان،( ۸،۰) جيسی او (۰،۴) سلنه جيو او بهايان دي.




د کورس استادې وويل: ((هنـد کې په سوونو ژبې دي چې له هغې جملـې څخـه (۲۹) ژبـې رسـمي دي.)) دې وويل: ((په هنـد کـې د سلګونو مذهبونو پلويان شته، خو څوک حق نه لـري چـې د چـا د مــذهب ســپکاوی وکـــړي.)) د سياسي مشرانو په لړ کې يې د هند د معنوي پـلار مهاتماګانـدي او د اوسنيو حکومتي مشرانو په لړ کې يې د من موهن سنګ يادونه وکــړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې د هند د بېلابېلو سیمو کلتور او د هند سینمایي هنر ته هم اشــاره وکړه.

د سینمایي ستورو په لړ کې یې د (شاه رخ خان) تصویر ښکاره کــړ،





ویې ویل چې دی د هنــد ویــاړ دی، پــه سیاســي شخصــیتونو کــې د مهاتماګاندي عکس وښود او همدارنګه د هند د اوسني صدراعظم من موهن سنګ عکس. د هند د بېلابېلو سیمو کلتورونه او د هنــد مهــم پیداوار یې هم څرګند کړل. د کورس اســتادې د پرزنټېشــنونو د ښــه ترتیب په موخه پر موږ د کمپیوټر دوه ورځنــۍ ځــانګړی کــورس هــم ولوست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مذهبونو یوه بله ننداره


د جمعې پر ورځ مازیگر شپږ بجې تلویزیون ته ناست وم، څو ټلویزیوني چینلونه مې وکتل، په زیاترو کې مذهبي مراسم روان وو، لومړی خو د سکانو یوه (گوردواره) وه چې ژوندي نشرات ورڅخه کېدل او موسیقي په کې چالان وه، چا دېوالونه مچول، چا ځمکه، د موسیقۍ یو لس کسیز گروپ و، هغو سندرې ویلې او نور ورته غوږ غوږ وو، دا چینل پنجاب نومېده، بل چینل سېنکېرا(Sankara) نومېده، په دې کې یو بل مذهبي لارښود ښکارېده، سرې جامې یې پر تن وې، خو نیم بدن یې ښکارېده، پر وچولي یې څو سپین خطونه کش کړي وو او سر یې هم ښه پاک خریلی و، خپل معبود یې د تازه گلانو په امېلونو کې رانغاړلی و، د تازه گلانو یوه یوه پاڼه یې پرې پاشله، بیا به یې د ډول ډول



د مذهبي مراسمو د اجرا پر وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library






غذاګانو یوه یوه مړۍ له قاب او کاشغۍ سره ورته نږدې کړه، مخې ته به یې ورنه تاوه راتاوه کړه، بېرته به یې کېښوده، بیا به یې بلـه غـذا راواخیسته تر هغه پورې چې د ټولو غذاګانو ډولونه خلاص شول، څنګ ته یې په لوڅ بدن یو دولس دیارلس کلن ماشوم هم ناست و، هغه هم پر خپل وجود سپینې پټې تېرې کړې وې، وروسته یې یو بل تصویر وښود چې همدا مذهبي لاربښود د یوه دریاب یا سیند پرغاړه ناست دی، اوبو ته یوه زینه کښته شوې، دی په همدې زینه کې ناست دی، خلک ورته لاندې په اوبو کې ولاړ دي، ځینې دده پر زنګونو اوبه اچوي او اوبه همداسې لاندې راتویېږي او لاندې ورته هغو نورو خپلې خولې نیولي، هغه اوبه څښي او بیا یې په لپو کې پرمخ او سر شیندي، عیناً لکه افغانستان کې چې ځینې خلک د ځینو پیرانو د لاس اوبه څښي. ما چې دا حالات وکتل نو له مذهبونو څخه مې د ځینو سادګانو خپل خپل تعبیر ته پام شو، چې څومره مشترکې وجې سره لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library





دې مذهبي لاربسود بیا وروسته د نړدې لسو دقیقو لپاره له خپل معبود سره د زړه خواله هم وکړه، ډېر څه یې وویل، خو هر څه ده وویل، معبود یې هېڅ هم ونه ویل. بیا یې یوه غوا راوسته، پر هغې یې هم ګلان وپاشل، د یو فیل پر تندي یې هم سپینې پټۍ تېرې کړې وې، فکر کوم دا د هندویزم د یو مذهب پیروان وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پاني پت پر لوري

د (پاني پت) نوم هر لوستي او قلموال افغان ته اشنا دی، (پاني) پــه هندي ژبه کې اوبو ته ویل کېږي (پت) د هندي او پښتو ترمنځ مشترک دی، د پاني پت جنګ، د عزت او ابرو جنګ مانا ښندي. لوی احمدشاه بابــا د پــاني پــت اتــل ګڼــل کېــږي. دا مــې پــه




یون، استاد خالق رشید او اجمل په پاني پت کې

ژوند کې د خیال په شان هم نه ګرځېدله چې زه به ګنې (پاني پت) تــه هم لاړ شم، دا ځل چې د ډېر وخت لپاره هندوستان ته راغلم، نو په زړه کې مې ډېرو ځایونو ته د تګ هیله پیدا شوه، څو ورځې دمخــه اســتاد خالق رشید راته وویل: ((که وخت پیدا شو، پاني پت ته به هم ځو.)) ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل: ((د رخصتیو پر وخت به ضرور ځو.)) د شنبې ورځ استاد خــالق رشید او مورږ ټول رخصت یو، ماښام مې استاد ته زنګ وواهه چې که سبا څه مصروفیت نه لرې، نو پاني پت ته به لاړ شو، هغه وویل: ((ښېخې سمه ده)) ما ورته وویل: ((د موټر چاره به زه وکړم.)) هغه وویل: ((نه زه یــې پیدا کوم.)) ما وویل: ((نه زه یې غم خورم.)) د اجمل یو ملګری (شمس) چې خپل موټر لري او مورږ کله کله ګرځوي، هغه ته مې وویل، هغه لــه هغو ناروغه افغانانو سره، چې له کابله نوي راغلي وو، مصروف و، د هوټل




رسپشن کې مو خبره وکړه، هغوی وویل: ((نیم ساعت وروسته به درته پوره احوال درکړو.)) نیم ساعت وروسته چې ورغلو، تیار یو ډرېور یــې راغوښتی و، (سک) و، خبره مې یو کیلو متر پر (۹) روپۍ ورسره خلاصه کړه، مورږ ورته وویل چې سبا اته نیمې بجې دلته راشه، له همدې ځایه به ځو. دا یادښت د شپې لیکم، تر سبا پورې دې خدای خیر پېښ کړي، پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند یوه شېبه هم اعتبار نه شته. (پـاني پــت) تــه خــو خــاص د بابــا (احمدشاه بابا) په یاد ځم، په احمدشاه بابا پسې خو یو شمېر بهرنیو او ځینو کورنیو لیکوالو ځینې ناوړه تبلیغات هم کړي، ان ځینې پښتانه هم کله کله یوه ګوډه ړنده خبره ورپسې خوشې کوي، هندي لیکوال (ډاکتر ګنډاسنګ) هم یو وخت د همدې تبلیغاتو تر اغېز لاندې راغلی و، خــو کله چې یې د خپلې دوکتورا تېزس د لیکلو لپاره د احمدشاه بابا په باب پلټنې پیل کړې، نو هغه یې یو ستر انسان وموند او (د احمدشاه دراني) په نامه یې خپل اثر په نږدې (۷۰۰) مخونو کې بشپړ کړ. احمدشاه بابا، ما او زما په شان نورو ته ځکه ډېر ګران دی، چې د ستر سیاسي او پوځي نبوغ خاوند و، ده له ګډوډو پښتنو څخه یو منظم لښکر جوړ کړی و، د خوشال بابا په وینا ((له هغو کړو تیرو څخه چې هډو دېوال جوړېږي نه)) ده ورڅخه یو پوخ سپر او دېوال جوړ کړی و، زه سره له دې چې له شلو کلونو راهیسې په شعوري ډول د پښتنو په درد کړېږم، خو څومره چې پر دوی کړېږم، همدومره د همدې پښــتنو د ځینــو تنګنظرانــو لــه خــوا ځورېږم، خوشال بابا وایي:

پـــښتانـــه د بدنیتۍ د خصومت دي<br>په حیا پــه شجـــاعت یې وکــړه شاش

زه چې یو عادي سړی یــم، دومــره کــړول شــوی یــم، نــو دا لــوی شخصیتونه به دوی څومره کړولي وي، بایزید روښان خو د تنــدې لــه لاسه جل وواهه، خوشال یې دومره سترړی کړ چې اخر یې وویل: ((... بیا د ټولو پښتنو پسې دنبال)) ارمانجن ګور ته لاړ او دا ارمان یې هېڅ پوره نه شو چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



که توفیق د اتــفاق پښتانــه مـــومي
زوړ خوشال به دوباره شي په دا ځوان

خو احمد شاه بابا له داسې عملي تدبیره کار واخیست، چې په پښتنو کې یې د بدنیتۍ او خصومت هوسونه مهار کړل او یوه لویه امپراتــوري یې جوړه کړه. د کار د خلکو پر وړاندې پرتې ستونزې د کار خلکــو تــه معلومېږي، د وینا او عمل ترمنځ ډېر لوی تفاوت وي، استاد الفت وایي:

د عمـــل د خــاونـــدانو په حضور کې
د وینا خاوند ولاړ لاس په سلام دی

نو هغه هیلې چې د خوشال بابا په زړه، فکر او قلــم کــې ټوکېــدلې، احمدشاه بابا هغو ته د عمل جامه ورپه غاړه کړه. نو ځکه خو د پاني پت ددې اتل په باب هلته تګ زما یوه هیله وه.

د فبرورۍ (۲۰) مه نېټه د شنبې ورځ وه، سهار چای مو وڅښه، د سفر پیسې مې جلا کېښودې، ټیک اته نیمې بجې له اتاقه ووتم. کلــه چــې رسپشن ته کښته شوم، اجمل او ساحل هم تیار منتظر وو، خو ټکســي والا تراوسه نه و راغلی، په رسپشن کې نن بل نوکریوال و، له پروني هغه سره یې تماس ونیو، هغه وویل: ((ټکسي به راشــي، انتظــار وکــړئ، زه ورسره تماس نیسم)) هغه لکه چې ویده غونــدې و، اواز یــې خوبــولی ښکارېده، هندوان هم لکه د ځینو مسلمانانو غوندې د وخت ډېر خیال نه ساتي، سره له دې چې ټکسیوان د خپلې ګټې لپاره وخت تــه ډېــره اړتیا لري.

په اکثرو اسلامي ټولنو کې وعده پر ساعت او دقیقو نه قیدېږي، وایي تر ماسپښین، ماسخوتن او یا نورو لمونځونو وروسته یا دمخه راشئ چې نږدې څلور پنځه ساعته زماني واټن رانغاړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څو دقیقې وروسته ټکسي راغله، سک هم ورسره و، خو هغه وویـل چې دا بل سړی درسره ځي. لومړی مو د ټکسي کیلـو متـر قیـد کـړ**




یون او ساحل د راني کسل هوټل په وره کې

**(۱۶۶۰۳۲)، د ډرېـور نـوم (جکـر سـنګ) و، ټلیفـون نمبـر یـې (۹۸۹۷۸۳۷۸۵۴). د خالق رشید استاد د کور پر لوري مو حرکت وکړ، د هغه استوګنځی په ګرین پارک ماین ایـف دوه شـپېته ( Green park mine F62) کې موقعیت لري. وړوکی سوزوکی موټر و، لکه د اورلګیـد ډبی څلور تنه په کې ایله ځایېدل، په لاره کې مو له ډرېور سره هم ګوډه ماته اردو ویله، له هغه څخه مو تپوس وکړ چې (پاني پت) ښه ځای دی که نه؟ هغه وویل: ((ډېر لوی ځای دی د (هریانا) مربوط دی.)) هریانا د هند یو ایالت دی، چې له همدې لرغونې اریانا څخه د ورغلو خلکو لـه امله ورته دا نوم منتسب شوی دی. د خالق رشید استاد تر ځایـه څـو ورې تاریخي ودانۍ مخې ته راغلې چې له اکثرو کتارې راتاوې شوې وې، یوه ورځ استاد خالق رشید وویل: ((په ډیلي کې د دا ډول ودانیو شمېر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تر (یو زر ودانیو) هم اوښته چې اوس اکثره له منځه وړل شوي او د هند حکومت هم ډېر سوړ حکومت دی، یوازې هغو ودانیو ته یو څــه توجــه کوي، چې دوی ته بالفعل ګټه رسوي. نور نو ډېر د تاریخ په کیسه کې نه دي، دا تاریخي ودانۍ د اسلامي واکمنود واک په بهیر کې، په تېره بیا د پښتنو او مغولو واکمنو له خوا جوړې شوې دي، نو ځکــه خــو دومــره ارزښت هم نه ورکول کېږي، نفوس هم ډېر زیات شوی، ښاري نقشې هم غځېدلي، خلکو هم ددې ودانیو پــر احــاطو خېټــه اچــولې، د هنــد د حکومت هم پر زورورو زور نه رسېږي، د زمانې توپانو هم ځینې ودانـــۍ نړولي، نو ځکه اکثره ودانۍ له منځه تللي او نورې هم د له منځه تللو په حال کې دي.)) ټیک (۹) بجې د استاد خالق رشید کور تــه ورســېدو. استاد تیار موږ ته منتظر و، (۹) بجې او پنځه دقیقې وې چې د پاني پت پر لوري مو حرکت وکړ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له ډيلي تر پاني پته

د (صفدر جنــګ) لــه هــوايي ميدانــه تېــر شــو،دلته ورځېرمــه د (صفدرجنګ) په نامه يوه زړه کلا ده،صفدر جنګ په هند کې د ګورګاني دربار وزير و. دلته د صفدر جنګ مقبره ده چې د مغولو د امپراتــورۍ د معمارۍ په وروستي ســبک جــوړه شــوې ده. دا ودانــۍ د محمدشــاه ګورګاني د واکمنۍ پر مهال د (۱۷۵۳-۱۷۵۴م)کلونو په ترڅ کې جوړه




شوې ده. په لاره کې ساحل صيب وويل: ((نن په انټرنېټ کې يو خبر و؛ داسې يوه الوتکه جوړه شوې چې د يوه انسان لپاره ده، په يو ساعت کې تر (۴۰۰) کيلو مترو زيات مزل کولای شي.)) ما وويل: ((په روانــو ســلو کلونو کې به علم کوم حد ته ورسېږي؟ ځينې ساينسپوهانو وړاندوينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې چې ددې (۲۱) مې پېړۍ په بهیر کې به علم دومره پرمختګ وکړي، چې د ایمېل یا برېښنالیک په واسطه به یو کور له یوې وچې بلې ته انتقالولای شي، باران به د اړتیا له مخې کېږي، یانې کومو سیمو ته چې زیاته اړتیا ده، داسې وسایل به کارول کېږي چې هلته زیات باران وشي، لکه چې اوس هم پر ځینو سیمو مصنوعي باران کېږي، ان پاکستان هم




ددې وس پیدا کړی چې کله کله پر ځینو سیمو لکه بلوچستان او نورو مصنوعي باران وکړي، همدارنګه په لسګونو ډوله نور پرمختګونه چې اوس یې تصور هم نه کېږي. د شلمې پېړۍ پرمختګونه په نولسمې پېړۍ کې متصور نه وو، داسې د یوویشتمې پېړۍ پرمختګونه اوس متصور نه دي، خو چې زموږ ځینې ملایان به ورسره څه کوي؟))

له انډیا ګېټ څخه تېر شو، استاد خالق رشید وویل: ((د انډیا ګېټ د دروازې پر سر لیکل شوي چې دا د افغان- انګریز د دریېمې جګړې په ویاړ جوړه شوې دروازه ده. دا دروازه انګرېزانو په ډېر شاندار ډول جوړه کړې، انګرېزانو چې افغانستان کې پرله پسې ماتې وخوړه، نو د خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اولادونو لپاره يې دلته دا گېټ جوړ کړ.)) استاد خـالق رشـيد وويـل: ((زموږ په کلي کې زموږ د يو خپلوان زوی د ملا زوی وهلـی و، د کلـي خلک پرې راټول شول چې تا ولې د ملا زوی وهلی دی، دا کار د کولـو دی؟ د ملا زوی هم څوک وهي؟ هغه ورته وويل: زما د پلار نوم د انـډيا گېټ په دروازه ليکل شوی، تاسې وايئ چې د ملا زوی دې وهلی دی، نو ددې گيټ خاطرې د افغانانو په ذهن کې ژوندۍ دي.))

په لاره کې د (فيروزشاه کلا) مخې ته راغله دا کلا ډيلي گېټ ته نږدې ده چې په (۱۴) مه ميلادي پېړۍ کې د فيروزشاه له خوا جوړه شوې، د دېوالونو لوړوالی يې (۱۴) متره و، چې د گوډ تيمور له خوا بيا ړنگه شوې،




ددې کلا زاړه دېوالونه نيمگړي او نيم ړنگ ښکارېدل، د فيروزشاه کلا او (لعل کلا) ترمنځ يو عمومي سړک دی، ښي لاس ته د گاندي يادگـاري ځلی دی، دا ځای (راجگاټ) نومېږي. دې ټولې سيمې ته به يې د ډيلي ښار په گډون (شاه جهان اباد) وايه. په لاره کې د (وزيراباد) په نوم يـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای راغی، دا سړی (وزیرمحمد) نومېده چې له روهیله پښتنو څخه و، د پاني پت په جنګ کې یې د احمدشاه بابا ملاتړ وکـړ، نـو ځکـه بیـا وروسته دا سیمه دده په نامه یاده شوه. احمد شاه بابا چې کله ډیلي ته ننوت، نو د پاني پت په جنګ کې یې په لومړي پـړاو کـې ډېـر تلفـات ولیدل، وروسته یې ورته بیا تدبیر ونیو، بیا د هند پښتنو پر ده ننګ وکړ، احمدشاه بابا دوه ځلې هندوستان ته راغلی، یو ځـل د نـادر افشـار د واکمنۍ پرمهال او بل ځل د خپلې امپراتورۍ پر وخت، وایي چې نـادر افشار یوه ورځ (د سهار له اتو د ماسپښین تر دریو بجو پورې) په اوسني زاړه ډیلي کې (۱۲۰) زره کسان ووژل، اوازه وه چې نادر افشار وژل شوی، خلک په دې خبر خوشاله شول، دده پر عسکرو یې یرغل وکـړ، نـادر افشار خپله جنګ ته راووت او عام قتل یې وکړ. په همدې بحثونو کې وو چې موټر پنجاب ته پر تلونکې لویې لارې برابر شو. استاد خالق رشـید وویل: ((دا سړک مخکې ډېر تنګ و، یوازې یو موټر پرې له دې خوا او یو له هغې خوا تګ راتګ کاوه، خو اوس یې په درې څلورو کلونو کې داسې جوړ کړ، اوس په کې څلور خطونه یوه خوا او څلور بله خوا دي، یانې دا چې څلور ځله لوی شو.)) په لاره کې یوه جګه غونډۍ مخې ته راغلـه چې موټر یې پر سر تېرېدل، استاد خـالق رشـید وویـل: ((دا طبیعـي غونډۍ نه ده، دا د دوی کثافت دانۍ ده چې د ښـار چټلـي دلتـه راوړي او دا غونډۍ ترې جوړه شوې ده.)) څنګ ته یې بله غونډۍ هـم ده چې پر هغې یې هم له پاسه نوې خاوره اچولې او شنه کړې یې ده.

په پاني پت کې درې لوی جنګونه شوي: لومړی جنګ د ابراهیم لودي او بابر ترمنځ، د پاني پت دویم جنـګ د جـلال الـدین اکبـر او هیمـو (هیموچندرا) (Hemu chandra) ترمنځ د (۱۵۵۶م)کال د جنـورۍ پـر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پنځمه نېټه وشو، هیمو په هند کې د پښتون پاچا (محمد عــادل شــاه سوري) لومړی وزیر و. درېیم جنګ د احمدشاه بابا او مرهټیانو ترمنځ و. دلته یو پخوانی ځای دی (کورکشتر) نومېږي، د (مهابهــارت) تــاریخي حماسې هم پر همدې ځای شوي. پخوا د ډیلي او پــاني پــت تــرمنځ د پښتنو یوه نوابي وه، چې د (ګنجپورې) په نامه یادېده. په هنــد کــې د پښتنو ډېرې نوابۍ تېرې شوي، پښتنې لیکوالې (صــفیه حلــیم) چــې (بهوپال- د هندوستان پښتانه) په نامه یې یو اثر لیکلی، له دې نوابیــو څخه یې د بهوپال د پښتنو نوابیو په باب څېړنه کړې، هغې نــوابۍ پــه سوونو کاله دوام کړی، صفیه حلیم په خپل اثر کې لیکي:**

**(( په هند کې پر (۱۹۰۰م) کال (۶۰۰) راجګانې او نوابۍ وې، په دې کې د مسلمانانو هغه د بهوپال نوابي ده چې دوست محمدخان اورکزي یې بنسټ ایښی و، دلته څلور پنځو بشځو پوره دوه سوه کاله حکومت وکړ. دوست محمدخان بیا له یوې (راجپوتۍ) نجلۍ سره واده وکړ، هغه بیــا مسلمانه شوه او نوم یې (فتح بي بي) شو. دا د بهوپال لومړۍ مسلمانه مېرمن وه چې په حکومتي چارو کې یې مهم رول درلــود، ددې نــوابۍ سلسله په دې ډول ده:**

| | |
|---|---|
| **دوست محمد خان ( د نوروز خان زوی) ۱۷۰۵- ۱۷۲۸م** | |
| **نواب یارمحمد خان** | **۱۷۲۸-۱۷٤۳م** |
| **فیض محمدخان (مامله بایي)** | **۱۷٤٤-۱۷۷۷م** |
| **حیات محمد خان** | **۱۷۷۷-۱۸۰۷م** |
| **غوث محمدخان** | **۱۸۰۷-۱۸۰۷م** |
| **وزیرمحمدخان** | **۱۸۰۷- ۱۸۱٦م** |
| **نذر محمدخان** | **۱۸۱٦-۱۸۱۹م** |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| **قدسیه بېګم** | **۱۸۱۹-۱۸۳۷م** |
| **جهانګیر محمدخان** | **۱۸۳۷-۱۸٤٤م** |
| **سکندر بېګم** | **۱۸٤٤-۱۸٦۸م** |
| **شاه جهان بېګم** | **۱۸٦۸-۱۹۰۱م** |
| **سلطان جهان بېګم** | **۱۹۰۱-۱۹۲٦م** |
| **حمیدالله خان** | **۱۹۲٦-۱۹٦۰م** |

**په بهو پال کې اپریدي، یوسفزي او میرازي خېل پښتانه اوسي، اوس یې هم پښتو زده ده.))**

**د بهوپال د نوابۍ په شان په هند کې د پښتنو نورې نوابۍ هم وې، له هغې جملې څخه یوه هم د (ټونک) نوابي وه. د هندوستان د پخواني جغرافیایي تقسیم له مخې ټونک د منځني هندوستان په (راجپوتانه) کې واقع و. شمال ته یې (ګوالیار) او جنوب ته یې د (بهوپال) د ریاست سیمه پرته وه. دغه پښتني ریاست پر ۱۹٤۸م کال د هندوستان د راجستان په ایالت کې مدغم شو. ټونک اوس د دغه ایالت یوه ضلع ده. په ټونک کې د پښتنو نوابي په دې ډول وه:**

**۱- نواب امیرخان ۱۸۱۷- ۱۸۳٤م**

**۲- نواب وزیرخان ۱۸۳٤- ۱۸٦٤م**

**۳- نواب محمدعلي خان ۱۸٦٤- ۱۸٦۷م**

**۴- نواب محمدابراهیم خان ۱۸٦۷- ۱۹۳۰م**

**۵- نواب محمدسعادت علي خان ۱۹۳۰- ۱۹٤۷م**

**۶- نواب محمدفاروق علي خان ۱۹۴۷- ۱۹۴۸م**

**نورې ګڼې نوابۍ هم تېرې شوي، چې مور یې یوازې دلته یو دوه بېلګې راوړې. په دې ډول د هندوستان په بېلابېلو برخو کې پښتنو په**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډله ییز او انفرادي ډول ژوند کړی او اوس هم په همدې ډول ژوند تېروي. پر (۱۹۰۱م) کال په هند کې د رسمي احصایې له مخې په هندوستان کې د پښتنو شمېر په دې ډول و:

۱- اجمیر، پنجاب، کشمیر، راجپوتانه او موارړ (۴۲۵۹۶۶)تنه

۲- بمبي (ممبي) برووده (۱۸۲۷۸۹) تنه

۳- مدرس، میسور، ملک توسط برار (۳۳۱۴۷۹) تنه

۴- ممالک متحده بهار (۹۱۹۲۶۴) تنه

۵-بنګال، اوړیسه (۲۴۵۱۶۲) تنه

۶- اسلم، شکم، کوچ بهار، پړا (۱۱۴۵۴) تنه

د ټول هندوستان د پښتنو شمېر (۳۴۰۴۷۰۱) تنه

یو کم سل کاله دمخه په ټول هندوستان کې د پښتنو شمېر (۳۴۰۴۷۰۱) تنه و. د احصائیوي علومو له مخې د نفوسو تراکم په هره ټولنه کې توپیر لري، د سړو سیمو په انډول په ګرمو سیمو کې د نفوسو تراکم زیات وي. ځینې پوهانو د نفوسو تراکم په اوسط ډول په کال کې په سلو کې (۲،۳) محاسبه کړی او (۳۰) کاله وروسته د هر پښت د نفوس تراکم د (۳) په طاقت پورته کېږي، که همدا قاعده د پښتنو پر پورتني شمېر تطبیق کړو، نو د تېرو (۹۹) کلونو په بهیر کې به د پښتنو شمېر په هندوستان کې تر (۳۰) ملیونو واوړي. دا هغه شمېر دی چې په کابل کې د هند سفارت یو لوړ پوړي چارواکي هم تائید کړی دی، خو په هندوستان کې مېشتو اکثریت پښتنو خپله ژبه له لاسه ورکړې ده.

په هند کې (خان) روستاړی یا کلمه اکثره پښتانه د خپل هویت د تثبیت لپاره کاروي، په هندي سینما کې د همدې پښتون نسبه خانانو رول تر هر چا زیات مطرح دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډیلي یو زیات شمېر کارخونې او صنعتي پارکونه د همدې پاني پت خواته راغلي. د (روهیله) سیمه هم همدلته ده، چې اوس یې اکثره پخواني نومونه بدل شوي. د احمدشاه بابا په جنګونو کې د (نجیب الدوله) پوځونه د احمدشاه بابا مرستې ته راورسېدل، درې میاشتې د احمدشاه بابا ځواکونه او مرهټیان یو بل ته مخامخ سره ولاړ وو، تر درېو میاشتو وروسته غوڅ جنګ وشو.

دې سیمې د (هریانا) ایالت وایي، کله چې لرغوني اریایانو دلته مهاجرت وکړ، نو دا نوم له همغه وخته پاتې دی، خو دوی یې د (هــ) په تلفظ (هریانا) ادا کوي.

په (پاني پت) کې د (بوعلي شاه قلندر) زیارت هم دی، احمدشاه بابا تر جنګ دمخه دې زیارت ته راغی، دعا یې وغوښته، د ابوعلي شاه قلندر او امیر خسرو ترمنځ خطونه هم تبادله شوي، په یوه خط کې ابوعلي شاه قلندر، امیر خسرو ته لیکلي چې: ((که دلته سیاسي واک د مسلمانانو له لاسه ووت، نو زما او ستا تصوف په درد نه خوري؛ دا خپله له منځه ځي، نو ځکه خو (نظام- الدین اولیا) ته ووایه چې د مسلمان پاچا ملاتړ وکړي.)) د نظام- الدین اولیا او ناصرخسرو دهلوي مزارونه دواړه په ډیلي کې یو بل سره نږدې واقع دي. کله چې نظام الدین اولیا وفات شو، نو ناصرخسرو په بنګال کې و، له هغه ځایه چې ډیلي ته راورسېده، نو دی هم پسې وفات شو، دواړو یو بل سره ډېره مینه درلوده.

موټر خپل مزل ته دوام ورکاوه، د استاد خالق رشید معلومات مې هم لیکل، په لاره کې ځو مسجدونه هم مخې ته راغلل، ټوله لاره شنه وه، تر پنجابه دا لاره هم داسې اباده او شنه وه، شنه غنم ولاړ وو، دا ټولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځمکې د خلکو شخصي دي، (۱۱) بجې د پاني پت ښار ته ورسېدو، پــر یوه پله چې نږدې (۵) کیلو متره اوږدوالی یې درلود، تېر شو. د پاني پت ښار وړوکی و، خو تر نورو پاک ښکارېده.

له عمومي سړک څخه د ښار فرعي سړک ته ورداخل شــو، اســتاد خالق رشید له یو دکاندار څخه د بوعلي شاه قلندر د زیارت او ابراهیم لودي د مزار پوښتنه وکړه، هغوی ادرس ورکړ، د پاني پت ښار په ســـلو کې (۴۰)اوسېدونکي مسلمانان دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ابراهیم لودي مزار

لومړی د ابراهیم لودي مزار ته لاړو. ابراهیم لودي په همدې ځای کې د بابر له لښکرو سره وجنگېده، پر (۱۵۲۶م) کال، همدلته شهید شـو.



یون، استاد خالق رشید او ساحل د ابراهیم لودي پر قبر هغه ته د دعا

زیارت یې هم، همدلته دی. ابراهیم لودي یو ډېر مقتدر پاچا و، خو دده د لاهور واکمن (دولت خان لودي) او د واکمنۍ بل غړي علاوالدين خان له ده سره خیانت وکړ، بابر سره یې خبره جوړه کـړه او دده د واکمنـۍ د نړولو اسباب یې برابر کړل. دولت خان لودي، سره له دې چې د ابراهیم لودي د کورنۍ سړی و، خو په وړو خبرو او د ځینو امتیازاتو پر سـر لـه ابراهیم لودي څخه خوابدی و، له بابر سره یې لاره ونیوله او په پای کې د ابراهیم لودي د پاچاهۍ د نړولو سبب شو. د دولت خان لودي ترڅنګ سلیم خان خویشکی چې د ابراهیم لودي په دربار کې ډېر منلی و، هم د ابراهیم لودي د واکمنۍ په نړولو کې بابر ته لاس ورکړ او د دربـار ټـول

(c) ketabton.com: The Digital Library



رازونه یې هغه ته وویل. کله چې شېرشاه سوري د بابر له زوی (همایون) څخه پاچاهي بېرته وګټله، نو یو شمېر پښتانه مشران یې مبــارکۍ تــه ورغلل او ددې ترڅنګ یې د (سلیم خان خویشکي) د هغې ګناه بښنه وغوښته چې ده پر خپل وخت د ابراهیم لودي پر وړانــدې کــړې وه؛ د




دربار رازونه یې بابر ته ور رسولي وو، خو شېرشاه سوري پښتنو مشرانو ته مخ راواړوه او ورته یې وویل: (( دده (سلیم خویشکي) څېره په ما مه ګورئ، ماته دده په ګېډه کې د ابراهیم لودي مړی ښکاري...)) درویــش دراني څه ښه ویلي:

دښــمن پــه زوره ننوت په کور د پښتانه
خو دغه کار یې هم وکړ په زور د پښتانه

په ډېرلیک لیکل شوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



(قبر بادشاه ابراهیم لودی) ډېرلیک په هندي ژبــه لیکــل شــوی و، څنګ ته یې د (فیل) قبر هم و، دا د ابراهیم لودي خپل فیل و چې پــه همدې جګړه کې وژل شــوی و. مخکــې ددې قبــر شــاوخوا تــه اوبــه




وې چې اوس ترې احاطه راتاوه شوې او قبر له خطره ژغورل شوی دی، اوس یې څنګ ته یوه ویاله ده چې له چټلو اوبو ډکه وه، خو اوس ښه په دې و چې له ټولې محوطې دېوال راتاو و او د مزار داخل ته یې د اوبو د راتګ مخنیوی کاوه، د مزار په یوه ګوټ کې یو وړوکی ستډیوم هم جوړ شوی، مزار هم لکه د یوې سوپې په شان پر لوړ ځای جوړ شوی و، خــو اصلي قبر لاندې په ځمکه کې و. د مزار ټوله ساحه نږدې پنځه جریبــه ځمکه وه، چې شنه جلګه او شین چمن په کې وو، ځینې شنه بوټي هم په کې وو، سپینې مرغۍ چې (بګلې) ورته وایي او ځینــې خلــک یــې

ځنګلي مرغان بولي، همدلته ګرځېدلې. په هجري قمري نېټه (۹۳۱) هـ ق کال د ابراهیم لودي د واکمنۍ زمانه وه.

د قبر یوې خواته له ګچو او چونې څخه جوړه یوه مسجمه وه چې ددې جګړې انځورنه یې کوله، یوه خپله د ابراهیم لودي مجسمه وه، بله د هغه د دوو صاحب منصبانو مجسمې وې، یو توپ یې مخې ته پروت و. کله چې انګرېزان دلته راغلل، ددې جګړې تاریخ یې ولوست، نو بیا یې د




هغو له مخې دا مجسمې جوړې کړې. د ابراهیم لودي د زیارت یوې خواته د سکانو (ګوردواره) او نور د خلکو کورونه دي.

که څه هم په دې جنګ کې د ابراهیم لودي د قواوو شمېر د بابر تر لښکرو کم نه و، خو د ابراهیم لودي په حکومت کې داخلي تضادونو او کورنیو اختلافاتو بابر ته ددې زمینه برابره کړه چې بریالیتوب ترلاسه کړي. که څه هم د جګړې د ډګر ځینو قوماندانانو ابراهیم لودي ته په

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تکتیکي ډول د جګړې د ډګر د خوشې کولو مشوره وکړه، خو ابــراهیم لودي په ټینګه د مغولو مقابله وکړه، روهیله پښتنو هم دا مهال ابراهیم لودي ته ډېر وویل چې دلته پاني پت کې محاصره یې، راشه روهیلکنډ**




**ته، هلته ټول پښتانه دي، یوازې درې ورځې په کار دي چې ته راشې او بېرته ټول ځایونه ترې ونیسو، خو هغه ورته وویل: ((ماته د جنګ په ډګر کې (څلور زره) شهیدان پراته دي، زه نه غواړم دا یوازې پرېږدم او ځان وباسم)) تر هغه پورې وجنګېده ترڅو چې شهیدشو.**

**تـــر مغولـــو پښـــتانه پـــه تـــوره ښـــه دي**
**کـــه پـــه پوهـــه پښـــتانه وای څـــه هوښـــیار**
**هـــره چـــار د پښـــتون تـــر مغـــول ښـــه ده**
**اتفـــاق ورســـره نـــه شـــته ډېـــر ارمـــان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کـــــه توفیـــــق د اتفـــــاق پښـــــتانه مـــــومي**
**زوړ خوشـــــال بـــه دوبـــاره شـــي پـــه دا ځـــوان**
**(خوشال بابا)**


کله چې د ابراهیم لودي له مزاره راووتو، نو په ذهن کې مـې همغـه وخت تداعي کېده او د جګړې صحنه انځورېدله، له همغه ځایه مې کابل کې ځینو لیکوالو ملګرو ته زنګ وواهه او ورته مې وویل: (( ټولو هغو بې غیرتو پښتنو ته د زړه له کومي کنځلې وکړئ چې تل یې له دښمن سره لاس یو کړی او خپل ځان یې تباه کړی دی.)) ډېر پرېشانه له دې مزاره راستانه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د بوعلي شاه قلندر زیارت

**پنځه ویشت کم یوه بجه د ابراهیم لودي له مزاره راووتو او د (بوعلي شاه قلندر) د زیارت پر لوري مو حرکت وکړ، مخکې تر دې چې د بوعلي شاه قلندر زیارت ته ورسېږو لومړی د بوعلي شاه قلندر د مور بي بي پر زیارت برابر شو، د زیارت پر سر لیکل شوي وو: {درگاه عالیه حضـرت سیده بي بي حافظه جمال صاحبه (رح) پاني پت شریف (هریانه)} دننه څلور قبرونه وو.**




**یو د قلندر مور، یو یې د پلار، یو یې د تره او بل هغه یې د لمسي قبر و، ښکلې گونبزه پرې جوړه وه او شاوخوا یې ټوله د تازه گلانـو پـه پـانو پوښلې وه، له قبرونو د گلانو امېلونه راځول وو، چپ لاس تـه یـې یـوه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مدرسه وه: (مدرسه فیض القران درگاه حافظه جماله صاحبه) د زیارت**




**له پاسه د څلوېښت مترو په اندازه یوه جگه مناره نوې جوړه شوې وه او څنگ ته یې جومات و چې د نږدې دوه سوو کسانو لمونځغاړو ځای پــه کې و. د پاني پت ښارگوټی د هند د نورو وړو ښارونو په انډول پــاک و، غویي او خوشیي په کې کم لیدل کېدل، خو خنزیران یې په کوڅو کې ځای نیم رانښکاره کېدل، داسې ښکارېدله چې دلته خلک خنزیــران د کورنیو حیواناتو په توگه ساتي، د خنزیر شکل ته چې گورې نو د سړي زړه بدېږي. پر ډېرو تنگو کوڅو سر شو، له موټر کښته شو، په پلي مزله د بوعلي شاه قلندر درگاه ته راورسېدو.**

**پر لوحه لیکل شوي وو:**

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**حق حق حق** **حق حق حق**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**استانه عاليه**

**درگاه حضرت شاه شرف الدين المعروف بوعلى شاه قلندر رحمة الله عليه**

**پيدايش ( ۶۰۶هـ) (۱۴۰۹)ع پاني پت**

**پر همدې دروازه خپله احمدشاه بابا ننوتی و او دلته يې دعا اخيستې**





**وه، د زيارت احاطه ښه لويه وه، په سپينو مرمرو پوښلې وه، نوې ابادي هم په کې په ښه درز روانه وه، پخوانۍ ودانۍ يې هم ښې جوړې او پاکې وې.**

**پر دېوالونو ځينې شعرونه ليکل شوي وو، د مقبرې په دروازه کې يې ډېر قلفونه ځوړند وو، د پاني پت تر جگړې يوه ورځ مخکې احمدشاه بابا دلته راغی، دعا يې واخيسته او بيا جگړې ته لاړ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د (جهانګیر نواب) مقبره هم دلته ده، په دې درګاه کې نور په لسګونو قبرونه هــم شــته. د قلنــدر شــاه طبیــب هــم دلتــه دفــن دی. پــه




دې درګاه کې تر ماسپښین لمانځه وروسته خاصــه موســیقي شــروع کېږي، ځکه یې شهرت عام دی. د زیارت په یوه خوا کې کتابتون هم و. دولس نیمې بجې له زیارته راووتو، پنځه دقیقې پلې لاړو، بیا موټر کــې کېناستو د پاني پت میدان پر لوري وخوځېدو، د پاني پت ښار کې چې له چانه پوښتنه وکړې، نو د پاني پت میدان نه پېژني، خو چې ورته ووایې: (کل عام) نو بیا یې پېژني، (کل عام) د (قتل عام) یا عام وژنې لنډیز ګڼل کېږي، ددې مانا داده چې د جګړې په ډګر کې ډېر خلک وژل شوي دي.

د ډیلي او د هند د ځینو نورو ښارونو پر خلاف، په پاني پــت کــې د خلکو یو ښه عادت دا و چې د ادرس په ورکړه کې ډېر مخلص و، تر څو یې چې ښه پوه کړی نه وې، نه یې پرېښودلې، خو په هغو نورو ښــارونو

(c) ketabton.com: The Digital Library





یون او استاد خالق رشید په بوعلي شاه قلندر زیارت کې

کې چې ته یې ترڅو پوه نه کړې، ادرس به در نه کړي، کله چې د پــاني پت ښار څخه ووتو نو تر شپږو کیلو مترو واټن وروسته د پاني پت میدان ته ورسېدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پاني پت ډګر

د(پاني پت) ډګر یوه ډېره لویه ساحه ده، دا سیمه د ډیلي شمال ته (۶۰) میلــه (۹۵،۵) کیلــو متــره لــرې پرتــه ده. پــه (هریانــا) ایالــت




پورې تړلې ده، د سترګو په رپ کې چې ورته ګورې ارته او اواره ســاحه درته ښکاري. اوس د پاني پت په دې میدان کې یو یادګاري څلی جــوړ شوی، په یوځای کې د همغه وخت دوه اوسپنیز ډالونه پر دېوال نصب شوي دي.

هندوانو دا ځای یا څلی ځکه تازه ساتلی چې د خپلو قربانیو یاد تازه وساتي. دوی وايي چې مرهټیانو دلته درې میاشــتې مقاومــت وکــړ او سخته قرباني یې ورکړه. دا ډګر چې دلته نسبتاً تر نورې سیمې لږ (د یو

(c) ketabton.com: The Digital Library







دوه مترو په اندازه) لوړ دی، وايي چې احمدشاه بابا پر همدغه ځای ولاړ و او د جگړې قومانده يې ورکوله. له مرهټيانو سره يو مسلمان هم د هغو په گټه د احمدشاه بابا پر ضد جنگېده، (ابراهيم گاردي) نومېده، اصلاً د دکن له مسلمانانو څخه و، کله چې احمدشاه بابا پـر مرهټيـانو غلبـه ومونده، نو نور مرهټيان يې وبښل، خو خپلو عسکرو ته يې وويل چـې ابراهيم گاردي ته سخته سزا ورکړي او بيا د هغه عسکرو هغه د مرگ په سزا محکوم کړ.

په همدې ډگر کې (ام ونه) په نامه هلته يوه ونه وه، چې احمدشاه بابا به تر همدې ونې لاندې کېناسته او د جنگ قومانده به يې ورکوله، اوس خو هغه ونه نه شته، خو پرځای يې د همغه نسل يوه بله شنه ونه ولاړه ده، همغې ونې ته ورڅېرمه يو يادگاري څلی جوړ شوی دی، پرې ليکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي چې: له همدې ځایه د پاني پت درېیمه جګړه (د احمدشاه ابدالي او مرهټو ترمنځ) پیل شوه، د جنګ تاریخ (۱۷۶۱م) کال دی.
د هغه وخت د واکمنیو او واکمنو خصوصیت دا و چې که چا بل ځای




ته لښکر کشي نه کوله، نو نورو د دوی سیمې لاندې کولې. د احمدشاه بابا په باب په تاریخونو کې راغلي چې هغه یو حلیم او صوفي انسان و، ویل کېږي چې یو ځل هغه په هند کې له مرهټیانو سره د سولې او ښه ګاونډیتوب په خاطر رابطه ټینګه کړې وه، خو مرهټیانو هغه نه وه منلې او د دې سولې په بدل کې یې د (کابل) او (پېښور) صوبې غوښتې وې.
احمدشاه بابا په پای کې د هند د مسلمانانو د روحاني مشر (شاه ولــي الله) په غوښتنه د مرهټیانو مقابلې ته ورودانګل، شاه ولي الله په خپلو لیکونو کې احمدشاه بابا ته یادونه کړې وه، چـــې د هنــد مســلمانان د

(c) ketabton.com: The Digital Library







مرهټیانو تر ظلم او ستم لاندې دي او دی (احمدشاه بابا) د مسلمانانو د یوه امیر په توګه مسولیت لري، چې د هند مسلمانان له دې ظلمه وژغوري. دا وخت مرهټیان په ډېر قوت کې وو، د بېلابېلو قومونو یو ائتلاف یې جوړ کړی و. د مرهټیانو د پوځونو شمېر دا مهال (نیم ملیون) تنه اټکل شوی و. احمدشاه بابا پر (۱۷۵۹م) کال په لاهور کې د مرهټیانو مقابله وکړه او د (۱۷۶۱م) کال په جنورۍ کې د هند د شمال د کنټرول لپاره د (پاني پت) پر لوري وخوځېد.



(c) ketabton.com: The Digital Library






په دې جګړه کې (۲۵۰۰) هاتیوال (پر فیل ایښودونکي) توپونه کارېدلي دي. مورږ په دې یادګاري ځلـي کـې نصب شویو انځورونو ته ډېر متوجـه شو، خو غالب او مغلوب یو هـم پـه کې ډېر جوت نه ښکارېده. په جنـګ کې یوه عادي اشتباه د ډېـرې غتـې قرباني سبب کېږي، د جګړې په پیل کې د احمدشاه بابا په لښکرو کې د کندهار یو قومنـدان (عطامحمـد) جنګ تر پلانه یوه ورغ مخکې پیل کړ، خپله دی او د افغان لوري پنځه زره کسان پر دې ورغ ووژل شول، وروسته ډېر ژر د احمدشاه بابا د ملاتړ




لپاره له روهیلکنډ څخه د نجیب الدوله قوتونه راغلل او دا ځای یې ډک

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړ، د جنګ پر بله ورځ یې مقابل لوري (مرهټیـــو) تــه (۲۰۰۰۰) کســـان تلفات ورواړول، د نجیب الدوله د لښکرو شمېر (۳۰۰۰۰) تنه و. دا جګړه د (۱۷۶۱م) کال جولای پر (۲۱) مه چې سخته ګرمي وه، پیل شوه.ددې جګړې د دواړو غاړو د عسکرو شمېر بېلابېلو تاریخ لیکوالـــو متفـــاوت ښودلی دی؛ ځینـــو د مرهټیـــانو شـــمېر یولک او د احمدشاه بابا د لښکرو شـــمېر هم یو لک تنه ښودلی دی. ځینـــې نـــور وایي چې له افغانستانه د احمدشاه بابا د راغلو لښکرو شـــمېر (۱۰۰۰۰)کســـان وو. وروسته ورسره د شجاع الدولـــه چـــې د هند د مسلمانانو له جملې څخه و، (شل زره) کسیز پوځ او د نجیب الدوله (دېرش زره) یوسفزي لښکر یوځـــای



د مرهټیو یو هم قومندان شیواجي

شو او (سکانو) هم د احمدشاه بابـــا ملاتړ وکړ، خو ځینې نور بیا وایي چې د افغانستان د لښکرو ټول شمېر په دې ډګر کې شپېته زره (۶۰۰۰۰) تنه وو او د مرهټیانو ټول شمېر له درېـــو لکو څخه تر پنځه لکو (۳۰۰۰۰۰– ۵۰۰۰۰۰) تنو پورې و، د جګړې مخامخ کرښې (دولس) کیلو متره اوږدوالی درلود. ویل کېږي چې مرهټیانو په دې جګړه کې ټول درې سوه زره تنه، خو ځینې نور بیا وایي چې نږدې سل زره تنه تلفات ولیدل.



د پاني پت د جګړې افغاني لوري قومندانان خپلـــه احمدشـــاه بابـــا، شجاع الدوله او نجیب الدوله وو، چې شجاع الدوله د هند له مسلمانانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نجیب الدوله د هند له پښتنو مسلمانانو څخــه وو او د مرهټیــانو د جنګ قومندانان سدیشیرو بهو (Sadashirro Bho) چــې لــه اویــا زرو څخه تر یو لکو (۷۰۰۰۰– ۱۰۰۰۰۰) کسانو قومنده یې پر غاړه وه. د افغاني (دراني) امپراتورۍ بیرغ (شین، سپین او شین رنګ) درلود او د مرهټوو بیرغ ژېړ و او څنډه کې یې سپینه لیکه وه.



دا جنګ افغاني لښکرو وګاټه او په دې ډول احمدشــاه بابــا یــوه لویــه افغــاني امپراتوري جوړه کړه، چې د (شارل کبیر) تر امپراتورۍ دوه برابره لویه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یو جنګ له دوو لید لورو

موږ څلور تنه افغانان: استاد خالق رشید، اسد ساحل، اجمل فدایي او زه (یون) هم د پاني پت د یادګاري څلي لیدو ته راغلي وو، خو پر همدې وخت ډلې ډلې هندیان هم همدلته راتلل او دا یادګاري څلی یې کاتــه،




موږ یو ډول تعبیر ترې اخیسته او دوی بل ډول، خو د څلي جوړونکو له داسې یو لوړ کلتور څخه کار اخیستی و، چې په څلي کې یې دا یادونه نه ده کړې؛ څوک ملامت دی او څوک سلامت، چا جګړه ګټلې او چا نه ده ګټلې، یوازې د جګړې خاطرات یې ژوندي ساتلي، پر یو ولاړ څلي یــې همدومره لیکلي چې: ((دا د احمدشاه ابدالي او مرهټو ترمنځ د جګړې یادګاري څلی دی.)) نور یې د چا ستاینه او غندنه نه ده کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کله چې مو د پاني پت یادګاري ځلی وکوت، نو موږ هــم ورتــه پــر نسبتاً جګ ځای کېناستو او استاد خالق رشید چې کومه وچــه مېــوه**




**ځان سره راوړې وه، هغه مو وخوړه، ټیک(۲۴۹) کاله مخکې چې زمــوږ بابا دې ځای ته راغلی و، نن موږ پر همغه ډګر ناست یو، خو هغه د یــوه فاتح په توګه او موږ نن د نړۍ د مظلومو او محکومو انسانانو په توګه.**

**د بهلـــــــول او د شېرشــــــــاه خبـــــــرې اورم**
**چـــې پـــه هنـــد کـــې پښـــتانه وو پاچاهــــان**
**شــــېږ او اوه پېــــړۍ یـــې هســـې پاچـــاهي وه**
**چـــې پـــه دوی پـــورې درســـت خلـــک وو حیـــران**

(c) ketabton.com: The Digital Library



يـــا هغـــه پښـــتانه نـــور و دا څـــه نـــور دي
يـــا د خـــدای دی اوس دا هســـې شـــان فرمـــان
(خوشال بابا)

کله چې احمدشاه بابا د پاني پت ډګر وګاټه او بېرته د کندهار پر لوري




لاړ، نو کله چې کندهار ښار ته ورسېد، راویت دی چې ډېرې لښـــکرې ورسره وې او ډېره خوشالي وه، احمدشاه بابا پر فیل سور و ، د کندهار ښار دکانداران پر خپل کار بوخت وو، یو خپلې مخې ته توتان اچـولي، لمن یې پر زنګنو راکش کړې وه، بل بل څه خرڅول، هر یو پر خپل کـار اخته و، کله چې یې د احمدشاه بابا پر قافلې سترګې ولګېدې، نـو یـو دکاندار پر بل غږ کړ: ((بارا ګورې یې؟)) هغه ورته وویل: ((څه شي؟ هغه دی ګوره یې د زرغونې زوی هم پر فیل سور دی!؟)) دا خبره که څه هم ټوکه ښکاري یا به رښتیا وي یا به نه وي، خو له دې څخه یو شی چــې څرګندېږي، هغه دادی چې په پښتني ټولنه کې (مشرتوب) تر هر بل کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



سخت کار دی، داسې یو سړی چې ټول هندوستان یې فتح کړی، خو په خپل ښار کې یې د یوه عادي دکاندار پر زړه دا فتح نه اوارېږي او هغه نه شي زغملای، نو هلته سړي ته پته لګي چې په وروسته پاتې او قبیله یي ټولنو کې د شخصیت وده څومره مشکله ده؟ پاوکم دوه بجې وې چې د بابا روح ته په دعا سره د پاني پت له میدانه د ډیلي پر لوري وخوځېدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له پاني پته تر ډیلي

د پاني پت له ډګره د راتګ پرمهال مو په پاني پت ښار کې پــر ډول ډول مرمر ډېرو څو ځایه سترګې ولګېدې، داسې ښکاره شول چې دلته د ډبرو ښه کار وبار کېږي. کله چې له پاني پت ښار څخه ووتو، نو په لاره کې راباندې د معمول په شان څپه څپه خــوب راغــی، څــو ځلــه یــې وزنګولم، سره له دې چې سړکونه ښه وو، خو موټر پورته پورته الوته، نو




ځکه مې نه خوب وکړ او نه هم ویښ پاتې شوم، تر یو څه مزله وروسته ډریور موټر د لارې د سر یوه هوټل ته ودروه، هوټل ښه لــوکس و، خــو هرڅه په کې نه پیداکېدل، یوازې سبزي غذا په کې وه، هوټل د باندې په سوپه کې هم ښکلی ځای درلود او دننه هم، خو عجیبــه دا وه چــې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ودانۍ دننه پر ډوډۍ اضافي ټکس و او د بانـدې نـه و، مـوږ د بانـدې کېناستو، چې له تازه هوا څخه هم ګټه پورته کړو او د باندې ځای ننداره هم وکړو، دا ایچ هاویلي (H.Haveli) هوټل نومېده، په هوټل کې مـو د دالو او ځینو نورو شیانو، چې استاد خالق رشید ته یې نومونـه زده وو، فرمـایش ورکـړ، کلـه چـې یـې خـوراک شـیان راوړل، تـر هغـه



د ایچ هاویلي هوټل مخنۍ برخه

دمخه، ګل مو پرمخ زه تشناب ته لاړم، دا نوی هوټل و، تشـنابونه یـې خورا لوکس وو، ان د اروپا او امریکا د عصري تشنابونو په څېر، سړي په کې ځان راحت احساسوه. بهر کې د سفر پر وخت یوه غټه ستونزه همدا د معذرت رفع کول وي، کله چاسره تشناب کاغذ وي کله نه وي، کلـه اوبو ته اړتیا وي، کله ځای پاک نه وي، کله په تشنابونو کې اوبه نه وي، کله دا او کله هغه نیمګړتیا وي، په لویو ښارونو کې هم همدا مشکل وي، زموږ له لغمان څخه (ښایسته ګل ماما) چې په ټوکو ټکالو کې ډېر ازاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، تر جنګونو دمخه له (لغمان) څخه (کابل) ته تللی و، هلته په (زمان خان کلا) کې له خپلو زامنو سره اوسېده، یوه حویلۍ وه څو کورونه په




کې وو، پر تشناب به سهار وختي نوبت نه و، د ښایسته ګل ماما اشـــتها هم بده نه وه، ډوډۍ یې په خوند خوړه، کله چې به سهار تشناب کې پر خپل وخت نوبت ورنغی، نو ناطاقته به شو، له کابله یې په همدې خاطر زړه خوړین و چې ده هلته ځان راحت نه احساساوه، بیا بېرته لغمان ته راغی، مېرمن یې هم راوسته، یوه ورځ ما ورته وویل: ((ښایسته ګل ماما! کابل ښه دی که لغمان؟)) ده وویل: ((لغمان ښه دی، لغمان خو پاچایي ده پاچایي، کابل دې ورک شي د کابل مېرمن.... له هغــې ورځــې چــې لغمان ته راغلی یم ایله د غولو په خوند موړ شــوی یــم...)) مــا ورتــه وخندل، ما وویل: ((ښایسته ګل ماما دلته د (خوند) کلمــه څــوک نــه استعمالوي، دا بله مانا ورکوي.)) ده وویل: ((زه یې پــه مانــا پســې نــه


(c) ketabton.com: The Digital Library



گرځم، زه یې په خوند پسې گرځم.)) ښایسته گل ماما



استاد خالق رشید او یون د ایچ هاویلي هوټل په مخ کې د فیل د یوې مجسمې ترڅنګ




زیاته کړه: ((زه چې کله سهار وختي پاڅم او لاړم شم د پولې خواته کېنم، څادر په سر واچوم، هم چورت وهم او هم غول کوم، دا خوند زه د کابل په ټولې پاچایۍ نه ورکوم، ورکوه یې رنګ یې ورکوه...))

نو کله چې ما د ددې هوټل دا پاک او راحت تشنابونه ولیدل، نو ځان مې ډېر راحت احساس کړ او د ښایسته گل ماما هغه خبره هم راپه یاد شوه... د هوټل مخې ته د فیل یوه مسجمه هم ایښودل شوې وه، چې ډولۍ یې پر سر ایښې وه، یو سړی هم پرې ناست و.

(شل) تېرې وې دربو نه چې له دې هوټله راووتو او د ډیلي پر لوري مو حرکت وکړ. له پاني پت نه تر ډیلي پورې د سړک دواړو غاړو ته ډول ډول فابریکې وې چې شمېر یې زرگونو ته رسېږي، دا په واقعیت کې د هندوستان یوه مهمه صنعتي سیمه ده، له ډیلي نه تر پاني پته پورې تګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتګ نږدې دوه نیم سوه کیلو متره واټن دی. دلته د اکثرو فابریکو مخې ته واړه واړه تفریحي پارکونه هم جوړ شوي چې د اړونـدې فـابریکې ملکیت ګڼل کېږي. په لاره کې مو ځینې واړه واړه ښارګوټي چې اکثره یې نوي جوړېدونکي وو، هم تر سترګو شول، خو دا عصري ښارګوټي وو چې اکثره په کې لوړ پوړې ودانۍ وې. دا ښارګوټی کولای شي په ډېـره کمه ځمکه کې ډېر نفوس ځای کړي. د لارې په اوږدو کې چې دې هرې خواته کتل ابادي روانه وه، څومره چې په ډیلي کې راني کیستال هوټل ته نږدې کېدلو، همغومره د چټلیو کچه زیاتېدله، د ډیلي په داخل کـې هم ګڼه ګوڼه ډېره زیاته ده. (پنځه) بجې او (لس) دقیقې مو استاد خالق رشید په خپل ځای کې کښېنته کړ او موږ ترې د راني کیستال هوټل پـر لوري وخوځېدو.

په لاره کې دومره ګڼه ګوڼه وه چې ایله پنځه کم شـپږ بجـې رانـي کیستال هوټل ته ورسېدو، د موټر کیلومتر ته مو چې وکتل نو (۱۶۶۳۰۰) کیلو متره شو، یانې (۲۶۸) کیلو متره مزل مـو کـړی و. ټـولې (۲۴۱۲) کلدارې شوې، خو ما ورته (۲۵۰۰) کلدارې ورکړې، ما ویل نـورې سـتا بخشش، ډرېور ډېر خوشاله شو، موږ خپل خپل اتاق ته وختو او ډرېور پر خپله مخه لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خپل هېواد پېژندنه

**کله چې له (پاني پت) څخه راستانه شو، نو ښه ستړي وو، اجمــل او ساحل ته مې وویل چې تر ماسختن ډوډۍ پورې به دمه وکړو، بیا بــه د پرزنټېشن ورځې لپاره خپل پرزنټېشن برابر کړو. همداسې وشول، تر اتو بجو مو استراحت وکړ، بیا ډوډۍ ته لاړو، تر هغه وروسته پــر (۹) بجــو**




یون د خپل هېواد په باب د پرزنټېشن د وړاندې کولو پر مهال

**دربواړه زما په اتاق کې کېناستو، درې کمپیوټرونه مو له انټرنېټ ســره وصل کړل، لومړی مو د پرزنټېشن لپاره یو چوکاټ جوړ کړ چې څه شی غواړو په کې معرفي کړو؟ بیا د هغــه لپــاره ضــروري مــواد کــوم دي؟ پرزنټېشن مو پر څو (دربو) برخو ووېشــه، لــومړی د افغانســتان نــوم، نفوس، مساحت، ګاونډیان، بیرغ، پیسې، ژبې، قومي ګروپونه، ملــي او**

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاسي شخصیتونه، لوی شاعران او لیکوال، دا برخــه مــا واخیســته، ساحل ته کلتوري برخه او اجمل ته مو طبیعي منابعې ورکړې چې د ټولو لپاره تصویرونه برابر کړو. د پرزنټېشن اصول دادي چې په هره برخه کې یوازې یوه یوه جمله لیکل کېږي او بیا به تشریح ورکول کېږي، اکثــره مسایل په تصویر کې واضح کېږي، داسې یوه ټولنه یا ټولګی چې هلته د بېلابېلو هېوادونو او کلتورونو خلک وي، هلته ګړنۍ خبرې دومره کیف نه لري، لکه تصویري ژبه چې کوم مفهوم افاده کولای شي، نو ځکه زموږ ډېر ټینګار پر انځورونو اوبیاهم پر جالبو انځورونو و.

د شپې تر دولسو بجو پورې مو کار وکړ، یو څه مواد مو ترلاسه کړل، نور ستړي شو، اجمل او ساحل ته مې وویل: ((نور کار ســبا نهــه بجــې پیلوو، سبا چېرته نه ځو، دا باید حتمي خلاص کړو)) د یکشــنبې ورځ نهه بجې مو بیا کار پیل کړ، د ورځې تر (۱۲) بجو مو چوکاټ وتړه، ځینې تصویرونه مو په کې ځای پرځــای کــړل، مــا وویــل: ((درې بجــې بــه نیمګړتیاوې پوره کوو)) درې بجې مو بیا کار پیل کړ تر ماښامه پــورې، ماښام ډوډۍ ته لاړو، تر دې دمه اکثره شیان پوره شوي وو. ټولو وویل: ((تر ډوډۍ وروسته وروستی ایډېټ (سمون) کوو، سهار ته باید هېڅ شی په کې کم نه وي.)) د شپې تر (۹) بجو پورې مو ټول شیان پوره کــړل، اجمل او ساحل وویل: ((موږ د شپې نور هم کار کوو، کــه تــر دې مــو د افغانستان ښه تصویرونه پیدا کړل، ځینې تصویرونه به بدل کړو.)) مــا وویل: ((د خپل هېواد داسې یو تصویر باید دوی ته وړاندې کــړو، چــې دوی هم پوه شي افغانستان څنګه یو ګلالی هېواد دی.))

د فبروري پر ۲۲ مه د دوشنبې ورځ سهار چې ټــولګي تــه لاړو، نــو لومړی خو درس و، یوولس بجې د پرزنټېشن د وړاندې کولــو وخــت و،

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی زمــوږ، بیــا د (کمبوډیــا) او بیــا د (مدغاســکر) نوبــت و، خــو کمبودیاوالو او مدغاسکر والو وویل چې زموږ نوبت بایــد اول وي، مــوږ ویل زموږ نوبت اول دی ځکه چې افغانستان په (A) شروع کېږي، خــو دوی ډېر ټینګار وکړ، موږ هم ترحده زیــات ټینګــار وکــړ، د کــورس د استادې دېته پام شو، موږ ته یې وویل: ((څه خبــره ده؟)) مــوږ وویــل: ((اول نوبت زموږ دی، خو دوی وایي چې موږ باید اول خپل پرزنټېشــن وړاندې کړو)) موږ زیاته کړه چې د مهالویش له مخې هم زموږ نوبت اول دی ځکه تېره ورځ موږ همدا لومړی نوبت نیولی و، استادې مدغاســکر والو ته وویل: ((وارخطا کېږئ مه (Don’t worry)!)) دې سره کمبوډیــا وال هم غلي شول.

موږ چې خپل پرزنټېشن پر سکرین ورښکاره کړ، نو ټول غلي او غوږ غوږ وو، زموږ تصویرونه هم ښه وو او معلومات مو هم فکس وو، د هرې موضوع په اړه مو فکس او کوټلي لنډ لنډ معلومات ورکول، چې دوی زړه تنګی نه شي، دوی ډېرې پوښتنې وکړې او موږ هم ښه ځوابونه ورکړل، دوی د افغانستان وچې مېوې او قیمتــي ډبــرو تــه حیــران پــاتې وو. پرزنټېشن د ټولو خوښ شو. پرزنټېشنونو یو بــل ســره توپیرونــه هــم درلودل، خو یو بل سره یې ورتوالی هم درلود. د ورته والي یوه غټه نښه دا وه چې هر چا په خپلو مشرانو کې پخواني او د منځنۍ دورې یو یــو مشر معرفي کاوه او هم یې د خپل اوسني حکومت مشر ضرور معرفــي کاوه، که هغه انتخابي مشر و که ټولواک او یا هم انتصابي، موږ د معاصر افغانستان د موسس په توګه احمدشاه بابا، د خپلواکۍ د ګټــونکي پــه توګه غازي امان الله خــان او د انتخــابي جمهــور رئــیس پــه توګــه د

(c) ketabton.com: The Digital Library




حامدکرزي تصویرونه ور وښودل او د هر یوه په باب مو لنډ لنډ معلومات هم ورکړل. پرزنتېشن په دې ډول و:







(c) ketabton.com: The Digital Library






(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library









(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library








(c) ketabton.com: The Digital Library








(c) ketabton.com: The Digital Library









(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library








(c) ketabton.com: The Digital Library









(c) ketabton.com: The Digital Library






وروسته د کمبوډیا نوبت و، د مېرمن ویندې (wendy) پرزنتېشن هم ډېر بد نه و، ښه و، خو د (مدغاسکر) نوبت چې راورسېد یو څو سپېره تصویرونه یې پیدا کړي وو، هغه یې ښکاره کول، وړاندې کوونکي یې په سر کې یې وویل: ((ما پوره تصویرونه پیدا نه کړای شول، نو ځکه زه خبرې زیاتې کوم.)) هلته خلکو ته خبرې ځکه خوند نه ورکوي، یو دا چې یو هم په پوره انګرېزي نه پوهېږي، ټول د زده کړې پرمهال دي، بله دا چې د هر چا لهجه یو له بله دومره لرې وي چې که انګرېزي د ګرامر له مخې سمه هم وایي، خو د تلفظ له مخې یو بل ته ډېره ګرانه وي، لنډه دا چې د مدغاسکروالو پرزنتېشن چندان ښه نه و، ماته همدلته پته ولګېده چې دوی ولې پر لومړیتوب ټینګار کاوه، ځکه چې دوی چندان

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کوښښ نه و کړی، خو د (مدغاسکر) په مانا پوه شو چې (د مور، پلار او ماشومانو کور) ته وایي.**

**کله چې درېواړه پرزنتېشنونه خلاص شول، نو استادې ماتــه ځانتــه وویل: «ستاسو پرزنتېشــن ډېــر ښــکلی او ښــه و.** ( Professor: your presentation was very nice and best ) **» استادې ته یــې هــم ډېــر شیان جالب وو. له دې څخه مو دا تجربه ترلاسه کــړه، هرڅــوک چــې چېرته د خپل هېواد په استازۍ خبرې کوي، باید ډېر ورته متوجه وي او زیات معلومات ولري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خواجه نظام الدین زیارت

په هند کې د خواجه نظام الدین اولیا زیارت خورا مشهور دی، اکثره افغانان او د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه مسلمانان یې لیدو ته




ورځي. موږ هم نیت درلود چې هلته ورشو. خواجه نظام الدین اولیا ( له ۱۲۳۸ – ۱۳۲۵م) کلونو پورې ژوند کړی، د نړۍ د مسلمانانو په تېره بیا د هند د مسلمانانو د خاص احترام وړ دی. د مازیګر څلور بجې وې چې له اتاقه راووتو، په رېکشا کې کېناستو، په شلو دقیقو کې ټاکلي محل ته ورسېدو، لومړی (مسجد بنګله والی) مخې ته راغی، چپ لاس ته د میرزا غالب مزار و، موږ غوښتل د میرزا غالب قبر هم وګورو، پر یوې


(c) ketabton.com: The Digital Library






لارې لاړو خو هغه بنده وه، شاته يې يوه بلــه تــاريخي ودانـــۍ وه چـــې قبرونه هم په کې وو؛ پټان ستايلز ودانۍ ښکارېده. د ميرزا غالب د قبر څنګ ته ( د غالب اکاډمۍ) په نوم يوه اکاډمي وه، خو مورږ ورداخل نــه شو، دې اکاډمۍ ته ورڅېرمه يوه بله لويه ودانۍ وه چـــې دا هـــم پټــانز ستايل ودانۍ ښکارېدله، دلته ليکل شوي وو: (عرس محل)، دلته هغــه ځای و چې د خواجه نظام الدين اوليا محبوب الهـــی او ملـــک الشـــعرا طوطی هند (حضرت امير خسرو) عرس اجراکېده.

دا ودانۍ د جمو او کشمير وزيراعظم (غلام بخشي) په هڅو بيا جوړه شوې ده. شاته يې د سپينو مرمرو يوه بله تاريخي ودانۍ وه، چې هغې ته هـــم قفـــل پـــروت و، لنـــډه دا چـــې د ميـــرزا زيـــارت داخـــل




ته مو لاره ونه مونده. له بهر څخه د میرزا قبر ښکارېده ښه ښایسته او پاک و. په تنګو کوڅو کې د خواجه نظام الدین اولیا زیارت پر لوري وردننه شو، عیناً لکه د پېښور د قصه خوانۍ تنګې کوڅې، بوټان مو وروستي برید کې دکاندار ته تسلیم کړل، وردننه شو، د خواجه نظام الدین د زیارت څنګ ته د امیر خسرو دهلوي زیارت هم دی چې د هغه په شان ډېر لوی نه دی، خو سخته ګڼه ګوڼه په دواړو کې وه.

د حضرت قاضي قطب الدین شاه، حضرت قاضي محی الدین کاشاني زیارتونه هم همدلته دي، د نظام الدین اولیا د زیارت داخل کې بې حده ګڼه ګوڼه وه، داخل ته د نرو د ورتګ اجازه وه، خو ښځو ته اجازه نه وه چې داخل ته لاړې شي، بېچاره وو ښځو پر دېوالونو خپل مخونه موښل او لاسونه یې پرې سولول. دلته په محوطه کې په لسګونو زیارتونه وو، د خلکو ګڼه ګوڼه دومره زیاته وه چې د پښې ایښودلو ځای نه و، دلته هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا د خپل مراد او نورو مشکلاتو د حل  لپاره دعا کولــه، د خیراتخــورو




شمېر هم تر عادي خلکو کم نه و، پر قبرونو لیکل شوې لوحې اکثره په اردو ژبه وې، خو بې لوحې یا بې سرلیکه قبرونه هم په کې زیات وو، کله چې بهر ته راوځې نو مذهبي کتابونه،کسټونه، دم کړې مېوې همدارنګه تازه ګلان هم ښه  پرېمانه دي، هټیوال چغې وهي چې وایې خلئ.

په لاره کې د ډوډۍ کارتونه هم خرڅېدل چې اکثره بډایه خلک یې اخلي او دلته یې پر غریبو غربه وو وېشي او هغوی ته پرې یو خــوراک ډوډۍ میلاوېږي. په هند کې د خواجه نظام الدین اولیا د مور بي بي ( بي بي هاجرې) زیارت هم دی. هغه زیارت ته هم خاص و عام ورځــي، خــو دلته چې کومه ګڼه ګوڼه وه، هلته نه وه، دلته په واقعیت کې د زیارتونو یوه مجتمع وه، دلته چې دې د زیارتونو پر سر کومې لوحې ته کتــل، د خواجه نظام الدین اولیا په شمول، نو اکثرو خپله شــجره د خــدای(ج)

(c) ketabton.com: The Digital Library




**رسول حضرت محمد(ص) ته رسولې ده، خــو زمــوږ او د ځینــو نــورو**




**افغانانو په ذهن کې په هند کې د هر مسلمان تصویر د پښتون د تصویر په توګه تداعي کېږي، ځکه چې پښتنو په هند کې پېړۍ پېړۍ حکومت کړی او موږ هلته د اسلام خپرېدل د خپلو تورو برکـت بولـو، نـو هـر مسلمان راته پښتون ښکاري.دې کې شک نه شته چــې هــر پښـتون مسلمان دی، خو هر مسلمان پښتون نه دی. وايي یو پښتون له خپــل وطنه سعودي عربستان ته تللی و، هغه چې په خپل کلي کې یوازې له اذان سره ډېر روږدی و فکر یې کاوه چې اذان پښتو دی، پر عربــۍ یــې سر نه خلاصېده، کله چې بېرته کلي ته راغی، نو سعودي کې یې زړه هم ډېر تنګ شوی و، چا ترې پوښتنه وکړه چې څه خبره وه په عربو کې؟ ده ورته وویل: ((وروره پوښتنه مه کوه، ټولو خلکو په قران شریف خبــرې کولې، یوازې اذان پښتو و او سپیو پښتو غپل نور خــلاص...)) نــو هــر**

(c) ketabton.com: The Digital Library






**پښتون چې هندوستان ته راشي دلته پر زیارتونو سر شي، فکر کوي چې دا د دوی نیکونه دي او اصیل پښتانه دي، که نه نو د زیارتونو خو یې په خپل وطن کې هم هیڅ کمی نه شته. پنځه بجې وې چې له زیارت څخه راووتو، په رېکشا کې کېناستو او د سروجني نګـر مارکېـټ پـر لـوري وخوځېدو، هلته مو لږ سودا موډا وکړه او د خپل استوګنځي پر لـوري روان شو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library




# مغول ګارډن

مغول ګارډن په هند کې تر ټولو لوکس او مجلل باغ دی، چې د مغولي پاچاهانو شاهي باغ ګڼل کېده، ددې ځای ليدل د هر چا لپاره ممکن نه دي، کال کې يو ځل عام خلک اجازه لري چې ددې باغ ليدو ته ورشي. لس کم دوه بجې له جي کې ون (G.K.1) څخه په رېکشا کې کېناستو، رېکشا والا يوه سندره (ګانه) پيل کړه، ما ورته وويل: ((وروره وړيا ده که په پيسو؟)) هغه سخت وخندل ويل يې: ((نه وړيا ده.)) بنارسی سندره وه، ما ويل نه چې پای کې دا هم په مورږ حساب کړې. پنځه لس تېرې وې له دوو چې (پټيل چوک) ته ورسېدو، شپېته روپۍ مو رېکشاوان ته ورکړې، محبوب هم تيار هلته راته ولاړ و، مورږ وويل: ((محبوب ځکه ځان سره بيايو چې هغه پوره بلد دی.)) محبوب بيا همغه کانه وکړه: ((پوښتنه به وکړو، دلته نږدې به وي.)) لږ چې وړاندې لاړو، ساحل او اجمل (بېرې) واخيستې، ډېرې خوندورې وې، پر همدې وخت محبوب يو چاته ټلېفون وکړ چې د مغول ګارډن ادرس ترې واخلي، هغه ورته وويل: ((رېکشا ونيسئ هلته به مو بوځي.)) دا نو د ادرس پيداکولو وروستی او اسانه لار ده، خو مورږ بيا هم وويل: ((پلي به لاړ شو)) لږ څه وګرځېدو، خو لاره مو پيدا نه کړه، په پای کې بيا رېکشا ته مجبور شو، رېکشا مو ودروله، څرنګه چې مورږ څلور تنه وو، نو (۶۰) روپۍ يې راڅخه واخيستې، هلته د رېکشا قانوني استحقاق همدا درې تنه دي. ما ريکشا والا ته وويل: ((مورږ خو ټول واړه واړه يو، محبوب خو لا بېخي ووړ دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه وويل: (( ادمـــى هـــى)) مـــا ويـــل: ((ادمـــى هـــى خـــو چوټاچوټـــا





هى))،هغه وويل: ((چې چرګان هم شئ تر دې مو ارزانه نه وړم.)) لنډه دا چې د مغول ګارډن دخولي دروازې ته ورسېدو. څرنګه چې دا باغ پـــه کال کې يوازې د يوې مياشتې لپاره د عوامو پر مخ خلاصېږي، نو ځکه خو ګڼه ګونه په کې زياته وي. مغول ګارډن د هند د جمهوري رياســـت مانۍ سره متصل دى، په حقيقت کې اوسنى او پخوانى شاهى باغ دى او يوازې دولتي لوړ رتبه مامورين ترې په يوولسو مياشتو کې ګټه اخلي.

په پيل کې په دخولي دروازه کې تالاشۍ ته ودرېدلو، پر تالاشۍ هـــم نوبت نه و، کتابونه، کتابچې، قلمونه، کمرې او بڼ ته د ورتګ نور ممنوعه شيان يې ټول راڅخه واخيستل، خپله خپله نومره يې راکړه. باغ ته پلي ورداخل شو، رښتيا هم خورا لوى باغ دى، ځاى نيم يې د دمـــې لپـــاره کېږدۍ هم ودرولي، ځکه چې خلک پلي ګرځي، نو طبعاً ستړي کېږي، اوبه هم څو ځايه ايښې وې او وړيا ميلاوېدلې، باغ رښتيا هم د کتلو دى، سړى ورته حيرانېږي، باغ له ډول ډول ګلانو ډک دى، نږدې (۶۲) ډوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګلان په کې کرل شوي، ونې يې ډول ډول وې، زړو ونو د تېرې زمانې د يادونو کيسې کولې، بڼ څو بېلابېلې برخې لرلې چې هرې برخې بيا جلا



ډيزاين درلود، د جمهوري رياست مخې ته چې کوم ډول چمنونه ډيزاين شوي وو او د اوبو کومې فوارې په کې لګېدلې وې، هغونو بيا يو جلا خوند درلود. د هند د جمهوري رياست ودانۍ هم ډېره ښکلې او ډېره تاريخي ده. د هند د لومړي وزير او د بهرنيو چارو د وزارت مانۍ چې په سوټ بلاک (South Block) مشهورې دي، ددې ودانۍ په ختيزه څنډه او د ملي شورا ګرده ودانۍ هم ددې لويې مانۍ په شمال ختيزه څنډه کې واقع دي. د ودانيو دا مجموعه په نوي ډيلي کې د اصلي انګليسي معمارۍ يوه برخه ده. د جمهوري رياست دا مانۍ ډېر لوی تالارونه او (۳۴۰) اتاقونه لري، د (اشوکا) مشهور سالون د همدې مانۍ په درېيم پوړ کې واقع دی، چې د هند د جمهوري رياست مهمې غونډې او رسمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پروګرامونه همدلته ترسره کېږي. ددې سالون چت او د هغه د دېوالونو اوږدوالی (۷۵۰) متره ساحه رانغاړي، چې دا ټوله برخه په ښــکلي بڼــه نقاشي شوې ده. مغول ګارډن د همدې ماڼۍ په غربي څنډه کې موقعیت لري، د مغول ګارډن زیاتې برخې مو وکتلې، ډېرې زړه راکښــونکې وې، هرې برخې یې ځانګړې ښکلا لرله، خو کمره یې نه پرېښودله چې مــوږ یې بېلابېل عکسونه اخیستي وای. په دې باغ کې تر دې حده وګرځېدلو چې نور مو نو په پښو کې د حرکت قوت پاتې نه و. همداســې لــه بڼــه راووتو، لکه څنګه چې مو د مغول ګارډن په باب اورېدلي و، همغه شان ښکلی او ښایسته و.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بوده پارک

**کله چې له مغول ګارډن څخه راووتو، نو سروجني نګر مارکېټ ته لاړو، هلته مو جوس وڅښه او کورته مو هم یو څه سودا واخیسته. څه کم پنځه بجې وې د (بوده پارک) پر لوري لاړو، کله چې محبوب په سروجني نګر مارکېټ کې هر ریکشاوان ته ویلې:**



د بوده پارک یو انځور

**((بوده پارک!)) نو هغه به یو څه تبسم وکړ، محبوب وویل: ((دې پارک کې لکه چې څه فساد شته.)) مورِ ورته وویل: ((چې فساد په کې دی، خو مه مو بیایه، پر کوم غضب مو ککړ نه کړې!)) هغه وویل: ((راځئ نو دا خو هم یو سیل دی اوس چې هندوستان ته راغلي یاست، د سیل**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځایونه خو وګورئ!)) لاره کې ښایسته او ښکلي ځایونه مخې ته راغلل، په ډیلي کې هغه ډپلوماتیکه ساحه هم مخــې تــه راغلــه چــې اکثــره سفارتونه په کې دي، د افغانستان سفارت هم په همدې ساحه کې دی، د نړۍ د ډېرو لویو او پانګوالو هېوادونو سفارتونه هم همدلته دي. له دې ساحې تېر شو، نیم ساعت وروسته هغه پارک ته ورسېدو. محبوب ته مو وویل: ((ددې پارک نوم څه دی؟)) هغه وویل: ((بوده)) ما وویل: ((بوده که پوده؟)) دی هم خپله شکمن شو، ما ویل نوم خو یې په پښتو کې ښه نه دی د (ډېرو منفي کلمو) په وزن دی، چې د هندي اصلي تلفظ به یې څنګه وي، خدای دې خیر کړي چې ټول لوده ګان او پوده ګــان ورتــه روان نه وي. د بڼ دروازې کې چې کښته شو، نو ګڼه ګونه نــه وه، شــل دېرش موټره او څه رېکشاوې د دخولي دروازې په پارکینګ کې ولاړ وو، کله چې بڼ یا پارک ته داخل شو، اکثره طبیعي ونې په نظر راغلې، یانې نوی جوړ شوی پارک نه و، په پخواني ځنګلــه کــې یــې پــه اصــطلاح اصلاحات راوستي وو او پارک یې په کې جوړ کړی و. باغ ته چې داخل شو او لږ څه وړاندې لاړو، نو ځای نیم تر ونې لاندې هلک او جلۍ جوړه جوړه ناست دي، پر همغو کارونو لګیا دي چې حال د ویلو لایق نه دی، محبوب ته مې وویل: ((لکه چې دا بوده پارک رښتیا هم د ښه وزن نــه لري، راځئ چې ژر ژر پښې وباسو، له کوم غضب سره مخامخ نه شو.)) محبوب وویل: ((ماته چا ویلي چې دلته د رخصتیو او مېلو پر ورځ ډېــر بدحال وي، خو نن لا په کې څوک نه شته.)) ما وویل: ((دا لا نه شته کار دې حالت ته رسېدلی، دا چې وای نو هغه به څه حال و؟)) ژر ژر له پارکه راووتو او په ډېر تکلیف مو د دروازې مخې ته رېکشا پیدا کړه، رېکشا کې کېناستو او د خپل استوګنځي پر لوري مو حرکت وکړ. وروسته بیا موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته څه ناڅه پته ولګېده چې د دې پارک نوم اصلاً (بودا پارک) دی، خو ورو ورو یې تلفظ (بوده پارک) شوی او یا لږ تر لږه محبوب موږ ته په دې ډول تلفظ کړی. که دا پارک رښتیا هم د (بودا پارک) وي نو باید بیا خو یې مذهبي ارزښت او پاکوالی وساتل شي، خو چې اوس په کې څه کېږي او څه شوي دا په هېڅ وجه د (بودا) له تګلارې او فلسفې سره اړخ نــه لګوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ال انډیا راډیو کتنه

له هغې ورځې چې زه هند ته راغلی یم، نو دا څووم ځــل دی چـــې محبوب الله محبوب ماته وایي: ((زموږ د راډیو مسولین هیله لري چـــې تاسو سره یو ځل وګوري، په تېره بیا پښتو څانګه. ددې ترڅنګ هیلـــه لرو چې زموږ د ال انډیا راډیو پښتو څانګې سره یوه ځانګړې مرکه هــم وکړې!)) ما وویل: ((محبوب صیبه! له مرکو څخه په کابل کې دومره په تنګ شوی یم چې سر مې په هندوستان ولګېد او بله دا چې دلته خو زه




څه په رسمي سفر نه یم راغلی چې رســمي اشخاصــو ســره ملاقــات وکړم.)) خو څرنګه چې محبوب زما ډېر نږدې ملګری دی، نو ځکه مې ورته وویل: ((څنګه چـــې دې زړه وي همغســـې وکـــړه.)) محبــوب الله محبوب یوه ورځ زما لپاره د ملاقات زمینه برابره کړه. ماسپښـــین یـــې ماپسې موټر راولېږه، زه (یون)، اجمل او اسدساحل ورسره په موټر کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سواره شو، ثناالله تسل لا دا مهال تیار په راډیو کې منتظر و، تــر نــیم ساعت مزله وروسته راډیو ته ورسېدو. کله چې د راډیو ودانۍ ته ورددننه شو، نو د پښتو څانگې مشر ښاغلي (ممتازولي) موږ ته هرکلی ووایــه، وریسې خان صیب (انور احمدخان) راغی او موږ سره یې ښه گرم سترې مشي وکړل. خان صیب اصلاً کاکړ پښتون دی، د هند له پښتنو څخــه دی، له کلونو راهیسې په همدې راډیو کې کار کوي. خان صیب اوس په هندي او انگرېزي ژبو خبرې کوي، پښتو یې هېره شوې، بیا هم څه ناڅه پرې پوهېږي، خو پښتانه احساسات او خواص یې لا ژوندي او قوي دي، زموږ په لیدو ډېر خوشاله شو، له لاسه یې ونیولم راساً یې د خپل مشر دفتر ته بوتلم، د ال انډیا راډیو د بهرنیــو خپرونــو د مســول ښــاغلي (ایچ.کې پاني) دفتر ته لاړو، هغه په خپل دفتر کې موږ ته تود هرکلــی وواېه، خان صیب او محبوب صیب ورته زه ډېر لوی سړی معرفي کړم او ویې ویل چې د جمهور رئیس کرزي مشاور دی. ما وویل: ((مشاور نه یم، خو هملته چېرته کار کوم.)) ښاغلي (پاني) ســره مــو د افغانســتان او سیمې د حــالاتو پــه اړه لنــډې خبــرې وکــړې، دوی د افغانســتان او هندوستان د روابطو په اړه وپوښتل، ما وویل: ((اوسني حالات، روابط او شرایط د دولتونو او هم د ولسونو په کچه ډېر ښه دي.)) ښاغلي (پاني) وویل: ((هند او افغانستان ډېر تاریخي او کلتوري اړیکي لري)). مــا پــه افغانستان کې د وروستیو پرمختیاوو په باب لنډ معلومات ورکړل او په افغانستان کې مې د هند او چین د بېلابېلو کمپنیو پانگونې ته اشــاره وکړه. د خبرو په ترڅ کې ښاغلي (پاني) ته ټلېفون راغی او ماتــه پتــه ولگېده چې هغه کومې غونډې ته روان دی، نو ځکه مې خپلې خبــرې رالنډې کړې، ورته مې وویل چې که ژوند ملگرتیا وکړه، بیا به بل وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library






تفصیلي کتنه کوو، اوس اجازه غواړو. په پای کې ښاغلي پاني د ال انډیا راډیو له خوا یوه ډالۍ چې د تحفې په کاغذ کې یې پوښلې وه، راکړه او ما ورته د خپلو ټولو چاپ شویو (۳۳) کتابونو یوه (سي ډي) ورکړه، دې سره مو له هغه رخصت واخیست او له دفتره رابهر شو. کله چې له دفتره رابهر شو، خان صیب (انور احمدخان) موږ سره تر یوه ځایه بدرګه شو، له هغه څخه مو خدای پاماني واخیسته، ممتازولي موږ سره راغی، راته یې وویل: ((تاسو ته به د ال انډیا راډیو ستوډیوګانې او بېلابېلې څانګې وښیم.)) رښتیا هم ال انډیا راډیو ډېره پخوانۍ راډیو ده پر (۱۹۲۷م) کال د یوې خصوصي راډیو په توګه تاسیس شوې، خو په رسمي ډول پر (۱۹۳۶م) کال د یوې دولتي راډیو په توګه پیل شوې ده. کله چې هندوستان پر (۱۹۴۷م) کال خپلواکي ترلاسه کړه، ال انډیا راډیو (AIR) یوازې (شپږ) ستېشنه درلودل چې (اته لسو) ترانسمیترو په کې کار کاوه، دا وخت ددې راډیو د پوښښ ساحه (۲،۵٪) وه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوازې په سلو کې (یوولسو) خلکو ته یې خپل خدمات رسولای شــول، خو اوس تر (۷۳) کلونو وروسته ال انډیا راډیو (AIR) له (۱۴۹) میــډیم (MW) ســره د خپرونــو (۲۳۲) مرکزونــه لــري، (۵۴) لــوړې (SW) فریکونسۍ او (FM 171) ترانسمیترونه لري. اوس یې په ټول هندوستان کې د پوښښ ساحه (۹۱،۷۹٪) ده او (۹۹،۱۴٪) خلکو ته یې خدمات ور رسېږي. دا په نړۍ کې د ولسواکۍ یوه ډېره ستره بېلګــه ده. ال انــډیا راډیو په کورنۍ کچه په (۲۴) لویو ژبو او (۱۴۶) وړو ژبو یا لهجــو خپــل خدمات وړاندې کوي او د بهر لپاره په (۲۷) ژبو خپرونې کوي چــې پــه هغو کې یې (۱۷) د هند خپلې ژبې او (۱۰) یې بهرنۍ ژبې دي. په هنــد کې د راډیو ستېشن تر تاسیس وروسته پر ( ۱۳۱۷ل) کال په افغانستان کې (راډیو افغانستان) تاسیس شوه. ال انــډیا راډیــو ډیلــي د بهرنیــو خپرونو پښتو څانګه پخوا په پښتنو کې ډېره مشــهوره او محبوبــه وه؛ نږدې پنځوس کاله یې د خلکو پر زړونو او فکرونو حکومت وکړ، خو په دې وروستیو اتو کلونو کې چې په افغانستان او ځینو نورو هېوادونو کې (FM) راډیوګانې دود شوي، د میډیم او شارټ راډیو ګانو اورېدونکي یې خورا کم کړي دي. د (FM) راډیو ګانو ترڅنګ نویو ټلویزیوني چینلونــو هم په مجموع کې د ټولو راډیو ګانو، په تېره بیا د (میډیم) او (شــارټ) راډیوګانو بازار ډېر محدود کړی او ددې راډیوګانو اورېدونکي یې د ځان پر لوري کش کړي دي. د لیدنیو رسنیو (ټلویزیون) زور او ځــواک خــو هسې هم تر اورېدنیو رسنیو (راډیوګانو) دوه ځله زیــات دی، راډیــویي خپرونې یوازې اورېدل کېږي او ټلویزیوني هغه هم لیدل کېږي او هــم اورېدل کېږي: (شنیده کی بود مانند دیده). ال انډیا راډیو پښتو څانګې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم په دې وروستيو څو کلونو کې خپل اورېدونکي له لاسه ورکړي، اوس يې د اورېدونکو ساحه يوازې ډېورنډ کرښې ته ورځېرمه پر قبايلو سيمو راڅرخي او له همدې سيمو ورته زيات ليکونه هم ورځي، خو يو وخت به له افغانستان او نورو پښتون مېشته سيمو دومره ليکونه ورتلل چـــې د ممتازولي په وينا دوى به يې په لوستلو، سپړلو او شمېرلو ستړي کېدل. زه هم يو وخت د ال انډيا راډيو ډيلي د پښتو څانګې دومره شـــوقي او دومره ګرم اورېدونکی وم چې هېڅ وخت مې نه قضا کوله. کله چـــې د ممتازولي غږ راباندې ولګېد، نو ډېر خوږ او اشنا و، ما ويل دې سړي سره لکه چې ډېر ناست يم، وروسته راته پته ولګېده چې دده غـــږ مـــې لـــه همدې راډيو څخه اورېدلی دی، خو دا ډېره موده کېږي چې زه او زما په شان نور افغانان ددې راډيو د اورېدلو هغه پخوانۍ تلوسه نه لرو. ښاغلي ممتازولي موږ ددې راډيو پر پخوانيو او اوسنيو ستوډيوګانو وګرځولو، د پخوانيو او اوسنيو ترمنځ د ځمکې او اسمان توپير و، له هغې ورځې چې دا راډيو جوړه شوې بيا تر ننه پورې، هر بدلون چې په کې راغلی، نو زوړ سامان يې په يوه دهلېز کې د موزيم د توکو په شکل ساتلی، د راډيو ټول سامان له يوې ډېرې ابتدايي دستګاه څخه بيا تر اوسني عصري سيستم پورې ټول خوندي وو. دا راډيو ستېشن د يوه موزيم حيثيت لري چـــې سړی کولای شي په يوه ننداره کې ورڅخه د شپېتو- اويا کلونو په بهير کې د علم او ټکنالوژۍ د چټک پرمختګ څرک ولګوي. هند داسې يـــو عظيم هېواد دی چې هر چا هلته يوه خښته پر بله ايښې، نو هغه امانت پاتې شوې او بل بيا پرې بله ايښې او په دې ډول د هند د تمدن مـــانۍ همداسې روغه او اباده پاتې شوې ده. سره له دې چې هندوســـتان لـــه انګرېزي ښکېلاکه تر خپلواکۍ او د هند او پاکستان تر وېش وروسته، له

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پاکستان سره درې ځله لوی جنګونه کړي او دې جګړو دواړو هېوادونو او د هغوی بشري ځواک ته ډېر زیانونه اړولي، خو څرنګه چې هند په دې درې واړو جنګونو کې د یوه فاتح په توګه څرګند شوی، نو د عادت له مخې فاتح په جنګونو کې تر فتحې وروسته د خپلو زخمونو پر درد نه پوهېږي او د خپل بري په خوښیو کې ډوب وي، خو مفتوح که هر څومره توري کړي وي، خو چې په وروستۍ پایله کې ناکام وګڼل شي، بیا نو ایله خپل زخمونه کوشېږوي، نو هندوستان هم په جګړو کې د زیان په اندول ډېرې برياوې لرلې دي، بل دا چې دا جګړې داسې نه وې لکه د افغانستان په شان چې د هېواد ټولې سیمې دې را ونغاړي؛ جګړه اکثره پاکستان ته پر نږدې هندي سیمو او خپله د پاکستان پر خاوره او د پاکستان تر کنټرول لاندې سیمو متمرکزه وه.**

**هند د نړۍ له دوو سترو ولسواکو هېوادونو څخه یو دی؛ د افغانستان په شان په کې د سیاسي نظام په بدلون سره د ټول نظام اډانه نه بدلېږي، نو ځکه خو په هندوستان کې انکشاف د یو مستحکم تسلسل نتیجه ده. ما چې د ال انډیا راډیو ټول تاریخي تسلسل له نظره تېر کړ، نو د خپل هېواد د راډیو ټلویزیون پر برخلیک مې زړه وسوځېد.**

**د (۱۳۷۱- ۱۳۷۵ل) کلونو په بهیر کې د تنظیمي جګړو له امله د افغانستان راډیو ټلویزیون ټولو تاسیساتو ته چې په مرکز (کابل) او (پنځه لسو) ولایتونو کې وو، په سلګونو ملیونه ډالره زیان اوښتی و، هغه څېړنیز هئیت چې همغه مهال د راډیو ټلویزیون تاسیساتو ته د رسېدلي زیان د څېړنې لپاره ګومارل شوی و، د افغانستان راډیو ټلویزیون د ټولو تاسیساتو زیان یې درې سوه (۳۰۰) ملیونه امریکایي ډالره اټکل کړی و. له دې زیان څخه زموږ د هېواد نورو تاسیساتو ته د اړول شوي زیان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اندازه لګولای شو. د تېرو اوو اتو لسیزو په ترڅ کې په هند کې له ګرمو



محبوب، اجمل او خان صیب (انور احمد)

سیاسي جریانونو سره هلته ډېر څه امانت پاتې دي، خو په افغانستان کې د اوو اتو لسیزو په ترڅ کې ډېر څه څو ځله اړول شوي را اړول شوي دي.

په هغو ټولنو کې چې د واک لېږد د (عدم تشدد) له لارې کېږي، خلک به یې دا ډول برخلیک لري او په هغو کې چې د تشدد له لارې واک ترلاسه کېږي، د هغو برخلیک به طبعاً په وینو سور وي.

ښاغلي ممتازولي د راډیو پر هره څانګه وګرځولو، پخوانی او اوسنی ارشیف مو هم وکوت. (بلوڅي)، (دري) او ځینې نورې څانګې مو هم وکتلې، ثناالله تسل، اسدساحل او ښاغلی (محمدصادق رښتینی) چې په کندهار کې د کلید راډیو له لارې د شپږو میاشتو لپاره ال انډیا راډیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته راغلی و، هم راسره ملګري وو. ددې څانګو تر کتنې وروسته محبوب مورږ ته د مرکې بلنه راکړه، د راډیو ستوډیو ته ورداخل شو، دا نو نــوې ستوډیو وه، چې د غږ سمون (سونډ پروف) لپاره یې سپین لرګین پوښ


یون او محبوب د مرکې په حال کې

ورکړی و، سلیقه یې ښه وه، خو بیا هم دومره ښکلې ستوډیوګانې نــه وې، لکه په جرمني، روسیې او ځینو نورو هېوادونو کې چــې مالیــدلي وې، کېدی شي دا ستوډیوګانې هم څو کاله دمخه جوړې شوې وي، خو د استعمال له مخې نوې برېښېدې.

محبوب د مرکې په پیل کې مانه وپوښتل: ((اوس د هند او افغانستان اړیکي څنګه ارزوئ؟)) ما وویل: ((دا اړیکــي اوس ډېــر ښــه دي، هــم حکومتونه ښه اړیکي لري، هم ولسونه، د هند حکومت د افغانستان له بیارغونې او نوې جوړونې سره په سوونو ملیونو ډالره مرسته کړې او ګڼ شمېر هندي کمپنۍ په افغانستان کې د سړک جوړونې، برېښنا او نورو تاسیساتو پر جوړونې مصروفې دي او زیاتو هندي کمپنیو هلته پانګونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې ده.)) محبوب بله پوښتنه وکړه: ((پاکستان په دې روابطو نه خپه کېږي؟)) ما وویل: ((د دوو هېوادونو په روابطو باید درېیمګــړی هېــواد خپه نه شي، پاکستان هم ډېرو هېوادونو ســره ښــه اړیکــي لــري، نــو افغانستان خو پر دې روابطو نه خپه کېږي. افغانستان جګړې ځپلی یو هېواد دی، د هر چا مرستې ته اړتیا لري، که هند وي که پاکستان او یــا که د نړۍ کوم بل هېــواد، چــې افغانســتان ســره مرســته کــوي او د افغانستان په بیاجوړونه کې برخه اخلي، افغانان یې هــر کلــی کــوي. افغانان مرستې ته اړ دي او د هر چا بې غرضه مرستې مني.)) محبــوب بله پوښتنه وکړه: ((پاکستان همېشه تور لګوي چې د هند قونسلګري د افغانستان له لارې په پاکستان کې مداخله کوي او افغانستان حق نــه لري چې په کندهار، ننګرهار او پاکستان ته په نورو نږدې ولایتونو کې د هند قونسلګریو ته اجازه ورکړي، ځکه چې دا کــار د پاکســتان ملــي امنیت ته ګواښ پېښوي؟)) ما په ځواب کــې وویــل: ((افغانســتان یــو خپلواک هېواد دی، د نړۍ له هر بل هېواد سره د ډیپلوماتیکو معیارونو مطابق روابط ټینګولای شي او په دې کې د درېیم یــا ګاونــډي هېــواد موافقې ته هېڅ اړتیا نه شته.

ایا افغانستان کله شکایت کړی چې پاکستان دې په کوټه او یا پېښور کې ددغه او یا هغه هېواد قونسلګریو ته د فعالیت اجازه نه ورکوي او دا ګنې افغانستان ته خطر دی، د افغانستان دولت حق لــري، پــر خپلــې خاورې بشپړ سیاسي واک ولري، همدا اوس په جــلال ابــاد، کنــدهار، هرات او مزارشریف کې د پاکستان قونسلګرۍ هم فعالیت لري، سبا به ایران وایي چې پاکستان زموږ سیمه ییز رقیب دی، قونسلګري یې باید له هراته وباسئ ځکه چې دا موږ ته خطر دی او یا هم ازبکستان ووایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چې له مزارشریف څخه د پاکستان قونسلګرۍ وباسئ چې موږ ته خطر دی او یا هم هند ووایي چې موږ د افغانستان په بیارغونه کې تر پاکستان ډېره ونډه اخلو، نو د افغانستان په دغه او یا هغه ولایت کې دې د پاکستان قونسلګري نه وي. پر افغانستان د دا ډول شرایطو تحمیلول د افغانستان لپاره د منلو وړ نه دي او نه ډیپلوماتیک اصول ددې غوښتنه کوي، هو! دا خبره سمه ده چې د افغانستان خاوره باید د هېڅ هېواد له خوا د افغانستان د ګاونډیانو پرضد ونه کارول شي. پاکستان باید له افغانستان سره خپل دا تشویشونه د ډیپلوماتیکو سرچینو او خبرو اترو له لارې حل کړي، نه دا چې هند سره خپل رقابت ته زور ورکړي او په افغانستان کې د هند قونسلګریو د شتوالي او نورو پلمو له لارې د پخوا په څېر ځان ته په افغانستان کې د مداخلې لپاره لاره اواره کړي. افغانستان باید د سیمه ییزو قدرتونو د رقابت ډګر نه شي، پاکستان باید له دې خبرې هم یو ښه الهام واخلي چې که افغانانو خپله خاوره د هند په ګټه د پاکستان پر ضد کارولای، نو د هند او پاکستان درې جنګونه یې ښه مهال و؛ هغه وخت د پاکستان لاس تیار تر تیرې لاندې و، هغه مهال د پاکستان پرضد د افغانستان له خوا د بلې جبهې پرانیستل او په هغه کې د هند او افغانستان یو ځایي ګډون، د پاکستان د شتوالي چانس بېخي له منځه وړه، هغه مهال چې افغانانو دا کار ونه کړ او پاکستان دا دی تر ننه ژوندی پاتې شو، نو پاکستان هم باید د افغانانو د هغې اوسېلې او احسان په مقابل کې ناوړه شکونه ونه کړي او نه د افغانانو له اوسني مجبوریت او مظلومیت څخه ناوړه ګټه پورته کړي.))**

**محبوب: ((کومه لاره موجوده ده چې افغانستان او پاکستان دواړه په ګډه په سوله او وروروله کې ژوند وکړي؟))**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب: ((د پاکستان تر جوړېدو وروسته په وروستیو دوو لسیزو کې د پاکستان په پوځ کې له ځینو کړیو او په تېره بیا د پاکستان له څارګرې اداري (I.S.I) سره داسې تصور پیدا شو، چې پر یوه وخت له دوو ځواکمنو ګاونډیو (هند) او (افغانستان) سره نه شي جنګېدلی، نو ځکه یې داسې یوه تیوري وضع کړه. (د افغانستان قوت د پاکستان تباهي او د افغانستان کمزوري د پاکستان پیاوړتیا) له همغه وخت راهیسې یې په افغانستان کې د مذهب او نورو پلمو تر چتر لاندې بې دریغه مداخله وکړه او دا کار د افغانستان د تباهۍ او کمزورۍ سبب شو. دې کړیو داسې فکر کاوه چې د افغانستان په تباهۍ او کمزورۍ سره به د دوی پخوانی ارمان پوره شي، خو د افغانستان د بربادۍ په وجه حالات داسې راغلل چې دلته یو شمېر هغو افراطي حرکتونو، چې پاکستان یې په روزنه او پالنه کې لاس درلود، نړۍ ته خطر پېښ کړ او په دې ډول افغانستان ته د نړیوالې ټولنې د راتګ اړتیا راپیدا شوه. کله چې نړیواله ټولنه افغانستان ته راغله، پاکستان د سیمې او نړۍ په کچه منزوي شو او افغانستان کې یې هغه پخوانی رول له لاسه ورکړ، چې دوی پرې پانګه لګولې وه.**

**د تېرو څو کلونو تجربو وښودله چې د افغانستان ثبات، پاکستان او د سیمې ټولو هېوادونو ته په ګټه دی. د طالبانو د واکمنۍ پر مهال افغانستان ته د پاکستان د ټولو صادراتو اندازه نږدې (درې سوه) ملیونه ډالره وه، خو تېر کال دا صادرات نږدې (یو نیم زر) ملیونو ډالرو ته پورته شوي. هر څومره چې افغانستان کې اقتصاد غوړېږي، ډېره ګټه یې پاکستان ته رسي؛ همدا اوس په لسګونو پاکستاني کمپنۍ په افغانستان کې کار کوي، نږدې (۵۰) زره پاکستاني کارګر هلته پر کار مصروف دي،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې له دې درکه پاکستان هره میاشت په ملیونونو ډالر ګټي. افغانستان اوس د پاکستاني اموالو لپاره ښه مارکېټ دی، که افغانستان کې امن او ثبات وي، پاکستان کولای شي د افغانستان له لارې خپل اموال د مرکزي اسیا مارکېټ ته ولېږدوي او په دې ډول د نړۍ دا یو ستر بازار راخپل کړي. زه فکر کوم چې په پاکستان کې ځینې کړۍ باید نور خپل ذهنیت بدل کړي، خو اوس چې موږ ګورو په خواشینۍ سره چې بیاهم تر بېلابېلو پلمو لاندې د افغانستان په کورنیو چارو کې مداخله کېږي او د پخوانیو مرضونو او غرضونو سلسله لا اوس هم جاري ده، خو خپله پاکستانی ولس او ملکي انتخابي حکومت له افغانستان سره د ښو اړیکو غوښتونکي دي. زما په نظر یوازېنۍ لاره داده چې په پاکستان کې مشخصې، سیاسي، مذهبي او پوځي کړۍ په افغانستان کې د مداخلې پخوانی تسلسل په بشپړ ډول پرېږدي، افغانستان جګړې ځپلی دی، په نړدې لسیزه او یا دوه لسیزو کې پاکستان ته د ستر خطر پېښولو جوګه نه دی، خو دواړه هېوادونه یو بل ته د متقابل درناوي له لارې ډېره ډېره ګټه رسولای شي.)) محبوب نورې هم ډېرې پوښتنې وکړې، خو زه نه غواړم د هغو ټولو بیان دلته وکړم.

زما تر مرکې وروسته محبوب له ښاغلي اسدالله ساحل سره هم یو ادبي مرکه وکړه او ترهغه وروسته بیا ښاغلي ممتازولي ما سره د ادبي مسایلو په باب مفصله مرکه وکړه. د ادبي مرکې ضرورت دا و چې ما تر دې نېټې کال دمخه (۳۳) عنوانه بېلابېل ادبي، ټولنیز، علمي او سیاسي کتابونه پر یوه وخت، په یوځایي ډول چاپ کړي وو. ددې کتابونو څو پکېجه (بستې) مې هندوستان ته هم لېږلي وو، ممتاز ولي او نورو دوستان پرې خبر وو. دوی ورته ډېر خوشاله وو، دا کتابونه زما د شلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کلونو د فرهنګي کار و زیار محصول وو. دا کتابونــه مــې د نــړدې درې کلونو په ترڅ کې له سره راټول، ترتیب، ایډېټ او چاپ کړل، نږدې (۳۵) زره مخه مې ایډېټ وکړ، نږدې پنځه ملیونه (۵۰۰۰۰۰۰) افغانۍ یا سله زره (۱۰۰۰۰۰) امریکایي ډالره لګښت پرې راغی او د چاپ بهیر یې په یو کال کې بشپړ شو.**

**ددې کتابونو چاپ نه یوازې د افغانستان فرهنګي کړیو ته یو ښه خبر و، بلکې تر هېواده بهــر یــې هــم د ځینــو فرهنګــي ټولنــو لــه خــوا**



یون له ممتاز ولي سره د مرکې پرمهال

**تود هرکلی وشو. د لومړي ځل لپاره د افغانستان په تاریخ کــې د یــوه لیکوال ټول اثار پر یوه وخت د چاپ، ســي ډي او انټرنېــټ لــه لارې د لوستونکو د ګټې لپاره وړاندې شول. ښاغلي ممتازولي له ما سره په دې اړه هر اړخیزه مرکه وکړه، زه نه غواړم د هغې ټول تفصیل دلتــه راوړم، خو یوازې د کتابونو د ډلبندۍ او وېش د یوې پوښتنې ځواب دلته راوړم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ممتاز ولي وپوښتل چې کوم کتابونه په دې لړۍ کــې شــامل دي؟ مــا وویل:((زه بېلابېل اثار لرم چې نومونه به یې دلته بیان کړم:

اثار

الف- پنځونې:

| کتاب نوم | څرنګوالی |
| --- | --- |
| متکور | لومړۍ شعري ټولګه. |
| په اورونو کې سندرې | دویمه شعري ټولګه. |

ب- راټولونې:

| | |
| --- | --- |
| هیلې | ګډه شعري ټولګه. |
| نیمګړي ارمانونه | د حیران شعري ټولګه. |
| د لوونو فصل | ګډه شعري ټولګه. |
| د نازو انا یاد | د سیمینار د لیکنو ټولګه . |
| د استاد الفت نثري کلیات | داستاد الفت نثرونه. |
| سیندونه هم مري | د اســحق ننګیــال شــعري منتخبات. |

ج- ژباړنې:

- د ټولنپوهنې له نظره: په افغانستان کې د واک جوړښتونه.
- دپوهنوال روستارتره کي اثر.
- .د افغانستان فرهنګي میراثونو ته یوه کتنه.
- د نینسي دوپرې اثر.
- په افغانستان کې د جګړې جنایتکارانو محاکمه.
- د پوهنوال روستار تره کي اثر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د- یونلیکنې:**

- **د اماراتو سفر د اماراتو یونلیک.**
- **که یون دی یون دی د اروپا یونلیک.**
- **دپنټاګون ترڅنډو د واشنګټن یونلیک.**

**هــ- څېړنې او شننې:**

- **د محمدګل خان مومند اند و ژوند ته یوه لنډه کتنه.**
- **استاد زیار د پښتني فرهنګ یو ځلاند ستوری.**
- **دکابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي پښتو کتابښود.**
- **د افغانستان فرهنګ ته اوښتي زیانونه.**
- **د پښتو شعر هندسي جوړښت.**
- **له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل.**
- **ساینسي پرمختیاوې.**
- **بېړنۍ لویه جرګه ولسواکي او زورواکي.**
- **اندیال خوشال.**
- **هیله د خپلو سریزو په لمن کې.**
- **کلتوري یون .**
- **فرهنګي فقر .**
- **مرکه او مرکې.**
- **خوشال په خپل ایډیال.**
- **دکتابونو په وړمو کې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



- افغانستان په سياسي کړلېچ کې.
- پښتو ليکنى سمون.
- اوسنى رسنۍ.
- که نړيوال ماته وخوري؟)).

تر مرکې وروسته ښاغلي ممتاز ولي خپل دفتر ته بوتلو، هلتــه يــې راباندې د شيدو چاى وڅښه، دفتر يې ډېــر عصــري نــه و، ماتــه ډېــر کلاسيک او پخوانى ښکاره شو، عيناً لکه د افغانستان د علومو اکاډمۍ دفترونه چې ګردونه او کتابونه يې دواړه پر مېزونو له ورايه ښکاري، خو د ښاغلي ممتازولي مينې، صميميت او مېلمه پالنې زمونږ پام د دفتر له زاړه حالت او ميتود څخه بلې خواته واړوه. ترچاى څښلو وروسته مو له هغه څخه خداى پاماني واخيسته، هغه تر لاندينې پوړه پورې مونږ سره راکښته شو او مونږ د راډيو موټر تر راني کيستال هوټل پورې ورسولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لس مناظرې

د اپټېک (APTECH) د انګليسي ژبې د کورس يوه ښېګڼه او ځانګړنه دا وه چې په يوه اوونۍ کې يې يوځل ضـرور يـو دوه صـنفي منـاظرې جوړولې. د مناظرې يا خبرو اترو لپاره به يې يوه داسې موضـوع ټاکلـه چې نړيوال ارزښت به يې درلود او د بېلابېلو ټولنو او کلتورونو افرادو ته يې پوهاوی راپوهاوی ستونزمن نه و. موضوع به يوه ورځ دمخه ورکـول کېدله او بيا به هر چا په ټولګي کې د هغې موضوع په باب رڼا اچوله، د يو بل نظريات به يې ردول او يا تائيدول، په دې ډول به بحث کلـه دومـره ګرم شو، لکه په افغانستان کې چې کله کله په ټلويزيونونو او راډيوګانو کې د دوو مخالفو ډلو او ليدلوريو ترمنځ ګرمـه منـاظره او بحـث وي. مناظرو دوه غټې ګټې لرلې: يو دا چې موضوع ښه شاربل کېدله او ټول له يوې نوې، مهمې او نړيوالې موضوع څخه ښه خبرېدل او بله دا چـې محاوره ډېره قوي کېدله، د بحث او خبرو اترو په جريان کې د يو بل له لهجې، تلفظ او محاورې څخه ښه خبرېدلو، د ساري په توګه موږ ته ښه پته ولګېده چې د جنوبي اسيا هېوادونو خلک د (ش) تلفـظ پـه (س) کوي، د عربي هېوادونو خلک هم د ځينو انګليسي غږونو لکه (P)، (T) او (D) په تلفظ کې مشکل لري، هسپانوي ژبي او فرانسوي ژبي بيا لـه انګليسي سره د ځينو ګډو لغتونو او مشترک ليکدود له وجې د ځينـو انګليسي لغتونو په سم تلفظ او مانا کې له ستونزو سـره مخـامخېږي. يوازې موږ (درې تنه) پښتانه وو چې د انګليسي ژبې د ټولو غږونو لـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تلفظ سره مو دومره ستونزه نه درلودله. پښتو ژبــه د نــړدې پنځوســو بېلابېلو غږونو په لرلو سره د نړۍ هغه یوازینۍ ژبه ده، چې پــه ډېــرې اسانۍ سره د نورو ژبو د غږونو د جذب صلاحیت لري. پښتو په حقیقت او واقعیت کې د ژبو د زده کړو کیلي ده، د چا چې پښتو ژبه زده وي، د نورو ژبو زده کړه ورته ډېره اسانه وي، ددې علت دادی چې د هرې ژبې غږونه په پښتو کې شته، خو د پښتو ټول غږونه بیا په ټولو ژبو کې نــه شته، په همدې وجه پښتانه د نړۍ هره ژبه د بلې هرې دویمې ژبې تــر ویونکي ژر زده کوي، ان تر دې پورې چې خپله ژبه هېروي، خو د نــورو هغه زده کوي، نو په دې ډول د کورس ښوونکې د لغتونو پــه تلفــظ او اکسینټ (خجن غږ) کې له موږ سره ستونزه نه درلوده، خــو د لغتونــو زېرمه او مانا بیا هغه مشکل و چې طبعاً ټولو درلود.

د دوو میاشتو په بهیر کې موږ ټول ټال لس مناظرې ترسره کړې، چې په ځینو کې خورا مهم او ګرم بحثونه ترسره شول، په بحثونو کــې لــه افغانستان څخه اجمل او ساحل، له کیوبا څخه رافیل، له کمبوډیا څخه مېرمن ویندې له روسیې څخه تاتیانا له موزمبیق څخه امــیلای ډېــره ونډه اخیسته، نورو هم په خپل وار سره برخه درلودله. د کورس استادې هېڅوک داسې نه پرېښودل چې په منــاظرې یــا (Debet) کــې برخــه وانخلي. ددې کورس ګډونوال د هېوادونو په تفکیک سره، چې هر یو په بحث کې خپله خپله ونډه لرله په دې ډول دي:

| ګڼه | نوم | هېواد |
|---|---|---|
| ۱ | کاستیلهو موسا امیلی ( Castilho (Mussa Amilai | موزمبیق |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ۲ | کیسون ډیو راوټ (Kisun Dev Raut) | نیپال |
| ۳ | لوک پراساد بشیال (Lok Prasad Bashyal) | نیپال |
| ۴ | رفعت القم (Rafat Alqam) | فلسطین |
| ۵ | مرینا اموسوا (Marina Amosova) | روسیه |
| ۶ | تاتیانا سامرینا (Tatiana Samarina) | روسیه |
| ۷ | محمد احمد عبدالله الصدیق رودوان (Mohammad Ahmad Abdullah Elsiddiq Rudwan) | سوډان |
| ۸ | محمد اسمعیل یون (Mohammad Ismael yoon) | افغانستان |
| ۹ | امبروس برټرانډ ایسي (Ambrose Brtrand Ayissi) | کامیرون |
| ۱۰ | اجمل فدایي (Ajmal Feday) | افغانستان |
| ۱۱ | اسدالله ساحل (Asadullah Sahil) | افغانستان |
| ۱۲ | موینک ویندي (Moeng Vandy) | کمبوډیا |
| ۱۳ | رافیل پیرز مالو ستینګا (Rafel Perez Malo Stinga) | کیوبا |
| ۱۴ | میریال بوټو (Myrielle Botou) | مدغاسکر |
| ۱۵ | سلما ابراهیم (Salma Ibrahim) | مالدیف |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| ۱۶ | محفینو جینټ پراسپر (Mahfeno Jeannot Prosper) | مدغاسکر |
|---|---|---|

**ښه به وي چې په ترتیب سره ددې مناظرو لنډیز دلته بیان کړم:**

**۱- ښځه کولای شي یوه ښه ملي لیډره شي؟**

Can woman be a good national leader?




**د جنورۍ پر (۸)مه نېټه دا موضوع بحث ته وړاندې شوه. زما (یون) نظر دا و چې ښځه د بشري ټولنې نیمه برخه ده او دوی کولای شي ملي لیډرشیپ ته ورسي. لکه څنګه چې تجربو ښودلې ده ښځه یوه ښه ښوونکې کېدلای شي داسې یوه ښه لارښوونکې هم ورځخه جوړېدلای شي، په کومو ټولنو کې چې لیډرشیپ ښځې ته رسېدلای هغه مهال هلته قانون او ډیموکراسي زیات واکمن شوي دي. موږ په نړۍ کې ګڼ شمېر داسې ښځې لرو، چې د خپل قوم مشري یې په ښه ډول ترسره کړې ده. مېرمن اندراګاندي، مېرمن بېنظیر بوټو، مېرمن خالده ضیا، مېرمن مارکریت تاچر او اوسمهال مېرمن انګلامیرکل د نړۍ په کچه مطرح سیاسي مشرانې وې او دي. ښه خبره داده چې په مېرمنو کې جنګسالارانې نه شته، یو زیات شمېر جنګونه چې د نرینه وو له خوا**

(c) ketabton.com: The Digital Library









پیل شوي، اختتام یې د ښځو په وسیله شوی دی، د افغانستان په تاریخ کې موږ د غوره مېرمنو بېلګې لرو چې د سیاسي مشرتوب لوړ کفایـت







یې درلود، لکه مېرمن نازو انا، زرغونه انا، بي بي زینب او نـورې. همـدا اوس که موږ د افغانستان پارلمان ته وګورو نو په سلو کـې اوه ویشـت غړي یې ښځې دي، چې که تر نرینه وو یې کفایت زیات نه وي، نو کم خو هم نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې ما خبرې دې حد ته ورسولې، نو يو نيم لاس پورته کړ او زما د خبرو مخالفت يې وکړ.

اسد ساحل وويل: ((زه له دې نظر سره مخالف يم، ښځه کولای شي، ښه ښوونکې شي، ښه وزيره شي، ښه وکيله شي، ښـه انجنيـره، ښـه ډاکتره شي، داسې او داسې شي، خو د اسلام له نظره ښځه ښه ليډره يا مشره نه شي کېدلای. ځکه چې ښـځه يـو شـمېر صـحي او فزيکـي مجبوريتونه او کمزورۍ لري چې په سختتو شرايطو کـې يـې د هېـواد مشرۍ ته نه پرېږدي.)) د ساحل دې خبرو پسې د ښځينه محصلينو د اعتراض يوه څپه پورته شوه، اسدساحل ته يې وويل: ((ولې يې نه شـي کولای ته د ښځو مخالف يې مخالف يې.)) اسدساحل که هر څومره ورته وويل: ((د ښځو مخالف نه يم، په مشرتابه کې يې مخالف يم، اسلام موږ ته هر څه واضح کړي دي...)) خو هغوی نه منله، په دې ترڅ کې نورو هم ګڼ دلايل وويل: ((هر کار چې نر يې کولای شي، ښځه يې هـم کـولای شي، د ښځې مشري تر نر ځکه ښه ده چې د جګړې مخنيوی کوي، په ښځو کې وارلارډان، فراډان او قاچاقوړونکي نه شته، نو که ښځه مشره شي د ټولنې لپاره په ګټه ده.)) په همدې ګرم بحث کې خبره تر ټاکنې (لاس جګونې) ورسېده، په نتيجه کې د ښځو د ليډرشيپ پلويان زيات شول، (اسدساحل) او له سوډان څخه (محمدعبدالله) تقريباً يوازې پاتې شول.

۲- فساد يا کرپشن د بري يوازېنۍ اسانه لاره ده؟

Is Corruption an easy way to saccess?

د جنورۍ د (۱۱) مې نېټې لپاره همدا موضوع ټاکل شوې وه، څرنګه چې زه د ټولګي د لومړي کتار پر لومړۍ څوکۍ کېناستم، نو معمولاً به په

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مناظرې یا ډیبېټ کې لومړۍ خبرې ما پیلولې، دا به د نورو لپاره یو ښه فرصت هم و چې زما پر خبرو زیاتونه وکړي، یا یې رد او یا یې هم تائید کړي. د کرپشن په هکله زما نظر دا و: [کرپشن د بري لپاره لنډه لاره ده، خو ډېره خطرناکه، یو څوک کولای شي د فساد له لارې ډېــرې پیســې ترلاسه کړي، خو دا پیسې د ډېر وخت لپاره نه شي ساتلای، دی مجبور دی ددې پیسو د ساتنې لپاره وسلوال ساتونکي ولــري او مجبــور دی هغوی د پیسو په زور استخدام کړي، ځکه چې دا پیسې د نورو پیسو په زور ساتل کېږي، یوه مقوله ده چې: ((نامشــروع پانگــه پــه نامشــروع امکاناتو ساتل کېږي)). دا ډول پیسې قانوني ملاتړ نــه لــري، د دا ډول پیسو ساتل هم د هر چا لپاره ممکن نه دي. لنډه دا چې کرپشن د لنــډ وخت لپاره د بري اسانه لاره ده، خو د ډېر وخت لپاره نه...)) ماپســې د**



**موزمبیق محصل (امیلای) نوبت واخیست، هغه د کرپشن پر ډولونــو او مرضونو رڼا واچوله: ((فردي کرپشن چې د فرد له خوا وي، دولتي چې د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولت په کچه موجود وي، ټولنیز چې د ټولنې په کچه وي، دا ټول په خپل ذات کې زیان رسوونکي دي.))

ځینو وویل: ((کرپشن ټولنیز انډول له منځه وړي او عدالت ته زیان اړوي.)) ځینو نورو وویل: ((کرپشن کې ګټه ده، پیسې دي، هر سړی حق لري چې له هرې ممکنې لارې پیسې ترلاسه کړي، دا د هغوی خپل مهارت او ذکاوت دی.)) ځینو بیا د دولتونو په کچه کرپشن ته ګوته ونیوله چې د نړۍ په ډېرو پرمختللو هېوادونو کې هم کرپشن په خپله اوچته کچه لیدل کېږي، هندوستان کې هم کرپشن په لوړه کچه دی، امریکا کې هم، پاکستان او ځینو نورو هېوادونو کې هم شته، لنډه دا



چې د نړۍ هېڅ هېواد ترې خلاص نه دی، خو ویل کېږي چې (نایجیریا) په کرپشن کې د نړۍ په کچه لومړی مقام لري.

د کرپشن موضوع هم ډېره جالبه وه او خورا اوږد بحث پرې وشو. ما فکر کاوه چې اوس زموږ په هېواد کې د اداري فساد پر ضد ډېرې خبرې کېږي او نړیوالې ټولنې هم د افغانستان حکومت له همدې خوږې ګوتې نیولی، نو کرپشن به یوازې زموږ په هېواد کې وي، خو کله چې مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



انټرنېټ کې د څېړنې تکـل وکـړ او هلتـه مـې انتـي کرپشـن ( Anti Corruption) سایټ وکوت، نو چې د نړۍ د نورو هېوادونو کرپشن مـې وکوت، افغانستان په کې ګرد سره ښکارېده هم نه. د نړۍ ګـڼ شـمېر هېوادونه او ان پرمختللي هېوادونه هم د کرپشن له رنځه خلاص نه دي.

د کرپشن بحث مو په خوند پای ته ورسوه، بیا به نو چې چا کله دروغ وویل او یا به یې هسې کومه خبره پټه کړه، نورو به ورته وویل: ((کرپشن به نه کوې)). (په خبرو کې هم کرپشن وي.)

۳- کمپیوټر دندې راکموي که نه؟

Have Computer decreased employments?



د جنورۍ د (۱۳) مې نېټې د بحث موضوع وه. موضـوع بیا ما پیـل کـړه، مـا وویـل: ((کمپیوټر د کار یـوه مهمـه وسیله ده، چې کولای شـي، په لنډه موده کې ډېر کارونه ترسره کړي، موږ کولای شـو په کمپیوټر سخت او دقیـق کارونه ترسره کړو. په تېره بیا په رسنیزه برخه کې کمپیـوټر یـو سـتر انقلاب راوستی، د بېلګې په توګه د چاپي رسنیو په برخه کې چې پخوا کوم کار د لسو تنو له خوا ترسره کېـده اوس د یــوه کمپیـوټر او یــوه کمپیوټر اپریټر په واسطه ترسره کېږي. موږ کولای شو له کمپیوټر څخه د ژوند په هر ډګر کې ګټه پورته کړو، لکـه ښـوونه او روزنـه، رسـنۍ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تجارت، امنیت او نورو کې. کمپیوټر کولای شي د نړۍ په څلورو ګوټونو کې په بلیونونو بلیونونو وګړي یو بل سره وصل کړي. اوس په نړۍ کې د ځوان نسل اکثره برخه کمپیوټر کاروي، خو زوړ نسل له کمپیوټر څخه ډېره ګټه نه اخلي، له همدې کبله دوی په ځینو ځایونو کې خپله دنده له لاسه ورکوي، نو ځکه خو دوی له پرمختګ او کمپیوټري پرمختیا سره څرګند او ناڅرګند مخالفت کوي.)) زما د خبرو لنډیز دا و چې کمپیوټر د اکثرو دندو او کارونو لپاره مهم او ضروري دی، خو یو شمېر نورو بیا زما د خبرو مخالفت وکړ، ویې ویل: ((کمپیوټر که له یوې خوا کارونه اسانوي، نو له بلې خوا کارونه کموي او له منځه یې وړي، د همدې کمپیوټر د**



**کارونې له امله یو زیات شمېر خلک دندې له لاسه ورکوي، په ټولنه کې وزګارتیا راپیدا کوي. کله چې ټولنه کې خلک وزګار پاتې شي، فقر رامنځته کېږي او ټولنیز فساد ورڅخه زېږي، کمپیوټر کارونه راټولوي او ټمر یې څو محدودو کسانو ته ځي، محدود اشخاص ډېر پانګوال کېږي، خو عام خلک وزګار پاتې کېږي.)) دوی مثال ورکړ: ((پخوا به په یوه فابریکه کې په سلګونو او زرګونو خلکو کار کاوه، خو کله چې کارونه کمپیوټرایز شول، اوس همغه کار څو د ګوتو په شمار کسان کوي، دا کار د فابریکې خاوند ته په ګټه دی، خو هغو کارګرانو ته په زیان دی چې د کمپیوټر له امله وزګار شول.)) ما په ځواب کې ورته وویل: ((کمپیوټر د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بشر د تفکر زېږنده ده او د اوسنۍ نړۍ د پرمختنګ نښه، دا چې موږ له کمپیوټر سره مخالفت کوو، مانا دا چې د نړۍ له پرمختګ سره مخالفت کوو، پاتې شوه د اشتغال مسله، د ټولنې په پرمختګ سره د اشتغال شکل او ډول هم بدلېږي، د ساري په توګه پخوا خلکو په بېل او ځارویو په کرونده کې کښت کاوه، خو اوس یې په تراکتور او نورو عصري وسایطو کوي، دا ددې مانا نه ورکوي چې دا ټولنې ته ځکه په تاوان ده چې هلته ځو تنه بزګران وزګار پاتې شول، په دې کار سره موږ پاموږ بشري قوه سپما کړه، موږ کولای شو له دې قوې څخه په بل ځای کې کار واخلو. د وزګارتیا د مخنیوي په خاطر موږ کولای شو د نویو دندو او کارونو پر پیداکولو فکر وکړو. کمپیوټر موږ سر په دې چاره کې هم مرسته کولای شي.)) خو زما دې خبرو بیا هم د ځینو قناعت حاصل نه کړ. ځینو وویل: ((سمه ده د کمپیوټر ګټې ډېرې دي، خو کمپیوټر تر زیاته حده د انسان ټولنیز مناسبات قطع کوي، انسان یو ټولنیز موجود دی، کله چې د ده ټولنیز اړیکي کمزوري شي، د ده اجتماعي چلند ورسره تغیر کوي، مینه او عواطف یې مړاوي کېږي او له خپل همنوع سره یې د همکارۍ روحیه ورو ورو کمزورې کېږي او بیا دا روحیه له منځه ځي. د ښه ژوند لپاره په ټولنه کې د ساینسي پرمختګ او ټولنیزو روابطو ترمنځ یو تناسب په کار دی.))**

**۴- پر سکرین باندې د سګرټو د څکلو ښودل ضرر لري که نه؟**


Should smoking scenes be banned on screen?

**د جنورۍ د (۲۰)مې نېټې موضوع همدا وه. لومړی نوبت بیا زما و، ما وویل: [په مجموعي ډول د هر ډول سګرټو کارول روغتیا ته زیان اړوي. دغسې یې اعلانونه او پر سکرین ښودل یې هم ټولنې ته ځکه ضرر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسوي، چې د همدې اعلاناتو په وجه سګرټو ته مارکېټ پیداکېږي، خو



ځینې خلک فکر کوي چې سګرټ کارول د دوی حق دی، دوی وایـي مور له دې حق څخه په هر ځای کې ګټه اخلو، که هغه په سـینما کـې وي، که پر سکرین باندې او که په نورو ځایونو کې، خو د هند په شمول ګڼو هېوادونو په عامه او ډله ییزو ځایونو کې د سګرټو څکل منع کـړي دي. ځینې بیا د سګرټو څکل هم د انسان یو دیموکراتیک حق ګڼـي. تراوسه پورې یو زیات شمېر پوهانو په دې باب څېړنه کړې او اکثره دې نتیجې ته رسېدلي چې پر سکرین باندې د سګرټو ښودل ضـرر لـري. پروفیسور سیمو چپمن (Prof: Simo Chapman) په خپله څېړنه کـې څرګنده کړې چې پر سکرین باندې د سګرټو ښودل ضرر لري، په تېره بیا ماشومانو ته! د بالیوډ سینما ځینې فلمي ستوري هم دېته ورته نظر لري، هیمامیلاني او راکي سوانت وایي: ((د سګرټو او یا د هغو د اعلانونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښودل په عامه ځایونو او فلم دواړو کې ضرر لري.)) خو د همدې بالیوډ سینما ځینې ستوري بیا له دې نظر سره موافــق نــه دي، دوی وایــي: ((فلم- سکرین او سګرټ دوه جلا پدیدې دي؛ فلم فلم دی، تمثیل دی، دا ربښتیا نه دي، بلکې د رښتیا په شان دي.)) خو ځینې نور بیا دا نظــر ردوي او وایي: ((د فلم اکټور او هیرو ډېر مهم دی، هغه چې کوم اکټونه کوي، ماشومان او ځوان نسل د هغه تــر تــاثیر لانــدې راځــي او هغــه تعقیبوي.))

د پورتنیو خبرو او دلایلو په پام کې نیولو سره زما نظر دا دی، چې د سګرټو ښودل او څکل پر سکرین، عامه ځایونو، دفترونو او نورو سیمو کې ضرر لري او ضرر یې هم ثابت دی.] زما په خبرو پســې نــورو خپــل نظرونه څرګند کړل، ځینو وویل: ((پر سکرین د ســګرټو ښــودل ضــرر لري.)) او ځینو وویل: ((نه یې لري.)) له روسیې څخه تاتیانا وویل: ((دا د تجارتي کمپنیو حق دی چې خپل اعلان پر سکرین وښیي، دا نو بیــا د خلکو کار دی چې دا علان تعقیبوي که نه!)) له کمبوډیا څخه وینــډي وویل: ((که پر سکرین سګرټ ونه ښودل شي، نو د سګرټو ضد اعلان به له کومې لارې وښودل شي؟ د سګرټو د بندولو ښه لاره داده چــې لــه قانوني لارو د هغوی مخنیوی وشي، نه دا چې پر سکرین پــرې بنــدیز ولګول شي.)) تاتیانا وویل: ((کله کله په فلم کې یو کرکتــر د ســګرټو استعمال ته ضرورت لري، هغه په دې مانا نه ده چې دی سګرټو ته تبلیغ کوي، بلکې دا په دې مانا ده چې کرکتر رښتیا هم سګرټي دی او هلته باید دی ضرور سګرټ وڅکي، نو که پر سکرین د سګرټو پر ښودلو بندیز ولګول شي د واقعي ژوند نورې برخې به له ستونزو سره مخامخ کړي.)) یو بل تن وویل: ((د سګرټو له اعلانونو ډېره ګټه ترلاسه کېږي او که پــر

(c) ketabton.com: The Digital Library



سکرین باندې د سګرټو ښودل بند شي، هم ټلویزیونونه زیان کوي او هم تجارتي کمپنۍ. کوم څوک چې د سګرټو عملي دی، هغه په هر ترتیب سګرټ پیداکوي، که په سکرین وښودل شي که ونه ښودل شي، نو که پر سکرین یې ښودل بند شي، نورو خلکو ته یې ډېر زیان رسېږي.)) اسد ساحل بیا هم مخالفت وښود او ویې ویل: (( پر سکرین د سګرټو بندېدل مهمه خبره نه ده، باید دغه پدیده په رښتیني ژوند کې بنــده شــي او وروسته دې پر سکرین خبرې وشي)) هغه وویل: ((مور غواړو په سکرین




د رښتیني ژوند انځور وړاندې کړو. کله چې دا کار کوو، نــو اړتیــا لــرو سګریټ هم استعمال کړو څکه په رښتیني ژوند کې شته.)) د سګرټو پر موضوع هم ډېر اوږد او تونډ بحث وشو، خو غټ ټکي یې همدا وو.

۵- خپلخوښې ځانوژنه: (The euthanasia)

د جنورۍ پر (۲۲) مه نېټه دا موضوع مطرح شوه، خپلخوښې ځانوژنه (The euthanasia) یوه مهمه موضوع ده، دا هغه ډول ځانوژنه ده چې کله انسان له خپل ژوند څخه ډېر په تنګ شي، نور نو ټول امیدونه لــه

(c) ketabton.com: The Digital Library




لاسه ورکړي او یا هم دومره سپین ږیری شي چې پښــې ځــان پســې راکاږي او یا له سختې ناروغۍ سره مخامخ وي، نو په دغسې حالاتو کې دی کولای شي په خپل لاسلیک او غوښتنه په خپله خوښــه ځانوژنــه وغواړي. دا ډول ناروغان بیا د مخصوصې پېچکارۍ په وسیله له منځه وړل کېږي او په اصطلاح له ژونده بېغمه کېږي. اوس په نړۍ، په تېره بیا په اروپا کې یو شمېر داسې ډلې او اشخاص شته چې غواړي دې موضوع ته قانوني بڼه ورکړي. د نړۍ په کچه تراوسه پورې په جرمني، ډنمارک او هالنډ کې له حکومتونو او پارلمانونو غوښتل شوي چې په خپله خوښه دې ډول ځانوژنې ته قانوني لاره خلاصه کړي، خو نورې نړۍ لا تراوسه پــورې اکثــرو لــه دې موضــوع ډډه کــړې ده. دا ډېــره دردوونکــې او حیرانوونکې موضوع ده، خو کېدی شي په راتلونکو څو لسیزو کې پــه ځینو پرمختللو هېوادونو کې پر یوې قانوني جنجالي موضوع بدله شي. ددې موضوع په اړه لا ما دمخه هم څه ناڅه معلومات درلودل، خو پــه انټرنېټ کې مې د څېړنې له لارې ډېر زیات مواد پیدا کړل، چې د هغــو ټولو یادونه خپله یو ځانګړی کتاب او ان کتابونه غواړي. ددې موضوع د قانوني کولو پر ضد د بشري حقونو ګڼ شــمېر ټــولنې ولاړې دي او پــر حکومتونو او پارلمانونو سخت فشار دی چې هېڅکله دې موضــوع تــه قانونیت ور نه کړي. د څو ورځني معمول په څېر دا موضوع بیا ما پیــل کړه. کله چې مې موضوع شروع کړه نو یو شمېر هغه کســان چــې لا د موضوع پر محتوا نه و خبر، اصلي موضوع ته متوجه شول. زما نظر پــه دې باب داسې و: ((ژوند د خدای(ج) له خوا انسان تــه یــوه ډالــۍ ده، یوازې الله تعالی کولای شي دا ډالۍ بېرته واخلي، د نړۍ ټولو ادیــانو او مذهبونو لکه اسلام، عیسویت، بودیزم، یهودیت، سکیزم، هنــدویزم او

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نورو ټولو له یوې مخې ځانوژنه رد کړې، دا یې د انسان حق نه دی ګڼلی**




**او په لویو ګناه ګانو کې یې حساب کړې ده. نو ځکه خو موږ، ځانوژنه یو ستر جرم ګڼو. که چېرې څوک غواړي (The euthanasia) یا خپلخوښې ځانوژنې ته قانونیت ورکړي، په واقعیت کې دوی یو ستر جرم ته قانوني بڼه ورکوي او کله چې جرم د قانون یوه برخه شـي، نـو بیـا هېڅکلـه خوندي ژوند نه شو کولای. زه فکر کوم خپلخوښــې ځانوژنــه د ژونـد ارزښت او ماهیت راټیټوي او د ژوند طبیعي جوړښت ته بدلون ورکوي، تر دې وروسته به هرڅوک راپاڅېږي او د ژوند په طبیعي جوړښت کې به بدلون راولي او په دې ډول به ټول بشریت له یـو سـتر بحـران سـره مخامخوي. خپلخوښې ځانوژنه د کورنۍ د غړو ترمنځ کړکېچ رامنځته کوي، صمیمیت له منځه وړي او د وخت په تېرېدو سره به ځینې کمپنۍ له دې حالت څخه د یوې تجارتي وسیلې په توګه ګټه پورته کړي، داسې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دارو درمل به جوړ کړي چې د ځینو کورنیو غړي به یې د مال او میراث په خاطر د کورنۍ په بل غړي کاروي او هغه به ځانوژنې ته تشویقوي، نو په دې ډول به بشري ټولنه له یوه رنځوونکي خطر او بحران سره مخ شي.))

ما پسې اسدساحل خپل نظر څرګند کړ او ویې ویل: ((د اسلام له نظره د ژوند حق یوازې الله تعالی سره دی، هېڅوک حق نه لري چې دا حق سلب کړي.)) د اسد خبرې د کیوبا محصل ښاغلي رافایل په ټینګه رد کړې، ویې ویل: ((هغه انسان چې نور یې د ژوندي پاتې کېدو هېڅ چانس نه وي ( د کوما په حالت کې وي)، له ژونده هم ډېر په تنګ شوی وي او خپله هم غواړي چې د خپلې ناروغۍ له رنځه خلاص شي، نو بیا خو په کارده چې ځانوژنه لاسلیک کړي.)) ساحل ورته وویل: ((ته څه خبر یې چې هغه څه وخت مري؟ د مرګ او ژوند راز له الله تعالی سره دی، که بېرته ښه شي؟)) رافایل ساحل ته وویل: (( (The euthanasia) دا مانا چې انسان د ژوند داسې یوې مرحلې ته رسېدلی چې د رغېدو هېڅ چانس نه لري او همداسې پاتې کېدل یې هم کورنۍ ته یو دروند بار دی.)) خو اسد ساحل پر خپلې خبرې ټینګار کاوه، ساحل او رافایل سره ښه ګرم شول، دې کې له کمبوډیا څخه مېرمن ویندې وویل: ((زه خپله کیسه کوم، زما نیکه ډېر سپین ږیری او د رغېدو نه و، پر لاره هم تللی نه شو، موږ د کورنۍ ټول غړي یې په پالنه دومره ستړي وو چې حد نه لري، هغه خپله هم تر ژونده مرګ ښه ګاڼه، څو کاله دې حالت دوام وکړ، زموږ ټوله کورنۍ د یوه مریض په ستونزه کې راګیر وه، د ژوند له ډېرو نعمتونو بې برخې وو، څرنګه چې کمبوډیا کې د ځانوژنې قانون نه و، نو موږ ډېر کلونه صبر وکړ او د نیکه تر مرګه موده مو ډېره په تکلیف تېره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړه، نو که په داسې حالت کې د ځان وژنې قانون وي، زما په نظر په ګټه ځکه دی چې د یو تن په له منځه تللو سره د نورو ژوند ښه کېدلای شي.)) ځینو نورو ټولګیوالو هم د ویندي خبرې تائید کړې، له سوډان څخه (محمدعبدالله) او له فلسطین څخه (رفعت) د (ویندي) له خبرو سره موافق نه وو. ما (یون) وویل: ((که چېرې یوازې په دې هدف چې یو څوک د ژوند له کړاوونو ځان ژغوري او یا د خپلې کورنۍ د سوکالۍ او نېکمرغۍ لپاره خپل ځان له منځه وړي، نو بیا هغه څوک چې د یوه ارمان (ښه یا خراب) په خاطر ځان په بمونو الوزوي (ځانمرګي برید کوي) هغه ته هم قانوني پلمه په لاس ورکوو او په دې ډول په نړۍ کې د ځانوژنې بېلابېلو ډولونو ته قانوني رنګ ورکوو.)) د ځینو نورو نظر بیا دا و: ((څرنګه چې ځانوژنه ټولو ادیانو مردوده کړې نو په کار دي چې ډېره ترې وشي، خو د هغو ناعلاجه ناروغانو او یا هغو کسانو لپاره چې د ژوند تر کړاوونو د مرګ خوب ته ترجیح ورکوي، د هغو لپاره باید داسې لارې چارې ولټول شي چې د طبیعي مرګ تر بریده یې پالنه وشي او د ژوند د ستړي کوونکي بار پېټی یې راکم شي.)) (اجمل)، (ایملای)، (ایما)، (لوک پراساد)، (دیو) او نورو ټولو په دې بحث کې ونډه واخیسته، د بحث په پای کې اکثریت په دې نظر وو چې ځانوژنه باید قانوني نه شي، خو اقلیت وویل چې باید قانوني بڼه ورکړل شي.

۶- د ښه ویاند ځانګړتیاوې: (Dips for a good speaker)

دا د جنورۍ د (۲۷) مې نېټې موضوع وه، دا موضوع هم جالبه وه، ځکه په ژوند کې اکثره خلک غواړي چې ښه خبر لوڅ، ویاند او ژبور وي، پر دې موضوع مو په ډله ییز ډول کار وکړ، د ټولګي څو څو تنه (څلور پنځه تنه) سره کېناستل، د موضوع لپاره یې په سر کې غټ غټ ټکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټاکل او بيا يې هغه تشريح کول. پر دې موضوع هم په ډله ييزه توګه کار وشو او هم په انفرادي توګه. موږ د يوه ښه ويانـد لپـاره دغـه لانـدې ځانګړتياوې په ګوته کړې:

۱. پر خپل مسلک ښه پوهېدل.

۲. صفا اواز او ښکلی تلفظ.

۳. ژبني مهارت

۴. د لغتونو پرېمانه زېرمه

۵. اغېزناکه وينا

۱. که يو څوک پر خپل مسلک واکمن وي، هغه کولای شي پـه هغـه برخه کې ډېر معلومات راټول کړي او بيا د خبرو پر وخت هغه پـه ښـه شکل خلکو ته تشريح او واضح کړي، خو که معلومات يې کمـزوري او ناکافي وي، هغه نه شي کولای هغه موضوع سمه واضح کړي.

۲. صفا اواز او ښکلی تلفظ ډېر مهم دی، که يو څوک د يوې موضوع په اړه سم او پوره معلومات هم ولري، خو چې هغه تشريح نه شي کړای، تلفظ يې سم نه وي او اواز يې صفا نه وي، خلک ترې ستړي کېږي، د ښه وياند لپاره ښه طبيعي غږ هم په کار دی. په دې برخه کې به يو عملـي مثال هم درکړو. موږ د پارلمان يو غړی لرو، پر موضوعاتو ښه حاکم دی، يوه ورځ يوه ټلويزيون ما (يون) ته وويل چې د پارلمان يو وکيل مـې د مرکې لپاره په کار دی، ما له دې وکيل څخه هيله وکړه چې ټلويزيون ته لاړ شي او مرکه وکړي، هغه تلويزيون ته تللی و او مرکه يې کړې وه، کله چې له ټلويزيون څخه راوتلی و، نو ډېر خپه و، ما چې تپوس ترې وکـړ ولې خپه يې؟ ده وويل: ((والله هغه موضوع مې سمه واضـح نـه شـوه کړای.)) بله ورځ بيا د همغه ټلويزيون مسول ټلېفون وکړ چې د پارلمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو غړی مې په کار دی، ما بیا دی ورولېږه، کله چې ټلویزیون ته ورسېده، نو ټلویزیون والا راته بیا زنګ وواهه، ولې یون صیب، ما وویل: ((ولې؟)) دوی وویل: ((تا خو بیا همغه سړی رالېږلی دی)) ما وویل: ((څه پرې شوي؟)) هغوی وویل: ((د ده سونډ سیستم خراب دی.)) نو په دې ډول څرګنده ده هغه څوک چې ښه ښکلی طبیعي اواز نه لري، که پر موضوع حاکم هم وي، ښه ویاند کېدلای نه شي.

۳. د ښه ویاند لپاره د ژبنیو مهارتونو زده کړه ډېره مهمه ده، ویاند باید پر دې پوه شي چې کوم لغت پر کوم وخت او کوم ځای کې څنګه تلفظ کړي او پر کوم وخت پر لغت فشار راوړي. پر ژبنیو مهارتونو او ګرامر پوهېدنه له ویاند سره مرسته کوي چې خپله موضوع په ښه ډول تشریح کړي.

۴. د لغتونو زېرمه هم ډېره مهمه ده، یو ویاند ته په کار دي چې خپله لغوي زېرمه زیاته کړي، متبادل لغتونه وکاروي، په خبرو کې ټکنی نه شي، که چېرې لغوي زېرمه یې کمه وي، نو یا به تکراري لغتونه کاروي او یا به هم په خبرو کې ټکنی کېږي، کله چې خبرو کې ټکنی شو، نو د اورېدونکو لېوالتیا ورسره کمېږي او خبرې یې جذابیت له لاسه ورکوي.

۵. په وینا کې باید اغېز موجود وي، سم تلفظ او شفاف غږ د وینا اغېز زیاتوي، ویاند باید هره کلمه په داسې شکل تلفظ کړي چې اورېدونکي پرې پوه شي، د خبرو سرعت باید دومره زیات نه وي چې یو لغت یې خلاص کړی نه وي، بل ورپسې پیل کړي، ځکه چې اورېدونکي د هر لغت مانا تعقیبوي. ویاند باید د خپلې وینا محیط ته هم متوجه وي؛ که خلک د ستړیا احساس وکړي باید یا موضوع بدله او یا هم خپلې خبرې لنډې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زما تر دې خبرو وروسته نورو ويناوالو هم د ښه ويناند ځانګړتياوې په ګوته کړې، ځينو د وينا وخت تخنيکي وسايلو ته هم اشاره وکړه چــې بايد موجود وي او چک شي او ځينو د لباس په ګډون نورو ځانګړتياو ته نغوته وکړه.**

**۷- له کور څخه د دندو ترسره کول ممکن دي؟**

Should working form home be encoaraged?

**د فبرورۍ د (۲) مې نېټې موضوع همدا وه، چې له کوره د کارونو يــا دندو ترسره کول ممکن دي که نه، ګټې يې څه دي او زيانونه يــې څــه دي؟ دا موضوع مناظرې ته وړاندې شوه. ما وويل: ((له کوره د کــارونو ترسره کېدل ممکن دي. نن نړۍ ډېر پرمختګ کړی، موږ کولای شــو د همدې ټکنالوژۍ په کارولو سره له کوره ډېر کارونه کنټــرول او ترســره کړو.**

**موږ کولای شو په کور کې د کاري رابطې او ټليکمونېکشن اړيکي جوړ کړو او پر لږ وخت ډېر کارونه ترسره کړو. له کوره د کارونو ترسره کول دا ګټه هم لري چې د وخت او ترانسپورټي لګښت مخنيوی کېږي؛ ډېــرى کسان چې سهار له خپله کوره تر دفتره ځي نو وخت يې هم لګېږي او ترانسپورټي لګښت يې هم کېږي، نو له کوره په کارونو کې د دې دواړو سپما کېږي، خو له کوره د کارونو ترسره کول څه ستونزې او زيانونه هم لري: په کور کې کار کول کورني روابط زيــانمنوي، مينــه او صــميميت کموي، د کار وخت په کې نه تضمنېږي، که په کور کې کارونه وشي، نــو کور د ورکشاپ بڼه خپلوي، نو بيا خو بايد ورته ورکشاپ يا کارخونه وايو، نه کور. کور د مينې، محبت، استراحت او کوروالۍ لپاره دی، نه د کــار لپاره. په کور کې پوره وخت کار کول هم سخت کار دی. که کارونه کور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته را انتقال شي، نو د کور فزیکي بڼه هم باید بدله شي، اوسني کورونه باید تغیر ومومي؛ لوی شي. لنډه دا چې له کوره کارونه ممکن دي خــو ګټې او زیانونه دواړه لري.))

زما په خبرو پسې ځینو وویل: ((د ټکنــالوژۍ بهیــر راروان دی، کــه څوک غواړي که نه غواړي، ځینې کارونه به کورونو ته انتقالېږي، همدا اوس په هندوستان کې یو شمېر خلک شته چې له بېلابېلو ادارو ســره کار کوي، خو له کوره کارونه تر سره کوي.)) ځینو وویل: ((انلاین درس ورکول یې یوه بله بېلګه ده چې ښوونکی له خپله کوره ټولګي تــه پــه سکرین درس ورکوي.)) ځینو بیا وویل: ((په ټولنه کې ځینـــې کارونــه داسې دي چې کولای شو له کوره یې ترسره کړو، خو ځینې کارونه بیــا داسې دي چې هغه په هېڅ وجه په کور کې نه شي ترسره کېــدلای.)) ځینې نور بیا په کور کې د کار مطلق مخالف وو، ویل یې: ((په کور کــې کار کول اجتماعي مناسبات کمزوري کوي، انسان ضرورت لري چې په خلاصه هوا و فضا کې وګرځي او چکر ووهي، کور د خوب او استراحت لپاره دی نه د کار لپاره، په یوه کور کې د ښځې او مېړه، خویندو او ورونو متفاوت او متضاد کارونه بله ستونزه ده چې یوه کورنۍ نه شي کــولای خپل کاري او کورني روابط سره دوستانه وساتي.))، خــو دا نظــر هــم موجود و چې که له کوره بهر ته کار پسې لاړ شو، هم خپل وخت ضایع کوو او هم ترانسپورټي لګښت کوو. پاتې شوه د تفریح او چکر مســئله، هغه نو که څوک په کور کې کار وکړي او ستړی شي، هم د باندې چکر او استراحت ته تللای شي؛ د کور کار د هغو مزاحمت نه کوي. لنډه دا چې دا مسئله هم ښه وشاربل شوه او ګرم بحث پرې وشو. کله چې پر یــوه

(c) ketabton.com: The Digital Library




**موضوع د نظر اختلاف وي، نو هغه موضوع له ټولو خواوو ښــه څېــړل کېږي او شنل کېږي، دا موضوع هم همداسې هر اړخیزه وشنل شوه.**

**۸- د مغزونو فرار: (Brain drain)**

**دا موضوع د فبرورۍ پر (۵) مه نېټه مطرح شوه. دا ټاپیک ماته ځکه ډېر جالب و چې په دې باب ما مخکې یــو کتــابګوټی لیکلــی و: ((لــه افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل)) چې انګلیسي محتــوایي ژباړه یې همدا (Brain drain) وه.**

**زما دا کتابګوټی دوه ځله چاپ شو او په هغه کې له (۱۳۵۷- ۱۳۷۷ ل) کال پورې (نږدې شل کلونه) له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل څېړل شوي دي. په افغانستان کې چې هر نظام راغلی، یو شمېر**




**مسلکي کادرونه په کې یا له کاره ګوښه شوي او یــا هــم لــه هېــواده مهاجرت ته اړ شوي دي. افغانستان د جګړې د شلو لومړنیو کلونو پــه ترڅ کې نږدې (پنځوس زره) مسلکي کادرونه له لاسه ورکړي دي. زمــا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



څېړنه خو يوازې د افغانستان پر محور راڅرخېدله، خو دلته دا موضوع نړيواله يا نړۍ شموله وه. نو ځکه خو ما يو ځل بيا انټرنېټ ته مراجعه وکړه او ومې کتل چې له افغانستان پرته نور هېوادونه هم دا ستونزه لري که نه؟ کله چې مې هلته وکتل نو له يو څو پرمختللو هېوادونو، لکه استراليا، کاناډا، امريکا او نوي زيلنډ پرته نور ټول (( د مغزونو فرار)) ستونزه لري. کله چې مناظره پيل شوه، نو لومړۍ خبرې بيا ما پيل کړې، ما وويل: {(د مغزونو فرار) ځينو هېوادونو او ټولنو ته يوه جدي ستونزه ده او که علاج يې ونه شي هغه ټولنه له فکري فقر سره مخامخولای شي. موږ کولای شو دا ستونزه په دريو کټګوريو هېوادونو کې جلا جلا وڅېړو:

۱. مخ پر ودې هېوادونه

۲. پرمختللي هېوادونه

۳. د درېيمې نړۍ هېوادونه

۱- په لومړۍ کټګورۍ هېوادونو کې ځينې يې خپل کادر له لاسه ورکوي، خو ځينې يې بيا يو څه ګټه هم بېرته ترلاسه کوي. هندوستان، چين، پاکستان، ايران، عراق او ځينې نور په دې ډله کې شامل دي. په دې هېوادونو کې ځينې يې د همدې کادرونو د نشتوالي له امله له ډول ډول اقتصادي، سياسي او ټولنيزو ستونزو سره مخامخېږي او ځينو ټولنو ته د بې ثباتۍ ناروغۍ لاره پيدا کوي. خو په همدې کټه ګورۍ کې د چين او هندوستان په شان هېوادونه بيا کولای شي د کادر د انتقال يا صدور له لارې خپل هېواد ته ډېره مالي ګټه ورسوي. دا هېوادونه زياتې بشري سرچينې او ځواک لري، د مسلکي کسانو هم په کې کمی نه شته، خو د کار د لټون لپاره دوی نورو هېوادونو ته ځي، له هغو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نقده مادي ګټه ترلاسه کوي او خپلو هېوادونو ته يې رالېږي. دوی فکر توليدوي او په مقابل کې يې پيسې راټولوي. زه فکر کوم په داسې حالت کې د مغزونو فرار، لکه د چين او هند په شان هېوادونو ته په زيـان نـه دی.**

**۲- په دويمه کټه ګورۍ کې د نړۍ پرمختللي هېوادونه، لکه کانـاډا، امريکا متحده ايالات، استراليا او نور شامل دي. دا هېوادونه چې خاوره يې زياته او بشري قوه يې کمه ده، تحصيل کړو او علمي کادرونو ته اړتيا لري، دوی ته دا په ګټه ده؛ ددې پرځای چې د کادرونو پر روزنـې ډېـر وخت او پيسې ولګوي، تيار کادرونه راونيسي. دوی د کادر پـر رانيولـو پيسې لګوي خو وخت سپما کوي. دې هېوادونو ته د مغزونو فرار د دوی په ګټه دی او دوی ته يو طلايي چانس دی.**

**۳- په دريمه کټه ګورۍ کې د دريمې نړۍ هېوادونه شامل دي. له دې هېوادونو څخه د مغزونو فرار دوی ته يوه ستره سـتونزه ده. ځکـه چې دوی د يوه کادر پر روزنې ډېرې پيسې او کلونه کلونه وخت لګوي، خو په ډېرې اسانۍ او لنډ وخت کې يې له لاسـه ورکـوي. افغانسـتان، بنګله دېش، ايتوپيا، سوماليا او نور په دې ډله کې شامل دي. د دريمې نړۍ د هېوادونو بل مشکل دادی چې دا کادرونه يې بېرته خپلو هېوادو ته په اسانۍ نه ستنېږي. افغانستان د دې اوږدې جګړې په لومړيو شلو کلونو کې نږدې (پنځوس زره) کادرونه له لاسه ورکړي، خو د دوی ډېـر کم شمېر هم بېرته خپل هېواد ته ستانه نه شول. په نورو هېوادونو کې د دوی فکر بدلېږي او بيا بېرته خپلې ټولنې سره ځان نه شي عيـارولای. اوس چې زموږ د هېواد د بيارغونې وخت دی، تر (سل زرو) زيات بهرني متخصصين او کارګران افغانستان کې کار کـوي او هـره مياشـت پـه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلګونو مليونه ډالره بېرته له افغانستانه باسي، که موږ خپل کادرونه او مسلکي کارګران درلودلای، ددې بهرنيانو ګومارنې ته اړتيا نه پيدا کېده. دوی به زموږ د ټولنې په فزيکي اعمار کې مرسته وکړي، خو ذهنـــي او فکري ودانۍ کې ډېر مثبت رول نه شي لوبولای. (د مغزونو فرار) زموږ په شان هېوادونو ته يو جدي مشکل دی، نو ځکه خو ځينې متخصصين د مغزونو فرار ته د (بشري پــانګې الوتنــه) (The human capital flight) وايي.} زما تر خبرو وروسته بيا بحث پيل شو، چا وويل: ((دا رښتيا هم ځينو ټولنو ته يو ستر زيان دی)) ځينو وويل: ((انسان ازاد پيدا شوی او د ازاد ژوند حق لري، دی چې هر چېرته ځان راحت احساسوي، هلتــه کولای شي ژوند وکړي.)) خو اسدساحل له دې نظر سره مخالفت وکړ، ويې ويل: ((انسان رسالت لري، داسې نه شي کېدلای چې لګښت پرې د يوې ټولنې شوی وي او د خپل ځان د راحت په خاطر به بلې ټولنې تــه ځي، دې سره به غريب هېوادونه نور هم غريب شي او بډايه به نور هــم بډايه شي.)) خو د اسد له خبرې سره ټولو توافق ونه کړ، ځينو وويــل: ((انسان ته تر ټولو قيمتي شی د هغه ژوند دی، دا چې يو انسان له يوې ټولنې بلې ته مهاجر کېږي، څه مجبوريتونه به لري، بل هېواد ته بــه د خپل ژوند د خونديتوب په خاطر ځي، په ځينو ټولنو کــې اســتبدادي رژيمونه وي، ځينو ته په کې د سر خطر وي، دوی مجبور دي لــه هغــه ځايه کډه وکړي. هر چا باندې خپله ټولنه ګرانه وي خو کله کله هلتــه اورونه بادېږي، دوی نه شي کولای چې هلته ژوند وکړي.)) يو بل په کې لا دا هم وويل: ((ماته خپل ژوند مهم دی چېرته مې ښه هلته مې شپه، هغه ټولنه چې زما ژوند نه شي خوندي کولای، زه نه غواړم خپل ژوند له

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې نذرانه کړم.)) ددې موضوع وخت هم پر دې ګرم بحـث پـای تـه ورسېد.

**۹- د اعلانونو ګټه زیاته ده که زیان؟**

Advertising lose more harm than good?

د فبرورۍ پر (۱۵) مه نېټه دا موضوع وړاندې شوه. په سر کې بیا مـا خبرې پیل کړې: ((زه فکر کوم اعلانونه زموږ د نننې ژوند یوه برخه ده. اعلانونه له خلکو سره د ارتباط نیولو اساسي او اسانه لاره ده، د ټولنې هره برخه لکه تجارت، سیاست، ښوونه او روزنه او نور ټول اعلانونو تـه اړتیا لري او له دې لارې خلکو ته خپل پیغام لېږدوي. اکثـره رسـنۍ د همدې اعلانونو له برکته چلېږي او له دې لارې ډېرې پیسـې ترلاسـه کوي. دا د ټولنې د دوو برخو: پیغام رسوونکو او پیغام اخیستونکو ترمنځ د ارتباط ښه وسیله ده. د اعلانونو په وسیله کولای شو پر ډېر کم وخت خپل پیغام ملیونونو وګړو ته ورسوو، خو کله کله په اعلانونو کې مبالغه او وړه تېروتنه د لویو ستونزو سبب کېږي او د هغې تېروتنې اصلاح هم بیا اسانه کار نه دی. په ټولیز ډول که موږ د اعلانونو ګټې او زیانونه سره پرتله کړو، نو تر زیانونو یې ګټې زیاتې دي.)) زما تر خبرو وروسته بیا ګرم بحث پیل شو، چا وویل: ((ځینې اعلانونه له مبالغې ډک دي، پر واقعیت ولاړ نه دي، ګټه یې یوازې اعلانوونکي ته ډېره ده، عوام په کـې زیـان کوي، ځکه دوی په اعلان کې یو تېرویستونکی پیغام ځـای کـړی وي، ولس پرې غولېږي او د دوی اموال اخلي، خو کله چې یې استعمال کړي، هغه هغسې نه وي لکه په اعلان کې چې وي.)) دوی د بېلګې په توګه د بېلابېلو شامپوګانو، صابونونو او د سینګار د ځینو سامانونو د اعلانـاتو یادونه وکړه. ځینو وویل: ((دا د هغو حق دی چې په هر ډول خپل اعلان

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړوي، خو اخیستونکی هم باید له خپل شعوره کار واخلي.)) یو تــن وویل: ((که اعلانونه تر قانوني چتر لاندې راشي او د مبالغه یي اعلاناتو مخه ونیول شي، نو بیا به یې زیان کم شي.)) خو یو شمېر نورو ویل: ((د اعلان جذابیت په همدې کې دی چې مبالغه په کې وي، که مبالغه په کې نه وي، بیا خو نو اعلان نه دی، عادي خبرې دي.)) بحث دوام وکړ خــو عمومي نچوړ یې دا و چې د اعلاناتو ګټه د هغو تر زیانونو زیاته ده.

۱۰- پیسې مهمې دي که پوهه؟

Money or Education which one is important?

دا زموږ تقریباً وروستی موضوع وه، دا موضوع هم خورا جالبه او پــه زړه پورې وه. ټولو په کې فعاله ونډه واخیسته، ما وویل: ((موږ دوه ډوله پانګه لرو: یوې ته منقوله پانګه وایي، بلې ته نامنقوله. مانا دا: هغه پانګه چې د انتقال وړتیا ولري، هغې ته منقوله او هغه چې د انتقال وړ نه وي هغې ته نامنقوله پانګه وایي. پیسې منقوله پانګه ده، خو ځینې وخــت داسې وي چې د انتقال وړتیا له لاسه ورکوي، پیسې هم په پوهه ساتل کېږي او په پوهه ګټل کېږي. که یو څوک ډېرې پیسې هم ولري، خو چې پوهه ورسره نه وي، کېدی شي پیسې ترې بېرته لاړې شي.

پیسې د ډېرو ګټو ترڅنګ خطر هم لري، غل- غدوی او نور سیالان کولای شي د یوه پانګوال سرې ژوند له خطر سره مخامخ کړي، خو پوهه داسې یوه پانګه ده چې هر چېرته د انتقال وړ ده او هــر چېرتــه پــرې پیسې ترلاسه کولای شې. زما د خبرو نچوړ دا دی چې پوهه بې ضــرره پانګه ده او پیسې داسې یوه پانګه ده چې څه ناڅه خطر او ضــرر هــم ورسر ملګری دی. سره له دې چې د انسان لپاره دواړه مهمې دي، خو تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيسو ماته پوهه ډېره مهمه ښکاري.)) زما خبرې ځينو ژر رد کړې، ويې ويل: ((که پيسې درسره نه وي پوهه نه شې ترلاسه کولای، اوس تعليم هم په پيسو دی، که چېرې څوک غواړي ښه تعليم وکړي، نو ډېرې پيسې بايد مصرف کړي، همدا ټولګی يې يو مثال دی، موږ چې دلته د زده کړې په خاطر راغلي يو، پر موږ هر يوه ډېر لګښت راغلی دی، که چېرې د پيسو دا امکان نه وای، نو موږ دلته نه شو راتللای.)) يو بل وويل: ((د پوهې وروستی ثمر او نچوړ همدا پيسې دي، موږ چې غواړو پوهه ترلاسه کړو ددې په خاطر چې پيسې وګټو، نو چې پيسې ولرو د پوهې زحمت ګاللو ته څه اړتيا ده؟)) يو بل وويل: ((پيسې هم په پوهه ګټل کېږي چې پوهه ونه لرې پيسې څنګه ګټې؟)) يو بل تن غږ کړ: ((د دنيا غټ ملياردران چې وګورې هغوی اکثره نالوستي يا نيم لوستي کسان دي، يو يې هم لوړې او ځينې يې ان لومړنۍ زده کړې هم نه لري.)) د هند د يوه ملياردر يادونه يې وکړه چې عادي ليک لوست کولای شي، يو بل په کې غږ کړ: ((که د پيسو ګټل په پوهه وای نو د دنيا ټول پوهان بايد اوس پانګوال وای، په داسې حال کې چې خبره برخې سرچپه ده.)) يو بل غږ کړ: ((ژوند لنډ او تنګ دی څوک چې پيسې ولري، هغه بايد ژوند وکړي، هغوی له همدې پيسو څخه د ځان د حفاظت لپاره هم کار اخلي، څوک چې پيسې ولري همدا پوه کسان هم د هغو په خدمت کې دي، تاسې وګورئ په يوې فابريکې کې څو سوه کارګران، انجنيران او نور پوه کسان کار کوي، خو چې د فابريکې خاوند ته وګورې، نيمه سواد هم نه لري.)) ځينو وويل: ((موږ بايد سواد يا زده کړه تعريف کړو. يو رسمي سواد دی او يو نا رسمي. ځينې پانګوال کېدلای شي پوره رسمي زده کړې ونه لري، خو نارسمي پوهه او تجربه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې زياته ده، دوی خپل فکر کارولی چې دومره پيسې يې ترلاسه کړي، که نه هېڅ په هېڅه د پيسو ګټل اسان کار نه دی.)) د پيسو او پــوهې ترمنځ دا بحث د چرګې او هګۍ کيسه شوه چې کومه يوه دمخه پيـــدا شوې، تر پايه پورې ټولګيوال توافق ته ونه رسېدل او بحث په همــدې جنجال کې پای ته ورسېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په هند کې فرهنگي ولولې

ښاغلي سرمحقق زلمي هېوادمل (( په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاوونه)) تر عنوان لاندې یو غټ او مهم کتاب لیکلــی دی، دا کتاب په هند کې د پښتو ادبیاتو پر کمیت او کیفیت رڼا اچوي او دا څرگندوي چې هند د پښتو ادبیاتو د ودې او ټوکېدو یوه مهمه حوزه وه. هند نه یوازې د پښتو ادبیاتو، بلکې د فارسي ادبیاتو او همدارنگه د ختیځ د نورو ادبیاتو لوی مرکز هم گڼل کېږي.

هندوستان په واقعیت کې د پښــتو ادبیــاتو او پښــتني فرهنــگ د غوړېدو او ټوکېدو یوه ستره حوزه ده. په هند کــې د پښــتو ادبیــاتو د ټوکېدو څرگندې او رسمي نښې نښاني په (ملتان) کې د (لودي کورنۍ) له واکمنۍ څخه پیلېږي، ددې کورنۍ لومړی واکمن (شیخ حمید لودي) و چې په پښتنو کې خورا مشهور و، ان احمدشاه بابا یې هم په خپل یو شعر کې یادونه کړې ده:

د فرید او د حــمید دور بــه بیا شي
کـــه زه وکاندم په هر لوري تاختونه

د پټې خزانې له قوله د لودي کورنۍ د دوو غړو: (شیخ رضي لودي) او (نصر لودي) ترمنځ یوه شعري مناظره یا مناقشه شوې او دا په هند کې تقریباً د پښتو ادبیاتو لومړنۍ لاسته راغلې بېلگې دي. د پټې خزانې د لیک له مخې شیخ رضي لودي، د شیخ حمید لودي وراره و. کله چــې حمید په ملتان کې پاچا شو، نو دی یې پښتونخوا ته د اسلام د تبلیــغ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لپاره واستاوه او ده دوه کاله د کسي غره په لمنو کې تېر کــړل او ډېــر خلک يې مسلمانان کړل. پټه خزانه وايي: ((د شيخ رضي تربور (نصــر) چې د شيخ حميد زوی و، له قرامطه وو سره کېناست او د اســماعيليه فرقې عقايد يې زده کړل او کله چې تر شيخ حميد وروســته دی پاچــا شو، نو يې د قرمطيت ترويج غوره کړ او قرامطه يې راوستل.**

**شيخ رضي چې سوچه مسلمان و، نو د خپل تربور دا وضعه پرې ښه ونه لګېده، هغه ته يې يو پاړکی ووايه او ور وايــې ســتاوه.)) دا پــاړکی دادی:**

د الحــاد پــه لـور دي ترپلــل ګـــروه دي زمـــوږ وکـــوراوه
مـــوږ روڼلـــی پـــه زيارنـــه تـــا پـــه تـــور وتـــوراوه
لرغـــون ولـــې ګروهېـــدلې چـــــې دي ګوښـــــې اړاوه
هغـه ګـروه دي اوس اړه کـړ چــــې پلــــرو دي رڼــــاوه
لودي ستا په نامـه سپک سو کـــه هـــر څـــو مـــو درنـــاوه
نصـره نـه مـو يـې لـه کهالـه لـــودي نـــه يـــې پـــه کـــاوه
زموږ رغـا ده ستا لـه ګروهـه د ورځلـــوی پـــه رغـــاوه.

**کله چې (نصر لودي) ته د خپل تربره (شــيخ رضــي لــودي) پــاړکی ورسېد، نو سملاسي يې د هغه تورونه رد کړل او په ځواب کې يې ورته دا پاړکی ووايه:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د الحـاد پـه تـور تـورن سـوم — زه لرغـون خـو ملحـد نـه یـم
زمـا دښـنه هسـې تـور راکـړ — کـه ملحـد یـم د دښـنه یـم
لـه اسـلامه نـه ترپلمـه — تورانـو ځخـه پـه ترپلـه یـم
ګـروه مـې هغـه لرغـونی دی — اوس هـم کـروړ پـه لرغونـه یـم
د اسـلام پـر هسـک بـه ځلـم — و تورانـو تـه تیـاره یـم
د لـودي زوی سـنتي یـم — د حمیـد لـه لـوړ کهالـه یـم
تـوراني دښـن چـې وایـي — زه لـه ګروهـه پـه اړه یـم
دا یـې تـور تاسـې دروهـوي — زه مـومن ستاسـې پـه تلـه یـم
د دښـنو وینـاوې مغـږه — زه لـودي یمـه څـو زه یـم.

**د لودي کورنۍ په واکمنۍ کې د پښتو ادبیاتو دود همداسې پالل شوی. په تاریخونو کې راغلي چې د لودي کورنۍ د دربار ژبه هم پښتو وه. د سلطان بهلول لودي په باب په (تاریخ داودي) کې راغلي: ((گویند روزی که بر تخت نشست در ان هفته برای نماز حاضر شد. ملا قادن که یکی از اکابر ان شهر بود، برای خطبه خواندن بر منبر بر امد، خطبه به اتمام رسانید وقت فرود امدن گفت: سبحان الله عجب قومی پیدا شدند نمی دانم پیرو دجال در ایشان باشد زبان ایشان اینست که مادر را مور می گویند و برادر را ورور می گویند ودیه را شور می گویند و سیاه را تور می گویند و دیگر را نور می گویند. در این گفتن سلطان بهلول رومال را بر لب گرفته تبسم کنان گفت: ملا قادن بس کن که ما هم بنده گان خدایم.))**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د همدې سلطان بهلول لودي د واکمنۍ پرمهال پښتو ژبه او ادبیات وغوړېدل، خپله سلطان هم د شاعرۍ ښه ذوق درلود. پټه خزانه وایي: (( په هندوستان کې د برسات په موسم خلیل خان نیازي هســې ربــاعي انشا کړه او د سلطان بهلول پادشاه په مخه کې یې وویله)):

خړې اوربځــــې ژاړي لــه پــاسه
کویـــله رېغ کــا بېلتون له لاسه
یه هغه لوني ګوهر په خول ستا
دا مرحبا کا ستا زمـــورږ مواسه

د پټې خزانې مولف محمد هوتک بیا لیکي: ((سلطان بهلول رحمة الله علیه چې دا رباعي ونغوږه، په څــواب کــې یــې دا ربــاعي سمدســتي وویله)):

ملک به زرغون کړم په ورکړه راسه
ګــوره اوربــځې د داد لـــه پــاســـه
خول مې د عـــــدل پــه درو روڼ دی
جــهان بـــه زیــب مومي زما له لاسه

هندي چاپېریال نه یوازې د پښتو د لیکني ادب لپاره یو ښه بستر و، بلکې زیات شمېر پښتو شفاهي ادبیات هم په هنــدي چاپېریــال کــې راټوکېدلي او یا د هندي چاپېریال یادونه او انځورنه په کــې شــوې ده. پښتو لنډۍ په دې برخه کې تر شمېر وتي دي:

په هـــندوستان دې څلی جوړ شه
د بې ننګۍ اواز دې را مه شه مینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هندوستـــان سفــر دې زار شـــه!
زما په تور اوربل کې سپین ولګېدنه

ولسي شاعر (محمد نور) وايي:
زما لالی دې ژوندی وینه
که دی په هر وطن کې وینه
که مسافر د تور دکن وي رابه شینه

د پښتو د افسانه يي کیسو، لکه مومن خان او شیرینو، موسی خان او ګلمکۍ چاپېریال هم هندي دی. په هندوستان کې د پښتنو د سیاسي واکمنۍ تر پایته رسېدو وروسته هم یو زیات شمېر وتلو پښتنو شاعرانو په هندي چاپېریال کې خپل ادب غوړولی دی.

د خوشال بابا د شاعرۍ او لیکوالۍ یوه د پام وړ برخه په همدې هندي ماحول کې راټوکېدلې ده. د بند ډېره موده يې هــم د هنــد د مغــولي واکمنو په زندانونو کې تېره کړې ده:

| | |
|---|---|
| هند پـه ما باندې دوزخ شه | کـه په نور عالم جنـــت دی |
| بندیـوان ورســـره راغـــلم | دا یو څو میاشتی فرصـت دی |
| د بل حکم پرې زندان شـي | چـې پـه خپل حکم عادت دی. |

خوشال بیا د (رنتبور) تر زندان وروسته د مبارزې یو بل ګرم پړاو ته داخل شو:

| | |
|---|---|
| پس له بنده دی دا عزم | د خوشال د خاطر جزم |
| یا نـیولی مخ مـــکې ته | یـــا مغـولـو ســره رزم |

خوشال خپل دوه مهم اثار (دستار نامه) او (فراقنامه) په هنــد کـــې لیکلي او هم يې ګڼ شمېر شعرونه ویلي دي. تــر خوشـــال وروســـته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشال فرهنګیال زامن او د کورنۍ نورو غړو خپل پاموړ شمېر اثار پـه هندي چاپېریال کې لیکلي دي. د اشــرف خــان هجــري د ســوزناکې شاعرۍ ډېره برخه د هند په مغولي زندانونو کــې بشــپړه شــوې ده. د روښان پیر د پلویانو؛ ملا ارزاني خویشکي او نورو فرهنګي بریاوې هم په هندي چاپېریال کې ترسره شوي، د اخند دروېزه ننګرهاري فرهنګــي پلویان هم یو زیات شمېر په همدې چاپېریال پورې اړه لري. شیخ عیسی مشواني، شیخ علي سرور لودي، شیخ بوستان بړیڅ، عبدالله قصــوري، عبدالمحمد ترین، محمدخان ځمند، عبدالغني کاسي، عثمان، مشتاق احمد، د رحمان بابا د سبک پلویان؛ عبدالرسول، ملا لتاړ شلماني، تنها او نور، رحمت داوي، قاسم علي خان اپریدي، منصور، ګلمیر، ظاهرالدین او داسې نور په لسګونو لیکوال او شاعران په هنــدي چاپېریــال کــې راټوکېدلي او پښتو ژبې او ادبیاتو ته یې ډېر څه ورکړي دي. د احمد شاه شاهي شاهنامې ناظم (حافظ ګل محمد) هم په هندي چاپېریال پــورې اړه لري. د پښتو یو شمېر نور نوموتي شاعران د هندي سبک تر اغېــز لاندې راغلي دي؛ کاظم خان شیدا، حمید مومند او نور یې ښې بېلګې دي. د حمید مومند د شاعرۍ ځینې برخې هم د هندي چاپېریال زېږنده دي:

د اشنا له خــط و خـــال دا معلومېږي

چې حمید به مسافر د هندوستان شي

(ال انډیا راډیو ډیلي) هم د پښتو ژبې او ادبیاتو په غوړونه کې خپله برخه اخیستې، ددې راډیو هغه هندي کارکوونکي چې پښتو ژبه یې زده وه، پښتو ته پاموړ کار کړی، د (جواهر لال نهرو پوهنتون پښتو څانګې) هم په دې بهیر کې خپله ونډه اخیستې ده. لنډه دا چې هند او هندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چاپېریال د پښتو ادبیاتو په پنځونه او غوړونه کې مهم رول لرلی او هندوستان لا اوس هم د پښتو ادبیاتو یوه فرهنګي حوزه ګڼل کېږي، د زیاتو معلوماتو لپاره کولای شئ ((په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاوونه)) مهم اثر ولولئ.**

**هند داسې هوا، فضا او چاپېریال لري، چې که لیکوال سړی په کې څه موده تېره کړي، نو شعرونه او داستانونه پرې را اوري. زه چې کله هند ته لاړم، څو ورځې مې لا تېرې کړې نه وې چې شعر ته مې زړه وتوخنېده، د بېلابېلو لیکنو عنوانونه او موضوعګانې هم راباندې را وورېدل، که څه هم ما دلته نه غوښتل پر شعرونو او لیکنو مصروف شم، په همدې خاطر راباندې ډېرې موضوعګانې او شعرونه راغلل او همداسې مې تېر کړل، خو دا یو دوه شعرونه او یوه لیکنه داسې وو چې ځان یې راباندې په زوره تحمیل کړ، لومړی شعر (خطا) نومېده چې دا دی دلته یې وړاندې کوم:**

## خطا

**خندا سړي نه کېږي او ژړا سړي نه کېږي**
**د ژوند رنګارنګیو کې خو دا سړي نه کېږي**

**چې حورې وي، غلمان وي او ته ځانته په کې ګرځې**
**په داسې نندارو کې خو خطا سړي نه کېږي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مــلا ویــل ای ورونــو ! دمــلا شــیطان مــلا وي
دا غټـــې ګناهګـــانې چــې مــلا ســړي نـــه کېـــږي

که هر څومره توبه کړي خو توبــه یــې نــه قبلېـــږي
نو ځکــه مسلســلې تــوبې بیــا ســړي نــه کېـــږي

ترهغه به ګناه وي څو چې ساه وي پــه وجــود کـــې
ګناه کله بې روحه بــې لــه ســاه ســړي نــه کېـــږي

ملنګ چېرته په عمر کې کوم کلی دی وران کــړی ؟
دا لویې ورانـــۍ تــولې لــه پاچــا ســړي نــه کېـــږي

بس غر دی او ستا سر دی ، زمانه ده اوستا لاس دی
همېش دا سر زوري (یونه) لــه تاســړي نــه کېـــږي.

(۲۰۱۰م) کال د فبرورۍ (۱۶) مه
نوی ډیلی هندوستان

لیکنه ((چرګان او پښتانه)) نومېده، چې یو ځانګړي دردناک واقعیت ورته مجبور کړم، دا لیکنه پر همغه وخت په بېلابېلو پښتو وېبپاڼو کـــې خپره شوه، نو ځکه یې دلته راوړل ضروري نه بولم. بل شعر (مخــالف) نومېږي، چې دا هم د ځینو ځانګړو واقعیتونو انځورنه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مخالف

اقــرار کــې مخــالف دی پــه انکــار کــې مخــالف
عجیبه شان جانان دی پــه هــر کــار کــې مخــالف

چې ناست مې پر اوږو وي، ښه خوشاله وي قانع وي
چې کوز یې لــه اوږو کــړم نیمــه لار کــې مخــالف

منمــه هــر ســړی کــوي پاچــا پســې خبــرې
خو ما غوندې به څوک وي په دربــار کــې مخــالف

بېګـــاه یـــې د مـــلا خبـــرې ټـــولې ومنلـــې
چې پاڅېده لــه خوبــه، شــو ســهار کــې مخــالف

دې ټــولې زمــانې مــې پــر نــبض ووهلــې ګــوتې
یو تار یــم د درې تــارو پــه ســه تــار کــې مخــالف

زمــا او ســـتا د دیـــن نظـــر اوبـــه دي او اورونـــه
تــه ژونــد کــې مخــالف، زه انتحــار کــې مخــالف

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغــه ســړی ســړیو کــې حســاب نــه دی ملګــرو!
چې نه لري پــه کلــي نــه پــه ښــار کــې مخــالف.

نوی ډیلی، هندوستان

د (۲۰۱۰م)کال د فبرورۍ (۱۶)مه

د نورو ګڼو لیکنو موضوعګانې او شعرونه هم راباندې راغلل خو پر دې بریالی نه شوم چې د لیک جامه ور واغوندم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مېلمستیاوې

د دوه میاشتني کورس په بهیر کې درې څلور ځله د (اپټېک) کورس او د کورس د ځینو نورو محصلینو له خوا مېلمستیاوې وشوې. طبعاً په دې ډول مېلمستیاوو کې ډېره ازادي وي. لومړیو دوو مېلمستیاوو ته زه ځکه لاړ نه شوم، چې د ډېرې ګرمې او توندې موسیقۍ د اورېدلو زغــم مې نه درلود. اسدساحل او اجمل ته مې وویل: ((ځــئ تاســې ځوانــان یاست دواړه لاړشئ!)) مادوی ته وویل: ((هغوی بیا داسې فکر ونه کړي چې افغانان زموږ په پروګرامونو کې برخه نه اخلي، خو هلته چې مو څه ولیدل او واورېدل، ومو څښل او یا مو وخوړل او یا مو څه وکړل، د هغو پوښتنه هم درڅخه نه کوم او تاسې یې هم ماته کیسه مه کوئ.)) اجمل او ساحل هغو پروګرامونو ته لاړل، پروګرامونه یې خوښ شوي وو، خو دا چې ګډا (نڅا) په کې جبري وه، دې نو لږ څه ځورولي وو. ګډا چې د چا زده وي، هغه چې کله موسیقي واوري، بیا ورته د ټینګې نه وي او چــې زده یې نه وي او یا د شرم جذبه پرې غالبه وي، هغه ته نو بیا ډېره سختته وي، ماته ګډا تر هر څه سخت کار ښکاري او که ووایم چې په ژوند کــې راته تر ټولو سخت کار همدا ښکاري، نو مبالغه به مې نه وي کــړې، لــه کوچنیتوبه بیا تر دې دمه زما په یاد نه دي چې ما به د چــا پــه واده او ښادۍ کې نڅا کړې وي، اکثرو ودونو ته یوازې په دې خاطر نــه تللــم؛ هسې نه چې هلته ګډا جبري شي، دا چې ګډا عیب دی که هنر؟ پر دې زه بحث نه کوم، خو کوم شی چې ماته څرګند دی لږ تر لــږه زمــوږ پــه کلیوالي ټولنه کې د شرم یوه برخه ګڼل کېږي. اجمل او ساحل هم لــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دواړو محفلونو خوند اخیستی و، خو کله چې د نڅا مسله رامنځته شوې وه، دوی په ملي اتڼ ځان تېر کړی و او ورته یې ویلي وو چې دا زموږ ملي نڅا ده، هغوی هم دا ملي اتڼ ډېر خوښ کړی و.

بل محفل زموږ ټولګیوالو (امبروز) چې له (کامیرون) او (رفعت) چې له فلسطین څخه وو، جوړ کړی و او ماته یې په ډېر ټینګار وویل، خو زه هغه محفل ته لاړ نه شوم، اجمل او ساحل دواړو ته یې ګیله هم کړې وه چې (پروفیسور یون) زموږ په پروګرامونو کې ګډون نه کوي. وروستی ځل بیا هم همدې ښاغلو (امبروز) او (رفعت) بل پروګرام جوړ کړ، دوه ورځې دمخه یې پر تخته ولیکل (Good by, why not party). له ولې نه (Why not) اصطلاح سره اوس موږ ټول اشنا وو، زموږ په ټولګي کې د فلسطین یو محصل و (رفعت) نومېده، د ښه شان و شوکت خاوند و، په فلسطین کې یې یو ساختماني شرکت هم درلود، د پیسو یې هم کمی نه و، په عمر هم پوخ و، خو هر څوک چې د محصلۍ پر څوکۍ کېني همغه د محصلۍ خصوصیت اخلي. د رفعت انګلیسي په پیل کې ډېره ښه نه وه، خو وروسته وروسته د ګوزارې شوه، ښه شوه، نو کله چې به په ټولګي کې د استادې یا محصل له خوا کومه خبره مطرح شوه، نو ده به په (Why not) (ولې نه) پوښتنه پیل کړه، هلته چې هېڅ (ولې نه) نه راتله، هم ده به کاروله، بالاخره دی په ټولګي کې په (Why not) مشهور شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library






د (Why not) پارټۍ یو انځور

ښاغلي (امبروز) ماته په ټولګي کې بیا بلنه راکړه او ویل یې چې دا ځل به حتمي راځې، په ټینګار سره یې وویل، لږه شېبه وروسته بیا راغـــی، ماته یې وویل: ((داځل راځې که نه؟)) ما ورته وویل (Why not?) هغه په خندا شو، نو ځکه د ماښام تر ډوډۍ وروســـته د ( Good by/ why not party) ته لاړو، دا پارټي په (B51) مېلمستون کې جوړه شــوې وه. کلــه چې د مېلمستون لاندې پوړ ته کښته شو، نو د سرو او شنو رڼاګانو باران وو، د سګرټو او الکولو دودونه او بویونه وو.

کله چې پر ما د ښاغلي (امبروز) او ښاغلي (رفعت) سترګې ولګېدې، رامنده یې کړه: ((های پروفیسور یون ښه راغلې!)) ښاغلی (امبروز) زما څنـــګ تـــه راغـــی، ډېـــره مننـــه یـــې وکـــړه، مـــا ویـــل

(c) ketabton.com: The Digital Library






ما خپله وعده پوره کړه، ژر ژر یې جوس، پیپسي او الکولي څښاک راوړل، ما لږ جوس واخیستل او هلته لرې پر یوې څوکۍ کېناستم، موسیقۍ نو ښه په درز کې روانه ده، څوک جګېږي او څوک ټیټېږي، د ښځو او نرو توپیر نه ښکاري، پر دې وخت یو بل فلسطیني (ابراهیم) د الکولي څښاک څو بوتله زما مخې ته کېښودل او ژر یې د خپلې غاړې کمرې ته لاس کړ، څو چې یې عکس اخیسته، ما ځان لرې کړ، له خندا شین شو، ماته یې وویل: ((پروفیسور یون! ما ویل زه به دې یو عکس واخلم، خو ونه شو، ډېر بیدار یې.)) څو شېبې نور کېناستم، نور مې طاقت ونه شو، ساحل ته مې وویل: ((ته به (امبروز) ته زما له خوا معذرت وړاندې کړې، زه ځم ورته ووایه چې خاص ستا په خاطر راغلم.)) زه یوازې له مېلمستونه راووتم او د خپل مېلمستون پر لوري رهي شوم، دا چې د (Why not) پارټي به څومره دوام کړی وي او څه به په کې تېر شوي وي، نور نو پرې خبر نه شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ددې مېلمستیاوو ترڅنګ موږ ته په هند کې د بېلابېلــو افغانــانو او هندیانو له خوا د انفرادي مېلمستیا بلنه راکړل شوه، خو موږ د ورتــګ وخت پیدا نه کړ. ښاغلی (رام پرکاش) هم د همدې مېلمه پالو په جمله کې و، چې هر وخت یې ټینګار کاوه.**

**ښاغلی (پرکاش) هندو دی، اصلاً د پښتونخوا په بونیر کې زېږېدلی، دومره خوږه پښتو وایي چې هېڅ فکر نه کوې پښتو به د هغه مورنۍ ژبه نه وي. ښاغلی رام پرکاش کلونه کلونه کېږي چې په ال انډیا راډیو ډیلي پښتو څانګه کې کار کوي، خو ددې ترڅنګ په کورټ یا محکمه کــې د وکیل دنده هم ترسره کوي. د رام پرکاش له بلنې سره سره موږ هغه کره لاړ نه شو، نو ځکه خو یې یوه ورځ یوه قوطۍ قیمتي متیان هلته راوړل، ما پر ټولو افغانانو ووېشل، ډېر خوندور وو. رام پرکاش تېر کال په کابــل کې په پښتو نړیوال کنفرانس کې هم ګډون کړی و.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بري ليکونه

د فراغت ورځ د سړي لپاره د ډېرې خوشالۍ ورځ وي، کــه هغــه لــه ښوونځي وي که له پوهنتونه، که له کورسه، که له عسکرۍ او يا هم له کوم بل تحصيلي او تعليمي مرکزه. موږه دې ورځې ته شېبې شمېرلې،




په پای کې همدا ورځ راورسېده، په کورس کې له پلان سره سم اعــلان وشو، چې د فبرورۍ (۲۶) نېټه ستاسو د بري ليکونو ورځ ده، که رسمي لباس (دريشي) کې راشئ، ښه بــه شــي. د فراغــت جشــن پــه (B51 مېلمستون کې نيول شوی دی. په دې مېلمستون کې تيار د (اپټېــک کورس څو تنه زده کوونکي چې نن يې د فراغت ورځ وه، هم دېــره وو. سهار (۹) بجې هلته لاړو، د انګليسي ژبې او ګرافيــک کــورس د دواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نړدې پنځوس تنه فارغان ورته راغلي وو، چا دريشي کړې وه، چــا هــم خپل ملي لباسونه اغوستي وو، تېر دوه مياشتني درسي بهيــر اکثــره ستړي کړي وو، ټول دې ورځې ته خوشاله وو، خو ځينې بيا په دې خپه وو چې د دوو مياشتو په بهير کې له يو بل ســره ډېــر اشــنا شــوي وو،**




**د بېلتون دا ننني ورځ ورته د زغملو نه وه. د کورس مسولين: (کارټېک)، مېرمن (سونيا)، د انگليسي ژبې استاده (مېرمن سوگتا چکروتي) او د گرافيک کورس استاده (مېرمن ريمې کرن) ټول راغلي وو، ټولو پاک او ښکلي کالي اغوستي وو، د ټولو خوله له خندا ډکه وه،د غونډې د مشر مېلمه په توگه يې له (زمبابوې) هېواد څخه يو تن ډيپلومات (ناندوس) رابللی و. د مفاهمې او کمونيکشن په برخه کې يې ډېر معلومات درلودل، د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې يې د ملگرو ملتونو په ادارو کې کار کړی، تور پوټکی، لوړ قدی او خوش ټيپه ســړی و، ډېــره فصــيحه او بليغــه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**انګرېزي يې ويله، سړی يې له خبرو نه ستړی کېده، په نړۍ کې يې د کلتوري امتزاج په باب لنډې خبرې وکړې، بيا يې له يو نيم فارغ څخه ځينې پوښتنې هم وکړې، تر دې شېبې د فراغت غونډه په پرتمين ډول روانه وه. د نړدې (۳۲) هېوادونو فارغانو په کې ګډون درلود چې دغه لاندې هېوادونه په کې شامل وو: منګوليا، موزمبيق، نيپال، فلسطين، روسيه، سوډان، ترکمنستان، ويتنام، زمبيا، افغانستان، کاميرون،**




**کمبوډيا، ارمنستان، بورکينافاسو، چيلي، کيوبا، لاوس، ليتوانيا، مدغاسکر، مالديف، ميانمار، زمبابوې، ايتوپيا، سريلانکا، بنګلادېش، تاجکستان، ګانا، اندونيزيا، سربيا، کولمبيا، ناميبيا او ازبکستان.**

**تر خبرو اترو وروسته د بري ليکونو وېش پيل شو، څرنګه چې افغانستان په (A) پيلېږي، نو لومړی نوبت زموږ شو، موږ په خوښۍ سره بري ليکونه واخيستل، بيا د هر هېواد په استازۍ يو تن ته يو څو دقيقې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وخت ورکول کېده، چې لنډې خبرې وکړي، زموږ پـه اسـتازۍ اجمـل فدايي لنډې او خوږې خبرې وکړې او همداسې د هر هېواد په استازۍ يو تن. د خبرو مرکزي ټکي دا وو چې هر يو د کـورس لـه اداري څخـه خوښي څرګندوله او مننه يې کوله، اکثرو هندوستان خپل دويم کـور باله او دلته يې د خپلو دوو مياشتنيو زده کړو په بهير کې د خوږو خاطرو يادونه کوله. د فارغانو د اکثرو له څېرو څخه دا څرګندېدله چې له هند څخه خپلو هېوادونو ته رښتيا هم ډېر خوشاله روان دي، د هر يـو پـه تندي کې ماته د خوشالۍ څرک څکه ولګېده، چې ټولو دلته ناسياسي**




**زده کړې وکړې. دا زده کړې د پخواني شوروي اتحاد او يا هم د امريکـا متحده ايالتونو او يا ځينو نورو هېوادونو په شان نه وې، چې د زده کړې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترڅنګ سیاسي غرضونه او مرضونه هم ورســره مــل وي. دا یــوازې او یوازې علمي زده کړې وې نور څه نه وو.

سره له دې چې د هندوستان حکومت پــر دې هــر محصــل یــاد وړ لګښت کړی و، یانې په اوسط ډول نږدې (درې لکه) هندي کلدارې، خو کومه خوږه خاطره چې دې محصلینو له هندوستانه خپل هېواد ته یوړه، له مادي پلوه د هغې قدر او مقدار څوک نه شي ټاکلی.

تر بري لیکونو وروسته یوه غرمنۍ هم په پام کې نیول شوې وه، تــر هغه وروسته یو بل څخه د خدای پامانۍ اخیستل پیل شول، د خــدای پامانۍ دا شېبې تر ټولو سختې او ترخې وې، زموږ د یوې ټولګیوالې خو ان په سترګو کې اوښکې راغلې او ژبه یې په خوله کــې داســې بنــده رابنده شوه چې د خبرو توان یې نه درلود، په همدې سوزناک حالت کې مو له ( B51) مېلمستونه د خپل استوګنځي پر لوري حرکت وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په هند کې د پښتنو واده

استاد خالق رشید راسره یوه ورځ دمخه خبره کــړې وه: ((د جمعــې ماښام د پښتنو واده دی چې چاسره وعده ونه کړې!)) ما ورتــه وویــل: ((سمه ده.)) د جمعې ورځ ثنــاالله خــان لالا هــم راتــه زنــګ وواهــه




چې واده ته ځو،زاهد شاه انګار صیب هم له کابله راغلی و. استاد خالق رشید، ثناالله خان، انګارصیب، زه (یون) اسد الله ساحل، اجمــل، ټــول زموږ په اتاق کې ښاغلي (خلیل منګل) ته، چې په ډیلي کې یو روښنفکر اوملتپال افغان دی، منتظر وو، هغه څه کم نهه بجې راغی، دوه موټره او څه نور ملګري هم ورسره وو. ټول په دوو ګاډو کې کېناستو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۹) بجې مو له هوټله د واده محل پر لوري حرکت وکړ، نهه نیمې بجې هلته ورسېدو، واده د عمومي سړک پر سر په داسې یو هوټل کې جـوړ شــوی و چــې د کابــل د حضــوري چمــن تــر نیمــایي زیــات شــنه




چمنونه یې لرل، ټوله سیمه په داسې ډول ډول ګروپونو پوښل شوې وه چې د یوه عصري واده له شان سره مناسب و، لکه د هند راجاګانو او یا هم د عربو د شیخانو په شان، زموږ جنګسالاران لا تر اوسه دې سلیقې او دې حد ته نه دي رسېدلي. هوا او فضا ډېره ښه وه، پښتو سندرو او د ډولونو اواز ان د عمومي سړک څنډې هم ښــورولې، هرکلــي کوونکــو پښتنو موږ ته تر حده زیات تود هرکلی ووایه، په شنه چمن کې مېزونه او څوکۍ ایښې وو، د چمن یوه برخه ښځو او بله نرو ته ځانګړې شــوې وه، خو په دواړو برخو کې د دواړو د شتوالي او ګرځېدو ممانعت نــه و، ځینو ځایو کې خلک ګډ هم ناست وو، د هوټل خدمتګارانو موږ ته ژر ژر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ګرم کبابونه راوړل، خو اصلي ډوډۍ لا تراوسه پیل شوې نه ده، واده والا به دم ګړۍ زمونږ مېز ته راتلل او پوښتنه به یې کوله. استاد خالق رشید یــــوه کوربــــه تــــه وویــــل: ((مــــونږ خپلــــه راغلــــي یــــو، چــــا**




**راغوښتي نه یو)) هغه ورته وویل: ((خوند خو یې په همدې کې دی؛ ډېر نر کار مو کړی دی)) د پښتو سندرو په منځ منځ کې به یوه نیمه هندي سندره هم راغبرګه شوه. دې واده کې د خدای په فضل دومره پښــتانه وو چې زړه دې پرې راټولېده، د پېغلو او ځوانانو شمېر هم خورا زیات و، خو د ټولو پښتو زده وه، واده د پکتیاوالو پښتنو و، انګارصیب هم په کې خپل کلیوال پیداکړل، د ډول اواز ټول چمن سر په ســر اخیســتی و، د ډوډۍ دومره پرېماني وه چې هر چا څومره خوړلای شوه قید او حد پــه کې معلوم نه و، د هوایي پیشنګونو اورلوبه هم په کې ښه په درز روانــه وه، اتنونه هم په درز کې روان وو، ښځو او نرو دواړو په کې ونډه درلوده:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(هلک نری چنار دی جنۍ د ګلو ونه، په سر یې زرین شال دی په غــاړه امېلونه)، څو شېبې وروسته د سورني غږ هم ورپسې راپورته شو، چــې ډول هم ورسره مل و او ښـــځینه نڅـا هـــم ورســـره بدرګــه روانــه وه،**




**څو ځایه د ښځو او نرو نڅا روانه وه، د ستېج پر سر او هم نورو ځــایونو کې تر مکس (ګډې) نڅا وروسته مست اتڼ شروع کېــده، د اتــڼ یــوه ممیزه دلته دا وه چې زړې ښځې، پېغلې او ماشومان ټول په کې ولاړ وو، د ملا د تکفیر د ټاپې رنګ په کې نه ښکارېده، زموږ د (محبــوبي) هــم طاقت ونه شو د اتڼ په لیکو وردننه شو. د اتڼ په لیکو کې خصوصاً پــه ښځینه وو کې اکثره افغان هندواني او سکانې ښځې لیدل کېدې چې د افغاني هویت روح یې تازه کاوه، څومره وفادار دي هغه افغان هندوان او سکان خپل افغانستان ته، چې په افغانستان کې لا تراوسه هــم خپلــو ډېرو حقوقو ته نه دي رسېدلي خو زړونه یې د افغانستان له مینې ډک**

(c) ketabton.com: The Digital Library






دي، خو لعنت پر هغو پښتنو او ناپښتنو ستمیانو چې د افغانستان شیره




یې تموله وزبېښله، خو بیا یې هم له افغانستان سره مینه پیدا نه شوه او د ښمنۍ کچه یې راټیټه نه شوه. د سټېج پر سر د ښځو د اتـڼ دومـره

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوږده لیکه راتاوه شوه چې ما تر اوسه په افغانستان کې دومره لوی ښځینه اتڼ نه و لیدلی.**

**پنځه لس کم یوولس بجې مې بیا یوځل زړه کې تېر شول او یوه پوښتنه بیا په زړه کې وګرځېده چې دا واده د پکتیاوالو پښتنو دی که د**




**خوستیو افغان هندوانو؟ استاد خالق رشید راته وویل: ((دا د خوست د هغو هندوانو واده دی چې دلته د هند په فرید اباد کې مېشته دي. (فرید اباد) د شېر شاه سوري نامه پورې تړلې سیمه ده، افغان هندوانو دلته یوه لویه ټولنه جوړه کړې ده. عجیبه خبره داده چې د دوی لومړۍ ژبه پښتو او دویمه یې هندي ده)) دا وخت نو بیا دا پښتانه هندوان تر ذاتي پښتنو هم پر ما ګران شول، له (۵) کلن ماشوم څخه نیولې تر (۷۰) کلن سړي او ښځې پورې د ټولو اتڼ زده و، دلته اتڼ رښتیا د ملي اتڼ په مانا و.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو دقیقې وروسته په پښتو ژبه د ملي اتڼ لپاره انانس وړاندې شـو، انانسر د خوست هندو پښتون و. وروسته په کابـل کـې د صـرافانو د اتحادیې رئیس (امین جان خوستي) ته چې له کابلـه همـدې واده تـه راغلی و، بلنه ورکړل شوه، ده د افغان هندوانو ددې واده له امله خوښي څرګنده کړه او د ټولو پښتنو په استازۍ یې تبریکي ورکـړه، ده د واده والو نومونه واخیستل چې ټولو کې (سنګ سنګ) راتلل، خو پوره نومونه یې ما یادښت نه کړای شول. د امین جان خوستي تـر خبـرو وروسـته




انانسر وویل: ((اوس له افغانستان څخـه راغلـو مېلمنـو تـه هرکلـی وایو،افغانستان ته دعا کوو چې خدای(ج) دې په کې امـن او سـوکالي راولي.)) وروسته بیا د اتڼ سندره پیل شوه، امین جان خوستی یې پـه سر کې او محبوب ورپسې ودرېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تر اتڼ وروسته مو له ثناالله خان لالا څخه وپوښتل چې په کشمیر کې څومره پښتانه دي؟ ثناالله خان لالا وویل: ((هسې خو پښتانه ډېر دي، خو هغوی چې همدا اوس سوچه پښتو وايي له (۱۵–۲۰) زرو تنو پورې دي.**

**په اتڼ پسې بل اتڼ پیل شو، واړه او زاړه ټول په کې تاوېدل، اتڼ د ټولو داسې زده و لکه مذهبي ارکان چې د خلکو په یاد وي، که مذهبي مراسم ترې وباسو، نو زموږ تر ډېرو پښتنو ددې هندوانو پښتونولي څو ځله زیاته وه، وروسته راته امین جان خوستي وویل چې (۴۵۰) کورنۍ خوستي هندوان دلته اوسېږي.**

**لږه شېبه وروسته د خوست یو هندو چې کورنۍ یې په هند کې**



استاد خالق رشید، ثناالله خان ، یون، انګار ، یوسفزی، منګل، ساحل، اجمل او محبوب

**ده زما څنګ ته راغی، راته یې وویل: ((یون صیب مرکې دې په ټلویزیون کې اورم من من غوښه اخلم، ډېر زیات خوشالېږم، زموږ د ټولو افغانانو افتخار یې)) پر دې وخت بیا ما فکر وکړ چې پښتون دی، خو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګار صيب راوپېژنده ويې ويل: ((دده نوم (بسنت) دی.)) زوی يې هم ورسره و، ماشوم و، پښتو يې ويله، بسنت وويل: ((له پنځه لسو کلونــو راهيسې مې ماشومان همدلته اوسي، په کور کې ورسره پښتو وايــو، د دوی ټولو پښتو زده ده.)) دې وخت کې امين جان خوستی هم راغــی، ويې ويل: ((يون صيب زموږ افتخار دی.)) انګار صيب ورته وويل: ((څوک چې پر يون صيب افتخار نه کوي)) امين جان خوستي وويل: ((هغه به له پښتو سره جوړ نه وي.))

کوم هندوان چې هلته ولاړ وو، هغوی زما دومره توصيف وکړ چې زه ځان سره وشرمېدم، هلته راته دا پته ولګېده، چې که څوک په صداقت سره ډېر کم کار هم وکړي، د خلکو په زړه کې خپل ځای نيولای شــي. هېڅوک په زوره پر خلکو ځان نه شي منلای او هېڅوک په زوره د خلکو له زړونو څخه څوک نه شي ايستلای. پنځه لس کم دولس بجې وې چې د واده له چمنه راووتو، خو پر دې ټول وخت هېڅ پوه نــه شــو، لکــه د سترګو په رپ کې هسې تېر شو.

واده په فريد اباد کې د (خالصه ګارډن په نامه) و. (خالصه) په خوست کې هغه کلی دی چې اکثره د خوستيو هندوانو کورونه په کــې وو، نــو ځکه يې د واده لپاره ددې هال نوم هم (خالصه هال) غوره کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په ډیلي کې وروستۍ ورځ

هر څومره چې د مساپرۍ شېبې لنډېدلې، هماغومره مو پــه خپــل وطن پسې زړه سولېده. د سفر لومړۍ اوونۍ چې تېره شوه، نو په ډیلي کې مو زړه تنګي پیل شوه، هسې خو هنــد، پاکســتان او ځینـــې نــور هېوادونه له کلتوري پلوه افغانستان سره دومره نږدې دي چې سړی په کې ځان ډېر پردی نه احساسوي، خو بیا هم، مذهبي، سیاسي، ژبنۍ او




قومي پولې کلتوري واټن زیاتوي او ذهني فاصله رامنځته کوي. مور به ویل: ((کله به وي چې بېرته د خپل هېواد غېږې ته ستانه شو.)) د هند د کلتور مثبت او منفي اړخونه، کلتوري واټــن، د عملــي او ســینمایي تصویرونو تضاد او نور مو ټول وارزول، له دې ټولو ذهني انځورونو ســره سره مو غوښتل په هند کې د خپل سفر دا وروستۍ ورځ ښه تېره کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې په هند کې د پښتنو هندوانو یا هندي پښتنو له واده څخــه د شپې (۱۲) نیمې بجې راروان شو، نو انګار صیب او نورو انډیوالانو ته مې وویل چې د شنبې ورځ زموږ وروستۍ او د رخصتۍ ورځ ده، ســهار بــه وختي لاړ شو، کور ته به سودا مودا هم وکړو او پاتې تاریخي ځایونه بــه هم وګورو، (پرانه کلا) او ځینې نور ځایونه پاتې دي، که موزیم مو وکوت هم ډېره به ښه شي. یو ملګري په کې وویل چې ژوبڼ یې هم د لیدو دی، ما ویل ژوبڼ خو ډېرو ځایونو کې دی، په ځینو ځایونو کې ترې دېوال تاو دی او په ځینو کې نه، خو حیوانات بیا په دواړو ځایونو کې شــته، پــه ځینو کې څلور پښیز دي او په ځینو کې دوه پښیز، په ځینو کې خبرې نه شي کولای، خو په ځینو کې د اپلاتون په خبره ناطق دي، خــو کــه موزیم مو وکتلای شو، ډېره به ښه وي، دوی ټولو راسره ومنله!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سروجني نګر بازار

د شنبې ورځ سهار مې محبوب او انګار صیب ته زنګونه ووهل ما ویل چې ځانونه تیار کړئ څو مهم ځایونه وګورو. هغوی وویل: ((مورې یو یو نیم ساعت کې دررسېږو.)) محبوب صیب له مورې لرې، خو انګارصیب راسره نږدې و. ساحل او اجمل سره مې چې مشوره وکړه، هغوی وویل: ((یو یو نیم ساعت کې به مورې ټک و پک سودا وکړو، بیا به تر غرمې وروسته دوی سره لاړ شو. دې وخت نه به هم ګټه پورته کړو، دوی ته به




بېرته احوال ورکړو چې تر غرمې وروسته راشي.)) ما ویل سمه ده، هغوی دواړو ته مې بېرته زنګ وواهه، هغوی هم وویل: ((سمه ده.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه(یون)، اجمل او ساحل درېواړه په (۲۰) دقیقو کې سروجني نګر بازار ته لاړو، دا یو لوی بازار دی چې ارزانه او قیمتي شیان دواړه په کې پیدا کېږي، خو که ساده سړی پرې پېښ شي، ډېر ارزانه شی هم پرې په لوړ قیمت پلورلای شي. د هر شي د لومړۍ او وروستۍ بیې ترمنځ تفـاوت پنځه ځله وي، مثال که دوی وویل چې دا شی په پنځه سوه دی، نو ته به ورته سل روپۍ وایې. که په ډېکو ډېکو تر (۱۵۰) پورته شوې نو سودا دې اخیستې ده، لنډه دا چې تر هغه دې نه پرېـږدي چــې ترڅـو یــې دربانديې خرڅه کړې نه وي. موږ پر لسو بجـو هلتــه ورســېدو، اکثــره دکانونه تړلي وو، خو دا لوی مارکېټ او بازار دی، سړی په کې په پلي ورو ورو تګ په نږدې یوه ساعت کې یوه حلقه یې مزل کولای شي، موږ هم یوه دوره بشپړه کړه، بېرته چې د پیل نقطې ته راتلو، نو اکثره دکانونــه بېرته شوي وو، یوولس بجې وې، په څو دکانونو کې مو د شیانو بېلابېلې بیې وکړې، یوه کې خو مو لس جوړې ښځینه لباسونه واخیستل، خــو هتیوال ته مو وویل چې یو ځل یې له پلاستیکونو راوکاږه چک یې کړه، هغه وویل: ((دا زموږ ډېر وخت ضایعه کوي، تاسې زموږ کارت واخلــئ، کور کې یې چک کړئ کوم چې داغدار و، بېرته یې راوړئ.)) موږ وویل: ((ته نو خپل کار په موږ کوې موږ به بیا دوه سوه روپۍ کرایه ورکوو او یا به له افغانستانه راځو او تاته به دوه درې جوړې داغداره کالي راوړو چې ته یې بیا بدل کړې او نور یې په عوض راکړې او بیا به همغه ورځ همــدا جنس کالي تیار ایښي وي؟.)) دوی خپلې جامې واخیستې او موږ خپلې پیسې بېرته ترې واخیستې. په دې مارکېټ کې د سړک د غــاړې یــا د دکان ترمخې او دکان دننه شیان، که جنســیت یــې یوشــان هــم وي، نرخونه یې ډېر توپیر لري، د هتۍ رنګارنګ ډیزاین، سره او شنه ګروپونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر نرخونو مستقیم تاثیر لري. ساده زړي او یو نرخي اروپایان یې که پــه هر څومره نرخ راضي کړل، نو پرځان نه پوهېږي. په اروپا کې د شــیانو نرخونه ثابت وي، یو زیات شمېر یې چې هندوستان ته راشــي، نــو پــه




نرخونو کې چنې نه وهي، ځکه چې هلته د چنې وهلو کلتور نه شته، بل په هند کې شیان تر اروپا څو ځله ارزانه دي، نو ځکــه خــو دوی تــه د هټیوالو لومړی نرخ هم رښتینی ښکاري، خو موږ افغانان چې له هندي کلتور سره ډېر روږدي شوي یو، لومړنی نرخ وروستی نرخ نه گڼو، څــو ځایه نور هم وگرځېدو، د یوه دکان ترمخه مو پر غوړېدلي چپرکټ همغه شان ښځینه جامې چې په مخکني دکان کې مو ورسره بیه غوڅه کړې وه، پیدا کړې، دولس جوړې مو تر هغه دکانه هم لږ څه ارزانه پیدا کړې، جوړه مې (۲۳۵) کلدارې ترې واخیسته، په داسې حال کې چې د دوی لیلام شوی نرخ (۲۵۰) کلدارې و، خو موږ سره یې ځکه جوړجاړی وکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دا د هټیوالو په اصطلاح د دوی (لومړی دسلاپ) و. اجمل او ساحل په دکان کې د ماشومانو لپاره د لوبو سامان واخیست، ما هم څه نــوره ټک و پک سودا وکړه، لویې لویې کڅوړې مو هم واخیستې او د هوټل پر لوري رهي شو. په هوټل کې مو لږ دمه وکړه، محبــوب صــیب او انګــار صیب هم راغلل، وخت د ماسپښین (۲) بجې دي، پنځه واړه له هوټلــه ووتو، رېکشا ته مو لاس ونیوه، دوه رېکشاوې پر یو وخت نه پیدا کېدې، په پای کې مجبور شو، په یوه رېکشا کې ټول کېنو، خو هغه وویل: ((پوره سل کلدارې به راکوئ!)) مورږ وویل: ((پرانه (زړې) کلا ته به مو بوځې.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خیرالمنازل مسجد

**کله چې له راني کیسټال هوټل څخه په رېکشا کې کېناستو نو تر نیم ساعت مزله وروسته رېکشاوان ټاکلي هدف ته ورسولو، ویې ویل: ((دغه ښي لاس ته (پرانه کلا) ده)) موږ یې د دوه طرفه سړک چپ لاس کې کوز کړو.**



د خیرالمنازل مسجد نقشه او نیټه لیک

**کله چې له رېکشا څخه کښته شو، نو په چپ لاس کې مو متصله یوه بله تاریخي ودانۍ مخې ته راغله، ما دوی ته وویل: ((تاسې راځئ اول همدا ودانۍ وګورو!)) د ودانۍ په عمومي دروازه کې اوسپنیزه پنجره یې دروازه له لرې بنده ښکارېده، خو د یو کسیز ورتګ ور یې ببرته و، ما**

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې وکتل، دوی ته مې وویل: ((دا خو بېرته دی راځئ چې ورشو کـه ممانعت نه وي ورداخل به شو.)) لر چې ورننوتو، نو پر ډېرلیک مـو سترګې ولګېدې چې ددې مسجد د لرغونتیا نېټه پرې لیکل شوې وه؛ د اکبر پاچا زمانه. پر (۱۵۱۶م) کال ددې مسجد ودانۍ جوړه شوې وه، دننه




ورننوتو، هېڅوک هم په کې نه ښکارېدل، یوازې په یوه کونج کې یـوه سپین ږیري سړي د مسجد دېوال ته ډډه لګولې وه، مسجد بـه د دوو جریبو ځمکې ساحه کې جوړ شوی و، خو دا ټوله برخه مسـجد نـه و، ګردچاپېره نورې دوه پوړیزه ودانۍ هم په کې وې چې اوس اکثره نړېدلې وې او سولېدلي دېوالونه یې ښکارېدل. د مسجد مخې ته پـه عمـومي انګړ کې یو دایروي حوض و، چې غالباً د اودسونو لپاره به ترې ګټه پورته کېده، خو اوس فعال نه ښکارېده، ترڅنګ یې یوه څاه هم وه چې که څه هم لرغونې به نه وه، خو لرغونې ښکارېدله، زاړه لوښي یې هم ترڅنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اینښي وو او د نیم متر په لوړوالي تر څمکې لوړه یوه سوپه یې پرې جوړه کړې وه، اوس هم دې څاه اوبه ورکولې. شاوخوا چې مو نور وکتل، ډېرې




او خاورې پرتې وې، د بیا رغونې د کارونو تصویر یې وړاندې کاوه، خو نن پرې کار روان نه و، کېدی شي نن د رخصتۍ او یا هم کوم بل علت له وجې کار بند شوی وي، شاوخوا مو عکسونه واخیستل، د مسجد ترمخه لوحه (۵۰۰) کلونو حدود ښیي، ناست سړي مورږ ته وویل: ((څلور بجې جمع کېږي که چېرې راتلئ نو بیا راشئ!)) مورږ وویل: ((اوس هم خلک دلته لمانځه ته راځي؟)) ده وویل: ((هو راځي.)) څو شېبې نور هم دلته وګرځېدو. بیا د (پرانه کلا) پر لورې وخوځېدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پرانه کلا

د ډيلي ښار په داخل کې یوه تاريخي ودانۍ هم (پرانه) کلا يا زړه کلا ده چې په ښه موسم کې ورته هره ورځ په سلګونو څه چې په زرګونو



یون، انګار، محبوب او اجمل پرانه کلا ته پر غځېدلي

لیدونکي او کتونکي ورځي. کله چې مو خیرالمنازل مسجد وکوت، نو تر هغه وروسته د (پرانه کلا) پر لوري وخوځېدو، دا کـلا لـه خیرالمنـازل مسجد څخه لږ لرې په یوه نسبتاً جګ ځای کې موقعيت لـري، زمـوږ ترمخه ډلې ډلې محصلين او زده کوونکي هم ور روان وو. د کلا شاوخوا لکه د نورو تاريخي کلاګانو په شان د یوې اوږدې ويالې دفاعي ليکه هم راتاوه وه، خو د عمومي دروازې کيڼ اړخ ته د سل مترو په واټن د اوبو يو شين ډنډ هم ښکارېده چې وړې تفريحي کښتۍ په کې ګرځېدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کله چې د کلا دخولي دروازې ته ورنږدې شو، نو اجمل فدايي تر نورو دمخه شو او د ټکېټونو له غرفې څخه يې دخولي ټکېټونه راواخيستل، د کلا د ددې دروازې مخې ته څو شــېبې تــم شــو، څــو عکســونه مــو**




**واخيستل، د دروازې په خوله کې يې زمونږ دخولي ټکېټونه وکتل، منځ کې يې نيم کړل، يوه برخه يې دوی واخيستله او بله يې مونږ ته راکــړه. کله چې کلا ته ورداخل شو، نو پر لويې او پراخې ځمکې مــو ســترگې ولگېدې چې رنگارنگ چمنونه، ډول ډول ودانۍ او نوې او زړې ونې پــه کې له ورايه ښکارېدل. په پرانه کلا کې ډېرې ابادۍ وې، يو لوی جومات هم په کې اباد و، خو عمومي دېوال ته ورځېرمه ودانۍ اکثره له منځــه تللې وې. د پرانه کلا اساس د شېرشاه سوري په واکمنۍ کې اېښــودل شوی او يو شمېر ودانۍ هم په کې نورې ابــادې شــوې، چــې د مغولــو واکمنۍ د مهال دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په همدې کلا کې د شېرشاه په واکمنۍ کې د (قلعه کهنه مسجد) په نامه یو لوی جامع جومات هم ودان شوی چې تراوسه پورې تــر زیــاتې کچې جوړ پاتې دی. ددې جومــات د ودانــۍ نېټــه (۱۵۴۱م) کــال دی.**





**مسجد په عمومي ډول له سرو ډبرو جوړ دی، دخولي دروازه، محراب او ځینې نورې برخې یې له سپینو مرمرو جوړې دي، په سپینو مرمــرو او سرو ډبرو کې د قران کریم مبارک ایتونه په ډېر ښکلي او ظریفانه ډول لیکل شوي، عجیبه ښکلا خو یې دا وه چې کله د قران کریم د یو آیت شریف د کلمې یوه برخه په یوه ډبره کې نه ده بشپړه شوې، نو بله ډبره چې بیا د هغې له پاسه راغلې او د ایت شریف د کلمــې امتــداد هلتــه تعقیب شوی، دومره په ظرافت سره کلمې اوبدل شوي چې هېڅ تصور نه کېږي، یوه کلمه دې په دوو ډبرو کې غځېدلې وي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د مسجد مخې ته د نورو مسجدونو په څېر د اوداسه لپاره حوض جوړ شوی و، په مسجد کې د سپینو مرمرو کارول هغه پیلامه ده چې تر دې**




**نېتې وروسته په نورومغولي ستایل ودانیو کې پسې تعقیب شوې او زیاته شوې ده. ټوله کلا او په تېره بیا دا جومات په داسې یو لوړ ځای کې ودان دي چې نیم ډیلی ورڅخه ښکاري. په جومات کې مو یوه دعا وکړه، کله چې له جومات څخه رابهر شو، نو اجمـل او سـاحل تیـار ځـان سـره (سپرایټ) او لږ څه (چپس) راوړي وو، په یوه چمن کې کېناستو، مـوږ ویل دمه به مو راسته شي. انګار صیب او محبوب صیب یوه پنجه ګـرم سیاسي او ادبي بحث وکړ، خو بحث صمیمي و، ښه د ګپ او شپ و ، کله به یې غړونه پورته شول خو بېرته به راکښته شول، د محبوب ټینګار دا و چې پښتانه باید ځان ورسوي او که نه په دې خبـرو چـې دا ځینـې لیکوال یې په کوروکلي کې سره یادوي، د نړی له کاروانه شـاته پـاتې**

(c) ketabton.com: The Digital Library





محبوب، انګار، اجمل او یون د (پرانه کلا) په یوه چمن کې د خبرو اترو

کېږي، محبوب وویل: ((زه یو هنرمند سړی یم، زه باید ځان بالیوډ او هالیوډ ته ورسوم.)) خو انګار صیب به لږ نور هم په عذاب کړ: ((یاره محبوبه! چې ما هم ځان سره کش نه کړې نه دې پرېږدم.)) محبوب ورته وویل: ((ستا ذهنیت قبیله یي دی ته باید (brain wash) شې (ماغزه دې ووینځل شي). )) محبوب پرځینو سیمه ییزو لیکوالو هم سخته نیوکه وکړه چې پر تاویلو ما ویلو وخت تېروي، تجربه یې محلي ده، مطالعه نه کوي او هنري ذوق نه لري، خو لنډه دا چې انګار صیب او محبوب صیب ښه ګپ ولګاوه، له هغه ځایه راپاڅېدو، په کلا کې لږ نور هم وګرځېدو، د ګرځېدو پر مهال مو ددې کلا د جوړېدو پر نېټه سترګې ولګېدې، پر یوه سیمنټي ډبرلیک لیکل شوي وو چې دا کلا د شېرشاه سوري له خوا جوړه شوې ده، هملته مو شېرشاه سوري ته د دعا لاسونه پورته کړل. په هند کې تر شېرشاه سوري دمخه او وروسته ډېر پښتانه پاچایان او واکمن تېر شوي، چې هر یو په تاریخ کې خپل خپل ځای لري، دلته به په لنډیز د ځینو د نومونو او د واک د کلونو یادونه وکړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په هند کې د پښتنو افغان شاهانو واکمني

| ګڼه | نوم | د واکمنۍ موده |
|---|---|---|
| ۱ | جلال الدين فيروزشاه | ۱۲۹۰- ۱۲۹۶م |
| ۲ | علاوالدين خلجي | ۱۲۹۶- ۱۳۱۶م |
| ۳ | مبارک خان (قطب الدين مبارکشاه) | ۱۳۱۶- ۱۳۳۰م |
| ۴ | سلطان بهلول لودي | ۱۴۵۱- ۱۴۸۹م |
| ۵ | سلطان سکندر لودي | ۱۴۸۹- ۱۵۱۷م |
| ۶ | سلطان ابراهيم لودي | ۱۵۱۷- ۱۵۲۶م |
| ۷ | شېرشاه سوري | ۱۵۳۹- ۱۵۴۵م |
| ۸ | اسلام شاه (سليم شاه) | ۱۵۴۵-۱۵۵۳م |
| ۹ | محمدشاه | ۱۵۵۳-۱۵۵۴م |
| ۱۰ | فيروزشاه | (اپريل۲۹-مى۲، ۱۵۵۴)م |
| ۱۱ | ابراهيم شاه | ۱۵۵۴-۱۵۵۵م |
| ۱۲ | سکندر شاه | ۱۵۵۵-۱۵۵۵م |
| ۱۳ | عادل شاه | ۱۵۵۵- ۱۵۵۶م |

پر پورتنيو واکمنانو سربېره پښتنو افغان واکمنــو د هندوســتان پــر بېلابېلو برخو واکمنی کړي، نوابۍ خو يې زياتې وې چې د بېلګې په توګه مو يوازې د (بهوپال) او (ټونک) نوابيو يادونه وکړه، خو داسې واکمنان

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چې د هند پر یوه لویه برخه یې واکمنۍ کړي، له هغې جملې څخه په (بنګال) او بیهار) کې د غلجیانو او کرلانیو واکمني او په (مالوه) کې د غوریانو او غلجیانو د پاچایانو واکمني ده، چې دلته یې یادونه کوو:**

| گڼه | نوم | د واکمنۍ موده |
|---|---|---|
| ۱۴ | بختیار خلجی | ۱۲۰۲- ۱۲۰۵م |
| ۱۵ | امیرعلي مروان خلجی | ۱۲۰۵- ۱۲۱۲م |
| ۱۶ | امیر عوض (غیاث الدین) خلجی | ۱۲۱۲- ۱۲۲۶م |
| ۱۷ | تاج خان کرلانی | ۱۵۶۴- ۱۵۶۵م |
| ۱۸ | سلیمان شاه کرلانی | ۱۵۶۵- ۱۵۷۲م |
| ۱۹ | داود کرلانی | ۱۵۷۲- ۱۵۷۶م |
| پرمالوه واکمن | | |
| ۲۰ | دلاورخان غوري | ۱۴۰۱-۱۴۰۵م |
| ۲۱ | سلطان هرشنګ | ۱۴۰۵-۱۴۳۵م |
| ۲ | محمود غلجي | ۱۴۸۲-۱۵۰۰م |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ۲ | | |
| ۲۳ | سلطان ناصرالدین | ۱۵۰۰-۱۵۱۲م |
| ۲۴ | سلطان محمد شاني | ۱۵۱۲- ۱۵۳۴م |

او همداسې نور په لسګونو واکمنان چې د هند یوه پراخه برخه یــې کنټرول کړې وه. دا واکمن هر یو د هند او افغانستان په تاریخ کې خپل خپل ځای لري،خو شېرشاه سوري هغه عظیم انسان دی چې نن د نړۍ دوه ستر ملتونه (هندیان) او (افغانان) دواړه پرې ویاړ کوي. د شېرشاه د



کارنامو په باب مو ډېر څه اورېدلي او ډېر څه مــو پــه کتــابونو کــې لوستي دي، د ټولــو راوړل دلتــه ناشوني دي، خو ښه به وي چې د پیاوړي لیکوال ښاغلي (نثار احمد صمد) د یوې لیکنــې او څېړنــې لنډیز دلته راوړم چې د شېرشــاه په باب یې کړې ده: {د شــېرخان نیکه ابراهیم هنــد تــه تــر تــګ مخکې د غزني د سیمې او هنــد ترمنځ د اسونو تجارت کاوه، د ده زوی (میاحسن) د ســلطان ســکندر لودي په پوځې خدمت کې ځان شامل کړ او د بیهار پــه ســسرام کــې جاګیر (جایداد او ځمکې) ورکړ شو. دا سیمه دوی ته ځکه اشنا وه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د خلجیانو (بختیار) درېِ سوه کاله مخکې د (محمد غوري) په زمانه کې دلته مېشته شوی و.**

**حسن خان دوه ماینې لرلې چې لومړنۍ یې خپله پښتنه وه او دویمه یې هم هندۍ مینځه وه. له افغاني مېرمنې څخه یې دوه زامن وزېږېدل چې مشر یې (فرید) او کشر یې هم (نظام) نومېده، لـه دویمــې یــانې هندۍ مېرمنې څخه یې شپږ زامن وزېږېدل چــې لــه هغــوی نــه یــې (سلیمان) او (احمد) د خپلو ناسکه ورونو سره رقابت او مخالفت کاوه. فرید (شېرخان) هغه مهال وزېږېده چې حسن خان پــه سســرام کــې اوسېده. د فرید خان د ولادت په هکله یو په زړه پورې روایت دا دی چې کله د ده مور حامله وه، نو یوه شپه یې خوب ولیده، چې له اسمان څخه سپوږمۍ برابره ددې په غېږ کــې راولــوېږي، دا ددغــه حیرانــونکي او هیبتناکه خوب د لیدلو له امله یو دم راپاڅېده او خپل مېــړه (حســن خان) یې راویښ کړ او ټول خوب یې ورته ووایه. حسن خان چــې ډېــر متدین او ځیرک انسان و، ددې خوب پر تعبیر وپوهېده اُو بې له ځنډه راولاړ شو او خپله مېرمن یې څو دُرې (چلاخې) ووهله. ماندینې چې یې دا ناوړه غبرګون ولید، نو پوښتنه یې ورڅخه وکړه چې ولې مې ناحقــه وهې؟ حسن په ځواب کې ورته وویل: ((ما له پوهانو او بزرګــانو څخــه اورېدلي چې که څوک دغسې ښه خوب ویني نو باید چې د بېرته ویده کېدو موقع ور نه کړی شي، مبادا چې د خوب غلبه د دې ښــه خــوب لیدلو نتیجه ورباطله کړي، ما ځکه ته ووهلې چې ددې تکلیف او درد له امله بېرته خوب در نه شي او مورږ د هغه له ښه انجام څخه برخمن شو.))**

**په هر حال، فرید خان پر ۸۷۸ هــق (۱۴۷۳م) کال د بیهار په سسرام کې وزېږېد، د مشر اولاد په حیث پر خپل پلار ډېر ګران و. دا لا څه، فرید**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له هماغه کوچنیوالي څخه ډېر ذهین، ځیرک او پوه هلک و چې د هر چا په زړه کې به یې ژر ځای نیوه.**

**یو روایت دی چې وایي کله فرید کوچنی هلک و، نو د کوچنیـانو د عامې قاعدې مطابق یې یوه ورځ شوخي کوله او پلار یې په تنګ کـړ او کوم شی یې ورڅخه غوښته، دا مهال ناڅاپه یو ملنګ یا درویش پر لاره تېرېده، هغه چې کله د هلک دا نارې او زارۍ ولیدې، نو په خندا شو او داسې یې وویل: (( د خدای هم څه حکمت او کمال دی، د هندوســتان پاچا د یو دومره کوچني شي لپاره ژاړي او زارۍ کوي.)) په دې خبــرې سره د فرید پلار میاحسن هېښ پېښ شو، یو ځل یې خپل زوی او بیا یې همغه ملنګ ته په ځیر ځیر وکتل.**

**فرید په هلکتوب او ځوانۍ کې دیني تعلیم حاصل کړ او ټول مروجه علوم یې په کفایت او لیاقت سره بشپړ کړل. وروسته له خپل پلار څخه د میرې او ناسکه وروڼو د بدچال چلند په وجه خوابدی شو او په بیهار کې بهادرخان (مشهور په سلطان محمد) ته د خدمت لپاره لاړ.**

**یو روایت دی چې وایي یو وخت سلطان محمد د ښکار او تفریح لپاره کوم ځنګل ته تللی و چې فرید خان هم ورسره ملګری و، دا وخت نابېره یو زمری د ده مخې ته راغی، فرید هم بې له ځنډه خپله توره راوکښله او پر زمري یې سخت ګوزار وکړ، بس په همدې یوه حمله یې زمری پــر منځ دوه ځایه کړ او ځای پرځای یې وواژه. واکمن سلطان محمد چې د فرید خان دغه زړورتــوب او توریــالیتوب ولیــد، نــو هغــه تــه یــې د ((شېرخان)) لقب ورکړ، هو فرید له همدې ورځې څخه نور نو د شېرخان په نوم اوښار شو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ((تاریخ خان جهان لودی)) کې راغلي چې شېرشاه یــوه ورځ لــه خپلو څو ملګرو سره د بیهار د ((بلیا)) د ښارګوټي په بازار کې روان و، چې نابېره د یو مجذوب (ملنګ یا فقیر) سترګې پرې ولګېدې او سم له لاسه یې غږ وکړ چې وګورئ د ډیلي پاچا پلی روان دی! شېرخان چــې کله ددې خدای دوست ملنګ خبره واورېده، نو خپلې پګړۍ ته یې یوه بله غوټه هم ورکړه، په زړه کې یې د ډیلــي د پاچــاهۍ خیــال او اراده ورپیدا شول.

فرید خان چې نور نو شېرخان و، څه موده وروسته له سلطان محمد څخه رخصت واخیست او سسرام ته ولاړ او بېرته بیهار ته ستون نه شو، د (جونپور) حاکم (محمدخان ســوري) چــې د شــېرخان ســوري لــه زیاتېدونکي نفوذ او شهرت څخه وېرېده، پاچا ته دده په هکلــه منفــي تبلیغ پیل کړ، محمد خان سوري د سلطان محمد په هدایت شېرخان ته یو لیک ولېږه او له خپلو ناسکه وروڼو سره یې د هغه د ځمکنۍ دعوې ختمول وغوښتل، خو شــېرخان پــه ځــواب کــې ورتــه ولیکــل: (( دا افغانستان نه دی چې جایداد د یو چا وي خو قبضه بل چا پرې لګــولې وي، بلکې په هندوستان کې چې پاچا کوم نفر ته جــاګیر ورکــړی، نــو هماغه نفر یې مالک وي نه بل څوک، تر ننه خو د واکمنانو دا دستور دی چې د کوم مړه کس جایداد د سپېڅلي شریعت پر اساس د هغه وارثانو ته وېشل کېږي او څوک چې د امارت لایق وي نو هغه تــه حکومــت او سرداري ورکول کېږي، دلته خو ملکیت د هغه چا وي چې توریالی وي.

د شاهي فرمان له مخې د سسرام جایداد زما په تصرف کې دی، لــه دې څخه به هېڅا ته ان یوه لوېشت ځمکه هم ور نه کړم.)) محمدخان سوري هم د خپل وفادار غلام (ښادي) په مشــرۍ یــو لښــکر برابــر او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقابلې ته وروليږه، شېرخان خپل منتظم (ملک سکهر) ته چې د (تانډا) او (خواص پور) د جایداد چارې یې ورسپارلې وې، د مقاومت سپارښتنه وکړه، خو د هغه کسان لږ وو او د (ښادي) د لوی پوځ پر وړانـدې مـات شول او ملک په خپله هم ووژل شو. شېرخان چې دا ماتې ولیده، نو یوه نوې ستراتیژي یې غوره کړه، له زیاتو سـوغاتونو سـره د بـابر اخښـي (جنید برلاس) ته ورغی چې د (کټره) او (مانکپور) حاکم و، په نتیجـه کې جنید لوی پوځي کمک ورکړ او شېرخان هم پر (۱۵۲۷م) کـال پـر (جونپور) سخته حمله پسې وکړه او محمد خان سـوري او خپـل ورور سلیمان ته یې سخته ماتې ورکړه چې هغوی د (رُهتاس) غرونو ته پناه یوړه.

شېرخان نور نو د جونپور او څېرمه سیمو جاګیر هم خپل کړ او ویې غوښته چې تیت او پرک پښتانه سره یو موټی کړي، په دې لړ کې یـې محمـد خـان سـوري تـه د پخلاینـې لیـک ولیـږه او هغـه هـم



د واکمنۍ پرمهال د شېرشاه سوري

بېرته راغی او دده ملګری شو، هو! شېرخان وروسته لـه دې د پښـتنو اتحاد، عظمت او واکمنېدلو ته لېچې ونغښتلې، په دې ترڅ کې یې پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زرګونو لودي او نور پښتانه د ملي پیوستون او پښتونولۍ پر اساس سره یو موټی کړل.**

**شېرخان چې کله ډاډه شو، نو د جاګیر چارې یې خپــل کشــر ورور (نظام) ته وسپارلې او خپله یو ځل بیا (جنید برلاس) ته ورغی او هغه یې هم له ځان سره (بابر) پاچا ته بوت، یو روایت دی چې شېرخان یوه ورځ له سلطان جنید سره د بابر دربار ته د ډوډۍ خوړلو لپاره ورغی، دا مهال د ده مخې ته په چیني کاسه کې د ماهیچې یوه لویه ټوټه ایښودل شوې وه، ښایي دا به یې پخوا نه وه خوړلې یا د غاښونو د کمزورۍ له امله به وو چې یو دم یې له خپلې ملا څخه سپلاخۍ (پېشقبضه) راوکښله (یو بل روایت هغه خنجر ذکر کړی دی) او هغه غوښه یې ټوټه ټوټه کــړه او وروسته یې په قاب کې کېښودله او پــه ډاډه زړه یــې وخوړلــه. بــابر د شېرخان دا عجیب او غریب حرکت ولید او خپل خلیفه یې ورته متوجه کړ او په غور کې یې یو څه ورته وویل. د ډوډۍ تر خوړولو وروسته بــابر وویل چې ددغه ځوان افغان له څېرې څخه د پاچاهۍ نښې ښکاري، ما په زرګونو رئیسان او افغانان لیدلي، خو د هغوی له یوه څخه هم په زړه کې دغسې نه یم وېرېدلی، زما زړه راته وایي چې دغه ځوان باید قیــد کړم، خو جنید برلاس (میرخلیفه) ته د شېرخان په هکلــه معلومــات ورکړل او بل دا چې شېرخان میرخلیفه ته هم سوغاتونه ورکړي وو، نو ځکه میرخلیفه هم په خپل وار بابر ته ډاډ ورکړ چې شېرخان نــه کــوم لوی پوځ لري، نه سامان الات او وسایل، نو ځکه هغه شاهنشاه ته هېڅ خطر نه شي پېښولای، که تاسو دغه افغان بندي کړئ نو ضرور به نــور افغانان پر تاسو بې باوره شي او ستونزې به راوټوکېږي، شېرخان هم په**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې حساسیت پوه شو او له رخصت اخیستلو پرته ووت او خپل جاګیر ته وخوځېد، نور نو له مغولو سره دده مخالفت په نفرت بدل شو.

شېرخان له خپل کشر ورور (نظام) او عزیزانو (پښتنو) سره تر مشورې وروسته بېرته د بیهار واکمن سلطان محمد ته ورغی، سلطان محمد چې دده تدبیرونه لیدلي وو، ډېر خوشاله شو او خپل کوچنی زوی (جلال خان) یې د روزلو لپاره وروسپاره، څه موده وروسته سلطان محمد وفات شو او د جلال خان مور (دودو) هم پسې وفات شوه او شېرخان د جلال خان د مرستیال په توګه د بیهار اداره په خپل لاس کې واخیسته او نور نو لوی دولتي مقام ته ورشامل شو. د بنګال پاچا (مخدوم عالم) د جنګ لپاره (قطب خان) ورولېږه خو شېرخان د زرګونو پښتنو په توره سخته ماتې ورکړه او قطب خان شخصاً د (حبیب کاکړ) په نېزه ووژل شو، شېرخان ته لویه خزانه، اسونه، فیلان او تجهیزات په لاس ورغلل او د واکمنېدو اساس یې کېښود، وروسته یې د بنګال له پاچا سره جګړه وکړه او یوه یوه سیمه یې نیوله؛ (چینار) یې ونیو، د (رهتاس) او (ګور) کلاوي یې ونیولې، وروسته یې له رهتاس څخه تر (قنوج) او (سنبل) پورې ټولې سیمې فتح کړې، په قنوج کې یې همایون ته ماتې ورکړه، څو چې تر ډیلي پورې یې ټول هندوستان فتح کړ او په دې ډول یې پر هند باندې د افغانانو بالقوه واکمني بیا راپیل کړه (۱۵۳۹م) کال.

شېرشاه چې کله پاچا شو، نو ستراتیژیک هدف یې دا و چې ځوانان په شور او خوځښت راولي او د پښتنو وفاداري او هوډ ژوندي وساتي، تاریخ پوهان د شېرشاه طاقت، محنت او موفقیت ته په درنه سترګه ګوري، د ځمکنیو چارو شرایط یې سم کړل، نوی مالیاتي سیستم یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړ او رایج کړ، ځمکني اصلاحات یې وکړل او له کروند ګرو سره یې حکومت مستقیماً وتړه. یاغیانو، ظالمانو او حق خوړونکو د شېرشاه له وېرې د فساد او تېري جرئت نه شو کولای، د ده یو خاص عادت دا و چې شخصاً به د نزاع او مناقشې ځای ته تللو او هلته به یې ماجرا او د دعوې موضوع په سترګو لیدله، هغه به یې ارزوله، بیا به یې قضاوت کاوه او بیا به یې فیصله کوله، کله چې به یې فیصله صادروله نو د هغې تطبیق به یې هم جداً تعقیباوه او همدا کار دده د بریالیتوب اصلي عامل و، شېرشاه سوري په ډېر لږ وخت کې ډېر زیات اصلاحي، جوړښتي او عمراني کارونه کړي دي، چې د هند او افغانستان تاریخونه پرې ویاړي.

د شېرشاه په کړو وړو کې متقابل احترام، نرمښت، انصاف، اخلاق او د پخلاینې احساس نغښتی و، ده به د عدالت پر مهال د خپل رعیت او خپلو اولادونو یا کورنۍ توپیر نه کاوه، وایي چې یو وخت د ده زوی عادل خان ( چې په عین حال کې ولیعهد هم و) یوه ورځ پر فیل سپور و او د اګرې په کوڅو کې تېرېده، څنګه چې فیل ډېر لوړ او د کورونو دېوالونه کښته وو، نو نابېره یې سترګې د یو بقال په کور کې پر یوې ځوانې ښایسته ښځې ولګېدې چې د کور په غولي (انګړ) کې لمبېده، عادل چې ورته وکتل نو پاڼ یې وروغورځاوه، ښځه چې ډېره حیاداره وه، ځان یې شرمنده احساس کړ او د نامحرم سړي دغه عمل یې د ځان پر وړاندې سپکاوی وباله، کله چې یې مېړه کور ته راغی، مېرمنې یې کیسه ورته وکړه چې د واکمن زوی دغسې توهین کړم، مېړه یې هم سملاسي د واکمن (شېرشاه سوري) دربار ته د شکایت لپاره ورغی او ټوله کیسه یې ورته وکړه، پاچا چې کله دا ماجرا واورېده، نو له قهره سور او شین شو او په لوی دربار کې یې دا امر وکړ چې دغه بقال دې همداسې پر فیل

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپور شي او د عادل خان مېرمن ( د پاچا نږور) دې هماغسې مخــامخ توهين کړی شي او کټ مټ بدل دې ترې واخيستل شي، د شېرشاه په دې حکم سره په دربار کې غوغا او هنګامه پورته شوه له هرې خــوا او هرې خولې څخه د شفاعت او سفارش غږ راپورته کېده، خو لوی واکمن شېرشاه سوري هدايت وکړ چې نه، دلته شفاعت او واسطه ځای نه شي نيولای، ځکه زما په فکر د يو معمولي رعيت لور يا نږور کټ مټ زما د لور يا نږور غوندې مقام او حيثيت لري او دا زما عدالت دی چې هرومرو به عملي کېږي. دا مهال په دربار کې چوپه چوپتيا خپره شــوه او د لــوی پښتون واکمن د امر په مقابل کې چا د نورو دلايلو او عذر جرائت نه شو کولای. کله چې بقال وليده پاچا په رښتيا هم ډېر جدي دی او امر يــې عملي کېدونکی دی، نو مداخله يې وکړه او رامختــه شــو او پــه ډېــره عاجزۍ سره يې د عرض اجازه وغوښته، پاچا ورته وويل: ((ووايــه څــه وايې؟)) بقال په زاريو او ننواتو سره ورته وويل چې لوی ټولواکه! ماتــه خپل انصاف راورسېد او هرڅه مې ترلاسه کړل او بدل مــې واخيســتل شو، دا چې زه په خپله عارض وم، خو ستاسې ټينګ عــزم او پرېکــړې ماته هرڅه راکړل، ستاسې نږور زما خور ده، ايا تاســو غــواړئ چــې د مېرمنې غوندې مې خور هم کټ مټ توهين شي؟ لوی واکمن هم نــرم شو او د پښتونولۍ د رموز او شرافت له مخې يې خپله نږور معاف کړه او بقال يې ونازاوه، هوا دغه دی د يو لوی واکمن لوی عزم، لــوی انصــاف، لوی شهامت او بالاخره لوی صفت.

لوی شېرشاه د خپل څه باندې پنځه کلن واک پــر مهــال مسلســل کوښښ کاوه چې لومړی په هندوستان کې استوګن پښتني قومونه سره متحد کړي او بيا د پښتونخوا پښتانه د هندوستان له پښتنو سره وصل

(c) ketabton.com: The Digital Library



او یو لاس کړي، دی چې کله د خپلو سوبو په لړ کې (جیلم) ته راورسېد، نو له خپلو شمالي پښتنو ورونو سره یې لیده کاته هم پیل کــړل، ویــل کېږي چې د روه (پښتونخوا) د هېواد له لرې لرې سیمو څخه په زرګونو پښتانه راتلل او د ده په لښکرو کې تنظیمېدل، شېرشــاه د (مــالګو) د غرنۍ لړۍ په لمن کې د (خوشاب) کمپ جوړ کړ، دلته هره ورځ جرګې کېدلې او پښتانه حتی له (کابل) او (کندهار) څخه راتلل، ځینې وایــي چې د (هلمند) تر لمنو پورې پښتانه د شېرشاه لیدو او جرګو ته راتلل، په دغو خلکو کې (شیخ بایزید سروانی) د (شیخ کټه) زوی هم شامل و چې د پښتنو یو منلی پیر او د ((شېرشاه تاریخ)) لیکوال هم دی. کلــه چې بایزید راغی نو شېرشاه سوري یې مخې ته ورغی او په پښتو ژبه یې د زړه له کومې ورته وویل: ((ای شیخه! راشه چې سره غېږ په غېږ شو)).

د شېرشاه سوري د واکمنۍ په شمالي خوا کې د (کامران) حکومت و چې ډېر پیاوړي او منظم ځواکونه یې لرل. شېرشاه دومــره طاقــت نــه درلود، چې هغه ته یې ماته ورکړې وای، همدا علــت و چــې د پښــتنو پیوستون او تورې ته اړ و، نو ځکه ده غوښتل چــې لــومړی د لویــدیځ خواته مخه کړي، د ده لومړی هدف د (نیازیو) سیمې وې چې د اباسین پر دواړو غاړو مېشته وو، د (کالا باغ) په ګاونډ کې یوه سیمه وه (عیسی خېل) نومېده چې د غلجیو پښتنو د یوې څانګې نوم هم و. د دې سیمې نیول ځکه اسانه و چې دده په لښکرو کې زیات شمېر نیــازي پښــتانه شامل وو او د ده ستر جنرال (هیبت خان) په خپله نیازی و چې دا مهال په دې سیمه کې د ده والي هم و چې ملتان او پنجاب دواړه یې په قلمرو کې شامل وو. شېر شاه خپل وراره (مبارک خان) چې د مینځی زوی و، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیبت خان تر امر لاندې موظف کړ چې د نیازیو سیمه ونیسي، دا چې څه پېښ شول کیسه یې داسې ده:

د نیازیو د (سمبل خېلو) په ټبر کې یو سړی چې (الله داد) نومېده ډېره ښایسته لور درلوده، چې د ښکلا صفت یې شاوخوا سیمو ته رسېدلی و، له مخ څخه یې د ښایست لمبې پورته کېدې، مبارک خان چې کله دا نجلۍ ولیده، نو زړه یې بایلود او پرې مین شو. ده د روه (پښتونخوا) دود دستور هېر کړ او الله داد ته یې پټ رویبار واستاوه او د لور غوښتنه یې ځنې وکړه. الله داد هم د مبارک خان حضور ته راغی او احترام یې وکړ او په ډېر عزت سره یې ورته وویل چې ته به په خپل حرم سرای کې ډېرې مینځې لرې او حرم به دې له پاک لمنو ښځو څخه ډک وي او پر دې سربېره عالیجناب خو په هند کې لوی شوی او د لوړ کلتور خاوند دی، خو زما لور یوه کلیواله نجلۍ ده او یوازې د (روه) پر کړو وړو پوهېږي، په لنډه توګه ستاسې او زما د لور ترمنځ ډېر زیات توپیر موجود دی یانې زما لور ستاسو لیاقت نه لري او د واده امکان یې نه لیدل کېږي.

مبارک خان ډېر په قهر شو او د (سمبل) کورنۍ پر ځورولو یې پیل وکړ تر څو الله داد مجبور کړي چې خپله لور ده ته په نکاح کړي، خو الله داد قطعاً دې کار ته نه حاضرېده، مبارک خان هم له ظلم او یرغل څخه کار واخیست، د سمبل پر یو کلي یې حمله وکړه او یوه مینځه یې وتښتوله، د ټولې قبیلې جرګه ورغله او د ښځې تښتول یې د پښتونولۍ خلاف عمل وباله، خو مبارک خان د هغوی خبره ونه منله، هغوی هم په قهر شول او خبرداری یې ورکړ چې ګوره! ته په هند کې لوی شوی یې، د پښتنو دود دستور دې نه دی زده، هېڅکله باښه پر باز باندې ظلم نه شي کولای، موږ ستا د تره په وجه چې پاچا دی ستا احترام کوو، که نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته خو د یوې مینځې زوی یې، پام کوه چې نور پر موږ غرض ونه کـړې، زموږ ښځې په عزت سره پرېږده او نور موږ مه ځوروه! مبارک خان پـه ځواب کې ورته وویل چې تاسې څه شرف نه لرئ، زه به خپل حرم سرای ډک کړم، دا نجلۍ هم نه ازادوم او د (الله داد) لور هم په زوره بیایم، خو جرگه والو په قهر سره ورته وویل چې که ژوند درباندې گـران دی، نـو زموږ له ښځمنو څخه لرې گرځه، ددې اخطار په اورېدو سره مبارک خان خپلو سړو ته امر وکړ چې د کوتکو او سوټیو په وهلو یې وباسئ، دا مهال د خلکو قهر وپارېد که څه هم وسلې یې د باندې ایښې وې، خو په تشو لاسو یې پر مبارک خان حمله وکړه، دی او د ده ټول سړي یې ځای پـر ځای ووژل.

شېرشاه چې پر دې پېښه خبر شو، نو هیبت خان ته یې ولیکل چې: (( سوریان هسې هم لږ دي خو چې خپل نور افغانان یې پسې وژني نـو بالاخره یو سور به هم پاتې نه شي، سمبلیان دهیبت خان خپل قوم دی، باید دوی ته سزا ورکړل شي چې نور بیا ددې جرئت ونه کړي چې والي ووژني.)) سمبل هم ټول غرونو ته وختل او هیبت خان ځکه تعقیب نه کړل چې هغه سیمه د شېرشاه په قلمرو کې نه وه، هیبت خان هم نیازی و له هغوی سره یې چل وکړ او ټولو ته یې د عفوې اعلان وکړ، د قبیلـه یي اړیکو په اعتماد (نهه سوه نرینه) له خپلو کورنیو سره بېرته خپلـو مېنو ته راستانه شول، هیبت خان هم ټول نرینه ترې ووژل او ښځې یې شېرشاه ته ورواستولې. شېرشاه پر دې عمل باندې ډېر خواشینی شو او ورته ویې ویل: (( د قبیلو ترمنځ دومره لوی خیانت او جنایت تر اوسـه هېچا هم نه و کړی، ایا هیبت خان غواړي چې مستقل حکومت وکړي؟ څنگه یې دومره خلک، هغه هم د خپل قوم، بېگناه ووژل؟ ده پښتو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پښتونواله هېره کړې ده.)) شېرشاه بې له ځنډه هیبت خان برطرف کړ او مخکې له دې چې سزا ورکړي یا دا مساله ژر تر ژره حل کړي، په خپله د اجل مېلمه شو (۱۵۴۵م)کال.**

**شېرشاه صرف یو پاچا یا دنیایي انسان نه و، بلکې د دین ډېر پابند او شریعت ته تسلیم و، په هر کار کې یې د دین او شریعت اصــلي اصــول تطبیقول. روایت دی چې شېرشاه یو لمونځ هم نه قضاکاوه، کله چې به د لمانځه وخت شو نو کار به یې پرېښود او لمونځ به یې ادا کړ، د تهجد لمونځ یې هم تل ادا کاوه او ډېر ذکر یې کاوه او دعاګانې به یې کولې. د علماوو او فضلاوو ډېر درنښت یې کاوه، په دربار کې یې روحانیونو خاص مقام درلود، سربېره پر دې شېرشاه یو صوفي انسان و او ویل کېږي چې د (ملک العلما حضرت شاه بدن منیري) مرید و، یو روایت ډېر مشــهور دی وایي چې د عربستان په شګو کې یو سړی له تندې او ګرمۍ څخــه بې هوښه پروت و، دا مهال یو بوډا ورته راغی چې د اوبو ژۍ ورسره وه، څنګه چې دا یو داسې ځای نه و چې د اوبو د راوړلو امید ورتــه شــوی وای، نو دغه سړی حیران شو او مخکې له دې چې د بوډا اوبه وڅښي د هغه د نوم او ادرس پوښتنه یې وکړه او ورته ویې ویل چې ترڅو خپــل ځان را ونه پېژنې، دا اوبه نه څښم، بوډا هم ناچاره شو او ځان یې داسې وروښود: (( زما نوم فریدالدین دی چې په شېرشاه سره مشهور یم، که بیا ددغسې اوبو څښلو هیله درسره پیدا شــوه نــو د هندوســتان پــه سسرام کې یې زما له تالاب څخه څښلی شې.)) ددې کیسې اصلیت که هر څه وي، وي به خو بې څه هم نه ده او دا چې له شېرشاه څخــه پــه وروستي عصر کې دا کیسه دومره مشهوره ده په خپله د شېرشاه اسلام پالنه ثابتوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



(سراولف کېرو) داسې ليکي: (( شېرشاه سوري د لوی پښتون ټبر او پښتنې ټولنې يوه داسې مهمه ټوټه ده چې نـورې ټـولې ټـوټې سـره نښلوي، تر ده وروسته به دا قوم تل سترګې پر لاره وي چې د شېرشاه سوري غوندې لارښود يې په برخه شي تر څو دا ټوټې او پارچې قوم بيا سره سريښ کړي او د پښتون ټبر په تاريخ کې ځای ولري.))

وايي چې يوه ورځ شېرشاه ډېر غمګين و، اه يې وکېښ او په ژړا کې يې سلګۍ ووهلې، د مجلس خلک ټول خپه شول او يوه درباري ورځخه وپوښتل چې دولتي، تشکيلاتي او مالي چارې، اردو، شـاهي کـړه وړه، قوانين او مقررات ټول تنظيم شوي دي، په لږه موده کې ډېر کارونه اجرا شوي او هر څه چې تاسې امر کړی، هغسې اجرا شوي دي، نو پر دغـو ټولو سربېره ولې دومره خپه ياست؟ شېرشاه هېڅ ځواب ور نه کړ، خو د ده ملګرو ډېر ټينګار وکړ او دی يې مجبور کړی چې ځـواب ورکـړي، شېرشاه داسې وويل: (( تاسې حق واياست، مګر څلور غوښتنې زما په زړه کې دي چې نه يې شم عملي کولای او دا ارمان به له ځانه سره ګور ته يوسم، هغه دا چې لومړی مو کاشکې د (روه) غرنۍ سيمې پرېښـې وای او ټول اوسېدونکي مې له (نيلاب) څخه تر (لاهور) پورې په هوارو او خړوبه ځمکو کې ځای پر ځای کړي وای، دوی به د مغولـو د هـر ډول تېري مخنيوی کړی وای او هم به يې څوک نه پرېښودل چې د کابل له لوري د هند د نيولو لپاره راتلای او همدارنګـه پـه اوارو سـيمو کـې د اوسېدلو بله ګټه دا وه چې د غرو خلک به متمدن شوي او پوهه به يې زياته شوې وای، دويم دا چې زه غواړم لاهور ببخي ونړوم، ځکه لاهـور داسې ښار دی چې له شمال څخه هر تېري کوونکي ته ټول جګړه ييـز امکانات برابروي، هر يرغلګر له لاهور څخه ځان اکمالوي او پر هند بريد

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کوي، دربیم ارمان مې دا دی چې تر مکې معظمې پورې یوه لویــه لاره جوړه کړم او د هغې په اوږدو کې پنځوس لويې لويې ودانۍ جوړې کړم چې زموږ حاجیان په راحت شپې په کې تېرې کړي، څلورم غواړم چې په پاني پت کې د سلطان ابراهیم ښکلې مقبره جوړه کړم په دې شرط**




**چې مخامخ یې د چغتای سلطان بابر قبر ورته جوړ کــړم، ځکــه چــې سلطان ابراهیم د ده له لاسه شهید شو، دا څلور هیلې زما د زړه ارمانونه دي چې له ځان سره به یې ګور ته یوسم.)) هوا شېرشاه په رښتیا هم دا څلور واړه ارمانونه ګور ته له ځانه سره یوړل.**

**د شېرشاه په دې لنډ بیان کې دده د جنګ پوهنې، تاکتیک پوهنې، ستراتیژۍ پوهنې، معمارۍ، ابادۍ، دین دوستۍ او پښــتونولۍ فلســفه نغښتې ده چې څېړنه یې پوره یو کتاب په بر کې نیسي، خو د لاهور له نړولو څخه یې مراد فزیکي نړول نه، بلکې ستراتیژیک بــدلون او د یــو متبادل ښار جوړول و.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانانو ته د شېرشاه سوري وصیت (عباس سروانی) داسې رانقل کړی دی: (( زه په دې پوره باور لرم چې که د افغانانو ترمنځ بې اتفاقي نه وي، نو هېڅ قوم په توریالیتوب کې له افغانانو سره برابرېدی نه شي، زه له خپلو عزیزانو څخه دا هیله کوم چې په خپلو کې کینه له منځه وباسي او ټول په خپلو کې سره یو لاس شي.))

شېرشاه سوري بالاخره د (کالنجر) د مضبوطې کلا د نیولو پر مهال




چې (راجاکریت سنګهـ) له خپل پوځ سره په کې پټ و، په هغه اور کې سخت ټپي شو چې د بمونو په ډیپو کې د یو بم د لګېدلو له امله ولګېد. کله چې څه لږ وروسته د کلا د فتحې خبر ورکړل شو، نو بې له ځنډه یې داسې وویل: (( یا الله تاته شکر پرځای کوم، همدا زما وروستۍ هیله وه.)) دا د ۹۵۲هـ کال د ربیع الاول د میاشتې لسمه او ( د ۱۵۴۵م کال د مې ۲۲مه)) نېټه د شنبې ورځ وه. تر دې وروسته چې نیم بدن یې سوځېدلی و، پسې وفات شو او په سسرام کې خاورو ته وسپارل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سسرام کې د شېرشاه سوري زيارت ته خــاص او عــام ورځـــي} شېرشاه نه يوازې د افغانانو وياړ دی، بلکې د ټول هند ستر ملت هم پرې وياړي. پر (۱۳۸۷ل) کال د ملګرو ملتونو د تاريخي اثارو د ساتنې ادارې (يونسکو) او د هندوستان د حکومت له خوا د شېرشاه سوري مقبره، د هندوستان په تاريخي اثارو کې وشمېرل شوه او د خونديتابه لپاره يـــې سپارښتنې وشوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انډیا ګېټ

کله چې له زړې (پرانه کلا) څخه راوګرځېدو، نو انګارصیب، محبوب صیب، اسد ساحل، اجمل او ما (یون) ټولو مصلحت وکـړ، چـې (انـډیا ګېټ) به ګورو، استاد خالق رشید خو لا دمخه موږ ته د انډیا ګېټ پـه باره کې معلومات راکړي وو، چې یو غزنیچي افغان په ویاړ ویلي وو: ((زما د پلار نوم د انډیا ګېټ په دروازه لیکل شوی دی)). انډیا ګېټ تـه لاړو،




لومړی شاوخوا وګرځېدو، بیا ګېټ ته نږدې لاړو، د ګېټ پر سـر لیکـل شوي نومونه مو وکتل، که څه هم د ټولو لوستل ګران کار و، خو بیا مـو هم ځینې ولوستل، پر دې ګېټ د هغو انګرېزانو او هغو هندیانو نومونه لیکـل شـوي چـې د انګرېزانـو پـه اصـطلاح لـه برتـانوي هنـد

(c) ketabton.com: The Digital Library






څخه یې په مېړانه دفاع کړې ده. د ګېټ د برنۍ خوا په یـوه ځـانګړې برخه کې د ګنو هغو افغانانو یا پښتنو نومونه هم لیکـل شــوي چــې د برتانوي هند پر وړاندې جنګېدلي، پر هغو مو چې سترګې ولګېدې، نو یو ځل بیا مې د غزنیچي افغان خبره په ذهن کې راوګرځېده، چې ویل یې: ((زما د پلار نوم د انډیا ګېټ په دروازه لیکل شوی دی.)) انډیا ګېــټ د انګرېزانو له خوا پر (۱۸۵۷م) کال جوړ شوی دی، په دې ځلــي کــې د برتانوي هند د پوځونو خلاف د درې سوو ګوریلایي جنګونــو د مهمــو ګډونوالو او د هغو پرضد د برتانوي هند د جنګېدلیو پوځیــانو نومونــه لیکل شوي او همدارنګه د افغان انګلیس د لومړي جنګ د برخوالو زیات شمېر نومونه په کې لیک دي. ددې ځلي بنسټ د برتانوي معمار ایډوین لوټین (Edwin Lutyen) له خوا ایښودل شوی دی. د ګېټ په خوا کــې هندي پولیس په خاص نظم او دسپلین ولاړ دي، په سلګونو څه چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library






زرګونو لیدونکي یې ګړۍ په ګړۍ لیدو ته راځي، د شپې له خوا نو بیـا بېخي ډېره ګڼه ګونه وي، د ځلي شاوخوا لوی تفریحي چمنونه دي چې لیدونکو ته د ځلي تر لیدو وروسته د ګرځېدو او دمې زمینه برابـروي، همدلته د اوبو داسې یو حوض هم شته چې وړې دوه نفري یا درې نفري تفریحي کښتۍ په کې ګرځي او د شپې له خوا په لسګونو خلک په دې کښتیو کې د حوض منځ کې ګرځي راګرځي، څو شېبې هلته وګرځېدو، څو یادګاري عکسونه مو واخیستل او بیـا د (پلیکـا) بـازار پـر لـوري وخوځېدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پلیکا بازار

نږدې ماښام و چې پلیکا بازار ته ورسېدو. پلیکا بازار د ډیلي ښار په منځنۍ برخه کې موقعیت لري. دا یو سرپټی او ځمکتلی بازار دی، چې




خورا ګڼه ګونه په کې وي، د دکانونو شمېر یې زیات نه دی؛ ټول به درې څلور سوه دکانونه په کې وي، خو ګڼه ګونه په کې خورا زیاته وي، لوکس بازار هم نه دی، پاس چت ته یې چې وګورې، کنډو کپر سمنټ، وتلي سیخان او د غنو ځالې په کې له ورایه ښکاري، خو زیات خلک ورته راځي او زیاته سودا په کې خرڅېږي، هټیوال یې داسې دي، لکه سرې غومبسې، تر څو چې یې چېچلی نه یې پرېږدي دې نه، همداسې درپورې نښتې وي. دکان ته دې هم په غېږ کې جګوي، له لارې دې کشوي، دلته د هټیوالۍ داسې یو کلتور واکمن دی چې په هر ترتیب

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، سودا دربانديې خرڅوي. کله چې د کوم هټيوال پـر کـوم بهرنـي سترګې ولګي بيا خو نو په هېڅ وجه ترې خلاصېدی نه شـي. پـه دې مارکېټ کې نرخونه ثابت څه چې نيمه ثابت هم نه دي. نرخونه په سلو کې له (لسو) څخه تر (نويو) پورې کښته پورته کېږي، که کوم ساده زړی بهرنی پرې برابر شو، نو په همغه يو وار کې ترې غرز جګوي.

موږ چې لږ لږ په هندي پوهېدلو، څېرې او جامې مـو هـم د هنـد د کشميريانو په شان وې، نو په اسانۍ يې نه شو تېرايستلای، هر دکان ته چې به پورته شو، نو په بيه کې به جوړ نه شو. يو دکان کې مو ښـځينه شالونه بيه کړل، يو دانه يې په دولس سوه کلدارې، بيا يې نهه سوه کړل، په پای کې يې شپږ سوه کړل، خو په بيه کې جوړ رانغلو، بل دکـان تـه لاړو، هغه لومړی نهه نيم سوه وويل، خو وروستۍ بيه يې پنځـه سـوه شوه، خو بيا هم سره جوړ نه شو، بل دکان ته لاړو، هغه لومړۍ بيه نهه سوه، بيا شپږ سوه کړه، موږ ورته وويل: ((يوه دانه دوه سوه، خو دولس دانې درڅخه اخلو.)) ده سره هم جوړ نه شو، کله چې له دکانه راووتو، څو دکانه راغلو، نو يو شاګرد يې راپسې راولېږه، بېرته لاړو، بيـا چنـې چنې شوې، خو په پای کې مو يو دانه پـه (درې سـوه) کلـدارې تـرې واخيست. ددې مارکېټ د هټيوالو ترمنځ سره له دې چې ظاهري رقابت ښکاري او هر يو دې خپل دکان ته کشوي، خو په عمومي نرخونو او په دې کې چې پېرودونکی ترې اخر تش لاړ نه شي، ټول پټه همغږي لري. دې مارکېټ کې (شله توب) دومره زيات دی، لکه په (پېښور) کې چـې کله هم د سورلۍ موټر روان وي، نو کلينر سورلۍ والا په غېږ کې خېژوي او ډېر حرمت يې کوي، خو د کښته کېدو پر وخت د يوې سپورې خبرې ترڅنګ کله کله يوه لغته هم ورپسې حواله کړي. سره له دې چـې پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هند کې ګڼې داسې مغازې او مارکېټونه شته چې هلته د چنې وهلو کلتور نه شته، لکه ستي واک (City Walk) او نورو کې،



نرخونه ثابت دي عیناً غربي کلتور حاکم دی، خو د هغوی برعکس بیا ځینې داسې نور مارکېټونه شته، لکه پلیکا بازار، مینا بازار، سروجني نګر، لجپتنګر، زوړ ډیلی او ځینې نور چې ثابت نرخونه په کې نه شته. دا چې دې ډول مارکېټونو ته ولې ډېر خلک راځي، ددې یو علت دادی چې پېرودونکي کولای شي، په ازاد زړه او خپله خوښه، د خپلې خوښې شی په ارزانه او مناسب قیمت ترلاسه کړي. که څه هم ددې مارکېټونو د اموالو کیفیت چندان ښه نه وي، خو قیمتونه یې تر ډېره حده د پېرودونکي له خوښې او جیب څواک سره مناسب وي. په پلیکا بازار کې مو نوره ګڼه سودا هم وکړه او بیا د خپل استوګنځي پر لوري وخوځېدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په ډیلي کې وروستۍ شپه

د ماښام تر ډوډۍ وروسته په اتاق کې ټول د خپلو شیانو پر انتظـام مصروف شو. ما خپل دوه بیکونه برابر کړل، ټول (۳۵) کیلـو شـاوخوا شول، یو وړوکی بیک مې د لاسي بیک په توګه هـم لـه ځـان سـره د اخیستو په نیت برابر کړ، کله چې ټول د کالیو له ځای پرځای کولو بېغمه شو او لاندې رسپشن کې مو هم د سهار د تګ وخت فکس کړ، نو تـول بېرته خپلو اتاقونو ته راغلو، هوټل والا وویل: ((سهار ټیک څلور بجې به تاسو ته د هوټل مخې کې موټر ولاړ وي، ټول باید پر همدې ټایم ویښ او تیار اوسئ.)) موږ اوو تنو افغانانو: [زرغونې پوپل، نذیرې هاشمي، نثـار احمد بخشي، فرهاد، اسد ساحل، اجمل فدایي او مـا (یـون) ] خپلـې غوټې منظمې کړې او ټولو وتللې، د ښـځینه وو دوو هغـو غـوټې تـر څلوېښتو کیلو زیاتې وې، ما ورته وویل: ((ځئ په هوایي ډګر کې به یو بل سره مرسته وکړو، د چا چې وزن کم و، هغه بل سره به مرسته کوي.))

اسد ساحل او اجمل فدایي زما اتاق ته راغلل، له محبـوب صـیب او ښاغلي انګار سره مو ګپ شپ پیل کړ. لومړی مو پر فرهنګـي مسـایلو بحث وکړ، ما انګار صیب ته وویل: ((د فرهنګي خدمت لپاره تر ټولو ښه معیار کار دی، تر هغه چې چا کار نه وي کړی، باید د خدمت دعوې ونه کړي.

یو شمېر لیکوالو کار ته کار ویلی، خپل کار کوي، د چا خبرو پسې نه ګرځي یو شمېر نورو بیا دې ته کار ویلی چې په نورو پسې څنګه خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي، خپله کوم تولید نه لري، غواړي نورو سره ځان په تله کې واچوي او په دې ډول په اصطلاح ځان مطرح کړي.)) محبوب وویل: ((تر څو چې دا ځینې لیکوال مکیوال له قبیله یي ذهنیت څخه ځان و نه باسي، دنیا ونه ګوري، ځان او دنیا مطالعه نه کړي له دوی څخه څه نه جوړېږي، پر همدې تاویلې ما ویلې به وخت تېروي، زه خو نور دې لیکوالـو سـره د خبرو وخت نه لرم او نه پرې خپل وخت مصرفوم.)) انګار صیب هم همدا خبره کوله چې: ((باید یو اساسي کار وکړو نور نو دنیا سره په دې خبرو مقابله نه شو کولای، دا ځل خو زما زړه دی چې خوست ته لاړم، اساسي کار ته ملا تړم.)) محبوب ورته وویل: ((ځان باید ماډرن کـړو مـاډرن)) انګار وویل: ((یاره زما زور چې رسېدلی ددې یو څو تنو لیکوالو سابه خو مې په مالګه کول.))؛ محبوب ته یې څنګزنې اشاره وه. محبوب وویـل: ((زه نوره خپله انرژي له وروسته پاتې خلکو سره نه مصرفوم، زه غواړم د نړۍ ادبیات مطالعه کړم، زه غواړم په انګرېزۍ او هندۍ کې مې لیکنې چاپ شي چې په ملیونونو خلک یې مطالعه کړي، هـم د ژونـد، هـم د شهرت او هم د کمال خاوند شم. دا په ننګرهار او خوست کې څو تنـه هسې په تاویلو ما ویلو انرژي مصرفوي...)) د انګار او محبوب خبرې ورو ورو د ټکر خواته رواني وې، یو وخت خبره ډېر ترخه حالت ته ورسېده، خو مورږ کوښښ وکړ چې د ډېر تریخوالي مخـه ونیسـو. تـر فرهنګـي مسایلو وروسته مو یوه پنجه سیاسي بحث هم وکړ، خو پـه هغـه کـې دومره اختلاف پیدا نه شو. محبوب سره مو ټوکه کوله، مورږ ورته ویـل: ((وارخطا کېږه مه ژوند درته جوړو.)) هغه بیاوویل: ((یاره تاسـو بیـا دا خبرې کوئ زه خپله ژوند نه شم جوړولای؟ زه چې څومره د ژونـد پـه خوند پوهېږم او ځان سره کوم پلان لرم، هېڅوک یې هم نه لري، سړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو چاته نه وایي چې زما پلان څه دی، زه نه غواړم چې هرڅوک زما د ژوند په باب خبرې وکړي، زه خو څه Subject (مضمون) نه یم چې هر سړی مې سپړي.)) محبوب ته مو وویل: ((ښه اوس دا باب پرېږده، دا وواېه چې افغانستان ته بېرته راځې که نه؟)) هغه وویل: ((وبه ګورم چې چېرته زما هنر غوړېدلای شي؟)) له محبوب او انګار صیب سره دا ګرم بحث ټوله شپه دوام وکړ، د شپې مو هېڅ خوب ونه کړ، ان تر هغه وخته چې سهار وختي څلور بجې له رسپشنه زنګ راغی چې ځانونه تیار کړئ!.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له ډیلي نه تر کابله

سهار څلور بجې ټول تیار شو، د راني کیستال هوټل مخې ته پلنکوچ ته ورته یو موټر ولاړ و، زموږ د اوو تنو د کالیو او زموږ د ځایونې وړتیا یې درلودله، ټول په موټر کې سـواره شـو، خـو مخکـې تـر دې د هوټـل رسپشنست د خپل یادښت یوه کتابچه د خپل دفتر د مېز پر سر موږ ته کېښوده، چې یو یادښت ورته ولیکو. هر چا لنډ لنډ یادښت ولیکه، مـا هم څو جملې ولیکلې او په هغه موده کې چې موږ دلته اوسېدلي وو، په هغې کې مې د دوی له چلند او مېلمه پالنې څخه خوښي څرگنده کړه او مننه مې ترې وکړه، خو زموږ ځینې انډیوالان ترې دومره خوشاله نه وو او گیلې یې ترې لرلې. پنځه لس دقیقې تر څلورو تېرې وې چې موټر حرکت وکړ.

له انگار صیب او محبوب صیب سره مو همدلته خدای پاماني وکړه او موټر د هوایي ډگر پر لوري حرکت وکړ. سهار وختي و، په سړکونو کـې گڼه گوڼه نه وه، موټروان په خپله طبعه حرکت کاوه، پنځه بجې وې چې د اندراگاندي نړیوال هوایي ډگر ته ورسېدو. د خپلو بیکونو لپـاره مـو لاسگاډي راواخیستل، هر چا خپل خپل بیکونه ځای پرځـای کـړل، د دریېیم وره (گېټ) له لارې ټرمینل ته داخل شو. په ترمینل کې هم گڼه گوڼه نه وه، هر څه د پلان مطابق ترسره شول، یوازې د تلې پـر وخـت زموږ د ډلې د یوې غړې (مېرمن نذیرې هاشمي) بیکونه درانه وختل او تلونکي هغې ته ډېره ستونزه پیدا کړه، هغه شخص سره ما خبره وکړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ما ورته ويل: ((زه به درته يو څه شيرني درکړم، دا مېرمن اوس نه شـــي کولای دا شيان کم کړي.)) هغــه وويــل: ((خيــر دوه زره کلــدارې دې راکړي)) ما ويل هغه پيسې نه لري، زه ورسره مرسته کوم، نو بيا يې ما ته وويل: ((خير ته يې راکړه.)) ما ورته وويل: ((درکــوم يــې خــو دومــره**




**نه.)) پنځه سوه کلدارې مې ورته لاس کې کېښودې، بيک يې تېر کــړ، وروسته بيا راغی، ماته يې وويل: ((دا خو کمې دي)) مــا ورتــه وويــل: ((گوره دا پيسې ما درکړې، هغې سره نه شته.)) دې سره سړی غلی شو، نور څه يې ونه ويل. تر دې چکه چې تېر شو، نو (مېرمن نذيرې هاشمي) د راحت احساس وکړ، ما ورته وويل: ((نور خو څه مشکل نــه شــته؟)) هغې وويل: ((ډېره منه کور دې ودان!)) د خروجي وېزې تر چکه هم تېر شو، ټول کارونه په نورمال ډول ترسره شول او هېڅ مشکل په کې پيدا نه شو، وروستي ترمينل ته ورسېدو، د همدې ترمينل خولې تــه مــوټر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځي او مسافرین بیا تر الوتکې رسوي. تر دې وخته بــه نــږدې یــونیم ساعت وخت لګېدلی وي، ساعت نږدې شپږ نیمې بجې و، په دې هــال کې مسافرین ښه ستړي ستومانه سره ناست وي، چا پر څوکۍ سر ایښی وي؛ ویده وي، څوک کتاب او یا اخبار لولي، څوک خپل لیپټاپ کمپیوټر ته ناست وي، څوک ګرځي، په دې هال کې د خوراک او څښاک شیان هم پرېمانه دي، خو د اور په بیه، د سوغاتونو د خرڅلاو دکانونه هم پــه کې زیات دي، خو هر څه په کې ښه قیمته دي. دلته مې ماشومانو تــه بسکېټونه او نور خوراکي شیان واخیستل، تر اتو بجــو همدلتــه اخــوا دېخوا وګرځېدو، یو شمېر افغانانو سره مې هم وکتل چې یــا هنــد تــه راغلي وو او یا هم له نورو هېوادونو څخه د هند له لارې افغانستان تــه تلل. څو دقیقې تر اتو تېرې شوې چې د ترمینل له وروســتۍ خروجــي دروازې ووتو، په یوه لوی (۳۰۳) ته ورته ګاډي کې کېناستو او د الوتکې پر لوري مو حرکت وکړ. تقریباً نیم ساعت وخت یې ونیو چې الوتکه الوتو ته چمتو شوه. هوا او فضا ښه وه، د الوتنې پر وخت الوتکــه لــه کــومې ستونزې سره مخامخ نه شوه، کله چــې هــوا ښــه نــه وي، د هنــد او افغانستان د هوایي چلند الوتکې دومره غرزېږي، لکه چکله موټر چې په خامه سړک کې روان وي، خو دا ځل د خدای په فضل په ارامه توګه تر کابله را ورسېدو، خو کابل کې بیا هوا باراني وه، د کابل پر وخت څه کم لس بجې وې چې الوتکه پر هوایي ډګر کښته شوه، نــوي ترمینــل تــه

(c) ketabton.com: The Digital Library






داخل شو. اکثرو ته خپل خپلوان د هرکلي لپاره راغلي وو، په تېره بيا (مېرمن زرغونې پوپل) او مېرمن نذيرې هاشمي) ته چې دا دوه مياشتې يې له خپلې کورنۍ څخه لرې په مسافرۍ کې تېرې کړې وې. مېرمن نذيرې ته يې خپل کوچنی زوی هم راغلی و. نذيرې هاشمي ماته پنځه سوه روپۍ ونيوې چې ما ددې په خاطر هند کې کمېشنکار ته ورکړې وې، ما ويل نه يې اخلم، دا دې ستا ددې کوچني زوی تحفه وي، د هغه پر سر مې لاس کش کړ او د خپل کور پر لوري رهي شوم. په کور کې مې نو ماشومان راته سخت په انتظار وو، کله چې مې دروازه ټک ټک کړه، نو ټول راغاړې وتل، (ودان) او (سوله) په غاړه کې راولوېدل، (هيله)، (سمسور) او مور يې لږ لرې ولاړ وو، ودان او سوله خو مې څو شېبې غېږ کې ونيول، ستړيا مې ووته، کله چې مې له غېږې کوز کړل، نو سملاسي يې د خپلو تحفو پوښتنه وکړه، ما نو د دوی ټول فرمايشونه، چې په


(c) ketabton.com: The Digital Library



ټلېفون کې يې راته ويلي وو، يو په يو پوره کړي وو، د هغو په ليــدو نــو دوی دومره خوشاله شول چې حد نه لري، خو دې سره سره يې انتقاد وکړ: ((ډېر وخت دې تېر کړ، موږ ته دې دروغ ويلي وو؛ اول دې ويلي وو چې پنځه شپږ ورځې تېروم، بيا دې دوه مياشتې تېرې کړې، ممي جان (مور) مې درته ډېره په قهر وه، بيا به دومره وخت نه تېروې!)) ما وويل: ((بس ببخي يې نه تېروم)) خپلې خونې ته لاړم، دې سره نو زما دا سفر چې له همدې خونې پيل شوی و، تر دوه مياشتني واټن وروسته بېرتــه همدې خونې ته په راتګ سره پايته ورسېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



# درې ورځې د افسانو

# په وطن کې

# (یونلیک)

## محمد اسمعیل یون

۱۳۹۴ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه


کتابنوم: درېِ ورځې د افسانو په وطن کې

لیکوال: محمد اسمعیل یون

خپرندوی: د ملي تحریک فرهنګي ټانګه

د خپرونو لړ: ۹۱

د لیکوال د خپرونو لړ:۳۷

وېبپاڼه: www.melitahrik.com

چاپکال: ۱۳۹۴ل کال

کمپوز/ډیزاین: فیاض حمید


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

## ټولو هلمندوالو ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تحریک یادښت

د افغانستان ملي تحریک د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریک دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترځ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحریک په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریک ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملی کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریک هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحریک له ټولو هغو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور وداني ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله
د افغانستان ملي تحریک فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# استاد یون او دا یونلیک

ځینې داسې لیکنې شته چې په لوستلو یې د انسان زړه ته یو ډول سکون راځي، زړه کې ورته خاندي او لوستل شوې خبرې پرې خـوږې لګي.

لیکنې په خپل ځان کې بېلابېل ډولونه لري، خو تر ټولو خونـدورې یې هغه دي چې ښکلی تصویر او ښه پیغام ولري.

د استاد محمد اسمعیل یون یونلیک چې پر هلمند یې لیکلی او دلته یې پر بېلابېلو برخو خبرې کړي دي، خپل لوستونکي ځان سره ګرځوي او د هلمند بېلابېلو سیمو ته یې وړي، لوستونکی داسې فکر نـه کـوي چې لیکنه لولم، بلکې داسې احساس کوي چې له یون صیب سره څنګ په څنګ په هر مجلس او د هلمند په هر بنډار کې ګډون لري.

د عربي ژبې د یوې معقولې ژباړه ده: (( د خبر اورېـدل د سـترګو د لیدلي حال په شان نه دی)). په دري کې هم متل دی: ((شنیده کی بود مانند دیده)).

د هلمند په اړه د هېواد ځینې خلک په خپل ذهن کې بل ډول انځور لري، اکثره خلک یې په اړه منفي فکر کوي، هلمند د وحشت ځای بولي، هلمند کې انسانیت تر پښو لاندې ګڼي او حتی دغه ولایت ته د راتلـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه هم نه ښه کوي، خو کله چې هم د هېواد له هرې برخې څوک هلمند ته راغلی دی، له خورا خوږو خاطرو سره تللی او بيا بيا يې هلمند تــه د راتګ ارمانونه پر زړه پراته دي.

يون صيب په خپل يونليک کې دغه ټکي ته اشاره کړې ده او وايي: ((زما په شان به ډېرو هېوادوالو او بهرنيــانو تــه هلمنــد يــوه افســانه ښکاري، هغه چا چې هلمند او هلمنديان نه وي ليدلي، نو هغوی بــه د هلمند په باب عجيب او غريب تصور ولري. رسمي او نا رسمي ازادو او نا ازادو رسنيو په وروستيو درې څلورو لسيزو کې د هلمند تصوير خــورا اړولی او را اړولی دی، د جنګ، ويرې، وحشت او وژنــو راپورونــه ددې تصوير مهم رنګونه وو او لا هم ښودل کېږي.))

رښتيا هم هلمند يو شمېر رسنيو افغانستان او نړۍ ته ناسم معرفي کړی دی، د يوې سيمې سمه پېژندنه ليکوال ښه کولای شي او بيا داسې ليکوال چې خپله نوم يې له يون څخه جوړ وي، نو يونليک کې به يــې خود حقيقتونو ته ګوري.

استاد يون چې هلمند ته د هلمند پېژندنې سيمينار په موخه راغلی و، خپل يونليک يې په خورا مهارت ليکلی، لومړيو خبرو کې يې د هلمند په اړه لنډې خو قانع کوونکې خبرې کړي، ورپسې يې د خپل يونليــک مزل د هلمند پېژندنې له سيميناره پيل کړی، هغه څه چې په سيمينار کې ويل شوي او پېښ شوي، ټول يې په ښکلې لهجه او عام فهمه ژبــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رااخیستي دي، هغه لوستونکي که سیمینار کې یې ګډون نه وي کړی، د یونلیک له دغې برخې هم ډېر څه زده کولای شي.

پر سیمینار تر هر اړخیزو خبرو وروسته مو یون صیب په یونلیک کې د توتو مېلې ته ورولي، هلته تر څو شېبو تمېدو وروسته مو د بُست راډیو پر ستوډیو ګرځوي، بېرته مو د خوب په نړۍ کې ورکوي، په ویښېدو مو هلمند کې پوهنیز ډګر ته ورولي په خورا ښکلي الفاظو د شخصي لوړو زده کړو موسسو یادونه کوي، دلته د طب په شان د لوړو پوهنځیو د پټېی د پرېکېدو زېری راباندې کوي او هغه خلک چې د هلمند جنګ ځپلـــی تصویر یې پر فکر خپور دی، د دې یونلیک لوستل ورته د یوې اســـماني معجزې په شان ښکاري.

استاد یون تر دې وروسته خپل لوستونکي ځان سره د هلمند شنې او ښېرازه ولسوالۍ (نادعلي) ته ورولي، هسې خو هم هلمند د کرنې له پلوه غني ولایت دی، شنې شنې ورشوګانې لري، داسې شـــنې ســـیمې لري چې د انسان زړه او روح ته خوښي، سکون او ارام ورکوي، خو یون صیب بیا دغه منظره په داسې هنري ډول په خپل یونلیک کې انځوروي چې لوستونکي ته کټ مټ د سیمې تصویر ودروي او داسې فکر کـــوي چې په خپلو سترګو عکاسي کوي: (( سهار لس بجې وې، چې د ښار له څنډو په هغه پله پورې وتو چې لښکرګاه ښار له (نـــادعلي، مـــارجې او ګرمسېر) ولسوالیو سره وصلوي، سړکونه د خدای( ج) په فضـــل تـــول

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پاخه شوي وو، ولسوالۍ ته غځېدلې لار هـم پـه ښـه او اساسـي ډول رغېدلې وه، د پاخه سړک ترڅنګ کېندل شوي نهر د یو عصري تمدن مظاهره کوله.))**

**یون صیب د هلمند له واقعي تصویر پرده پورته کوي، نادعلي ته پـر لار شنه سیمه دومره اغېز پرې کوي چې خپل قلم نه شي مهارولی او بې اختیاره خپلو لوستونکو ته د سیمې ښکلا داسې تصـویروي: ((نـږدې پنځلس کیلومتره مزل به مو کړی و، هوارو، پراخو او ښېرازو ځمکو چې په ونو او شینلو پوښلې وې، عجیبه منظره جوړولـه، سـړي چـې نـور وچکالۍ ځپلی او شاړو نیولی افغانستان لیـدلی وي، نـو د هلمنـد دا ولسوالۍ ورته داسې ښکاري چې د ختیزې اروپا کومه سـیمه ګـوري، نیمه میکانیزه زراعت یې هغه چاته خورا خوند ورکوي چې، له شینلیو او کرنیزو مسایلو سره لېوالتیا لري.))**

**دغه راز یون صیب نادعلي ولسوالۍ ته په رسېدو او هلته په بېلابېلو غونډو کې تر برخې اخیستو وروسته د دغې ولسوالۍ پر پوهنیز بهیر تم شوی دی، بېرته یې خپل لوستونکي لښکرګاه ته رارسولي دي.**

**دا چې یون صیب په دې وروستیو کې ډېر بوخت دی طبیعي خبـره ده چې له بوختیاو سره روږدی شوی دی او له بلې خوا خـروار کارونـه ورته ګوري چې باید یون صیب یې ترسره کړي، نو هلمند ته د خپل سفر پر مهال یې هم د ساتیرۍ بنداړونه نه دي کړي، بلکې پر بېلابېلو سیمو،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادارو او مرکزونو ګرځېدلی دی، ځوانانو، خبریـالانو، ممثلینـو او نـورو خلکو ته یې لارښوونې کړې دي، د ښه کار کولو لارې یــې وروښـودلې دي، د دوی ستونزې یې اورېدلې دي او. . .

یون صیب چې د ملي تحریک مشر دی او د یوې سترې مبـارزې د پېلېدو له برکته یې د هېواد په لر او بر کې د خلکو په زړونو کــې ځـای نیولی، هلمند کې هم هر چا علاقه لرله چې له استاد سره ووینې، نو د تحریک ځینې ملګري ورته د مبارزې همسنګرو سره یو ځای د هلمند مدني ټولنې په دفتر کې راټول شوي وو، له دوی سره یې لنډې خبــرې کړې دي، چې دا هم د یونلیک یوه برخه ده.

رښتینی انسان رښتیا وایي او رښتیا ویل یې عادت وي، یون صیب چې کله په خپل یونلیک کې لوستونکي د لښکرګاه پر واټونو ګرځوي، ټولې خبرې سپینې سپینې کوي، رښتینی تصویر وړاندې کوي، دلته د لوړو زده کړو خصوصي موسسې ته له نورو استادانو او لیکوالو سره یــو ځای ورځي، بُست پروډکشن، سباوون راډیــو تلویزیــون او نــورو ګڼــو علمي، او رسنیزو دفترونو ته ورځي، ملګرو ته ډاډ ورکوي، مرکې ورسره کوي او د یو ښه استاد په توګه لازم ګڼي د هلمند له هرې برخې ځــان خبر کړي چې استاد یې یو وخت د لیدو ارمان لاره، خــو خــدای (ج) د استاد دغه ارمان له ډېرو خوږو خاطراتو سره مل پوره کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ټوله کې د استاد یونلیک ډېر ساده او په زړه پورې دی، تر ټولو ښه ځانګړنه یې دا ده چې د هلمند رښتینی انځور یې را اخیستی او پر هغو رسنیو یې نیوکه کړې چې کلونه کلونه یې د هلمند پر وړاندې د خلکو ذهنیت او فکر ته ناسم تصویرونه وړاندې کړي دي. دغــه راز اســتاد د هلمند د ځوانانو پر وړتیاوو خبرې کړي دي، خلکو ته یې د ښه پرمختګ زیري ورکړي دي، هلمند یې له ختیزې اروپا سره تشبه کړی دی، دلته یې د لوړو زده کړو د موسسو او پوهنتونو پر فعالیتونو هغه خلک حیران کړي دي چې د هلمند په اړه یې پر ذهن ناسم تصویر خپور دی.

استاد یون په هلمند کې تر (۴۸) ساعتونو کم وختت تېر کړ، خو په دې یاده موده کې یې قلم له ګوتو لرې نه کړ او دغه یونلیک یې د کــار محصول دی. دا د هر چا په وس پوره خبره نه ده چې په دومره لنډه او تنګه موده کې دې هم خلکو سره ملاقاتونه وکړي، هــم دې بېلابېلــې سیمې او علمي مرکزونه وګوري او هم دې داسې یو یونلیک ولیکي چې هم د ماضي تصویر وړاندې کړي، هم دې د نن او ســبا لپــاره پیغامونــه ولري او هم دې د حال منظرې وکاږي. د استاد یون په شان له یو کاري انسان څخه همدا هیله کېدی شي، کاشکې ده په هلمند کې ډېر وخت تېر کړی وای، چې هېوادوالو ته یې د هلمند نور لا ښه او لا ډېر تصویرونه وړاندې کړي وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پای کې استاد ته اوږ عمر غواړم او دا د هلمندیانو لپاره ویاړ بولم چې د استاد محمد اسمعیل یون پــه څېــر ډېــر لــوی لیکــوال، سیاستوال او قدرمن مېلمانه یې له خوږو خاطراتو ســره لــه هلمنــده رخصت کړي دي، هلمندیان یې د بیا بیا راتلو هیله او تلوسه لري.

په درناوي

سردار محمد همدرد

هلمند – ۱۵/۳/۱۳۹۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یادونه

ژوندپه خپله یو سفر دی، پیل او پای لري، دا سفر که لنډ او کله لــږ شان اوږد و، کله ستړی او کله دمه وړی وي، زمانه ډېره تېزه روانه وي، چاته نه ګوري. هلمند د هېواد د یوې اساسي څانګې په توګه پر ما خورا ډېر ګران دی، خو زما په تېر (۴۷) کلن ژوند کې تر دې دمه یوازې یو ځل ددې جوګه شوم، چې هلمند ته ورشــم او هلتــه یــوازې (پــاوکم درې ورځې) تېرې کړم، دا که څه هم ډېر کم وخت دی، خو ماته یې د هلمند پېژندنې یوه دریڅه رابېرته کړه. په درې ورځو کې مې چې څه ولیدل او څه وکتل، ماته خورا په زړه پورې وو، هغه مې د زماني د یوې خاطرې په توګه په دې یونلیک کې ځای کړل، طبیعي خبره ده چې هلمند ته زما تر درې ورځیني سفر دمخه هم هلته ډېرې پېښې، پېښې شــوي او تــر سفر وروسته لا هم ډېرې نورې پېښې، پېښې شوې، په خواشینۍ سره چې ځینې یې ډېرې دردونکې هم وې، د هلمند د ښېرازۍ لپاره چې زما په زړه کې څه هیله وه، هغه لاهم نیمګړې پاتې ده، لا هم په هلمند کې د غم ټغر خور دی. اوس چې خپل ځان او خپل هېواد ته ګورم، ځان ډېر بېوسه او بې کسه احساسوم، خپلو مظلومو هېوادوالو او په تېره بیا خپلو غمځپلو هلمندوالو سره د لاسنیوي لپاره مې هېڅ په لاس کې نه شته، یوازې احساس لرم او درد او د قلم څو توري، غواړم خپلو هېوادوالو سره خپله همدا یوازېنۍ پانګه شریکه کړم، هیله لرم د سفر دا یادښــتونه د هلمند د خپل دغه مهال انځورونه او خاطرې له یوه پښت څخه بل تــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتقال کړي او خدای(ج) دې داسې وخت هم راورسوي، چې په ښکلي او سمسور هلمند کې نورې د ویر ساندې نه وي، د غم تغر خور نه وي او د سوکالۍ ورېمې او نغمې هرې خوا ته خورې وي.

د همدې هیلې د بریا لپاره د دعاګانو لپې

محمد اسمعیل یون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درې ورځې د افسانو په وطن کې

## سریزه

هلمند د کیسو او افسانو، تورې او مېړانې، جنګ او فرهنـــګ وطــن دی. په فرهنګي برخه کې هلمند ډېر تاریخي ویاړونه لري، د امیر کروړ



ویاړنه، د اکبر زمینداوري غزلونه، د ابو هاشم سرواني منظومه ژباړه، د شیخ اسعد سوري بوللــه، د زرغون خان نورزي ساقینامه، د رابعــې او فتح خان، د موسی جان او ګلمکۍ نکلونه او نور ټول د هلمند د ادبــي چاپېریال محصول ګڼل کېږي. مساحت یې د افغانستان تر هر بل ولایت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځخه زیات دی. د لویوالي له مخې په نړۍ کې تر نړدې لسو هېوادونــو لوی دی. د شینوالي له مخې هم په لومړۍ درجه او د دښتو د پراختیا له مخې هم په لومړۍ درجه کې راځي. نفوس یې تر یو نیم ملیون تنو اوړي (شاوخوا دوه میلیونه)، خو رسمي شمېرنو د سیاسي غرضونو له مخې دا شمېره د (۹–۱۰) لکو ترمنځ ښودلې ده. زما په شان به ډېرو هېوادوالو او بهرنیانو ته هلمند یوه افسانه ښکاري، هغه چا چې هلمند او هلمندیان نه وي لیدلي، نو هغوی به د هلمند په باب عجیب او غریب تصور لــري. رسمي او نارسمي، ازادو او نا ازادو رسنیو په وروستیو درې ځلور لسیزو کې د هلمند تصویر خورا اړولی را اړولی دی، د جنګ، وېرې، وحشت او وژنو راپورونه ددې تصویر مهم رنګونه وو. او لا هم همدارنګــه ښــودل کېږي.

طبعاً هر څوک چې ددې رنګونو په هنداره کې هلمند ګوري، نو لــه هلمنده ځان لرې ساتي، د یوه ساده خو متدین، د یوه غمځپلــي خــو باغروره، د یوه جګړه ځپلي خو باتمدنه ولس برخلیک تل همداسې وي. ما چې د هلمند د پخواني برم څه ناڅه مطالعه لرله، نو پر هلمند باندې د راغلي وروستي څو لسیز ناورین ناخوالو خورا ډېر ځورولم. زمانې موږ په داسې یو موقعیت کې ودرولي یو چې له ځان ځورونې، اوسېلي ایستنې او ځان کړونې پرته نور هېڅ نه شو کولای. هلمند ته ډېر ځورېدلم. پــه وروستیو لسو کلونو کې چې هلمند د پرمختګ او بــې رحمــه جګــړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شاهد و، نو څو ځله مې هیله او اراده وکړه چې هلمند ته سـفر وکـړم، رسمي او نارسمي بلنې ډېرې راغلې، خو چانس او بخت یاري ونه کـړه! هلمند ته مې سفر ونه شو.**

**کله چې (ژوندون ټلوېزیون) جوړ شو او نشرات یې پیل شول، نو ما د ژوندون یو کاري ټیم دوه ځلـه هلمنـد تـه ولېـږه، چـې د هلمنـد او**



**هلمندیانو پرمختګ او د ژوند پرحالاتو مثبت راپورونه جوړ او د ټلوېزیون پر څپو یې خپاره کړي. ددې پروګرامونو هـدف دا و چـې هېـوادوال د هلمند له پرمختګه خبر شي او خلکو ته د هلمنـد یـو مثبـت تصـویر وړاندې شي. د ژوندون کاري ټیم د هلمند په باب نږدې (۳۰) راپورتاژونه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**برابر کړل چې هر یو یې د هلمند د خلکو د ژوند د پرمختـــګ یـــو اړخ روښاناوه.**

**ددې راپورتاژونو په خپراوي سره ګڼ شمېر هېوادوالو تلوېزیون تـــه زنګونه ووهل او موږ ته یې وویل چې هلمند څنګه ښکلی ولایـــت دی. دلته خو په رسنیو کې له هلمند څخـــه یـــوازې دغـــم او درد خبرونـــه خپرېږي. ډېرو خلکو هیله څرګنده کړه چې کاشکې هلمند ته لاړ شي. د خلکو له هیلو سره زما هیله نوره هم وغوړېدله، له همغې ورځـــې مـــې وپتېیله چې دا ځل په هلمند کې هر پروګرام و، نور ټول کارونه به یوې خواته پرېږدم او ضرور به ځم او بیا داسې وخت راغی چې هلمند تـــه د سفر علت او اسباب برابر شول.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هلمند پېژندنه

(هلمند پېژندنه علمي سيمينار) زموږ د سـفر اساسـي علـت و. د هلمند د اطلاعاتو او کلتور رياست، د هلمند ولايت مقام، د اطلاعاتو او کلتور وزارت او نورو اړوندو څانگو په گډه ددې سيمينار تابيا کړې وه.که څه هـم هلمنـد فرهنگيـان وايـي: ((يـاد سـمينار اساسـاً دهلمنـد



فرهنگ پالو له لوري جوړ شوی، د ولايت مقام په لومړي کي زړه نا زړه و اونه يې غوښتل چي د سيمينار لگښت اودمېلمنو درنې مېلمه پالنې ته زړه ښه کړي او په دې نازک امنيتي حالت کي دهېواد د دومره مشهوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځیرو کوربتوب وکړي، خو دهلمندي فرهنګپالو پرله پسې فشـارونو د ولایت مقام دې ته مجبور کړ چې یوازې دمېلمنو کوربتوب او د ټولګې دچاپ لګښت ومني)) طبیعي خبره ده چې د سیمینار جوړونکي تر ځو میاشتني کار او هلو ځلو وروسته خپل اساسي هدف ته نږدې کېدل. د یوې میاشتې په بهیر کې ماته ځو ځله له هلمند څخـه د اطلاعـاتو او**



**کلتور رئیس ښاغلي(علیشاه مظلومیار) ، د مدني ټولنې مشر ښـاغلي (سردارمحمد همدرد)، د اطلاعاتو او کلتور وزارت مرسـتیال ښـاغلي (غلام نبي فراهي)، د هلمند فرهنګیانو او ګڼو دوستانو لـه خـوا ګـڼ شمېر ټلېفونونه راغلل او زیات ټینګار یې وکړ چې ضرور بایـد پـه دې سیمینار کې ګډون وکړم. ما هم ورسره ژمنه وکړه، په دې زماني بهیـر کې مې هره ورځ زړه درب درب کاوه چې بیا کوم داسې بېړنی کار پیدا نه شي او هسې نه چې بیا مې د سفر مخه ونیسي. د سفر نېټه ورځ پـر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ورځ رالنډېده، خو ښه و، خدای(ج) دا ځل ټولې موانع په خپل فضل او کرم لرې کړې. نیت مو و چې که سفر پیلوو، نو د ژوندون له نورو ملګرو سره یوځای به یې د ژوندون له انګړه پیلوو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سفر پیل

د (۱۳۹۳ ل) کال د غویي (۳۱)مه نېټه سهار وختي پاڅېدم. اودس او لمونځ مې وکړ، ډرېور او امنیتي ساتونکو ته مې ویلــي وو چــې ســهار (پنځه بجې) ما پسې کور ته راشئ، هغو پر خپل ټــاکلي وخــت پــه زړو مکروریانو کې زموږ د استوګنې بلاک مخې ته ولاړ وو. شل کم شپږ بجې ژوندون ټلوېزیون ته ورسېدو. هلته د سفر نور ملګري (ســراج الــدین پټان، استقلال الکــوزی) او دوه کمــره میــنــان (فهــیم او نجــیم) هــم



حاضر وو. د سفر غوټې یې تیارې کړې وې. څو دقیقې په ټلوېزیون کې تم شو. خپل کارونه مو منظم کړل، (شپږ) بجې او (پنځوس)دقیقې لــه ټلوېزیون څخه د هوایي ډګر پر لــوري وخوځېــدو. (اوه) بجــې هلتــه ورسېدو. بوډینګ پاسونه مو واخیستل، هلته مو د سفر نور ګڼ شــمېر ملګري ولیدل. هغه دوستان چې له کابله په هئیت کې شامل وو په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library





**ډول وو: د اطلاعاتو او کلتور وزارت مرستیال (پوهنمل غلام نبي فراهي) د ملي راډيو ټلوېزيون رييس (محمد زرين انځور)، د علومو اکاډمي غړی**



**(حبيب الله رفيع)، استاد (محمد اصف صميم)، ليکـوال او د سياســي چارو کارپوه (محمد حسن ولسمل)، د سيمه ييزو مطالعو د مرکز رييس (څېړندوی عبدالغفور لېوال)، د علومـو اکـاډمی غـړی (عبـدالظاهر شکيب)، د کابل پوهنتون استاد (پوهندوی لال پاچا ازمون)، د ژوندون ټلوېزيـون خبريـال (سـراج الـدين پټـان)، ليکـوال او ژورناليسـت**

(c) ketabton.com: The Digital Library



(عبدالاحمد محمدیار)، د سیاسي چارو کارپوه (توپان وزیری)، د علومو اکاډمۍ غړی (محمد نبي صلاحي)، لیکوال (فدا محمد نظري)، لیکوال (نجیب احمدزی) او یو شمېر نور دوستان شامل وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# الوتکه او مرکې

(اوه) بجې وې چې الوتکې ته پورته شو، افغان جټ الوتکـــه، خــورا نوې او پاکه سوتره الوتکه وه، وړه، د دېرش پنځه دېرشو تنو ســـورلیو د ځایونې وس یې درلود. د ژوندون خبریال (سراج الدین پټان) او کمــره



مین (فهیم) چې له پیله یې د یوه تصویري راپورتاژ د جوړونې هوډ کړی و، له خپلې اعیارې کمرې سره د الوتکې په دهلیز کې برچپک ولاړ وو. مایک او کمره دواړه مرکې ته چمتو وو. لومړی یې د اطلاعاتو او کلتــور وزارت مرستیال(غلام نبي فراهي صیب) سره مرکه وکړه، بیا ما (یون) سره، بیا رفیع صیب، لېوال صیب، ډاکتر ځلاند او ولسمل صیب ســره مرکې وشوې. دا به په الوتکه کې د خپل ډول تر ټولو زیاتې مرکـــې وې،

(c) ketabton.com: The Digital Library





چې یوه ژورنالیست په الوتکه کې ترسره کړې. (اوه نیمې) بجې الوتکه له ځغاستلیکې څخه پورته او د هلمند پر لوري رهي شوه، خو مرکو لا هم



په الوتکه کې دوام درلود. پنځه لس کم نهه بجې د هلمنــد پــه بُســت هوايي ډګر کې کښته شو.

ددې هوايي ډګر لیکه د (۵) ملیونه ډالرو په لګښت نوې جوړه شوې، (۱۸۰۰) متره اوږدوالی لري چې له اصلي او نړیوال معیاره یو کیلو متــر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمه ده. خو بیا هم د افغانستان په شان د یو هېواد لپاره او هغه هم پــه ولایتي کچه غنیمت ګڼل کېږي.

غنیمت په دې مانا چې تر دې دمخه خو دا هم نه وه، ښه حالت بــه هغه وي چې دا لیکه خپل معیار ته ورسي او د هوایي ډګر نور تاسیسات هم بشپړ شي. په هوا کې زموږ سفر لنډ او مسترح و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هرکلی

کله چې له الوتکې کوز شو، نو د هلمند د والي (حاجي محمد نعیم) په ګډون، د هلمند ګڼ شمېر دولتي چارواکو او هلمند فرهنګیـانو لـه کابل څخه ورغلي هیئت ته تود هرکلی ووایه. یوې سیمې ته ورتـګ او هلته د خلکو د عمومي چلند لومړنی تصویر همدا د هرکلي شېبې وي. که چېرې دا لومړنۍ شېبې، ښکلې، منظمې، سـمې او لـه صـمیمیته



ډکې وي، نو سړی اټکل کولای شي چې د سفر زیاته برخه به خوږه تېره شي، خو که لومړی تاثر منفي و، نو بیا چې وروسته څومره خـدمات او تشریفات وړاندې کېږي، د لومړنۍ لیدنې ذهني اغېز پرې خپـل رنـګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوروي. هلمند کې موږ ته لومړنی هرکلی خورا صمیمي و. لوکس ګاډي ولاړوو، تول لوړ پوري چارواکي اوفرهنګیان د هئیت د هرکلـــي لپـــاره چمتو وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بُست مېلمستون

په هوايي ډګر کې تر هرکلي وروسته، هر څـوک لـه يـو مسـول او لاربښود کس سره په ګاډي کې کېناستل. تر اوو اتو دقيقو مزله وروسته بُست مېلمستون ته ورسېدو. بُست مېلمستون که څه هم ډېر لوکس نه



دی، خو د تاريخي قدامت له مخې يې ارزښـت ډېـر زيـات دی. نـورو هېوادونو ته چې هم کله څوک په يو رسـمي سـفر ځـي، کـه کوربـه هېوادونه غواړي، خپل مېلمه ډېر ونازوي نو تاريخي هوټلونو ته يې بيايي او دوديزه غذا ورکوي.

بُست هوټل يا مېلمسـتون چـې د اعليحضـرت محمدظاهرشـاه د واکمنۍ پر مهال د هلمند د سيند پر غـاړه ودان شـوی او د هلمنـد د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سیند څېڅې یې د دېوالونو تر څنډو رسي، خورا ښه منظره لــري. زمـــوږ کوربنو ویل، اعلیحضرت چې به کله هلمند ته راته، نو په همدې هوټــل کې به اوسېده، دلته یې خپله مخصوصه خونه هم درلودله. ددې هوټل دېوالونه خورا لوی او سورور وو، اصلي جوړښت یې لــه خــامو خښـــتو رغېدلی، خو وروسته یې د پخو خښـــتو پـــوښ هـــم ورکـــړی دی. ددې دېوالونو ځانګړتیا داده چې په اوړي کې د خونود داخلي هوا یخه او په ژمي کې ګرمه ساتي یانې دا چې دېوالونه د ځینو انسانانو په شان د**



**بېرونۍ هوا او فضا ډېر تابع نه دي، د مقاومت ظرفیت یې لوړ دی او پـــه عادي باد و هوا ډېر ژر نه ګرمېږي او یا په اصطلاح نه احساساتي کېږي. د اوړي په موسم کې دې خونو ته داخلېدل له خوب سره د ملګرتیا مانـــا لري. موږ چې هم دلته راورسېدو، نو هر چا ته خپله خونه معلومه شوه. د ژوندون ملګري چې زما په ګډون (پنځه تنه) وو. په یوه خونه کـــې مـــو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله ځان سره جوړ کړ. څلور چپرکټه په کې پراته وو. ما (یون)، پټان، فهیم او نجیم ته چپرکټونه ورسپړدل، استقلال وویل، زه پر ځمکه څملم. تر لږ ځنډ وروسته پر ما د خوب یوه لنډه څپه راپرېوته، نیم ساعت شکر خوب به مې کړی و، تر خوب وروسته. تشناب ته لاړم پر ځان مې اوبــه تېرې کړې، د انجویي انډیوالانو په اصطلاح (ریفرش) شولم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سیمینار پیل

**له بُست مېلمستون څخه بیا په ولایت کې د سیمینار تر تالاره پورې د موټر ایله دوه درې دقیقې لاره ده، د ولایت مقام ته مخامخ(د استاد بېنوا) تالار ته لاړو، سیمینار په همدې تالار کې جوړ شوی و. له دې تالار څخه د ولایت د مشرتابه د جرګو لپاره هم کار اخیستل کېږي، نو ځکه خو غږیزسیستم په کې تیار جوړ و. د هر چا مخې ته یو مایک**



**ایښی و. شل کم یوولس بجې سیمینار په رسمي ډول پیل شو. د معمول په څېر لومړی د قران کریم د څو مبارکو ایتونو تلاوت وشو او بیا ملي سرود وغږول شو. وروسته والي (الحاج محمد نعیم)) د هلمند پېژندنې یو ورځني سیمینار ګډونوالو ته هرکلی ووایه، ددې سیمینار د جوړېدو، ارزښت، ماهیت، د هلمند او هلمندیانو د وروستیو پرمختګونو، امنیت او نورو مسایلو په باب یې لیکلې خبرې وکړې او د سیمینار ګډونوالو ته یې د بري او په هلمند کې د پاتې کېدو پرمهال د ښه ژوند هیله وکړه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هلمند پېژندنه (لومړۍ برخه):

د والي (حاجي محمد نعيم) تر خبرو وروسته د سيمينار لومړۍ برخه پيل شوه. دا برخه ډېره لنډه وه، يوازې ويناوې په کې وې، چـا کومـه ليکلې ليکنه په کې ونه لوستله، استاد رفيع، استاد محمد اصف صميم، محمد حسن ولسمل صيب او ما (يون) په کې د سيمينار د ارزښـــت، د جوړېدو اړتيا او د پرېکړو پر عملي تطبيق ټينگار وکړ. د ځينو دوستانو خبــرې پــه دې لــومړني بحــث کــې هــم د ســيمينار تــر اصــلي



محوره ووتلې، خو بيا هم په مجموعي ډول خبرې اترې د سيمينار پــر ارزښت راڅرخېدلې. تر دې نږدې يوساعته خبرو وروســته د ســيمينار مشرتابه هئيت وټاکل شو. د سيمينار مشرتابه لپاره (استاد حبيــب الله رفيع) مشر، (استاد محمــد اصــف صــميم) د مرســتيال او (عليشــاه مظلوميار) د منشي په توگه غوره شول، کله چې د سيمينار د مشرتابه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هئیت خپلو مشخصو ځوکیو ته لاړ، نو رئیس؛ استاد حبیــب الله رفیــع وویل:((څرنګه چې د جمعې مبارکه ورځ ده، د ډوډۍ او بیــا د لمانځــه وخت دی، نو موږ د سیمینار لومړنۍ برخه همدلته ختموو، د ســیمینار دویمه برخه چې اساسي برخه ده او په هغې کې به ټول دوستان خپلې لیکنې اوروي، هغه به دغرمې تــر ډوډۍ او د ماسپښــین تــر لمانځــه وروسته پر (۲) بجو پیلوو))، دا پرېکړه یې په غوځ ډول اعلان کړه، مــا پرې غږ کړ، همدغسې قاطع رییس په کار دی.**

**د غرمې ډوډۍ او لمونځ: د (بېنوا) تالار تر څنګ بل وړوکی هال و، ډوډۍ یې همدلته راوړه، ډوډۍ د هلمند ښــاروالۍ لــه خــوا تیــاره**



**شوې وه، تر ډوډۍ دمخه مو هم لــه یــو شــمېر هلمنــدي ځوانــانو او فرهنګیانو سره وکتل، په هلمند کې مو د تېرې تېرې شوې تراژیــدۍ، اوسنۍ غمیزې او راتلونکي حالت په بابد د نظر تبادله وکړه، د هلمند پر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



استحقاق مو خبرې وکړې، په تېــرو دېرشــو کلونــو کــې د هلمنــد او



هلمندیانو پر محرومیت مو بحث وکړ، تر دوه‌ی وروسته نږدې یو ساعت وخت و، موږ بېرته مېلمستون ته لاړو، هلته بیا پر ما د خوب یوه څپــه راغله، کله چې مې دمه راسته شوه، نو ګړۍ یوه نیمه بجه وه، تشــناب کې مې یو ځل بیا پر ځان اوبه تېرې کړې، دوه رکعته مسافرانه لمــونځ مې وکړ، نو چې ټول ملګري راټول شــول، دوه بجــې او پنځــه وېشــت دقیقې شوې، د سیمینار ځای ته چې لاړو، نو پوره دوه نیمې بجې وې.

**د سیمینار علمي یا دویمه برخه:** موږ چې کله دوه نیمې بجې سیمینار ته ورسېدو، نو سیمینار پیــل شــوی و، کلــه چــې بــه (درې

(c) ketabton.com: The Digital Library





تنو) خپلې لیکنې ولوستې، نو بیا لس دقیقې وخت ورکول کېده، چــې ازاد بحث وشي او که چا سره پوښتنې وې، هغه مطرح کړي. په سیمینار کې ښه ازاد بحث وشو، ټولې (۱۳) لیکنې ولوستل شوې. یوازې (توپان وزیــري) او (محمــد یــار یــار) د لیکنــو پــر ځــای خبــرې وکــړې،



چې اکثره یې پر سیاسي موضوعاتو راڅرخېدې، نورو اکثرو لیکوالــو او پوهانو د ټاکل شوې موضوع په باب خپلې لیکنې، چې مخکې تر مخکې یې ترتیب کړې وې، ولوستلې. ځینو لیکوالانو ته چې لیکنې یې خــورا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهمې وې، خو د وخت د کمښت له امله یې لیکنو ته نوبت ونه رســېد. لوستې او نالوستې لیکنې په دې ډول دي:

| د لیکنې نوم | لیکوال |
|---|---|
| ۱ : د هلمند سیند تاریخي، ولسي او | |
| مېکانیزه بندونه | استاد غلام سرور غفاري |
| ۲ : د هلمند سیند ونډه په تمدن کې | استاد شاه محمود حسرت |
| ۳ : هلمند ته داسلام راتګ | محمد اسماعیل شریعت یار |
| ۴ : هلمند په صوره الارض | |
| او مسالک او ممالک کې | مولوي عبدالحمید هلمندی |
| ۵ : ساکان او سیستان | عبدالغفور لیوال |
| ۶ : دهلمند زړه راښکون | محمدنبي صلاحي |
| ۷ : دیو حقدار لیکوال یاد | محمد زرین انځور |
| ۸ : د بُست داستاني ادب | استاد فدامحمدنظري |
| ۹ : د هلمند خاطره | ډاکترفیض محمد ځلاند |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | |
|---|---|
| ۱۰ : هلمند سیند اوځمکو ته ګوابښ | استاد عبدالستار ستوری |
| ۱۱ : هلمند تر تاریخ وړاندې | شریف الله دوست سرواني |
| ۱۲ : د بُست شاه زوی | استاد حبیب الله رفیع |
| ۱۳ : هلمند رسنۍ او دبیان ازادي | عزیزاحمد شفیع |
| ۱۴ : هلمند کې دیورانیمو زېرمې | انجینر توریالی رحماني |
| ۱۵ : د هلمند اقتصادي جغرافیه | استاد عصمت الله نصرت |
| ۱۶ : دهلمندښوونیز بهیر | بهاوالدین |
| ۱۷ : د هلمند سیند اوبه دچا په ګټه دي؟ | توریالی سیستانی |
| ۱۸ : د هلمند لرغوني سیمي او کلاګاني | فرید احمد فرهنګ |
| ۱۹ : هلمند او کاکړۍ غاړې | عزیزاحمد تسل |
| ۲۰ : دهلمند لویه ادې | محمدشفیق ژمن |
| ۲۱ : هلمند په غزنوي دوره کي | بشیراحمد |
| ۲۲ : هلمند په غوري دوره کي | محمدیاسین کریمي(غوري) |
| ۲۳ : هلمند دپوهني په ډګر کي | لالاخان خروټی |

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۴ : هلمندي رسنۍ زین الله ستانکزی**

**۲۵ : هلمند کې دپام وړ عنا صر حمیدالله هیواد**

**۲۶ : هلمندی ګړدود غلام نبي شاکر**

**۲۷ : دکجکي بند تاریخي شالید فضل باري فیاض**

**۲۸ : بېنوا پېژندنه استاد حکمت الله ویاړ**

**۲۹ : هلمند دلرغوني ادب په غېږ کې**

**۳۰ : په منځنۍ ادبي دوره کې دهلمند نومیالي حمیدالله حمیدي**

**۳۱ : د هلمند په ۱۳ کلنه جګړه کې**

**د ماشومانو رواني حالت پوهیالی عبدالمناف فردین**

**۳۲ : هلمند په بریتانیا کې( هلته د هغو سرتېرو لپاره چې هلمند ته دجګړې لپاره راځي هلمند ته ورته سیمه جوړه شوې چې سرتېري له وراندې لا له دا ډول سیمي سره بلدتیا ولري.)**

**۳۳ : د هلمندۍ مېرمنو دژوند ربښتینی انځور نیلا پرهر**

**۳۴ : سویل لوېدیځ ولایت هلمند ته یوه لنډه کتنه هلمندی**

**۳۵ : هلمند دمحمدزیو په دوره کي سردارمحمد همدرد**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۶: د سند - هلمند تمدن زموږ دتاریخ پیلامه    ژباړن: احسان الله ارینزی

۳۷: د هلمند په غېږ کې د لرغوني ادب دوره    خیر محمد همت

۳۸: د هلمند پښتني دودونه    بصیر الحق عادل

ټولې لیکنې تر نږدې (۴۷)لیکنو پورې رسېږي.

په یادو لیکنو کې اکثره لیکنې پر اصلي موضوع څرخېدې، ځینې فرعي او څنګزني موضوعات هم په کې وو، خو په خپله د هلمندوالو



لیکوالو لیکنې د خورا دقت، ستاینې او پاملرنې وړ وې. د هلمند ځوان نسل فرهنګیانو په دې سیمینار کې دا ثابته کړه چې دوی په زغرده د مسایلو، ستونزو، ماضي او حال د سپړلو او راتلونکو احتمالاتو د ارزونې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وس لري. د سیمینار لیکنې دومره په زړه پورې وې چې سړی یې بلـــې خوا ته نه پرېښوده، زړه یې هیله کوله چې ټوله لیکنه باید ولوستل شي.

په سیمینارونو کې چې معمولاً اوږدې لیکنې لوستل کېږي، پر ځینو ګډونوالو د خوب د غلبې راتګ حتمي او معمولي خبره ده، دلته هم پر یوه نیم د خوب یوه څپه راتلله، خو اکثرو ګډونوالو په پوره خوند، دقت او لذت د سیمینار لیکنې واورېدلې. دا د هلمند د هر اړخیزې څېړنـــې، ارزونې، پلټنې، تېر، حال او راتلونکي په باب خـــورا ګټـــور ســـیمینار و، سیمینار مازیګر ناوخته ( شپږ ) بجې پایته ورسېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د هلمند توت

**کله چې سیمینار ختم شو، نو د ملي امنیت رییس ښاغلي (نعیم مومن) چې ددې سیمینار په امنیت ساتنه کې یې مهم رول درلود، مېلمانه د ملي امنیت ریاست ودانۍ ته دعوت کړل، هلته یې د توتو مېلمستیا جوړه کړې وه، توت او شړومبی دواړه تیار وو، نرډې**



**(شپېتو، اویا) تنو ته یې تیارې نیولې و، خورا خوندور توتان وو. دا چې شړومبی مو پرې له پاسه وځښه دا نو بیا بل کیفیت و، ماته یې د لغمان (۳۰-۳۵) کاله وړاندې خاطرې رایادې کړې. کله چې وړوکی وم، نو زموږ کور ته ورڅېرمه د الینګار بهانده سیند بهېده، هلته د سیند غاړې ته د توتو ګڼې ونې وې، توتان به مو وځنډل، د سیند غاړې ته به مو یخ کړل، وبه مو خوړل او کله چې به ورسره شړومبی مل شو، نو هغه به بیا بل خوند و، تر شړومبې وروسته د سیند پر غاړه ترشنه سیورې لاندې او بیا د شنې کبلې له پاسه به مو څادر هوار کړ او بیا به نو د خوب ښاپېرۍ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر ستر ګو د خوب څادر راخور کړ. د ماشومتوب هغه خونـد او د ژونـد اوسنۍ ستړتياوې او غمونه که سره پرتله کړو، نو لکه خـوب چـې لـه ويښې سره پرتله کوې. توتان مو وخوړل، ښه خوند يې وکړ او د زړه لـه کومې مو کوربنو ته دعاګانې وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د بُست راډیو کتنه

**د ملي امنیت ریاست کې د شړومبو تر مېلې وروسته له استاد (عبدالستار ستوري) او د بُست راډیو خبریال(احمد شاه پاځون ) سره د بُست راډیو پر لوري وخوځېدو، تر (۱۵) دقیقو مزله وروسته هلته ورسېدو. بُست راډیو د لښکرګاه ښار د (لومړۍ) ناحیې په یوه دوه**



**پوړیزه ودانۍ کې فعالیت کوي. هلته مو د بُست راډیو مسؤل او د راډیو له نورو کارکوونکو سره چې دا مهال لا هم په راډیو کې وو، وکتل. د بُست راډیو له مسؤل ښاغلي (عبدالسلام ذاهد) څخه مو د راډیو په باب هر اړخیز معلومات ترلاسه کړل. بُست راډیو په مجموعي ډول (۳۰) کارکوونکي او، (۱۸) ساعته نشرات لري او په هلمند کې د راډیو ګانو په جمله کې هغه راډیو ده چې خورا ډېر اورېدونکي لري. له (عبدالسلام**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذاهد) سره مو د بُست راډیو، نورو راډیوګانو او په ټولیز ډول په هلمند کې د ټول نشراتي بهیر په باب هر اړخیزې خبرې اترې وکړې. پټان صیب د راډیو د مشر (ذاهد) ترڅنګ، د راډیو له نورو کارکوونکو،له افتخاري همکار (عبدالستار ستوري) او نورو سره هر اړخیزه ټلوېزیوني مرکې وکړې، د بُست راډیو خبریال (احمد شاه پاڅون) له ما څخه هم هیله وکړه چې یوه راډیویي مرکه ورسره وکړم، هغه سره ستډیو ته لاړم، نږدې (۲۵) دقیقې مرکه مو وکړه چې اکثره پر فرهنګي مسایلو را څرخېدله.

د بُست راډیو کارکوونکو زموږ ډېر زیات عزت وکړ، ډول ډول جوسونه یې راوړل، چای یې راوړ، له محبت او اخلاصه ډک مجلس مو ورسره وکړ او د فرهنګي کارونو د سرته رسونې لپاره مو د ګډې



ملګرتیا ژمنه وکړه. له هغوی څخه تر خدای پامانۍ وروسته، نږدې یوولس بجې وې، چې بُست هوټل ته ورسېدو، د ډوډۍ وخت نه و، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوربنو مور ته یو څه تیار کړل، تر هغه وروسته خونې ته لاړم، هلتــه د ملي تحریک دوه ملګري (محمد اشرف) او (قاري بختیار) د مخه مور ته منتظر وو. تر لږې دمې وروسته قاري بختیار راته یو ښکلی شعر په ترنم کې واوروه. د تحریک او نورو کارونو په باب مو له (محمد اشرف پروانه) او (سردارمحمد همدرد) ورور سره تفصیلي خبرې وکړې. تر (۱۲) بجو پورې مو هغوی سره مجلس وکړ، بیا هغوی د کور او مور د خوب پر لوري لاړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اراکوزیا پوهنتون

د جوزا پر لومړۍ نېټه د شنبې سهار کله چې مو په بُست مېلمستون کې چای وڅښه، نو د والي صیب یو سکرتر راته وویل : ((تاسو، فراهــي صیب او انځور صیب یو ځای ته سفر لرئ))، ما وویــل: مــا خــو ډېــرو دوستانو سره وعده ایښې، که زه پاتې شم ښه به وي، که والي صیب له




رسمي اندېوالانو سره لاړ شي، ښه به شي، که ماته اجازه راکړئ، خوشاله به شم، هغه وویل، نه! والي صیب ډېر ټینګار کړی، ستاسو تګ حتمــي دی، (لس پنځه لس) دقیقې وروسته بیا راغی،ما ته یې وویل: ځان تیار کړه، ما بیا وویل: که زه لاړ نه شم ښه به وي، دلته به دوستان وګــورم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغه بیا خپله خبره تکرار کړه، ویې ویل: ((ژر ځو، تر لس یوولسو بجــو بېرته راځو.)) ما له نورو خلکو سره پر وعدې سربېره (بشر مل صــیب) سره هم وعده کړې وه، بشرمل د دویم ټولګي زده کوونکی، د هلمنــد ادبي بهیر غړی، ښه شاعر دی او په ډېر کم عمر کې د پخو سړیو کارونه کوي، هغه نن په ســباوون ټلوېزیــون کــې د کوچنیــانو لپــاره ټولنــه پرانیستله، هغه سره مې ژمنه وه، خو د والي صیب د سکرتر او وروسته**



**بیا د فراهي صیب په ټینګار د والي صیب له کاروان سره ملګری شوم. د هلمند د خلکو استازې نسیمه نیازۍ خور هم دا مهال په بُست هوټــل کې له مور سره یو ځای شوه. د امنیت رییس ښاغلی (نعیم مومن)، یــو تن ډرېور، زه (یون) او (نسیمه نیازۍ) خور د امنیت رییس په مرمۍ ضد ډاډسن ګاډي کې کېناستو، لومړی د ارکوزیا پوهنتون ته لاړو، په ارکوزیا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوهنتون کې د طب پوهنځي پرانیسته وه، دا پوهنتون چې ( درې کاله) د مخه پر (۱۳۹۰) کال جوړ شوی، ټول (۸۱۰ شاوخوا) محصلین او (۵۱) استادان لري، د پوهنتـــون ریـــس ښـــاغلی (قـــدرت الله یعقـــوبي) دی، پوهنتون په ښه معیار فعالیت کوي، د هلمند خلک او محصلین ورڅخه خوشاله برېښېدل. د غونډې پیل د قران کریم د څو مبارکو ایتونـــو پـــه تلاوت وشو، بیا ملي سرود وغږول شو، د پوهنتون رییس، لنـــډه وینـــا وکړه، بیا والي صیب د ارکوزیا پوهنتون  او په هغه کې د طب پوهنځي د**



**پرانیستې په باب لنډې خبرې وکړې او دا یې د هلمند په تحصیلي ډګر کې یوه نوې زیاتونه وبلله. په غونډه کې له کابل څخه پر راغلو مېلمنـــو ستاینلیکونه هم ووېشل شول.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا مو په ګډه د طب پوهنځي د پرانیستې پټۍ پرې کړه او ټولو پــه ګډه خوږه (شېریني) وخوړله، هغه کسان چې له والي صیب سره په سفر کې ملګري وو، هغوی راووتل او نورو خپلې غونډې ته دوام ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ناد علي پر لوري

کله چې مو د ارکوزيا پوهنتون د طب پوهنځي پرانيسته وکړه، نو د (ناد علي) ولسوالۍ پر لوري مو حرکت وکړ. د امنيت رييس په مخکــې سيټ، زه او نسيمه نيازۍ خور په شاته سيټ کې ناست وو، دا نو په ټول عمر کې دې ولايت او دې ولسوالۍ ته زما لومړی سفر و. سهار لس بجې به وې چې د ښار له څنډو پر هغه پله پورې وتو چې لښکرګاه ښار له ناد علي (ناوې ، مارجې او ګرشک) ولسواليو سره وصلوي. سړکونه د خدای (ج) پــــه فضـــل ټـــول پاخـــه شـــوي وو، ولســـوالۍ تـــه



غځېدلې لاره هم په ښه او اساسي ډول رغېدلې وه.

د پاخه سړک تر څنګ کيندل شوي نهر د يوه عصري تمدن مظاهره کوله. د امنيت رييس دوه کاله مخکې پر لښکر ګاه ښار د طالبانو د برید

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یادونه وکړه. هغه وویل: ((هغه مهال د هلمند سیند د وچکالۍ له املـه تقریباً وچ شوی و؛ ډېرې کمې اوبه په کې وې، د سیند دې غاړې ته په سوونو طالبانو پر لښکرګاه ښار د برید نیت درلود، ان ویل کېـږي چــې انګرېزان هم ورسره همغاړي وو، پر ښار سخته جګړه ونښته، خو موږ او د ښار مدافعانو د انګرېزانو او نورو بهرنیانو له مرستې پرته طالبان پر شا وتمبـول، د طالبـانو پــه ســلګونو مــړي دلتــه او هلتــه پــر ځــای**



**پاتې شول، کله چې انګرېزان زموږ له دفاع خبر شول، نــو هغــوی هــم ځانونه راورسول، دزې یې پیل کړې، دا نو بیا هغه مهال و چې طالب په سیمه کې هېڅ موجود نه و، لښکر ګاه او په مجموع کې هلمند ســخت جنګونه زغملي دي، اوس د خدای فضل دی، موږ ګنو ولســوالیو تــه د ځمکې له لارې سفرونه کولای شو. امنیت به نور هم ښه وای، که مرکزي حکومت هلمند ته پاملرنه کړې وای.))**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نږدې (پنځلس کېلومتره) مزل به مو کړی و، هوارو، پراخو او ښېرازو ځمکو چې په ونو او شینلیو پوښلې وې عجیبه منظره جوړوله، سـړي چې نور وچکالۍ ځپلی او شاړو نیولی افغانستان لیدلی وي، نو د هلمند دا ولسوالۍ ورته داسې ښکاري چې د ختیزې اروپا کومه سیمه ګوري، نیمه میکانیزه زراعت یې هغه چاته خورا خوند ورکوي چې له شینلیو او کرنیزه مسایلو سره لېوالتیا لري. تر شل پنځـه ویشـتو دقیقـو مزلـه وروسته اصلي هدف ته ورسېدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نادعلي او ښوونځي

والي صیب او د پوهنې کاري ټیم اصلاً موږ ناد علي ولسوالۍ کې د ښوونځیو د پرانیستې لپاره بللي وو، دلته د یو ښوونځي د ودانۍ ډبــره ایښودل کېده، دا لېسه په (څلور لارې) سیمه کې موقعیت لــري چـــې دوی یې ((چهار راهي)) بولي او لېسه هم د (عبدالحی) لېسې په نامــه یادېده.

د قران کریم د څو مبارکو ایتونو تر تلاوت او د ملي سرود تر غږولــو وروسته لومړی د ناد علي ولسوال ښاغلي (انجنیــر محمــد ابــراهیم) خبرې وکړې. دی یو ځوان ولسوال و او له ظاهري څېرې او چلنده خورا



با استعداده ښکارېده، لومړی یې مېلمنو ته هر کلی ووایه، د امنیت په باب یې خبرې وکړې، په ناد علي کې یې د زده کوونکو په باب وویل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول (دولس زره) (۱۲۰۰۰) زده کوونکي لرو، له هغې جملې څخه درې زره (۳۰۰۰) تنه نجونې دي.

ورپسې د پوهنې رییس ښاغلي (عبدالمتین جعفر) خبرې وکړې، ده د خپلو خبرو په ترڅ کې وویل: ((اوس موږ په ټول هلمند کې (۲۵۲) بابه



ښوونځي لرو، (۵۳) ښوونځي مو بېرته پرانیستل او (۱۳۰) ښوونځي لا هم تړلي پاتې دي. په (۲۵۲) ښوونځیو کې (۶۰) بابه ښوونځي ودانۍ لري. په ټول هلمند کې (۲۵۲) ښوونځي دي چې (۷۲) یې لېسې دي.

په(۱۳۹۲ل)کال کې مو (۴۴) پروژې لرلې چې زیاتې برخې مو بشپړې کړې. د (عبدالحی ښوونځي) ودانۍ چې په څلور جریبه او (۷) بسوه ځمکه کې جوړېږي، هم د همدې پروژو له جملې څخه ده، دا ښوونځی (۱۲) درسي خونې او نور ملحقات لري.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ورپسې د هلمند والي ښاغلي الحاج محمد نعیم وینا وکړه، هر کلی یې ووایه،د امنیت، د کوکنارو د کښت کمښت او نورو مسایلو په باب یې تر خبرو وروسته وویل: ((ناد علي کې اوس د خدای په فضل بند مکتب نه شته، (۷) ښوونځي بند وو، هغه هم خلاص شول))! والي زیاته کړه: ((په ناد علي کې د نجونو لپاره شپږ ښوونځي فعال دي چې یوه یې لیسه ده.))**

**د والي صیب تر خبرو وروسته دعائیه وشوه او بیا ټول راغلي هیئت چې فراهي صیب، انځور صیب، نسیمه نیازۍ او نور په کې شامل وو، ټولو په ګډه د ښوونځي د ودانۍ ډبره کېښوده. کله چې ډبره کېښودل شوه، یو سپین ږیری چې دیني عالم هم و او غټه لونګۍ یې پر سر وه، ویلی: یې چېرې دی (یون) صیب، چېرې دی؟ زه ورته یو چا**



**معرفي کړم، ویل یې دغه دی، هغه ویل نه دا نه دی، ما ویل، چې یون صیب به غټ سړی وي غټ غټ بریتونه به یې وي، غېږ به تړې نه چاپېرېږي، بیا نو غاړه یې راکړه، د مورشیدې دې شه ټول کابل دې وخوځوه، زمونږ د زړه زنګ دې لرې کړ، یاره چې همدلته راسره پاتې**

(c) ketabton.com: The Digital Library





شې نو خورا خوند به وکړي. ما ویل، مننه، بیا بل وخت. له خلکو سره تر خدای پامانۍ وروسته مو مو یو څو دقیقې مزل وکړ. ولسوالۍ ته ورځېرمه د (قلعه هزاره) په نامه یو بل ښوونځی چې تیار جوړ شوی و، د



هغه پټۍ پرېکولو ته ورغلو، دلته هم د معمول په څېر د قرانکریم د څو مبارکو ایتونو تلاوت وشو، بیا ملي سرود وغږول شو، بیا د پوهنې رییس خبرې وکړې، والي صیب خبرې وکړې، نسیمې نیازۍ چې د هلمند د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خلکو استازې ده، لنډه وینا وکړه،ناست کسان چې ټول شمېر یـې تـر سلو تنو نه زیاتېده، نجونې او هلکان په کې شامل وو، یو شمېر یې قومي مخور وو، ټول د همدې شاوخوا سیمې اوسېدونکي وو. نیازۍ خور دې خلکو ته په خطاب کې وویل: ((زه هم د همدې ولسوالۍ یم، ستاسو خور**



**یم. تاسو ټول باید زده کړې وکړئ. خصوصاً خویندو ته مې خطاب دی. که ما زده کړې نه وای کړی، نو نن مې په پارلمان کې ستاسو نمایندګي نه شوای کولای، نو ټول باید تعلیم ته مخه وکړو، له تعلیم پرتـه مـو د خلاصون هېڅ بله لاره نه شته، تردې وروسته د ښـوونځي پرانیسـته وشوه. دا ښوونځی د (قلعه هزاره اناثیه) نومېده، یوازې د نجونو لپاره و ، ښه په بنستیز ډول جوړ شوی و، څوکۍ او مېزونه یـې ټـول پـه ښـه مستحکم ډول جوړ شوي وو، د دېوال پر مخ تـورې تختـې او سـپین تباشیر سرې ته خپل ماشومتوب او د ښوونځي دوران رایاداوه. کله چې**

(c) ketabton.com: The Digital Library





مو ښوونځی پرانیست، نو د ښوونځي د مسولینو او معارف چارواکو لــه خوا په غونډه کې راغلو مېلمنو ته د ملي دود په توگه د عزت لونگۍ هم ور پر سر شوې. د دغه ښوونځي تر کتنې وروسته مو یوکرنیز مرکز هــم وکوت چې هغه هم نوی جوړ شوی و، هلته د بېوزلو ښځو او کونډو لپاره یو کورس هم ترتیب شوی و، د هلمند د کرنې ریاست له خــوا بېوزلــو مېرمنو او کونډو سره (دوه، دواوزې) مرسته هم کېدله. دا کار که څه هم هلته د ښځو او نورو خلکو له خوا تائید شو، خو ویل یې چــې د (اوزو) قیمت خورا لوړ دی، یوه اوزه په (دېرش زره) افغانۍ تمامه شوې وه. ددې مرکز تر لیدنې وروسته د لښکرگاه ښار پر لوري وخوځېدو. دولس نیمې بجې وې، چې لښکرگاه ته ورسېدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ملي تحریک غونډه

کله چې له نادعلي ولسوالۍ څخه لښکرګاه ته راغلو او بیا بُست مېلمستون ته نو ښه ستړي وو، ژر مې پر ځان اوبه تېرې کړې، سردار محمد همدرد صیب او حاجي صیب محمد اشرف ته مې زنګ وواهه، هغوی وویل: د مدني ټولنو په دفتر کې د تحریک ملګري راټول شوي او




ستاسو انتظار باسي. زه او پټان صیب سملاسي د مدني ټولنې پر لوري وخوځېدو، تر یو څو دقیقو مزله وروسته هلته ورسېدو. د مدني ټولنې په دفتر کې د ملي تحریک (۱۵-۲۰) تنه هغه ملګري سره راټول شوي وو، چې د لښکرګاه له ښار او نږدې سیمو څخه وو، د وخت د کمښت له امله مو په ولسوالیو کې د تحریک نور غړو ته زحمت ور نه کړ. تر پېژندګلوۍ وروسته مو غونډه پیل کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**غونډه د ښاغلي (ملا عبدالرشید) له خوا د قران کریم د څو مبارکو ایتونو په تلاوت پیل شوه، بیا د ملي تحریک غړي ښاغلي (محمد اشرف) هر کلی ووایه او ددې غونډې د جوړېدو اړتیا یې په ډاګه کړه، بیا د مدني ټولنې مشر ښاغلي (سردار محمد همدرد) خبرې وکړې او په هلمند کې یې د ملي تحریک د څانګې د جوړېدو پر اړتیا ټینګار وکړ، دغه راز یې د مدني ټولنې په استازۍ د همکارۍ ژمنه وکړه، وروسته**




**ښاغلي ډاکتر (شمس الرحمن) په هلمند کې د تحریک د منظمو تشکیلاتو د جوړېدو غوښتنه وکړه او و یې ویل: په هلمند کې د ملي تحریک مینوال او لېوال خورا زیات دي، څومره چې ژر کېږي، باید د تحریک څانګې په هلمند کې فعالې شي، نورو ځوانانو هم په ترتیب سره خبرې وکړې. د هېواد پر ځوان نسل یې پر پانګونې ټینګار وکړ. د تحریک غړو په یوه خوله د ډار او وېرې پر وړاندې د تحریک ملي مبارزه وستایله. د تحریک په غړو پسې ما خپلې خبرې وکړې، د تحریک پر تېرو فعالیتونو مې رڼا واچوله، د تحریک د اوسنیو فعالیتونو په باب مو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



بحث وکړ او راتلونکو احتمالي فعالیتونو او پلانونو ته مې ګوته ونیوله. د تحریک ټولو غړو په تېره موده کې د تحریک د غړو فعالیتونه وستایل او راتلونکي ته یې لا هیله منتیا ښکاره کړه. د غونډې په پای کې پرېکــړه وشوه چې لومړی به په هلمند کې د تحریک د خپلو غړو په خوښه لــه خپله منځه یوه لارښوده جرګه یا شورا جوړه شي، دا شورا به ورو ورو د تحریک د څانګو د جوړېدو په اړه پرېکړه کوي، بیا به لومړی په لښکرګاه او وروسته به په ولسوالیو کې د تحریک څانګې جــوړوي. غونــډه پــه دعایې سره پایته ورسېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بُست پروډکشن

کله چې مې د تحریک له غړو سره غونډه پایته ورسېده، نو د تحریک یو غړي راته وویل چې دلته د (بُست پروډکشن) په نامه یو پروډکشن کار کوي، د هغه مشر او څو تنه ملګري یې راغلي، تاسو سره ګوري، ما ویل مهرباني وکړه، رایې وله، د خونې په یوه ګوټ کې کېناستو، (محمد اصف دلاور)، د بُست پردوډکشن موسس راته لومړی خپل پنځه تنه ملګري راوپېژندل، بیا یې د بسُت پروډکشن په باب معلومات راکړل، ویې ویل له تېرو درې څلورو کلونو راهیسې فعالیت کوو، مستند فلمونه جوړوو، فلمونه هم ژباړو او دوبله کوو یې هم.



محلي ټلوېزیونونه زموږ تولیدات نشروي، اوس تر (۲۵) زیات ممثلین لرو، لنډ کمیډي فلمونه هم جوړوو، ستیج ډرامې هم، د هر یوه بېلګه یې په کمپیوټر کې رابښکاره کړه، ما دلاور صیب ډېر وهڅاوه، رښتیا هم ډېر زړور هلک دی، چې په یوه تنګ او اغزن چاپېریال کې یې د هنري

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کارونو لپاره لاره پرانیستې ده، دلاور وویل: پخوا ډېرې موسسې فعالې وې، موږ څخه یې د پروګرامونو د جوړېدو غوښتنه کوله، زموږ تولیدات یې هم اخیستل، خو په دې وروستیو وختونو کې ډېر شیان پر ټپه ولاړ دي. ما دلاور صیب ته وویل، ښه ده چې په خپلو پښو ودرېــږو، ورو ورو پرمختګ تر یو ناڅاپي پرمختګه ښه دی، یو بل سره به ملګرتیــا کــوو، هیله ده چې د هلمند پر مارکیټ سربېره د هېواد نورو برخو ته هم خپل تولیدات ورو ورو رسوو.**

**د بُست پروډکشن پر کارونو خورا خوشاله شوو، خو وخت نه و چــې**



**د هغو د عملي کارونو جریان مې له نږدې څخه کتلی وای، بل وخت ته مې ورسره ژمنه وکړه، له دوی مو خدای پاماني واخیسته.**

**تر هغه وروسته(امیري) هوټل ته لاړو، هلته د ولایتي شورا په نویــو ټاکنو کې بریالي کاندید، ښاغلي (حاجي عبدالکریم اتل) موږ ته ډوډۍ تیاره کړې وه، هلته توپان وزیری صیب او نــور ملګــري هــم وو، خــورا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خونــدوره ډوډۍ وه، لــوکس او پــاک هوټــل و، د هوټــل کــارګرانو د افغانستان له درې رنګه بیرغ څخه کمیسونه جوړ کړي وو، خــورا ښــه ښکارېدل. ډوډۍ خوندوره او هوټل خورا ښایسته وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بُست پوهنتون

په (امیري) هوټل کې تر ډوډۍ خوړلو وروسته د مېلمستون پر لوري وخوځېدو، هلته له رسېدو سره سم بیا هم موټر ولاړ وو، موږ ته یې وویل چې بُست پوهنتون کې غونډه ده، والي صیب او ټول مېلمانه هلته ځي، موټر کې کېناستو تر لس دقیقو مزلــه وروســـته بُســـت پوهنتـــون تـــه ورسېدو. (۱۵) کم څلور بجې وې چـــې غونـــډه پیـــل شـــوه، د غونـــډې



لپاره خورا ښه ترتیبات نیول شوي وو. غونډه له معمول سره سم د قران کریم د څو مبارکو ایتونو په تلاوت سره پیل شوه. ورپسې ملـــي ســـرود وغږول شو. بیا د بُست پوهنتون عمومي رییس ښـــاغلي (احمـــد جـــان پوپل) خبرې وکړې، هغه وویل: بُست پوهنتون پر (۱۳۹۱ل) کال تاسیس

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو، اوس د طب، انجنيري او کمپيوټر ســاينس پــوهنځي لــري، (۶۰۰) محصلين همدا اوس په دې پوهنتون کې زده کړې کوي. ورپسې د بُست



پوهنتون علمي مرستيال خبرې وکړې، بيا د هلمند والي (حاجي محمد نعيم) خپله وينا وکړه او په هلمند کې يې په تحصيلي ډګر کې وروستۍ برياوې وستايلې، ده په لښکرګاه کــې د دريــو خصوصــي پوهنتونــو شتوالی په تحصيلي برخه کې غوره پرمختګ وباله، ورپسې استاد غلام



نبي فراهي، استاد حبيب الله رفيع، د امنيت رييس (نعيم مومن) او بيا ما (يون) خبرې وکړې، د بُست پوهنتون پرمختګونه مــو د ســتاينې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوښې ور وبلل. د غونډې په بهیر کې ددې پوهنتون علمي مجله (بُست پوهنتون) هم ووېشل شوه، خورا ښه علمي او خوږه مجله وه، د غونډې په پای کې له کابل څخه راغلو مېلمنو ته ستاینلیکونه هم ورکړل شول.

غونډه پر دعایې سره پایته ورسېده، بیا مو د بُست پوهنتون ځلـور پوړیزه ودانۍ، درسي او اداري خـونې وکتلـې، خـورا عصـري، پـاکې




مجهزې او مکملې وې.د عصر اکثره غوښتنې په کې پوره شـوې وې، د مرکز کابل تر خصوصي پوهنتونو یې سیستم، سـویه او سـلیقه لـوړه ښکارېده، سړي ته یې ژر تر ژره د تدریس اشتها راوستله، لـه ښـاغلي احمد جان پوپل څخه مې د هغه د سلیقې، سویې او پوهې له امله مننه وکړه، زه پر دې هم خبر وم چې ښاغلی پوپل د یوې درنې کورنۍ غـړی دی، دا معلومات مې هم درلودل چې پلار یې ښاغلی (حاجي ادم خـان

(c) ketabton.com: The Digital Library






پوپلزی) دا شپږ کاله کېږي په بگرام کې د کورنیو او بهرنیانو له خــوا د کوم تور په تور بندي دی، عجیبه خبره خو دلته دا ده چې ویل کېــږي پلار یې د طالب او القاعدې په تور بندي دی، زوی یــې پــه اقتصــاد او حقوقو کې دوه ماستری لري او د سیمې په کچه یې یو ښکلی پوهنتون



جوړ کړی دی، پښتون خو وي همداسې چې د دومره ستر علمي مرکز جوړول یې هم له توره نه شي سپینولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پوهنتون په لیدو خورا خوشاله شوم، فراهي صیب ته مــې وویــل چې یو ځل دوه خو به تدریس ته راځو، د پوهنتون لیدنې زموږ په ذهن کې یوه خوږه خاطره پرېښوده او جوړونکي ته مې د زړه له کومې دعــا وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لښکرګاه واټونه

د بُست پوهنتون تر لیدنې وروسته د امنیت ریس (نعیم مومن) مور تر بُست مېلمستونه ورسولو. نسیمې خور وویل: سبا تاسې روان یاست، خو د لښکرګاه ښار مو ونه لیده، زه خپل موټر راغواړم چې ښار درباندې وګورم، دا مهال دلته د امنیت کورلا موټر ولاړ و، امنیتي مسؤل وویل، ستاسو د امنیت مسؤلیت زمونږ پر غاړه دی، تاسې چې



هر چېرته ځئ، مونږ درسره یو، خپل موټر مه راغواړئ، همدې کرولا موټر تورې ښیښې لرلې، په هغه موټر کې کېناستو، د هلمند د مرمرو فابریکې له څنګه تېر شو، د ښار واټونه خورا ښکلي او لوی وو، د ښار ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړکونه او فرعي سړکونه پاخه وو، نسیمې خور وویل، اول (زاړه) بازار ته ځو، هلته ډېر ښه ایسکریم خرڅېږي، هلته ځو، لومړی هلتــه ورغلــو، نسیمې خور وویل، موږ چې واړه وو کله چې به له لېسې څخه رخصــت شو، نو دې ایسکریم ته به ضرور راتلم، خورا خوندور ایسکریم دی، هغه خوند چې زما په خوله کې دی، تر اوسه مې نه هېرېږي. ما ورته وویــل، ګوره هسې مزه به ونه کړي، دې وویل وبه یې ګورې ډېر خوندور دی، ژر یې هلته ورسولو، ډرېور کښته شو، ((رووف شېریخ والا)) څخه یــې ژر موټر ته ایس کریم راوړ، نسیمې خور وویل: څنګه دی؟ خوندور دی که نه؟ سره له دې چې ډېر خوندور نه و، متوسط و، خو ما ورته وویل: ډېر



خوندور دی. ما ورته زیاته کړه دېته چې سړی وړوکی وای، پیسې هــم ورسره نه وای او له مکتبه هم راتښتېدلای وای، نو بیا دې دا ایس کریم خوړلای وی، نو عجب خوند به یې کړی وای، ته یې چې خوندور ګڼې، دا د همغه ماشومتوب خوند او خاطره ده، ما وویل: یو سړی و، (اش) یــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله نه و خوړلای، یو چا ورته ډېر صفت کړی و، ورته یې ویلي وو: کلــه چې ښار ته لاړې، نو پلان هوټل ډېر ښه (اش) پخوي، حتمــي بــه یــې خورې، داسې خوندور دی چې خوند به دې په عمر کې له خولې څخــه ونه ځي. کلیوال سړی چې ښار ته راغلی و، نو د هوټل شاګرد تــه یــې وویل (اش) راوړه، هغه ورته عاجل (اش) راوړ، ده وخوړ، خو په خوند یې پوه نه شو، بیا یې نور شیان ورته راوړل، هغه یې هم وخوړل، څو شېبې وروسته یې بیا غږ وکړ، و هلکه! اش راوړه، د شاګرد فکر نه شو، بیا یې په زوره غږ وکړ، و هلکه (اش) راوړه اش!، هغه ورته وویل اش خو مــې راوړ! ده وویل رادې وړ؟ هغه وویل هو! ده وویل: څه شو؟ هغه وویل ودې خوړ، ده وویل ښه ومې خوړ، هغه وویل هو! نو ده وویل: ښه ومې خوړ، نو څومره مزه به یې کړې وي!؟

ما نسیمې خور ته وویل چې دې ایسکریم ته همغه د (اش) اشتهاه په کار ده، نسیمې خور هم سخت وخندل، ما نسیمې خور ته وویل، ایــس کریم به هم خورو، خو ښار کې به هم ګرځو، خکه چې وخت ضایع نــه شي، د ښار ډېرې واټونه مو وکتل، نسیمې خور خپل نوي کور ته بوتلو، ښایسته کور یې جوړ کړی و، ما ورته وویل، وکیل چې کــور، ډېــره او هوجره ونه لري، تر دې وروسته ډېره سخته ده چې یوازې په وچ وعظ او نصیحت سیاســت وکــړي او خپــل پلانونــه عملــي کــړي. د نســیمې

(c) ketabton.com: The Digital Library





خور د کور تر کتنې وروسته بیا ښار کې د بېلابېلو واټونو پر لیدو مصروف شو، دا وخت مې نسیمې خور ته وویل: د (هلمندوال) صیب مرحوم کور راته پیدا کړه چې هلته لاړ شم، زامنو ته یې فاتحه وکـړم، هلمنــدوال صیب د هلمند یو تکړه قومي مشر و، په بېړنۍ لویه جرګه او د اساســي قانون په لویه جرګه کې د هلمند د خلکو استازی و، ډېر هېواد پـال او ملي شخصیت و، زما ډېر دوست و، تر مړیني د مخه یې راته زنګ وواهه چې زه سخت مریض یم، هندوستان ته د درملنې لپاره ځم، دا دنیا فاني ده که زه لاړم، نو زامنو ته مې وصیت کړی چې (یون کاکا) مو کومه خبره کوله، هغه به ضرور منئ، نو ستا به امر وي او د ورېرونو به دې غـاړه . د هلمندوال صیب خبرو، همغه وخت ډېر ولړزولم، دا په ټلېفون کې د هغه وروستۍ خبرې وې، ما بیا نه هلمندوال صیب ولید او نه مې ورته خبرې واورېدې، کله چې هلمند ته لاړم، نو اول مې د هلمندوال صیب د کور او زامنو پوښتنه وکړه، زموږ هلمندي ملګرو هلمندوال صـیب ډېـر ښـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېژنده، د هغه مشر زوی (عزت الله هلمندوال) یې هم پېژنده، پر لومړۍ شپه یې ورته ډېر زنگونه  ووهل، خو رخ نه شو، موږ سره چې په موټر کې کوم امنیتي ملگری و، هغه وویل، ما د هلمندوال صیب کور لیدلی، هلته به ورشو، تر یو څو دقیقو مزله وروسته هلته ورسېدو، د هلمندوال صیب مشر زوی (عزت الله هلمندوال) په کور کې نه و، کشر زوی یـې راووت، هوجرې ته ورسره ننوتو، دعا مو ورته وکړه او  ژر راووتو.

دا وخت نسیمې خور وویل: زما ورونه  (عزیز) او (حفیظ الله) ستا ډېر مینوال دي، هر وخت تاسو یادوي  (عزیز) یوه (وارلس تي وي شـبکه) جوړه کړې ده، افغاني چینلونه ټول په کې دي، (ژوندون) هم په کې دی، هغه به هم وگورې، یوازې څو دقیقې به ورسره پاتې شو.

تر یو څو دقیقو مزله وروسته هلتــه (عزیــز وارلــس نېټــورک) تــه



ورسېدو.د نسیمې خور ورونو هر یو (عزیز) او (حفیظ الله)  موږ ته تود هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کلی ووایه او تودې غېږې یې راکړې، ډېر زیات خوشاله شــول، هغــوی ووېل، لکه خوب چې ګورو، دا زموږ یو ارمان وچې تا به ګورو او هغه هم په هلمند کې. حفیظ الله ووېل، هلمند ته باید د ډېر وخت لپاره راشې، په دومره لنډ او تنګ وخت کې زموږ تنده نه مــاتېږي، (حفــیظ الله) د سیمه ییزو شوراګانو مشر دی، ډېر زیات اجتماعي روابــط لــري، هغــه ووېل، په سوونو سپین ږیري او مشران به درته دعوت کړم، ټول درتــه سخت احترام لري، خپله تګلاره به ورته بیان کړې، ما ووېل، که ژوند و، بیا به راشم، د ډېر وخت لپاره، اوس خو لنډ تنګ رسمي سفر و. ښاغلی (عزیز) دا نېټورک داسې جوړ کړی چې لین نه غواړي، یو بکس دی هغه کې یې (۳۰–۴۰) چینلونه اعیار کړي دي،(څلور زره افغانۍ) قیمت لري، د هلمند ولسوالیو ته خدمات وړاندې کوي، هر څوک کولای شي، ددې بکس په اخیستلو سره افغاني چینلونه په اسانۍ سره وګوري، دا مهال د نسیمې خور وراره (داود) او ښاغلی (نجیب) د افغان ټلیکم مشــر هــم حاضر وو.له هغوی څخه مې مننه وکړه او کورودانی مې ورته ووایه، ډېر ټینګ ست یې راته وکړ، خو موږ ترې په وچ زور اجازه واخیسته.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملت بابا پارک

د (عزیز وارلس نېټورک) تر کتنې وروسته د هلمند پر سیند پر تړل شوي پله پورې وتو، د (ملت بابا پارک) ته ورغلــو، دا خــورا ښایســته، ښکلی او شین پارک دی ،ځوان پارک دی، نږدې (شل جریبه) مساحت به لري، ځینې ودانۍ، کانتین او د خولي ودانۍ هم لري. خو ودانۍ یــې اوس اکثره ګرېدلي دي، رنګ یې هم اوښتی، د پارک په مــنځ کــې یــو ستیج دی، چې چت ته یې زینه هم پورته شوې. پارک ډېر ښایسته دی، خــو عــزت یــې لکــه څنګــه چــې پکــار دی، هغســې نــه کېــږي،



نسیمې خور وویل، دا پارک د (اسدالله وفا صیب) او (ګلاب منګل صیب) په وخت کې خورا ښایسته و، خو اوس دا دی ورځ په ورځ خرابېږي. څو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دقیقې په پارک کې وګرځېدو، هم خوشاله شو او هم خفه، ګڼ شــمېر ځوانان پارک ته راروان وو، لوبې او ساعتیرۍ یې کولې، د وتو پر وخت د دروازې ساتونکي، چې ټکټونه یې په لاس کې وو، په خورا مینه خلاصه غېږ راکړه: یون صاب مولا دې راوله! نسیمې خور وویل: ټول هلمندوال دې پېژني، معرفۍ ته دې اړتیا نه شته، هغه ته مې وویل: خلــک مفــت



راځي، که ټکټ ورکوي؟ هغه وویل، نه ټکټان ورکوو، اوس مو دا کار پیل کړی، چې په همدې پیسو دا ویجاړ ځایونه بېرته جوړ کــړو او د پــارک خدمت وکړو، دې وروستۍ خبرې بېرته لږ خوشاله کــړم، هغــه ټینــګ هرکلی او ټینګ ست وکړ او موږه ټینګه خدای پاماني وکړه او بېرته د سیند دې غاړې ته پر پله راواوښتو، دلته هم هغه پارک ته ورغلو چې د هلمند د سیند پر غاړه جوړ شوی، ډېر لوی نه دی، خو ګڼه ګونه په کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېره وي، دا د (میرویس نیکه پارک) نومېږي. مازیګر لمونځ نور په قضا کېدو و، ژر مې هلته په جومات کې دوه رکعته مسافرانه لمونځ وکړ، څو شېبې نور هم هلته تم شو، هر ځوان چې به زموږ له څنګه تېرېده، یــو سترې مشي او د یادګاري عکس د اخیستلو غوښتنه بــه یــې کولــه، ماښام په نږدې کېدو و، بُست مېلمستون چې موږ په کې اوسېدو هغــه هم دلته ډېر نږدې و، هلته ستانه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هلمند سیند مشاعره

په مېلمستون کې تر یو څه دمې وروسته، بیا احــوال راغــی چــې



مشاعره تیاره ده، مشاعره لــه پــلان ســره ســمه جــوړه شــوې وه، د (لښکرګاه ورزشي ستېډیم) د مېلمنو هر کلي ته انتظار ایسته، ستېډیم



په ولایتي کچه خورا ښکلی او شین دی، ټاکل شــوې وه مشــاعره تــر ماښام لمانځه وروسته پیل شي، خو څرنګه چې زموږ په هېواد کې هېڅ کار پر وخت نه پیلېږي او نه ختمېږي، مشاعره هم تر ټاکلي وخته څــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وروسته یانې څه کم نهه بجې پیل شوه، د مشاعرې تر پیل د مخه مــې ګڼو هلمندوالو او جګړه ځپلو معلولو هېوادوالو سره یادګاري عکسونه واخیستل.د مشاعرې ستیج ښکلی و، خو رڼا په کې سمه خوره نه وه، نو ځکه خو یې تصویر ډېر روښانه نه برېښېده، لومړی د قران کــریم څــو**



**مبارک ایتونه تلاوت شول، بیا ملي سرود وغږول شو، بیا والــي صــیب شاعرانو، مېلمنو او هلمندوالو ته هر کلــی ووایــه او د هلمنــد ســیند مشاعرې د تاریخ او څرنګوالي په باب یې رڼا واچوله، په مشاعره کې له**



**کابل، ختیزو ولایتونو، کندهار او شاوخوا ولایتونو او کوزې پښــتونخوا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځخه ګنو شاعرانو ګډون کړی و. د مشاعرې  په پيل کې يو څه بې نظمي هم وه او شعرونه هم يو څه بې خونده او اوږده وو، مشاعره يې د پيکـه والي خواته بيوله،  خو وروسته هم  نظم ښه شو او هم شعرونه خــواږه شول.  دغه لاندې شاعرانو خپل شــعرونه او نظمونــه واورول: بريــالی هلمند، سردار محمد همدرد، محمد اسمعيل شريعت يار، مــلا محمــد**



**حنيفي، انجنير محمد داود فرهنګ، سيد محمد حيــرت، عبــدالهادي عمری، شريف الله دوست، احمد قيس هاشــمي، عليشــاه مظلوميــار، جانان نجات مل، سردار محمد صديقي، عطا محمد سيلا، زمری بستی، نظر محمدنيازی، حبيب الله رفيع، عبدالغفور لېوال، لال پاچا ازمون او ځينې نورو شاعرانو خپل شعرونه واورول.**

**په ټوليز ډول ښه  مشاعره وه، شــعرونه اکثــره پــر ملــي وحــدت، اسلاميت، هېواد پالنې، سولې او نورو مسايلو څرخېدل، يوولس بجې وې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د يو تن مسؤل له خوا راته وويل شول چې بُست مېلمستون ته ځه، ډوډۍ تياره ده او مشاعره هم نوره په ختمېدو وه، که څه هم ما غوښتل تر پايه مشاعرې ته کېنم، خو ټينګار يې وکړ چــې ډوډۍ وخــورئ کــه مشاعره اوږده شوه، نو بېرته به راشئ، موږ چې کلــه مېلمســتون تــه ورسېدو، تر يو څو دقيقو وروسته احوال راغی چې مشاعره هــم پايتــه ورسېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نړیوال (انټر نېشنل کمپلیکس) روغتون

د شپې تر ناوخته پورې ناست وو، یوه بجه له سردار محمد همدرد صیب سره د هغه د روغتون لیدو ته لاړو، همدرد صیب په یوه څلور پوړیزه ودانۍ کې یو خصوصي روغتون جوړ کړی و، په دې روغتون کې ټول (۱۵) ډاکټران کار کوي او پر یوه وخت د (۲۵۰) ناروغانو د درملنې وس لري. د هلمند او شاوخوا سیمو ناروغان دلته راځي، فیس یې هم خورا ارزانه دی، د شپې مو له نوکریوالو ډاکټرانو سره هم وکتل. د




روغتون د بېلا بېلو څانګو تر کتنې وروسته بېرته د مېلمستون پر لوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخوځېدو، په لاره کې هم له دېخوا او هم له اخوا پولیسو ودرولو؛ درېش یې وکړ، د شپې نوم یې وغوښت، خو چې همدرد صـــیب ورتـــه وویـــل: مېلمانه دي، نو په ډېر عزت یې موږ ته اجازه راکړه. کله چې مېلمستون ته راورسېدو، نو ښه د مزې ستړي وو، زما خو له سهار راهیسې په نس درد و، خو د غیرت په خاطر مې ځان ټینګ کړی و، د شپې ډېر ناراحته وم په ډېرې سختۍ مې خوب وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سفر وروستۍ ورځ

د یکشنبې سهار چې پاڅېدو، نو تر چای وروســته ټولــو ملګــرو د بېرته تګ تیاری نیوه، موږ هم غوښتل چې لاړ شو، خو څرنګه چې زموږ ټکټونه یو طرفه وو، نو په افغان جیټ الوتکه کې ځای نه و، همدرد صیب موږ ته په (کام ایر) کې ټکټونه واخیستل، د افغان جیټ الوتنه سهار پر (۸) او د کام ایر الوتنه ماسپښین پر درې بجې وه.

د والي صیب سکرتر ماته زنګ وواهه چې ستاسو ټکټ افغان جیټ کې هم شته، خو ما ورته وویل، چې زه خپل ټیم سره یو ځای ځم، څــو شېبې وروسته مې همدرد صیب ته وویل چې پاتې ملګري بــه وګــورو، هغه وویل، زه به نور میټنګونه تنظیم کړم، دا وخت (حاجي بشــیر)، د هغه ورور (حاجي روح الله) او دوه تنه نور ملګري راغلل، هغو سره مــې پر بېلابېلو فرهنګي مسایلو خبرې وکړې، حاجي بشیر زموږ اندیوال دی، دوبۍ، هلمند او کندهار کې د سوداګرۍ کاروبار لري، هلمند ته زموږ له راتګ څخه خبر شوی و، نو ځکه زموږ لیدو ته راغی، په هلمند کې یې د تحریک د دفتر پر جوړېدو ټینګار وکړ او هم یې په ولسوالیو کې د څانګو د جوړونې غوښتنه وکړه. ښاغلي حاجي بشیر سره نورو ملګــرو هــم د تحریک د پراختیا غوښتنه کوله. حاجي صیب بشیر سره لا مجلس پایته نه و رسېدلی چې سباوون ټلوېزیون ته د تلو وخت راورسېد، له حاجي صیب بشیر څخه مو له ناچارۍ اجازه واخیسته او خــدای پامــاني مــو ورسره وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سباوون راډیو ټلوېزیون

سهار لس بجې به وې چې، فرید احمد فرهنګ صیب ما پسې راغی، همدرد صیب د سباوون راډیو ټلوېزیون له مسؤل، ښاغلي (میرویس پاڅون) سره وعده ایښې وه. فرهنګ صیب، زه (یون) او زما یوه کمره مین او همدرد صیب د سباوون ټلوېزیون دفتر ته لاړو. په لاره کې فرهنګ صیب د هلمند بېلابېل واټونه راوپېژندل چې اکثره د



افغانستان د بېلابېلو ولایتونو په نومونو وو، ننګرهار، هرات، کندهار، لغمان، بلخ او نور واټونه، ما ورته وویل، دا د ملي وحدت او د هېواد د بېلابېلو ولایتونو له پېژندنې سره ډېره مرسته کوي، د ښار واټونه خورا پراخه وو. فرهنګ صیب ته مې وویل: یو انګرېز عالم وایي: که غواړئ د یوه ښار د وګړو فکر معلوم کړئ چې پراخ دی او که تنګ، نو د ښار واټونه، کوڅې او سړکونه یې وګورئ، چې پراخ دي که تنګ؟ که پراخ وو فکرونه یې هم پراخ دي او که تنګ وو، نو د خلکو نظرونه یې هم تنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دي، اوس چې د هلمند د لښکرګاه ښار واټونو ته سړی ګوري، د انګرېز پوه د خبرې په مصداق د خلکو نظرونه یې د پراخۍ ځرګندونه کوي.**

**څو دقیقې وروسته هلته ورسېدو، د ټلوېزیون مشر (میرویس پاڅون صیب) او د سباوون ټلوېزیون، نورو کارکوونکو موږ ته تود هرکلی ووایه، پاڅون صیب د سباوون راډیو ټلوېزیون په اړه تــول معلومــات راکــړل، پاڅون صیب له (۱۳۸۷ل) کال راهیسې د یاد ټلوېزیون د جوړونې لپاره هلې ځلې کولې خو راډیو یې لا تر دې د مخه جوړه کړې وه، تر څو کلن زیار وروسته یې هلو ځلو رنګ راوړ او ټلوېزیون هم جــوړ شــو، اوس د هلمند د لوی ولایت په کچه دا خورا ښه رسنیز مرکز دی. په دې راډیو ټلوېزیون کې اوس تر (۳۰) زیات ځوانان پر رسنیز فعالیت بوخــت دي. ټلوېزیون دوه ستیډیوګانې لرلې چې په ښــه ډول جــوړې شــوې دي.**



**پاڅون صیب وویل، : اوس یې راډیو ټلوېزیون ته خپله ځمکه اخیستې او اینده کې به ښکلې ستیډیوګانې په کې جوړې کړي. د ټلوېزیون او راډیو د ستیډیوګانو تر کتنې وروسته د یاد ټلوېزیون یو خبریال (صــفت الله زاهدي) زه یوې مرکې ته وبللم ، د مرکې محور یې اکثره پر سیاســي او**

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتخاباتي مسایلو راڅرخېده، همغه پوښتنې یې راڅخه وکړې چې اړتیا یې وه. کشش په کې و او د ورځې مسایلو، اندېښــنو او ابهامــاتو تــه د رڼاوي ضرورت په کې و، سباوون ټلوېزیون کې تر یو ساعت زیات پــاتې شو. د دې ټلوېزیون او راډیو په لیدو مې هیلو نورې هم په زړه کې غزونې وکړې. د پاڅون صیب له ډېر تېنګ ست سره سره مــو تــرې رخصــت واخیست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملي راډیو ټلوېزیون

د سباوون ټلوېزیون تر کتنې وروسته د ملي رادیو ټلوېزیون پر لوري وخوځېدو، د ټلوېزیون مشر او نور ملګري یــې مــوږ تــه منتظــر وو. د ټلوېزیون مشر موږ ته تود هر کلی ووایه، ښاغلي ( حیــات الله داوري) خورا تکړه ځوان او د خوستیو ورونو په اصطلاح خورا ښایسته (ژڼــی)



دی. د ټلوېزیون پر بېلا بېلو دفترونو یې وګرځولو، د هلمنــد ټلوېزیــون خورا ښې ستیډیو ګانې درلودې، نوي وسایل په کې نصب وو. په ولایتي کچه بشپړ ټلوېزیون ښکارېده، سلیقه یې هم د نورو حکومتي ادارو پــه اندول ښکلې وه، خو د ټلوېزیون د مشر په وینا دولتي بروکراســي یــې خلاص لاس ته نه پرېږدي؛ تر څو یې چې ضروري غوښتنې عملي کېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغو خپل ارزښت له لاسه ورکړی وي. دی وايي موږ چې کوم شی غواړو، تر هغه چې له مرکزه يې منظوري راځي، ډېــر وخــت پــرې تېــر وي. د ټلوېزيون مشر ښاغلي (حيات الله داوري ) موږ د ټلوېزيون پر احاطې هم وګرځولو،(نږدې شل جريبه) ځمکه لري. شنو ونو، د ټلوېزيون انګړ تــه خورا ښکلا ورکړې وه. له ننګرهار پرته فکر نه کوم چې بل هــېڅ کــوم ولايت دې د ټلوېزيون دومره شنه ساحه ولــري. ښــاغلي (حيــات الله داوري) د راډيو ټلوېزيون په باب پوره معلومات راکړل، ژوندون ټلوېزيون



سره يې لنډه مرکه هم وکړه. په پای کې مو يو بل سره ژمنه وکړه چې هر څه مو له وسه کېږي يو بل سره به مرسته کوو. له هغه ځايه مو غوښتل چې (بُست کلا) هم وګورو، خو د وخت د کمښت له کبله مو ونــه شــو کولای، صحت مې هم ښه نه و، سره له دې چې همدرد صيب راته دارو رالېږلي وو، هغه مې وخوړل، خو بيا هم د دې جوګه نه وم چې ښه پــه

(c) ketabton.com: The Digital Library





خوند چېرته سفر وکړم. نو ځکه خو بېرته مېلمستون ته راستانه شـــو. مېلمستون کې موږ لږه دمه وکړه، دوه نیمې بجې وې چې مېلمســـتون کې مو خپلې غوټې وتړلې او د هوایي ډګر پر لوري وخوځېدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د هوايي ډګر پر لوري

له مېلمستونه تر هوايي ډګره ايله لس دقيقې لار ده. څه کم درې بجې وې چې هوايي ډګر ته ورسېدو. پوليسو د مېلمه پالنې له مخې موږ



تالاشي نه کړو. کمرې او بکسونه يې د چک لپاره يوړل. په وړوکي ترمينل کې مسافرين منتظر وو. زه يې راساً د ترمينل اداري خونې ته بوتلم. د دفتر مسؤلينو خورا زيات درناوی وکړ. په (VIP) خونه کې يې کېنولم. دا مهال يو ځوان مخامخ له خپل ځايه راپاځېد، ګرمه ستړي مشي يې وکړه. ويې ويل، زه به لومړی خپل ځان دروپېژنم، زه دلته دا څو مياشتې کېږي په هلمند کې يم، له امريکايانو سره ژباړن يم. ما ورسره ټوکه وکړه: ښه نو له امريکايانو سره مجاهد يې! هغه وخندل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ویې ویل زه له امریکا څخه راغلی یم، هلته ستاسو ټول پروګرامونه**




**تعقیبوم، ډېر زیات احترام درته لرم، ژوند کې مې دا یو ارمان و چې تاسو سره وګورم، دادی تاسو سره مې خدای (ج) دلته ملاقات وکړ. د دفتر مسؤلینو یخې انرژۍ راوړې. زموږ ډېر عزت یې وکړ، یادګاري عکسونه مو واخیستل، له فرهنګ او همدرد صیب سره مې همدلته خدای پاماني**




**کړه، د الوتنې وخت نږدې شو، کم کسان په لیکه کې ولاړ وو، ترالوتکې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لاندې پولیسو چې موږ ولیدو، نو ډېر خوشاله شــول، دوه تنــه یــې ژر راغلل، ویې ویل کولای شو، یو عکس درسره واخلو؟ ما وویل، مهرباني وکړئ! عکسونه مو واخیستل او نور نو د الوتکې پر زینې ورپورته شو. د الوتکې د هلېز کې چې مې پښه کېښوده، نو د (VIP) پر لومړۍ څوکۍ د بُست پوهنتون رییس (احمد جان پوپل) ناست و، ژر راپاڅېد، ویې ویل: یون صیب دلته کېنه، ما ویل ځم خپل ځای ته، ده ډېر ټینګار وکــړ، دا**



**مهال دالوتکې خدماتي کارکوونکي راغلل، هغوی وویل همدلته کېنــه، ویې ویل: کپتان صیب دربانديې ځانګړي سلامونه وایي، ما وویل: مننه! کله چې الوتکې الوتنه پیل کړه، نو لومړی د هلمند شنې ځمکې او بیا مو شاړې دښتې تر سترګو شوې، د هلمند سیند، د دښتو او شنو ځمکو تر منځ یوه شنه لیکه راکاږلې وه. یو ځل بیا مو د خپلې ماضي او حال پــه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**باب افسوس څرګند کړ، چې د سیند تر غاړې څنګه تــږي او وږي یــو، څومره سپېره او څومره بدمرغه یو!؟**

**ما او پوپل صیب د بېلابېلو فرهنګي، ټولنیزو او سیاسي مسایلو پــه باب اوږدې او تفصیلي خبرې وکړې. تر کابله پورې نږدې یو ساعت مزل و. خو موږ پردې مزله پوه نه شو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کابل او د ژوندون انګړ

تر څلورو بجو څو دقیقې تېرې وې چې الوتکه د کابل پر هوایي ډګر



راکوزه شوه، ډېر ښه ارام سفر و. ترمینل ته داخل شو، خپل بکسونه او سامانونه مو راواخیستل. له ترمینله راووتو د خپـل مـوټر پـر لـوري




(c) ketabton.com: The Digital Library



**وخوځېدو. تر لس دقیقې مزله وروسته څه کم پنځه بجــې وې چــې د ژوندون ټلوېزیون انګړ ته راورسېدو په دې ډول مو هغــه ســفر چــې د جمعې پر ورځ سهار پنځه بجې له خپل کور او بیا څه باندې شپږ بجې له ژوندونه پیل کړی و، پای ته ورسېده، د ژوندون غوړېدلو ګلانو زمونږ هر کلی وکړ او ددې ښکلې هوا او فضا په لمس سره مو د سفر ستړیا لــړ شان پر دمې بدله شوه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خدای (ج) تر کوره

## ( د حج یونلیک)

لیکوال

محمد اسمعیل یون

۱۳۹۴ ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه


کتابنوم: د خدای (ج) تر کوره

لیکوال: محمد اسمعیل یون

خپرندوی: د ملي تحریک فرهنګي څانګه

د خپرونو لړ: ۹۲

د لیکوال د خپرونو لړ: ۳۸

وېبپاڼه: www.meltahrik.com

چاپکال: ۱۳۹۴ل کال

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

کمپوز: ضیاءالرحمن ضیاء

پښتۍ ډیزاین: فیاض حمید


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تحریک یادښت

**د افغانستان ملي تحریک د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې لـه خپلـو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شـل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلــې ټــولنې تــه وړاندې کوي. ملي تحریک دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ کې یې شــل عنوانونــه علمــي اثــار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحریک په یاده غونډه کې ژمنــه وکــړه چې د (۱۳۹۴ ل)کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصــرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړانــدې کــوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریک ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملی کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همــدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چــاپ جامــه اغوندي. ملي تحریک هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحریک له ټولو هغو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چــې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کــوي او کــور ودانی ورته وایي.**

**د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله**

**د افغانستان ملي تحریک فرهنګي څانګه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښاغلی استاد یې غوښتی و...

زه لا کوچنی وم چې په زړه کې مې د بیــت الله شــریف او مــدینې منورې  د زیارت مینه راټوکېدلې وه، هغه مهال مې د بیت الله شریف او د اسلام د ستر لارښود د روضې د انځورونو په لیدلو سره خپلــه مینــه ماتوله او دا مینه مې هغه وخت لاپسې زیاته شوله، کله چې مې پلار پر (۱۳۶۲ل) کال بیت الله شریف ته لاړ او د بېرته راتگ پرمهال یې له ځان سره یو ډول سرې کمرې راوړې، چې په هغو کې به مو د همغو ځــایونو عکسونه لیدل او زړه به مو درزا کوله چې خدایه کلــه بــه وي چــې دا ځایونه له نږدې وگورو. یو وخت داسې راغی چې د (ارواښاد استاد الفت نثري کلیات) چې د استاد یون په زیار راټول شوي وو، هغه مې ولوستل او له یو شمېر په اصطلاح روښنفکره دوستانو سره مې ناسته ولاړه شوه، نو بیا به مې داسې انگېرله چې حج خو له شک پرته فــرض دی، خــو د غریبو او بېوزلو لاسنیوی هم یوه وجیبه ده، هغه خلک چې حج ته ځي یو شمېر یې هغه ډول خلک دي چې په تکراري ډول حج ته ځي، باید له بېچاره وو او نادارو خلکو سره مرسته وکړي. د الله تعالی کارونه داســې وو چې پر (۱۳۸۵ل) کال مې مورجانه ناروغه وه، نو زړه مې وغوښــتل چې باید حج ته یې بوځم خو لاس مې تش و، بیا مــې هــم خپــل او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مورجانې نومونه ثبت کړل، د الله تعالی پېرزوینه داسې وه چــې زمــوږ نومونه راووتل، دا مهال نو اوس پیسې نه شته، زړه نــا زړه کېــدم، خــو (ساجد صیب) چې دغه مهال د ننګرهار د حج او اوقافو رئــیس و، هــر وخت به چې راسره مخ شو، ویل به یې چې څنګه شو، بالاخره یوه ورځ یې راته وویل، لکه چې زړه دې نه کېږي که څنګه؟ بس د مولوي صیب دې خبرې په حرکت راوستم او له دوستانو مې مرسته وغوښته او لــه امکاناتو پرته حج ته لاړو، نو هغه خبره راته پــه زبــات ورســېده چــې حاجیانو صاحبانو به ویل: هغه څوک چې الله تعالی غوښتی وي، حتمــاً حج ته ځي، زما یقین په دې خبره پوره پوخ شو چې دا یو واقعیت دی، خبره مې ولې تر دې ځایه راورسوله، دا ځکه چې زموږ استاد ښــاغلی (یون صیب) هم یو له هغو اشخاصو څخه و چــې د بېوزلــو او غریبــو د لاسنیوی لپاره یې همېشه خپلو هېوادوالو ته توصیه کوله او ویل به یې چې د غریبو او بېوزلو لاسنیوی کېدی شي زیات ثواب ولري، نسبت دې ته چې د تظاهر او نوم پیداکولو په خاطر یوڅوک حج ته لاړ شي، خو کله چې د الله تعالی اراده وشوه، نو له ښاغلي استاد څخه یې دا ټولې خبرې له یاده وکښلې، سیده یې د بیت الله شریف په زیــارت مشــرف کــړ او حاجي شو، الله تعالی دې د ښاغلي استاد حج قبول کړي.

رابه شم اصلي موضوع ته؛ د ښاغلي استاد یون د حج سفر (یونلیک) مې له سره ترپایه ولوست، داسې څه مې په کې پیدا نه کړل، چې هغــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې زه اصلاح کړم، ځینې ځای کې که کمپیوټري تېروتنه شوې وي یـا هم کومه کوچنۍ باریکي چې هغه هم د نشت برابره وه، دا ځکـه چـې ښاغلی استاد یون خو د هېواد نه، بلکې د سیمې په کچه یو ستر استاد، لیکوال او ستر مبارز شخصیت دی، د هغــه پــه لیکنــه کــې تېروتنــې پیداکول اسانه کار نه دی.

موږ ګورو چې هر څوک حج ته ځي، خو له حج څخه چې راوګرځي، یوازې د حاجي نوم له ځانه سره راوړي، هغه بیا یوازې یو شمېر محدودو دوستانو ته د حج ځینې خاطرې وایي چې هغه هم سمې ورته یادې نه وي، نو ځکه خو د خاطرو لیکل په کار وي او زموږ ډېری هېوادوال خو یا بېسواده دي او یا هم د لیکلو له فن سره اشنا نه دي، له نېکه مرغه چې استاد یون دغه تشه ډکه کړه، په دې مانا چې د حج د سپېڅلي سفر یو بشپړ یونلیک یې ولیکه. زموږ په هېواد کې په ټولیز ډول ممکن د حج د روحاني سفر یو یا دوه یونلیکونه لیکل شوي وي، چې هغه هم پــه دې کچه نه دي. په دې برخه کې موږ ډېرو اثارو ته اړتیا لرو.

ښاغلي استاد یون دغه یونلیک په ډېره ښکلې طریقه لیکلـی؛ نـه یوازې دا چې د خپل سفر خاطرې یې لیکلي، بلکې د حاجیانو صاحبانو لپاره یې د حج د سپېڅلي سفر یو ډېر په زړه پورې لارښود کتاب هــم ګڼلی شو.ده خپلې خاطرې په ساده، کلیواله ژبــه او کیســه ییــز ډول لیکلي او هم یې خپلو هېوادوالو ته په خپله خوږه ژبه د حج د مناسکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**او ارکانو د اداکولو لارې چارې ورښودلي دي. په دغه یونلیک کې د حج همغه اصلي تصویر او پیغام وړاندې شوی دی. دا یونلیـک هـم د حـج عادي بهیر ترسیموي، هم د حج دیني فلسفه بیانوي او هم د حج مدني او ټولنیزه فلسفه ټول په کې بیان شوي دي. زه په ډاډ سره ویلی شم که څوک دا یونلیک ولولي، نو یو خو به یې له حج سره بې کچه مینه پیدا شي او بل به د حج مراسمو د اداکولو په برخه کې هر څه ورته په ډېـره اسانه توګه مخې مخې ته راشي، دا د ښاغلي استاد لپاره د زیات ثواب موجب کېدی شي. زه په دې باوري یم چې که څوک دا یونلیک یو څـو مخه ولولي، نو راکښون یې دومره زیات دی چې بیا یې نه پرېږدي؛ ضرور به یې ترپایه لولي، د حج د سفر یوه مهمه موخه داده چې هلته یو څوک له خپلو مسلمانو ورونو سره له نږدې ګوري او په لویه کې د یو بـل لـه ټولنیزو، اقتصادي او سیاسي مسایلو څخه خبرېږي. استاد یون هم پـه دې اثر کې دا پیغام په ډېر ښه ډول عملي کړی او ځای کړی دی.**

**دا د ښاغلي استاد لومړنی یونلیک یا کتاب نـه دی، بلکــې تـر دې وړاندې یې په لسګونو سیاسي، فرهنګي، ټولنیز او ادبي کتابونه لیکلي چې د هېواد او سیمې په کچه یې خپلو خلکو او نورو ته نوی فکر، نوې روحیه او بالاخره د هېواد مینه او د انسانانو ترمنځ د متقابل احترام پر اساس د ژوند تېرولو لارې چارې ورپه ګوتـه کـړي دي. اســتاد تـل د محرومو او بېوزلو خلکو غږ پورته کړی دی، د ظالم پر وړاندې، لکه د غره**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شان ودرېدلی او د بشريت د ستر لارښود حضرت محمــد مصــطفی صلی الله علیه وسلم دا لارښوونه چې: ((غوره جهاد د ظالم چــارواکي پروړاندې د حق کلمه ویل دي.)) نه یوازې په خپله عملي کړې ده، بلکې نورو ته یې هم دا جرئت ورکړی چې د خپلو انساني او ملي حقوقو ننګه او ملاتړ وکړي او د زورور پر وړاندې ودرېږي، ظالم چارواکي او د هغوی عملونه د عدالت منګولو او د تاریخ پاڼو ته وسپاري.

ددې یونلیک په لوستلو راته دا جوته شوه چې استاد یون د خپــل سفر پرمهال د نړی له مسلمانانو او په ځانګړي ډول له خپلو هېوادوالو سره چې یا له دې ځایه دحج په نیت تللي وو او یا هم په سعودي کــې مسافر دي، د روزګار ګرمیو ته ناست دي، له هغوی سره کتلي، هم یې د هغوی ستونزې یې اورېدلي، هم یې هغوی سره د خپل هېواد د پرمختګ او له خپل هېواد سره د مینې ملي او اسلامي درسونه او جذبات شریک کړي او هم یې د حج ددې سپېڅلي سفر پرمهال د هغه ځــای مېشــت افغانان یو له بل سره د غونډو په واسطه یووالي او رورګلوی ته رابللي دي. خبره ډېره نه اوږدوم یوازې دومره وایم چې د استاد یون په برکتي ګوتو لیکل شوی دا یونلیک به نه یوازې دا چې د هېوادوالو لپــاره ډېــر ګټور ثابت شي، بلکې خپله د استاد لپاره به د دنیا او اخرت د نېکمرغۍ لامل هم وګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په پای کې د الله تعالی دربار ته د دعا لپاره خپل لاسونه لپه کوم چې زموږ د هېواد هر وګړی، هر شخص او هر افغان که هغه کوچنی دی کــه لوی، د ښاغلي استاد په څېر پر خپله خاوره او پر خپلــو خلکــو مــین وګرځوي. خپله لیکنه د استاد الفت په دې بیت پای ته رسوم:**

**ډېر تفاوت شته په انسان کې د مانا په لحاظ**

**واړه مشغول دي ځینې ځان ځینې جهان جوړوي**

**په درنښت**

**پوهنمل سید قیاس سعیدي**

**درېیم مکروریان، کابل- افغانستان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خدای(ج) تر کوره او یو څو نورې خبرې

د خدای(ج) تر کوره زما اووم یونلیک دی. دا یونلیک د حج د فریضې د اداکولو ټول هغه جریان رانغاړي چې زه ورته تللی یم او د حج مناسک او مراسم مې ادا کړي دي. کله چې مې د حج د فریضې د اداکولو نیت وکړ او دوستان مې هم خبر شول، نو د فکــر او نظــر ټولــو دوســتانو راتــه سپارښتنه وکړه چې ددې ستر روحاني سفر یادښتونه راټول او یو بشپړ یونلیک پرې ولیکم. زما هم په زړه کې ټینګ هوډ و، نو ځکــه خــو دې ایماني سفر ته زیات متوجه وم، کله چې د سفر وخت پیــل شــو، نــو د غاړې بکس کې مې کتابچه او قلمونه ځای پرځای کړل. کله چې مې له خپل کوره سفر پیل کړ، نو ساعت پر ساعت او ګام پرګام مې د ســفر د ټول جریان پر لیکلو پیل وکړ. د سفر په لړ کې چې د کومو شیانو د لیکلو امکان نه و، نو کله چې به په کوم ځای کې ساکن او دمه شوم، نــو تېــر یادښتونه به مې ژر پسې پوره کړل چې له یاده مې ونه وځي. نو ځکه خو پر دې بریالی شوم چې ددې سفر ډېر واړه خو مهم جزئیات هــم ثبــت کړم. البته کېدی شي ایمان، عقیده، پوخ هوډ او تکل ټول په دې کار کې سره شریک وي. په یونلیکنه کې زما پخوانۍ تجربه هم ددې سبب شوه چې دا یونلیک په دې څرنګوالي سره ولیکم. ددې ترڅنګ ستر ارمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې دا و چې خپلو هېوادوالو ته هم ګټه ورسوم. څرنګه چې د خدای(ج) کور ته ته تلونکي افغانان اکثره په ژوند کې یوځل ددې مجال پیدا کوي چې د حج فریضه اداکړي، نو طبیعي خبره ده چې ددې فریضې د ټــول جریان تعقیب کې له ستونزو او تېروتنو سره مخامخېږي. په پښتو کې د حج د فریضې لپاره لارښود کتابونه هم د ګوتو په شمار دي، یوازې دوه درې عنوانه او هغه هم حج ته تلونکو ټولو افغانانو ته نه رسېږي او بلــه خبره لا په کې داده چې دا لارښود کتابونه اکثره یې تصویري بڼه نه لري. نورو هېوادونو کې اوس د حج ویډیيي لارښوونې هم شته چې لوستي او نالوستي کسان ټول ورڅخه ګټه اخیستلای شي. لارښوونکي یا ناظمان یې هم ډېره تجربه لري. د افغان حاجیانو ناظمان یا معلمان هم ایله یــو ځل یا دوه ځله ددې چانس پیداکوي چې حج ته لاړ شي، هغوی خپله هم لارښوونې ته اړتیا لري، ځینې یې کتابي مطالعه لــري، خــو عملــي تجربه یې یوازې لومړی ځل وي، د ډېرو کمو دویم ځل وي. په دغسې یو تشیال کې د هر ډول نوی اثر لیکل طبیعي خبره ده زموږ هغو هېوادوالو ته ګټه رسوي، چې غواړي راتلونکي کې بیت الله شریف ته لاړ شي. مــا خپلو هېوادوالو ته د همدې نیت لپــاره دا یونلیــک لیکلــی دی. ددې خبرې توضیح هم په کار ده چې زه نه طالب یم، نه ملا یم، نه عالم، نــه مولوي او نه هم د حج د چارو ناظم. یو معتقد افغان یم او د خپل اعتقاد له مخې مې دغه یونلیک لیکلــی دی. طبیعــي خبــره ده چــې ډېــرې نیمګړتیاوې به ولري، هر انساني ګام او کار کې تېروتنې کېږي، خو که دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



اثر زما د هېوادوالو د ګتې وړ ګرځي او د حج په ستر ايماني سـفر کـې هغوی ته د ډېرو کمو اسانتياوو او روښانتياوو د برابرونې سبب شي، نو دا به زما د زحمت پوره اجوره وګڼل شي او ځان ته به يې د ثواب او اجر ښه اسباب وګڼم.

د اثر تر چاپ وروسته مې له لوستونکو څخه هيله ده چې د تېروتنو په باب راته خپل ليکلي وړانديزونه راولېږي چې د کتـاب د بيـا چـاپ او همدارنګه د برېښنايي بڼې په سمون کې ورڅخه کار واخيستل شي.

دا يونليک به په چاپي ډول هم د هېوادوالو لاس ته و رسي، په برېښنايي ډول به هم د وېبپاڼو له لارې او هم د (CD) له لارې هېوادوالو ته وړاندې شي، کوښښ به وکړم چې په ويـډيويي ډول هـم لـه دې څخـه لنـډ ويډيويي يونليک جوړ کړم چې لوستي او نالوستي ټول افغانان ورڅخه ګټه پورته کړي. خدای(ج) دې ټول افغانان او د نړۍ نـور مسـلمانان د خپل کور پر زيارت مشرف کړي او د همدې شرف په برکت دې زموږ په غمځپلي هېواد کې سوله، امن او سوکالي راولي او زموږ دا او هغه نړۍ دواړه دې په خپل نور او رحمت منورې او سوکاله کړي.

د الله(ج) د مهربانۍ په هيله


ستاسو د لارې يو يون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حج هیله

له هغې ورځې چې یو مسلمان انسان ښي او کیڼ لاس وپېژني او بیا د مور او پلار، یا د ملا امام او یا هم د کوم بل چا له خوا پر لمانځه ودرول شي، نو د حج هیله یې په زړه کې وغوړېږي. ان پر لمانځـــه بانــدې تـــر ودرېدو دمخه د اسلام پنځه بنسټونه یا ســـتنې (کلمـــه، لمـــونځ، روژه، زکات او حج) د هر مسلمان ماشوم ضرور زده دي، خو په ترتیب سره د هر یوه د تطبیق پړاوونه خپل خپل زمان او مکان غواړي. کله چـــې یـــو



مسلمان له ماشومتوبه د بلوغ پر لوري ګامونه اخلي او د اسلام نـــورې بناوې وربانديې فرض او لازمېږي، نو حج ته یې تلوسه نوره هـــم پســـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زياتېږي. تر دې دمه چې حج د هر مسلمان په ذهن کې د يوه خيال په څېر غځونې کوي، ډېری مسلمانان يې په خوب کې ګوري او ډېر يــې د ليدو په ارمان وي. بختور همغه څوک ګڼل کېږي چې دا خوب او خيال يې پر واقعيت بدل شي. ډېر بيا داسې دي چې دا ارمان له ځان سره ګور ته يوسي، خو په ژوندوني يې د خدای(ج) د کور د نور په ليدلو سترګې منورې نه شي.

يو زيات شمېر عوام يوازې تر دې پورې پوهېږي چې (حج) د اسلام پنځمه بنا ده او پر هر بالغ مسلمان چې وس او ځواک يې ولري، فــرض دی. نور نو د حج پر لغوي، اصطلاحي مانا او فضيلتونو يې ډېر ســر نــه خلاصېږي، خو له عقيده يي پلوه پرې پوره ايمان لري.

ددې لپاره چې عامو لوستونکو ته لږ لنډ معلومات وړاندې کړو. دلته به په لنډيز سره حج تعريف کړو:

حج په لغت کې قصد او ارادې کولو ته وايي او په شرعي اصطلاح پر ټاکل شوي وخت (د حج په مياشت) او ځای(بيت الله الحرام) کې د ټاکل شويو عبادتونو اداکولو ته وايي. د حج عبادتونه هم لکه نور عبادتونه پر فرض، واجب، سنت، مستحب او مکروه وېشل شــوي دي، امــا د يــوه صحيح حديث مطابق چې له رسول الله(ص) څخه روايــت شــوی دی، فرمايي: (الحج عرفه) يانې حج عرفه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاجي هغه څوک دی چې د الله(ج) د کور (کعبې) زیارت یې کـړی وي او د حج مناسک یې ادا کړي وي. څنګه چې د حج مرام له کعبــې شریفې څخه طواف دی، نو کعبه هم دوه ډوله ده، یــوه صــوري او بلــه معنوي. هغه څوک چې یوازې د کعبې په صورت پسې وي، هغه د حج له



منځ او باطن څخه ناخبره دی. یانې دې ته یو افاقي حج ویلای شو. امــا که د حج مقصد معنوي، واقعي او حقیقي بیت وي، نو دا حقیقي حــج دی. د حاجي حج باید د صوري او معنوي دواړو ترکیب وي. تر څو هغه تعبیرونه چې الله(ج) د حاجي لپاره اختیار کړي دي، د هغوی ریښتینی مصداق شي. حاجي ته الله پاک (ضیف الله)، د الله مېلمه؛ (وفــدالله)، د الله هییت؛ او (ضمان الله)، د الله په ضمانت او ساتنه کې، ویل شوی دی. حج ډېرې ګټې لري او قران کریم دغه حقیقت ته اشاره کړې ده، لکــه چې فرمايي: ﴿وَأَذِّن فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَىٰ كُـلِّ ضَـامِرٍ يَـأْتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ★ لِّيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ فِي أَيَّامٍ مَّعْلُومَـاتٍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّن بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ ۖ فَكُلُوا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا الْبَائِسَ الْفَقِيرَ) ژباړه: ((او اعلان وکړه په خلکو کې د حج، نو راځي به تاته پیاده او سواره په هره تېز رفتاره سورلۍ، چې راځي به له هرې لرې لارې نه ددې لپاره چې حاضر شي خپلو ګټو ته او د الله تعالی نوم په معلومو ورځو کې یاد کړي په هغه څاروو یې یاد کړي چې الله تعالی دوی ته ورکړي دي.))**

**زما په زړه کې هم د بل هر مسلمان په شان دا هیله له کوچنیتوبه همداسې ژوندۍ وه، کله چې مې پر ځوانۍ پښه کېښوده، نو بیا به مې دا هیله د خیال د یوې څپې په شان په ذهن کې تېره وبېره شوه.**

**عمر په ډېرې چټکۍ سره ګامونه اخیستل، له لوړو ژورو تېرېده، واده مې وکړ، د ماشومانو څښتن شوم. د کور او اور خاوند شوم، پر (۱۳۷۴ل) کال مې واده وکړ، نو زړه کې مې و چې له خپلې مېرمنې سره یوځای حج ته لاړ شم، خو په هېواد کې روانو بحرانونو ددې مجال رانه کړ، پر (۱۳۸۱ل) کال په هېواد کې سیاسي پانه واوښته. زه او مېرمن مې دواړه هم په ټولنیزو او فرهنګي کارونو کې داسې مصروف شولو چې هم دا کارونه وو او هم مو څلور اولادونه دومره ماشومان وو چې مونږ ته یې داسې مجال نه راکاوه، چې دواړه پر یو مهال په سفر ووځو. له اقتصادي پلوه مو کوم مشکل نه درلود او نه حج ته د تګ په لاره کې کوم مشکل و. زما مېرمن چې له (۱۳۸۴ل) کال راهیسې د ولسي جرګې وکیله ده، هر کال یې حج ته خپله سهمیه مستحقینو ته ورکوله.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۳۹۱ل) کال مې مېرمن راته وویل چې نور نو ځان تیار کړه چې یوځای حج ته ځو. خو هغه وخت بیا هم د ماشومانو له خاطره چې دلتــه یــې ښوونځي وو، د دواړو یوځایي تګ ممکن نه شو، هغې ته مې وویل چې له خپل پلار سره لاړه شه. هغې پلار سره د حج د سفر نیت وکړ. تېر کال مې دوه خویندې او د هغوی خاوندان او مور مې ټول حج ته ولېږل. تــر هغه وروسته مې نو بیا حج ته پوخ نیت وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حج پوخ نیت او تیاری

کله چې د (۱۳۹۳ل) کال په بهیر کې د ولسي جرګې وکیلانو تــه د حج درې تنه سهمیه ورکول کېدله، نو ما مې مېرمن ته وویل چې ماته یوه سهمیه وساته چې سږ کال مې له خیره سره حج ته نیت کړی او که د ماشومانو د مکتب غم نه وي او یا یې (نیا) کره لېږې، نو چې ته هم راسره لاړه شې ښه به وي. هغې وویل، تاته به سهمیه وساتم خو د خپل تګ په باب یې وویل چې کله وخت نږدې شو، مشوره به وکړو.

کله چې د حج د تګ وخت رانږدې شو، نو ماته یې له ولسي جرګې څخه د حج او اوقافو پر وزارت مکتوب واخیست، دا مکتوب زما امنیتي مسول ښاغلي (فریدون شېرزي) د حج او اوقافو وزارت ته یووړ، له هغه ځایه یې په دوه درې ورځو کې کار خلاص کړ او بیا یې د بانــک تعرفــه واخیسته. فریدون شېرزی د اداري کارونو په خلاصولو کې هــم ډېــره تجربه لري او هم پېژندګلوي، دی کارونه په ډېر سرعت سره خلاصــوي که هر څومره مشکل کار هم وي، دی ورته حل لاره راباسي، کله کله د مشکل کار په حالت کې له خپل امنیتي کارت څخه هم ګټه پورته کوي، خو مقصد کار ترې نه پاتې کېږي. د حج او اوقافو له وزارت څخه یې تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مکتوب اخیستو وروسته راته وویل (۲۷۲۵) امریکایي ډالره کېږي. هغه مې ورته پوره کړل. په ملي بانک کې یې تحویل کړل، تعرفه یې بېرته د حج او اوقافو وزارت ته یوړه، له هغه ځایه یې راسره اړوند مسول (صدیقي صیب) په تلیفون وغږاوه، هغه ډاډ راکړ چې کار خلاص دی. په عیدګاه جومات کې دې په لست کې نوم ته منتظر شه! فریدون راته وویل کله چې ته غواړې په همغه الوتکه کې دې ټکټ تنظیموو. خو یو**



**ځل عیدګاه جومات ته ځو هلته د وینې چک، واکسین کولو او کارت اخیستلو لپاره اړتیا ده او همدارنګه دوه درې ورځې، عملي او نظري درس ته، ما ویل درس خو به له کتابونو څخه زده کړو، خو د واکسین او وینې ټسټ لپاره به لاړ شم، ورځ تاسو مشخصه کړئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د سفر تر نېټې دمخه زه (یون)، حــاجي محمــد زمــان او فریــدون شېرزی دري واړه عیدګاه جومات ته لاړو. هلته مو وینــه ټســټ کــړه، واکسین مو وکړ او یو کارت یې هم راکړ، خو پاسپورت او ټکټ یې ځکه رانه کړل، چې ویل یې هغه د الوتنې پر وخت هلته درکوو. د واکسین پر مــهال چې اکثرو حج ته تلونکو افغانانو زه ولیدم، نو ډېر زیات خوشاله شول او د بیا لیدو په هیله مې ورځخه خدای پاماني واخیسته او بېرته کور ته راغلم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له کوره تیاری

کله چې د حج سفر نېټه راورسېده، نو پر همغه ورځ ماسپښین پــه ژوندون ټلوېزیون کې ګڼ شمېر ملګري راټول شوي وو، مازیګر مــهال فریدون شېرزي راته له عیدګاه جومات څخه د سفر اړتیا وړ څیزونــه، لکه دوه جوړې احرامونه، چوټې، کمربند، مسواک، وړوکی ملاتړی بکس او ځینې نور څیزونه راوړل. (وفاالرحمن وفا) چې د احرام د تړلو په چل پوهېده، هغه او نورو ملګرو راته تمریني احرام وتړه، چل مو ښه زده کړه، ماښام چې کور ته راغلم، اولادونو مې ویل: تر هغه چې ته نه وې تللی نن



مورډ خوب نه کوو، ډوډۍ مې وخوړه، مېرمن مې چې لا دمخه له خپــل پلار سره حج ته تللې وه، د حج د سفر ټول ضروري شیان یې راتــه پــه بیک کې منظم کېښودل، ملاتړی یا کمربند چې پیسې په کې ایښودل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي، هغه یې هم راته وښود چې تر احرام لاندې به یې ترم، دا یې هم وویل چې پیسې به په پلاستیک کې تاوې کړې او بیا به یې په کمربنـــد کې خوندي کړې، ځکه چې ملاتړی هم خولې کېږي او امکان لري چې پیسې هم په کې خرابې شي. ما نو څلور پنځه زره ریاله تیار برابر کــړي وو، په کمربند کې مې خوندي کړل، پنځه زره ډالر مې نور په کتابچه کې کېښودل او په بیک کې مې خوندي کړل. مېرمن مې راته وویل پیســې څو ځایه خوندي کړه، کــه یــو ځــای ورکــې او یــا لادرکــه شــي، نــو



بل ځای خو به خوندي پاتې شي، زما خپله هم عادت دی چې په ســفر کې تر اړتیا وړ زیاتې پیسې وړم او څو ځایه یې تقسیموم، که یوځای مې له یاده وځي، یا ورکې شي، نو بل ځای خو به خوندي وي. په کور کې د سفر د ټولو اړتیاوو تر برابرولو وروسته مــې اولادونــو ســره یادګــاري عکسونه واخیستل، اوس خو د ډیجیټل زمانه ده، په کور کې تــر ټولــو کوچنی، تر ټولو زیات په ټلیفون، کمپیوټر، انټرنېټ او کمرې پــوهېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(ودان) او (سولې) څو یادګاري عکسونه واخیستل، ډوډۍ مو وخوړه، د احرام ټول سنتونه مې پرځای کړل، لکه د نوکـانو اخیســتل، د ســننو پرځای کول، غسل کول او دغه راز داسې نرمــه خوشــبویي مــې هــم وکاروله، چې نورو ته یې بوی ور نه شي، بیا مې احرام وتړه او منتظر وم چې نور ملګري راشي او هغوی سره یوځای عیدګاه جومات ته لاړ شو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوه ساعته په کور کې

د (۱۳۹۳ل) کال د سنبلې یا وږي (۲۸)مه نېټه او د سپټمبر (۱۹)مه د جمعې ورځ د ماسخوتن لس نیمې بجې وې چې د تحریک ملګري هر یو: وفاالرحمن وفا، ضیاءالرحمن ضیاء، فیاض حمید، مطیع الله ساپی، شریف الله ناصري، قدرت الله بدلون او شفیع الله زهیر په مکروریانو کې زموږ د کور د بلاک مخې ته منتظر وو. هغوی ته مې احوال ورکړ چې



راځئ کور ته، بیا به لږ وروسته لاړ شو. ټاکل شوې وه یوولس بجې په کابل کې عیدګاه جومات ته لاړ شو او له هغه ځایه هوایي ډګر ته او د شپې پر یوه نیمه بجه به الوتکه الوتنه کوي. څو دقیقې یوولسو ته پاتې وې چې زما امنیتي مسول (فریدون شېرزي) زنګ وواهه چې الوتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وځنډېدله، موږ او تاسې به یوه بجه عیدګاه ته ځو، بیا هوایي ډګــر تــه. کېدی شي الوتنه درې بجې وي. دا خبر که څه هم ښه نه و، خــو ډېــر خواشینوونکی هم نه و. موږ وویل څه خیر لږ نور انتظار به هــم وکــړو. ملګرو خپلمنځي ګپ شپ هم پیل کړ او چای مو د معمــول پــه شــان څښه. چــای، غیبــت او سیاســت اوس د افغانــانو د ورځنــي ژونــد د ساعتېرۍ او وخت ضایعه کولو وسیلې دي. دلته غیبت ډېر ونه شو، خو**



**پر دې خبرې تینګار وشو چې لیکوال باید د خبرو او یو بل سره د کینې پرځای کار او فعالیت ته زیاته پاملرنه وکړي. خو پر سیاسي مســایلو د معمول په څېر ګرم بحث وشو، انتخاباتي لانجه چې له تېــر یــوه کــال راهیسې یې د خلکو زړه شین کړی و، یو ځل بیا دلته تاوه راتاوه شو، خو څرنګه چې دلته ټول د یوه فکر او نظر خاوندان وو، بحث دومره خوندور، جذاب او احساساتي نه و، هسې پیکه تېر شو. نږدې دوه ساعته مو پــه کور کې پر همدې خبرو او یو څه وخت مو د حج پر مراسمو، تګ راتګ او هلته د فرایضو، مناسکو او وجایبو پر څرنګوالي بحث وکړ. کله چې پنځه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لس کم یوه بجه شوه، نو انډیوالانو وویل ځو به، دوی تر ما دمخه له کوره ووتل، ما مې خپلې مېرمنې سره خــدای پامــاني وکــړه او څلــور واړه ماشومان مې، چې دا مــهال یې درې وینې او یــوازې (ودان) ویــده وو، ټول ښکل کړل، خدای پاماني مو ورڅخه واخیسته او په کابــل کـــې د عیدگاه مسجد پر لوري رهي شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یو ساعت په عیدگاه کې

درې څلور دقیقې یوې ته پاتې وې چې عیدگاه ته ورسېدو د مسجد د دروازې ساتونکي وویل چې یوازې حاجي صیب ته اجازه شته او له نورو پایوازانو څخه ښښنه غواړو، بیا فریدون شېرزي ورسره خبرې وکړې او زما نوم یې وریاد کړ، هغوی هم احترام وکړ او هم یې ټولو ته اجازه



ورکړه. فریدون شېرزي موږ ټول په عیدگاه جومات کې د حاجیانو د یوه تن منتظم ښاغلي (الحاج خواجه فضل الرحمن صدیقي) دفتر ته بوتلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه دفتر کې نه وو، موږ ټول دفتر کې کېناستو، دا مــهال یو بل حاجي صیب (عبدالله) چې په خوشال خان لېسه کې زما همدوره و، زما لیدو ته راغی، خوشالي یې څرګنده کړه چې په دې ستر سفر کې ملګري یو. خپل لاسي بکس یې هم ماسره بدل کړ، ځکــه چــې دده لــوی او زمــا وړوکی و او ما لوی ته اړتیا لرله، ما ورځخه مننه وکړه. فریدون، شــریف الله او وفاالرحمن ټول زما کار پسې لاړل، پوره یو ساعت وخت یې ونیو چې زما اسناد یې خلاص کړل او بیا مو د هوایي ډګر پر لوري حرکت وکړ. هوایي ډګر ته تر تګ دمخه (خواجه فضل الرحمن صدیقي) راته د احرام



د تړلو په باب وویل چې د عمرې تر نیت دمخه باید اوږه لوڅه نــه وي، اوس کولای شې احرام له ځانه تاو کړې، کله چې دې د عمرې نیت وکړ، بیا باید اوږه لوڅه پرېږدې. نورو ملګرو همدلته خدای پاماني وکړه یوازې فریدون شېرزی راسره هوایي ډګر ته لاړ. لسو دقیقو کې هوایي ډګر ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسېدو، موږ په خپل شخصي ګاډي کې خو نور حاجي صاحبان په دوو لويو ګاډو کې راپسې راروان وو، ښار کې ارامه ارامي وه، کله چې هوايي ډګر ته ورسېدو، امنيتي ځواکونو زموږ موټر ودراوه، خو فريـدون چـې ورسره خپله امنيتي پېژندنه وکړه، نو موږ يې د هوايي ډګر زاړه ترمينل ته پرېښودو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درې ساعته په هوايي ډګر کې

په هوايي ډګر کې تر امنيتي چک، د وېزې او پاسپورت تر کنټــرول وروسته ترمينل ته داخل شو، ګڼ شمېر حاجيان دلته منتظــر وو، چــا احرامونه تړلي وو او چا لا نه وو تړلي، دې ترمينل کې يو نــوی اتــاق د جامو د بدلولو او احرامونو د تړلو لپاره ځــانګړی شــوی و، دوه خــونې وړاندې ترې وړوکی جومات هم و.

دا يو مهال يو تن زما څنګ ته راغی، ځان يې معرفي کړ، زه عزت الله



یم، تاسو یون صیب نه یاست؟ ما ویل یم، ده ویل ستا لیــدل مــې ډېــر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارمان و، خدای ښه سفر کې سره ملګري کړو، نو که بل څوک درسره نه وي، سره یوځای به ملګري یو. ما ویل یوازې یم، که ته هم یوازې یې نو یوځای به سره سفر کوو. عزت الله ډېر خوشاله شو. دلته ترمینـل کـې ناست وو.

ټول حاجیان نه یو شان د احرامونو په تړلو پوهېدل او نـه د حـج د سفر په ټولو مناسکو، دا مـهال رسمي معلم، مبلغ او یا ناظم معلوم نه و، چې خلکو ته یې لارښوونه کړې وای. مخامخ پر دېـوال یـو ټلوېزیـوني سکرین لګېدلی و، چې په مکه مکرمه کې یې د حج مراسم تشریح کول، هغه هم ټولو نه د پوهېدو وړ نه برېښېده، یو نیم چې تر نورو لږ پوه و، یا یې کتابونه لوستي وو، یا یوځل دوه حج ته تللي وو، هغوی له نورو سره مرسته کوله، هغه چا چې احرامونه تړلي وو، یوه تن پر ټولو غږ وکړ، ځئ لاړ شئ جومات ته دوه رکعته نفل لمونځ وکړئ، موږ ټول لاړو، هر چا دوه دوه رکعته نفل لمونځ وکړ، بېرته راغلو، پر خپلو خپلو څوکیو کېناستو، دا مـهال له یوه حاجي څخـه خپـل پاسـپورت ورک شـوی و، خـورا خواشینی و، د ځینو حاجیانو ورته کڅوړې یې ولټولې، خو لکه چې پیدا یې نه کړ، نږدې پنځه بجې وې چې د سهار د لمانځه اذان یې وکړ. (۱۵) دقیقې زیاتو کم تر پنځه وو تېرې وې چې جومات ته د سـهار لمانځـه لپاره لاړو. هلته د حاجیانو ترمنځ د نظر اختلاف و، ځینو ویل احرامونه مو تړلي، د خولۍ پر سرولو او سر پټولو ته اړتیا نه شته، دا مـــهال یــو مولوي په ډېر جهر سره غږ کړ! ورونو که چا احرام تړلی وي او د احــرام نیت یې کړی وي، نو خولۍ او سر پټولو ته یې اړتیا نه شــته او کــه چــا احرام نه وي تړلی، نو خولۍ دې په سر کړي، خپله مولوي صیب دمخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو، جمعه وشوه، کله چې مې د مولوي غږ واورېد او څېرې ته یې ځیر شوم، نو ګورم چې زما خپل کلیوال او خپل عزیـز (مولـوي عبیــدالله نیازي) دی. نیازي صیب ډېر باتدبیره ملا دی، کله کله د کلیوالي ملایانو مخالفت هم کوي، ان کله کله ځینې بریدونه هم ماتوي، مــا ســره یــې نږدې څو کاله وړاندې څه خوابدي راغلې وه، ده څو ځله هڅه وکړه چې ماسره ځان پخلا کړي، خو ما ورته نه ضرر رسوه او نه مې هم غوښــتل ځان ورسره پخلا کړم، خو اوس چې د حج په سفر روان وم، غوښتل مې ډېره وړه کینه هم له هېڅا سره په زړه کې ونه ساتم، نو ځکــه لــومړی ستړي مشي ما ورسره وکړل، ده چې کله زه ولیدم نو خلاصه غېږه یې



راکړه، او هوا سترګې مې روښانه چې خپل عزیــز مــې ولیــد، اول یــې مبارکي راکړه، بیا یې وویل چې سخت دې خوښ کړم، اوس به نو عزیزه ما نه پرېږدې، چېرته چې زه وم، هلته به راسره ځې، زه دې ډېر په درد لګېږم، نو څنګ په څنګ راسره راروان شو، د بورډینګ کارتونو د چک وخت و، دواړه له ترمینله راووتو، تر لږ ځنډ وروسته الوتکې تــه پورتــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوم. هغه مهال چې ما ټکټ اخیسته، نو ټکټ والا راسره ډېر ګرم روغبړ وکړ، کار یې زما ژر خلاص کړ، راته یې وویل چې یون صـــیب ټکـــټ دې بزنس کلاس دی. کله چې مې ټکټ ته وکتل نو (A1) څوکۍ وه او بیا چې الوتکې ته پورته شوم، نو لارښود پر همدې لومړۍ څوکۍ کېنولم. په لاره کې زما عزیز مولوي عبیدالله نیازي صیب راته وویل چې زه مبلغ یا ناظم یم، کله کله به یې دې ته مرشد، معلم او رهنما هم ویل، خو ســـړ کـــال ورته ناظم وایي. زما د عزیز څوکۍ لرې وه، خو د خپل تقریر په مټ یې ځان زما څنګ ته راورساوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په الوتکه کې د عمرې نیت

مولوي عبیدالله نیازی چې کله الوتکې ته پورته شو، نو ټولو ته یې وویل چې د عمرې نیت وکړئ، هغه نیت په پښتو ژبه وتړه: ((نیت کوم چې د عمرې حج ادا کوم، خاصه خدایه تا لره، یا الله ته یې پر موږ اسانه کړې او له موږه یې قبول کړې.)) همدا نیت یې څو ځله پر حاجیانو تکرار کړ، ده وایه او حاجیانو پسې غبرګاوه. مولوي صیب وویل: ((موږ له دې ځایه (جدې) ته ځو او بیا (مکې معظمې) ته)). تر دې وروسته یې اوه ځله تلبیه وویله، ده وویل، تلبیه ویل یوځل فرض دي، خو افضلیت یې هم په همدې (۷) ځله ویلو کې دی. درې ځله هم ویل کېږي. ((لبَیک اللِهمِ لبَیک، لبَیک لا شریک لک لبَیک، إنِ الحمد و النِعمة لک و الملک، لا شریک لک)) مولوي صیب وویل (میقات) کابل شو، (میقات) هغه ځای ته ویل کېږي چې حاجیان له هغه ځایه احرام تړي او بیا مکې مکرمې ته ور داخلېږي. مولوي صیب تر څو ځله تلبیه ویلو وروسته وویل چې (میقات) کابل شو، تر کابل وروسته به جدې شریفې کې کوزېږو، زه د افغانستان بیرغ په لاس کې اخلم، نور ناظمان به هم دا کار کوي، هر موټر کې به یو ناظم وي، بیا له هغه ځایه مکې مکرمې ته ځو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په جده شریفه کې به یو ساعت پاتې کېږو. هلته به اودسونه تازه کوو، بیا به مکې مکرمې ته ځو، هلته به دمه کوو بیا به په ترتیب سره حرم شریف ته ځو، تر څو چې حرم شریف ته نه یو داخل شوي، تلبیه به وایم، تاسو به یې تکراروئ، په حرم شریف کې بیا خپل اصول دي، هغه به درته په نوبت سره بیانوم.**

**تر هغه وروسته نیازی صیب زما ترڅنګ کېناست راته یې وویل، ډېر خوشاله یم چې د مشر حاجي صیب (هدف یې زما پلار و) پر پل دې قدم**



**کېښود، په حج کې دوه شیان ډېر مهم دي: یو علم او بل ځواني، د ځوانۍ حج ډېر ثواب لري، زموږ اصلي هدف او کړنلاره په مکه معظمه کې (طواف) کول دي، مکه مکرمه د طوافونو او د زمزم اوبو مرکز دی، مدینه منوره د (دورو) او خرما مرکز دی. کله چې هلته لاړو، ګام پر ګام به درسره یم. مولوي صیب نیازي دا خبره هم وکړه چې وزیر صاحب (د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارشاد، حج او اوقافو وزیر) ته دې یوه غونډه جوړه کړې وه، دی رښــتیا هم په ستاینې او یادونې ارزي، ډېر نېک سړی دی، زه یې راوغوښــتلم، راته یې وویل چې مولوي صیب راشه حاجیانو سره لاړ شه، لارښــوونه ورته وکړه، نو زه دده په بلنه راغلم، بیا یې ماته وویل: عزیزه! تا په هغه غونډه کې رښتیا ویلي وو چې زموږ افغانان په رښتیا هــم ډېــر زیــات



معتقد خلک دي، خو څومره چې دوی اعتقاد لري، هغومره د اسلام پر اساساتو او جزیاتو نه پوهېږي، نو دلته هم چې کله حج ته ځي ســهوه کېږي (دمونه) پرې اوړي. زموږ خپل درې ملایان وو څو ځلــه حــج تــه تللي، خو بیا هم پرې درې درې ځله دمونه اوښتي وو او هــر یــوه درې درې پسونه صدقه کړل.


(c) ketabton.com: The Digital Library



دم: (وینه تویول) کله چې د حج په مناسکو کې (دم) ذکر شي، نــو مراد ورڅخه په مکي حرم د ګډي یا وزې ذبح کــول وي، چــې د کــوم جنایت په مقابل کې ترسره کېږي.

نیم ساعت به وتی و چې مولوي صیب نیازي بیا میک واخیست بیا یې (۷) ځله تلبیه وویله: ((لبَیک اللِهمِ لبِیک، لبِیــک لا شــریک لــک لبَیک، إنِ الحمد و النِعمة لک و الملک، لا شریک لک))

تر دې وروسته یې بیا وویل: درنو حجاجو! که چاته خــوب ورځــي، هغوی کولای شي خوب وکړي. دا مــهال پر ما هم د خوب څپه راغله، ما چې د تېرې شپې له سهاره خوب نه و کړی، د شنبې له ماښام څخه بیا



تر دې دمه پورې ویښ وم، نو د مولوي صیب دې خبرې ډېر خوند راکړ، خوب ته مې ځان وسپاره، خو ډېر ارام خوب نه و، د حج یو تت تصــویر مې په ذهن کې ګرځېده، د شیطان څو رنګونه او څو ډولونه مــې هــم ذهن کې ګرځېدل راګرځېدل، خو کوم مجسم تصویر مې ترې نــه شــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخيستلای، فکر مې کاوه دا سفر نو داسې سفر دی، چې د شيطان لــه ټولو رنګونو سره به څه ډول مقابله کوم، تر حج مخکې، د حج پرمــهال او تر حج وروسته شيطان داسې يو شی دی چې د دښمنۍ تشخيص يې اسانه نه دی، نو ځکه خو يې هره ښځه، نر، ملا، امي، خاص او عام يو ځل له ګړنګه غورځولي دي، نږدې دوه ساعته مې په همدې خــوب، نيمــه خوب، خيالي او تصوري حالت کې تېر کړل، خو د ارام خوب مجال راته پيدا نه شو، کله چې مې سترګې وغړولې، نو مولوي صيب نيازي يوځل بيا خپله غاړه تازه کړه. دې سره مې نور خوب والوت.

ساعت (۸) بجې او لس دقيقې وې چې مولوي صيب نيازی يوځل بيا ميک واخيست او بيا يې (۷) ځله تلبيه وويله: ((لبَيک اللِهــمِ لبَيــک، لبَيک لا شريک لک لبَيک، إنِ الحمد و النِعمة لک و الملک، لا شريک لک))

بيا زما ترڅنګ کېناست راته يې وويل: (۷) ځله تلبيه ويــل افضــل مستحب ده، (۵) ځله اوسط ده، درې ځله ادنا ده او يو ځــل فــرض يــا واجب ده، ده زياته کړه د يو ځل فرض او واجب په باب يــې د علمــاوو ترمنځ اختلاف موجود دی. اته بجې او (۱۸) دقيقې د بحرين له خاورې ووتو او د سعودي خاورې ته داخل شو د الوتکې کپتان وويل: يو ساعت او ۳۰ دقيقې وروسته جدې شريفې ته رسېږو. د الوتکې سرعت (۸۰۰) کيلو متره په ساعت کې دی او (۳۸۰۰۰) فوټه لوړوالی لري، کله چــې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سعودي په خاوره کې څه کم نیم ساعت مزل وشو، نو په تورو وړو غرونو او سپېرو دښتو مو سترګې ولګېدې، شین بوټی او شنه ساحه په کې په سترګو نه ښکارېده، د اروپایي هېوادونو معکوس حالت و. یوازې تــورو لیکو چې د پخو سړکونو تصویر یې کاږه او د هغو ترڅنګ پرتو ودانیو د نوي تمدن نښې ښکاره کولې، پــه داســې یــوه ســپېره دښــته کــې د



بشریت د ستر لارښود د نعمت ټوکېدل او بیا له دې ځایه ټولې نړۍ ته د رڼا او علم خپرېدل د یوه لوی او بې ساري اعجاز ښکارندویي کوي.

دا مــهال مولوي صیب نیازی یو ځل بیا تلبیې ته پورته شو (اوه) ځله یې تلبیه وویله: او موږ ټولو ورسره تکرار کړه.

((لبَیک اللِهمِ لبَیک، لبَیک لا شریک لک لبَیک، إنِ الحمد و النِعمة لک و الملک، لا شریک لک))

(c) ketabton.com: The Digital Library



مولوي صیب چې کله بېرته زما څنګ ته کېناست نو یـې وویـل: د حضرت پیغمبر(ص) حدیث شریف دی چې له دوو غړونـو څخـه یـو د حاجي له خولې تلبیه ویل او بل د قربانۍ د مال د حـلالولو پر وخـت د مال کړیکه، الله پاک ته رسېږي او ډېر مقبول دي.

د مولوي صیب نیازي له خولې تر تلبیه ویلو څو دقیقې وروسته یـو مبلغ مایک ته ورغی، د (بسم الله الرحمن الرحیم) په ګډون یې (۷) ځله تلبیه وویله: ((لبِیک اللِهمِ لبَیک، لبَیک لا شریک لک لبِیک، إنِ الحمد و النِعمة لک و الملک، لا شریک لک))

ده بیا یو بل مبلغ ښاغلي (حسیب الله) ته بلنه ورکړه چې راشي او حاجیانو ته معلومات ورکړي. مخکې تر دې چـې حسـیب الله خپلــې خبرې وکړي دا مــهال مولوي صیب نیازی بیا مایک تــه پورتــه شــو او تصیح یې وکړه چې (بسم الله الرحمن الرحیم) په تلبیه کې نه شته. بیا حسیب الله تر لنډې خطبې وروسته وویل: دې مقدسو اماکنو ته ستاسو د راتګ له امله هرکلی وایم او د لوی خدای(ج) لــه دربــاره تاســو تــه بریالیتوب غواړم چې له دې مقدس ځای څخه ښه ګټــه پورتــه کــړئ. تاسې دلته (۲۴) ساعته د خدای(ج) یادونه په خوله راوړئ، د بیت الله شریف ترڅنګ، د حضرت محمد(ص) د روضې ترڅنګ او هر چېرته چې یاستئ له الله(ج) څخه ښښنه وغواړئ، بیا یـې وویـل: اوس بیـا تلبیــه تکراروو: ((لبِیک اللِهمِ لبِیک، لبَیک لا شریک لک لبِیک، إنِ الحمــد و النِعمة لک و الملک، لا شریک لک))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څو دقیقې وروسته د الوتکې د کپتان له خوا اعلان وشو چې نیم ساعت وروسته به انشا الله د جدې شریفې په هوایي ډګر کې کښته**



**شو. تر دې اعلان وروسته مولوي صیب نیازی یوځل بیا د تلبیه ویلو لپاره مایک ته لاړ. مولوي صیب وویل: دا تلبیه ډېر ثواب لري، زه یې وایم بیا یې ما سره تکرار کړئ، بیا یې اوه ځله تلبیه وویله: ((لبَیک اللهمِ لبَیک، لبَیک لا شریک لک لبَیک، إنِ الحمد و النِعمة لک و الملک، لا شریک لک))**

**تر دې تلبیې وروسته یې څو ځله نوره هم تلبیه وویله، وخت (۷) بجې او (۲۶) دقیقې وې چې الوتکه د جدې پر هوایي ډګر کوزه شوه او هغه سفر مو چې له کابل هوایي ډګر څخه پر سیمه ییز وخت د سهار پر شاوخوا (پنځه نیمو) بجو پیل کړی و، په جدې هوایي ډګر کې پر سیمه ییز وخت پر (۷) بجو او (۲۶) دقیقو پای ته ورسېد.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جدې هوايي ډګر

کله چې ترمینل ته داخل شو، نو لومړی یې د ټولو حاجیانو په خوله کې یو ځاڅکی واکسین وڅڅاوه، واکسین که څه هم یو ځاڅکی و، خو ډېر تریخ او بې خونده و. وروسته بیا دوه درې تنه صحي مسولین راغلل، ویې ویل، یو بل واکسین هم باید وکړئ، هغه د یوه تابلیت په شان و، چې ټولو ته یې یوه یوه ګولۍ ورکړه، تر نیم ساعت زیات وخت یې



کېنولي یو، خو تر دې دمه لا درک معلوم نه دی. دلته بېلابېلو پاکستاني، بنګالي او د جنوبي اسیا د نورو هېوادونو اتباع لیدل کېږي، چې اکثره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خادمانو په توګه کار کوي. سیم کارتونه هم خرڅوي، پیسې هم بدلوي، هر څوک چې په هره بیه ورسره جوړ شو. اکثرو افغان حاجیانو همدلته خپل ټلېفونه راوکاږل، سیم کارتونه یې بدل کړل او خپلو خپلوانو ته یې د خیرت احوال ورکړ، ما ځکه وانه خیست چې ښاغلي وحیدالله مومند راته ویلي وو، سیم کارت مې تیار درته اخیستی او ښاغلی (مصور) درته منتظر دی، کله چې له هوایي ډګره راووتلې، نو هغه به درسره ملګــری شي، تر استوګنځي به دې راورسوي او سیم کارت به هم درکړي. تر نیم



ساعت انتظار وروسته یو تن منتظم غړ کړ، افغانان دې راځي، ټول شیان منظم وو، څه خاص تکلیف پېښ نه شو. کله چې زما پر پاسپورت دخولي وېزه ولګول شوه، نو همدلته د ترمینل په همدې برخه کې استاد (محمد شریف رباطي دوراني) ( د ارشاد، حج او اوقافو  وزارت لوی سلاکار او د جدې د بعثې رئیس) ماته منتظر و، تر هرکلي وروسته یې راتــه وویــل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مومند صیب او نورو دوستانو راته ډېر ټلیفونونه کړي او ویلي یې وو چې یون صیب په تکلیف نه شي، ماورته ووېل زه په خپل تکلیف نه خفه کېږم، خو چې تاسې تکلیف شئ په دې خفه کېږم. رباطي صیب ډېر ژر زما بیک پیدا کړ. بیا یې دوو تنو نورو دوستانو ته معرفي کړم، ما سره بل ملګری (عزت الله) دواړه یې بدرګه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د افغانانو انتظام

افغانان په بې نظمۍ مشهور دي، خو دلته خبــره بــرعکس وه، لــه ترمینل څخه تر دې دمه ځای پورې د افغانستان لوحې او بیرغونه پــه مسلسل ډول لګېدلي وو که کوم لاربښود هم درسره نه وای، نو راساً یې د افغاني حاجیانو د راټولېدو هغه ځای ته بیولې چې د واړه کمپ بڼه یې درلوده او بیا له همغه ځایه یې په موټرو کې د مکې مکرمې پــر لــوري



حرکت کاوه. هلته څو شېبې کېناستو، بیا یو تن افغان ملګری چې موږ یې پېژندلو او همدلته یې د حج او اوقافو وزارت د مامورینو په ډله کې کار کاوه، موږ ځان سره لږ وړاندې کافتریا ته بوتلو چې موږ ته یــو څــه غرمنۍ برابره کړي، خو هوټلونو لا تر دې دمــه کــار نــه و پیــل کــړی. سملاسي یې موږ ته لیمو، جوس او کیک راوړل، بیا بېرته دمه ځای تــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاړو، هلته ټول افغان حاجیان راټول شوي وو، په منظم ډول پر څوکیو ناست وو. کله چې د ټولو بیکونه راورسېدل او ټول ښه خاطر جمع شول، نو بیا یې په منظمه توګه لیکه کړو، لومړی زه او بیا زما بل ملګری (عزت الله) یې په لین کې ودرولو، موټر ته تر ختلو وړاندې یې ټول پاسپورتونه ټول کړل، زه لومړی او زما ملګری دویم کس وو چې موټر ته پورته شولو. دا مــهال بیا د (رباطي) صیب په ټینګار همغه شــخص چــې مــوږ یــې کافتریا ته بیولي وو، پیپسي، اوبه او سورکړی چرګ راوړل، پلاســتیک کې تاو وو، موږ ته یې راکړل، ویې ویل چې دا به غرمه په لاره کې خورئ،



موږ که هر څومره ټینګار وکړ خو هغه ژر بېرته کښــته شــو. مــا خپــل ملګري (عزت الله) ته وویل چې زه نه غواړم له نورو حاجیانو سره مــې

(c) ketabton.com: The Digital Library




توپیر وشي، خو تر دې دمه چې مو هرځای کې قدم ایښی د خدای پــه فضل دومره دوستان راټول شوي او دومره مینه یې کړې چې سړی یې عوض نه شي ورکولای. اوس ساعت (۱۸) کم یوولس بجــې دي، ټاکــل شوې څو شېبې وروسته (۳۰۲) ته ورته ګړندی ګاډی چې په ایرکنډېشن سمبال دی، له جدې څخه د مکې مکرمې پر لوري حرکت وکړي. همدا شېبه د موټر دروازې بندې شوې، ټایرونه چک شول، کېــدی شــي لــږ وروسته حرکت وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له جدې څخه د مکې مکرمې پر لوري

لس کم یوولس بجې وې چې له جدې شریفې څخه مو د مکې مکرمې پر لوري حرکت وکړ، دوه دقیقې مزل به مو نه و کړی، چې مولوي صیب نیازي بیا تلبیه پیل کړه اوه ځله یې بیا وویله او ویې ویل چې مکه مکرمه د حضرت نبي کریم(ص) پلرنی وطن دی او تر هغه پورې



چې مورِ او تاسې د خدای(ج) د کور طواف نه وي کړی، زمورِ او ستاسې شعار همدا (لبیک دی (لبیک) دا مهال یو حاجي پرې غږ کړ زمورِ نو بل کار څه دی وایو به یې نو....

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سړکونه لکه څنګه چې موږ فکر کاوه ښه نه وو، د پرمختللې نړۍ له سړکونو سره یې سیالي نه شوه کولای، موټر هم ډېر مستریح نه و، عیناً لکه هند او پاکستان کې اوږده ګاډي چې ډېر جمپونه خوري، خصوصاً څوک چې پر لومړیو څوکیو ناست وي. په موټر کې د قران کریم ښکلی تلاوت چالان و چې د سړي یې ذهن بلې نړۍ ته وړه، له جدې څخه پر غزېدلې لویې لارې ښي لاس سړک د مکې مکرمې او کیڼ لاس یې د مدینې منورې پر لوري تللی دی.**

**تر (۱۵) کیلو متره مزله وروسته یوځل بیا د لبیک غږونه پورته شول.**



**(۱۲) بجې او (۷) دقیقې وې چې (حدیبې) سیمې ته ورسېدو، دا هغه سیمه ده چې پیغمبر(ص) له قریشو سره د (حدیبې د سولې تړون)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لاسلیک کړی و. تر دې دمخه په ټوله لار کې نیــازي صــیب د (لبیــک لبیک) غږونه پورته کول او تر (۵۰) ځلو زیاته به یې تلبیه ویلــې وي او موږ ټولو ورسره بدرګه کوله، (۱۲) بجې او (۸) دقیقې وې چې د حجاجو تمځي ته ورسېدو. دلته یې لږ خوراکي ځیزونه حجاجو ته وړیا ورکړل او همدارنګه د حج لارښود یو بروشر یې ټولو حجاجو ته وړیا وروباښــه. دا ځای په حقیقت کې د چک کولو یوه نقطه هم وه. د حج لارښود یې په ډېر ښه ډول ترتیب کړی و او په اسانۍ سره سړي مفهوم ترې اخیستلای شو. لارښود په عربي او انګلیسي ژبه و. دادی دلته کټ مټ د هغه عربي متن وړاندې کوو:**

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library




تر چک وروسته یو تن مسول کس هم په موټر کې پورته شو. تر دې وروسته د مکې معظمې ښار ته داخل شو، لومړی یې درې تنه حاجیان، چې سیاسي پاسپورتونه یې لرل، خو مور سره په سفر کې ملګري وو او عماره یې بل ځای کې وه، له موږه بېل کړل، دا مـــهال په موټر کې ناست لارښود کس څخه ادرس لادرکه و، درې ځله یې پر همغې کــوڅې تـــاو راتاو کړو، خو په پای کې یې ځای پیدا کړ. نږدې (۴۵) دقیقې د ادرس په پیداکولو تېرې شوې، دې حالت کې موټر کې ناست حجاج سخت ستړي کړل. کله چې یې ځای پیدا کړ، هغوی یې پر خپل ځای کښته کړل، بیا موټر حرکت وکړ، لومړی یې مور ته خپل اړوند مکتب (دفتر) لـــه لـــرې وښود او بیا پنځه لسو دقیقو کې خپلـــې عمـــارې یـــا اســـتوګنځي تـــه ورسېدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عماره یا استوګنځی

دا عماره یا ودانۍ (ابراج البو) نومېږي او د (تسیر) په سیمه کې واقع ده چې د بیت الله شریف په غرب کې هغه ته نږدې موقعیت لري. تکړه سړی په پلي تګ تر (۱۵-۲۰) دقیقې مزله وروسته له دې ځایــه حــرم شریف ته ورسېدی شي. دلته ( ۱-۲-۳-۴) نمبر عماره وه. کله چې لــه موټره کښته شو، نو ګڼه ګونه ډېره زیاته وه، منتظر وو چې څه وکړو. دا مــهال مې (عزت الله خان) ته، چې له کابله راسره ملګری شــو، وویــل چې لږ صبر کوه، زما اندیوال (مومند صیب) به پیدا شي، موږ ته یــې د



اتاق غم خوړلی دی، لس دولس دقیقې انتظار به مــو کــړی وي، چــې مومند صیب را پیدا شو، هغه او موږ سخت خوشاله شوو، کیلي یې پــه لاس کې وه، ماته یې ویل څوک دي نور درسره؟ ما ویل دغه ملګری مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، ده ویل ولې وکیله صیب (هدف یې زما مېرمن ارین یــون وه) دې رانه وسته، ما ویل کور کې څوک نه وو، ماشومان یوازې پــاتې کېــدل، هغوی او ماشومانو سره به بیا یوځای عمرې ته راځو. (۱۲) منزل کې یې (۳) اتاق چې درې چپرکټه په کې پراته وو، خو د دوو تنو لپاره وو، موږ ته راکړ. اتاقونه چندان لوکس نه وو، عیناً لکه د محصلینو د لیلې په شان، په یوه پوړ کې څو دهلېزونه وو، هر دهلېــز کــې بیــا درې اتاقونــه وو، تشنابونه تر اتاقونو بهر وو، دوه تشنابه پر دریو یا څلورو اتاقونو، تشنابونه



هم عادي وو. ددې ودانۍ منزلونه تقریباً اتلســو پوړونــو تــه رســېدل، لوړوالی یې زیات، خو خدمات یې کم وو. نــږدې څلــورنیم زره افغــان حاجیان په همدې یوې ودانۍ کې، چې څلور برخې یې لرلې، ځای شوي وو. کله چې اتاق ته داخل شو، نو ښه ستړي وو، لومړی مو خوب ته ځان وروسپاره، خوب لږ خو ګټه یې زیاته وه، کله چې له خوبه پاڅېــدو، نــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مومند صیب راغی هغه ته مو وویل چې موږ خو د ماسپښین لمونځ نــه دی کړی، هغه وویل دوه رکعته مسافرانه لمونځ وکړئ، ستاسې که څه هم ځای معلوم دی، خو تراوسه لا پوره مقیم شوي نه یاست، دوه رکعته مسافرانه لمونځ مو وکړ، بیا مومند صیب د عمرې او د حج د مراسمو په باب معلومات راکړل، که څه هم ما سره تیار د حج لارښود کتابونه وو، او هغه مې یوځل لوستي هم وو، خو د عملي او نظري حج او سفر تــرمنځ ډېر تفاوت وي. ښاغلی وحیدالله مومند چې په ژوندون ټلوېزیون کې یو وخت د اسلامي خپرونو مسول و او اوس هم همکاري لري، دا یې اولسم حج دی، د حج په ټولو مناسکو پوره اګاه دی، هم له نظري پلوه او اوس هم له عملي پلوه، نو هغه ته مې وویل چې ملا صیب دادې وخت دی، زه پوره (حج) ته راغلی یم، ((سیاسي)) حج نه کوم، هېڅ شی باید راڅخه پاتې نه شي، نه باید کوم فرض راڅخه پاتې شي، نه سنت، نه واجب او نه هم مستحب، که پاتې شوه ګناه یې ستا پر غاړه ده. (دم) باید رابانــدې وانه وړي. دم نو په حج کې هغه حالت ته وایي چې د حج په مناسکو کې قصداً یا سهواً کومه واجب برخه پاتې شي، نو بیــا دم پــرې لازمېــږي. مومند صیب ته مې وویل ګوره که چېرې دم رابانډې واوښت نــو ټــول مسولیت یې پر تا دی، هغه وویل څه بېغمه اوسه، زه درسره یم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لومړۍ عمرې لپاره تیاری

د (۱۳۹۳ل) د وږي یا سنبلې (۲۹) مه چې د (۲۰۱۴ میلادي) کال د (سپتمبر) میاشتې له (۲۰) نېټې سره سمون خوري، د شنبې ورځ ده. دا زما لومړی ځل و چې حج ته راغلی یم، د حج د لارښود کتاب له مخې مې ځینې شیان په زړه او ذهن کې وو. په دې اثارو کې یې د مکې مکرمې په بېلابېلو برخو کې، مکرم، معظم او سپېڅلي ځایونه معرفي کړي چې د حج اداکول او بشپړتیا هم په همدې مکرمو ځایونو پورې تړلې ده. څرنګه چې هر حاجي په ترتیب سره د همدې ځایونو لیدو ته ورځي، نو ښه به وي چې دلته په پیل کې دا ځایونه په لنډیز سره وپېژنو او بیا به په هرځای کې د عبادت پرمهال د عبادت څرنګوالی وښیو.

## د مکې مکرمې مکرم ځایونه:

### ۱- مسجدالحرام:

ابوذر رضی الله عنه وایي: (( عرض مې وکړ ای د خدای(ج) رسوله! د دوو مسجدونو له جملې د کوم بنسټ دمخه ایښودل شوی؟ ویې فرمایل: ((مسجدالحرام))، عرض مې وکړ تر هغه وروسته کوم یو؟ ویې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فرمایل: ((مسجدالاقصی)) عرض مې وکړ: د دواړو ترمنځ زمـاني واټـن څومره و؟ ویې فرمایل: ((څلوېښت کاله)).**

**جابر رضی الله عنه روایت کوي چې د خدای(ج) رسـول صـلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: ((زما په مسجد کـې لمـونځ کـول لـه نـورو**



**مسجدونو زر ځله بهتر دی، یوازې پرته له مسـجدالحرام څخـه او پـه مسجدالحرام کې لمونځ کول د نورو مسجدونو په اندول سل زره ځلـه بهتر دي.)) علما په دې نظر دي چې نه یوازې پـه مسـجدالحرام کـې لمونځ کول د زیات اجر سبب ګرځي، بلکې د ټول حرم شریف ساحه په دې اجر کې شامله ده.**

## ۲- کعبه:

**کعبه د ځمکې په سر تر ټولو پاک ځای او له محترمو امـاکنو څخـه ګڼل کېږي. الله پاک خپل کور ته یو ځانګړی پام لري. الله تعالی له هـر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي ځخه یو بهترین انتخابوي او له بهترینو ځمکــو څخــه یــې کعبــه انتخاب کړه. د ځمکې پر سر هېڅ یو کور الله(ج) ته تر کعبې محبوب نه دی،نو له همدې کبله ددې بې حرمتي په هېڅ حالت کې روا نه ده، هر څوک چې دلته پناه یوسي، هغه به په امن کې وي. کعبه د دین له ستنو څخه ده او د اسلامي شریعت د بقا بنسټ دی.

د کعبې د جوړولو په اړه ګڼ حدیثونه راغلي دي. محمــد صــلی الله علیه وسلم فرمایي: الله جل جلاله ادم او حوا ته جبرائیــل واســتاوه او هغوی دواړو ته یې وفرمایل: زما لپاره کور جوړ کړئ. جبرائیل دوی تــه نقشه جوړه کړه. ادم علیه السلام کیندل کول او حوا خاورې وروړلې، تر څو چې اوبه راووتلې. بیا دغه اواز وشو؛ بس دی ای ادم علیه الســلام! کله یې چې کور جوړ کړ، الله(ج) ورته وحې وکــړه چــې ددې شــاوخوا طواف وکړه او هغه ته وویل شول: ته لومړی پیغمبر یې او دا لومړی کور دی. وروسته پېړۍ تېــرې شوې تر هغې چــې نــوح علیه السلام هغه ولیــده. بیا پېړۍ تېرې شــوې تــر هغې چې ابــراهیم علیــه الســـــلام ددې ســـــتنې ودرولې. دا کور د هغه کور



معادل دی چې په عرش کې ملایکو جوړ کړی او بیت المعمور نومېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځینې علما وایي چې کعبه ابراهیم علیه السلام جوړه کړه او مخکې تر ده څخه د کعبې په نوم کوم کور موجود نه و، ځینې بیا په دې بــاور دي چې د الله(ج) کور تر ابراهیم علیه السلام څخه دمخه جوړ شوی او لومړی جوړوونکی یې ادم علیه السلام دی. کولای شو دغه دواړه قولونه سره یوځای کړو. چې کعبه په لومړي ځل ادم علیه السلام د الله(ج) په امر جوړه کړه او بیا د یوې حادثې په نتیجه کې له منځه ولاړه. تر هغې وروسته ابراهیم علیه السلام د الله(ج) په امــر ددې بنســټ لــه ســره کېښود. نو ابراهیم علیه السلام د کعبې، د حج مناسکو، طریقو او ادابو په جوړولو کې ستر نقش لوبولی دی. قران کریم هم په دې اړه فرمایي: ژباړه: ((یاد کړه کله چې موږ ابراهیم ته د بیت ځای ښکاره کړ.))

تر جوړېدو وروسته کعبې د تاریخ په ګڼو پړاوونو کې ګڼ تحولات او پرمختګونه لیدلي دي. کعبې د مخکینیو پیغمبرانو پــه وخــت کــې، د جاهلیت په زمانه کې، د رسول الله صــلی الله علیــه وســلم او راشــده خلفاوو او همدارنګه په نورو دورو کې تر دې دمه ګڼ تحولات لیدلي دي، چې په دې اړه د تاریخ کتابونو تفصیلي بحثونه کړي دي.

**د کعبې د نومونو حکمت:** د کعبې ګــڼ نومونــه پــه قــران او سپېڅلو احادیثو کې ذکر شوي دي. په قران کریم کې د الله(ج) کور په (۱۶) ایتونو کې (۲۰) ځله ذکر شوی دی. د (کعبــه) کلمــه (۲) ځلــې، (البیت) (۷) ځلې، (بیت) یو ځلې، (بیت الحرام) (۲) ځلې، (بیت العتیق)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲) ځلې، (بیتک المحرم) یو ځلې، (بیتی) دوه ځلې، (بکه) یــو ځلــې، (مسجدالحرام) یو ځلې، (بیت المعمور) یو ځلې او (البلدالامین) هم یو ځل ذکر شوي دي. د یادونې وړ ده چې په حدیثو او تفاسیرو کې د دغو نومونو حکمت ته هم اشارې شوي دي.

کعبه: د کعبې کلمه دوه ځایه په قران کریم کې ذکر شوې ده. (جَعَلَ اللّٰهُ الْكَعْبَةَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ قِيَامًا لِّلنَّاسِ) او بل ځــای فرمــایي: (هــدياً بــالغ الكعبة). د کعبې په نومولو کې څو علتونه موجود دي:

لومړی: د کعبې مقطع سطح تقریباً د مربع په بڼه ده او په عربي ژبه کې معمولاً څلور کونجه او مربع کورونو ته کعبه وایي.

دویم: په عربي ژبه کې د هر شي منځ ته هم کعبه وایي. څنګه چې د الله(ج) کور او بیت الله الحرام د دنیا په منځ کې واقع دی، نو ځکه ورته کعبه وایي. د یهودو یوه ډله رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغله او د ځینو مسایلو په اړه یې ورنه پوښتنه وکړه او یوه پوښتنه یې دا وکړه چې کعبې ته ولې کعبه وایي. رسول الله صلی الله علیــه وســلم ورتــه وفرمایل: ( لانها وسط الدنیا) ځکه چې دا د دنیا منځ دی. پــر همــدې اساس کعبه د ځمکې مرکزیت دی، نو تر څو چې کعبه وي، ځمکه به هم وي. یانې د ځمکې پیدایښت هم له کعبې څخه دی او بقا یې هم په کعبه پورې تړلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



درېیم: د کعبې بله مانا د ځمکــې لــه ســطحې څخــه لــوړوالی او اوچتوالی دی. کعبه دوه ډوله لوړوالی لري، ظاهري او معنوي. له ظاهري پلوه هم کعبه د ځمکې له سطحې څخه لــوړوالی لــري او هــم د هغــه شرافت، حرمت او عظمت له پلوه، چې د الله پر وړاندې یې لري.

عتیق: په قران کریم کې دوه ځایه ذکر شوی دی. یو د الله لــه کــور څخه د طواف په اړه (...وَلْيَطَّوَّفُوا بِالْبَيْتِ الْعَتِيقِ) او بل د قربانۍ د ځایونو په مورد کې (ثُمَّ مَحِلُّهَا إِلَى الْبَيْتِ الْعَتِيقِ).

ددې نوم د ایښودلو څو علتونه بیان شوي دي:

لومړی، له ملکیت څخه ازادي: په حدیثو کې د کعبې د ازادۍ په اړه ګڼې یادونې شوې دي. یانې د خلکو له ملکیت څخه ازاد. هر کور چې په ځمکه کې جوړېږي یو مالک او څښتن لري، مګــر د الله د کــور مالــک یوازې الله(ج) دی. یوازې کعبه ده چې هېڅوک پرې ددې دعوه نه شي کولای چې دا د دوی ملکیت دی.

دویم، د نوح(ع) له توپان او غرق کېدو څخه ازادي: الله(ج) د نــوح علیه السلام د وخت په توپان کې ټولې ځمکې ډوبې کړې، یوازې د الله کور ډوب نه شو، نو دا له ډوبېدو ازاد دی.

درېیم: له دوزخ څخه ازادي: په ځینو تفسیرونو کــې دې ټکــي تــه اشاره شوې ده چې څوک د الله د کور زیارت وکړي او د بیت الله الحرام زیارت کوونکی وي، الله(ج) هغه ته له دوزخ څخه خلاصون ورکوي او له

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهنم څخه خلاصون د الله له اړخه ډالۍ ده. نو کعبه د دوزخ له اور څخه برائت دی، نو ځکه ورته بيت العتيق وايي.

څلورم، زوړ او قديم: د عتيق له معناوو څخه يوه زوړ او قديمي هــم ده. چې دلته د کعبې قدامت ته هم اشاره ده. څومره چې يو عمل او کار قديمي وي، په هماغه اندازه يې ارزښت هم زيات وي.


بکه: دغه کليمه او نوم له قران کريم څخه اخيستل شــوی دی. الله(ج) فرمايي: (إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكًا) لـومړی کـور چــې د خلکو لپاره جوړ شو، هماغه دی چې پـه مکـه کـې دی. ګـڼ احـتمالات د بکه لپاره ذکر شوي دي او يو يې دا دی چې بکه کعبې ته وايي.

## ۳- حجرالاسود:

په مسجدالحرام کې له ډېرو روښانه نښو څخه يوه هم حجرالاسود دی. زيات احاديث راغلي چې دا ډبره له جنت څخــه ده او تــر شــيدو سپينه وه، خو د ادم د زامنو ګناهونو هغه توره کړې ده. له هغې جملې څخه د ابن عباس(رض) له قوله روايت شوی، حديث شريف دی چې په هغه کې راغلي دي: ((حجرالاسود له جنت څخه نازل شــوې ده او تــر شيدو سپينه وه، خو د ادم د زامنو ګناهونو توره کړې ده.)) پيغمبر صلی الله عليه والسلام په حجرالاسود باندې د لاسونو د موښلو ثواب بيــان کړی دی. يو څوک عبدالله بن عمر ته راغی او ورتــه يــې وويــل: ای د

(c) ketabton.com: The Digital Library





**عبدالرحمن پلاره! زه تا ګورم چې یواځې دغو دوو رکنونو ته لاس وروړې؟ هغه وویل: ما له پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه واورېدل چــې ویــې فرمایل: ((له ګومان پرته چې دغو دوو رکنونو ته لاس وروړل ګناوې لــه منځه وړي. رسول الله صلی الله علیه وســـلم څرګنــده کــړې ده چــې حجرالاسود پر هغه کس چې دا یې لمس کړې وي، پــر هغــه شــاهدي ورکوي.))**

**ابن عباس وايي: د خدای رسول صلی الله علیه وسلم د حجرالاسود په باب ویلي: ((پر خدای(ج) سوګند چې د قیامت پر ورځ خدای هغــه راپیداکوي، په داسې حال کې چې هغه دوه سترګې لري چې پــه هغــو لیدل کوي او ژبه لري چې په هغې وینا کوي او پر هغو کسانو شــاهدي ورکوي چې په حقه یې پر هغې لاسونه موښلي دي.))**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر طواف کوونکي ته دا سنت ده چې د هر طواف په پیـل کـې پـر حجرالاسود تکبیر وایي او که چېرې ممکنه وي هغه ښکل کړي او یا دې په لاسونو لمس کړي او بیا دې خپل لاسونه ښکل کړي، یا دې هـم پـه خپلې امسا لمس کړي او بیا دې هغه ښکل کړي، پرته له هغې دې ورته په لاس اشاره وکړي او که چېرې یې ورته لاس ونه رسېد او یا د چا لـه ازار او اذیته وډار شو، اشاره دې وکړي او تکبیر دې ووایي او په دې ټولو کې دې د خدای د پیغمبر صلی الله علیه وسلم لاره تعقیب کړي او باید باور ولري چې دا ډبره نه زیان رسوي او نه ګټه، په همدې خاطر کله چې حضرت عمر فاروق(رض) حجرالاسود ډبره ښکلوله ویې فرمایـل: (( زه پوره باور لرم چې ته یوه ډبره یې نه ګټه رسوې او نه زیان که چېرې مې پیغمبر صلی الله علیه وسلم نه وای لیدلی چې ته یې ښکلولې نو ما به هېڅکله نه وای ښکل کړې.))


## ۴- یماني رکن:

د خدای(ج) پیغمبر صلی الله علیه وسلم پر یماني رکن لاس راکاږه، لکه څنګه چې د ابن عمر په حدیث کې یادونه وشوه او پر یماني رکن او حجرالاسود لاس موښول ګناهونه له منځه وړي، فقها په دې متفق دي چې پر هغو باندې لاس موښل مستحب او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د لارې تعقیبول دي. خو د ښکلولو پرځای یې نامتو عالمان نه ښکلولو ته ترجیح ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




**امام ابن القيم د حجرالاسود او يماني رکن د فضيلت په باب وايي: (( د ځمکې پرمخ هېڅ داسې ځای نه شته چې ښکلول او لاس راکاږل پرې**




**مشروع وي او د ګناهونو د له منځه تلو سبب شي، پرته له حجرالاسود او يماني رکن څخه.))**

## ۵- حجر:




**د يوې نيمه دايرې ساحې نوم دی چې د کعبې په شمال کې له کعبې سره متصله واقع ده. د شامي او عربي رکن ترمنځ موقعيت لري، له کعبې څخه دی، کله چې قريشو کعبه بيا رغوله، نو پانګه يې کمه راوړې وه، نو ځکه يې د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابراهیم(ع) له قوانینو سره سمه جوړه نه کړه، بلکې کعبه یې وړوکې جوړه کړه او هغه مقدار (حجر) یې پرېښودل، پیغمبر صلی الله علیه وسلم د (حجر) یا ډېرو هغه اندازه او مقدار بیان کړی دی.

او په بېلابېلو روایتونو کې راغلي چې حضرت محمد(ص) بي بي عایشې(رض) ته وفرمایل: (( که چېرې قوم دې وغوښتل تر ما وروسته یې جوړ کړي، راشه چې هغه اندازه تاته وښیم)) هغه وخت یې اوه ګزه هغې ته وښودل. ځکه نو که چېرې کوم څوک په حجر (حطیم) کې لمونځ وکړي، لکه چې په کعبه کې یې لمونځ کړی وي. وروسته له دې ساحې څخه احاطه راتاوه شوه، دا ساحه د حطیم شریف په نامه هم یادېږي.

## ۶- الملتزم:




د کعبې شریفې د دروازې او حجرالاسود ترمنځ واقع دی، لکه څنګه چې یې ابن عباس حدونه ټاکلي دي او فرمایلي یې دي: ((د رکن او د کعبې د دروازې ترمنځ ملتزم دی.)) دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای ته پناه ځای (مقوذ) او دعا ځای (مدعا) هم ویل کېږي.

امام نوري رحمه الله وايي: (( په يو روايت کې راغلي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د رکن او کعبې دروازې ترمنځ له خدایه د پناه غوښتنه کړې او خپله مبارکه سینه، څېره او سپېڅلي لاسونه يې پر هغو ایښي دي. دا حدیث شریف له دوو ضعیفو سرچینو څخه روایت شوی، لومړی له ابن عباس څخه ثابته شوه چې ویلي يې، داسې يې کړي دي. بل روايت له ابن تیمیه رحمه الله څخه دی چې هغه وايي: (( که چېرې غواړې ملتزم ته راشې کومه ستونزه نه شته او هغه د حجرالاسود او د کعبې د دروازې ترمنځ دی. نو بیا دې سینه او صورت او خپل دواړه لاسونه پر هغه کېږده، دعا وکړه او حاجت دې له خدایه وغواړه او دا کار کېدی شي تر طواف مخکې، تر طواف وروسته او یا د طواف په بهیر کې ترسره شي. قدرمن صحابه چې به کله هم مکې ته راتلل دا کار يې کاوه.))



## ۷- د ابراهیم مقام:

هماغه ډبره یا تیږه ده چې حضرت ابراهیم علیه السلام به د کعبې د جوړېدو پرمهال پر هغې ودرېده او حضرت

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسماعیل علیه السلام به ورته تېرېږي راوړلې او دا مقام همغه تیږه ده چې حضرت ابراهیم علیه السلام د حج د غږ یا بلنې لپاره پر هغې ودرېدلی او غږ یې کړی دی. خدای(ج) په قران کریم کې فرمایي: ((فِيهِ آيَاتٌ بَيِّنَاتٌ مَقَامُ إِبْرَاهِيمَ وَمَن دَخَلَهُ كَانَ آمِنًا)) ال عمران۹۷.


امام طبري ددې ایت شریف په تفسیر کې وایي: په هغه کې د خدای(ج) د قدرت او د خپل خلیل ابراهیم د اثارو نښې دي، له هغې جملې څخه پر هغې تیږې د حضرت ابراهیم علیه السلام د پښې نښې دي چې پر هغې ودرېدلی دی. هغه څوک چې د کعبې طواف پرځای کوي، خدای(ج) دا مشروع کړې چې دلته لمونځ وکړي. د بېلابېلو روایتونو له مخې پیغمبر صلی الله علیه وسلم په ابراهیم مقام کې لمونځ ادا کړی دی. نو ځکه خو تر طواف وروسته د ابراهیم مقام شاته د لمونځ کول، تر طواف وروسته مستحب او سنت دي. خو لاس موښل او ښکلول یې منع دي.

## ۸- زمزم:

دا مبارکه او مشهوره څاه په مسجدالحرام کې ده چې د حجرالاسود په ختیزه او د ابراهیم مقام په سویلي برخه کې واقع ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library





له دې ځاه څخه د اوبو راوتلو کیسه مشهوره ده او فضایل یې واضح او څرګند دي. حضرت ابراهیم ع د الله ج په امر خپله یوه مېرمن هاجره چې دمصر اوسېدونکې وه، له خپل زوی حضرت اسمعیل ع سـره لـه فلسطین څخه مکې معظمې ته راوستله اودلته یې په بې اوبو اوبـې وښوځمکه کې پرېښودله، تاریخ لیکي چې حضرت ابراهیم ع له دوی سره په خورجین کې راوړې لږه خرما او اوبه هم پرېښـودلې دامهـال حضرت اسمعیل تی خوره کوچنی و،کله چې حضرت ابراهیم ع بېرته لاړ او دهاجرې اوبه ختمې شوې نو وارخطاشوه چې تنده هغه اودهغې تنکی زوی له منځه یونسي،نو دصفا لوړې غونډۍ تـه پـه دې هیلـه وختله چې که کوم انسان وګوري او اوبه ترې وغواړي خوهلته څوک نه و وروسته یې په شېله (خوړ)کې منډه کړه اودمروې لوړې ته وختلـه چې که څوک ومومي او مرسته ترې وغواړي خوهلته هم څوک نـه و ،دې تلولۍ بې بې اوه ځله دصفا اومروه ترمنځ منډه وکړه،او زوی یې هلته لرې داوسنۍ کعبې په څومترۍ کې چې هغه مهال دکعبې نښـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هم نه وه، پروت و په اوم ځل چې دمروې په لور ولاړه نویوغړ یې ترغوږ شو راغلله ګوري چې یوه پرښته خپل وزر پرځمکه وهي چې له همدې ځایه اوبه راوځي لومړی یې له دې الهي ډالۍ څخه دحضرت اسمعیل تنده خړوبه کړه اوبیایې پخپله وڅښلې.**

**لوی خدای(ج) هغو ته داسې ځانګړتیاوې او فضیلتونه ورکړي چې نورې اوبه یې نه لري. له هغې جملې څخه مخکې تر دې چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم اسرا او معراج ته وخېږي په دې اوبو یې مبارکه سینه ومینځل شوه، له شرعي او طبي پلوه د ځمکې پرمخ تر ټولو ښې اوبه دي. څښل یې د ډوډۍ په څېر سړی مړوي.**

**دوروستیومعلوماتو له مخې، دزمزم کوهی اوس په یوساعت کې (۳۹۶۰۰) لیتره اوبه ورکوي داکوهی ترځمکې لاندې څو سترګې لري تر مطاف لاندې دکوهي خوله (۱،۵۶) متره ، ژوروالی یې (۳۰) متره، په کوهي کې دولاړو اوبو حجم (۴) متره او په بیخ کې دکوهي قطر (۱۳) متره دی ترې دې چې یوه سترګه یې د اذان دځای لاندې ده.**

**دکوهي قطر له (۱،۴۶) تر ( ۲،۶۶) متره دی.**

**دزمزم کوهی له کعبې څخه (۲۱) متره لېرې دمقام ابراهیم خواته دی، اوس پر دې کوهي د (۸ ،۸۸) متره مربع په مساحت یوه ودانۍ جوړه شوې چې دمطاف لاندې ده اوله مسعی څخه ورته تر ځمکې لاندې لار ورغلې ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دزمزم لپاره له حرم څخه څو کیلومتره لېرې د کدَی په نوم سـیمه کې په (۱۴۱۵هـ ق) د (۱۵۰۰۰۰) یوسل اوپنځوس زره لیتروپه ظرفیت ذخیره جوړه شوې ده ،له همدې ځایه دمدینې منورې په شمول نورو سیموته په بوشکو اوټانکرو کې زمزم وړل کېږي.**

## ۹- صفا و مروه:

**صفا او مروه هغه دوه غونډۍ دي چې د حضرت ابراهیم علیه السلام مېرمن (بي بي هاجره)**



**پر خپل زوی حضـرت اسمعیل علیه السـلام ډېره تـږې شـوه او د اوبو د پیداکولو په لټه کې شوه له صفا څخه راکښته شوه، لږه لاړه، بیا یې لږ منډه کړه، بیا لږه لاړه، تر هغه پورې چې د مروه غونـډۍ تـه ورسېده اوه ځله دې د دوو غنډیو ترمنځ منډه رامنډه کړه، تر څو څوک پیدا کړي چې هم دې او هم یې زوی ته لږې اوبه راوړي همـدا مهـال و چې څښتن تعالی پر ځمکه باندې د اسمعیل علیه السلام د پښـو لـه موښلو څخه اوبه راوخوټولې چې مخکې مو ورته لنډیز بیان کړ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ددې لپاره چې د کعبې شريفې اړوندې برخې او شاوخوا ځايونه په ښه ډول مشخص شي، لاندې تصوير وګورئ.**




## ۱۰- منی، عرفات او مزدلفه:

**دا درې واړه ځايونه معظم او مقدس مشــاعر دي، چــې حاجيــان د**



**حج د فريضې د اداکولو لپاره هلته ځي. منی ته د راټولېدو دمې او ذبح په خاطر ځي، په دې خاطر ورته منی وايي چې د قربــانۍ وينــه هلتــه تويېږي. عرفات د حج درېيم فرض دی چې تاکل شوی وخت لري. که له**

(c) ketabton.com: The Digital Library





ټاکل شــوي وخــت څخــه تاخير شي، نو حج له سره نـــه صـــحيح کېـــږي او راتلونکي کال کې به د حج قضايي راولي. تــر عرفــات وروسته د مبيت او ذکــر و دعا په خاطر مشعرالحرام ته راځي. مشعرالحرام د مزدلفې په منځ کې يو وړوکی غر دی چې اوس د پراختيا په مقصد لــه منځــه وړل شــوی او پرځای يې مسجد جوړ شوی. مزدلفه د محسر د ناوې په منځ کې واقع ده، د عرفې تر دوه غاښي پورې، پيل او پای يې په مزدلفه کې شامل نه دی او هغه ټول حرم ګڼل کېږي.

## عمره، احرام او طواف:

په کتابونو کې يې راوړي چې کله حاجيان مکې مکرمې تــه داخــل شي، د سامان تر ځای پرځای کولو وروسته دې غسل يا اودس وکړي.

په لارښودو کتابونو کې يې د عمرې د احرام د تړلو په باب ويلــي: د عمرې مانا ده د اباد کور اراده کول، زيارت کول او په شرعي اصطلاح له عمرې څخه مراد کوچنی حج دی، چې هر وخت کېدی شي، هېڅ کوم ټاکلی وخت نه لري، عمره له حج سره هم کېدی شي او له حجه جلا هم، عمره په ژوند کې يو ځل موکد سنت ده، عمره يوازې د احــرام تــړل، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کعبې شریفې طواف کول، د صفا او مروه ترمنځ سعی او حلق یا تقصیر کول دي. په رمضان المبارک کې عمره کول مستحب ده، د رسـول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی، د رمضان په میاشت کې عمـره کـول داسې دي لکه زما په ملګرتیا حج کول (ابو داود). د عمرې په فضـیلت کې ډېر احادیث ذکر شوي چې یو حدیث په لاندې ډول دی: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: ((څوک چې له کوره د حج او عمرې پـه نیت روان شي او په لاره کې وفات شي، نو دغه سړی به بې حسابه جنت ته داخل شي.))

کله چې حاجیان وغواړي د عمرې احرام وتړي په کار دي چې تر هر څه لومړی غسل یا اودس وکړي، خو غسل ډېر ښه دی. بیا دې د احرام جامه چې له یوه لنګ او څادر څخه عبارت ده، په دې شرط چې نوي وي او یا مینځل شوي وي، واغوندي، که خوشبویي یـې درلـوده، نـو ودې لګوي او بیا دې دوه رکعته نفل لمونځ وکړي او دارنګه نیت دې وکـړي ((اللهم أني أرید العمره، فیسرها لي وتقبلها مني)) ژباړه: ای الله! مـا د عمرې د اداکولو اراده کړې ده، ماته یې اسانه کړې او له ماڅخه یې قبوله کړې. تر نیت وروسته دې تلبیه ووایي: ((لبیک الهم لبیـک، لبیـک لا شریک لک لبیک ان الحمد و النعمة لک والملک لا شریک لک)) په دې توګه نوموړی کس محرم ګرځي. په کتـابونو کـې د نارینـه او ښـځینه حاجیانو لپاره د څو نورو ټکو یادول هم ضروري ګڼل شوي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- که حاجي نرينه وي، تلبيه دې په جهر وايي او که ښــځينه وي، تلبيه دې په خفيه (پټه توګه) ووايي.

۲- نر دې سر او مخ نه پټوي او ښځه دې سر پټ کړي او مخ دې نه پټوي.

۳- نرينه حاجي د ګنډل شويو جامو له اغوستلو څخه منع دی، خو د ښځو جامې چې هر ډول وي، ممانعت نه لري.

۴- نرينه بايد داسې څپلۍ په پښو کړي چې ښنګري يې لــوڅ وي، مګر ښځې هر ډول څپلۍ په پښو کولای شي.

۵- د احرام په حالت کې بايد نر او ښځه دواړه د جګړو، پوچو ويناوو او له بدو اعمالو ځان وساتي.

۶- د احرام په حالت کې د نوکانو پرېکول، د سر د وېښتانو خريل او کمول، غوړول او ږمنځول، لاســونو او پښــو بانــدې نکريــزې لګــول، خوشبويي او صابون کارول جايز نه دي.

۷- د احرام په حالت کې د ښځې او مېړه يوځای ملاسته او جمــاع کول حرام دي.

۸- محرم د ښکار کولو او بل چاته د ښکار له ښودلو څخه منع دی.

نر او ښځه کولای شي له هرې دروازې څخه حرم شريف او طواف ته دننه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



طواف د خدای له کوره ګردچاپېره ګرځېدو ته وايي.

طواف په لغت کې له یو شي څخه چاپېره ګرځېدلو یا تر یو شي جارېدلو ته وايي او په اصطلاح کې له کعبې شریفې څخه په اخلاقو سره چاپېره ګرځېدلو ته طواف وايي. طواف د حج دویم رکن دی او په درې ډوله دی؛ ۱- سنت، ۲- فرض، ۳- واجب. درې واړه په لاندې ډول تشریح کېږي:

۱- قدوم طواف: د قدوم، تحیه او یا سلام کولو طواف سنت دی او مسجد الحرام ته له رسېدلو سره سم اداکېږي. په مفرد او قران حج کې دومره توپیر دی چې قارن به مخکې د عمرې طواف کوي بیا د قدوم طواف کول مستحب دي او مفرد به صرف قدوم طواف کوي او په متمتع دا طواف نه شته. دا د ښه راغلاست او حرم شریف ته د سلام کولو طواف دی.

۲- د زیارت طواف: دا طواف فرض دی. د حج دویم رکن دی، که پاتې شي حج نه صحیح کېږي. غوره وخت یې د ذوالحجې لسم (د اختر لومړۍ ورځ) ده، خو که په څه وجه پاتې شي، نو د ذوالحجې پر یوولسم او دولسم هم ادا کېدی شي.

۳- وداع طواف یا د صدر طواف: کله چې حاجي له حج څخه فارغ شي له مکې مکرمې څخه د رخصتېدو پر وخت به دا طواف

(c) ketabton.com: The Digital Library





**کوي دا د وداع یا خدای پامانۍ طواف دی چې حکم یې واجب دی.**

**له دې طوافونو څخه موږ دا نتیجه ترلاسه کوو، چې په خپل ټولنیز ژوند کې هم د مراتبو تسلسل او همدارنګه تر خپل اصلي کار دمخه هم مقدمه ولرو او د هغه تر پای ته رسولو وروسته هم باید یو څه غوره عمل وکړو. له مقدمې او تیاري پرته باید یو کار پیل نه کړو او د نتیجو تر لاسته راوړلو وروسته یې دفعتاً پرېنږدو.**

## د طواف کولو مسنونه طریقه:

**کله چې حاجي مکې مکرمې ته ورسېږي، په ادب او عاجزۍ سره به مسجدالحرام ته داخل شي او کله یې چې پر کعبــې شــریفې ســترګې ولګېدې، نو تکبیر، تهلیل او درود به ووایي، وروسته به دا دعا وکــړي: (اللّٰهُمَّ اغْفِرلِیْ ذُنُوْبِیْ وَافْتَحْ لِیْ اَبْوَابَ رَحْمَتِکَ) ای خدایه! زما ګناهونه معاف کړې او زما لپاره رحمت دروازې خلاصې کړې. له مســجدالحرام**

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه د وتلو پر وخت به دا دعا وايي: (اللّٰهُمَّ افْتَحْ لِیْ اَبْوَابَ فَضْلِکَ وَسُهِّلْ لِیْ اَبْوَابَ رِزْقِکَ) ای خدایه! زما لپاره دې د خپل فضل او کــرم دروازې خلاصې کړه او زما لپاره د رزق ذریعې اسانه کړه.

تر طواف مخکې دې حاجي د احرام څادر ښي تخرګ لاندې وباسي او پر کينه اوږه به يې واچوي، دېته په شريعت کې (اضطباع) وايي، تــر دې وروسته به د کعبې طرف ته مخ کــړي د (حجرالاســود) او (يمــاني رکن) تر منځ به ودرېږي د طواف نيت به وکړي. (الهم انی اريــد طــواف بيتک المحرم فيسره لی وتقبله منی). ای خدايه! زه ستا د محترم کور طواف کول غواړم، نو زما لپاره يې اداکول اسانه کړې او زما له طرفه يې قبول کړې.

تر دې وروسته به (استلام) وکړي. استلام په لغت کې لاس وروړلو ته وايي او په اصطلاح کې له استلام نه مقصد د حجرالاسود ښــکلول يــا مسحه کول او يماني رکن ته لاس وروړل دي. د طواف د هر دور شروع له حجرالاسود نه کېږي چې کله بېرته حجرالاسود ته راورسېږي، نو يو دور يا ګردش به پوره شي. اوه ګردشه يو طواف ګڼل کېږي.

بيا به د بيت الله شريف او حطيم (حطيم هغه ځای دی چې په بيــت الله پورې اړه لري) په چاپېر له ښي خوا نه طــواف شــروع کــړي او اوه ګردشه به پوره کړي. په داسې ډول چې په دريو لومړيو ګردشونو کې به په پهلواني تګ کوي او په نورو څلورو ګردشونو کې به په عــادي حــال

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرځي. که وسه يې کېدله نو د هر ګردش او طـواف پـه پـای کـې بـه حجرالاسود ته په رسېدو سره هغه ښکل او مسحه کړي او که زياته ګنه ګونه وه، وسه يې نه وه او د حجرالاسود په ښکلولو سـره خلکـو تـه د تکليف رسېدلو وېره وه، نو مخامخ به ورته ودرېږي او د هغې پر لوري به د امسا يا لاس په ورغځولو سره د مسح کولو په څېر اشاره وکړي.

## د طواف واجبات:

طواف لاندې واجبات لري: ۱- طهارت که غسل وشي ډېره ښه ده که نه اودس هم کفايت کوي، ۲- عورت ستر پټول، ۳- له ښي طرف نـه د طواف شروع کول او کينې لوري ته د کعبې ساتل، ۴- که څه عذر نه وي، نو پياده طواف کول، ۵- په ولاړه طواف کول، ۶- د حطيم لـه بهـر نـه طواف کول، ۷- اوه ګردشه پوره کول.

که له واجبو څه پاتې شي دويم ځل به يې اداکوي که دويم ځل يې ونه کړي، نو يوه قرباني ورباندې لازمېږي.

## په طواف کې حرام شيان:

۱- د جنابت او بې اودسۍ په حالت کې طواف کـول، ۲- د عـورت ښکاره کېدل، ۳- خپل کينې اړخ ته د کعبې نه ساتل يانې په چـپ دور طواف کول، ۴- په ناستې سره طواف کول، په حطيم کې دننـه طـواف

(c) ketabton.com: The Digital Library



کول، ۶- پرته له څه مجبورۍ نه په سورلۍ سره طواف کول، ۷- تر اوو گردشو کم طواف کول.

که د بې اودسۍ په حالت کې طواف وشي کفاره يې پسه يا سېرلی دی او که د جنابت په حالت کې طواف وشي، نو کفاره يې د غوا يا اوښ قرباني ده، ځکه چې دا لوی جرم دی. سربېره پر دې نور که پاتې شي دوباره به يې ادا کوي او که ادا نه شي يوه قرباني به ادا کوي.

## د طواف مکروهات:

۱- د طواف په حالت کې پر بدن يا جامه د خفيف نجاست لگېدل، ۲- د ذکر او دعا پر ځای فضول او عبس خبرې کول، ۳- د څه شي خوړل، ۴- اخيستل او خرڅول، ۵- تر يو يا دوه دورې گردش نه پس هسې کېناستل، ۶- د طواف تر پوره کولو وروسته په ابراهيم مقام کې د لمانځه تر اداکولو مخکې بيا بل طواف شروع کول، ۷- اضطباع نه کول، ۸- د حجرالاسود استلام پرېښودل، ۹- په ډېر شور د ذکر او دعا لوستل، که نور څوک داسې کار کوي هغه ته بدرد ويل نه دي پکار، بلکې خپله ورڅخه پرهېز وکړي.

د طواف په پيل کې بايد حاجي حجرالاسود ته مخامخ ودرېږي او خپل لاسونه دې حجر الاسود ته مخامخ پورته کړي او الله اکبر دې ووايي، بيا دې خپل لاسونه په حجر الاسود کېږدي او هغه دې ښکل کړي او يا دې خپله حجرالاسود ښکل کړي، خو که چېرې حجرالاسود

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته رسېدل ګران وو او یا د نورو د اذیت سبب ګرځېده نو یوازې له لرې واټن څخه دې ورته اشاره یا سلام وکړي او تلبیه دې قطـع کـړي او د عمرې د طواف په نیت دې طواف شـروع کـړي، تکبیـر دې ووایـي او لاسونه دې پورته کړي، وروسته دې له خپلې ښي خوا څخه چې هلته د بیت الله شریف دروازه هم ده، په طواف کولو پیل وکړي. او حطیم دې د طواف کولو په دایره کې راګیر کړي، تر څو چـې بیـا حجرالاسـود تـه ورسېږي، بیا دې حجر الاسود ته مخ راواړوي، تکبیر دې ووایـي او پـه همدې ترتیب سره دې ټول اوه چکرونه یا دورې پوره کړي، د احـرام د




څادر یو طرف دې پر کینه اوږه واچوي او بل طرف دې تر ښـي تخـرګ لاندې تېر کړي او پر کینه اوږه دې واچوي او ښي اوږه دې لوڅه پرېږدي، چې دې حالت ته (اظطباع) ویل کېږي. درې اول چکرونه دې په چابکۍ او پهلوانۍ او د اوږو په ښورولو سره ترسره کړي چې ورته (رمـل) ویـل کېږي او څلور پاتې ګردشونه دې په عادي ډول سرته ورسوي، ښځه دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې د (رمل) یانې (بې له چابکۍ او پهلوانۍ او د اوږو له ښـوروولو پرتـه) طواف وکړي. کله چې له طوافه خلاص شي، د امکان په صورت کې دې ابراهیم مقام ته نږدې دوه رکعته لمونځ ادا کړي، دغه لمونځ واجب دی، د ازدحام په صورت کې کولای شي د مسجد الحرام په هر ځای کې یې ادا کړي، بیا به د زمزم اوبه وڅښي.

تر دې وروسته به د سعې د اداکولو لپاره د صفا غونډۍ ته ورشي. مخ



دې کعبې شریفې ته ورواړوي او ددغه ایت په لوستلو دې دعا وکـړي: ((ان الصفا والمروه من شعائرالله)) او د مروه غونډۍ په طرف دې حرکت وکړي. د دوو شنو نښو (میلین احضرین) ترمنځ دې نارینه په چـالاکۍ تېر شي او ښځینه دې په عادي ډول تلل کوي، کله چې د مروه غونډۍ ته ورسېده، هلته دې هم د صفا په شان عمل او دعاګانې وکړي، بیا دې د صفا پر لوري حرکت وکړي، په همدغه نیت دې د صفا او مروه ترمنځ

(c) ketabton.com: The Digital Library





اوه واړه چکرونه پوره کړي. تر سعې وروسته دې نرينه د ســر ويښــتانو حلق يا قصر وکړي، خو ښځينه دې د کوڅيو له څوکو څخه د يو بند په اندازه واخلي او لنډ دې کړي او په همدې کار سره دې د عمرې له احرام څخه ځان وباسي. خپلې جامې دې واغوندي او په عادي ډول دې خپل عبادت وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لومړۍ عمرې پر لورې

ما او زما بل ملګري (عزت الله خان) چې دواړو له کابلــه احرامونــه تړلي وو او د ماسپښین لمونځ مو په همدې احرام کې وکړ، یوځل بیا مو غسل وکړ؛ اودس مو تازه کړ. مومند صیب راته وویل: مازیګر لمانځه ته به ځان رسوو او بیا به عمــره کوو، ما وویل ښېخي سمه ده، مازیګر لمانځه تــه د مــروا او صفا دروازې له لارې داخــل شو، سخته ګڼه ګوڼه وه دا د حــرم شــریف یــوه دخــولي دروازه ګڼل کېــږي او د ډېــر زیات ثواب ځای دی، د صفا غونډۍ پر ســر چــې هــره دعــا وکــړي، خدای(ج) یې قبلوي، لمونځ مو وکړ او په ګڼه ګوڼه کې تر زیات فشــار وروسته مو د خدای پر کور سترګې ولګېدې. کله چې دې د خدای پــر کور سترګې ولګېدې، نو هره دعا چې کوې قبلېږي، ما د صفا غونډۍ پر سر او بیا دلته د خدای پر کور د سترګو په لګېــدو ســره لــومړۍ دعــا



(c) ketabton.com: The Digital Library



**افغانستان ته وکړه، خپل ځان مې له یاده ووته، ما ویل خدایه ماته لوی افغانستان جوړ کړې، داسې افغانستان چې وچې، بحر او هوا ته خپلــه لاره ولري، نه ظالم وي، نه مظلوم، نه د چا پوروړی وي او نه یې څــوک پوروړي، ټول افغانان د نړۍ د نورو انسانانو په شان ارام او ســالم ژونــد وکړي، خدایه د جګړو او بدمرغیو ټغر نور زموږ له خونې ټول کړه، خدایه ددې وطن خلک چې ستا په نامه تر هر چا زیات قربـانۍ تــه تیــار دي، خدایه ته یې په خپل رحمت او کرم ارام او سوکاله کــړې، خدایــه تــه غیرتي یې او غیرتي خلک خوښوې، نو دا ولس هــم ډېــر غیرتــي دی،**



**ستا په نامه او ستا په دین یې ننګه او غیرت کړی دی، خدایه ته یې له افتونو او توپانونو وژغورې. خدایه زما ولس یوازې تا لري، نور یې ټولــه دنیا مخالفه ده، خدایه ستا تر کور او حرمینو وروسته ماته زما د وطــن**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خاوره ډېره پاکه برېښي، خدایه ته یې همداسې پاکه لرې. کله چې دې د خدای(ج) پر کور د لومړي ځل لپاره سترګې ولګي، نو د اوښکو سېلاب دې له سترګو راځي، ثانیه په ثانیه کې مې زرګونه دعاګانې په ذهن کې تېرې شوې، د دعاګانو ذهني سرعت دومره زیات وي، چې په خوله د هغو د ټولو یادول ممکن نه دي. زه (یون) مومند صیب او عزت الله خان درې واړه د طواف ساحې ته داخل شو.**

**د حجرالاسود تیرې ترڅنګ د بیت الله شریف دروازه ده، همدې دروازې او حجرالاسود ته مخامخ یو شنه نښه یا څراغ لګېدلی، طواف له همدې ځایه پیلېږي. کله چې دې نښې ته ورسېدو، نو مخ مو د حجرالاسود پر لوري کړ، لاس مو ورته جګ کړ، بسم الله، الله اکبر مو څو څو ځله وویل، څو ګامه وړاندې د کعبې شریفې دروازې ته تقریباً مخامخ**



**ابراهیم مقام دی، دلته د ابراهیم خلیل الله د پښو خاپونه په ډبره کې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ښکاري یوه ښکلې اوسپنیزه محوطه ورځخــه راچـاپېره ده، خلــک د همدې پنجرې له سوریو د ابراهیم خلیل الله د پښو خاپونه لیدلای شي، همدلته څېرمه خلک تر طواف وروسته دوه رکعته لمونځ هم کوي، دلته لمونځ ډېر ثواب لري، خو د حج په مراسمو کې د خلکو د زیـاتې ګڼــې ګونې له امله دلته چاته د لمانځه چانس په اسانۍ نه میسرېږي. د طواف د پیل په همدې لومړي دور کې زه (یون)، مومند صیب او عزت الله خان د ابراهیم مقام او د بیت الله شریف ترمنځ ساحې څخه تېــر شــو، پــه**



**لومړي پړاو کې موږ غوښتل حجرالاسود ته ځان ورسوو، خــو د خلکــو ګڼې ګونې له امله پر دې بریالي نه شو. دویم پړاو مو پیل کړ، په دویــم پړاو کې کله چې د حطیم له چارپېره دېوال څخه تېر شو نــو د کعبــې شریفې دېوال ته مو ځان ورساوه. کله چې مې د خدای پر کور لاســونه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولګېدل، نور نو پرځان نه یم پوه شوی، چې څومره خلک مې تر شا ولاړ دي، څومره راڅخه دمخه دي او څومره مې شاته دي، تنــدی مــې پــر دېوال کېښود په زوره زوره مې وژړل، دا هغه ځای دی چې هېڅ انسان ورته ځان نه شي ټینګولای، که د کاڼي زړه یې هم وي، نو دلته د موم په شان شي د سړي خپله ټوله تېره ماضي د سترګو په رپ کې تېره شــي. تر دې پورته نو نور د عبادت ځای نه شته، د انسان ټــول ارمانونــه پــه همدې ځای پورې تړلي دي، د ګناهونو تویېدو او د ځان د پاکېدو ځای همدا دی. دلته نو خپل ټول ژوند له پیله بیا تر دې دمه درياد شي، ماته خپل ټول لوی او واړه ګناهونه یو په بل پسې لکه د برېښنا په شان رایاد شول. دې ګناهونو باندې یوازې زه او خدای پاک پوهېږو. ان اوس یې هم په دې قلم نه شم لیکلی، خدای ته مې زاري وکړه چې ته څومره لــوی یې، ته خو زما پر ټولو ګناهونو پوهېږې، خو پر ټولو دې پرده اچولې، ته خو کولای شې ما هرچېرته رسوا او افشا کړې، خو تا پر مــا هــر وخــت پېرزوینه کړې، زه دې خلکو ته نه یم خجل کړی، یا خدایه پر ما ولورېږې، ما څخه ستا مخلوقات ازار شوي که واړه دي که زاړه، که الوتونکي دي که نا الوتونکي، هر ژوندی موجود چې راڅخه ازار شــوی خدایــه ټــول راوبښې، کله چې مې تندی د خدای(ج) د کور پر دېوال ولګېد نو د خپل وړکتوب شپې رایادې شوې چې یوه ورځ مې لــه نــورو همزولــو ســره پشنګوري، یخو اوبو ته واچول، مور یې ډېرې چغې وکړې ډېر پیاو میاو یې وکړ، ډېرې ساندې یې ووهلې خو زموږ له ډاره نږدې نه شوه راتللای،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پشنگورو چې به هره خوا ځان د اوبو څنډې تــه کشــول مــوږ بــه نــه پرېښودل، ان تر هغه چې خولې ته يې زګونه راغلل، کله چې مو له اوبو څخه راوکښل نوره په کې دمه نه وه، ساه يې ورکــړه، مــور يــې ډېــره وچغېده، خو هېڅ يې نه شول کولای او پلار يې هم ډېر وچغېده خو هېڅ څه شی يې نه شول کولای. اوس چې زه خپله پلار يم او خدای(ج) څلور اولادونه رالورولي، هغه لحظه مې ذهن ته راځي، که زما ماشومان څوک داسې په يخو اوبو کې ډوب کړي او همدا ټوله يخني پرې تېره شي او زه ورته په خپلو سترګو وګورم، نو پرما به څه تېر شي؟ پر مور به يې څه تېر شي؟ هغوی خو اوس موږ هېڅ سړو تودو ته نه پرېږدو، نــو کــه دومــره سخته پرې راشي پر موږ به څه تېرشي؟ له هغې ورځې څخه دا دی نن نږدې (۴۳-۴۴) کاله تېرېږي، خو بيا مې هم هغه صــحنه ســترګو تــه رايادېږي، لږ چې نور غټ شوم نو بيا د کانو د ويشتو شوم، غولکه مــې غاړې ته کړه، مرغۍ به مې ويشتلې، هغه صحنه مې اوس هم په ياد ده، چې زموږ تر کلي لاندې د سيند پر غاړه لويه دېره وه، دنګ چنارونه په کې ولاړ وو، مرغيو په کې ځالې جوړې کړې وې، زموږ له ډلې به يو چنار ته وخوت، د مرغۍ ځالې ته به نږدې شو، کله چې به نږدې شو، نو مرغيو (چنچڼو) به پرې بريد وکړ، خو چېرته چنچڼې او چېرته انسان (اشــرف المخلوقات) د چنچڼو بچي به سرې مښوکې چغېدل، مور او پلار به يې بيا پر اشرف المخلوقات بريد وکړ، خو زور به يې نه رسېده، دا مــهال به نو پاسني کس پر موږ غږ وکړ چې ولئ يې همدا مو وخت دی، موږ به په

(c) ketabton.com: The Digital Library



غولکه کې ګاټي کېښودل، چنچنې به مو وویشتې، کله به یې مور او کله به یې پلار وویشتل شول او کله به دواړه، د چنچنو بچي بــه همداســې پاټې شول. کله چې به (مار) د چنچنو بچو پسې وخوت نو هغــوی بــه ډېرې چغې ووهلې او کله چې به (اشرف المخلوقات) وخــوت نــو هــم



ډېرې چغې به یې ووهلې، اوس چې زه لوی شوم، نو پــوی شــوم چــې اشرف المخلوقات څه مانا؟ اوس چې زه د ماشومانو پلار یم او کــه بــل ظالم له ماسره داسې چلند وکړي، نو زه به ورته څومره سزا ورکړم، لــه پشنګورو او چنچنو څخه چې راتېر شم، لږ چې راغټ شوم نو بیا به مو چرګان جنګول، د هغوی مښوکې او کاکوله به په وینو سره وو، خو موږ به ترې خوند اخیسته، بیا چې لږ نور غټ شوم، نو بیا د کلي له هلکانو سره د سپیانو جنګولو وخت راغی، هغوی به په سرو وینو ککړ وو، خــو موږ به ترې خوند اخیسته، بیا نو د نورو لویو ګناهونو وخت راغی، د چا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مال ته سترګې نیول چې کاشکې زما وای، بل ټیټول ځان پورته کــول، لویې او وړې ګناوې چې هېڅ انسان ورڅخه خالي نه دی، په دې ټولو د یوه ککړ انسان په توګه د خدای حضور ته ولاړ یم، پرځان نه پوهېږم، خو پر ټولو ګناهونو سربېره په دې کار له خدایه ډېر خوشاله یم چــې ډېــر کوچنی وم، هغه وخت چې ښي او چپ لاس مې وپېژنده، نو خدای تــه مې لاسونه پورته کړل چې خدایه! هېڅ انسان زما له لاسه قتل نه کړې، خدایه! ددې وس مه راکوه چې زما له لاسه څوک ووژل شي، هغه دعــا مې خدای قبوله کړې او تر دې دمه مې څوک له لاسه نه دي وژل شوي. بیــا چــې د ځــوانۍ موســم راغــی، نــو شــیطان خــو غــاړه پرغــاړه



راسره روان و، له ډېرو ګړنګونو یې غورځولی یم بیا مې ځان پورته کړی او بیا یې غورځولی یم. د خدای د کور پر دېوالو چې دې تندی ولګي، نو خپلې ټولې ګناه ګانې به در په زړه شي، یوه په یوه به دې له نظره تېره شي، غیر له دې چې وژاړې نور نو څه کــولای شــې؟ خــدای(ج) ډېــر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهربانه دی. همدلته مې زړه ښه تش کړ! تر هغه پورې مې وژړل چې زړه مې یخ شو. ټولو خلکو یو قسم ژړل، هېڅا خپل ځان نه شو ټینګولای، هر چاته خپل عیب په خپله ښه معلوم دی، انسان څومره مغـرور دی، انسان څومره معذور دی. د دنیا هر زورور چې دلته راشي، سر به یې په تیږه لګي، الله(ج) ته به زاري کوي، ژاړي به، پـه همـدې ژړا ژړا کـې د دېوال په ښکلولو سره تر (یماني) رکن پورې رسېدلی یـم او تـر هغـه وروسته همداسې په سینه او دېوال ښکلولو مې ځان تر حجرالاســوده



ورساوه، هلته سخته ګڼه ګوڼه وه، په ښي لاس مې دېوال ونیو او چـپ لاس مې حجرالاسود ته داخل کړ، پر تیږه مې لاس وموښود، بیـا مـې ښکل کړ او د خلکو له ټېلې مې ځان وکاږه. مومند صیب سره یوځل د بلې دورې په لټه کې شوم، دا ځل بیا په سـخته ګڼـه ګوڼـه کـې تـر

(c) ketabton.com: The Digital Library



حجرالاسود پورې ورسېدم دا ځل مې نو سر وردننه کړ، د خلکو له ګڼې ګوڼې سره سره مې په ارامۍ راښکل کړ، نور مې ځــان بېرتــه د خلکــو منځته کړ، مومند صيب مې له وېښتو راکش کړ چې راځه، بــل دور تــه ځو، خو هغه د خلکو ګڼې ګوڼې راځخه داسې ورک کړ چې بيــا مــې د ورځې تر پايه ونه ليده، ما خپلې اووه دورې يا پړاوونه په دې ډول پوره ادا کړل. تر دې درېيمې دورې دمخه د لومړۍ او دويمــې دورې تــرمنځ مومند صيب د (حطيم) ساحې ته داخل کړم، راته يې وويل چې دلتــه لمونځ دومره ثواب لري لکه د کعبې شريفې په داخل کې چې دې کړی وي.

حطيم شريف اصلاً د کعبې شريفې يوه برخــه ده، چــې د کعبــې د جوړولو پرمهال د پانګې د کموالي له امله دا برخه له کعبې څخــه بهــر پاتې شوې ده.

دوه رکعته لمونځ مو همدلته وکړ، خو په درېيم دور کې مومند صيب راڅخه لادرکه شو او زه يوازې پاتې شوم. کله چې مې اووه پړاوونه پوره کړل، نو بيا مې دوه رکعته د طواف د شکرانې لمونځ ادا کــړ، تــر هغــه وروسته د ماښام جمع تياره شوه، د ماښام لمونځ مې هم د طــواف پــه ساحه کې ادا کړ، بيا ډېر وګرځېدم چې مومند صيب او عزت الله خــان پيدا کړم، عزت الله خان خو له موږ څخه په همغه لومړي دور کې لادرکه شو. دا مــهال نو ماسره ټليفون هم نه و چې مومند صيب ته زنګ ووهم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خورا سخت پرېشانه شوم. پوره نابلده وم، ما ویل کوم بلدي څوک پیدا شي چې د پاتې مراسمو ځای راوښیي، یو افغان منتظم مې پیدا کړ، هغه ته مې وویل طواف مې وکړ، نورو پاتې مراسمو ته چېرته لاړ شم، هغه راته وویل صفا او مروا غونډیو ته لاړ شه، اووه ځله به سعې وکړې، بیا به لاړ شې سر به کل کړې، دا مهال راته صفا او مروا غونډۍ پیدا کول هم اسان نه وو. خو د طواف له ساحې څخه په همدې نیت رهي شوم. په لاره کې یو حاجي راسره ګرمه سترې مشي وکړه، راته یې وویل زه (میرویس) نومېږم، د کابل د تره خېلو یم او تا ښه پېژنم، ټلوېزیون ته هم درغلی یم، هغه ته مې ویل د صفا او مروا غونډۍ ته ځم، ادرس راکړه،



هغه وویل زه خپله درسره ځم. هغه راسره لاړ، تر پنځه دقیقو پلي مزله وروسته هلته ورسېدو، (حاجي میرویس) یوه عمره کړې وه. نو هر څه ورته معلوم وو. یو چکر ده خپله راکړ او په طریقه یې ښه پوه کړم، نور شپږ پړاوونه ما خپله پوره کړل. حاجي میرویس راته د وېښتانو د خریلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځای ادرس هم راکړ. کله چې مې د صــفا او مــروا غونــډۍ کــې اووه چکرونه پوره کړل، افغانستان ته مې دعا مې وکړه او ځان ته مــې دعــا وکړه. بیا د صفا غونډۍ ته ورځېرمه دروازې باندې ووتم. ځپلۍ مې هم له عزت الله سره په کڅوړه کې پاتې شوې وې، خو تر مســجد الحــرام باندې محوطه چې دا هم د مسجد برخه ده، هم ډېره پاکــه وي، ځپلــو سره ګرځېدل هم په کې جواز لري، خو یبلې پښې هم خلــک پــه کــې ګرځي، تر لس دقیقو ګرځېدو وروسته مې د وېښتانو خریلو ځای پیــدا کړ، هلته یو پاکستانی ولاړ و، په لاس یې اشاره وکړه وېښتان جوړوې؟ ما ویل هو! هغه وویل راځه راپسې! هلته چې ورسېدم، ډېره ګڼه ګوڼه وه، لومړی مې مخې ته د ځپلکو دوکان راغی، ژر مې په شل ریاله یوه جوړه ځپلکۍ واخیستې، بیا د سلماني دکان ته داخل شوم، سلماني راته وویل



چې کل یې کړم او که صفر ماشین یې کړم، ما وویل ماشین یې کړه، ده وویل لس ریاله کېږي، ما ویل ټیک ده. کله چې یې ماشین کړ، نو کنډو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کپر و، ما ویل نه چاړه پرې تېره کړه، ده ویل لس ریاله نور کېږي، ما ویل درکوم يې، بیا يې راته سر کل کړ. شل ریالـه مــې ورکــړل او بېرتــه د مسجدالحرام پر لوري وخوځېدم، داخل ته لاړم، ما ویل که مومند صیب او یا عزت الله خان پیدا کړم، هغوی مې پید انه کړای شول، ماســخوتن جمعې ته منتظر شوم، لمونځ مو په جماعت سره ادا کړ او بیا د موټرو د تمځي پر لوري ورغلم، کله چې عمارې ته راورسېدم، نــو ښــه د مــزې سترې وم، دولسم پوړ کې اتاق ته لاړم، دروازه بنده وه، کیلي سهار عزت الله خان سره پاتې وه. بېرته لاندې کښته شوم، پر اوســپنیزې څــوکۍ کېناستم، یو دوه حاجیان راغلل، بیا پسې نور راغلل سترې مشي یــې وکړل، ویل یې څه ته ناست یې؟ ما وویل د کوټې ملګرو ته منتظر یم. یو تن مومند پېژنده ټلېفون یې ورته وکړ، هغه وویل: زه شلو دقیقــو کــې درځم، شل دقیقې په یوساعت بدلې شوې، نه دی راغی، نه عــزت الله



خان. ساعت تقریباق (۱۲) بجې دي. هلته مې پر څوکۍ سر کېښود، لږ پرېشاني راباندې راغله او لږه دمه هم راغله، څوشېبې وروسته مې کتل چې مومند صیب په دهلېز کې پاس وخوت، زه هم ورپسې وخــتم، دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروازه کې منتظر و، کیلي نه وه، تر سترګي مشي وروسته یې وویل: ډېره ښښنه غواړم هلته یوه حاجي ته معضله پیدا شوې وه، ځکه زه لــړ تــال شوم، دی بیا ورکښته شو، که بله کیلي پیدا کړي، خو پیدا یې نه کړه، دا وخت مو کتل چې عزت الله خان هم راپیدا شو، زنګېده زنګېــده، ښــه سترې شوی و، اتاق ته دننه شو، مومند تیاره ډوډۍ راوړې وه. راته یــې وویل اوس تاسې کولای شئ، ځان له احرامه خلاص کړئ، بیا به احرام د فرضي حج پر وخت تړئ، اوس تاسو کولای شئ په خپلو عادي جامو کې طواف او نور عبادتونه وکړئ. ډوډۍ مو وخوړه او بیا د خوب پــر لــوري چپرکټ ته پورته شوم او مومند راڅخه رخصت واخیست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د طوافونو پيل

د (۱۳۹۳ل) کال د سنبلې (۳۰)مه، د سپتمبر (۲۱)مه نېټه د يکشنبې ورځ وه. د طوافونو د پيل اراده مو وکړه. کله چې حاجيان مکې مکرمې ته راورسي او فرضي حج ته وخت پاتې وي، نو لومړی هر حاجي عمره ترسره کوي، تر عمرې او د عمرې تر طواف وروسته نو چې تر



فرضي حج پورې هر څومره وخت پاتې وي، هر حاجي په دې زماني بهير کې طوافونه ترسره کوي. د سنبلې دېرشمه د يکشنبې ورځ وه، زه او عزت الله سهار وختي پاڅېدو، اودسونه مو وکړل او بيا د حرم شريف پر لوري وخوځېدو، د سهار لمونځ مو حرم شريف کې د صفا او مروه غونډيو ترمنځ ادا کړ، تر لمانځه وروسته ګڼه ګوڼه ډېره زياته وه، زه بېرته اتاق ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلم، لږه دمه مې وکړه، خو عزت الله خان هملته په حرم شریف کـې پاتې شو. بیا د ماسپښین لمانځه لپاره بېرته حرم شریف ته لاړم، په لاره کې کله چې هم له موټره کښته او پلی شوم، نو یو حاجي ستړي مشي راکړل، یون صیب نه یې؟ ما ویل یم، بیا یې ستړي مشي وکړل، ویې ویل ته خو ما نه پېژنې خو زه دې پېژنم، زما نوم (حاجي محمدزمان محمدي) دی، ما ورته وویل څه وخت راغلی یې؟ ده ویل زموږ ډېر وخـت کېـږي اول مدینې منورې ته لاړو، هلته مو څلوېښت لمونځونه پوره کړل او بیا بېرته راغلو، ما ویل ته نو ښه بلد شوی یې، ده وویل څو عمرې مې کړي دي، بیا ده وویل تاسره څوک دي؟ ما ویل زه یوازې یم، ده وویل راځه نو ګډ به ګرځو، ما ویل سمه ده. د ماسپښین لمونځ مو وکړ، ده وویل دلته ما ښه د خوب ځای لیدلی، هلته به لږ خوب وکړو، ما ویل تـر لمانځـه



وروسته به لاړ شو، زه یو ساعت اخلم او ټلېفون ته سیم کارت، بیـا بـه خوب وکړو، ده وویل سمه ده. تر لمانځه وروسته نږدې مارکېټ ته لاړو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړی مې په (۲۲۰) ریالو یو ساعت واخیست، حاجي زمان ډېر ټینـــګ شو چې پیسې زه ورکوم، خو ما پرې نښود بیا پورته منزل ته لاړو، هلته پورته شو، ترکي غذا چې برګر ته ورته وه هغه مو وخوړه. خو سیم کارت یې په پاسپورت ورکاوه، پاسپورت موږ سره نه و. بیا راغلو د حرم شریف په یوه برخه کې ویده شو.ځای ډېر یخ و، ژر راباندې خوب راغی، له درېو بجو پنځه لس دقیقې تېرې وې، لاړو اودسونه مو تازه کړل، د اوداســـه**



**لپاره ښه بندوبست نیول شوی و، خو بیا هم د ګنې ګونې له امله هغــه خلک چې معذرت لري او استنجا وهي هغوی ته وخت او نوبت په کــار دی او څوک چې څلور اندامه (چهار اندام) وینځي، هغوی تــه دومــره ستونزه نه شته، هر وخت ورته نوبت رسېږي، تر اوداسه وروسته مو دوه رکعته لمونځ وکړ او بیا جماعت تیار شو، تر لمانځه وروســته د جنــازې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمونځ و او بیا د طواف پر لوري وخوځېدو، ګڼه ګوڼه زیاته وه، خو موږ په ښه ډول طواف ترسره کړ، حاجي زمان سره تیارې د شمارنې تسبیح په لاس کې وې، د طواف د دورو تر پوره کېدو وروسته مو دوه رکعته طواف لمونځ ادا کړ او بېرته د طواف له ساحې بهر شو، ښه د مزې خولې شوي وو. د طواف پر مــهال د سړي د ګناه خیري لکه د خولو په شان له بدنه وځي، کله چې طواف خلاص شي، نو د سړي ولي سپک شي او ځان ډېر راحت احساسوي. دماښام لمونځ موبیت الله شریف ته نږدې ادا کړ او د ماسخوتن لمانځه لپاره صفا غونډۍ ته راغلو، د ماسخوتن تــر لمانځــه وروسته بېرته د عمارې پر لوري وخوځېدو، کله چې د موټر تمځــي تــه ورسېدو، نو سخته ګڼه ګوڼه وه، حاجي زمان راته وویل، خلــک ناحقــه دومره ګڼه ګوڼه کوي، ټوله پنځه لس دقیقې پلې لاره ده، زه او ته چې په



کوم ځای کې د لمانځه له ساحې راووتو له همغه ځایه پنځه لس دقیقې پلې لاره ده، زه هر وخت پلی ځم خو نن د تا لپاره راغلم، ما ویل سبا به

(c) ketabton.com: The Digital Library



له همغې لارې پلې ځو. کله چې اتاق ته راغلم نو خپل ملګري عزت الله ته منتظر شوم، هغه ته طوافونو خوند ورکړی و، هغه تېره شپه ټوله پــه حرم شریف کې تېره کړه او ما دلته ټوله شپه هغه ته انتظار وویست، د کوټې ور مې خلاص پرې ایښی و چې خرپ به شو ما ویل چې راغی، خو په دهلېز کې به د بل چا د پښو ترپ و. لنډه دا چې ټوله شپه راباندې په بې خوبۍ سره تېره شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لمونځونه او طوافونه

د (۱۳۹۳ل)کال د سنبلې (۳۱)مه، چې د (۲۰۱۴م) کال د سپتمبر له (۲۲)مې نېټې سره سمون خوري، د دوشنبې ورځ وه. سهار وختي پاڅېدم، حرم شریف ته لاړم، د سهار لمونځ مې د صفا او مروا غونډۍ ترمنځ ادا کړ، تر هغه وروسته مې حاجي زمان پیدا کړ، هغه سره څو شېبې ناست وم، بیا مې ورته وویل چې ماته مومند صیب تېره شپه موبایل سیم کارت راکړی، دوه کرېډېټ کارتونه مې واخیستل، خو کارتونه په کې انستال نه شول، هغه وویل راځه چې لاړ شو تر (ساعت برج) لاندې هوټل کې د موبایل دوکان ته، هلته لاړو،



په ډېرې سختۍ مو د موبایل دکان پیدا کړ، دا مهال د حاجي زمان یو بل خپلوان هم موږ سره ملګری شو. د موبایل دوکان ته لاړو، هغه ته مو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وويل د لسو يا شلو ريالو يو کارت راته راکړه، هغه کارت راکړ موږ ورتــه وويل، انستال يې کړئ، هدف مو دا و چې په چل يې پوه شو، هغه وويل دا سيم کارت کود غواړي، تاسې بايد کود راولېږئ، بيا مو د حاجي زمان په ټلېفون مومند صيب ته زنګ وواهه، هغه يو کود راولېږه، هغه مو بيا ورکړ، بيا يې ډايل کړ، بيا ونه شو، ډېر خفه شوم، هغه بېرته خپل کارت واخيست، دا مــهال د حاجي زمان خپلوان وويل، دا ســيم کــارت دې چېرته اخيستی، ما وويل ملګري مې؛ مومند صيب راکړی، هغه وويل، ته لږ صبر وکړه ما سره د (موبايلي) کود شته، ټولو افغانانو ته همدا يو کود ورکړل شوی، که هغه کار وکړي، نو ښه به شي که نه بيا به بله چاره کوو. هغه چې هغه کود راوويست او د کرېډېټ کارت نمبر يې ورپسې ډايــل کړ، نو د مبارکۍ پيغام راغی، ډېر زيات خوشاله شو، نو بيا مې ورته وويل**



**چې اوس به ځو په ارامه به ډوډۍ وخورو، بيا لاړو ډوډۍ مو راواخيسته، وريجې او څه غوښه مو راواخيستې، ډوډۍ مو چې وخوړه نــو حــاجي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زمان وویل پیسې یې زه ورکوم، ما ویل نه نن پر ما ځکه دي چې ټلېفون مې فعال شو، حاجي زمان وویل دی په کابل کې د موبایل دکان لري، نو ځکه په دې کار کې ډېر ماهر دی. هغه بیاماته هغه کود نمبر هم راکــړ، راته یې وویل چې بل وخت به درته په کار شي. دې سره نو د ســفر پــر دریمه ورځ زما ټلېفون فعال شو، له خپلې کورنۍ او دوستانو سره مې اړیکې ټینګ شول. تر ډوډۍ وروسته بېرته مسجد ته لاړو، هلته مو ارام وکړ، بیا مو د ماسپښین لمانځه لپاره اودس وکړ، تر مازیګره هلته پاتې شو. دمازیګر تر لمانځه وروسته مې د طواف نیت وکړ، حاجي زمان راته**



**دا**

**مــهال وویل چې زه لږ ناروغ یم طواف ته نه ځم د شمارنې لپــاره یــې خپلې تسبې ماته راکړې، ما خپل طواف پوره کړ او بیا مې پــه (حطــیم شریف) کې دوه رکعته لمونځ ادا کړ، تر طواف وروسته بېرته پــه حــرم شریف کې پاتې شوم، د ماښام لمونځ مې هلته په جماعت سره ادا کړ او**

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا د جنازې لمونځ، د یادونې وړ ده هغه کسان چې د حــج د مراســمو پرمهال مري، نو د اکثرو جنازه همدلته اداکېږي، تر هر لمانځه وروسته ضرور د جنازې لمونځ وي، یا دېله ییزې او یا هم انفرادي جنازې وي. تر هغه وروسته د ماسخوتن لمانځه ته هم معطل شوم او تر لمانځه وروسته پلی پلی د عمارې پر لوري وخوځېدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سعودي مېشتي افغانان

پـه سعودي کې مېشت افغانان ډېر مينه ناک خلک دي، هر کله چې به په هېواد کې کومه پېښه وشوه، نو سعودي مېشتو افغانانو تـر ټولـو دمخه زنګ واهه او د احوال پوښتنه به يې کوله، که څـه هـم مـا نـه غوښتل چې سعودي مېشتي افغانان حج ته زما پر راتګ خبر شي. هدف مې دا و چې دوی له کار و روزګاره ونه باسم او زه هم يوازې د خدای(ج) عبادت ته خپل ټول وخت وقف کړم. خو بيا هم د اوســنيو عصـري او برېښنايي رسنيو له لارې يې زما ټلېفون نمبــر او ادرس پيــدا کــړی و.



لومړی شخص چې ډېره تلوسه يې وه، زموږ انډيوال او د ملي تحريــک غړی (حاجي رضا خان) و، چې له خبرېدو سره سم يې ادرس پيدا کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ځان يې عمارې ته راورساوه. کله چې زه او حاجي عزت الله خــان د ماسخوتن له لمانځه څخه راغلو نو ښه ډېر ستړي شوي وو، چې عمارې او اتاق ته راغلو، نو حاجي رضا خان او ورسره ملګری يې حاجي سردار موږ ته منتظر او زموږ د دروازې مخې ته ولاړ وو. تــر ســتړي مشــي او هرکلي وروسته په اتاق کې کېناستو، حاجي رضاخان ډېر کلونه کېــږي چې همدلته کار کوي، کله چې پاکستان ته مهاجر شو، بيا د ډاکتر نجيب الله تر حکومت پورې هلته پاکستان کې و او بيا لــه هغــه ځايــه دلتــه (سعودي) ته راغی، مانا دا چې شل پنځه ويشت کاله کېــږي همدلتــه اوسي او کار کوي، اوس د ملي تحريک غړی هم دی، هر کله چــې پــه افغانستان کې کومه بده پېښه وشي، دی له سعودي څخه زنګ وهــي. دلته کار کوي، په ډېرې سختۍ يې ګټي خو هلته تر خپله وسه پورې د مظلومانو لاسنيوی کوي، څو ځله يې د خپلو لاسونو د تناکو محصــول هلته رالېږلی دی. حاجي سردار هم دلته په حرم شريف کې يوه شرکت سره د کاريګر په توګه کار کوي. دواړه زموږ ستړي مشي ته راغلــي وو. دوی وويل، څه شی په کار دي؟ کالي مو خيرن وي؟ چــای، چــايبر، اب ګرمي او نور هرڅه موږ راوړي، چې تاسې مصرف ونه کړئ او اوس مــوږ سره لاړ شئ ډوډۍ ته او که نه وي چې دلته يې راوړو، ټولو وويل ستړي يو، چېرته نه ځو، دا مــهال نو مومند صيب بيا څــه ډوډۍ ځــان ســره راوړه، همغه مو وخوړه، دوی خو ډوډۍ خوړلې وه، بيا حاجي رضــاخان وويل چې ماسره کله مېلمانه کېږئ، موږ وويل په فرصت کې به درسره وګورو، دا مــهال څو نور حاجيان هم راغلل او حاجي صيب روزي خان يو ملګری رالېږلی و، ډاکتر صيب حاجي اسدالله هم حاضر و، لږه شېبه وروسته د بغلان څو تنه با استعداده ځوانان هم راغلل، نور نو په اتــاق

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کې د پښې ایښودلو ځای نــه و، د حــاجي روزي خــان ملګــرو اجــازه واخیسته، هغوی سره مو د پنجشــنبې ورځ د ماســخوتن تــر لمانځــه وروسته وعده کېښوده، حاجي رضا خان ته مو وویل چې مورِ او تاسې به بیا سره ګورو او که تاسو هم د حاجي روزي خان ځای ته راشئ، ځکــه هغوی وویل چې هلته ګڼ شمېر افغانان په انتظار دي نو ښه به شي، هغه وویل سمه ده، خو دا یې هم وویل چې ماسره به هم یوه ورځ ټاکئ. دوی ټولو اجازه واخیسته، یوازې د بغلان ځوانان پاتې شول. هغوی وویل مورِ ډېر د استاد د دیدن تږي یو، مورِ به لږ پاتې شو، تاسې سره له دې چــې**



**ډېر ستړي یاست، خو مورِ ته دا چانس بیا کله مساعدېږي، چې اســتاد سره کېنو، مورِ لکه چې خوب او خیال ګورو، داسې یو حالت کې یو!! د بغلان ځوانانو وویل: نور مشران چې هر وخت هر ډول غونډه نیسي، هغه د هغوی خپل کار دی خو مورِ سره به ضرور زمورِ په غونډه کې ګــډون کوئ، هغوی چې د حاجي روزي خان په ځای کې د پنجشنې ماښــام د غونډې نېټه ولیده، نو ویې ویل چې مورِ به یې یوه ورځ وروسته کړو، مورِ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل، سمه ده. ځوانان د شپې تر ناوخته ناست وو، ښاغلی، نورالله خان، خیال محمد او نور په دې ځوانانو کې شامل وو. پر ډېرو مسایلو مو بحث وکړ، هر بحث د دوی د هېوادنۍ مینې څرګندونه کوله، همدا یې ویـل کله به وي چې مونږ خپل وطن ته لاړ شو او نور د پردیـو لـه دې سـرې ګرمۍ او غریبۍ څخه خلاص شو، د وطن شنو ونو او بهانده ویالو پسـې خفه شوي یو. د شپې نږدې یوه بجه وه، چې دوی هم له مـوږه اجـازه واخیسته او موږ د خوب غېږې ته لاړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عرفات ته لومړۍ سفر

د (۱۳۹۳ل) کال د تلې یا میزان لومړۍ او د سپتمبر (۲۳)مه نېټه د سه شنبې ورځ وه، عرفات ته مو د تګ تکل و. کله چې حاجیان مکــې مکرمې ته ورسېږي او فرضي حج ته لا وخت پاتې وي، نو په دې خــاطر چې حاجیان د فرضي حج په مناسکو کې له ضروري ځایونو سره اشــنا شي، یوځل یې مهمو ځایونو ته بیایي، هغه ورته ښیي او د حج د مراسمو د اداکولو طریقې هم ورښیي. د تلې یا میزان لومړۍ نېټه د سې شنبې ورځ یې زموږ لپاره ځانګړې کړې وه، چې د مهمو ځایونو لیدو ته به ورځو او د هغو په باب به حاجیانو ته معلومات هم ورکول کېــږي، د عرفــات غونډۍ او نور مهم ځایونه په دې سفر کې شامل وو.

د میزان یا تلې پر لومړۍ نېټه د سه شنبې پر ورځ سهار وختي څلور بجې لمانځه ته لاړو، څلور بجې او (۱۵) دقیقې وې چې د لمانځه ځای ته ورسېدو، په سهار لمانځه کې ډېره ګڼه ګوڼه وي، اکثره حاجیان هڅــه کوي چې د بیت الله شریف څنډو ته ځان ورسوي، خو ټولو ته دا چانس ممکن نه دی. موږ هڅه وکړه چې ځان ورسوو، خو په ډېر کوښښ مو ایله د (مروه) غونډۍ لاندینۍ برخې ته ځان ورساوه، ما او عزت الله همل‌تــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمونځ په جماعت سره ادا کړ د معمول په څېر مو یو ځل بیا د جنــازې دوه رکعته لمونځ هم وکړ، شپږ بجې وې چې بېرته اتاق ته راغلــو، ښــه ستړي وو،د راتګ پر مــهال په موټر کې هم راباندې د پرېشانۍ یوه څپه راغله، څو دقیقې په اتاق کې پاتې شو، عزت الله خان هم راورســېد او محترم استاد (حسیب الله) هم زمونږ اتاق ته راغی، راته یې وویــل کــه ستړی نه یې ځو عرفات شریف ته، ما ویل زه به اودس تازه کړم ځو، تر اوداسه وروسته په لفت کې کښته شو، لفت څو ځله چنګهار وکړ چــې وزن زیات دی. افغانان هم عجیب خلک دي، یو به ووت چې کله به اواز غلی شو، بېرته به راننووت، لفت به بیا حرکت وکړ، په دې چل یــې تــر اخره راکښته کړو. لس کم اوه بجې وې چــې مــوټر کــې کېناســتو، دا



یادښت په موټر کې لیکم او د عرفات پر لوري مو حرکت وکړ، عرفــات داسې ځای دی چې د حج مهم رکن یانې ودرېدل په عرفــات کــې ادا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي، دغه ودرېدل د یو ځانګړي عبادت لپاره دي، چې له خپل خالق سره ډېرې دعاګانې او راز و نیاز په کې کېږي. په دې ورځ چې حاجیان د عرفات په دښته کې ولاړ وي، نه ښايي چې بې ځایه خبرې وکړي او په کار دي چې له دې مبارکې ورځې څخه ډېره ګټه واخلي، له چـا څخـه چې په عرفات کې ودرېدل پاتې شول، نو حج یې ونه شو، بایـد فدیـه ورکړي او راتلونکي کال کې د حج قضايي راوړي. په لاره کــې لــه څــو تونلونو څخه تېر شو.

دې وخت کې په موټر کې لارښود وویل زموږ او تاسو لــومړی ســفر (جبل ثور) ته دی چې (ثور) غار په کې واقع دی او پیغمبر(ص) او ابوبکر صدیق(رض) په کې د مشرکینو له خطر څخه ځانونه خوندي کړي وو او غنې یې په خوله کې په خپلو لاړو یو جال تاو راتاو کړی و چې څوک پوه نه شي څوک په کې ناست دي (۷) بجې او لس دقیقې هلته ورسېدو. که څه هم اجازه نه وه چې موږ هلته د غار خولې ته ورشو، خو مولوي صیب ټوله کیسه وکړه، ویې ویل چې حضرت ابوبکر صدیق(رض) خپل زنګون کېښود او پیغمبر(ص) پرې سر ایښی و، په غار کې سوري وو.

حضرت ابوبکر صدیق(رض) په دې خاطر چې له کوم سوري څخه مار یا لړم رانه شي او پیغمبر صیب ونه چیچي، نو په سوریو یې خپل لاسونه کېښودل، دې وخت کې یو لړم لــه ســوري راووت او حضــرت ابــوبکر صدیق(رض) یې په لاس وچیچه، حضرت ابوبکر صدیق(رض) د درد په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقابل کې دومره مقاومت وکړ چې له سترګو یې اوښکه تویه شوه، خــو زګېروی او فریاد یې ونه کړ چې د خدای(ج) پیغمبر(ص) له خوبه ویښ نه شي، ارام وکړي....

لاربښود وویل دویم سفر مو عرفات غونډۍ ته دی، تر لس پنځه لس دقیقو مزله وروسته عرفات غونډۍ ته ورسېدو، عرفــات غونــډۍ او د عرفې ورځ د محشر د ورځې یوه نمونه ده. په حج کې په عرفــات کــې وقوف (درېدل) حتمي دی. د ذوالحجې پر (۹)مه ورځ عرفات ته ورځو، دلته نه تګ په هېڅ شي نه راګرځي يانې حج یې نه کېږي. البته د غره یا غونډۍ سر ته ختل حتمي نه دي، اصلي خبره په کې پر معین وخت او



ټاکلي ځای کې ودرېدل او هلته دعا کول دي. که چا ځخه عرفه پــاتې شوه، بل کال ته به حج کوي. د تیرو ښکلول او موښل د پیغمبر سنت نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لاره کې (نمیره جومات) مخې ته راغی، وروسته عرفات ته داخل شو. د عرفات مخې ته لومړی کوچنی غر د (جبل رحمة) (رحمت غر) په نوم يادېږي، عرفات له (عرف) څخه نيول شوی، یانې پېژندل شوی. عرفات يو لوی ميدان دی، جبل رحمت يې جگه غونډۍ ده چې د عرفې پر ورځ به همدې غونډۍ ته حاجيان خېږي، خو په شريعت کې حتمي نه



ده چې حاجيان دې دې غونډۍ ته پورته شي، دلته ددې غونډۍ گرد چاپېره لوی ميدان دی چې همدلته حاجيان ودرېږي او د خدای(ج) دربار ته د دعا لاسونه پورته کوي او خپل مراد غواړي.

مونږ هم دې غونډۍ ته پورته شو، يوه نيمه زينه ورته پورته شوې ده، خو له نورو لارو هم خلک ورپورته کېدی شي، وړې ډبرې او کاڼي په کې نه شته، کېدی شي خلکو د تبرک لپاره ځان سره وړې وي، سره له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library




چې په شریعت کې ددې غونډۍ کاڼي د تبرک لپاره نه دي، نه د ښکلولو لپاره او نه هم د مسح کولو لپاره خو اوس په کې یوازې داسې ډبرې پاتې دي چې په جیب او لاس کې د وړلو نه دي. تر فرضي حج دمخــه د هــر ځای حاجیان دلته راځي چې دې ځای سره اشنا شي او د عرفې پر ورځ له ستونزې سره مخ نه شي، د زینو په هر پــوړ کــې خلــک ناســت وو، بېلابېل شیان؛ ګوتمۍ، عطر، نکریزې، تسبیح، مرۍ، غمي، دسمالونه او نور ډول ډول شیان خرڅوي، اکثره پلورونکي تورپوستي او په تور پوستو کې ښځینه تورپوستي وو. معیوبین وو، خو ځینــې معیــوبین پــه کــې مصنوعي غونډې ښکارېدل، لکه په لوی لاس یې چې چا لاسونه او پښې قطع کړي وي، ځکه د یو څو کسانو لاسونه په یوه اندازه قطــع شــوي ښکارېدل. پر ډبرو یادګارونه هم لیکل شوي وو، عینــاً لکــه پــه هنــد، پاکستان او افغانستان کې چې ځینې خلک پر نویو رنګ شویو دېوالونو او د چنار پر ډډونو خپل یادګارونه لیکي.

د پښتنو حاجیانو یادګارونه هم په کې له ورایه محسوس وو. چکوال صیب هم خپل یادګار په سپین رنګ په څو ډبرو لیکلی و. ما د عرفــات غونډۍ پر سر افغانستان او خپل ولس ته دعا وکړه او بیا مې د عرفات د میدان د چاپېره ساحې عکسونه واخیســتل. تــر نــږدې (۴۵) دقیقــو ګرځېدو وروسته بېرته خپل موټر ته راغلو او دغه یادښت مې ولیکــه، وخت اته نیمې بجې دی او بېرته مو د (مزدلفې) پر لوري حرکت وکړ. تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(۱۰) دقیقې مزله وروسته مشعرالحرام ته ورسېدو، خو د کښته کېـدو اجازه یې رانه کړه. لارښود ملا وویل په (مزدلفه شریفه) کې (۴۹) تیرې**




**راټولوو، (۲۱) یې احتیاطي دي چې ټول اویا کاني کېږي. تر یو څو دقیقو وروسته له مزدلفې څخه ووتو او (منی) ته داخل شو، په (منی) کې یې هغه ځای راوښود چې خدای(ج) له جنته پسه راکښته کړ او اســمعیل علیه السلام چې همدلته ذبح کېده، د هغه پرځای پسه ذبح شو. تر هغه وروسته جمرات (د شیطانانو ځای) ته لاړو، چپ لاس تــه یــې (خیــف جومات) دی. دلته درې شیطانان چې صغرا، منځنی او غټ شــیطانان دي، هغه یې له لرې په ګوته کړل. تر هغه وروسته مو د (جبــل النــور) خواته حرکت وکړ. (۹) بجې او (۵) دقیقې جبل النور ته ورسېدو، د (حرا غار) هم همدلته دی. د نبوت لومړني آیتونه همدلته پر محمد(ص) نازل شوي دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر دې وروسته بیا بېرته خپلې عمارې ته راغلو، تقریبـاً لـس بجــې



وې چې خپل اتاق ته پورته شو، یو څه دمه مو وکړه، پرځان مو اوبه تېرې کړې، اودس مو بیا تازه کړ او د حرم شریف پر لوري وخوځېدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د طوافونو دوام

(۱۱) بجــې وې چــې حــرم شــریف تــه ورســېدو، زه او حــاجي عزت الله وو، حاجي محمدزمان هم راسره و، د ماسپښین لمونځ مــو د (ملک عبدالعزیز) دروازې ته ورځېرمه د مسجد الحرام په داخل کې ادا کړ، دا ځای خورا یخ و، د ملک عبدالعزیز او ملک فهد له بابونو یا دروازو چې ورداخل شې، نو دې ساحو کې هوا ډېــره یخــه وي، د ماسپښــین لمانځه تر اداکولو وروسته مو د جنازې لمونځ هم ادا کړ، خو نور زیات په مسجد کې پاتې نه شو. حاجي زمان محمدي او حاجي عزت الله ته مې



وویل چې راځئ، لاړ شو، (ساعت برج) ته، هلته به ډوډۍ وخورو، ترکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ډوډۍ، هغوی وویل بېخي سمه ده. ساعت بــرج د ســعودي د شــاهي کورنۍ ملکیت دی، هوټلونه، رستورانتونه، مغازې او دکانونــه پــه کــې شامل دي، خو دې کورنۍ ددې بې شانه ودانۍ ټوله ګټه د حرم شــریف خدمت ته وقف کړې، ټولې پیسې چې له دې لارې ګټل کېږي، ټــولې د حرم شریف د ټولو خدماتي چارو لپاره لګول کېږي، هملته لاړو، دویــم پوړ ته پورته شو، درې ډوله خوراک مو چې کباب او چرګ کړایي په کې شامل وو، راوغوښتل، ډوډۍ مو وخوړه، دا داسې ځای دی چې ډوډۍ په کې پرېمانه، خو د ناستې ځای په کې کم دی. ډوډۍ به دې په لاس کې وي او ځای ته به منتظر وې چې څوک جګ شي او ته پر څوکۍ کېنې، تر ډوډۍ وروسته د ملک فهد له دروازې څخه مسجدالحرام ته داخــل**



**شو، هلته مو یوه سترګه خوب وکړ، تر درې بجو دمخه له خوبه پاڅېدو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اودسونه مو تازه کړل او بېرته مسجد ته لاړو، په ډېر تدبیر سره مو ځان د طواف ساحې ته ورساوه. طواف ته چې داخل شو، حاجي محمدزمان راته وویل زما اوږې نیسه، هغه مخکې او زه ورپسې، هغه سره تیارې تسبیح هم وې، د طواف د دورونو شمېر ورځخه نه غلطېده، عـزت الله خان هم راسره ملګری و، خو بیا راځخه په ګڼه ګوڼه کې لادرکه شو. موږ خپل اوه ګردشونه پوره کړل، ښه خولې او ښه ستړي شوي وو، تر طواف وروسته مو په (حطیم شریف) کې د طواف دوه رکعته د شکرانې لمونځ ادا کړ او بېرته مسجد ته داخل شو، کله چې مسجد ته داخل شو، نو ښه



د مزې ستړي او ستومانه وو، دلته مو لږه دمه وکړه. د مازیګر لمانځه ته لا لږ وخت پاتې و، دې وقفې موږ ته ښه پوره دمه راوسته. کلــه چــې د مازیګر د لمانځه وخت شو، نو حاجي محمدزمان ته مې وویل چې څنګه یې د مازیګر تر لمانځه وروسته بل طواف ته تیار یې؟ هغه وویل زه خــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه یم، ته څنګه یې، ما ویل زه خو بېخي ټیک یم، هغه وویل چې لمونځ مو وکړ بیا پرې ورځو، ما ویل بېخي سمه ده.

د مازیګر تر لمانځه وروسته مو بیا د طواف ساحې ته ځان ورساوه، حاجي زمان وویل زما ولي ونیسه، تسبیح هم ورسره وې، هغه وویل لنډې دورې به ووهو، چې طواف ژر خلاص شي، دی مخکې او زه ورپسې وم، ښه ګڼه ګوڼه وه، کله کله به په ټېل ماټېل کې راڅخه لږ لرې شو، خو ژر به مو یو بل سره پیدا کړل، دومره خولې شولو چې نوره نو خوله راکې پاتې نه وه. حاجي محمدزمان وویل تر طواف وروسته به هم همدلته په یوه څنډه کې کېنو، د ماښام لمونځ هم دلته کوو او بیا به ځو، ما وویل بېخي سمه ده. کله چې مو طواف پوره کړ، نو د ډېر راحت احساس مې وکړ، د طواف درې دورې لږې سختې وې، نورې څلور دورې ډېرې ژر خلاصېږي، سړی پرې نه پوهېږي، کله چې اوومه دوره هم خلاصه شي، نو سړی وايي کاشکې یو بل پړاو هم ووهم، تر طواف وروسته مو ځان څنډې ته کړ، د خدای کور ته مخامخ په لمانځه ودرېدو، دوه رکعته لمونځ مو ادا کړ او بیا همدلته ځای پرځای کېناستو، د ماښام لمانځه ته مو انتظار وویست، دلته هوا نه ډېره یخه وه او نه ډېره ګرمه وه، ځکه دې ساحه کې ایرکنډېشن نه شته، خو د باد پکو هوا راځي، خلاصه فضا ده، اصلاً چې څوک طواف وکړي او بیا دلته کېني، خولې یې وچې شي، نو صحت ته یې زیان نه رسي، خو که راساً لاړ شي او ایرکنډېشن ځای کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کېږني، نو وجود به یې یخ او ګرم شي، ضرور یې صحت ته زیـان رســي، ماښام لمونځ مو همدلته په جماعت سره ادا کړ.**

**د ماښام تر لمانځه وروسته مو لږه دمه وکړه، بیا زه او حاجي زمـان محمدي لږ وګرځېدو، زمزم اوبه مو څو ځله وڅښلې، د زمزم اوبه هــم غذا ده، هم شفا، هم ستړیا باسي، هم تونده ماتوي، د هر مرض دوا ده. یو روایت داسې دی چې (ابو ذر غفاري) یو وخت د پیغمبر(ص) لیدو ته راغلی و، یوه میاشت یې په کعبه شریفه کې د کعبې د پوښ تر شا ځان پټ کړی و. کله چې د خدای(ج) پر پیغمبر(ص) یې سترګې ولګېدې، نو**




**له پردې څخه راووت او د حضرت محمد(ص) پر لوري یې منډه کړه، هغه مبارک ورته وویل: ته دلته څه کوې؟ هغه ویل ستا لیدو لپاره راغلی وم، هغه ویل چېرته اوسېدې او له کله، هغه ورته ویل د کعبــې شــریفې د پردې شاته له یوې میاشتې راهیسې، د خدای رسول(ص) ورته وویل: نو څه دې خوړل؟ هغه وویل د زمزم اوبه، نه یوازې دا چــې هغــه د یــوې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



میاشتې په ترڅ کې خوار شوی نه و، بلکې لاپسې چاغ شـــوی و. نـــو د خدای(ج) رسول(ص) ته یې وویل: زه د زمزم اوبو داسې چاغ کړی یـــم. بیا حضرت پیغمبر(ص) وویل: د زمزم اوبه چې د هر نیت لپاره وڅښــې د همغه لپاره دوا دي. اوس چې ساینسپوهانو څېړنه کړې، نو رښتیا هم د زمزم اوبه د نړۍ تر ټولو اوبو صحت ته ډېره ګټــه لــري. مــا او حــاجي محمدزمان د ماسخوتن لمونځ د صفا او مروا غونډیو ترمنځ په جماعت سره ادا کړ، د جنازې لمونځ مو هم وکړ او بیا د عمارې پر لوري رهي شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د افغانانو مېلمستیا

کله چې له حرم شریف څخه خپلې عمارې او خپل اتاق ته راورسېدو، نو حاجي رضاخان د هغه خوریی او وراره یې، درې واړه د اتاق مخې ته منتظر وو، دا مهال نو په رسپشن (هرکلیوال) کې ما د کیلي پوښتنه وکړه، هغه وویل چې کیلي یې وړې ده. کله چې اتاق ته راغلم، عزت الله خان نه و او دروازه هم تړلې وه، حاجي رضاخان کیلي پسې لاړ، لږ ځنډ شو، هغه ته هرکلیوال کیلي نه ورکوله. کله چې زه ورکښته شوم، ما ویل خدای دې خوار کړه که سړی نه وای له خوارۍ، ماته دې خو دې ویل چې کیلي یې وړې، چېرته یې وړې؟ چا وړې؟ هلته



کیلي ځوړنده وه راوامې خیسته، حاجي رضاخان ورته سخت په قهر شو، اتاق ته راغلو، حاجي رضاخان تازه او وچه مېوه، ګیلاسونه، چایبر، چرګ کباب د اوبو جوشولو چایجوش او نور ډېر شیان راوړي وو، دوه تنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



(خوريی) او (وراره) يې هم ورسره وو، ماته يې وويل چــې دا ســتا ډېــر مينوال دي، نو ځکه مې ځان سره راوستل، دوی وويل چې يون صــيب ضرور ګورو، ما وويل، مولا دې راولي، لږه شېبه چې کېناستو، عزت الله خان هم راغی، مومند صيب هم، مولوي صيب عبيدالله نيازی او مولوي صيب حسيب الله هم راغلل، ټولو ډوډی په ګډه وخوړه، يوازې رضاخان دوی وويل موږ ډوډی خوړلې ده. د ډوډی پرمــهال يــو څــو تنــه نــور حاجيان هم زموږ د ليدو لپاره راغلل، حاجي رضاخان وويل چــې ډېــر افغانان ستا ليدو ته په طمع دي، موږ ته ورځ وښيه چې کومه ورځ ستا خوښه وي، هغوی ټول به سره راټول کړو، دلته وايې، زموږ کور کې وايې يا کوم بل ځای کې، ما ويل خلک به له کاره نه باسو، دلته ټول خلک د شپې او ورځې مصروف وي، ما حاجي رضاخان ته ووبل دلته د سعودي حکومت سخت حکومت دی، هسې نه چې تاسې ته څه مشکل پيدا نه کړي، بل زه يوازې د حج مراسمو ته راغلی يم، کــه خلکــو ســره مــې مېلمستياوې او ميټنګونه پيل کړل، هسې نه چې حج راڅخه سياسي نه شي، دا مــهال حاجي روزي خان يو څو تنه ملګري راولېږل، تر روغبــړ وروسته يو ځل بيا د راتلونکې ناستې په باب بحث وشو، د حاجي صيب روزي خان انډيوالانو وويل، موږ په همدې خاطر راغلو چې موږ ته وخت وښيې، ډاکتر اسدالله او نورو ملګرو راته وويل د پنجشنبې ماښام چــې سبا يې جمعه وي، يوځای کې به راټول شو، مــا وويــل هــر څــه بــه د ماسخوتن تر لمانځه وروسته کوو، تر ماسخوتن پورې نو هلته په حــرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شریف کې یو. خبره په همدې غوټه شوې چې له سعودي مېشتو افغانانو سره به د پنجشنبې ورځې ماسخوتن او د جمعې پر شپه کېنو او مجلس به کوو، ټولو په دې اتفاق وکړ، خو ما په کې دا خبره هم زیاته کړه چې د ډوډۍ او مصارفو خبره به په کې نه وي، یوازې خبرې بــه کــوو او کــوم ګیلاس چای به څښو، که چا لګښت وکړ، موږ په دې خبره سخت خفه کېږو، دې وخت کې د بغلان ولایت یوه ډله تکړه ځوانان اتاق ته راغــل، پنځه تنه وو، نور نو اتاق کې ځای نه و، نور مېلمانه رخصت شــول او دا**



**ځوانان چې نورالله، ناصرخان او خال محمد په کې شامل وو، موږ سره د شپې ترناوخته کېناستل او د زړه خواله مو سره وکړل. د خبرو په تــرڅ کې د جبل الثور او جبل النور خبره مطرح شوه، دا ځوانان چې دلته ښه بلد دي موږ ته وویل چې که زموږ منئ نو اول جبل النور تــه لاړ شــئ، جبل الثور ډېر سخت دی، په دې پیل کې ځانونه ډېر مه ستړي کوئ، بیا به د حرکت نه یاست او ټول مناسک به درڅخه پاتې وي، جبل النور ته**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ختل دومره سخت نه دي، موږ هملته اوسېږو، موږ به درسره لاړ شو، موږ ځو ځله هلته ختلي یو، سخت دی، خو دومره سخت نه دی لکه جبــل الثور، هغوی وویل د سهار تر لمانځه وروسته به ټکسي کې کېنئ، نو موږ به درته هملته د غره ببخ کې منتظر یو، بیا به نو خپل سفر کوو، کله چې راکښته شو چای به هملته له موږ سره وڅښئ او ماسپښین لمانځه ته به بېرته راشئ، پر همدې مو سره ســلا وکــړه او دوی لــه مــوږه رخصــت واخیست او موږ د خوب غېږې ته لاړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جبل النور ته د تګ هوډ

د (۱۳۹۳ل) د میزان (۲) مه او د سپتمبر (۲۴)مه نېټه د چهارشنبې ورځ وه، سهار څلور بجې له خوبه پاڅېدم، اودس مې وکړ حاجي عزت الله مې له خوبه پاڅوه، هغه هم اودس وکړ، دواړه په موټر کې د حرم شريف پر لوري وخوځېدو، د سهار لمونځ مو د مروا غونډۍ پر سر په جماعت سره ادا کړ، ورپسې مو د جنازې لمونځ وکړ، د یادونې وړ ده چې د صفا او مروا غونډیو پر سر مو څکه تر دې مهاله ډېر لمونځونه وکړل، دا هغه لار وه چې موږ ته هم معلومه وه، هم د ډېر ثواب ځای و او هم زموږ عمارې ته نږدې وه، په حرم شريف کې تر نورو ځايونو دا ځای ډېر



مشهور دی. کله چې مو لمونځ ادا کړ، نو د موټرو تمځي ته لاړو، له دې ځايه نږدې لس دقيقې پلې لاره وه، نږدې شپږ بجې وې چې په تمځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ودرېدو بیا په ټکسي کې کېناستو کله چې ټکسي کې کېناستو نــو نورالله ته مو زنګ وواهه، هغه سره مو مخکې تر مخکې همداسې خبره کړې وه، هغه ټکسیوان سره په عربي ژبه خبرې وکړې او دقیــق ادرس یې ورکړ او ټینګار یې پرې وکړ چې د غره تــر بېخــه بــه یــې رســوې. ټکسیوان سره کېناستو، جبل النور د بیت الحرام په شمال کې پــروت دی او تر بعثت وړاندې د رسول اکرم(ص) د خلوت ځای و، هلته به ورته او له خپل رب سره به یې راز او نیاز کاوه او په همدې ځای کې لــومړنۍ الهي وحې او د کلام الله المجید لومړني ایتونه د جبرائیل امین په وسیله



پر حضرت محمد(ص) باندې نازل شول. تر شل دقیقو مزلــه وروســته هدف ته ورسېدو، د تګ پر مــهال لا رڼا نه وه خوره شوې، په لاره کې د برېښنا ګروپونو او ارامۍ د لارې او ښار ښکلا زیاته کړې وه، کلــه چــې هلته ورسېدو، نو نورالله زنګ وواهه، چېرته یاستئ، موږ وویل د غره بېخ کې. ده وویل بېځایه خو به یې نه یاست کښته کړي؟ موږ وویل نه ســم ځای دی، ده وویل فقط پنځه دقیقې وروسته موږ دررسېږو، دی او خال

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد هم راورسېدل، لږه دمه یې جوړه کړه، نورالله وویل زما تشویش و چې بل ځای یې نه یاست کښته کړي، دلته دا ټکسیوانان داسې خصلت لري چې څوک نابلده وي او په ژبه نه پوهېږي دوی چې هر چېرته کښته کړل، کښته کوي یې، یو نیم بیا په کې ښه سړی وي، خپل مطلوب ځای ته یې رسوي. تر لږې دمې وروسته مو غره ته د ختلو پرېکړه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جبل النور ته د ختلو تکل

نورالله او خال محمد وویل تیار یاست، موږ وویل هو! ما نــو تــر دې دمخه له دوکان څخه څلور بوتله اوبه راخیستې وې، فکر مې کاوه چې لاره کې ضرور په کارېږي. نورالله وویل، د غره تر سره اوه اته ځایه د دمې لپاره جوړ شوي، هر ځای کې چې ستړي شوئ، دمه کولای شئ، ما ویل زه خو د غره سړی یم، خو دا زما ملګری عزت الله خان کابلی دی، ماته تشویش مه کوئ، هغه وویل ماته هم تشویش مه کوئ، ځان درپسې در رسوم، رښتیا هم دې غره ختل ډېر ګران دي. په لاره کې چې تر یو ځایه وختو نو عزت الله خان لږ ستړی او پښه نیولی شو، دا مهال ما ورته پــه لغمان کې زموږ د یوه کلیوال کیسه وکړه: زموږ کلي کې یو څوک و، لــږ نازولی و، ښار کې ډېر او کلي کې کم اوسېدلی و. غره ته کله نه و تللی. د کلي هلکان به د ژمي په موسم کې ورځ دوه وروسته غره تــه تلــل او د سون لرګي به یې راوړل. د غره لرګي خورا وچ وي او ډېر ښه اور کــوي. کله چې به غرني کلیوال له غره راستانه شول او بیا به یې د کلــي پــه مازیګرني وستل کې د غره، د هغه د ځنګلونو، بېلابېلو ونو او د وچو او لمدو لرګیو صفتونه کول، نو د هر چا به زړه کېده چې غره ته لاړ شي، زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم همدې صفتونو وهڅولم چې غره ته لاړ شم، په لومړي ځل ماته هم سخته وه، خو ورو ورو عادي او بلد شوم، زه خو تر دې مــهاله په کلــي کې پاتې شوی وم، زیات کلیوالي خصوصیات مې درلودل، نو غره ته له تګ سره هم ډېر روږدی شوی وم او بیا مې په شا له غره څخه لرګي هم راوړل او د خپل کور سون اړتیا مې پوره کوله. دا مــهال نو د شپږم اووم ټولګي زده کوونکی وم، ښوونځي هم دا مــهال وسوځېدل او ټــول زده کوونکي پر کور کېناستل نو دا مــهال به زه غر ته ډېر تللم، بیا چې مې کابل کې بېرته ښوونځی پیل کړ، نو غر هم راڅخه پاتې شو او کلی هم، نو زموږ بل کلیوال (شېر) چې مخکې مې ورته یادونه وکړه، هم یوه ورځ



(c) ketabton.com: The Digital Library



د غره نیت وکړ، که څه هم د کلي هلکانو ورته وویل چې غر ډېر سخت دی شوق یې مه کوه، خو هغه ورته وویل چې زه له تاسو څخه په څه شي کې کم یم؟ تاسې تللای شئ او زه نه شم تللای؟ شېر د غره شوق پوره کړ له کلیوالو هلکانو سره غر ته لاړ، هلته یې ډېر وچ لرګي ولیدل، ډېر خوند یې وکړ، غټ ګېډی یې وتړه، نورو ملګرو یې ورته وویل، ګېډی دې ډېر غټ دی دا دې اول ځل دی، لومړی ځل څوک دومره غټ ګېډی نه تړي، هغه ورته وویل، زه تاسو ته خپل زور ښیم، د هلکانو له ټینګار سره سره شېر غټ ګېډی وتړه، له غره څخه تر کلي نږدې شل دمې لاره وه، هرې دمې نږدې شپږ اوه سوه متره واټن درلود. شېر چې کله ګېډی وتړه نو درې څلور دمې یې په خوند مزل وواهه، ورو ورو پرې د ستړیا څپه راتله، هره دمه کې تر وخت زیاته دمه، څو دمې چې راغی، فکر یې وکړ چې د کلیوالو هلکانو خبره رښتیا وه، ګېډی مې لکه چې غټ تړلی دی. فکر ورته ودرېده چې راځه لږ کم کړه، دوه دمې وروسته یې لرګي لږ کم کړل، ګېډی یې هم لږ کوږ وږ شو، دوه درې دمې وروسته یې فکر وکړ دا مې لومړی ځل دی که تر نورو مې ګېډی لږ څه وړوکی وي، هم څه شرم نه دی. نو لږ یې نور هم کم کړل، یو درې دمې وروسته یو من دوه منه ورسره پاتې وو، نور نو سړی د حرکت نه و، ساز یې له لرګیو څخه رسۍ راکاږله، دا نو د شرم لومړۍ څپه وه چې (شېر) یې زغملو ته اوږه ورکړه، ده پسې راروانو هلکانو به چوپه موسکا کوله، خو دی یې نه خفه کاوه، یو یو ترې مخې ته کېده، د شېر اسره نو دا مهال یوازې رسۍ وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ډېر ورو ورو يې خپل مزل ته دوام ورکاوه، شاته راروان هلکان چې پر دې پوه شول چې سړي پښې اچولي او نور د حرکت نه دی، نو يو تن**



**خپله کجاوه کېښوده، لرګي يې ترې ګوزار کړل، نو (شېر) يې په کې کېناوه، شېر يې کلي ته په کجاوه کې راوړ، دا مهال نو ټول کلی د شېر په حالت خبر شول، (شېر) نو له غره څخه کلي ته له رارسېدو سره سم راساً په خپله دروازه ورننوت، يو اوونۍ په کور کې و، هم د شرم او هم د پښو اچولو له امله له کوره راونوت، نو عزت الله خان ته مې وويل چې تاباندې هم هغه زموږ د کليوال (شېر) کانه ونه شي؟**

**عزت الله خان او نورالله خان سخت وخندل، يو څه لاره خو مې په دې خبرو هم لنډه کړه، بيا مې عزت الله خان ته وويل، له اخوا به څنګه کوې، په تکليف نه شې؟ هغه وخندل له اخوا نه هم تکليف دی؟ ما ورته وويل له يوه (پخ چاقو) څخه چا پوښتنه کړې وه چې دغه سخت لرګي سره څنګه يې؟ مانا پرې به يې کړې که نه؟ هغه وويل، ياره دې کې به مې مزه نه وي، بيا يې ورته وويل تنکي بادرنګ سره څنګه يې؟ نو هغه**

(c) ketabton.com: The Digital Library





ورته موسک شو ویې ویل: بادرنګ کې نو واه واه! نو له اخوا به ټول واه وي، هغه بیا سخت وخندل، بیا یې وویل یاره استاده دا کیســه دې ډېره جالبه وه. ما ویل دعا کوه چې هغه حالت ته ونه رسېږو. په لاره کې ګڼې بیزوګانې او بچیان یې مخې ته راغلل، کله چې یوڅوک دمه وکړي، نو که لاس کې یې د اوبو بوتل او یا جوس وي، دوی په ډېر مهارت ورته رانږدې شي او هغه ترې وتښتوي او ویې څښي، بسکټ یا بل څــه کــه ورسره وي، په همدې ګوزاره کوي، کله کله خلکو څخه د لاس بکسونه هم تختوي، نورالله وویل له یوه هلک څخه یې ټلېفون او د لاس بکسه تښتولي وو، لرې هلته د غره په بله څنډه کې ناسته وه، هېڅوک ورته نه شو ورتللای، همداسې ورسره پاتې شوه، نو دلته له شادیانو څخه ډار په کار دی او احتیاط. البته دا بیزوګانې کېدی شي له هغه وخته دلته پیدا شوي وي چې خلک د تبرک لپاره دلته راځي ځان ســره د څښــاک او خوراک شیان راوړي که نه په دې غره کې دهېڅ ژوندي موجود د پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدو امکان نه شته. کله چې څوک دې غره ته خېژي، نو بیا (۱۴۰۰) کاله



مخکې دې غره ته د حضرت پیغمبر(ص) ورتګ او بیا وخت پـر وخـت ختلو ته حیرانېږي، دې غره ته (جبل النور) ځکه وایي چې د خدای نور پرې اورېدلی، د قران عظیم الشان لومړنی مبارک ایتونه همدلتــه پــر رسول اکرم(ص) نازل شوي دي. د همدې غره په سر کې بیا تر څوکې یو څومتره کښته د (حرا غر) دی. پیغمبر(ص) به همدلته د عبادت لپــاره راته او د الله تعالی ذکر به یې کاوه. درې څلور دمې چې نور پورته شو نو تقریباً دوه پر دریمه برخه مزل به مو کړی وي، دلته یو دمه ځــای دی، یوه چوتره غوندې وه، جاینمازونه هم په کې اوار وو، خلکو به لمونځ هم په کې کاوه، البته موږ دمه وکړه، بیا یوه دمه نور هم پورته شو، زینه یې له خښتو او تیږو څخه جوړه کړې، نه ډېره سخته ده او نه ډېره اســانه، خو هر چاته اسانه نه ده، د سړي له سره چې خولې شروع شي له نوکه یې وځي، یوه دمه چې نور هم پورته لاړو نو یو سپین ږیری هم په چټکۍ سره راوخوت، ما ورته ست وکړ، پښتون راته ښکاره شو، ما ویل بابا راشه

(c) ketabton.com: The Digital Library





دمه وکړه، بیا مې ووېل د کوم ځای یې؟ ویې ویــل د پغمــان، مــا ویــل بېشکه چې تکړه یې، په شونډو کې موسک شو، دیني جذبه یې د تندي په خولو کې له ورایه محسوسېدله، لږې اوبه مو ورکړې، بیا د غره سرته پورته شو، هلته پر یوه ډبره (غار حرا) لیکل شوي او د قران کریم هغــه پینځه مبارک ایتونه (اقــْرَأْ بِــاسْمِ رَبِّكَ الَّــذِي خَلَــقَ★ خَلَــقَ الإِنسَــانَ مِنْ عَلَــقٍ★ اقْرَأْ وَرَبُّكَ الأَكْــرَمُ★ الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ★ عَلَّمَ الإِنسَانَ مَــا لَمْ يَعْلَمْ★) لیکل شوي، خو غار لا په هغه بله څنډه کــې لــږ لاندې یانې تقریباً (۱۰-۱۲) متره ټیټ دی، د جبل النور نــورې هــوارې سیمې له دې ځایه داسې ښکاري لکه په بام چې ورته ولاړ وې، غار تــه تګ اسانه نه دی، موږ سره له دې چې سهار وختي ورغلو، خو بیا هــم سخته ګڼه ګوڼه وه، د تیږو تر درزونو تېرېدل هم اسانه کار نه دی، خو زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې يو غرنی سړی يم او په لسګونو ځله غره ته تلی او راغلی يم، ماتــه



ددې تيرو منځ کې تېرېدل ډېر سخت نه وو، خو چاغ او غټ سري خلک له دې ځايه نه شي تېرېدلای. هلته راته ډېر چاغ خلک راياد شول چې ددې ځای د ليدو له نعمته بې برخې دي. زما ملګرو (نورالله) او (خــال محمد) کوښښ کاوه، چې موږ ته لاره خلاصه کــړي، لــه دواړو خــولې څڅېدلې، د غار خولې کې ډېره ګڼه ګوڼه وه، د افغانانو غږونه هم اورېدل کېدل، چا ويل (تېل مه کوئ، چا ويل از برای خدا تيله نه کنيد)، د ګڼو هېوادونو لسګونه خلک ښکاره کېدل. نورالله پر يوه څنډه او خال محمد پر بله ولاړ وو، ماته يې لاره خلاصه کړه چا ويل غار ته سر ورښکاره کړئ بيا دوه رکعته لمونځ د باندې وکړئ، چا ويل چې نه دننه لمونځ وکــړئ، چا ويل بهر ډېر ثواب لري چا ويل دننه، وخت بايد هر چاته ورکړل شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ټول ثواب کې شامل شي. ما ویل چې یوځل ورننوځم، ضرور په کې لمونځ کوم، ما غوندې هر چا دا فکر کاوه.

**دوه رکعته لمونځ:** په ډېر تکلیف غار ته ورننوتم، هلته په ولاړه په کې ټول شپږ یا اوه کسان ځایېږي، خو په ناسته په کې په ډېره تنګسیا



پر یو وخت یو تن لمونځ کولای شي، د سجدې د ایښودلو زمینه چې راته برابره شوه، نو ژر مې نیت وکړ، دوه رکعته لمونځ مې په ډېرې چټکۍ ادا کړ، پر ځان پوه شوی نه یم، له هرې خوا فشارونه وو، د بېرته راګرځېدو کار هم اسان نه و، خو په ډېر زور مې سر له غاره راویست، دلته نو خال محمد تیار د ګټ پر سر راته دروازه کې ولاړ و، لاس یې راکړ جوخت یې جګ کړم او په اصطلاح له خروجي لارې بېرته د غره سر ته وختلو. دلته مې ځان ډېر راحت احساس کړ، هغه ارمان چې په خیال کې مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرځېده او په کتابونو کې مو لوستي و، هغه پوره شو، د غره پر سر یــوه چوتره ده، هلته کېناستو، هوکې تر دې دمخه لا یو بل ځوان چې د غار



په خوله کې ولاړ و او زه لا حرا غار ته نه وم ورننوتی چې له پاس ځایــه یې غږ کړ او یون صیب په خیر په خیر، ما ویل سلامت اوسې، د راوتو پر وخت هغه هم لاس راکړ. په دې چوتره کې راسره یوځای شو، ویل یــې یون صیب څومره مې ارمان و چې تا وګورم، په څومره مبارک ځای کې مې ولیدې، سم لاسي یې پېښوری چای راوړ، هغه مې وڅښه دمه مــې راسته شوه، راسره کېناست ډېر خوشاله شو. څو دقیقې دلته ناست وو چې نورالله او عزت الله هم راغلل، ښه ستړي وو ما وویل دمه وکړئ، بیا به ځو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د بغلان ځوانان او سهار چای

کله چې مو د جبل النور د غره په سر دمه راسته کړه، نــو ورو ورو مــو حرکت وکړ، طبعاً کوزېدل خو تر پورته کېدلو سل ځله اسانه دي، خو دې کې هم احتیاط په کار دی، د چا بریکونه کار نه کوي، که راولوېده، بیا نو تر ختلو راکښته کېدل ډېر خطرناک دي. په دوه درېو دمو کــې بېرتــه راکښته شو، کله چې د غره بېخ ته راکښته شو، نو ښه خولې شوي وو، عزت الله خان راته وویل والله چې پښې مې رېږدي، لکه چې ستاســو د کلیوال (شېر) کانه راباندې وشوه که څنګه؟ ما ویل زما هم، خــو ښــه کېږو، دا وخت نورالله اوبه راواخیستې، ټکسي یې راوغوښته، په ټکسي کې کېناستو، تر لس دقیقو مزله وروسته د نورالله خان دوی اتــاق تــه ورسېدو، هلته مخکې تر مخکې نورو ملګرو د ډوډۍ بندوبست کړی و، غوښه یې سره کړې وه، په اصطلاح کړایي یې تیاره کــړی وه، ترکــاري، وطني ډوډۍ او سترېا چې سره ملګري شي، نو عجیــب خونــد کــوي، ډوډۍ مې تر اندازې زیاته وخوړه، یخ ایرکنډېشن او زموږ سترېا د خوب لپاره پوره اسباب برابر ول، زما خو داسې یو عادت دی چــې کلــه هــم ډوډۍ وخورم، نو خوب راته تیار په کمین کې ناست وي، انډیوالانو تــه مې وویل چې ډوډۍ خو مو راباندې ډېره وخوړه، اوس به د خــوب غــم کوو، هغوی وویل تاسې همدلته ویده شئ، موږ بل اتاق ته ځو. د ډوډۍ پر مــهال پر نورالله او خال محمد سربېره د دوی د اتاق نور ملګري هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول حاضر وو، ډوډۍ هم همدوی تیاره کړې وه، نــورالله خــان او خــال محمد خو موړ سره وو، دوی ټول بل اتاق ته لاړل، عزت الله خان هم په یوه ګوټ کې ډډه واچوله، د خوب څپه پرې راغله او پر ما هم، خــو تــر خوبه مخکې ما دوی ته وویل چې یوولس بجې او پنځه لس دقیقې به مو



ویښ کړئ! هغوی وویل ښېخي سمه ده. کله چې دوی له اتاقه بل اتاق ته لاړل، نو پر ما د خوب څپه راغله، نږدې یو ساعت خوب به مې کړی وي، ښه دمه راغله، خو بیا هم خوب کې مې تشویش درلود، هسې نه چــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جماعت ته ونه رسېږو. يوولس بجې وې چې له خوبــه ويښ شـــوم، اول تشناب ته لاړم، بيا مې ددې نورو ملګرو دروازه ورټک ټک کړه، هغــوی وويل، تراوسه لا ستاسو پاڅېدو ته پنځه لس دقيقې پاتې دي، موږ ويل تاسې به ستړي ياست، موږ به مو پاڅوو، خو تاسې خپله پاڅېدلئ، عزت الله خان هم پاڅېد، اودس يې تازه کړ او نور مو نو د مسجد الحــرام پــر لوري د تګ نيت وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مسجد الحرام او د جماعت هیله

یوولس نیمې بجې مو د مسجدالحرام پر لوري د تګ نیت وکړ، خو مخکې تر دې چې موټر ته لاړ شو، اوبه مو پرځان تېرې کړې اودس مو وکړ، یو ګیلاس چای مو هم وڅښه، دې کې لږ وخت نور هم تېر شو، موږ ویل څه دولس نیمې بجې جمع ودرېږي، لس پنځه لس دقیقې لاره ده وررسېږو. د بغلان ملګرو په خپل موټر کې تر عمومي سړک او چک پوسته پورې راورسولو، ویل یې وړاندې مو نه پرېږدي، اجازه نه شته، جریمه کوي مو، ددې لارې په ترڅ کې زموږ ملګرو درې تنه ځوانانو چې موږ یې تر موټره پورې ورسولو پر دوی باندې د ځایي عربو له خوا د ډول ډول جزیې د لګولو کیسه وکړه، خورا دردونکې وه، ویې ویل، ان واړه زامن یې چې بې خرڅه شي، موږ ته ځواب راولېږي، چې پیسې راکړئ او که نه بېرته مو خپل وطن ته لېږو، موږ ته (اجنبیان) وایي، د عمومي سړک پر سر ودرېدو، څو موټره تېر شول، ټکسي هم تېرې شوې خو ونه درېدلې، یو کرولا ډوله موټر راغی یو ځوان عرب په کې ناست و، موټر یې ودراوه دا مهال نو پوره دولس بجې دي زړه مو درب درب کاوه چې جمع راڅخه تېره نه شي. موټر کې کېناستو موږ څو جیب ته لاس کاوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ځوانانو څخه (ناصر) ورور پنځوس ریاله ورکړل، که موږ هــر څــومره هڅه وکړه، خو دوی زموږ له خوا د پیسو د ورکړې مخه ونیوله، ډېر زیات خفه شو، هم زه او هم زما ملګری (عزت الله خان)، همدا چورت مو واهه، چې دوی به دا پیسې په څومره سختۍ ګټلــې وي، خــو پښــتانه ډېــر سرزوري دي، زموږ خبره یې هېڅ ونه منله، ان خبرې ته یې هــم پــرې نښودو. موټر حرکت وکړ، له هغو څخه مو خدای پاماني واخیسته، درې دقیقې مزل یې نه وکړی چې موټر د تیلو ټانک ته وګرځېد، مــوږ ورتــه



وویل: (صلواه، صلواه) مانا لمانځه ته ناوخته کېږي، هغه ساعت ته وکتل په انګرېزي یې وویل: ((نو پرابلم، نو پرابلم)) مانا دا چې مشکل نه شته رسېږو، تېلو ټانک کې یو دوه دقیقې ودرېدو، څوک رامعلوم نه شــول، ټانک تړلی و، یوه تن له لرې اشاره وکړه، ما عزت الله ته وویل: دی لکــه چې له همدې پیسو څخه تېل پوره کوي، هغه وویل اشاره یې سره نه ده (مانا دا چې لرې نور تېل لري)، وبه مو رسوي انشاالله. لاره کې درې څلورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټانکونو ته نور هم وګرځېد، خو ټول ترلي وو، اوه اته دقيقې خو پــه دې کې ضايع شوې، موږ خو په عربي نه پوهېدو، ما ورته وويــل: (ســريعه، سريعه، صلواه، صلواه)، دې وخت کې لږ تېز شو. په لاره کې درې څلورو ترافيکي اشارو هم يوه يوه دقيقه ټال کړو. کلــه چــې د مســجدالحرام بېروني محوطې ته ورسېدو او له موټره کښته شو، نو امام سلام وګرځوه. ډېر زيات خفه شو، بيا نو د مسجد الحرام هغې برخې ته رهي شو چــې موږ زيات وخت هلته تللو. موږ زيات لمونځونه د صفا او مروا د غونډيو پر سر د هغوی ترمنځ، د ملک عبدالعزيز باب، ملک فهــد بــاب او ځينــو



دخولي دروازو له لارې د مسجد الحرام په داخل کې کړي دي. په خپله د طواف په ساحه يا محوطه کې مو هم ډېر لمونځونه وکړل، دې ځای ته ځان رسول اسانه کار نه دی، خصوصاً د ماښام او مازيګر لمونځونه مو د طواف په محوطه کې د خدای(ج) د کور ګرد چاپېره کړي دي. کله چې به مو طواف خلاص کړ او دوه رکعته طواف لمونځ به مو وکړ، نو همدلته په يوې څنډې کې به مو صف ته ځان برابر کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لمونځ، خوب او طواف

د جماعت لمانځه په تېرېدو مو خواشیني څرګنده کړه، خو د فهــد دروازې له لارې مسجدالحرام ته راغلو، دلته زموږ بل ملګــري حــاجي محمدزمان هم ناست و، موږ خپل لمونځونه وکړل، بیا همدلته ویده شو، دا ځای نو تر لمانځه وروسته د خوب لپاره تر ټولو ښــه ســاحه ده، پــه زرګونو حاجیان دلته تر لمانځه وروسته ویده کېږي، څوک تلاوت کوي،



څوک نفلي لمونځونه، څوک خپلمنځي خبرې، داسې یخ ځای دی چې ته به وایې د جنت شمال په کې لګېږي، دا د مسجد الحرام یوه برخه ده چې اوس نوې جوړه شوې او د اسلامي معمارۍ یو شهکار ورتــه ویلــی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شو، له چته نیولې، د ځمکې تر متن او ستنو ټولو پوړې په مرمـر ډبـرو پوښل شوې ده.**

**د (خو) ګوته ورته نه شي نیول کېدلای، هر معمار چې په دې کې کار کړی، د زړه له کومي دعاګانې دې ورته زړه غواړي، موږ چې له جبل النور څخه راستانه شوي وو، نو داسې ځپل شوي وو چې تا ویل پر پښـو پـه لرګیو ټکول شوي یو، هغه وخت موږ پرځان نه پوهېدلو، خـو وروسـته وروسته پوه شولو چې دې غره ته ختل اسانه کار نه دی، کله چې له غره**



**راکښته شو، نو عزت الله خان حاجي راته وویل چې پښې مې رېـږدي، اوس پوه شوم چې نور نو زوړ شوی یم، ما ویل زاړه نه یو، ښه ځوانان یو، خو دې غره ته ختل ګران دي.**

**کله چې مو لمونځ خلاص کړ، نو د خوب یوه درنه څپه راباندې راغله، پوره (درې) بجې وې چې بېرته له خوبه راویښ شوم، دوه نور حاجیـان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



(محمدزمان او عزت الله) مې وخوځول، راویښ مې کړل، لاړو اودسونه مو تازه کړل، بېرته راغلو، غوښتل مو د کعبې شریفې څنډو تــه ځــان ورسوو، ډېره ګڼه ګونه وه، خو په ډېر مهارت مو هلته ځــان ورســاوه، د مازیګر لمونځ مو د طواف په ساحه کې ادا کړ، بیا مو حاجي صیب زمان ته وویل، څه چې څو طواف ته، هغه وویل، زه لږ مریض غوندې یم، هسې نه چې طواف راڅخه نیمګړی پاتې شي، ته دا تسبیح واخله لاړ شه، زه د ماښام تر لمانځه وروسته طواف ته ځم، هغه تسبې چې (۷) دانې په کې



دي او د همدې لپاره دي چې د طواف شمار له چا څخه غلط نــه شــي، هغه تسبې یې راکړې، حاجي زمان چې تر موږه دمخه راغلی و، اوس نو ښه بلد دی او تر (۳۰) زیات طوافونه یې کړي، په لومړیو ورځو کې یــې هره ورځ څو طوافونه کړي، خو اوس د ورځې یو طواف کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پلار لپاره طواف

دا زما شپږم طواف و، د اسلامي لارښوونو، له مخــې هــر مســلمان کولای شي چې د کورنۍ د کوم غړي، مور او پلار، خپلو خپلوانو او نورو مسلمانانو لپاره عمره حج ادا کړي او یا د هغوی لپاره طواف وکړي، لــه خدای(ج) څخه وغواړي چې ثواب یې هغوی ته ورسوي.

ملایان وایي که څوک د خپلوانو لپاره عمره کوي، نو باید له هغــوی



څخه اجازه واخلي او یا هغوی ورڅخه غوښتنه وکړي. که څوک خپلوانو ته عمره نه شي کولای، نو کولای شي هغوی ته طواف وکړي او د هغوی ارواوو ته دعا وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما چې تر دې دمخه پنځه طوافونه کړي وو، نو تر دې وروســته مــې پرېکړه وکړه چې خپلو خپلوانو ته د طوافونو لړۍ پیل کړم، نــو شــپږم طواف مې خپل پلار ته د دعا او ثواب په نیت پیل کړ. د مازیګر تر لمانځه وروسته حاجي عزت الله او زه دواړه د طواف لوري ته لاړو، هغه وویل زما پر اوږو لاسونه کېږده. د واړه د طواف ساحې ته لاړو. پلار مې پر ما ډېــر ګران و، له نن څخه (۳۵) کاله وړاندې یې له دې فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې.(انا لله و انا الیه راجعون) زه یې ډېر نازولی یم، کله چې ما ښي او چپ لاس وپېژنده، نو د پلار له مینې او نعمت څخه بې برخې شوم، له هغې ورځې بیا تر دې دمه چې کله مې پلار رایادېږي، نو لکه ماشوم ځان کم، کمزوری او نیمګړی احساسوم، ډېر کم وخت به داسې وي چې خپل پلار په خوب ونه وینم، ټولې هغه ښېګڼې یې زما سترګو ته ودرېږي چې زه یې پرې نازولی یم، کله چې مې په کعبه شریفه کې د خدای د کــور دېوالونه ښکل کړل، نو تر ټولو لومړی مې خپل پلار سترګو ته ودرېد، پلار مې هم حج کړی و، ښېګڼې یې یوه یوه زما سترګو ته ودرېده. یو وخت زه مریض وم، تقریباً لس کیلو متره یې پر اوږو وړی یم، روغتون ته او بیا کور ته پلی، څه چې مې زړه غوښتل هغه یې راته اخیستي، هغه ورځ مې هم په یاد ده چې په ښوونځي کې یې شامل کړم، ۱۳۵۲ل کال، راساً یې په دویم ټولګي کې شامل کړم، ډېر کوچنی وم، کله چې یې د ښوونځي سرمعلم ته کېنولم، پلار مې ورته وویل چې امتحان ورڅخه واخله، هغه امتحان واخیست ما یې ټولو پوښتنو ته ځوابونه ورکړل، سرمعلم زما د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پلار ملګری و، هغه ورته وویل که ستا اجازه وي، زه به دا دویم ټــولګي کې کېنوم، پلار مې ماته وویل څنګه دې خوښه ده؟ ما ویل نه اول کې، هغه په خندا شو، ویل یې بچوخانه تا اوس دویم کې کېنوي، ته وایې چې نه اول کې، د سرمعلم خبره ومنه، همغه و چې ســرمعلم راســره لاړ د الینګار ولسوالۍ (سلینګار) په لومړني ښوونځي کې تــر ونــې لانــدې ټولګی و، هلته یې په ټولګي کې کېنولم، پلار مې هم تر غرمــې پــورې راسره معطل شو، بیا یې تر کوره ورسولم. یوه ورځ سخت مریض وم، هغه وخت له الینګار ولسوالۍ څخه د لغمان مرکز (مهترلام) ته ډېر کم موټر**



**راتلل، اکثره ګاډۍ ګانې استعمالېدلې، پلار مــې ګــاډۍ کــې کېنــولم، ترڅنګ مې دی کېناست، لاس یې زما تر څټ تاو او د ګاډۍ د چترۍ یا چت لرګی یې ونیو، سړکونه خامه وو، یو وخت ګاډۍ ډېر سخت ټکــان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخوړ زما سر دده په لاس ولګېد، ډېر ټینګ ولګېد، دده لاس لږ ژوبــل شو، کله چې ګاډۍ لږ برابره شوه، راته یې وویل، هغــه پــاس مــېخ تــه وګوره، که پر هغه ما لاس نه وی ایښی، نو اوس بــه دې ســر پــه هغــه لګېدلی و او سخت به زخمي شوی وې، زه پوهېدلم چې ګــاډۍ ټکــان خوري، نو ځکه مې مخې تر مخکې هلته لاس کېښود. د پلار لاس مــې ژوبل شو، خو زه یې له خطره بچ کړم. یو وخت اختر و، ټول خلک مېلې ته تلل، پلار مې کور کې نه و، مور مې وویل پلار دې د اختر پر دریېمــه ورځ راځي، مېله هم پر دریېمه ورځ وه، پلار مې (یو زرګیز) افغانی نوټ راکړ، ویې ویل دا مات کړه د مېلې پیسې ترې واخله نورې بېرته کور ته راوړه. هغه وخت (۱۳۵۵) ل کال ما په ټوله مېله کې زرګیز نوټ وګرځوه، خو څوک پیدا نه شول چې مات یې کړي. بیا مې ماما (امین ماما) راتــه ماتې پیسې راکړې او ما په مېله کې خپل ځان ته شیان واخیستل.

اوس چې مې پلار پر هغې دنیا دی او ماته هم خدای پاک ډېر نعمتونه او ښه ژوند راکړی، پلار سره هېڅ نه شم کولای، غیر له دې چــې دعــا ورته وکړم، دا مې د پلار برکت دی چې ماته به یې همېش ویل درسونه وایه درسونه، که به په سفر کې و که په کور کې پر ما یې د سبق ویلــو ټینګار کړی دی، خدای پاک زه خپل کور ته راوبللم او د سفر ټول شرایط یې راته برابر کړل، نو د خپل پلار لپاره مې د خدای کور د رحمت دروازه تر ټولو غوره وبلله او یو طواف مې ځانګړی د هغه لپاره وکړ او د زړه له تله مې دعاګانې ورته وکړې، د خدای(ج) دربار تــه یوځــل بیــا د دعــا

(c) ketabton.com: The Digital Library




**لاسونه پورته کوم چې په هغې دنيا کې مې ورسره ديدن نصيب کړي او هغه مينه چې پر ما يې لورولې خو تر نورې زياتې مينې يې په دې دنيـا کې بې برخې شوم، نو په هغې دنيا کې مې دې خــدای ورســره ديــدن وکړي. د خدای(ج) خپل محبوب پيغمبر(ص) هم يتيم و، ما د يتيمــۍ ډېرې سختې شپې تېرې کړي دي. خدای(ج) دې د ټولو مســلمانانو او انسانانو اولادونه د پلار د سيوري له دې خواږه نعمته نه بې برخې کوي. خپل پلار او ټولو مسلمانانو ته ددعا په هيله د طواف له ساحې څخه بهر شوم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ماښام او ماسخوتن لمونځونه او درون خوب

د ماښام لمونځ مو په جماعت سره په مسجدالحرام کې ادا کړ، زه او عزت الله حاجي ښه د مزې سـتړي شـوي وو. د ماښـام او ماسـخوتن لمانځه ترمنځ نږدې یو ساعت واټن مو هم همدلته په مسجد کې تېر کړ، دا مـهال به هم د خوب یوې درنې څپې پر ما یرغل وکـړ، دا چـې لـه مسجده بهر نه شو وتلای او که وتلو بېرته خپل دې ارام ځای ته نه شو راتللای، نو ځکه مو بهر ته د تګ هڅه نه کوله او دغه راز د خـوب پـر



وړاندې مو سخت مقاومت وکړ. دا مـهال نو په مسجد کې ځکـه ګنـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ګونه زیاتېدله چې له بېلابېلو هېوادونو او سیمو څخه ګڼ شمېر حاجیان رارسېدلي وو. د ماسخوتن لمونځ مو په جماعت سره ادا کړ او تر خپـــل استوګنځي پورې پلي لاړو. چپرکټ ته په تلو سره د خوب یوه درنه څپه راباندې راغله، د شپې ټلېفون ته ډېر زنګونه راغلل، خو د ځواب وس مې ورته نه و، سهار ګڼ مسکالونه په ټلېفون کې ثبت شوي وو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library




# لمونځ، خپلې مور او خپلوانو لپاره طواف

د تلې یا میزان (۳) مه او د سپتمبر (۲۵)مه نېټه د پنجشنبې ورځ وه، سهار وختي له خوبه پاڅېدم. سهار څلور بجې د مسجدالحرام پر لوري لاړو، تر یو څه سواره او نور پلي مزله وروسته د لمانځه ځای ته ورسېدو، ګڼه ګوڼه ډېره زیاته وه، موږ د مسجد په بېروني انګړ کې لمونځ وکړ، بیا بېرته اتاق ته راغلو، تر یو څه خوب وروسته پاڅېدو، عزت الله خان یو څه چای دم کړی و، چای سره یو څه کشمش هم وو، خو ده تېره شپه ماته له یوه پاکستاني هوټل څخه څه چکن کړایي، چې زما ډېر خوښېږي، راوړې وه، د شپې یې پر ما دوه درې ځله غږ وکړ، خو زه د پاڅېدو نه وم، همغه کړایي یې سهار راته راواخیسته، د ګرمېدو نه وه او نه د ګرمېدو امکانات وو، یخه مو وخوړه او چای مې هم ورپسې تېر کړ، څرنګه چې له تېرې ورځې ښه وږی شوی وم، نو سخت خوند یې وکړ، یوولس بجې د لمانځه لپاره مسجدالحرام ته لاړو، ماسپښین لمونځ مو په جماعت سره ادا کړ، زړه کې مې وویل که خدای کول نو یو لک لمونځونه مو د ځان لپاره راخپل کړل. بیا مو د جنازې لمونځ وکړ او د یخو ایرکندېشنونو ستنو ته مو ځان ورسوه، ښه د مزې خوب مو وکړ، دمه مو راسته شوه، بیا مو اودس تازه کړ، د مازیګر لمانځه لپاره مو د طواف نږدې ساحې ته ځان ورسوه، کله چې لمونځ خلاص شو، نو بیا مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



طواف شروع کړ، دا مې اووم طواف و. دا طواف مې د خپلې مور، د ټولو مړو او په تېره بیا د خپلو مړو خپلوانو د ارواوو د خوشالۍ په خاطر وکړ. ټول خپل او خپلوان مې یو یو له ذهن څخه تېر شــول، داســې لکــه د ټلوېزیون په پرده کې چې په ډېرې چټکۍ سره تصویرونه تېرېږي، ډېر کم




به داسې څوک پــاتې وي چې دا مــهال مې ذهن ته نه وي راغلي، مــور مــې ډېره راباندې ګرانه ده، د مور دعا تر ټولو درملو ډېر قوت لــري، یــوه ورځ زه ســـــخت ناروغـــــه وم، پوهنتون کې محصل وم، غــاښ مــې ســخت درد کاوه، د پوهنتون له لیلیې څخه د خپلې خور کور ته لاړم، مور مې له لغمان څخه راغلې وه، له ډاکتر څخه مې د غــاښ درد درمل واخیستل، خو هېڅ تاثیر یې ونه کړ، کله چې کور ته ورسېدم، نو مور مې برغولی ښه ګرم کړ، په یوه نرمه ټوټه کې یې تاو کــړ، زمــا پــر پړسېدلي غمبوري یې کېښود، غاښ درد مې ورو ورو غلی شو، د مور پر زنګانه مې سر کېښود، همداسې خوب وړی وم، زه بېرته ماشوم شــوی وم، تر ډېره وخته ویده پاتې شوم، خو مور مې زما سر له خپل زنګانه نه و

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرې کړی. خپله زړه نیا (انۍ) مې سترګو ته ودرېده، خپل ماشـومتوب راپه یاد شو، انۍ (د پلار مور) زه ډېر نازولی وم، زه چې کـوچنی وم نـو خپلې نیا (انۍ) سره به څملاستم، هغې به په ژمي کې بړسـتن پـر مـا داسې تاوه کړې وه چې د یخ د لګېدو هېڅ امکان به نه و، نیا مې زه په روژه کې چربانګي ته هم جګولم، که څه هم د روژې نه وم او نه راباندې فرض وه، خو چربانګي به هسې خوند راکاوه، نیا مې ډېره مهربانه وه. په




وړکتوب کې زه له شیشکو او نورو افسانوي ځناورو سخت وېرېدلم، یوه شپه مې خوب ولیده چې یوې شیشکې پسې واخیسـتم، سـخت یـې وځغلولم، ډېر ستړی شوم چې ګیر یې کړم ما له وېښتانو ونیوه او چیغه مې کړه، دا مـهال مې انۍ غېږ کې ونیولم، زویه زه یم انۍ دې، زه دې له وېښتانو نیولې یم. زه ډېر خولې شوی وم، انۍ مې پر سر لاس راتېر کړ، ویې ویل خوب دې ولیده، ویرېدلی یې، مه وېرېږه، ویده شه، پر سر یې بیا لاس راتېر کړ، کلمه یې راباندې وویله،غېږ کې یې ټینګ ونیولم، بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



**همغسې پسې ویده شوم، کله چې هم ډوډۍ تیارېدله نو انۍ مې اولـه مړۍ ماته راکوله، کله کله به یې د غوښې یوه ټوټه په ډوډۍ کې پټه کړې**



**وه، هغه به یې پټه خوله کې راکړه، یوه نیمه روپۍ چې به یې په بڅڅکۍ کې ساتلې وه، هغه به یې هم ماته پټه راکړه، نو دا مـهال چې د خدای کور ګرد چاپېره تاوېدم، خپلو ټولو مړو، نیاګانو، ماماګانو، عمه ګـانو او نورو خپلوانو ته مې د زړه له تله دعا وکړه، هېڅوک مې پرې نښودل او نه هغوی زه پرېښودلم، چې ځان راته یاد نه کړي، کله چې طواف خلاص شو، نو دوه رکعته طواف لمونځ مې د رحمت تر ناوې لاندې په (حطـیم شریف) کې ادا کړ او ټولو مړو ته مې یوځایي دعا وکړه. لـه دې سـره د طواف له ساحې رابهر او په مسجدالحرام کې د ملک فهـد دروازې پـه امتداد په یوه ساحه کې کېناستم او خپله ستړیا مې پر دمې بدله کړه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اتم طواف او خپلې مېرمنې ته د روغتیا هیله

ماښام لمانځه ته لا لږ وخت پاتې و چې کور تــه مــې زنــګ وواهــه مېرمنې سره مې خبرې وکړې، هغې وویل، چېرته یې؟ مــا ویــل حــرم شریف کې یم، هغې راته وویل، دعا راته وکړه، ډېره ناروغه یم، مېــرمن مې څو ځله هند ته لاړه چې د معدې ناروغۍ علاج وکړي، یو څه دمــه



ورغله، خو پوره روغه نه شوه، د معدې تکلیف ډېره ځورولې، د ماښــام

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لمونځ مې ادا کړ، بیا طواف ته داخل شوم، اوه ځله د خدای له کوره تاو شوم، کله چې مې طواف بشپړ کړ نو په ابراهیم مقام کې مې دوه رکعته طواف لمونځ ادا کړ، خپلې مېرمنې، ټولــو خپلــو خپلوانــو، ناروغــانو، رنځورانو، معیوبینو او معلولینو ته مې دعا وکړه، له خدای پاکه څخه مې وغوښتل چې زما دا طواف د هغوی لپاره قبول او ثواب یې هغــوی تــه ورسوې، کله چې مې لمونځ خلاص کړ، نو یوځل بیا مې خپله ماضي راپه یاد شوه، د خپلې مېرمنې ښېګنې او د خپلــو خپلوانــو ټــولې نېکــۍ**



**مې سترګوته ودرېدې، دا مــهال نو چاته خپلې ښېګنې نه وریادېږي، خو که بل چا ډېره وړه ښېګنه هم درسره کړې وي، نو هغه دې سترګو تــه ودرېږي. دا مــهال نو د سړي له سترګو د اوښکو سېلاب راروان وي. په ابراهیم مقام کې لمونځ ډېر سخت دی خو ډېر ثواب لري، ځکه چې دلته سخته ګڼه ګوڼه وي، د خلکو ګڼه ګوڼه دې لمانځه ته نه پرېــږدي. خــو مېرمن مې چې کله حج ته راغلې وه، نو په همدې ابراهیم مقام کې یې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لمونځ کړی و، نو ما هم همدلته لمونځ وکړ، نه يوازې مېرمن ته مې، بلکې ټولو ناروغانو ته مې دعا وکړه، ښه زيات خــولې شــوی وم، تــر طــواف وروسته مې په مسجدالحرام کې د ماسخوتن لمونځ وکړ او بيا بېرتــه د عمارې پر لوري وخوځېدم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د افغانانو مېلمستیا

کله چې عمارې ته ورسېدم، نو ښاغلي حـاجي روزي خـان خپـل ملګري له وعدې سره سم تیار رالېږلي وو، زه (یون)، عزت الله او ډاکتر اسدالله په ټکسي موټر کې لاړو، تر شل دقیقې مزله وروسته هغه ځای ته ورسېدو، کله چې هلته لاړو، نو ګڼ شمېر دوستان افغانان یې راټول کړي وو، د افغانستان بیرغ یې هم راوړی و، سرې غالۍ یې اوارې کـړې



وې، ټول زمونږ هرکلي ته راپاڅېدل، یوه یوه سره مو ستړي مشي وکړل، سم لکه کوم رسمي مېلمه ته چې څوک پروګرام کوي، سره له دې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ما دوی ته ویلي وو، ماته به غټ پروګرام نه جوړوئ، خو دوی بیا هم دا کار کړی و.**

**په دې پروګرام کې د بېلابېلو ولایتونو افغانان حاضر وو، هغه افغانان چې دلته له کلونو کلونو راهیسې کار کوي، ددې پروګرام ځینې اشخاص په دې ډول وو: حاجي ګل ولي، امیر، حاجي صالح خان، سردار، حاجي تحصیل شاه، عارف نور، ګل احمد خان، غلام محمد، حاجي نواب،**



**حاجي مومند، قاضي، ملا شېراغا، شهباز، شاه وزیر، سیدال، جمعه خان، شفیق، محمداجان، داودجان، امان الله، خیال محمد، ناصر خان، حاجي احمدګل، نیازمحمد، ملا تاج محمد، حاجي عبدالغني، حاجي محمد ګل، اغامحمد، صلاح الدین، شېراحمدخان، کلام خان او نور... ما دوی ته وویل: له وخته به ګټه پورته کړو، تاسو ماته خپل خپل مشکلات هم وواییئ، که څه هم زه ددې مشکلاتو د حلولو جوګه نه یم، خو ستاسو غږ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د رسنیو له لارې لوړو مقاماتو ته رسولای شم. دوی خپل غټ مشکلات په دې ډول بیان کړل:**

**۱- د پاسپورتونو مسئله باید حل شي؛ موږ دلته اکثره په پاکستاني پاسپورتونو راغلي یو، زموږ پاسپورتونه باید پر افغاني پاسپورتونو بــدل شي.**

**۲- د افغان پاسپورتونو وخت ډېر ژر ختمېږي، د افغانستان حکومت باید دا وخت ډېر کړي.**

**۳- زموږ یو زیات شمېر افغانان دلته بندیان دي، د دوی برخلیــک باید معلوم شي.**



**پاکستاني پاسپورتونو والا، نه افغانستان ته تللی شي، نه پاکستان ته! له هر دریو کسانو یو تن پاکستانی پاسپورت لري. افغان حکومت باید لــه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



سعودي حکومت سره خبرې وکړي، چې پاســپورتونه تغیــر شــي. دې غونډې ته راغلو افغانانو دلته په سعودي کې د خپلــو ګنــو مشــکلاتو، ستړیاوو، تنګسیاوو او نورو ستونزو په باب هم رڼا واچوله، بیا تــر هغــه وروسته ډوډۍ تیاره شوه، حاجي روزي خان او ملګرو یې پسه یا پسونه حــلال کړي وو، په لویو مجموعو کې یې وریجې راوړې، غوښه په کې د چا خبره انبار انبار ایښې وه، د ډوډۍ شکل یې عربي خو محتوا، لورېینه او مهرباني یې افغاني وه، ډوډۍ مو په خوند سره وخوړه، ما حاجي روزي خان او ملګرو ته وویل چې ما نه غوښتل تاسو داسې مصارف وکــړئ او



موږ ته تشریفات وکړئ، مخکې مو هم همداسې فیصله کړې وه، هغوی وویل یون صیب دا چې ته دلته راغلی یې موږ دومره خوشاله یو چې په جامو کې نه ځایېږو، موږ فکر کوو چې دا به یو خوب او خیــال وي. یــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپین ږیري راته وویل چې په ټلوېزیون کې ډېر غټ ښکاره کېږې، خــو دلته هسې نه یې، ما ورته وویل: ټلوېزیون کې خو د سړي عکس ښکاري او عکس خو وایي سرچپه ته، یانې وړوکی جسم لوی ښکاره کېږي، تــر ډوډۍ وروسته یې مېوه او چای راوړل، ورو ورو یو یــو زمــا څنــګ تــه رانږدې کېده، مجلس ګرم شو، ډېرې اساسي خبرې پیــل شــوې، دوی



میډیا او په تېره بیا ژوندون ټلوېزیون دومره تعقیب کړی و چې ان زه له ځینې مسایلو ناخبره وم او یا مې له یاده وتلي وو، هغه یې ماته را په یاد کړل. د یو سپین ږیري خو زما مرکې، بحثونه او خبرې دومره په یاد وې چې که زه وغواړم خپلې خبرې او مرکې بېرته راټولې کړم، نو له ده څخه به مرسته غواړم: یاد دې دي چې هغه پلانکي وخت کې دې ورته داسې وویل، یاره دا اشرف غني هم اخره کې داسې سست غوندې شــو، دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټلوالې ته چې څوک سست شوي، هغه پرې نور هم زړور شوي، دوی ته سم سوک په کار دی، دا ډول خلک په خبره نه پوهېږي، د دوی له ډلې شېراحمد خان زما څنګ ته کېناست، حاجي روزي خان وویل چــې دا دې له سرسختو پلویانو څخه دی، هغه وویل، یون صیب ډېر خوشاله یم چې نن دې په خپله مسافر خانه کې ګورم او خدمت دې کــوم، داســې فکر کوم چې خوب وینم، یون صیب یوه کیسه به درته وکړم، یوه شپه مې خوب ولید چې موږ ګڼ ځوانان درڅخه راتاو وو چــې دې کــې یــو انتحاري راغی، موږ ټول روغ پاتې شو او ته له منځه لاړې، ما ټولو ملګرو ته وویل چې ولې موږ له منځه لاړ نه شو، چې یون صیب شــهید شــو، کاشکې موږ له منځه تللي وای، دی ژوندی وای، ډېر زیات مې وژړل چې په همدې کې له خوبه رابیدار شوم، ډېر خولې شوی وم، بیا خوښ په دې شوم چې دا خوب و، حقیقت نه و، بیا مې خوب نورو دوستانو ته وواېه، هغوی وویل ټول خوبونه واقعیت نه پیداکوي، نو یون صیب ډېره علاقه درسره لرم، نه یوازې زه، بلکې ټول ځوانان، دلته چې کوم کسان ناست دي، په سوونو به دلته راغلي وای، خو دلته سعودي حکومت اجازه نــه ورکوي، دلته چې موږ اوسېږو ددې ځای مالک په حکومــت کــې غــټ سړی دی، له هغه سره مو دا خبره مطرح کړه چې زموږ یو مشر راځــي، هغه ویل تاسې ورته پروګرام وکړئ، د حکومت ځواب زه وایم، موږ دلته مزدوري کوو، که لږ هم د حکومت راته تبعه خرابه شوه، په هغه ورځ مو باسي، دغه ځوانان او مشران چې دلته دي دا له نږدې ځایونو راغلل او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه څو تنه چې کندوزي دي هغه لږ له لرې ځایه راغلي دي، هغه بــل ځوان چې ګورې! (ګوته یې ورته ونیوله) هغه د خپل پلار پر سر جنګ نه کوي، خو د تا په خاطر سر ماتوي، تراوسه یې ستا په سر څــو جنګونــه کړي دي، چا چې د تا نوم بد اخیستی، نــو ده پــرې وردانګلــي دي. د شېراحمد ترځنګ نور ځوانان او مشران هم یو په بل پسې راغلل، د زړه خواله یې راسره وکړل، راته یې وویل یون صیب موږ ته دغسې تا غوندې مشران په کار دي چې په هر ځای کې راسره کېنــي، مــوږ ورســره ازاد



مجلس وکړو، موږ خو ورڅخه څه نه غواړو، د خپل زړه درد ورته بیانوو، بیا ټولو هیله وکړه چې په نوبت سره یادګاري عکسونه اخلو، هم مو ډله ییز عکسونه واخیستل او هم مو انفرادي. یو یو یا دوه دوه تنه راتلل، د افغانستان د بیرغ تر شا مو ورسره عکســونه اخیســتل او دوی خپلــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوښي څرګندوله، دوی دومره خوشاله وو، لکه چې د کومې کوژدې یا واده مراسم وي، ساعت ته مې وکتل د شپې درې بجې وې، رخصت مو ورڅخه واخیست، دوه تنه ملګري: شېراحمد او یو بل ملګري په خپـل موټر کې تر عمومي سړکه راورسولو، هلته یې راته ټکسي موټر ودروه، په هغې کې یې کېنولو، کرایه یې ورکړه او له دوی څخه مو خدای پامـاني واخیسته. دا مهال یې دوه وړې غالۍ هم په زوره زموږ پــه مــوټر کــې کېښودلې او ویې ویل دا زموږ له خوا سوغات دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جمعې لمونځ او سور لمر

د تلې یا میزان (۴) مه د سپتمبر(۲۶)مه نېټه د جمعې مبارکــه ورځ وه، سهار څلور بجې لمانځه ته راغلو، د شپې ښه بې خوبه شوي وو، که لږه دمه مو وهلی وای، نو د خوب څپه راباندې راتلله، ما ویل چې زه به زیات خوب رانیولی یم، خو چې خپل ملګري عزت الله خان ته مې وکتل، نو حالات یې تر ما هم خراب وو. د سهار لمونځ او بیا ورپسې د جنــازې لمونځ تر ادا کولو وروسته بېرته د خپل استوګنځي پر لوري وخوځېدو، ښه ستړي وو، تر چپرکټه چې ورسېدو نو نور د خوب ښاپېرۍ راغلــې، مورږ ویل څه تر (۱۱) بجو به خوب وکړو، بیا به د جمعې لمانځه ته ځو او بیا به همداسې د مازیګر، ماښام او ماسخوتن لمونځونه کوو. درانه خوب وړي وو چې دروازه په ناترسه ډول ودبول شوه، مورږ ویل څه بیا به د چا څه په کار وي، ځان مو غلی کړ، لږه شېبه وروسته بیا ودبول شوه، تــر عادي حالت څخه په پورته ډول، بیا مو ځان غلی کړ، درېیم ځل یې بیا داسې ووهله چې تا به ویل ضرور کومه خطرناکه پېښه شوې ده. عــزت الله خان حاجي چې دروازه خلاصه کــړه، ګــوري چــې مولــوي صــیب عبیدالله نیازی دی، راننووت لېستونه یې په لاس کې وو، چېرته ویــده یاستئ؟ د جمعې مبارکه ورځ ده لاړ شئ جومات ته! مولوي صیب چــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ له خوا سوړ چلند ولید، نو ده هم بریک ونیو، هغه فکر کاوه چې دوی درې ورځني ویده پراته دي، بیا یې وویل دغه جدول کې مو ستاسو نومونه او لاسلیکونه په کار دي، تاسې په لېست کې له ماسره یاست. څو شېبې ناست و، بیا لاړ، موږ بیا لږ خوب وکړ، لس نیمې بجې



زه پاڅېدم، پرځان مې اوبه تېرې کړې او اودس مې وکړ، بیا حاجي عزت الله اودس وکړ تر اوداسه وروسته د حرم شریف پر لوري وخوځېدو. تر پنځه لس شل دقیقې واټن وروسته د حرم شریف باندني انګړ ته ورسېدو.کله چې حرم شریف ته ورسېدو، نو د تونل له لارې د حرم شریف د نوې ودانۍ پر لوري وخوځېدو، موږ ویل دې ځای کې فرصت وي، څرنګه چې د جمعې مبارکې ورځ وه، نو د مسجد داخل کې خو د پښې ایښودلو ځای نه و، تر مسجد بهر انګړ هم دومره له حاجیانو ډک و چې حد یې نه درلود، کوم ځای کې چې سیوری و، خلکو هملته صف

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړ کړی و، صفونه هم د سیوري تر اغېز لاندې وو، هــر چېرتــه چـــې سیوری و، هلته صف و، د سیوري لیکه د صف لیکه وه، ګرمي هم ترحده تېره وه، موږ په ډېر تکلیف د یوه دېوال سیوري ته ځای پیدا کړ، هغه هم ډېر تنګ و، خو ښه و سیوری ورو ورو زموږ له څنګه واوښته، څو چـــې څلور رکعته سنت ادا کېدل، نو سیوری زموږ له سره تېر شوی و، دا لمر



دومره توند و چې د سړي تندی یې سېزه، یوه بجــه د جمعــې ورځـــې لمونځ ادا شو، بیا د جنازې لمونځ و. کله چې لمونځ ادا شو، نو ګڼو خلکو له مسجده حرکت وکړ، ګڼه ګوڼه څه ناڅه لږ شوه، نو حاجي عزت الله ته مې وویل چې لومړی به یو څه ډوډۍ وخورو، بیا به مسجد ته داخل شو، هغه وویل سمه ده، لاړو همغه هوټل ته چې ډوډۍ به پــه کـــې ډېــره او څوکۍ په کې کمې وې، د ساعت برج په لویه ودانۍ کې هوټل و هلته مو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لږ وریجې او غوښه وخوړه او بیا بېرته د ملک فهد دروازې له لارې حرم شریف ته داخل شو. کله چې له سره لمر څخه یخې هوا ته داخل شو، نو د دوزخ او جنت یو وړوکی تصور مو ذهن کې وګرځېد، د مسجد په داخل کې مو یوې ستنې ته ډډه ولګوله، د ډېر زیات راحت احساس مو وکړ، دا داسې یو ځای دی چې څوک په کې ویده وي، څوک خپل عبادت کوي، څوک تلاوت کوي او څوک یو بل سره مجلس، کله چې خلک په جماعت سره لمونځ وکړي، ځینې خو هسې هم په همدې ځای کې په جمع ودرېږي او تر جماعت وروسته همدلته ځای پرځای پاتې



کېږي او ځینې نور تر طواف وروسته دلته راځي. د قران کریم لپاره اوسپنیزې الماری هر ځای ایښي وي، خلک قران شریف را اخلي تلاوت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي يې او بېرته يې ړدي، ځينو ځايونو کې امامانو وړې حلقې جـوړې کړې وي، ديني موعظې کوي او ځينې ځايونو کې قاريان نورو ته په وړو وړو حلقو کې د قران کريم تلاوت کوي. د بېلابېلو مذهبونو او بېلابېلـو رنګونو خلک راټول وي، د لمانځه په شکلياتو کې هم يو بل سره تـوپير لري، خو په اساساتو او محتوياتو کې هېڅ توپير نه ليدل کېږي. د ګڼې ګوڼې له امله که يو څوک لمونځ هم کوي، نو بل ته اجازه شته چې لـه مخې يې تېر شي، که څه هم ډېرى حاجيان زړه نه ښـه کـوي چـې د لمانځه پرمـهال د چا له مخې تېر شي، خو چاره نه وي، دلته څوک د چا



پر مذهبي نظريې پسې سر نه خوږوي، د ټولو لاره د خدای کور ته وځي، د رحمان بابا د خبرې په مصداق: ((دا څلور مذهبه واړه سره يو دي - ما او تا په کې پيدا کړ اختلاف.)) هر څوک چې په هره بڼه لمونځ اداکوي، خو د لمونځ محتوا يوه ده. ((منزل د ټولو يو دی، خو سفر جدا جـدا)). دلته تر مازيګره کېناستو، د الله^(ج) ذکر مو وکړ، د خدای^(ج) له کوره لړ لرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو. په ذهن کې مو په زرګونو ډولونه تصویرونه تېر وبېر شول، د ماضي، حـال او راتلونکي لپاره، زما خو به چې کله هم د خدای(ج) له حضور سره مستقیمه رابطه ټینګه شوه، نو دا شېبه به مې خپله ماضي، حـــال او اینده ټول په ذهن کې تېر شول، خو د دا ډول رابطې ټینګول هم اسانه خبره نه ده، د مازیګر لمونځ نږدې شو، کله چې مې د مازیګر لمونځ په جماعت سره ادا کړ، نو د طواف په لټه کې شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تحريکوالو او ټولو افغانانو لپاره طواف

د طواف لپاره مې تکل وکړ، دا مې نهم طواف و، هوډ مې وکړ چې دا طواف به تحريکوالو او ټولو هېوادپالو افغانانو ته وقفوم.

په ډېر تکليف مو د ملک فهد دروازې څخه طواف ځـای تـه ځـان ورسوه، زه او حاجي عزت الله دواړه وو، هغه ويـل زمـا ولـي ونيســه،



ما وويل کوښښ کوو، چې تر پايه يوځای لاړ شو، خو که کومه ســتونزه پيدا شوه، د ملک فهد د همدې دروازې له لارې چې طواف تـه داخـل شو، بيا به د همدې لارې په سر کې يو بل ته ودرېږو، د طواف يــوه دوره مو چې بشپړه کړه، نو د مازيګر د لمانځه وخت شو، لمونځ مو په ابراهيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقام کې د کعبې شريفې دروازې ته مخامخ په ډېر ښه ځای کې ادا کړ، تر لمانځه وروسته مو بيا طواف پيل کړ، دوه دورې نور هم له حاجي عزت الله سره ځنګ په ځنګ لاړم، په تېله او ګنه ګونه کې هغه بيا راڅخــه لادرک شو، ما خپل طواف اوه دورې بشپړې کړې (له کعبې شريفې څخه اوه ځلې تاوېدل، يو طواف حسابېږي)، ددې لپاره چې د طواف شــمېر راڅخه غلط نه شي د خپلې غاړې دسمال کونجونو ته مې غوټې اچولې، پنځه غوټې چې پوره شوې ما ويل نور نه غلطېږي، شپږم او اووم پړاو مې چې بشپړ کړ، نو بيا حطيم شريف ته داخل شوم، د رحمــت تــر نــاوې لاندې مې د طواف دوه رکعته شکرانه لمونځ ادا کړ، ټولو تحريکوالــو او هېوادپالو افغانانو ته مې دعا وکړه او بيا مې ځان له ملک فهــد دروازې څخه غځېدلې لارې ته برابر کړ، لږ وروسته مې يو ګيلاس زمــزم اوبــه وڅښلې، دې وخت کې عزت الله خان هم طواف خلاص کړی و، تلفيون يې راته وکړ چېرته يې؟ ما ويل همدلته د زينې پر سر درته ولاړ يم، دواړه بېرته سره يوځای شو، د ملک فهد دروازې ته مــو ځــان ورســاوه، دې وخت کې عزت الله خان وويل، نورالله خان زنګ وهلی و چې زه درپسې در روان يم. لکه څنګه چې مې دمخه يادونه کړې، نورالله خان له بغلان ولايت څخه دی، ډېر تکړه او غښتلی ځوان دی. موږ يې تر دې دمخــه حرا غار (جبل النور) ته هم بيولي وو او بيا يې پر موږ د سهار چای هــم هملته د دوی په استوګنځي کې څښلی و. د هغه زنګ بيا راغــی، مــوږ تيار د ملک فهد دروازې څنګ ته ناست وو، ښه ستړي وو، لږې اوبه مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا وځښلې، دا ځای ډېر یخ و، موږ چې تر دې دمخه په سره لمــر کــې لمونځ کړی و، نو سخت یخ او ګرم شولو. ستوني مې لږ لږ خاربښت هــم پیل کړ او د زکام علایم هم ولګېدل، دا مــهال مې چې اوږې ته لاس کړ، نو دسمال نه و، دسمال راڅخه چېرته غورځېدلی و، په دسمال ډېر خفه شوم،له کابله راسره و او درې ځله مې د خدای د کور پر مبارک دېــوال موښلی و، څو شېبې وروسته له ملک فهد دروازې څخه بهر شو، تر لــږ ځنډ وروسته له نورالله خان سره مخامخ شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د بغلان ځوانان او د عزت پګړی

د ملک فهد دروازې مخې ته له نورالله خان سره مخامخ شو. تر روغبړ وروسته هغه وویل ژر ځو چې نور اندیوالان موږ ته منتظر دي. د موټرو تمځي ته ورسېدو، لوی موټر چې حاجیان انتقالوي او ټکسي موټر بې شمېره دي. نورالله خان یوه ټکسیوان ته وویل، خپل مطلوب ادرس یې ورکړ. حاجي عزت الله مخکې سیټ، زه او نورالله په وروستي سیټ



کې کېناستو، تر نږدې شل دقیقې مزله وروسته ټاکل شوي ځای ته ورسېدو، په لاره کې مو د سړک او د سړک ترغاړې د ابادۍ بې شمېره

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کارونه ولیدل، غرونه توږل کېدل، په اصــطلاح ویلــې کېــدل، لارې او بلډنګونه جوړېدل، پر ټولې غځېدلې لارې کارونه روان وو، نورالله خان وویل، نه یوازې دلته، بلکې په ټوله مکه مکرمه او ټول سعودي کې په هر ځای کې همدا ســاختماني کــار روان دی. دوی پیســې ډېــرې لــري، ټیکدارانو ته دوی وخت او کیفیت قیدوي او هغوی ورسره د پیسو قسط او پر خپل وخت د پوره پیسو ورکړه. دوی پر خپل وخت پیسې ورکوي او هغوی خپل کار خلاصوي، نو ځکه د دوی په کار کې څه مشکل نه پیدا**



**کېږي، اکثره کارونه په خپله د غټو شــیخانو پــه لاس کــې دي. ترکــي کمپنۍ دلته ډېر زیات فعالیت لري، خو کارګران یې اکثره بنګالي، هندي او پاکستاني دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تر شل دقیقې مزله وروسته اصلي هدف ځای ته ورسېدو، هلته دوی یوه لویه هوجره یا مېلمستون کرایي کړی و، (زر ریاله) یې د یوې شپې لپاره کرایه ورکړې وه، د ناستې لپاره ښه سالون وو چت یې د کېږدۍ په شان و، د نږدې (۱۵۰) کسانو د ځایونې ظرفیت یې درلود. کله چې هال ته داخل شو، نو ګڼو ځوانانو او مشرانو زموږ هرکلی وکړ. بیا مشرانو ماته وار له واره د عزت پګړۍ را په سر کړه ما ترې مننه وکړه او ومې ویل چې ماته مو عزت راکړ، خدای دې تاسې لا عزتمن لري. بیا نورالله خان ځینې**



**دوستان رامعرفي کړل او ویې ویل چې دا ټول ستاسې علاقمندان دي، همدې شاوخوا کې اوسي. کله چې دوی خبر شول چې ته راځې، نو ټول راغلل. نورالله خان پر همغه ورځ چې موږ جبل النور ته تللي وو او سهار چای مو د دوی په دېره کې وڅښه راته یې وویل چې دده ورور (ناصر) د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوښۍ لپاره یو پروګرام جوړوي، کال دمخه یې واده کـړی او زوی یـې پیدا شوی و.

دلته د مېشته افغانانو یو دود و چې کله هم کومه خوشالي وي نـو ټولو ته یوه مېلمستیا کوي، یوه مېله جوړوي او مسافر په کې د څو شېبو لپاره خپله ستړیا باسي، نو نننۍ غونډه مو په همدې نیت جوړه کړې ده.

هغه ورځ حاجي روزي خان او ملګرو یې ډوډۍ کړې وه، او موړ یـې بللي وو، په مجلس کې ناستو ځوانانو او مشرانو دومره مینه راکړه چې زه ځان سره غونج شوم، ما ویل یاربه! تا زمـا هېـــوادوال روزۍ پسـې څومره تیت کړي، خو دوی بیا هم خپل اصل نه هېروي، خپل وطن نـه هېروي، دوی ژوندون ټلوېزیون شېبه په شېبه تعقیب کړی، د دوی پـه



حافظه کې هغه خبرې ثبت وې چې زما له خولې وتې وې او اوس لا ان زما په حافظه کې هم نه دي پاتې. د دوی تاریخ وار په ذهن کې پاتې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د افغانيت او اسلاميت د داعيې سخت ملاتـړي وو او د ملـي تحريـک کړنلاره يې سخته خوښه وه، ټولو وويل موږ ځانونه د تحريک غړي ګڼو. بيا ډوډۍ تياره شوه، ځوانانو خورا زيات مصرف کړی و. وريجې او د پسه غوښه، لکه د عربانو په دود په لويو مجموعو کې د هـر چـا مخـې تـه کېښودل شوه. زما په مجموعه کې د پسه سر ايښی و، يو ورور وويل: د عربو دود داسې دی چې اصلي او ګران مېلمه ته دا سر مخې ته ږدي، نو ځکه مې دا سر ستا په مجموعه کې کېښود، د پسه په سر کې غاښونه له ورايه ښکارېدل، ما ورته سم ونه شو کتلی، ما سره ناستو دوستانو ته مې وويل، حميد بابا دې ته يو شعر ويلی دی: ((لکه سر د پسـه پـه اور غاښونه سپين کا ــــــــ هسې مالره له غمه خندا راغله.)) هغوی هـم وخندل ويل يې عجيب شعر يې ويلی دی. ما مېلمه پالو تـه وويـل پـه دومره ډېر زحمت مو خورا خفه کړم. هغوی وويل، ته ټول افغانستان ته خدمت کوې، نو که موږ يوه ورځ ستاسو عزت وکړ څه خبره ده؟ زمـوږ مېلمه پالان اصلاً د بغلان ولايت ځوانان وو، چې ډېر په عقل پاخه، پـر سياست او قومي نزاکتونو پوه وو، څو دقيقې وروسته يـې تـازه مېـوه راوړه، د عربو د دود په شـان يـې کـارتن پـر لـوی غځېـدلي دسترخوان راتشه کړه، کېنو او يمني انار په کې وو، کېنو يې د مصـر او انار يې د يمن وو، دواړه خورا اوبلن او خوندور وو، زښته ډېره مېوه مـو وخوړه، بيا دوی د خپلې خوښې لپاره يو لنډ شان تفريحي پروګرام پـه پام کې نيولی و، موږ يو څو شېبې نور هم د مېوې خوړلو ته دوام ورکړ،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا مو دوی ته وویل که اجازه وي موږ به درڅخه لاړ شو. ټول راټول شول او له ما څخه یې د یادګاري عکسونو د اخیستلو غوښتنه وکړه، دومره عکسونه مو ورسره واخیستل لکه فلمي اداکاران یې چې اخلي، په ډېرې خوښۍ یې موږ په ټکسي کې کېنولو، ټکسیوان هم د کوزې پښتونخوا د مومند ایجنسۍ اوسېدونکی او ډېر شعوري پښتون و، زموږ ټول پروګرامونه یې تعقیب کړي وو، د یوه یوه کیسه یې وکړه، د پاکستان او پښتونخوا پر روانو حالاتو یې رڼا واچوله، نږدې (۱۲) بجې وې چې د عمارې مخې ته یې کښته کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خپل استوګنځی او یادښتونه

**د میزان یا تلې (۵)مه د سپتمبر (۲۷)مه او د ذوالحجې (۳)مه نېټه، د شنبې ورځ وه. سهار لمونځ مې په خپل اتاق کې وکړ.**

**کله چې د شپې ناوخته پر (دولسو بجو، د بغلان ځوانانو له مېلمستیا او عزت غونډې څخه راستانه شو، نو ښه ستړي وو، په کتابچه کې چې مې کوم یادښتونه یا عنوانونه ثبت کـړي وو، هغـه هـم ورځ تـر بلـې زیاتېدل، د شپې مې کتابچه او قلم راواخیستل، خو کله چې مې دواړه تر بالښت لاندې کړل، نو خوب راباندې غلبه وکړه، د شپې مې حـاجي عزت الله ته وویل، که سهار درسره زه جومات ته لاړ نه شوم، نو زه بـه همدلته لمونځ وکړم، خپل یادښتونه به یو څه بشپړ کړم، هغه راته ویل ښه ده، خو زه ضرور ځکه ځم چې زه کوښښ کوم د خپل شـهید ورور لپاره یوه عمره وکړم، ما ویل سمه ده. ما همدلته لمونځ وکړ، هغه د سهار تر لمانځه وروسته یو ځل بیا راستون شو، د سهار چای مو تقریباً یوولس بجې یوځای وڅښه، بیا هغه د عمرې د اداکولو په نیت لاړ او زه همدلته پاتې شوم. یو څه یادښتونه مې ولیکل، دا مـهال له بېلابېلـو ځـایونو څخه څو تنه حاجي صاحبان زما لیدو ته راغلل، ددې فرصت مساعد نه شو چې زه په ترتیب سره خپل یادښتونه ولیکم، د ماسپښین لمونځ مې هم دلته وکړ، بیا مې قلم او کتابجه راواخیستل، دا مـهال بیـا حـاجي صیب عبیدالله چې د کابل په شمال کې اوسېږي، زما لیدو ته راغی، هغه وویل هلته په لاندې منزل کې چا لیکلي وو چې یون صیب د (۱۲) منزل**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په (۳)مه خونه کې اوسېږي، نو که څوک غواړي ورسره لیدلای شي، ما د همدغه ادرس له مخې دا ځای پیدا کړ، دا لیک زموږ یو بل ملګري چې د ملي تحریک غړی هم دی؛ ډاکتر اسدالله لیکلی دی. هغه اصلاً د لوګر دی، خو په کابل کې اوسي ، ډېر فـعال او ډېر مینه ګرکی انســان دی. حاجي صیب عبیدالله یو څه سیاسي بحث پیل کړ، خو مـا ورتــه غــوږ**



**نیولی و، چې دا مــهال څلور پنځه تنه نور حــاجي صــاحبان راننوتــل، هغوی هم ووېل موږ ستاسو لیدو ته راغلو، دا مــهال نو تقریباً (۳) نیمې بجې دي، مازیګر لمانځه ته ډېر کــم وخــت پــاتې دی، مولــوي صــیب عبیدالله نیازی او مولوي صیب حسیب الله هم دا مــهال زموږ په اتــاق کې وو. ما مولوي صیب عبیدالله نیازي ته وویل وخت ډېر کم دی، زه به اودس تازه کړم او جامې به بدلې کړم او بیا به ځو حرم شریف ته، نــورو حاجي صاحبانو وویل، اوس فقط ستا لیدو ته راغلو، بیــا بــه راشــو او تفصیلي به سره کېنو. له هغوی مو اجازه واخیســته، لانــدې د مــوټرو تمځي ته راغلو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# طواف او یوځل بیا خپل هېواد ته دعا

زه (یون)، مولوي صیب عبیدالله نیازی او یو څو نور حاجیان یوځای په موټر کې کېناستو، کله چې موټر وروستي تمځي ته ورسېده، نو زړه کې مو وګرځېده هسې نه چې جماعت راځخه تېر شي، مولوي صـیب عبیدالله نیازي وویل: وخت لکه چې کم وي، بیا به هم کوښښ وکړو. تر یو څو دقیقې پلي مزله وروسته د مسجدالحرام بهرني انګړ ته رانـړدې



شو، دا مـهال مو د تکبیر اواز واورېد، مولوي صیب وویل تکبیـر و کـه اذان؟ ما ویل جماعت ته خو لا وخت ښکاري، لږ چې نور وړانـدې لاړو، خلکو په بهرني انګړ کې څادرونه او جاینمازونه اوار کړي او په صف کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ولاړ دي. ما هم ژر جاینماز له خپل شا بکس څخه راوست، په صف کې ودرېدم، یو رکعت لمونځ راڅخه تېر شوی و، خو نور درې رکعته لمــونځ مو په جماعت سره ادا کړ.**

**تر لمانځه وروسته مې مولوي صیب عبیدالله نیازي ته وویل: عزیزه د ملک فهد دروازې له لارې چې داخل شو، نو دا دهلېز مستقیماً د بیت الله شریف د طواف ساحې ته ځي، طواف به وکړو، هغه وویل یاره عزیزه ډېره ګڼه ګوڼه ده طواف به یا د ماښام او ماسخوتن لمانځه ترمنځ وکړو، یا د ماسخوتن تر لمانځه وروسته، ما ویل د ماښام او ماسخوتن لمانځــه ترمنځ خو ډېره زیاته ګڼه ګوڼه وي، یو چانس دی که ونه شي، بیا به څه کوو؟ او د ماسخوتن تر لمانځه وروسته هم ګڼه ګوڼه وي او موږ هم ډېر ستړي یو، ده ویل راځه د شپې (۱۱) بجې به راشو، ما ویل د شپې یوولس بجې چې راشو، بیا ایله تر یوې نیمې دوه بجو پورې خلاص شو، ببېرتــه چې ځو، دوه نیمې بجې به وي، بیا به خوب څه وخت کــوو، ســهار (۴) بجې به بیا لمانځه ته پاڅېږو او بیا به راځو، نو تر ټولو ښه وخت یې همدا اوس دی، هغه وویل ته چې وایې درسره ځم. د ملک فهد دخولي دروازه کې ډېره ګڼه ګوڼه وه، له داخله یې خلک بهر ته پرېښودل او لــه بهــره داخل ته نه، لږ وروسته یې دخولي دروازې ته هم اجازه ورکړه، خو بیــا هم ګڼه ګوڼه زیاته وه. موږ پولیسو ته څېرمــه ولاړ وو او پولیســو یــوه محاصره یې پلاستیکي کتاره تاوه کړې وه، دا مــهال زما عزیز (مولــوي عبیدالله نیازي) یو پولیس ته په عربي ژبه په نرمه لهجه وویل: طواف ته**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځو، اجازه راکوې؟ هغه یوه کتاره لرې کړه، لږ موسک شو، موږ دواړو ته یې په اصطلاح امتیازي اجازه راکړه او د ملــک فهــد دروازې لــه لارې مسجدالحرام ته داخل شو. مستقیم خط یا دهلېز مو تعقیب کــړ او لــه همدې لارې مو یو ځل پر بیت الله شریف سترګې ولګېــدې، د طــواف ساحې ته ورسېدو، زما عزیز تر طواف دمخه دومره اوږده دعا وکړه چې د خدای(ج) له رسوله رانیولې، تر خپل مور او پلاره او موږه پورې یې خبره راورسوله. زموږ ترڅنګ چې کوم حاجیان ولاړ وو، هغوی هم د مولــوي صیب دعا ته امین وایه او ماهم، مولوي صیب مخکې راته ویلي وو چې زه دعا د ټولو لپاره کوم، تاسې یوازې امین وایئ امین. تر دې وروســته طواف ته داخل شو کله چې د حجرالاسود ساحې ته ورسېدو نو ټولو په لوړ اواز بسم الله، الله اکبر الله اکبر وویل، له همدې ځایه طواف پیلېږي. ډېره ګڼه ګوڼه وه، ما د مولوي صیب پر اوږو لاسونه ایښي وو، ده په خپل یوه بغل کې خپلې پلاستیکي څپلۍ ټینګې نیولې وې او بــل لاس یــې وخت پر وخت د کوم مخکیني خو قوي سړي پر اوږه ایښوده. افریقایان تر ټولو لوړ او قوي وو، مولوي صیب هم اکثره وخت د هغو پر اوږو لاس ایښوده، هغوی هم لاره خلاصوله، په ټولو دورو کې د (ملتزم) له ساحې څخه تېر شو. دې ځای کې طواف تر نورې ساحې ځکه سخت دی چــې دلته دوره لنډه خو ګڼه ګوڼه په کې زیاته وي اوه دورې طواف مو همدلته بشپړ کړ، بیا د طواف له ساحې څخه څنډې ته شو، خو مخامخ د کعبې شریفې دروازې ته ودرېدو، دلته مو د طواف دوه رکعته شکرانه لمونځ ادا

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کړ، دې طواف کې مې خپل خواږه هېواد (افغانستان) ته دعا وکړه، لــه خدای(ج) څخه مې هیله وکړه چې ددې طواف ثواب مې خپل محبوب وطن ته ورسوه، خدایه ته په کــې امــن راولــه، خدایــه د دښــمنانو او مخالفینو د توطیو لاسونه یې لنډه کړه، خدایه موږ له تا پرته نور هېچا ته امید نه لرو، هر چاته چې مو هیله کړې، هغه نهیلي کړي یو، د نړۍ غټ طاقتونه دلته راغلل، هغه څه یې رانه یوړل چې زموږ په کار وو، هغه څه یې پر موږ راوتپل چې موږ نه غوښــتل، نــو ای لویــه خدایــه، د نــړۍ زبرځواکونه تاته هېڅ دي، ته په خپل لوی واک و ځواک د نړۍ د هر لوی زبرځواک او هر واړه خو چالاک دښمن لاسونه زموږ له سپېڅلي هېواده**



**لنډ کړه، خدایه ته پوهېږې چې زما ملت څومره پر تا مین دی، ته خو یو غیبي غږ پرې وکړه چې زما ولس ستا د دین او ستا د کلیمې د لوړاوي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره څومره قرباني ته تيار دی، يا خدايه دا غيرتي قوم يوازې مه پرېږده، ډېر يوازې دی، د دنيا هېڅ اسباب يې په لاس کې نه شته، هغه چې تــا ورکړي، پر هغو هم نورو خېټه اچولې، يا لويه خدايه لوی ښاماران، واړه ماران او لړمان نور زموږ له خاورې لرې کړه، يا خدايه خپله کلمه زموږ پر هېوادوالو ولوروه او د هغې په رحمت زما پر ولس ورحمېږه، زمــا ولــس سرزوری دی، سرتمبه دی، خو تاته يې هر وخت سر ټيټ کړی، پرته له تانه بل چاته سر ټيټی نه مني، سر به يې مات شــي خــو د نــړۍ کــوم زبرځواک ته به ټيټ نه شي، ته خو پوهېږې چې: ((دا سر ربه مات شوی دی ټيټ شوی چاته نه دی- خو تاته يې پنځه وخته محراب کې راولم.)) پر دې پوهېږم چې زما د ولس يوه زياته برخه بــه ســتا د ديــن د ټولــو ژورتياوو تل ته نه وي کښته شوې، خو پر دې هم ته ښه پــوهېږې چــې تاسره په مينه او اعتقاد کې يې په نړۍ کې ساری نه شته، يا خدايه زما قوم د خپل دين په وړانگو منور او د دنيا په نعمتونو معمور کړه، يا خدايه زما له ټوکر ټوکر ولس څخه يو وتلی، غښتلی او پرمختللی ولس جــوړ کړه، چې هم ستا د دين د خدمت جوگه شــي او هــم ســتا د مخلــوق لاسنيوی وکړي. يا خدايه زما ولس د گاونډيو له شومو نيتونو څخه چې ستا د دين لباس يې اغوستی، وژغوره، يا خدايه زمــا د وطــن دښــمن دومره ماهر دی چې ستا له نامه گټه پورته کوي، ستا د کليمې په عنوان مې توره پر ستوني تېروي، يا خدايه ته خو پوهېږې چې هغــوی څــوک دي، څه کوي او څه غواړي؟ زما ولس ساده زړی دی، هر چا چې ستا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلیمې په نوم پرې توره تېره کړي، ده ورته خپله غــاړه نیــولې ده، یــا خدایه زما ولس له دغسې پړ او مړ حالت څخه راوباسه، یا خدایه ستا په نعمتونو کې خو هېڅ کمی نه شته یا خدایه پر موږ د اتفاق او اتحاد نعمت ولوروه. یا خدایه یو ځل بیا زما ملت وازمویه، یوځل بیا یې د ازمــوینې ډګر ته داخل کړه، یا خدایه که زما ولس کله کله تېروتنه کوي، نو دا یې له زړه څخه نه ده، فقر او جګړه ځپلې، فکر یې ورته مروړلــی، خــو بــه اعتقاد کې یې څه کمی نه دی راغلی، یا خدایه که زما د ولس پرځــای هرڅوک له دومره سترو کړاوونو سره مخ شوی وای، نو نن به یې خپــل ځان نه پېژنده، زه پر دې ویاړم چې زما ملت ســتا پــه بنــدګۍ کــې د سیالانو سیال دی، نو ای د کایناتو ستره مالکه! یو ځل بیا د خپل نور او رحمت وړانګې زما پر ولس خورې کړه. زه ددې ولس یو عادي غړی یم، ګناه ګار یم، پر خپلې ګناه او نیمګړتیا اعتراف کوم، خو ولس مــې ډېــر غیرتي دی، ای زما ستره ربه! ما په خپله لورېینه وبښه، یا ربه زه ستا د هېڅ سزا تاب نه لرم، خو که ماته د خپلو اعمالو سزا راکوې، نو دا به ستا رضا وي، ته ډېر لوی یې، خو زه د خپل ملت لپاره له تا څخه مرحمت او رحمت غواړم.

تر طواف وروسته مې د دعا پرمهال په ذهن کې په سوونو زارۍ تېرې شوې، چې ټولې دلته نه شم انځورولی او د خپل ولس لپاره مې د لــوی خدای(ج) په دربار کې د زړه له تله دعا وکړه، خدای دې زما دعا قبوله کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر طواف او لمانځه وروسته زه او مولـوي صـیب نیـازی، راغلـو د مسجدالحرام د لومړي پوړ په یوه برخه کې کېناستو، ما خپل یادښتونه ولیکل او ده لږ تلاوت وکړ.

همدلته ناست وو چې د ماښام لمانځه وخت شو، د ماښام لمونځ مو د کعبې شریفې د امام په امامت ادا کړ، بیا مو سنت وکړل او بیـا مـو د جنازې لمونځ ادا کړ او تر هغه وروسته هم همدلته پـه مسـجد کـې د ماسخوتن لمانځه د اداکولو په نیت پاتې شو. مولوي صیب خپلې تسبیح اړوي الله(ج) یادوي او زه د خدای په کور کې د الله(ج) دربار ته دعاګانې کوم او هم خپل دا یادښتونه لیکم. د ماښام تر لمانځه دمخه او وروسته چې کوم ځای کې د لمانځه لپاره ناست وو، نو ګڼ شمېر حاجي صاحبان زموږ څنګ ته راغلل، ټولو ویل یون صیب ته مو ولیدلې، ځکه دې لیدو ته راغلو، یوه وویل نږدې شکمن شوم چې یون صیب به وي که نه، نـو وروسته مې جرئت وکړ، ټولو دومره مینه وښودله چې زه یې ځان دومره مستحق نه بولم. د ماښام ترلمانځه وروسته شل دقیقې تر اوو تېرې وې چې دوه نور حاجي صاحبان راغلل، مخې ته مې کېناستل، ویې ویل یوه پوښتنه درڅخه کوم، ته چېرته کار کوې؟ ما ویل څه خاص کار نه لـرم، دوی ویل چېرته مې لیدلی یې، زما عزیز مولوي صیب عبیدالله نیـازي ورته وویل زه به یې پوره درته معرفي کړم، کله چې یې زه معرفي کړم، بیا یې سترې مشي وکړل، ویې ویل، موږ خو ویل چې دی به وي، خو بیا هم اشتباهي غوندې وو. دواړه کاکړ او د کندهار اوسـېدونکي وو، یـوه

(c) ketabton.com: The Digital Library





شپېه مو دوی سره مجلس وکړ، بیا د ماسخوتن د لمانځه وخــت شــو، لمونځ مو په مسجدالحرام کې په جماعت سره ادا کړ، د جنازې لمونځ مو هم وکړ، تر دې دمخه مې له مولوي صیب نیازي څخه پوښــتنه وکــړه، دلته خو د بېلابېلو مذهبونو خلک دي، لمونځ یې هم په شکلیاتو کې څه ناڅه فرق لري، خو ماهیت د ټولو یو دی، دلته ځینې خلک د ماښــام د لمانځه پرمــهال کله چې اذان وشي او تکبیر لا نه وي ویل شــوی، دوه رکعته سنت کوي، د شریعت له مخې دا جواز لري؟ او بله خبره داده چې مونږ د ماښام لمونځ کوو، د اذان او تکبیر ترمنځ زماني واټن نه وي متصله جمع کوو، خو دلته یو څه وقفه وي، په دې باب څه وایې؟ مولوي صیب وویل: حضرت محمد(ص) ویلي؛ د دوو اذانونو ترمنځ تاسې سنت لمونځ کولای شئ دا مستحب دي، که څوک یې وکړي ثواب لري او که څــوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې ونه کړي، ګناه نه لري، څرنګه چې اذان او تکبير دواړه په حقيقــت



کې اذانونه دي، نو ځکه يو شمېر علما په دې نظر دي که د اذان او تکبير ترمنځ دوه رکعته لمونځ وشي، مستحب عمل دی. دلته دوی د ماښام د اذان او تکبير ترمنځ د دوو رکعتونو په اندازه فاصله نيسي.

د ماسخوتن تر لمانځه وروسته زه او مولوي صيب د عمارې پر لوري او هغه نور ملګري د خپلو استوګنځيو پر لوري وخوځېدو. مولوي صيب ته مې وويل، نن ماسخوتن به دې ډوډۍ ماسره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خوندوره کړایي

مولوي صیب عبیدالله نیازي ته مې وویل ماسخوتن ډوډۍ به ماسره خورئ، په لاره کې یو پاکستانی هوټل دی، ډېره ښه چکن کړایي ورکوي، هلته به ډوډۍ وخورو، هغه وویل، ښېخي مې خوښه ده. دواړه پلي روان وو، یو وخت مولوي صیب راځخه لادرکه شو، ګڼه ګوڼه ډېره زیاتــه وه، تلفېون مې ورته وکړ، ټلېفون رخ شو، بیا مې ورته وویل داسې دې نــه شم پیدا کولای، پاکستاني هوټل ته راځه، هغه وویل نه مې دی لیدلی، ما ویل د لارې په سر کې دی. زه د (خلیج مطعم) تر مخې منتظر وم، دا هم پاکستانی هوټل و، خو هغه پاکستانی هوټل نه و چې حاجي عزت الله لیدلی و او ماته یې مخکې ترې هم چکن کړایــي راوړې وه. دا مــــهال حاجي عزت الله هلته ولاړ و ماته یې زنګ وواهه چې زه خــو د هوټــل مخې ته ولاړ یم، ما وویل ما لکه چې پیدا نه شو کړای، ته درې تنو تــه چکن کړایي راواخله راځه اتاق ته، دا مــهال مولوي صیب نیازي له بــل ټلېفون څخه زنګ وواهه د خپل ټلېفون چارج یې خلاص شوی و، راته یې وویل عزیزه هوټل مې پیدا نه شو کړای. ما ویل راځه اتاق ته هملته به ډوډۍ وخورو، په لاره کې مې لږ د لیمو جوس راواخیستل او اتاق ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاړم. دا مــهال څو نور ملګري حاجیان هم زما د لیدو په خاطر راغلــل، څو دقیقې کېناستو، لږ وروسته حاجي عزت الله ډوډۍ راوړه، ډوډۍ کې پنځه تنه وو، ځیني حاجیان لاړل او ځینې نور راغلل، مولــوي محمــد امین چې د کابل د حاجیانو ناظم هم دی او اصــلاً د لغمــان د الینګــار ولسوالی دی، هغه هم زما لیدو ته راغی او څو تنه نور حاجیان هم، چــا ډوډۍ خوړلې وه او ځینو موږ سره یوه مړۍ نیمه وخوړه، بیا په اتاق کې ناستو درې څلورو تنو مولوي صاحبانو ځینې دیني اختلافــي مســایل مطرح کړل، یوه ویل په حرم شریف کې د طواف پرمــهال د ښځو او نرو ګډ طواف د شریعت مخالف دی، چا ویل یوه حلقه باید د ښــځو لپــاره وای، نورې د نارینه وو لپاره، چا ویل چې دا هېڅ امکان نه لري، هر څوک غواړي، حجرالاسود ښکل کړي، دا به څنګه کېدل، مولوي صیب امین وویل د پیغمبر(ص) په زمانه کې خو طواف په دې ډول نه و، دې وخــت کې یوه وویل چې هغه وخت خو د خلکو ګڼه ګوڼه هم دومره نه وه، ده ویل که حکومت وغواړي دا هر څه جوړولای شي. دې وخت کې حاجي عزت الله وویل، موږ امیان خو د زړه له اخلاصه دلته راغلي یو، والله که خو مو یا ښځه په یاد وي یا نر، دلته سړی ببخي دا احساس نه کوي چې ښځه څه ده او نر څه شی دی، تاسې به کې دا ډول خبرې پیداکوئ، موږ ته زړه کې شک را اچوئ، په همدې خبرو پسې مو په دې موافقه وکــړه چې اختلافي بحثونو ته به نه ځو، پرېږدئ چې په ارامه خپل حج وکړو. مولوي صیب امین دا مــهال د حج لپاره په یوه پاڼــه کــې ښــه ګټــور

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلومات راټول کړي وو، هغه یې مورږ ته راکړل، ښه ضروري او ګټور مواد وو. چای تیار شو، دا مــهال درې تنه حاجي صاحبان چې یوه یې رېــره لرله او دوه نورو نه لرله، یو ملا و، یو قاضي او یو هــم پخــوانی صــاحب منصب و، زما لیدو ته راغلل، قاضي او صاحب منصب رېره نه لرله، یــو ځل بیا د عمرې بحث پیل شو. مولوي صاحبانو مورږ ته وویل چې نــورې عمرې مه کوئ، طوافونه هم کم کړئ، ځکه د فرضي حج مراسم رانږدې کېږي، بیا به دومره ستړي شئ چې فرایض درڅخه پاتې نه شي. قاضي صیب نورالله وویل ما دا څو عمرې کړي، سبا بل سبا مې زړه دی چې یوه



بله عمره هم وکړم، د قاضي صیب نورالله رېره کله خو د سر وېښتان یې لږ لوی ښکارېدل، یانې داسې نه ښکارېدل چې په څو ځلي عمره کــې دې کل شوي وي. مولوي صیب عبیدالله نیازي چې ورته وکتل نو ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويې ويل، عمرې دې کړې، خو د سر وېښتانو پر ځای دې رېره کله کړې، قاضي صيب نورالله هم له خولې ډېر تېز و، ورته ويې ويل ته خو به وړوکی ملا يې يا به نه يې، خو ما د نړۍ له لويو عالمانو څخه اورېدلي او لوستي چې د وېښتانو کمول په کار دي، حتمي نه ده چې سر دې کل شي. په دې کې دومره سره ګرم شول، چې خبرې ببخي سره ترخې شوې، خو موږ کوښښ وکړ چې د مجلس فضا ارامه شي. مولوي صاحبان په نوبت سره له موږ څخه رخصت شول او په پای کې قاضي صيب نورالله او دده نور ملګري هم رخصت شول، دا مهال نو د شپې دولس نيمې بجې دي، تر هغه وروسته مو د خوب غېږې ته پناه وروړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اسلامیت او ټول بشریت ته طواف

د تلې یا میزان (۶)مه د ذوالحجې (۴)مه د سپتمبر (۲۸) مه نېټه د یکشنبې ورځ وه، سهار پر (۵) بجو له خوبه پاڅېدو، څرنگه چې د شپې ناوخته ناست وو، نو د خوب غلبه زیاته وه، سهار (۵) بجې پاڅېدو، عزت الله خان ته مې وویل مانځه ته خو یوازې څو دقیقــې پــاتې دي، حــرم شریف ته نه شو رسېدلای، همدلته مو لمونځ وکړ، تر لمانځه وروسته مې لږ خوب وکړ، بیا (۹) بجې پاڅېدم، پر خپلو یادښتونو مــې پیــل وکــړ، یوولس بجې مو چای وڅښه، عزت الله خان ته مې وویل زه خو لمــونځ همدلته کوم، یادښتونه مې نیمگړي دي، بیا مې هېرېږي، ماد ماسپښین لمونځ همدلته په اتاق کې وکړ، د ماسپښین تر لمانځه وروسته بیــا یــو شمېر حاجیان زما لیدو ته راغلل، درې بجې مې اودس تــازه کــړ، زه او حاجي عزت الله دواړه مسجدالحرام ته لاړو، هغه ته مې وویل چــې تــر لمانځه وروسته به ضرور طواف کوو، هغه وویل بېخي سمه ده.

دا زما یوولسم طواف و، زړه کې مې وویل چې ټولې اسلامي نــړۍ او ټول بشریت ته یې وقفوم. د مازیگر تر لمانځه دمخه مو دوه رکعته لمونځ وکړ. کله چې مو مازیگر لمونځ په جماعت سره ادا کړ او ومو غوښتل بیا د ملک فهد دروازې له لارې طواف ته لاړ شو، سخته گڼه گوڼه وه، بس

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځه لس دقیقې په دروازه، بیا څو دقیقې د دهلېز په تېل ماتېـل کــې حصار شوم. عزت الله خان همدلتــه راڅخــه لادرک شــو، زه د طــواف ساحې ته داخل شوم، تسبیح راته مولوي صیب نیازي راکړې وې چې د طواف د پړاوونو شمار راڅخه غلط نه شي. دا نو زما یوولسم طواف و، د چا خبره تنې راته وچه پاتې نه شوه، دومره ګڼه ګوڼه وه چې حد یې تمام و، له نوک څخه نیولې تر وېښتانو ټول لوند خیشت شوم، کله چې مــې طواف خلاص کړ، نو ځان مې (حطیم شریف) ته ورسوه، ما ویل چـــې دا ځل به څنګه هلته رسېږم، خو د خدای(ج) مهرباني وه، پرځان پوه شوی نه یم، د حطیم شریف ساحه کې هم راته د لمانځه ښه چانس برابر شو،



په تکلیف نه شوم، دوه رکعته طواف لمونځ مې ادا کړ، د راوتو پر وخت لــړ تېل ماتېل په تنګ کړم، ځان مې د خلکو په مابین کتار کې لکه له اوبو څخه چې وچې ته ځان برابروې، راساً یې ملک فهد دهلېز ته برابر کړم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته مې یو ګیلاس زمزم اوبه وڅښلې د خدای شکر مې ادا کړ او دغه یادښت مې ولیکه، د یادښت پرمهال زموږ یو ملګري (نثار احمد ناصري) راته زنګ وواهه چې زه (ابراهیم مقام) کې یم طواف مې خلاص کړ، ته چېرته یې؟ ما وویل د ملک فهد دروازې په کتنۍ برخه کې درته منتظر یم، اوس چې شل دقیقې شپږو ته پاتې دي، نثار ورور ته منتظر یم، د ماښام لمونځ انشاالله همدلته کوو او بیا به د ماسخوتن ترلمانځه وروسته خپل نور پروګرامونه تعقیبوو. کله چې مې دا توري ولیکل، نو نثاراحمد ناصري او ملیار جبارخېل صیب مې په دهلېز کې ولیدل، کله چې ماته په ګڼه ګونه کې رانږدې شول، نو مې غږ پرې وکړ، هغوی چې



زه ولیدم نو زیات خوشاله شول. ما ویل همدلته به کینو، د ماښام لمونځ چې مو وکړ بیا به باندې لاړ شو، د ماسخوتن لمونځ به بېرون انګړ کې وکړو، بیا به ځو هلته زموږ د لغمانیانو عمارې ته! دوی وویل سمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تر ماښام لمانځه پورې مو همدلته انتظار وویست، جمع تیاره شوه او بیا ورپسې د جنازې لمونځ و. تر هغه وروسته له مســجدالحرام څخــه ووتلو، په سخته ګنه ګوڼه کې مسجدالحرام ته مخامخ د ســاعت بــرج لاندې هوټلو ته لاړو، دویم پوړ ته پورته شو، د ډوډۍ د تیارولو ځایونــه ډېر وو، خو د ډوډۍ لپاره د ناســتې او خــوراک ځایونــه ډېــر کــم وو، نثاراحمد او ملیار جبارخېل صیب ته مو وویل اول باید د ناستې ځــای پیدا کړو، بیا به ډوډۍ راوغواړو، ډېر وګرځېدلو، خو هېڅ څوکۍ تشه نه شوه، دلته د دهلېز په شان یوه لاره ده، کړکیو ته یې یوه یــوه څــوکۍ**



**ایښې، یو لا خلاص نه وي چې بل یې د څوکۍ څنګ ته ولاړ وي، د عربو او په تېره بیا د مکې معظمې د خلکو دا کلتور ډېر غلط دی چې ډوډۍ وي، خو د خوړلو ځای یې نه وي، دې کې نو ډېر تنګنظره دي، پر هغــو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو به څه تېرېږي چې ډوډۍ یې را اخیستې وي، ښه وړي هــم وي، ډوډۍ یې په لاس کې وي او خالي څوکیو پسې ګرځـــي، دا هوټلونــه د ورځې په لسګونو زره ډالره عواید لري، خو ځای یې دومره تنګ وي چې که دا حالت زموږ په هېواد کې وای او کوم زورور مېلمه ورسره مخــامخ شوی وای، نو د هوټلوالا سابه به یې په مالګه کړي وو، مــوږ تــر ډېــره وګرځېدو وروسته یو مېز ته ودرېدو چې ورته ناستو کسانو یــې ډوډۍ نوره خلاصه کړې وه، هغوی جګ شول او موږ ژر ځــای اشــغال کــړ، د



ډوډۍ تر خونده ددې ځای د نیولــو خونــد زیــات و، بیــا نثاراحمــد او جبارخېل ډوډۍ پسې لاړل، ورته یې وویل لس دقیقې وروسته تیارېږي، لس پنځه لس دقیقې وروسته ډوډۍ تیاره شوه، نثار احمد ډوډۍ راوړه، زموږ ترڅنګ د مالیزیا څو تنه حاجیان هم ناست وو، ښه پوه کسان وو، ځانونه مو سره معرفي کړل، یو په کې د پارلمان غړی او بل د پوهنتون استاد و، د افغانستان له حالاتو هم څه ناڅه خبر وو، جبارخېل ورســره ډېر وږاندې لاړ، خو ما کې د سیاسي بحث اوســېله نــه وه، ډوډۍ کــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وریجې او غوښه وه او یو یو مړز هم په کې وو، خوندوره وه، خو ډېره نه، تر ډوډۍ وروسته چې کله له هوټله راکښته شو، نو د ماسخوتن جمــع تیاره وه، تر مسجدالحرام باندې میدانونو کې هم د پښې ایښودلو ځای نه و، په یوه صف کې مو ځان ځای کړ، په ډېر تنگسیا کې مو لمــونځ ادا کړ، تر لمانځه وروسته مې نثاراحمد ته وویل چې عبدالرزاق ورور راتــه منتظر دی، ځو د لغمانیانو عمارې ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لغمان د حاجیانو مېلمستیا

له مسجدالحرام څخه تر نږدې شل دقیقې پلي مزله وروسته خپلې عمارې ته ورسېدو، عبدالرزاق رفعت ورور تیار موږ ته منتظـر و، هغـه ټلېفون وکړ چې زه درته ولاړ یم. عبدالرزاق رفعت سره تر لیدو وروسته مې نثاراحمد او جبارخېل صیب هم وروپېژندل، هغه هم ورســره تیــار پېژندل، یو واړه موټر ته، چې مــوږ تــه تیــار منتظــر و، نــږدې شــو، د افغانستان بیرغ یې پرې رسم کړی و، یو شیخ زموږ هرکلی وکړ. ډرېــور



چې اوس زموږ له حکومت سره کار کوي، د کونړ اوسېدونکی و، خو دلته په سعودي کې اوسېدلی او زده کړې یې کړي، موږ ته هرکلــی ووایــه، عبدالرزاق هغه موږ ته معرفي کړ. تر لس پنځه لسو دقیقو مزله وروسته په (عزیزه) عماره کې د لغماني حاجیانو عمارې ته ورســېدو، (۱۶)مــه عماره وه، د لغمان ټول حاجیان چې نږدې (۳۶۰) تنه کېږي او د کونړ او نورستان یو څه شمېر حاجیان هم همدلته اوسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لغمان د حج او اوقافو رئیس (نجیب الله هاشمي) او څو تنو نــورو حاجي صاحبانو زموږ هرکلی وکړ، په اتاق کې (۱۰-۱۲) حاجیان او زموږ سیمه وال زموږ هرکلي ته راغلل، زه نن ورځ سخت سوړ او تود شوی وم، زکام نیولی وم، د ډېرو خبرو نه وم، د حج پر سرټني بهیر، ځینو سیاسي، مذهبي او ټولنیزو مسایلو پوره بحث وشو، له ماځخه یې مننه وکړه چې د دوی احوال مې واخیست، څرنګه چې اتاق کې د ډېرو خلکو د ځایدنې



امکان نه و او زما صحت هم ښه نه و، نو کوښښ مې کاوه چې ژر رخصت واخلو، خو د جبارخېل صیب خبرو مجلس څه ناڅه اوږد کړ، هغه وویل، هرڅوک چې حج ته راځي، باید هلته او دلته ورته پوره تعلیم ورکــړای شي، د ساري په توګه وویل زما یو ملګري کیسه کوله چــې زمــوږ یــو کلیوال درې څلور ښځې حج ته راوستې وې، خپله وطني سړي و، ساده و، خپله هم نابلده و، زموږ په وطن کې خو ښځې په جماعت لمونځ نــه کوي، نو دلته خو ښځې هم جمع کوي، ښځې بېچاره ګانې خو په جمع نه پوهېږي، نو کله چې په جماعت ودرېدلې، سړی ترې مخکــې ولاړ و، هغه خو خپله جمع نه کوله نورو خلکو ته به یې کتل کله چې به خلک سجدې ته کښته شول، نو ده به ښځو ته غږ کړ چې کېنئ او کله چې به

(c) ketabton.com: The Digital Library



**قیام شو، نو ده به ښځو ته په زوره وویل چې پورتــه شــئ، دا چــې پــر لمانځه به څومره پوهېدلې، پر هغه نو خدای خبر او بله خبره داده چې**



**اکثره حاجیان پیسې یا په بغل جیب او یا یې کمربند کې اچوي او تر شا یې تړي، زموږ یو کلیــوال تر شا کمربند تړلی و، پیسې یې هم ټولې هلته ایښې وې، خپله یې کیسه کوله کله چې مې حجرالاسود ښکل کړ، نــو شا مې سسته شوه، لږه دمه راغله، ما ویل څه گناه گار سړی یې خدای دې دعا قبوله کړه، گناه دې توبه شوه، کله چې د حجرالاسود له ټېــل ماټېل څخه رابهر شوم، نو چې پر شا لاس وهم گورم چې کمربند مې نه شته، کیسه بر وهلی دی، نو دغسې باید احتیاط وشي. جبارخېل دېته ورته نورې خبرې هم لرلې خو ټولو ورته وویل چې څه نور بس دی، خپل حج دې کوه نورو خبرو پسې دېر مه گرځه، بیا مو د لغمان له حاجیــانو څخه خدای پاماني واخیسته او د خپلې عمارې پر لوري رهي شو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یو ځل بیا د بغلان ځوانان

کله چې اتاق ته راغلم، نو څو شېبې وروسته د بغـلان غیـرت مـن ځوانان: نورالله، خـال محمد، ناصر او نور ملګري یو ځل بیا زموږ لیدو ته راغلل، هغوی وویل: استاده تاسې چې دلته یاستئ، زموږ زړه غواړي چې هره شېبه درسره اوسو، ستاسو خدمت وکړو، خو لارې ډېـرې سـختې بندې دي اوس هم ډېر په تکلیف راغلو، موږ ورته وویل تکلیف ډېر مـه



باسئ، بیا هغوی وویل، که انټرنېټ ته عکسونه پورته کوئ، نو زموږ پـه اتاق کې انټرنېټ ډېر تېز دی، شپې ته به هلته لاړ شو، موږ وویل نه شو تللای، دلته رانه مناسک پاتې کېږي، دې وخت کې ما خپل ټیب لیـټ وکوت د هغه حافظه ډکه شوې وه، میموري کارت ته یې اړتیا لرله، هغه نه و، موږ درې تنه ورپسې باندې ووتلو، ډېر وګرځېدو، ټـول دوکانونـه تړلي وو، اتاق ته چې راغلو ښه ستړي وو، بیا دوی اجازه وغوښته او موږ د خوب پر لوري لاړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناروغي او يادښتونه

**د ميزان (۷)مه د ذوالحجې (۵) د سپتمبر (29) مه د دوشنبې ورځ وه. د شپې تر ناوخته ناستې او د صحت ناسموالي بيــا لــه كــړاو ســره مخامخ كړم، كه څه هم سهار وختي لمانځه ته پاڅېدم، خو د شل دقيقو پياده مزله د وهلو جوګه نه وم، لمونځ مې په خپل اتاق كې وكړ، بيا مې**



**لږ ارام وكړ، د ستوني درد او ټوخي ډېر ارام ته پرېنښودم، بيا مې قلم او كتابچه راواخيستل، خپل يادښتونه مې يو څه تكميل كړل، يوولس بجې مې چاى وڅښه او يوه بجه مې بيا د ماسپښين لمونځ هم همدلته وكړ، د ماسپښين تر لمانځه وروسته مې لږ ارام وكړ، درې بجې پاڅېدم، اودس مې وكړ، ښه تازه شوم او د مازيګر د لمانځه د اداكولو په نيت لــه اتــاق څخه د حرم شريف پر لوري وخوځېدم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کله چې اتاق څخه کښته شوم، حاجي عزت الله هــم راســره و، نــو لاندې د موټرو هېڅ پته نه شته، شل - پنځه ویشت دقیقې د جماعــت لمانځه ته پاتې دي، د پلي مزله لاره مې ونیوله، ګرمي هم ښــه خولــه لګوي، له عمارې څخه چې یو څو ګامه وړاندې لاړم، نو عزت الله خــان راڅخه لادرکه شو، تلفون یې هم کار نه کاوه، دا مــهال مې یــو ځــوان څنګ ته راغی، استاده ستړی مه شې، ما ویل خیر یوسې، جاینماز یې په بغل کې و، ما ویل لمانځه ته ځې، ده ویل هــو، مــا ویــل څــوک دي درسره؟ ده ویل اوس یوازې یم، مور او پلار مې هم راسره دي، خو هغوی**



**دمخه تللي، بیا یې ځان رامعرفي کړ، استاده! زه اصلاً د بغلان یم خو دا لس کاله کېږي، د سعودي په (حایل) کې اوسم او دلته کار کوم، ما ویل حایل چېرې دی؟ ده وویل له دې ځایه (۹۰۰) کیلو متره فاصله لري. ده ویل استاده ډېره هیله مې وه چې تا وګورم، هغه شپه څو ملګرو ســره اتاق ته درغلم، خو تشریف مو نه درلود، زموږ ملګري او ټول مسافر هیله**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري چې تا وګوري، زموږ خو یو ارمان و، دا دی خدای(ج) دلته پوره کړ. له دې ځوان سره مو په سعودي کې د مېشتو افغانانو په بـاب خبـرې کولې او مزل مو هم واهه، د تونل له لارې د مسجدالحرام نوې جـوړې شوې برخې ته ور داخل شو، د مسجد انګړ ته نـه وو رسـېدلي چـې د تکبیر غږ مو تر غوږو شو، دواړه ژر لاړو په نوي جوړ شـوي صـف کـې ودرېدو، اول رکعت مو ونیو، لمونځ مو په جماعت سره ادا کړ، بیا مـو د جنازې لمونځ ادا کړ او تر هغه وروسته مې ده ته وویل، زړه مې و چـې طواف ته لاړ شم، خو صحت مې ښه نه برېښي او بله دا چې ملا صاحبانو ویل چې فرضي حج ته ځان تیار کړئ، هسې نه چې سنت ادا کـوئ او فرض درڅخه پاتې شي. ده ویل استاده ښه یې ویلي، فرض حـج ډېـر سخت دی، هسې نه چې تر هغه وخته ډېر ستړي شئ. بیا مې ده ته ویل راځه چې د ملک فهد دروازې او یا هم د کومې بلې نـږدې دروازې لـه لارې حرم شریف ته داخل شو. کله چې ګڼه ګوڼه لږه کمه شوه، نو هلته لاړو، د یوې ستنې ترڅنګ مو ځان ته ځای پیدا کړ، جاینمازونه مو اوار کړل، دواړه پرې کېناستو، یخې هوا یوځل بیا پرستوني خاربښت راوست، خو دومره ډېر نه و چې ډېر مې په تکلیف کړي. ځوان ته مې ویل چـې ټلېفون نمبر دې راکړه او نوم دې رانه له یاده ووته، نوم مې عبدالخبیر دی، د بغلان د کیله ګي اوسېدونکی یم او دلته په حایل کې اوسېږم. ده ته مې وویل چې په حایل کې څومره افغانان دي، ده وویل افغانان خو په زرګونو دي، خو چې زه یې پېژنم، هغه به (۶۰۰-۹۰۰) تنو پـورې وي، ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیاته کړه چې استاده موږ غواړو، د ملي تحریک غړي شو، زموږ اکثـره ملګري دا غواړي، ما وویل د تحریک له فیسبوک پاڼې فورمې واخلـئ، ډکې یې کړئ او راویې لېږئ. ده له تحریک سره ډېره علاقه لرلـه، خـو مانه غوښتل په مسجد کې ډېر سیاسي او ټولنیز بحث وکړم، ما وویـل دې مسجد کې یې ډېرې ښې ډبرې لګولي، دا به د کـوم ځـای وي؟ ده ویل دا د سوریې دي، هلته یو ځای کې دا جوړېږي او د دوی له فرمایش سره سم دوی ته رالېږل کېږي. د مسجد الحرام په دې نوې جوړې شوې



برخه کې په سلګونو ټنه مرمر ډبره کارېدلې چې ټوله پـه یوشـان ده، سړی حیرانېږي چې دومره ډبره به له کومه پیداکېږي. واقعاً د معمارۍ یو شهکار په کې تر سترګو کېږي. د ماښام لمونځ مو همدلته وکړ، بیا مې عبدالخبیر ته وویل، لاړ به شو زه به خپل دې ټېبلیټ ته یـو میمـوري کارت هم واخلم او بیا به د ماسخوتن لمونځ د حرم شریف بله نوې جوړه شوې ودانۍ کې، چې زموږ عمارې تـه هـم نـږدې ده، هلتـه وکـړو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



همغسې به ځو. ده وویل ببخي مې خوښه ده، په ډېره ګڼه ګوڼه کې تــر تېرېدو وروسته، ساعت برج ته ورخېژمه د مغازې دویم پوړ ته ورپورتــه شو، په (۱۲۰) ریاله مې میموري کارت واخیست، عبدالخبیر تــر حــده زیات ټینګ شو چې پیسې یې زه ورکوم خو ما پرېنښود، د مزدور د لاس د خولو قیمت راته معلوم و. بیا ټینګ شو چې دلته ډوډۍ خورو، بیا مې هم پرې نښود، دواړه د خلکو په ګڼه ګوڼه کې روان شو، د حــرم نــوې جوړې شوې برخې ته ورسېدو، په لاره کې څو ځایه حاجیانو ودرولــو، ستړي مشي یې راسره وکړل، هغوی زه پېژندلم، خو ما اکثره نه پېژندل، خو د هغوی مینې او خلوص ډېر خوشاله کړم، د نوې ودانۍ مخــې تــه ورسېدو، هلته بیا (۹–۱۰) حاجیان چې د مسجد په انګړ کې ناست وو، راجګ شول، ستړي مشي یې وکړل، د احوال پوښتنه یې وکړه، تر هغو وروسته زه او عبدالخبیر د مسجد ودانۍ ته ورداخل شو، دا ځای یې هم خورا ښکلی جوړ کړی، خو د تیږو رنګ یې له نورو برخو سره یــو څــه توپیر لري، د سپین رنګ پرځای ډېرې شنې بخنــې دي، ګروپونــه او د پاس چت معماري یې هم د مسجدالحرام له نورو برخو سره چې تــر ده نسبتاً دمخه جوړې شوي، یو څه توپیر کــوي، دا معمــاري هــم خــورا ظریفانه او ښکلې ده. یو څو دقیقې ناست وو، چــې درې نــور بغلانــي ځوانان چې عبدالخبیر سره یې په ټلېفون خبرې وکــړې، راورســېدل، هغوی هم زما په لیدو ډېر خوشاله شول، ویې ویل چې اوس دلته ستا له راتګ څخه خبر شو، نو ځکه راغلو، هغوی بېچاره ګانو هم په حایل کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مزدوري کوله او حج ته په پټه راغلي دي. هغوی وویل، موږ همدلتــه د



حرم شريف په حريم کې اوسېږو، دلته موږ سره پولیس غرض نه کوي، ډوډۍ هم همدلته خورو او ويده کېږو هم همدلته. دې ځوانــانو چــې د کوم زحمت او تکليف خبرې وکړې، د متکفــل د بــاج او د حکومــت د ټکسونو داستان يې بيان کړ، نو د سړي له زړه ورته وينې څڅېدلې. دوی ويل د ځينو عربو دې رنګ ورک شي، يوه ورځ هم دلته د تېرولو نه ده، خو څه وکړو، مجبوري ده، خدای مو دې خپل وطن ارام کړي چــې لاړ شو خپل وطن ته ارام او بې غمه شپې وکړو. د ماســخوتن تــر لمانځــه وروسته دا ځوانان موږ سره تر يوه ځايه راغلل او بيا بېرته وګرځېــدل، ويې ويل چې که نور وړاندې لاړ شو، پوليس مو نيسي او ان له سعودي څخه مو باسي. ما ورسره خدای پاماني وکړه او عبدالخبير راســره تــر عمارې پورې راغی. کله چې اتاق ته راغلم، جامې مې بدلې کړې، چې بيا ډله ډله حاجي صاحبان زما ليدو ته راغلل، د کابل له هوتخېلو او نــورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سیمو، لغمان، تخار او بېلابېلو سیمو څخه اندیوالان راغلل، مومند صیب**



**ډوډۍ راوړه، بیا د شپې تر یوې بجې پورې ویښ پاتې شو، پر بېلابېلو مسایلو او بېلابېلو موضوعګانو مو بحث وکړ. کله چې ټول مېلمانه رخصت شول، نو بیا د خوب غېږې ته لاړم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عبادت او د وطن احوال

د میزان (۸)مه د ذوالحجه (۶) مه د سپتمبر (۳۰) نېټه د سه شنبې ورځ وه، سهار لمونځ مې په اتاق کې وکړ، تر لمانځه وروسته مې لږ لیک وکړ، بیا د خوب لږ شان څپه راباندې راغله، لس بجې له خوبه پاڅېدم، ما او عزت الله په ګډه چای وڅښه، د کمپوټري کارتونو چې په حقیقت کې د حاجیانو د هویت کارتونه ګڼل کېـږي او د حاجیــانو د ګرځېــدو راګرځېدو لپاره د پاسپورت حیثیت لري او همدارنګه منی شریف ته د تګ یا دخولي کارتونو ترلاسه کوښښ مو وکړ، د دواړو پته ونه لګېــده، مولوي صیب عبیدالله نیازي وویل چې کېدی شي، نن شپه راشي تاسې خاطر جمع اوسئ، ما ویل زه ګوره ماسپښین لمانځه تــه ځــم او بیــا د ماسخوتن تر لمانځه وروسته راځم، هسې نه چې کارتونه پاتې شي، هغه وویل تاسې خاطر جمع اوسئ، زه او عزت الله خان لاړو لمانځــه تــه، د ماسپښین لمونځ مو د مسجدالحرام په نوې ودانۍ کې وکړ، عــزت الله بېرته عمارې ته لاړ او زه دلته په مسجد کې پاتې شوم، ددې یادښت تر لیکلو وروسته کېدی شي لږ شان ویده شم، تر لنډکي خــوب وروســته اودس تازه کوم او بیا به د خپلو یادښتونو پر بشپړاوي پیل کوم او بیا به د مازیګر لمانځه وخت وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د مازیگر لمانځه ته لا وخت پاتې و، په دې وخت کې لس دولس افغان حاجیان همدلته سترې مشي ته راغلل، دلته څو دقیقې یو بل سره کېناستو، بیا د مازیگر د لمانځه وخت شو. مازیگر لمونځ او د جنازې لمونځ مو ادا کړ، بیا نثار احمد ناصري زنګ وواهه ادرس مې ورکړ، هغه هم راغی، عزت الله خان او ملیار جبارخېل ټول په ترتیب سره پیدا شول، خو نور افغانان هم زموږ څنګ ته راغلل، تر ماښام لمانځه پورې مو په بېلابېلو مسایلو خبرې وکړې، د وطن حال احوال څخه خبر شو، نثار احمد د فیسبوک نوي خبرونه راواورول، چې ښاغلی اتمر، د امنیت شورا او عبدالسلام رحیمي د چارو د ادارې د رئیس په**



**توګه ټاکل شوي او له امریکا سره امنیتي تړون هم د ښاغلي محمد حنیف اتمر له خوا لاسلیک شو. پر دې وخت ښاغلي مالیار جبارخېل زیاته کړه چې که ما وس درلودلای نو د بېوسه او ناچاره افغانانو لپاره مې دلته لارښود دفتر جوړوه او افغانانو ته مې د حج د مراسمو پوره لارښوونه کوله او ډېر به مې له لادرکۍ څخه هم ژغورلي وای. اوس یو زیات شمېر داسې خلک شته چې د حج د مراسمو تر پایه د حج پر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مراسمو نه پوهېږي (دم) پرېږي لازمېږي. نور نو زيات بحـث د حـج پـر مراسمو او د راتلونکو ورځو پر ترتيباتو څرخېده، د ماښام لمونځ مو دلته ادا کړ او اوس بيا هم همدلته ناست يو تر ماسخوتن لمانځه پـورې بـه همدلته پاتې کېږو، بيا څو عمارې ته د منى او عرفات لپاره به کارتونـه اخلو او بيا زموږ يو ملګري (حاجي صابر) مېلمستيا کړې، کېدى شي څو تنه ملګري له ما سره هلته لاړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حاجي صابر صمیمانه مېلمستیا

د ماسخوتن تر لمانځه وروسته پلي عمارې ته راغلو، حاجي نثاراحمدناصري او حاجي ملیار جبارخېل راسره ملګري وو، کله چې عمارې ته راورسېدو، نو حاجي صابر راته زنګ وواهه چې چېرته یاستئ، ما وویل تر عمارې لاندې، هغه وویل زه هم درته دلته ولاړ یم، سره پیدا مو کړل، سترې مشي مو وکړل، زه خو هېڅ پاس اتاق ته پورته نه شوم، ځکه په لفت کې سخته ګڼه ګوڼه وه، حاجي صابر وویل څه شول نور ملګري دې؟ ما وویل پیداکېږي، حاجي عزت الله، حاجي نثاراحمد، حاجي ملیار، حاجي شګیوال، مولوي صیب عبیدالله نیازی ورسره موټر کې پورته شولو. تر یو څو دقیقو مزله وروسته د حاجي صابر کور ته نږدې شولو. په لاره کې یې یوځای راوښود چې دې ځای کې (اکرمه) صحابي اوسېده، له پیغمبر(ص) سره یې په اکثرو غزاګانو کې شرکت کړی و. کله چې د خدای(ج) پیغمبر(ص) له مکې څخه مدینې ته، تـه، نـو ده هـم ورسره د تللو ټینګه اراده وکړه، دا وخت نو د (اکرمه) مېرمن وفات شوې وه، حضرت رسول الله(ص) ورته وویل چې ای (اکرمه) ته غزا ته مه ځه، ته اوس د خپل کور د ماشوم سرپرستي وکړه، دا مـهال نو دده یو شپږ کلنی زوی پاتې و، د اکرمه له ډېر ټینګار سره سره پیغمبر(ص) هغه ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تللو اجازه ور نه کړه، کله چې پیغمبر(ص) لاړ، نو اکرمه په خپل سر لــه خپله کوره توره راوایستله او غزا ته لاړ، دومره وجنګېده چې په پای کې د مشرکینو له خوا شهید شو. هغه وخت داسې رواج و چې کله به هم د خدای رسول له جهاد او غزا څخه راستنېده، نو صحابه کرام به یې تر شا راروان وو، کله چې به د ښار له کوڅو څخه تېرېدل، نو د کلي ماشومان به یې هرکلي ته ورتلل، بیا به هر ماشوم خپل پلار په لیکه کې پیدا کاوه، له لاسه به یې نیوه او کور ته به په ډېره خوشالۍ ورته چې دا دی پلار یې له غزا څخه بېرته ژوندی راستون شو او د چا چې پلرونه شهیدان شوي وو، نو هغوی به د خپلو پلرونو د لیدو په هیله لا هم منتظر پاتې وو.**

**کله چې رسول الله مبارک له خپلو صحابه کرامو سره پــه لاره روان وو، نو د کلي د ماشومانو په ډله کې د (اکرمه) شپږ کلن زوی هم شامل و، هر ماشوم چې به خپل پلار ولید، نو په خوښۍ به یې ورمنډه کړه، په غېږه کې به یې ونیو، بیا به یې له لاسه ونیو او د کور پر لوري بــه روان شول، د (اکرمه) زوی ډېر انتظار وایست، خو خپل پلار یې د صحابه وو په صف کې پیدا نه کړ، اخري کس د خــدای رســول و، چــې د صــف پــه وروستۍ برخه کې راروان و، کله چې د اکرمه زوی د خدای(ج) پر رسول سترګې ولګېدې، نو په چغو شو، په ژړا کې یې وویل، یا رسول الله زما خو څو موده دمخه مور وفات شوه، اوس مې پلار هم لاړ، زه به څه کــوم، د خدای رسول په غېږ کې ونیو، ورته یې وویل: ایا نه غواړې چــې زه دې پلار شم او عایشه دې مور شي، دې سره د ماشوم زړه ډېر تسکین شو،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه يې ارام شو، کله چې حاجي صيب صابر خبره دې حد ته ورسوله، نو زما په سترګو کې اوښکې راغلې، زه هم يتيم وم، دا دوره پر ما هم تېره شوې، زه شپږم ټولګي کې وم چې پلار مې له حق سره يوځای شـو، د پلار مرګ سخت وځورولم، تراوسه چې د نږدې (۴۷) کالو عمر لرم، بيا هم ځان راته کوچنی او يتيم ښکاري، د يتيمـۍ شـپې ورځـې ډېـرې سختې دي، خدای دې پر هېڅ ماشـوم دا سـختې شـپې نـه راولـي، پيغمبر(ص) هم يتيم پاتې شوی، نوځکه يې ويلي چې پر يتيم او يسير ډېره مهرباني کوئ! زما په سترګو کې اوښکې راټولې شوې، خو ځان مې



ډېر ټينګ کړ، خپله حاجي صيب صابر چې کله دا کيسه کوله، د هغه په اواز کې هم تغير راغی، حاجي صيب بيا خپل کور ته بوتلو، ښـه لـوی، لوکس کور و، په مکه مکرمه کې د يو افغان دومره لوی کور لرل، زه ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خوشاله کړم، پوښتنه مې وکړه، چې په کرایه دی که خپــل دې دی، ده ویل خپل مې دی، زه  پرې خوشاله شوم، حاجي صیب صابر د کار سړی دی، غټ کاروبار لري د ساختماني کارونو ټیکې یې په لاس کې دي، غټ غټ بلډنګونه یې جوړ کړي، لږه  شېبه وروسته یې ډوډۍ تیاره کړه، ښه افغاني ډوډۍ د هر څه پرېماني وه، لکه یو رسمي سړي ته چې مېلمستیا کوې، ما ورته وویل چې حاجي صیب دومره تکلیف مې درباندې پېرزو نه و، هغه وویل، هر څوک چې دلته له افغانستانه راشي، زه یې په خدمت کولو خوشالېږم، کاشکې تاسره نور ډېر اندیوالان راغلي وای، موږ به ډېر**



**خوشاله شوي وای، حاجي صیب سره مو مېوه هم وخــوړه، (یمنـــي) او (مصري) انار یې هم راوړل، مصري هم تروه وو، هم خواږه خو اوبلن هم وو، یمني هم اوبلن وو، هم خواږه. تر تازه مېوې وروسته مو چای وڅښه،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بیا مو اجازه واخیسته، حاجي صیب صابر په خپل موټر کې تر عمــارې راورسولو، کله چې اتاق ته لاړو غوښتل مو چې خوب ته ځان برابر کړو، چې یو شمېر حاجیان بیا لیدو ته راغلل، خو ښه و، ډېر وخت کېنناستل، بېرته لاړل او موږ خوب ته پناه یووړه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ښارونو او قومونو یوه پرتلنه

د میزان (۹)مــه د ذالحجــې (۷)مــه او د اکتــوبر (لومړۍ)نېټــه د چهارشنې ورځ وه، د سهار لمونځ مې به خپل اتاق کې وکړ، تر لمانځــه وروسته مې خپلو یادښتونو ته دوام ورکړ، بیا مې لږ خوب وکړ، بیــا یــو



شمېر حاجي صاحبان زموږ لیدو ته راغلل، په دې کې د بېلابېلو ولایتونو حاجیــان شامل وو، اکثــره تــر لیــدو وروسته بېرته ستانه شول، حاجي ملیار جبارخېل او یو بـــل حـــاجي ولـــي الله (جبارخېل) چــې د اوبــو او برېښنا وزارت کې د تدارکاتو رئیس و، هغوی ساعت نیم ناست وو، پــر بېلابېلو مسایلو یې خبرې وکړې، سیاسي مسایل یې هم مطرح کړل، خو ما ورته غوږ نیولی و، ملیار جبارخېل صیب وویــل، د عربــو او پښــتنو ترمنځ یو څه مشترک ټکي شته چې زه ورته دلته متوجه شوم، یــو دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چې عرب هم ډېر سرزوري خلک دي او پښتانه هم، عرب هــم د ښــار پاکوالي ته چندان توجه نه کوي او پښتانه هم، هر څه يې چې مخې ته راغلل، پر لاره او سړک يې غورځوي، هغه ورځ مې يو عرب پوليس وليد د اوبو ډک بوتل يې په لغته وواهه او د سړک منځ ته يې ګوزار کړ، بيا يې**



**ماته وکتل، چې څنګه و، ما ويل ښه دې ونه کړل، يو تبسم يې وکړ، نور يې څه ونه ويل، مانا دا چې ته لا څوک يې؟ دلته مې چې د مکې ښــار وليد او بيا بېلابېلې سيمې په هر ځای کې پلاســتيکونه، بوتلونــه او د خوراکي توکو کڅوړې او نور شيان پراته دي، څوک ډېر د نظافت خيال نه ساتي، ما ورته وويل، دلته دې ښار ته درې څلور ميليونه خلک راځي، څه دوی مشکلات لري او څه د خلکو رش زيات دی، د ټول ښار پاکوالی اسانه کار نه دی، خو موږ چې څه اوربېدلي تر مخکنيو کلونو خلک وايي چې اوس پاکي ښه شوې ده، ګرمي او د اوبو کموالی هم بل عامــل دی چې ددې ښار د ډېرې ښېرازۍ مخ کې خنډ شوي دي. دواړه جبارخېلان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چې د تره زامن هم دي، یو څو دقیقې نور هم ناست وو، بیا یې رخصت واخیست، بیا زموږ یو ملګري (فهد پرواني) له پاکستاني هوټله چکـــن کړایي راوړه، ډوډۍ مې وخوړه بیا مو د ماسپښین لمـــونځ وکـــړ او یـــوه سترګه خوب.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# منی شریف ته د تګ لارښوونه

کله چې مې د ماسپښین لمونځ په خپل اتاق کې وکــړ او بیــا یــوه سترګه خوب نو تر هغه وروسته دوه دوه نیمې بجې د همدې ودانۍ پــه (P2) منزل کې مسجد ته کښته شوو، هلته ملاصاحبانو (منی شریف) ته د تګ پلان تشریح کاوه او همدارنګه د حــج مراســم او مناســک. یــو ملاصاحب وویل، نن شپه به موږ او تاسې په خیر سره منی شریف ته ځو،



غسل او اودس به وکړئ، بیا به احرام وتړئ، احرام له لباس، نیت او تلبیه څخه عبارت دی، منی ته چې مو حرکت وکړ، نو بیا به په لاره کې تکرار تلبیه وایو. منی کې به ټول ذکر کوو، په کثرت سره به تلبیه وایو، مــوږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول مقیم یو، فرض لمونځ به ټول څلور رکعته پوره کوو، عرفات کې بــه ماسپښین لمونځ کوو، مازیگر لمونځ به هلته کوو، دا واجب دي، زموږ او تاسې ځای (۵۸) مکتب دی چې د منی شریف په اخره برخه کې واقــع دی، گورئ که څوک ووتل، بېرته نه شي راتلای او ځــای غلطــوي، نــو احتیاط کوئ، چې چېرته لاړ نه شئ، هلته د اوداسه لپاره ځای شته، د خوراک لپاره هم خوراکي شیان پیداکېږي، د ماښام لمانځه ته بېرته له عرفات څخه مزدلفې ته ځو، ماښام او ماسخوتن لمونځ به یوځای هملته



اداکوو. بیا به تیږې ټولوو (۷۰) وړې تیږې چې د نخود یا د لوبیا د دانو په کچه وي، که یې ووینځئ که یې ونه وینځئ پروا نه کوي، تیږې بــه پــه بوتلونو کې واچوئ، د سهار لمونځ به هلته کوو، د اختر لومړی ورځ ده، بیا دعا کوو، تلبیه وایو په کثرت سره، د اختر پر لومړی ورځ غټ شیطان ولو، د ریل په واسطه هلته ځو، اوه تیږې پرې ولو، بســم الله، الله اکبــر وایو، بیا قرباني کوو، بیا سر خریو، تر هغه وروســته کــولای شــو ځــان

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حــلال یانې له احرامه خلاص کړو، بیا فرضي طواف ته راځو، تــر هغــه وروسته هملته په حرم شریف کې دوه رکعته لمونځ کوو، ابراهیم مقام کې دا وخت لمونځ کول سخت دي، ګڼه ګوڼه وي، بیا د صفا او مروه نیت کوو، بیا سعې کوو، بیا منی ته ځو، شپه هملته تېروو، بیا شیطانان ولو، درېیمه ورځ بیا شیطانان ولو، که څوک خېمه کې پاتې کېــږي، هغــوی کولای شي څلورمه ورځ هم شیطانان وولي، د ملا صاحب د خبرو لنډیز دا و، وروسته بیا بل ملا صاحب پورته شو، هغه وویل حج یوه مدرسه ده**



**چې ډېر څه په کې زده کېږي، که چا د حج تر پایه داسې کارونه وکــړل چې نه یې چاته بد وویل، نه یې کنځلې وکړې، نه یې څوک ازار کړل، نه یې چا سره جنګ وکړ، نو پوه شه چې حج یې قبول شو، په دې ســړي کې حج یو کیفي بدلون او انقلاب راوستی دی او که تر حج وروسته هم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې شخص دا حالت وساته، نو پر دې پوه شئ چې ددې سړي حــج الله تعالی ته قبول شوی او که تر حج وروسته هم په چا کې بدلون رانغی، نو هغه دې پر خپل ځان او خپل حج شک وکړي. بیا د مازیگر لمانځه وخت راغی، لمونځ مو همدلته به جماعت سره ادا کړ او تر هغه وروسته خپل اتاق ته راغلو. د ماښام لمونځ مو په خپل اتاق کې ادا کړ، تر هغه وروسته حاجي رضاخان او د هغه خوريی زموږ اتاق ته راغلل، حاجي رضا خان بیا زیاته تازه مېوه، انگور او مالټې راوړي وو، لږه شېبه وروسته يې خوريی ډوډۍ پسې ولېږه، هغه وريجې او دوه سره کړي چرگان راوړل، مولــوي صیب عبیدالله نیازی او ځینې نور حاجیان مو هــم ډوډۍ تــه راوبلــل،



همدلته سره ناست وو، دیني مسایل هم زیــات مطــرح شــول، د حــج فضایل او نور اخلاقي مسایل د مولوي صیب نیــازي او مولــوي صــیب حسیب الله له خوا یو بل پسې بیان شول. د اسلام د اخلاقي نظام په باب نیازي صیب وویل چې پیغمبر(ص) د مور او پلار پر احترام ډېر ټینگــار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی دی، د خدای رسول د مور د عزت په باب ویلي، درې ځله یې د مور نوم یاد کړی، بیا یې د پلار، بیا یې د خور نوم یاد کړی او بیا یې د ورور، له دې څخه د اسلام عاطفي عظمت ښکاري، ځکه چې میندې او خویندې ډېرې حقدارې دي او ډېرې عاطفي دي، نو ځکه یې اول د دوی یادونه کړې. نیازي صیب وویل مور ته د کعبې امام کیسه کوله چې زه کوچنی وم، نو مور مې په څه خبره راباندې په قهر شوه، ما یوه ډېره واخیسته، هغه مې پرې وویشته، هغه سخته خوږ شوه، ماته یې مخ راواړوه او ویې ویل خدای(ج) دې د کعبې امام کړه، کله چې زه لوی شوم درسونه مې ولوستل د کعبې امام شوم، خو کله چې د کعبې امام شوم نو مور مې وفات شوې وه، د کعبې امام وویل هغه ورځ چې مې د ماښام په لمانځه کې د قرائت پر مهال ژړا راغله، نو مور مې یاد ته راغله، اوس هم چې کله مې مور یادېږي، ژړا راځي، زه وایم کاشکې مور مې ژوندۍ وای چې زه یې په خپلو سترګو لیدلی وای چې د کعبې امام یم. د کعبې د امام وصیت او نصیحت همدا و چې د مور او پلار ډېر عزت په کار دی، مولوي صیب نیازي په ماشومتوب کې د خپلې مور د عاطفې کیسه هم وکړه چې ده ته یې دعا کړې وه، چې خدای دې د سپینې پګړۍ خاوند کړه، مانا خدای دې ملا کړه، هغه وویل: دا دی اوس د هغې دعا قبوله شوې ده او زه د دین عالم یم. خو هغه اوس نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د منی شریف پر لوري

منی یو مقدس ځای دی چې د مکې معظمې جنوب ختیځ ته په اوه کیلو متری کې پروت دی، چې محترم حاجیان د ذوالحجې پر اتمه نېټه په احرامونو کې هلته ورځي او شپه په کې تېروي، سهار د عرفات پر لوري ځي، بیا مزدلفې کې تر شپې تېرولو وروسته د جمرې (شیطان) ویشتلو او بیا تر زیارت کولو وروسته بېرته منی ته راګرځي او د ذوالحجې یوولسمه او دولسمه شپه همدلته تېروي او د ذوالحجې د دولسمې نېټې تر زواله پورې همدلته پاتې کېږي.

له (محسر کندي) څخه تر (عقبه) سیمې پورې چې عقبه جمره هم همدلته موقعیت لري او مکې معظمې ته نږدې ده، د منی سیمه ګڼل کېږي. په عقبه منطقه کې رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مسلمانانو بیعت کړی و، د منی بل فضیلت دادی چې خیف جومات هم په کې واقع دی او الله(ج) همدغه ځای کې حضرت ابراهیم(ع) ته دده د زوی اسمعیل(ع) په بدل کې یو ګډی ورولېږه. د حضرت ابن عباس(رض) په روایت په خیف جومات کې (۷۰) تنو پیغمبرانو لمونځ کړی او رسول اکرم(ص) هم په همددې جومات کې لمونځ ادا کړی دی.

د میزان یا تلې (۱۰)مه، د ذوالحجې (۸)مه او د اکتوبر (۲)مه نېټه د پنجشنبې ورځ وه، تېره ورځ یانې د چهارشنبې د ماسخوتن تر لمانځه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته مو غسل وکړ، احرام مې وتړه او منتظـر وو چـې زمـوږ نوبـت راورسي او منی شریف ته لاړ شو، خو تر ډېر انتظار وروسـته خبـره ان دولسو بجو ته ورسېده، بیا هم خبره زړه په زړه وه، پر ما ورو ورو د خوب غلبه راتله، مولوي صیب نیازي وویل، پروا نه کوي که خـوب دربانـدې راهم شي بیا به مو زه راویښ کړم، ډېر حاجیان په همدې انتظار کې وو، بالښت ته مې ډډه ولګوله او پښې مې لږ وغځولې، د خوب یولنډه څپه راباندې راغله، په دهلېز کې اوازونه شول، ما ویل لکه چې نوبت راغی، مولوي صیب نیازی اتاق ته راغی د هېواد ملي بیرغ یې په لاس کـې و، ویې ویل ځئ چې ځو، ژر لاړم تشناب ته اودس مې وکړ، په لفـت کـې




وروستي منزل ته کښته شو، ټول حاجیان لاندې منتظر دي، ټـول پـه احرامونو کې، څوک ناست څوک ولاړ دي، لکه سپین ګلونه، زموږ نوبت (۵۸) مکتب لا نه ښکارېده، بیا اتاق ته راوختو، مولوي صیب تـه مـې وویل، هر وخت چې پوخ نوبت راورسېده، بیا مو خبر کړه. اوس ساعت د شپې یوه بجه او شل دقیقې دي چې دغه یادښت مې ولیکه؛ دا مـهال مې اودس وکړ، دوه رکعته نفل مې وکړل او بیا مې نیت وکړ، منی شریف

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته د تګ شرایط داسې دي چې حاجي د ذوالحجې پر اتمه ورځ د حج په اراده په مسجدالحرام یا په خپل استوګنځي (مکه) کې په داسې توګــه احرام تړي چې اول دې غسل یا اودس وکړي، احرام دې واغوندي او دوه رکعته نفل لمونځ دې وکړي، ښه ده چې په ژبه داسې نیت ووايي: ((الهم اني اريدالحج فيسره لي و تقبل مني)): ای الله ما د حج اراده کړې ده، نو ته يې راته اسانه کړې او له مانه يې قبول کړې، بيا دې تلبيه ووايي. پــر همدغه (۸) ورځ به د لمر تر ختلو وروسته منی ته لاړ شي، د ماسپښين، مازيګر، ماښام، ماسخوتن او سهار پنځه واړه لمونځونه دې په منی کې وکړي.

څو دقيقې وروسته يې پــه لوډســپيکر کــې غــږ وکــړ چــې (۵۸)



مکتب دې راکښته شي، موږ راکښته شو، خو مولوي صيب نيازی او نور حاجيان راځخه پاتې شول، په موټر کې پورته شو، څه کم درې بجې منی ته ورسېدو، هلته په ډېر ترتيب د چاى او ځاى بندوبست شوی و، موږ په (۲۷) مه کېږدۍ کې وو، خو خلک په ترتيب سره خېمــو تــه نــه تلــل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تورسرې (ښځینه) په جلا او نارینه په جلا کېږدیو کــې ځــای پرځــای کېدل، زموږ ځینې ملګري په (۲۴) خېمه کې وو، هغوی وویل هلته موږ سره لاړ شئ،، ځای شته، هلته لاړو، اکثره حاجیان پېژندګلو وختل، ټولو ماسره یادګاري عکسونه واخیستل، بیا مو یو بل سره لږ خبــرې اتــرې وکړې، ساعت شل کم څلور بجې دي چې دا یادښت مې ولیکه، تر دې وروسته د سهار لمانځه ته ځو او بیا کېدی شي خوب وکړو. منــی کــې لومړنۍ ورځ د تلې یا میزان (۱۰)مه د ذالحجې (۸) مه د پنجشــنې ورځ**



**شوه، تېره شپه مو ټوله په ویښه تېره کړه، تر څلور بجو ویښ ناست وو. پنځه شپږ دقیقې تر (۵) تېرې وې چې سهار لمونځ مو د کېږدۍ ترڅنګ په جماعت سره ادا کړ، بیا بېرته خپلو خپلو ځایونو ته راغلــو، د شــپې ځایونه ډېر تنګ وو، په ډېرې سختۍ دې ځان پر یو او بل اړخ اړولی شو، خو د نورو په انډول زما ځای بیا هم ښه و، د سهار تر لمانځه وروسته مې ټکنی ټکنی خوب وکړ یو وخت چې مې سترګې وغړولې نو د سهار (۹)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیمې بجې وې، ځینې لا هم ویده وو او ځینې پاڅېدلي وو، زه هم د تشنابونو پر لوري لاړم، اودس مې وکړ او بېرته خپلې خېمې ته راغلم، اوس شل کم لس بجې دي. لا هم یو کتار حاجیان پر خوب ویده دي او ویښ یې په خپلو منځونو کې خپلو مجلسونو ته دوام ورکوي. څو شېبې وروسته ځینو ملګرو چای، خرما او کشمش راوړل، هغه مو وخوړل، بیا مو په خپلو منځونو کې پر ځینو مسایلو بحث وکړ، دې بحث ان د



ماسپښین تر لمانځه پورې دوام وکړ. حاجیان باید د عرفې شپه په منی کې په دعاګانو تېره کړي، د شپې تر تېرېدو وروسته د ذالحجې میاشتې پر نهمه ورځ چې د عرفې ورځ ده، تر لمر ختلو وروسته دې عرفات ته ولاړ شي، هلته دې د زوال تر وخته پورې د ضروریاتو لکه خوراک، غسل یا اودس څخه ځان خلاص کړي، تر زوال وروسته کله چې د ماسپښین وخت داخل شو، موذن اذان کوي، امام د حج د احکامو خطبه وایي، نو د ماسپښین فرض لمونځ دې د یوه په امامت او جماعت کبرا (لوی امامت) سره ادا کړي او د مازیګر لمونځ دې هم له امام سره په جماعت وکړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یانې دواړه لمونځونه دې د ماسپښین د لمانځه په وخت کې په مسجد نمیره کې ادا کړي، خو که له چا څخه له امام سره د جماعت کبرا لمونځ فوت شو، نو خپل لمونځ دې په خپلــو خپلــو ختونــو کــې وکــړي. د لمونځونو تر اداکولو وروسته دې د امکان په صورت کې جبل الرحمه ته لاړ شي او که قدرت یې نه درلود د عرفات په هرځای کې چې ودرېــږي صحیح دی، دعاګانې دې وکړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# منی شریف او د لومړي ماسپښین مازیګر او ماښام لمونځونه

د ماسپښین لمونځ مو همدلته په کېږدۍ کې په جماعت سره ادا کړ، تر هغه وروسته بیا یو شمېر حاجي صاحبان چې زما ادرس یې پیداکړی و، هغوی زما لیدو ته راغلل، له هغوی سره مې د هېواد د حال و احوال په باب د نظر تبادله وکړه. ټولو د یادګاري عکسونو د اخیستلو غوښتنه



کوله. دې کې اکثره هغه رسمي حاجیان شامل وو چې موږ سره په دې (۵۸) مکتب کې وو او یا د ورځېرمه مکتبونو وو، ځکه دلته له نورو ځایونو څخه راغلي افغانان چې په غرو او رغونو یې تر دې ځایه یانې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**منی شریف پورې ځانونه رارسولي شــامل نــه وو، هغــوی تــه دلتــه د داخلېدو اجازه نه وه.**

**د مازیگر لمونځ مو په خېمه کې د مولوي صیب عبیدالله نیازي پــه امامت ادا کړ، تر لمانځه وروسته بیا زه (یون)، حاجي نقیــب او یــو بــل حاجي صیب زمونږ خېمې ته مخامخ غره ته پورته شو، هلته چې وختو نو گڼ شمېر افغانان، چې سپین احرامونه یې تړلي وو، پر مونږ راټول شول،**



**ډېر تود هرکلی یې وکړ، دوی د دوو غرونو ترمنځ په ناو کې څادرونه او جاینمازونه اوار کړي وو، اکثره د ننگرهار د خوږیانو اوسېدونکي وو، یو په کې د بغلان شینواری او بل د پښتونخوا د بونیز اوسېدونکی و، هغوی سره مو یوه ښه پنجه گپ ولگاوه، هغوی اکثره له (حایل) ښخه چې لــه دې ځایه نږدې (۹۰۰) کیلو متره لرې دی، راغلي وو او اکثرو یــې (۷۵)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیلو متره پلی مزل وهلی و، پښې یې تناکې او شونډې یې وچې وې، خو د ډېرې قوي ارادې خاوندان وو، ویل یې دوه تنه راڅخه په لاره کې پــه غره کې پاتې شول، شاید تلف شوي وي.

ماښام لمونځ مو هم د کېږدۍ ترڅنګ په جماعت سره اداکــړ، بیــا ملاصاحب د منی شریف په باب معلومات ورکړل، ویــې ویــل حضــرت محمد(ص) وفرمایل، په منی کې مسجد الخیف موقعیت لري، په دې کې (۷۰) پیغمبرانو لمونځ کړی او همدلته دفن شوي دي، ځینې نور روایتونه بیا وایي چې نه یوازې (۷۰) انبیاوو دلته لمونځ کړی، بلکې سرور کاینات هم دلته لمونځ کړی دی. ابراهیم علیه السلام الله تعالی څخه پوښــتنه وکړه، چې د (خلیل) او (حبیب) ترمنځ څه توپیر دی؟ الله تعالی ورتــه وویل چې خلیل هغه چاته ویل کېږي چې خدای یادوي او حبیب هغــه چاته ویل کېږي چې د الله محبوب وي؛ الله تعالی یې یادوي. بل مسجد (بیعه) هم همدلته واقع دی، دلته (۸۳) انصارو پیغمبر(ص) ته دعــوت ورکړ چې د مدینې خلک تاسره مینه لري او ستا نبوت مني، تاته دعوت درکوي چې مدینې ته تشریف راوړې، مدینې ته حضرت رسول الله(ص) دعا کړې او مکې ته ابراهیم خلیل الله دعا کړې، نو ځکه همدا اوس په دې ځای کې د دنیا هــر ډول نعمتونــه مــوږ تــه میلاوېــږي. یــوه ورځ پیغمبر(ص) له لارې تېرېده، یو یهودي یوه هوسۍ په خپل انګړ کې تړلې وه، هوسۍ پر پیغمبر(ص) غږ وکړ چې درې بچي مې راڅخه په ډاګ کې پاتې دي، زما تضمین وکړه چې له دې یهودي خلاصه شم، خپلو بچو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیدې ورکړم او بیا به بېرته ورته راشم، د خدای پیغمبر د یوه روایت له مخې د هوسۍ پیسې ورکړې او هغه خوشې شوه، خپلو بچــو تــه یــې شیدې ورکړې، د بل روایت له مخې د خدای(ج) پیغمبر د هغې تضمین وکړ او هغه خوشې شوه، کله چې هوسۍ په ډاګ کې ګرځېده، نو ویل به یې لا اله الا الله محمدرسول الله.

د منی بل حرمت دادی چې (مسجدالکفش) په کې دی، ملا صاحب وویل د خدای پیغمبــر وویــل، کــه زمــا لــه امــت څخــه څــوک یــوه



حرامه مړۍ وخوري نو څلوېښت ورځې یې عبادت نه قبلېږي. د منی بل فضیلت دادی چې د اسمعیل علیه السلام د قربانۍ ازموینه دلته تېــره شوې ده او د منی بل فضیلت دادی چې هره دعا دلته قبلېږي، نو تاسې باید خپل وطن افغانستان ته دعا وکړئ، بیا نورې دعاګانې وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ماښام او ماسخوتن د لمانځه ترمنځ مو د (۵۸) مکتب مخې ته پر غځېدلي سړک، لږ پلی مزل وکړ، ځان ته مې یــوه جــوړه پلاســتیکي څپلکې واخیستې، پیسې یې هم یو ملګري ورکړې، لس ریاله. بیا بېرته راغلو، د ماسخوتن لمونځ مو په خپله خېمه کې ادا کړ او تر هغه وروسته مو یوځل بیا د ښې ډوډۍ د پیداکولو په نیت د عمومي ســړک غــاړې ونیوې، هر چېرته دیګي بار وو، تور پوټکو مېرمنو پــه کــې وریجــې او غوښې خرڅولې، خو چې د هغو د نظافت حالت مو وکوت، له ما سره د



تللو ملګرو یوه هم ورته اشتها رانغله، د سړک پر سر بیا له ګــڼ شــمېر افغانانو سره، چې له بېلابېلو ناقانونه لارو منی شریف ته داخل شوي وو او سبا له همدې ځایه عرفات شریف ته تلونکي وو، مخامخ شوو، اکثرو د عکسونو د اخیستلو غوښتنه کوله، ګنو سره مــو یادګــاري عکســونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخیستل. لس لس نیمې بجې ببرته خېمې ته راستانه شو، دلته مولوي صیب ګل احمد صدیقي چکري د حج او د حج د راتلونکو ورځو په باب یو لارښود راکړ چې دلته یې مهمې برخې را اخلم:

## د حج لارښود:

### د حج ډولونه:

حج په درې ډوله دی: ۱- قران حج ، ۲- تمتع حج ، ۳- افراد حج. تر ټولو ښه قران حج دی. تر هغه وروسته تمتع حج ښه دی او بیا افراد حج ښه دی. لکه څنګه چې په تمتع حج کې حاجیانو ته اسانتیاوې زیـاتې دي، نو له دې کبله د تمتع حج د اداکولو ترتیب بیانوو. په تمتع حج کې تر ټولو لومړی عمره اداکېږي، د عمرې د اداکولو طریقه په لاندې کلمو کې بیانېږي:

که چېرې کوم حاجي د ذوالحجې اتمې ورځې څخه مخکــې مکــې مکرمې ته لاړ شي، باید لاندې ټکي په نظر کې ونیسي (البته د عمرې د ادا کولو لپاره):

۱- د حج تر ورځو مخکې باید غسل وکړي او احرام واغوندي.

۲- دوه رکعته نفل لمونځ په داسې طریقه اداکړي چې په اول رکعت کې دې سوره الکافرون ووایي او په دویم رکعت کې د ســوره اخــلاص لوستل بهتر دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- تر لمانځه وروسته دې سم لاسي سر لوڅ کړي او د عمرې نیت دې وکړي، نیت (ای الله تعالی زه د عمرې د اداکولو اراده لرم، هغه ماته اسانه کړې او زما له خوا یې قبوله کړې) اَللّٰهُمَّ اِنِّی اُرِیدُ الْعُمْرَةِ فَیَسِّرْهُ لِیْ وَ تَقَبَّلْهُ مِنِّیْ.

۴- کله چې مو له باب سلام څخه پر بیت الله شریف باندې نظر ولګېد: الله اکبر لا اله الاالله (درې ځله ووایې)

۵- له حجرالاسود څخه دې طواف په دغسې ترتیب شروع کړي چې چپې خواته یې بیت الله شریف وي او هر ځل چې حجرالاسود ته رسېږي لاسونه دې پورته کړي او الله اکبر لا اله الاالله دې وایې او اووه شوطه (دورې) دې پوره کړي.

۶- دوه رکعته لمونځ دې په ابراهیم مقام کې په داسې طریقه ادا کړي چې په اول رکعت کې دې سوره الکافرون ووایې او په دویم رکعت کې سوره اخلاص لوستل ښه دي.

۷- د زمزم څاه ته دې لاړ شي او د زمزم اوبه دې وڅښئ او پر ځان باندې دې هم د زمزم لږې اوبه واچوي.

۸- د صفا باب (دروازې) څخه دې صفا ته لاړ شي اووه دورې دې داسې پوره کړي چې له صفا څخه شروع او پر مروه ختمې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۹- د سر وېښتان دې وخريي او يا دې لنډ کړي او د احرام جامې دې وباسي خپلې جامې دې واغوندي.**

**عمره پوره شوه د ذوالحجې تر اتمې کولای شي هره ورځ نفلي طواف وکړي.**

**د حج نيت:**

**اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اُرِيْدُ الْحَجَّ فَيَسِّرْهُ لِيْ وَتَقَبَّلْهُ مِنِّيْ.**

**(ای الله(ج) زه د حج د اداکولو اراده لرم، هغه ماته اسانه کړې او زما له خوا يې قبول کړې.**

**د حج لومړۍ ورځ- د ذوالحجې اتمه:**

**۱- غسل وکړئ او که نه اودس هم کافي دی.**

**۲- د سهار تر لمانځه وروسته احرام وتړئ چې په کوم تعمير کې ياستئ.**

**۳- دوه رکعته نفل لمونځ وکړئ.**

**۴- دحج نيت وکړئ.**

**۵- د ماسپښين تر لمانځه مخکې منی ته لاړ شئ.**

**۶- په کثرت سره تلبيه وايي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۷- په منى کې د ماسپښين، مازيګر، ماښام، ماسخوتن او د سـهار لمونځونه وکړئ.**

**۸- ټوله شپه په منى کې قيام وکړئ (واوسئ).**

## د حج دويمه ورځ- د ذوالحجې نهمه:

**۱- تر لمر خاته وروسته له منى څخه عرفات ته لاړ شئ.**

**۲- د سهار او ماسپښين لمونځونه په عرفات کې وکړئ.**

**۳- تر لمر پرېواته پورې په عرفات کې قيام وکړئ (واوسئ).**

**۴- په عرفات کې د ماښام لمونځ مه کوئ.**

**۵- تر لمر پرېواته وروسته مزدلفې ته لاړ شئ.**

**۶- د ماښام او ماسخوتن لمونځونه يوځای په مزدلفه کې وکړئ.**

**۷- اويا (۷۰) کاڼي له مزدلفې څخه راواخلئ.**

**۸- ټوله شپه په مزدلفه کې قيام وکړئ (واوسئ).**

**د حج دويمه ورځ پوره شوه.**

## د حج درېيمه ورځ- د ذوالحجې لسمه:

**۱- تر لمر خاته وروسته له مزدلفې څخه منى ته لاړ شئ.**

**۲- غټ شيطان په اوو (۷) کاڼو وولئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳- قرباني وکړئ.**

**۴- د سر وېښتان وخریوئ او یا یې لنډ کړئ.**

**۵- احرام مو خلاص کړئ.**

**۶- په مکه مکرمه کې مسجدالحرام ته لاړ شئ.**

**۷- د زیارت طواف وکړئ.**

**۸- په ابراهیم مقام کې دوه رکعته واجب لمونځ د (فرضي طـواف) لمونځ وکړئ.**

**۹- د زمزم اوبه وڅښئ.**

**۱۰- د صفا او مروه په منځ کې سعې (منډې) وکړئ.**

**د حج درېیمه ورځ پوره شوه.**

## د حج څلورمه ورځ- د ذوالحجې یوولسمه:

**۱- په مکه مکرمه کې قیام مه کوئ (مه اوسئ) بیا منی ته لاړ شئ.**

**۲- تر زوال (غرمې) وروسته د درېو شیطانانو ویشتلو ته لاړ شئ.**

**۳- درې واړه شیطانان په اوو، اوو (۷،۷) کاڼو وولئ (خو له وړوکـي شیطان څخه یې شروع کړئ).**

**۴- د عبادت کولو لپاره منی کې قیام وکړئ (واوسئ).**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د حج څلورمه ورځ پوره شوه.**

**د حج پنځمه ورځ- د ذوالحجې دولسمه.**

**۱- تاسې په منی کې یاست.**

**۲- تر زوال (غرمې) وروسته درې شیطانانو ته لاړ شئ.**

**۳- درې واړه شیطانان په اوو، اوو (۷،۷) کاڼو وولئ.**

**۴- تر لمر پرېواته مخکې مکې مکرمې ته لاړ شئ.**

**۵- د وداع (رخصتۍ) طواف وکړئ.**

**۶- له مکې مکرمې څخه حرکت وکړئ.**

**حج پوره شو.**

**یادونه: د وداع طواف چې واجب دی هغه وخت کېږي، کله چې لــه مکې مکرمې څخه خپل هېواد ته راځئ او یا د مدینې منورې په طــرف حرکت کوئ.**

***

**د شپې ناوخته مې څو رکعته نفل لمونځ وکړ او بیا د خوب پر لوري لاړم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د عرفات پر لوري

د تلې یا میزان (۱۱) مه د اکتوبر (۳)مه او د ذوالحجې (۹)مه نېټه د جمعې مبارکه ورځ وه، د سهار درې بجې او شل دقیقې وې چې له خوبه پاڅېدم، اودس مې وکړ، بیا مې څلور رکعته نفل لمونځ وکړ، بیا سـهار پنځه بجې او پنځه دقیقې مو د سهار لمونځ د خېمې ترڅنګ په جماعت




سره ادا کړ امام نن ورځ عرفات ته د تګ ټول پلان او جزیات څرګند کړل او بیا بېرته مزدلفې ته د راتګ جزیات، دا یې هم وویل چې نن شپه پـه مزدلفه کې تېروو او سبا ته غټ شیطان ولو، نو ځان سره غټ بیکونه مه وړئ، هلته د شیطان د ویشتو پرمـهال پـولیس درڅخـه بکسـونه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بیکونه ټول اخلي، بیا به حیران یاست چې څه وکړو؟ ما سره چې یو وړوکی بیک و او د یادښت کتابچه، چې د سفر ټول جزیات مې په کې لیکلي وو او دا مهال (۸۶) مخه ډک شوي وو. او همدارنګه ټیب لیټ**



**چې د سفر ویدویي او نور عکسونه مې په کې اخیستي وو، حیران وم چې ځان سره یې یوسم که نه؟ هلته یې د شیطان د ویشتو پرمهال پولیس وانخلي او که دلته یې پرېږدم نو دلته خېمه کې یې څوک وانخلي،حج ته تر راتګ وروسته دا د حج په باب زما ټوله معنوي پانګه وه او بیا لیکل یې هم راته ممکن نه وو، ځکه چې تر دې مهاله مې ګام پر ګام خپل سفر تعقیب کړی و. توکل مې پر خدای وکړ، دواړه مې د غاړې په بیک کې کېښودل او د ورځني حالت په شان مې ځان سره راواخیستل.**

**د جمعې ورځ وه سهار (۶) بجې مو له خپلې خېمې څخه حرکت وکړ، تر نږدې (۴۵) دقیقې مزله او څنډ وروسته ریل ستېشن (اورګاډي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تمځي) ته ورسېدو، په ریل کې د ګڼي ګوڼې د طبیعي حالت په شتوالي کې عرفات ته راورسېدو، ساعت (۸) بجې او (۱۵) دقیقې وې، په خپلو خپلو خېمو کې ځای پرځای شو، کله چې د خیمې په یــوه کــونج کــې**



**کېناستو نو د څو تنو حاجیانو بیا ماته پام شو، راغلل سترې مشي یــې راکړل، ټول بلدي وو، د لغمان وو، ښاغلی شاه اغا، حاجي خان، حاجي فرید، قاضي نورالله، عزت الله او نور دوستان په کې شــامل وو، هغــوی سره څو شېبې کېناستو، د وطن د حالاتو په باب مو لنډې خبرې وکړې، د هېواد د ابادۍ لپاره مو دعا وکړه، بیا مو لږ چــای وڅښــه، تــر هغــه وروسته مې څلور رکعته نفل لمونځ وکړ. ګرمي تر نورو ځایونو دلته ډېره وه، په خېمه کې برېښنا نه وه، خو کله کله په کې یخ شــمال د ګرمــۍ تاثیرات راکمول.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عرفات او د جنت یوه وړه ننداره

ملایان چې د جنت کوم صفتونه کوي او له کوچنیتوبه بیا تر دې دمه د هر مسلمان انسان په ذهن کې وي، هغه صفتونه اکثــره ددې دنیــا د نعمتونو په مقیاس د جنت تعریف او توصیف دی، خو د خــدای تعــالی شان دومره لوړ دی چې لا هم موږ د جنت د نعمتونو واقعي تصور نه شو کولای، کله چې د غرمې د ډوډۍ وخت شو، نو د عرفات په سره دښته



کې د خدای د نعمتونو باران اورېده، یخې اوبه، ډول ډول جــوس، ډول ډول کېکونه، وریجې، غوښې، کېنو، مالټې، شیدې، مستې، کېلې او څه شی چې د ملایانو په ذهن کې ګرځېدل، هغه ټول زموږ مخې ته ایښــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو، ملایانو رښتیيا ویل چې په حج کې حاجیان د خدای مېلمانــه وي، رښتیا هم د خدای دسترخوان دلته دومره لوی او پراخ و چې د نعمتونو پرې حساب نه و، نه یوازې د نعمتونو حساب نه و، بلکې کتاب یې هم نه و، په دې مانا چې چا پیسې نه ورکولې، دا ټول شیان وړیا وو، دا د هغو کسانو له خوا سبیل (وړیا) و چې خدای(ج) پرې لازیات خپل نعمتونــه



لورولي وو، موټر بس موټر بس خوراکي مواد راتلل، په میلیونو خلکو ته رسېدل، هېڅ تن وږی پاتې نه شو، ځینو کسانو چې سولې یې وړې وې، کارتن کارتن مواد د ځان ترڅنګ ایښي وو، خو کله چې تــرې راتلـــل، همداسې ترې پاتې شول، خو څه شی کم نه شول، ما خپلو ملګــرو تــه وویل کولې چې دلته داسې حال دی نو جنت کې به څه حال وي؟ راځئ چې د خدای همغې لارې ته ځان سم کړو چې خدای پرې خوشالېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ماسپښین لمونځ او د عالمانو ترمنځ د نظر اختلاف

په اکثرو کتابونو کې راغلي چې د عرفات پر ورځ به د ماسپښین او مازیگر لمونځونه په قصر اجرا کوئ او یو ځای به یې کـوئ، خـو زمـوږ احنافو ملایانو بیا ویل چې موږ په مکه مکرمه کې مقیم یو او عرفات د



مکې معظمې برخه ده، نو ځکه موږ لمونځ په قصر نه کوو او یوځای یې هم نه کوو، پوره یې کوو او جلا جلا یې کوو. عیناً لکه په عادي ورځو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چې د ماسپښین او مازیګر لمونځ جلا جلا په جماعت ســره اداکېــږي. څرنګه چې د عرفې ورځ د جمعې له ورځې سره برابره شوه، نو دجمعې لمونځ خو هسې هم دوه رکعته په جماعت سره اداکېږي، نو دې کې بیا هم ملا صاحبانو وویل چې په عرفات کې خو د جمعې لمونځ نه کېږي، د جمعې لمونځ خو په ښاریو او ابادیو کې کېږي، دا خو دښته ده، نو ځکه دلته د جمعې لمونځ هم نه شو کولای، تر اختلافاتو وروسته پرېکړه پــر دې وشوه چې لمونځ به په جماعت سره د نورو ورځو په شــان کــوو، د ماسپښین لمونځ مو همدلته په عرفات کې د غوړېدلو خېمو تر سیوري لاندې په داسې ډول ادا کړ چې د څلورو پنځو خېمو ځوړند ترپالونه یې ســره لــرې کــړل، د یــوې نــوې کېــړدۍ بڼــه یــې ورکــړه چــې**



**نږدې زر دولس سوه کسان په کې ځایېدل. لمونځ مو ادا کړ، په اکثــرو خېمو کې همدا بڼه غوره شوې وه، موږ د عرفات غونډۍ څخه لــرې څــه لرې وو، (نمیره مسجد) څخه هم موږ لرې وو، نمیره جومات د عرفــات**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لویدیځه برخه کې موقعیت لري، رسول اکرم(ص) په کې د ماسپښین او مازیګر لمونځونه په قصر او جمعې سره ادا کړي دي، نه یوازې مور، بلکې نور په لکونو حاجیان هم لري وو. د عرفان غونډۍ (جبل رحمه) شاوخوا خېمې لګېدلې دي. د عرفات ساحه معلومه ده، ددې ساحې په داخل کې وقوف (ودرېدنه) معلوم دی. د عرفات د ساحې د داخل په هره ساحه کې وقوف اجراکېږي، دا ساحه یې په مشخصو علایمو بېله او په نښه کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د محشر یوه بېلګه

کله چې د ماسپښين لمونځ ادا شو، نو سملاسي ملا صاحبان واعظ ته پورته شول، ټولو مسنونې دعاګانې او همارنګه واعظونه پيـل کـړل. دوی وويل چې دا ځای خدای(ج) ته د زاريو، تضرع او دعا غوښتلو ځای دی، دلته هر ډول دعا قبلېږي، نو په ډله ييز ډول دعاګانې کـوو چـې خدای زموږ دعاګانې قبولې کړي. د مولوي صيب (عبـدالله) او مولـوي



صيب (ګل احمد صديقي چکري) په خبرو او دعاګانو کې دومره قوت و، چې ولاړ ټول حاجيان يې داسې وژړول چې تا به ويل د محشر ورځ ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هېڅوک په خود نه و، هېڅوک نه پوهېدل چې چېرته دي، هر سړی له ځانه جلا شوی و، یوازې پورته یې کتل، د هر چا له سترګو د اوښکو سېلاب راروان و، څوک نه پوهېدل چې ګرمي چېرته ده او یخني چېرته ده، ما خو خپله دومره وژړل چې نه پوهېدلم، چېرته یم، له کوچنیوالي بیا تر دې دمه چې مې څه کړي وو، یوځل بیا مې په ذهن کې تېرو بېر شول، پر کړیو ګناهونو مې توبه وایستله، پر هغه ورځ چې مې د خدای(ج) پر کور خپل تندی او زړګی کېښود او بیا دلته ډېر په زغرده مې وژړل، ما ونه ژړل، چا وژړولم، د قیامت ورځ راپه یاد شوه، هلته به هر**



**سړی ځانته ځانته خپل غم ژاړي، هېڅوک د چا په درد نه خوري، هېڅوک له چا سره مرسته نه شي کولای، دلته هم همغه شان یوه شېبه وه، انسان دلته ځان داسې یوازې احساسوي، لکه چې هېڅوک نه لري، یوازې خدای یې ور په یاد وي او د خدای رسول. حضرت محمد(ص) همدلته د (حجة الوداع) وروستۍ خطبه وویله او همدلته یې بشریت ته خپل وروستی پیغام پرېښود. د خپل امت د ښېګڼې لپاره یې الله تعالی ته**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د دعا لاسونه پورته کړل او ويې ويل چې زه به پر راتلونکي کال تاسو په منځ کې نه یم الله تعالی دا ایتونه نازل کړل: (اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَاتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِى وَرَضِيتُ لَكُمُ الْاسْلامَ دِيناً...) دا يې د خپل حبيب په خوله بشريت ته اعلان کړل او د خدای رسول وويل چې ستاسو دين مکمل شو او حاضرينو ته يې وويل چې تاسې په دا پيغام غايبينو ته رسوئ او هغوی به يې نورو ته.**

**کله چې به واعضانو د مقبول رسول(ص) مبارک نوم واخيسته، نو له درود سره بـه د ژړا يـوه څپـه يوځـای شـوه، هېچـا ځـان نـه شـو**



**ټينګولای، دعاګانو ان د مازيګر تر لمانځه پورې دوام وکړ، د هېچا ژړا نه ودرېدله، مازيګر لمانځه ته څو دقيقې پاتې وې چې ټولو د افغانستان د ابادۍ، سولې، امن او د افغانانو د اتحاد او اتفـاق لپـاره دعـا وکـړه، د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اسلامیت د ویښتابه او د دښمنانو له شر څخه د مسلمانانو د خلاصون لپاره دعا وشوه، کله چې دعا خلاصه شوه، نو زړه مې دومره سپک شو چې تا ویل د کلونو کلونو بار مې له اوږو اوچت شو، ځان مې ډېر راحت احساس کړ، لکه څوک چې یوې نوې نړۍ ته داخلېږي، یا هم له مـوره نوی تولد شوی وي او نړۍ ته یې نوې نوې سترګې غړولې وي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مزدلفې شپه

د مازیگر تر لمانځه وروسته په عرفات کې تر هغه پاتې شو چې لمر ښه پرېوزي او تیاره خوره شي، تر هغه وروسته د اورگاډي تمځي ته راغلو، ښه په تکلیف او تر اوږده انتظار وروسته، تر اورگاډي ورسېدو، دلته بیا هم (۴۵) دقیقې معطل شو، کار منظم نه برېښېده ځکه چې دا د اورگاډي لومړی کال و چې فعال شوی و. ټول ښه ستړي وو، کله چې



اورگاډي ته وختو نو تر (۱۵-۲۰)دقیقو مزله وروسته مزدلفې ته ورسېدو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک چې په اورګاډي کې راغلي وو، نو د يوه غره څنډې تــه پــه يــوه نسبتاً اوار ډګر کې پلي شول، د ماښام او ماسخوتن لمونځ مو پــر يــوه وخت په ترتيب سره له کوم قصر پرته ادا کړ، مزدلفه هغه ځای دی چې حاجيان د عرفات تر اقامت وروسته ورته راځي، د ذوالحجې لسمه شپه په کې تېروي، د ماښام او ماسخوتن لمونځونه په يو اذان او دوو اقامتونو ادا کوي او شپه هم دلته تېروي، لکه چې الله(ج) فرمايي: {افَإِذَا أَفَضْتُمْ مِنْ عَرَفَاتٍ فَاذْكُرُوا اللَّهَ عِنْدَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ وَاذْكُرُوهُ كَمَا هَـدَاكُمْ} ژباړه: (( کله چې تاسې له عرفاته راوګرځېدئ، نو الله(ج) به پــه مشــعرالحرام کــې لــه لارښووني سره سم ياد کړئ.)) د مشعرالحرام حدود د لوحو په واسطه ښودل شوي دي، د مشعرالحرام مسجد هم همدلته موقعيت لري. زموږ د علماوو ترمنځ  د لمانځه د اداکولو پر طرز هم اختلاف و، خو يــو مــلا دمخه شو او نورو ورپسې اقتدا وکړه. تــر لمانځــه وروســته د ځــای د پيداکولو په لټه کې شو. د پښې ايښودلو ځای نه و، د همدې ميداني په يوه کونج کې مو چې شاته يې غر او بل کونج ته يې د عــرب حاجيــانو لپاره يوه جلا کړې څنډه وه او پرده دېوال ترې راتاو و، ځای پيــدا کــړ. دلته يوه سره غالۍ غوړېدلې وه، يو پنجابی ناظم پرې ناست و، خلک يې خپلې خواته نه پرېښودل، شپه هم يخه وه، تياره هم وه. موږ هم ښه د مزې ستړي وو، موږ سره يو پلاستيکي جاينماز و، کســان دوه وو، زه او عزت الله حاجي دواړه پر يوه نه ځايېدلو، هغه لاړ ډېر وګرځېد چې بــل جانماز يا څکالی پيدا کړي، پيدا يې نه کړ، بيا زه لاړم، زمــا مخــې تــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حاجي صیب (رسول هوتخېل) راغی، هغه وویل: څه کـوې؟ مـا ویـل دغسې مشکل دی، هغه وویل زه خپل څادر درکوم، هغه له خپل ځایه څادر راکړ، کله چې د عزت الله څنګ ته لاړم، هغه ته مې وویل دغه دی څادر مې پیدا کړ، هغه هم خوشاله شو، تر دې دمخه نو ما حاجي عزت الله ته وویل هغلته څه ښه سره غالۍ ده، پر دغه چې یې پرې ایښي وای، څه ښه خوب به مو کړی وای. عزت الله خان پنجابي ته وویل، خو هغـه ورته وویل، نه دلته اجازه نه شته، په ډېره قهرجنه لهجه یې وویل، کله چې هغه ته ما څادر یوړ، نو پر دې غالۍ د پنجابي پرځای یو بـل کـس ناست دی، توره تیاره وه،ماته رانږدې شو ویې ویل: یون صیب نه یې؟ ما**



**ویل یم، بیا یې وویل هله راځئ پر دې غالۍ ویده شئ، ما ویل نه همـدا ځای سم دی. په زور یې غالۍ ته بوتلو، دې وخت کـې همغـه پنجـابی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغی، برګ برګ یې وکتل، ده ورته ویل ته جګ شه هلته کېنه! له غالۍ یې څنګ ته کړ، زموږ پر پلاستیکي جاینماز یې څملاوه، ورته یې وویل چې دا زما ملګري دي، بیا ژر لاړ یخې اوبه او جوس یې راوړل، بیا یې کیسې راسره شروع کړې، چې زه د ننګرهار یم، نوم مې (خیال ولي) دی، دلته عربو سره کار کوم، دا کمپ د هغو عربو لپاره دی چې دلته حج ته راځي، زما کفیل د حج کارونه کوي، دا وخت مې کتل چې یو ځوان عرب راغی، ده ویل دا زما کفیل دی، هغه ته یې زه معرفي کړم، هغه ډېر خوشاله شو، ما ته یې وویل زما مېلمه شه، ما ویل اول ته زما ډوډۍ وخوره بیا به زه درسره لاړ شم، ما ویل زموږ دود دی چې اول موږ ډوډۍ ورکوو، دې باندې هغه نور هم خوشاله شو، دې وخت کې بل عرب راغی،



دې عرب زه هغه بل ته معرفي کړم هغه لږ لږ په انګریزي هم پوهېده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خو (خیــال ولي) عربي ترجمه هم کوله، تر یوه وخته خیال ولي او عرب سره ناست وم، خیال ولي راته وویل هر کله چې دې خوب راغی، ویده شه دلته درته څوک مزاحمت نه شي کولای. په همدې کې رابانــدې د خوب څپه راغلې وه. خو تر دې دمخه مې (۷۰) کاني راټول کړي وو او په بوتل کې مې اچولي وو. ملایانو ویل کاني باید د لوبیا تر دانې غــټ او د نخودو تر دانې واړه نه وي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جمرو (شیطانانو) د ویشتلو تیاری

د میزان (۱۲)مه د اکتوبر (۴)مه او د ذوالحجې (۱۰)مه نېټه د شنبې ورځ وه، د سهار لمونځ مو په جماعت سره ادا کړ، امام وویـل چـې تـر لمانځه وروسته همداسې ورو ورو حرکت کوو، د اورګاډي د ستېشن پر لوري، د لمر له راختلو سره باید موږ هلته (د جمرو ویشتلو ځای) ته تیار



ځان ورسوو، لومړی غټ شیطان ولو او بیا قرباني کوو، تر هغه وروســته بیا سر خرییو او ځان له احرامه باسو، بیا هر سړی کولای شي په شخصي لباس کې فرضي طواف او سعې اجرا کړي. سهار تر لمانځه وروسته ټول حاجیان راجمع شول، د افغانستان بیرغ مو مخکې و، موږ ټول ورپسې وو، تر شل پنځه ویشتو دقیقو مزلــه وروســته د اورګــاډي تمځــي تــه ورسېدو څو دقیقې مو نور هم انتظار وکړ، ښه په منظم ډول او په ترتیب

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سره اورګاډي ته پورته شو او د جمرات (د شیطانانانو ویشتلو ځای) پــر لوري مو حرکت وکړ، تر لس پنځه لس دقیقې مزله وروسته (جمــرات) تمځي ته ورسېدو، د شیطان ویشتلو لپاره یې منظم سیستم جوړ کړی، پنځه منزله، لویې لارې یا سړکونه چې په لکونو خلک په کې پــر یــوه**



**وخت تګ کولای شي، دخولي لاره یې یوه او خروجي یې بلــه وه. کلــه چې د جمرات تمځي ته ورسېدو، نو ګورو چې په لکونو حاجیان د غټ شیطان د ویشتلو لپاره راروان دي. پخوا دلته دومره اسانتیاوې نه وې، دلته به د ګنې ګونې او بې نظمۍ له امله هر کال په سلګونو حاجیان تلف کېدل، خو اوس ډېره اسانتیا رامنځته شوې ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د غټ شیطان ویشتل او بیا قرباني

عرفات کې د ورځې او په مزدلفه کې د شپې تـر تېرولـو وروســته لومړي مراسم د غټ شیطان ویشتل دي، چې د لمر تر راختلو وروسته پیلېږي او د لمر تر غروبه دوام کوي. موږ دویم پوړ ته د غټ شــیطان د ویشــتلو لپــاره لاړو، کــه څــه هــم ګنــه ګونــه ډېــره وه، خــو کــار



منظم و، له لومړي او بیا له دویم شیطانه تېر شو. له بوتله مې (اوه) پاخه کاني راوایستل او کله چې غټ شیطان لعین ته ورنږدې شوم، نو په بسم الله او الله اکبر ویلو سره مې پرې ګوزارونه پیل کـړل، اوه ګــوزاره مــې مسلسل وویشت، دا مــهال نو دلته د کاڼو داسې باران و چې ته به وایې په بتۍ کې پولۍ پخېږي، تر هغه وروسته په خروجي لاره د مکې په طرف پر غځېدلي سړک لاړو، مومند صیب ته مې زنګ وواهه چې له شیطان

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څخه مې دوړه پورته کړه، اوس قرباني وکړه، هغه وويل پنځه لس دقيقې وروسته احوال درکوم، پنځه لس دقيقې چې پوره شوې بيا يې وويل، لږ صبر وکړه، د قربانۍ ملګري راته احوال راکوي، دې کې نو ما د عمارې پر لوري خپل پلي مزله ته دوام ورکاوه، تر يوه ځايه چې لاړم نو ښه ستړي شوم، نږدې (۱۵) دقيقې پلی مزل به مې کړی وي، موټروان نارې کـــړې حرم، حرم... دېرش دېرش رياله يې اخيستل، د حرم مـــوټر کـــې ځکـــه وختم چې له هغه ځايه مې عماره پيداکولای شوه، په احرام کې حرم ته ځکه د طواف لپاره نه ورتلو چې قرباني مو نه وه کړې او سرونه مو نه وو خريلي. لـــه حـــرم نـــه پلـــي د عمـــارې پـــر لـــوري راغلـــم، کلـــه چـــې**



**عمارې ته نږدې شوم، نو مومند صيب زنـــګ وواهـــه، قربـــاني وشـــوه، وېښتان وخرييه.**

**د قربانۍ ډګر ته خپله هم تللی شې او هم د خپل شـــريک لـــه لارې قرباني کولای شې. نو ځکه خو مومند صيب زما لپاره قرباني وکړه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مومند صيب راته وويل سلماني ته به ووايې چې وېښتان دې له ښي خوا څخه وخريي، زموږ عمارې سره نږدې لانــدې د ســړک پــر ســر د سلماني دوکان و، هېڅوک نه و، ښه فرصت و، ژر لاړم، سر مې په چړې وخريه ما ويل څو کېږي، ده وويل (عشرين) يانې شل رياله، شل ريالــه مې ورکړل، سلماني ته ناستې مې لږه ستړيا هم وايستله او تــر پنځــه دقيقې پلي مزله وروسته عمارې ته ورسېدم، دلته نو داسې چوپتيا ده چې تر ما دمخه ايله که دوه درې حاجيان راغلي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ماسپښین لمونځ او فرضي طواف

کله چې اتاق ته راغلم نو ژر تشناب ته لاړم، ځان مې لــه احرامــه خلاص کړ، غسل مې وکړ، جامې مې واغوستلې، خپل چپرکټ کې مــې پښې وغځولې، سترړیا مې یوڅه ووته، نیم ساعت بــه ناســت وم، چــې ساعت ته مې پام شو یوولس بجې وې، ژر مې د حرم شریف پــر لــوري حرکت وکړ، پوره دولس بجې د ملک فهد دروازې له لارې مسجدالحرام ته داخل شوم، د مسجد داخل کې هوا یخه وه، سنت مې وکړل، جمــع تیاره شوه، لمونځ مې په جماعت سره ادا کړ، بیا مې د جنــازې لمــونځ وکړ، بیا مې سنت ادا کړل، بیا مې لږه دمه ووهله، دا ځل نو ما د غــاړې بیک ځان سره نه و وړی، ځکه چې ویل یې هلته د ګنې ګونې له املــه



کڅوړې، بیکونه او نور نه پرېږدي، یوازې د غاړې دسمال راسره و. تر لږې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمې وروسته مې د طواف نیت وکړ، څپلکې مې په لاس کې ونیولې، هېڅ شی نه پیدا کېدل، چې دا په کې واچوم، دې وخت کې یو سړي تش پلاستیک راکړ، چې دې کې دې څپلکې واچوه، دومره خوشاله شوم چې ډېره غټه تحفه يې راکړې وي، څپلکې مې پلاستیک کې واچولې د غاړې په دسمال کې مې غوټه کړې، تر شا مې ټینګې وتړلې او د خدای له کوره مې طواف ته ځان تیار کړ، هوا سخته ګرمه وه، ګڼه ګوڼه هم زیاته وه، په سخته ګرمۍ کې مې اوه دورې پوره کړې، تر نورو طوافونو دا سخت ځکه و چې یو خو ډېره ګرمي وه او بل زیاته ګڼه ګوڼه. تر طواف وروسته مې دوه رکعته لمونځ اداکړ او بیا د صفا او مروا غونډیو خواته راغلم، دلته مې اوه شوطه (ګردشه) پوره کړل،



دلته که څه هم هوا یخه وه، خو ګڼه ګوڼه دلته هم ډېره وه، مرمر ډبرې هم یخې وې، اوه شوطه مې پوره کړل خو بیا مې هم په زړه کې وسوسه پیدا شوه هسې نه چې کوم درنه په کې کم نه وي، نو یوه بله دوره مې هم پسې وکړه، ملایان وایي، که په شمار کې درته شک پیدا شو، نو کم عدد به حسابوئ او یو بل شوط به پسې زیات کوئ، په شپږم دور کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تږی شوم، د اوبو خوا کې ګڼه ګوڼه وه، نږدې د یوې دورې وخــت یــې نیوه، کله چې د اوبو ځای ته لږ نږدې شوم، یو تن له اوبو ډک ګیلاس په لاس کې راته ونیو، اوبه مې وڅښلې د زړه له تله مې ورته دعــا وکــړه، وخت مې هېڅ ضایع نه شو. تر سعې او دعا وروسته له حرم شریف څخه خارج شوم او بېرته پلی د عمارې پر لوري لاړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډوډۍ او خوب

په لاره کې مې له پاکستاني هوټل څخه چکن کړايي واخیسته، یخې اوبه مې واخیستې، ساعت د ماسپښین دوه بجې و، عزت الله خان تـه



هم دا مـــهال قرباني شوې وه او د حرم پر لوري په حرکت کې و. کله چې اتاق ته راغلم، نو ښه سترې او وږی وم، ډوډۍ مې په ښه خوند وخوړه، تازه مېوه مې پرې دپاسه وخوړه او نور نو چپرکټ ته پورته شوم، درانـــه خوب یوړم. تر څلورو بجو مې خوب وکړ، تر هغه وروسته مې د مازیګر او بیا د ماښام لمونځ وکړ او بیا مې څو تنو انډیوالانو سره وکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# منی شریف ته تګ او بېرته راتګ

د ماسخوتن څه کم نهه بجې وې چې له خپلې عمارې څخه کښــته شوم، د عمارې مخې ته یو موټر ولاړ و، پلانکوچ ته ورته موټر، لس دولس کسان په کې ځايېدل، څو تنه افغانان په کې ناست وو، ما ویل چېرتــه ځئ؟ ویې ویل منی شریف ته ځو، خو معلومه نه ده چې رښتیا مو هــم هملته وړي که نه؟ دېرش ریاله اخلي. ما ویل چا ورسره خبره کړې، دوی ویل دغلته شاته یو قاري صیب ناست دی، په عربــي پــوهېږي، ډرېــور



عربی و، هغه ته مې وویل، تا ورسره خبرې کړي، هغه وویل هــو، دویــم سیټ کې زه هم کېناستم، لس پنځه دقیقې وروسته یې حرکت وکــړ، رښتیا هم ډېر مزل یې وکړ، تر فرعي سړکونو وروسته عمومي سړک ته ووت، ډېره لاره یې ووهله بیا یې دا غبرګه کړه، نــږدې (۳۰-۴۰) کیلــو متره مزل، لکه د کابل د څرخي پله له تنګي څخه د سروبي تــر بــازاره پورې لاره، هلته یې د ملک عبدالعزیز تر اوږده پله لاندې کښته کړو. دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځای که څه هم د منی شریف له نورو برخو نسبتاً لرې دی، خــو زمــوږ (۵۸) مکتب چې کوم ځای کې پروت و، هغه ته نږدې و، دوه لارې ورته راغلــي، خــو نابلــده ســړي تــه یــې پیــداکول اســانه کــار نــه دی.**



**ما چې یوه شپه دمخه دا ځای او د هغه تر شا پاس غر او د غره له پاسه د اوبو زېرمه په نښه کړي وو، نو پر زېرمې مې سترګې ولګېدې، اصلي نښه مې پیدا کړه، خو دې نښې ته ځان رسول هم څه اسانه کار نه و، تر پنځه لس دقیقې پلې مزله وروسته مې خپل ځای پیــدا کــړ، دا مـــهال نــو ښاغلي (قاضي فضل غني) چــې د ننګرهــار د خوړیــانیو د کــوز بیــار اوسېدونکی دی، متواتر زنګونه راووهل، چې موږ ډوډۍ تاسې ته معطله کړې ده، باید زموږ څنګ ته راشئ، نور سپین ږیري او مشران هم تاسې ته انتظار باسي، ما ویل ما ډوډۍ خوړلې، تاسې ډوډۍ وخورئ، خو لیدو ته مو حتماً درځم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له خوګیاڼو عزیزانو سره  د ماسخوتن ډوډۍ

**خوګیاڼو عزیزانو د خپل ځان لپاره زموږ د خېمو شاته د دوو غرونــو ترمنځ یوه تاله غوندې ځای ټاکلی و، ښه یخ شمال په کې لګېده، عیناً**



**لکه د ننګرهار د درونټې پر سر د دوو غرونو تــرمنځ ســاحه چــې پــه واقعیت کې د باد مقام ګڼل کېږي. مخکې تر دې چې خپلې خېمې ته لاړ شم، دوی ته پورته شوم، پنځه لس شل کسان ټول یوځای ناســت دي، غټ دېګی یې باندې کړی، ټولو له مخې سترې مشې وکړل، سم له لاسه یې دسترخوان اوار کړ، ښه ګرمه غوښه، پیپسي او اوبه پر دســترخوان کېښودل شوې، ډېره د اخلاص او اتفاق ډوډۍ وه، که څه هم مــا ډوډۍ خوړلې وه، خو د دوی له اخلاصه ډکې ډوډۍ ډېر خوند وکړ. ډوډۍ مــو هم وخوړه او وطنی مجلس مو هم وکړ، د هوجرې او دېــرې، مرکــې او**

(c) ketabton.com: The Digital Library



جرگې خبرې مو هم وکړې، دوی هم ډېر خوشاله شول او زه هــم، دوی وویل کاشکې زموږ ټول مشران تا غوندې وای هرې دېرې او هوجرې ته ورتللای له خلکو سره کېناستلای. دا چې د مسافرۍ په دې ژوند او بیا په دې مبارکه شپه کې ته ددې غره پر سر له موږ سره کېناستې، موږ له تاڅخه ډېر خوشاله یو. د مسافرو د وېزو د مشکلاتو په باب مو هم خبرې



وکړې، ما ویل زه به ستاسو غږ حکومت ته ورسوم، خدای(ج) دې وکړي چې هغوی دا مشکل حل کړي. د هغوی مجلس ډېر خوږ و، خو ما تــرې اجازه واخیستله، بیا خپلې خېمې ته راکوز شوم، دلته نهه لس کســان حاجي صاحبان راټول شول، یوه شېبه سره کېناستو، چای مو وڅښه هر چا د نن ورځې د شیطان د ویشتو او حرم شریف کې د طــواف خپلــې خپلې کیسې وکړې. ساعت دولس بجې شوې، بیا حاجي صاحبان سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تیت شول، زه لاړم، شل رکعته نفل لمونځ مې وکړ، یو ځل بیا مـــې لــه خپل ځانه نیولې، تر مور و پلاره، خپلوانو، عزیزانو او انډیوالانو پورې ټولو ته د زړه له تله دعا وکړه او بیا مې د لــوی ارمــان لپــاره؛ د یــوه لــوی افغانستان د جوړېدو لپاره لویه دعا وکړه، ما ویل یا ربه ماته مې د خپل**



**وطن طبیعي حدود په نصیب کړې، چې نه مې چا سره کش وي او نه چا سره پش، د خپل هېواد د طبیعي حدودو لپاره مې د دېوال جوړولو یــو نقشه هم په ذهن کې وګرځېده، د ښخو سیمتي دېوالونو یوه نقشه چې له خپلو حدودو به راتاوه وي، هرې خواته به یې قانوني لارې تللې وي، هر ځای کې به د سرحد پوستې وي، نه به موږ پر چا یرغل کوو او نه به بل څوک یرغل ته پرېږدو، ډېر خیالي رنګونه مې په ذهن کې تېر شول، خیال پلونه مې ډېر ووهل، خو زړه کې مې دې هیلو غځونې وکړې چې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای(ج) خو ډېر مهربان دی، دا خو دده قلم ته هېڅ هم نه دي چـــې موږ خپل حد و برید ته ورسوي، په همدې ارمان مې د دعا لاسونه راټول کړل او خپلې خېمې کې خپل ځای ته داخل شوم او دغه یادښت مـــې ولیکه. ساعت د شپې یوه بجه او څو دقیقې دي. دا مهــال نــو ځینـــې حاجي صاحبان په کېږدۍ کې ویده او لږ شمېر یې ویښ دي. څو دقیقې نور هم ویښ وم او بیا مې خوب ته پناه یوړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سعودي مېشتو افغانانو سره لنډه ناسته

د میزان (۱۳)مه، د اکتوبر (5)مه او د ذوالحجې (۱۱)مه د یکشـــنبې ورځ وه، سهار وختي پاڅېدم د سهار لمونځ مو دخپلــې کېــږدۍ (۲۴) مخې ته په جماعت سره ادا کړ تر لمانځه وروسته یوځل بیا د خوب څپې



راباندې غلبه وکړه، ښه ښایسته خوب مې وکړ، ساعت نږدې نهه نیمې بجې وې چې حاجي خوشال هوتخېل له خوبه پاڅولم. یون صیب پاڅه مېلمانه درته راغلي دي،مخکې تر دې چې د مېلمنــو پوښــتنه وکــړم، تشناب ته لاړم، بیا مې اودس وکړ او بېرته کېږدۍ ته راغلم، هلته حاجي خوشال هوتخېل د هغه تره (حاجي عبدالرسول) او د تره زوی یې حاجي

(c) ketabton.com: The Digital Library



عزت الله درې واړه ناست دي دوه تنه نور انډيوالان چې زما ليدو ته راغلي وو هغه هم ورسره ناست دي. انبار غوښه يې پر دسترخوان اېښې، ډوډۍ يې پرېمانه راوړې، يخني غوښه يې برابره کړې وه، د خپلې قربانۍ غوښه يې وه. ماته يې وويل چې له خوبه مو ځکه پاڅولې چې يو خو دا مېلمانه حاجيان صاحبان ستا ليدو ته راغلي وو او بل ما ويل



چې دا چاى نن موږ سره وڅښې، دا نو زموږ هوتخېل عزيزان دي چې سخت ډوډۍ مار او جرگه مار دي. په زوره يې رابانـدې دومره غوښه وخوړه چې خپل دروندوالى مې له ورايه محسوس کړ. له مېلمنو سره مې هم د زړه خواله وکړل. دا هغه افغانان وو چې په سعودي کې اوسي او پر سختو لارو د حج مراسمو ته راغلي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ماسپښین لمونځ او بیا د شیطانانو ویشتل

د سهار تر لمانځه او هم د سهار تر چای وروسته ملا صاحبانو وویل چې نن د ماسپښین تر لمانځه وروسته یانې چې کله هم لمر مخ په زوال شي، د درېواړو شیطانانو د ویشتلو نوبت دی. کله چې مو د ماسپښین جمع همدلته وکړه، نو په ګډه به حرکت کوو، د افغانستان بیرغ به مو مخکې او موږ به ورپسې یو. لومړی به وړوکی شیطان ولو، بیا به د




کوچني او متوسط شیطان ترمنځ دعا کوو چې خدایه حج مو قبول کړې او د شیطان لعین له وسوسې مو وژغورې، بیا منځنی شیطان ولو د منځني او لوی شیطان ترمنځ بیا دعا کوو او بیا غټ شیطان ولو او نور بیا دعا نه کوو، همداسې بېرته د منی په طرف ځو او که څوک بل چېرته هم ځي کولای شي، خو شپه به ضرور منی شریف ته راوړي او که رایې نه وړي نو (دم) پرې لازمېږي. تر لمانځه وروسته په منظم ډول د اورګاډي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تمځي پر لوري وخوځېدو چې له دې ځایه د پلي مزله نږدې پنځه لس دقیقې واټن یې درلود، په اورګاډي کې په اسانۍ پورته شو او تر لس دولس دقیقې مزله وروسته هلته ورسېدو، دا ځل نو موږ ښه بلد وو، په پنځم پوړ کې مو د شیطانانو د ویشتلو لپاره ځانونه برابرکړل، د شیطانانو د ویشتلو لپاره یې ډېر ښه سیستم جوړ کړی دی، خلک د پخوا په څېر نه تکلیفېږي، کوم ښه مسلمان انجنیر د شیطان له وروستي غضبه مسلمانان ژغورلي دي، پخوا به د شیطان د ویشتلو په دې ځای کې




دومره ګڼه ګوڼه شوه چې په لسګونه حاجیان به په کې مړه شول، خو اوس که د ورځې په ملیونونو خلک تېر شي، نو چاته په کې ضرر نه پېښېږي. د هر چا کاڼي د شیطان پر تندي لګي. دخولي لاره یوه او خروجي بله ده، په پنځو واړو منزلونو کې همدا سیستم دی، شیطان هم د پخوا په څېر کوم ډینډک نه دی، بلکې یو اوږد دېوال دی چې له دواړو لوریو ویشتل کېدی شي او خلک پر همغه لاره بهر ته وځي، موږ په ډېرې اسانۍ سره لومړی کوچنی بیا متوسط او بیا غټ شیطانان ښه په زغرده وویشتل، له ما څخه خو هېڅ کاڼی خطا نه شو، د اول شیطان تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ویشتلو وروسته مې دعا وکړه چې خدایه حج مې قبول او ټول مسلمانان او په تېره بیا افغانان د شیطان له غضبه خلاص کړې، بیا مې**



**دویم شیطان وویشت دعا مې هم وکړه او بیا مې درېیم (غټ شیطان) څخه دز پورته کړ. تر شیطان ویشتلو وروسته مې ولي سپک شول لکه چا مې چې له ولو څخه کوم دروند پېټی لرې کړی وي. زه او عـزت الله خان بېرته د اورګاډي ستېشن ته راغلو، تر هغه وروسته خپلې خېمې ته او دلته مې لږ شان استراحت او ارام وکړ. استراحت ډېره دمه راوسته، تر دې وخته پورې ټول مراسم په ښه ډول ترسره شول او هر څه له پلان سره سم روان دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مازیگر او ماښام لمونځ او د ملا صاحب د پند څو خبرې

د مازیگر لمونځ مو په منی شریف کې په جماعت سره ادا کړ، مولوي صیب عبیدالله نیازي ښه اوږده دعا وکړه چې له فرد څخه نیولې تر ټول ملت او امت پورې د ټولو خیر یې په کې وغوښت. بیا زه (یون)، نثاراحمد ناصري، ملیار جبارخېل او څو تنه نور ملگري له خېمې څخه ووتو،



شاوخوا مو قدم ووهلو، لږ تازه انگور مو پیدا کړل، ښه اوبلن او خواږه، هغه مو خوړل، په سړک پلي روان وو او انگور مو خوړل، هلته د سړک پر سر خوراک نه یوازې د اچې شرم نه دی، بلکې ددې ځای د کلتور یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخه ده. عیناً لکه د پاکستان او هندوستان په ځینو ښارونو کې چې خلک د سړک پر سر خوراک او څښاک کوي او پاتې شوني يې بېرته د سړک پر غاړه گوزاروي، دلته هم همغه حال و، د ماښام تر لمانځه لږ دمخه بېرته خپلې خېمې ته راغلو، ټلېفون مې له نثاراحمد ناصري سره د چارج لپاره په خېمه کې کېښود، دلته نو غټه ستونزه هماغه د ټلېفون چارج و، يو چارجر ته پنځه شپږ ټلېفونونه منتظر وو، زه خپلې خېمې ته راغلم او دلته دا مهال د ماښام جمع تیاره وه.

د ماښام تر لمانځه وروسته امام پورته شو، خلکو ته يې وويل، څو مهمې مسلې دي دا ايام تشريق دی، نو که تاسو غواړئ چې اوس درته مسلې پيل کړم او که نه د ماسخوتن تر لمانځه وروسته، ټولو حاجيانو



ورته وويل همدا اوس يې وکړه. مولوي صيب د حضرت عثمان(رض) د عدالت کيسې، پر هغه مهال د حمص د والي عدالت، د ځينو خلکو د ريا

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کارۍ، د حاجي نوم، د خدای(ج) نعمتونه او نورو مسایلو په باب خــورا اوږدې کیسې او مسلې وکړې. د حضرت عمر(رض) د عدالت په باب یې وویل چې په هر ځای کې به یې څوک والي او حاکم مقرر کړ، نو په خپله به یې د هغه څارنه او پلټنه کوله، د هغه د تقوا په باب یې وویل چې په لباس (کالیو) کې یې (۷۲) پیونده وو، له بیت المال څخه یې د ځان په ګټه کار نه اخیسته، په بېلابېلو سیمو کې یې د ځان په شان حاکمــان ټاکل، ورته ویل یې چې د خدای قران، د حضرت پیغمبــر(ص) وینــا او عمل به دې د کار ټګلاره وي، د حمص د هغه وخت د والي د عــدالت او تقوا کیسه یې وکړه چې عدالت او محاکمه یې پر رڼا ورځ د خلکو په مخ کې وه، د شپې به ټوله شپه پر عبادت مصروف و او د خدای(ج) ذکر به یې کاوه، جمعه کې یوه ورځ دندې ته ځکه نه راته چې جــامې یــې نــه لرلې، یوه جوړه جامې یې وې هغه به یې پر همغه ورځ وینځلې او دی به تر هغه پټ په یوه ځای کې ناست و چې جامې یې وچې شي او دی یــې واغوندي، یو ساعت ناوخته دندې ته راته، هغه په دې خاطر چې مېرمن یې ناروغه وه، د کور کار یې خپله کاوه، هغې ته به یې چای دماوه، او کور به یې پاکاوه، محرم یې نه لاره، دې کې به وظیفې ته ناوخته شو، خلک چې دده له دې مجبورۍ څخه خبر نه وو، نو حضرت عمر(رض) ته یــې دده له حکومتوالۍ څخه شکایت وکړ، حضرت عمر(رض) هغه راوغوښت مخکې تر دې چې هغه سره خبرې وکړي هغه ته یې وویــل چــې اول د خلکو ځواب ورکړه. خلک په عام بازار کې راټول شوي وو. کله چــې د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حمـــص والـــي خپـــل مجبوريتونـــه بيـــان کـــړل، نـــو خلـــک د**



**هغه تقوا ته حيران شول او تر هغه وروسته حضرت عمر(رض) هغه پــه غېږ کې ونيو او د هغه پر تقوا يې افرين ووايه. مولوي صيب حاجيانو ته د ريا عبادت په باب هم ښايسته بيان وکړ، هغه وويل حج د ريا عبادت نه دی، حاجي د شرعيت له مخې حق نه لري چې په خپله ځان ته حاجي ووايي يا په کارت او پاڼو کې د خپل شهرت لپاره ځان ته حاجي وليکي؛ حاجي يا الحاج پلانکی، دا ټول په تظاهر کې راځي او اسلام د تظاهر دين نه دی، د ريا عبادت نه قبلېږي، حضرت رسول اکرم(ص) فرمايي چــې تاسې چاته صدقه او خيرات ورکوئ، نو په داسې حالت کې يې ورکــړئ چې څوک حاضر نه وي، په دې شکل يې ورکړئ چې يو لاس په بل خبر نه شي.**

**له ځان سره د حاجي د کليمې د نه ليکلو خبرې ماته ډېر خوند راکړ، ماته دا مــهال زموږ د يو انډيوال (ډاکتر مخان شينواري) خبره راپــاده**

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوه، هغه چې له حج څخه بېرته خپل کور ته ستون شو، نو یو چا ورته د حاجي خطاب وکړ، هغه ورته وویل چې ماته حاجي مه وایه، ځکه ما حج د خدای د رضا په خاطر کړی، نه د تظاهر لپاره، مقابل طرف یو ځل بیا ټینګار وکړ، په تبسم سره یې وویل، حاجي صیب په خیر، حج دې مبارک شه! حج دې کړی نو ضرور به درته حاجي صیب وایو، نو ډاکتر مخان شینواري هم هغه ته په ټوکه کې وویل، ته هم دا څوارلس کاله کېږي، بې لمانځه ګرځې، ما تاته کله بېلمانځه صیب وویل، چې ته ماته په دې یوه حج حاجي صیب وایې، د ډاکتر مخان شینواري خبره که څه هم د ټوکې په بڼه وه، خو مانا یې د ملا صیب له توصیې او نصیحت سره برابره وه. مولوي صیب نورې هم ډېرې ښې اورېدې مسلې وکړې، د



پیغمبر(ص) د رحلت کیسه یې ډېره دردونکې وه، ناست ټول حاجیان یې ښه وژړول، د امام مسلې دومره اورېدې او خوږې وې چې د ماښام تر لمانځه وروسته پیل او ټیک د ماسخوتن تر لمانځه پورې وغځېدې او تر دې وروسته مو راساً د ماسخوتن جمع وکړه او بیا خپلو خېمو ته داخل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو. د ماسخوتن تر لمانځه وروسته ژر ډوډۍ تیاره شوه، ډوډۍ خپله د مکتب له خوا هم وه او زموږ یو شمېر ملګرو هم ډوډۍ تیاره کړې وه. تر ډوډۍ وروسته یو شمېر ملګري زما لیدو ته راغلل، څو کارتنه تازه مېوه، کېنو او نور يې راوړي وو، هغه مو پر ټولو حاجیانو ووېشل، موږ مېوه هم خوړه، خبرې مو هم کولې، د افغانانو د دردونو او کړاوونو په باب خـــورا تفصیلي خبرې وشوې، تر ډېره سره ناست وو. ان تـــر دې چـــې اکثـــره حاجیان ویده شول، یوازې موږ څو تنه ناست وو او مجلس مو کاوه، زما ملګرو که څه هم زړه نه کېده چې مجلس ختم کړي، خو په دې خـــاطر چې د نورو حاجیانو استراحت ته مزاحمت پېښ نه کړي، له ماځخه يې رخصت واخیست او زه هم د خوب پر لوري لاړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په منی شریف کې وروستۍ ورځ

**د تلې یا میزان (۱۴)مه د اکتوبر (۶)مــه او د ذوالحجــې (۱۲)مــه د دوشنبې ورځ وه دا په منی شریف کې زموږ وروستۍ ورځ وه. د ســهار لمونځ مو د خپلې خېمې مخې ته په جماعت سره ادا کــړ، بیــا مــو لــږ استراحت وکړ، نهه بجې شاوخوا به وې چې زموږ ملګرو حاجیانو چای تیار کړ، ټولو په ګډه چای وڅښه، ملا صاحبانو وویل چې نن ماسپښین**



**به تر لمانځه وروسته شیطانان ولو او بیا به مکې معظمې ته ځو، مکې ته باید تر لمر لوېدو دمخه لاړ شو، بیا نو هلته یوازې وداعي طــواف پــاتې کېږي. کله چې له مکې څخه وځو، دا طواف باید ترسره کړو.**

**د ماسپښین لمونځ مو بیا په خپله خېمه کې په جماعت سره اداکړ، لمونځ مو ځکه په خپله کېږدۍ کې وکړ چې د باندې سخته ګرمي وه. تر لمانځه دمخه ملا امام وویل چې څه شی مو پاتې نه شــي، تــر لمانځــه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته مستقیماً د اورګاډي سټېشن ته ځو او بیا ځو جمراتو ته، هلته درېواړه شیطانان ولو او بیا ځو مکې مکرمې کې خپلو خپلو ځایونو ته. د ماسپښین ترلمانځه وروسته بیا د اورګاډي د تمځي پر لوري لاړوو، تر لس پنځه دقیقې پلي مزله وروسته له کوم خاص خنډ پرته په اورګاډي کې پورته شو، څو دقیقې وروسته جمرات ( د شیطانانو د وېشتلو ځای)



ته ورسېدو، زه (یون)، استاد حسیب الله او حاجي عزت الله یوځای وو، په ترتیب سره مو شیطانان وویشتل یوه تیږه هم راڅخه خطا نه شوه. دا ځل موږ په دویم پوړ کې وو، همداسې د حرم شریف پر لوري وخوځېدو. په لاره کې ګرمي زیاته وه، د خلکو سېلاب د مکې پر لوري ورمات و، تږي شوي هم وو، په لاره کې مو یوځای نیم لږې اوبه وڅښلې، پلی مزل زیات و، په لاره کې موټر نه پیداکېدل، یوځای کې یو موټر چې د افغانستان بیرغ پرې رسم و، هغه ته مو لاس ورکړ، موټر یې ودروه، ډرېور یې ډېر بدسترګی و، نه یې موږ ته لاره وښوده او نه یې پورته کړو، ان له خپل اسلامیت او افغانیت څخه هم منکر شو، حاجي عزت الله له ګرېوانه راونیوه، غوښتل یې له موټره یې راګوزار کړي، خو ما ورته وویل حج دې مه خرابوه، پرېږده یې، که نه د حاجي عزت الله اوسېله دومره ختمه

(c) ketabton.com: The Digital Library





شوې وه چې سل په سلو کې یې د وهلو نیت ورته کړی و. نور هم پلـــي لاړو، اوبه هم نه پیداکېدې، نه په دوکان او نه په لاره، یوځای کې حاجي عزت الله او استاد حسیب الله لرې اوبه پیداکړې، لږه دمه راغله، بیا مو یو ټکسي موټر پیداکړ، هغه سل ریاله وغوښتل، ورسره ومو منل، هغـه خپلې عمارې ته څېرمه کښته کړو. ښه ســتړي وو، مــازیگر او ماښــام لمونځ مو په خپل اتاق کې وکړ، لږه دمه مو ووهله، بیا مو ډوډۍ وخوړه، تر هغه وروسته مو د ماسخوتن لمونځ وکړ او بیا څو تنه ملګــري زمــوږ لیدو ته راغلل، له هغو سره تر مجلس وروسته نو نور د خوځېدلو نه وو، دوستانو رخصت واخیست او موږ دواړو د سبا ورځې لپاره خپـل پـلان برابر کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سهار لمونځ او جبل الثور

د تلې (۱۵)مه، د اکتوبر (۷)مه او د ذوالحجې (۱۳)مه نېټــه د ســه شنبې ورځ وه، د شپې مو پلان جوړ کړ چې سبا سهار وختي بــه جبــل الثور ته ځو، نورالله ورور سره مو وعده کېښوده، د سهار لمونځ مــو پــه خپل اتاق کې وکړ، له خپلې عمارې کښته شو، پنځه بجې او پنځه لس دقیقې وې، تر لږ ځنډ وروسته ټکسي کې کېناستو، ټکسي وان په لاره کې موټر ودراوه، د سهار لمونځ ته کښته شو، موږ ورته وویل موږ لمونځ




کړی، فرض یې وکړل، ژر بېرته راپورته شو. تر پنځه لس شل دقیقو مزله وروسته د جبل الثور غره بېخ ته ورسېدو، جبل الثور د مکې مکرمې په جنوب کې پروت دی، اوس ساعت پنځه لس کم شپږ بجې دي او مــوږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نورالله ورور ته منتظر یو چې هغه راشي او غره ته پورته شو. لکه څنګه چې دمخه مو هم یادونه کړې ده. جبل الثور هغه ځای دی چې رســول اکرم(ص) ورته له مشرکینو او کفارو څخه پناه راوړې وه. حضرت ابوبکر صدیق(رض) هم ورسره ملګری و، دلته یو غار دی حضرت پیغمبر(ص) او حضرت ابوبکر صدیق(رض) همدې غار ته ورننوتل، کله چې ورننوتل نو**



**غنې د غار په خوله کې خپل تارونه وځغلول، داسې ښکاره شــوه چــې دلته څوک نه دي ورننوتي، کله چې مشرکین راغلل، ویې کتل چــې دا خو پخوانی غار دی، څوک په کې نه شته، وګورئ د غنې جال پرې خور دی که څوک ورننوتي وای، نو د غنې تارونه خو حتمي شلېدل. کله چې حضرت رسول اکرم(ص) او حضرت ابوبکر صدیق(رض) په غار کې و، نو حضرت ابوبکر صدیق(رض) خپل زنګون کېښود او پیغمبــر(ص) پــرې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل مبارک سر کېښود، خوب پرې راغــی دا وخــت حضــرت ابــوبکر صدیق(رض) متوجه شو چې غار کې سوري دي. په دې خاطر چې له دې سوریو څخه مار، لړم، غونډل او یا بل څه راونه وځي، حضــرت ابــوبکر صدیق(رض) خپل دواړه لاسونه پر سوریو کېښودل، دې وخت کې یــو لړم حضرت ابوبکر صدیق(رض) په لاس وچیچه، هغه په دې خاطر چې د خدای جل جلاله رسول(ص) له خوبــه راویښ نــه شــي او د نــاراحتۍ احساس ونه کړي، ځان یې درد ته ټینګ کړ، یو وخت درد دومره زیات



شو چې د هغه مبارک له سترګو اوښکې تویې شوې، یوه اوښکه یــې د پیغمبر(ص) پر مخ تویه شوه، هغه مبارک له خوبه راویښ شو، پوه شــو چې لړم حضرت ابوبکر صدیق(رض) چیچلی دی، نو فوراً یې خپلې لاړې له چیچلي ځایه راتاوې کړې او دې سره د حضرت ابوبکر صــدیق(رض)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**درد ارام شو او خدای شفا ورکړه. اوس ساعت دوه دقیقې کم شپږ بجې دي، تر موږ دمخه یوازې څو تنه غره ته پورته شول، موږ لا نورالله ورور ته منتظر یو، دلته یوه وړه سوپه ده، مسجد یې پرې جوړ کړی، پر همـــدې ناست یم، دا یادښت لیکم، سخت ماشي لګېږي، د هرې کلمې په لیکلو راځخه په لسګونو ماشي تاوېږي. لیک ته مې هم نه پرېږدي، مجبور یم کتابچه وتړم او له دې ځایه پورته شم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جبل الثور پر لوري

پنځه لس دقیقې تر شپږو تېرې وې چې نورالله خان ورور هم راورسېده، مستقیماً غره ته پر غځېدلې لاره وخوځېدو، لاره اواره ښکارېده، خو غر ډېر جګ و، زموږ لومړی ځل و، نورالله هم کله نه و راغلی، سل یو نیم سل متره به چې لاړو، موږ ویل اوس به نو نږدې شوي یو، خو څومره چې تلو غر لوړېده، زموږ ملګری عزت الله خان هم چې جبل النور ته د ختلو تجربه ورسره وه، دا ځل ورو ورو خته، دمې مو ډېرې وکړې، سپین ږیري، مېرمنې، ځوانان ټول



راروان وو، څرنګه چې د ټولو اول ځل و، نو ځکه په امید ختل، داسې زړې حاجیانې مې ولیدې چې ډېرې زهیرې وې، څپلکې یې په لاس کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نیولې وې، هغوی هم ختلې، ستړې ستومانه، خولو نیولې خو شاته یې د عقیدې زور و، لاره کې د دمې ځایونه وو، څوک چې به ستړي شول نو پر یوې تیږې به کېناستل او یا به یې کومې تیږې ته ډډه ولګوله، ما چې د غره مزلونه ډېر کړي، دا ډول مزلونه راته ډېر سخت نه وو، خو (۱۳) کاله کېږي چې د موټر متواتر تګ له پلې مزله ایستلی یم، یو ځل چې څوک د موټر پر نرمه څوکۍ کېناست او یا یې شا بادپکي او ایرکنډېشـــن تــه**



**واړوله له هغه څخه نور د غره مزلونه نه کېږي، خو زه بیا هم د کلـــي او ښار، د غره او کلي څه ناڅه ګډ خصوصیات لرم، ځان مې نازولی نه دی بلد کړی، که د طبعې ملګري راسره وي، نو د خدای(ج) په فضل له کابله تر جلال اباده پورې هم پلی تللی شم. له پلي ګرځېدو سره زما مینې او لېوالتیا ماته دا ګټه ورسوله چې په جبل النور او جبل الثور کې تر نورو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاجیانو نسبتاً ښه وم، البته تر ما بیا ځینې نور لا ښه وو، داسې افغان حاجیان مې ولیدل چې په دوو دمو او یو نیم لا یوازې په یوه دمه پورته شول. موږ به اوه اته دمې ایښې وې، خو ځینو شل دېرش ګامه وروسته دمه کوله. تر نږدې یو ساعت زیات پلې مزله وروسته د ثور غار ته ورسېدو. هغه ځای ته چې رسول الله مبارک پناه وروړې وه، غټ غټ ګټونه دي، له یوې خوا دخولي لاره او د کعبې طرف ته خروجي لاره ده. البته خروجي لاره داسې ښکاري چې وروسته لږ لویه شوې وي. پنځه شپږ تنه په کې په ناسته ځایېږي، دا غر رښتیا هم د مکې تر نورو




شاوخوا غرونو یو څه لوړ دی. ټوله مکه او د حرم شریف شاوخوا ټولې ودانۍ ورڅخه ښکاري. دلته خلک د لنډ وخت لپاره کېني، څوک لنډه تلاوت کوي او څوک دوه رکعته نفل لمونځ کوي. یوازې دوه کسان چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګ په څنګ کېني نو سجده لګولای شي او په ناسته لمونځ کــولای شي. څنګ ته یې یو دوه درې نور داسې ځایونه دي چې جاینماز په کې اوارېدلای شي، سرې په کې کېناستلای شي، خو د سجدې لګولو امکان په کې نه شته، مخې ته یې لپاسه د غټې تیږې برخه راټیټه شــوې، مــا همدلته په اشاره دوه رکعته لمونځ وکړ. مور سره له دې چې سهار وختي ورغلي وو، خو تر مور لا نور هم وختي ورغلي وو او مور پسې لا نور هم ډله ډله خلک راروان وو، په غار کې ګڼه ګوڼه ډېره وه، ټولو غوښتل چې د لنډ وخت لپاره دلته کېني ځکه چې نورو خلکو ته نوبت ورسېږي او د غار په خوله کې منتظرو خلکو هم غالمغال کاوه، مور بــه لــس دولــس



دقیقې په غار کې پاتې شوي یو، عکسونه مو واخیستل او بیا د کعبې پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**طرف له وتلې لارې چې همدا خروجې لاره ګڼل کېده ووتلو، په غار کې پاتې کېدو لږ دمه راوسته، کله چې ووتو نو همدلته غار ته ډېر ورځېړمه، یوه څېره جوړه ده، لکه د لارې د سر هوټل، سوپه ده، فرشونه په کې غوړېدلي دي، چای، شیدو چای، یخې اوبه، بسکېټ او ځینې نور خوراکي توکي په کې پیداکېږي. یو زوړ کوچ هم هلته چپ لاس کې د غره ډډې ته ایښی و، ګټ ته یې تکیه کړی و، سیوری پرې خور و، پر هغه کېناستم، خورا خوند یې وکړ، مخې ته یې یوه سوپه وه، شاته یې د څېرې دېوالګی، ښه سیوری په کې و، دوه درې افغان حاجیان همدلته ناست وو. نورالله خان یخې اوبه راوړې، دې ځای کې یې نو ډېر خوند وکړ، بیا یې شین چای راوړ، هغه مو چې وڅښه نو خورا خوند یې وکړ، وجود مې ارام شو. دې وخت کې نو د سوپې پر سر د افغان حاجیانو ډله زیاته شوه، وردګ ماماګان هم په کې څو تنه وو، خپل ګپ شپ او د**




**سیاست په باب بحث پیل شو، یوه ویل له خیره سره نوی حکومت به**

(c) ketabton.com: The Digital Library



وطن جوړ کړي، اشرف غني به فساد ورک کړي، ډېر تکړه سړی دی، دا به وکړي دا به وکړي، خـــو يـــو وردګ حـــاجي چـــې د نـــرخ ولســـوالۍ اوسېدونکی و، هغه به ورو وويل: ((ياره ګومان مې نه شي.)) دلته نږدې شل پنځه ويشت دقيقې ناست وو، ځينو زه وپېژندلم ستړي مشي يـــې راسره وکړل بيا چې نورالله خان ټولو ته معرفي کړم، نو ټولو بيا له سره ستړي مشي وکړل، دې ډله کې يو ملا هم و، ځينـــې حاجيـــان د هغـــه ترڅنګ په لمانځه ولاړ وو، زموږ ملګري عزت الله خان له ملا صيب څخه پوښتنه وکړه چې په ثور غار کې نفل کول څه حکم لري او همدارنګـــه تلاوت وشي ښه ده او که ونه شي؟ ملا صيب ووېـــل: دا ځـــای اصـــلاً د عبادت لپاره نه دی، دلته خلک په دې خاطر راځي چې خلک د رسول مقبول(ص) له زحمتونو او کړاوونو خبر شي او له هغـــو څخـــه عبـــرت واخلي. رسول مقبول(ص) دلته عبادت نـــه دی کـــړی، هـــر کـــار چـــې پيغمبر(ص) کړی وي هغه سنت دی. اصلي خبـــره داده چـــې اســـلام د سهولت دين دی، نه د مشکلاتو، نو دلته که موږ عبادت پيل کـــړو، تـــه




لمونځ وکړې بل یې وکړي او بیا پسې بل، دا عادت دلتــه پــه عبــادت




بدلېږي او بیا یو دود ګرځي او دلته چې کوم په سوونو خلک راروان دي، هغوی ټول مجبور دي چې همدا عادت تکرار کړي، نوره نو دلته سخته ګڼه ګوڼه جوړېږي او خلکو ته زیات مشکلات پیداکېږي، نو دا مشکل بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې سبب ګرځي چې د اسلام اساسي اصل ته چې هغه په دين کې اسانتيا او سهولت دی، هغه ته زيان اړوي. د نفلو، سنتو، فرايضو او مستحباتو ځای او وخت معلوم دی، ولې هلته يې نه کوي چې دلته خلکو ته مزاحمت پيښوي. د غار خروجي دروازو ته مخامخ په اصطلاح په څلورو ژبو لوحې لګېدلې وې، چې ددې غار کاڼي او خاوره د تبرک لپاره مه کاروئ، پښتو هم په کې شامله وه. څو شېبې دلته نور هم ناست وو، بيا ټولو په ګډه د افغانستان د ابادۍ او د افغان ولس د سوکالۍ لپاره ډله ييزه دعا وکړه او له دوی څخه مو رخصت واخيست.

د کښته کېدو تکل مو وکړ، بېرته کښته کېدل خو اسانه دي، عزت الله او نورالله ته مې وويل، په پښو مو اوبه واچوئ، ډېره ګټه لري، ما او عزت الله په خپلو پښو اوبه واچولې ماته خو يې ډېره دمه راوسته، يوازې يوه دمه مو په لاره کې وکړه، هغه هم د عزت الله خان په خاطر. بېرته همغه ځای ته ورسېدو چې سفر مو پيل کړی و، ساعت دا مهال نهه بجې او لس دقيقې دي. ياني زموږ ټول سفر، پورته کېدل، کښته کېدل او هلته دمه کول، نفل دې ټول بهير پنځه دقيقې کم درې ساعته وخت ونيو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سهار چای او استراحت

د نورالله خان اندېوالانو په خپل اتاق کې د چای بندوبست کړی و. نورالله دوی په جبل النور پورې اړوند سیمه کې اوسېږي. له دې ځایه بیا تر جبل النوره د موټر تقریباً نیم ساعت لاره ده. نورالله خپله موټر چلاوه، ښه ګړندی لاړ، نیم ساعت کې هلته ورسېدو، تشناب تـه لاړم، مـخ او



لاس مې ووینځل، تر لږې دمې وروسته، تازه مېوه، ترکاري، سره کـړې غوښه او وچه ډوډۍ راوړل شول، دسترخوان وغوړېده، ډوډۍ مو په ډېر خوند سره وخوړه، کله چې ډوډۍ خلاصه شوه، نـو د خـوب ښـاپېرۍ تیارې په کمین کې ناستې وې، ایرکنډېشن کوټه ښــه یخـه کـړې وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمپله مې په پښو راکارېله، د خوب وزرې رابانديې خورې شوې. یو وخت چې له خوبه پاڅېدم، څه کم دوه بجې وې، عزت الله خان هم پاڅېد، ژر لاړم تشناب ته اوبه مې پرځان تېرې کړې اودس مې وکړ اوبیا مې لمونځ وکړ. بیا (ناصر) ورور چې له فیسبوک او کمپیوټر سره زیات اشــنا دی، هغه ته مې وویل چې زما له ټلیفونه او ټېبلیټ څخه ټول عکسونه پــه منظم ډول میموري او فلش ته انتقال کړه، خپل کمپیوټر کې یــې هــم خوندي کړه، دا له کابله بیا تر دې دمه د ټولو عکسونو ټولګــه ده چــې شمېر یې په ترتیب سره سوونو بېلابېلو عکسونو ته رسېږي او زما د ټول یونلیک هغه مصوره او حیاتي برخه ده. هغه هم ټول تصــویرونه خپــل کمپیوټر ته انتقال کړل، هم یې میموري ته او هم یې فلش ته، نــو درې ځایه مو خوندي کړل او (۱۵) عکسونه مو ضیاءالرحمن ضیاء ورور ته په فیسبوک کې د نشر لپاره ورولېږل. دې کار ډېر وخت ونیــو، مــازیګر او ماښام لمونځ مو هم دلته وکړ او بیا مو له دوی څخه رخصت واخیست.

نورالله تر ټکسي پورې ورسولو او تر نږدې نیم ســاعت مزلــه وروســته عمارې ته راغلو، دلته نو زمونږ هوتخېلو عزیزانو حاجي خوشال، حاجي عزت الله او د هغوی تره (حاجي رسول) ماته ډوډۍ کړې وه، اصلاً یــې غرمه ډوډۍ کړې وه، خو هغه مــهال مونږ نه وو، زما برخه یې بیا ساتلې وه، په یوه غټه مجمه کې وریجې او دوه غټ غټ کبــان ایښــي وو، یــو مولوي صیب، حاجي عزت الله او ما ډوډۍ په ګډه وخوړه، دا مــهال نــو دوه نور ملګري، حاجي خان پاچا او یو بل ملګری زما لیدو ته راغلي وو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژر مو له حاجي صیب رسول څخه اجازه واخیسته، خپل اتاق ته راغلو، حاجي خان پاچا نو دومره جوسونه او خوراکي مواد له ځان سره راوړي وو، چې فکر یې کړی و، دلته په لسګونو کسان ناست وي، حاجي خان پاچا همدلته په حرم شریف کې ساختماني کارونه کوي، د اوبو ټانکرونه لري او دلته چې د ساختماني چارو لپاره څه اوبه په کارېږي، یوه برخـه یې دی راوړي، دی له خپله کاره راضي دی او وایي چې دا دلته اسانه کار دی، خان پاچا وویل، مدینې منورې ته به زه درسره لاړ شم، دولتي موټر**



**کې مه ځئ، زه مو خپل وړوکي ګاډي کې بیایم، په لاره کې به بېلابېـل ځایونه هم وګورو، ساعت به مو هم تېر شي، مدینه ډېر ښکلی ځای دی او دا به زما لپاره د خوشبختۍ خبره وي چې زه ستاسو عزت وکړم. زما به هم درسره ساعت تېر شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاجي خان پاچا ته مې وویـل د جمعــې ورځــې ســهار بــه کــه د خدای(ج) رضا وه، حرکت کوو، خو که کومه مهمه خبره پیدا شوه چې سفر یې ځنډاوه بیا به یو بل ته احوال ورکړو. همدې خبرې سره حاجي خان پاچا او ملګري یې د خپل استوګنځي او مونږ د خوب پر لوري لاړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پرله پسې طوافونه

د تلې (۱۶)مه، د اکتوبر(۸)مه او د ذوالحجې (۱۴)مه د چهار شنبې ورځ ده، د سهار لمونځ مې خپل اتاق کې وکړ، تېره ورځ مې له ځان سره پرېکړه وکړه چې د عمرو د طواف په ګډون به شل طوافونه پوره کـوم، شل طوافونه ځکه چې (شل) عدد په پښتو کـې د مکمـل شـي مانـا ورکوي، وايي دا دنيا چا نه ده شل کړې، خو پلانکـي شل کړه. سهار چای مـې په خپل اتاق کې وڅښـه، تقريباً څه باندې (۹) بجې حرم شـريف تـه داخـل شـوم، طـواف تـه لاړم، لومړی طواف مې تر لسـو بجو او لسو دقيقو پـورې خلاص کړ، ډېره ګرمـي او ډېر رش و، دا مې په پرلـه پسې دول ديارلسم طواف و. زما د ارادې له مخې (۷) طوافونه لا نور هم



(c) ketabton.com: The Digital Library



پاتې دي. نن مې نیت دی چې تر څلورو زیات طوافونه وکړم. سبا پنځه، د عمرې نیت هم لرم، یو طواف خو په هغې کې هم شــامل دی. ننني طواف هم خوندور و او هم سخت و، هڅوکي یې راته ښه نرم کړل، جامې مې تر ښېخه پوري لمدې شوې، تر طواف وروسته مې د خدای(ج) د کور (بیت الله شریف) دروازې ته مخامخ دوه رکعته لمونځ ادا کړ، دا طــواف مې خاص د خدای د رضا لپاره وکړ، بیا راغلم په مسجد الحرام کې مې زمزم اوبه وڅښلې، لږه دمه مې ووهله، جامې مــې لا هــم لمــدې دي، یوازې پنځه دقیقې نور هم کېنم او بیا ځم بل طواف ته!

اوس لس بجې او (۱۷) دقیقې دي. تقریباً (۲۲) دقیقې تر لسو تېرې



وې چې بیا طواف ته داخل شوم، دا ځل هم سور لمر او ګنه ګونه، ښه د مزې ګنه ګونه وه، خو ما بیا هم د ابراهیم د مقام او کعبې شریفې ترمنځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



طواف پیل کړ، دا ځای ډېر سخت او ګنه ګونه په کې زیاته وي، خو سړی ژر طواف کولای شي، په ګنه کې هم یوه دوره تر (۶-۸) دقیقو پورې چې تکره سړی وي، وخت نیسي، دا طواف مې درې څلور دقیقې کم یوولس بجې خلاص کړ، ډېر تږی وم، اول مې طواف لمونځ وکړ بیا مې یو ګیلاس اوبه وڅښلې او بل ګیلاس مې پر سر واړوه. پوره یوولس بجې بیا طواف ته داخل شوم، دا ځل مې ځان ښه ګړندی کړ (۲۵) کم دولس بجې ترې راووتلم اول مې د خدای کور ته مخامخ دوه رکعته طواف لمونځ وکړ، بیا مسجد الحرام ته راپورته شوم، یو ګیلاس اوبه مې وڅښلې او د ماسپښین لمانځه لپاره په مسجد کې انتظار کاږم اوس ساعت پنځه لس کم دولس بجې دي، په دې ډول مې نو نن د سهار له (۹) بجو څخه تر (۲۵) کم دولسو بجو پورې درې بشپړ طوافونه وکړل، الله(ج) دې په خپل دربار کې قبول او منظور کړي.

اوس ساعت (۲۵) کم یوه بجه ده د ماسپښین لمونځ مو په جماعت سره ادا کړ، جامې مې لا هماغسې لمدې خیشتې دي، که د مسجد کومې بلې یخې برخې ته لاړم، نو حتمي د مریضۍ احتمال شته، د مسجد دا برخه چې بیت اله شریف ته ډېره نږدې او مخامخ ده، ډېره یخه نه ده، دا برخه د پخوانۍ مسجد پاتې ودانۍ ده، چې په نوي پلان کې به یې نوې ودانۍ ځای نیسي. زړه مې دی چې د خلکو په کمېدو سره یوځل بیا طواف ته لاړ شم، ګرمي به وي، خو دا مهال د خلکو ګنه ګونه د پخوا په اندول کمه وي، نو که د خدای(ج) رضا وه یو ځل بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



طواف ته ځم، وږی نه یم، خو تږی یم، خو که یوځل یخ ایرکنډېشن تــه کېناستم د تېرو تجربو پر بنسټ فکر نه کوم بیا په اسانۍ پورته شم. دا مې د نن ورځې څلورم طواف دی پنځه لس کم یوه بجه طواف ته داخل شوم. ما ویل څه ګرمي ډېره ده خلک به کم وي خو چې ورغلــم نــه د سړیو کمی و، نه د مېرمنو او نه د ګرمیو بیا مې ځان د بیت الله شــریف نږدې ساحې ته ورسوه، د ابراهیم مقام او د کعبې خونې ترمنځ طــواف سخت دی خو دورې ژر ژر پوره کېږي. په هره دوره کې به مې د دسمال



څنډې ته یوه غوټه اچوله، اتلس دقیقې تر یوې تېرې وې، چې طواف مې بشپړ کړ، بیا مې د بیت الله شریف دروازې ته مخامخ د طواف له لیکــو بهر دوه رکعته لمونځ وکړ، بیا پاس مسجد ته راغلم، دلته مې لومړی دوه ګیلاسه زم زم اوبه وڅښلې بیا دلته په مسجد کې د یوې ستنې ترڅنګ کېناستم، ددې ځای هوا ډېره مناسبه وه، ډېره یخه نه وه، چــې ســړی ناراحت کړي، نو دلته یوه شېبه کېناستم چې خولې مې لږ وچې شي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لږه دمه راشي، خدای مهربانه دی چې د بل طواف توفیق راکړي. نن مې صحت ډېر ښه دی، زما عادت دی چې کله ډوډۍ وخورم د ماسپښــین لمونځ وکړم، نو خوب راته تیار په دروازه کې ولاړ وي، خو نن نــه ډوډۍ خورم او نه راته خوب راځي، خدای دې وکړي چې تــر نــن ماســخوتنه همداسې پاتې شم او خپل هغه طوافونه پوره کړم چې په ذهن کې مې د هغو تعهد کړی دی. اوس ساعت یوه نیمه بجه ده. لږه دمه راغله نو لــه دې څخه مې ګټه پورته کړه، د څو ملګرو تلېفونونو ته مې ځواب ووایه او همدارنګه کابل کې مې ډاکټر صیب خوشال روهي او ډاکټر صیب فیض محمد ځلاند ته زنګ وواهه او د هغوی د احوال پوښتنه مې وکړه، دغه راز مې هغوی ته وویل چې د هویت په تذکرو کې د افغان کلمې د لیکلو مخالفینو هڅه پیل کړي چې پر ډاکتر اشرف غني احمدزي باندې هم د**



**ملي هویت د مسخه کولو پلان عملي کړي. هغوی دواړو ژمنه وکړه چې موږ به ضرور دا مسله تعقیبوو، تر دې دمخه مې د سرحدونو چارو وزیر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ډاکتر اکرم خپلواک) او د مخابراتو وزارت مرستیال (ایمل مرجان) تــه هم په دې اړه جلا جلا ټلېفونونه کړي وو. اوس ساعت پنځه کم دوه بجې دي، یو ځل بیا طواف ته داخلېږم، خدای(ج) دې توفیق راکړي چــې دا طواف هم په خیر سره ترسره کړم.

پنځم طواف هم په خیر ترسره شو، دا طواف نو ډېر اسانه او خورا ارام و، تراوسه مې (۱۷) طوافه کړي، تر دې مې په کې اسانه طواف نه و کړی. له دوه رکعته لمانځه سره یې ټول نیم ساعت وخت ونیو، لمونځ مې بیا د



بیت الله شریف دروازې ته مخامخ ادا کړ، بیا مسجد الحرام ته راپورتــه شوم، ډېر تږی هم نه وم، خو یو ګیلاس اوبه مې د ثواب لپاره وڅښلې، په مسجد کې مې لږه دمه هم ووهله او کابل ته مې یو دوه ټلېفونونه هم وکړل، دلته په مسجد کې ټولو سره ټلېفونونه دي، ټلېفون څه کوې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو زیات شمېر په کې خوبونه هم کوي، ان د لمانځه په وخت کې هـم د ځینو ټلیفون چالان وي، اوس ساعت (۱۵) کم درې بجې دي، لس کـم درې بجې د نن ورځې د شپړم طواف لپاره ځم، خدای دې راته قبول او منظور کړي.

شپږم طواف مې هم په ډېرې اسانۍ او ښه ډول سرته ورسوه، (۲۵) دقیقو کې، د لمونځ زمینه هم په ابراهیم مقام کې مساعده شوه، دلتـه لس دولس تنه نور هم پر لمانځه ولاړ وو، د لمانځه او طواف ټول وخـت تقریباً (۲۹) دقیقې شو. ډېر په ارامۍ سره تصور مې هم نه کاوه، له طوافه رابهر شوم، اوس د طواف په وروستۍ لیکه، چې څو شېبې وړاندې بـه خلکو طواف کاوه او اوس یې د لمانځه لپاره لیکه جوړه کړې، همدلتـه ناست یم، مخ مې د خدای د کور پر لوري مخامخ د کعبې شـریفې پـر دروازه لګي، د مازیګر لمانځه لپاره صفونه ورو ورو په جوړېدو دي، که د مازیګر تر لمانځه وروسته قوت پاتې و، نو زړه مې دی چې تر ماښام پورې دوه طوافه نور هم وکړم. خدای دې توفیق راکړي، اوس درې نیمې بجې دي، دا شېبه خوښ پر دې یم چې خدای پاک ډېر عادل دی. درې طوافه یې له سهاره د ماسپښین تر لمانځه پورې او درې نور یې د ماسپښین له لمانځه څخه د مازیګر تر لمانځه پورې راته په نصیب کړل. د دواړو وخت یو شان و دواړو کې مې درې درې طوافه وکړل.

د مازیګر جمع مو وکړه او بیا د جنازې لمونځ، بیا مسجد ته راپورته شوم، دوه ګیلاسه اوبه مې وڅښلې، تونده مې ماته شوه، غواړم څلـور

(c) ketabton.com: The Digital Library




**بجې او لس دقیقې بېرته طواف ته کښته شم، خدای دې د نن ورځې دا اووم طواف هم راته اسانه او په خپل دربار کې قبول کړي. اوس پنځه کم څلور بجې دي. د مازیگر او ماښام ترمنځ په طواف کې ډېره گڼه گونـه وي. اووم طواف هم په خیر سره پای ته ورسېد، خو په ډېر تکلیف، داخل نو گڼه گونه دومره زیاته وه چې د نن ورځې په ټول بهیر کې نه وه، هوا ښه وه خو رش ډېر زیات و، هر چا زور واهه خو هر چا بې ځایه زور واهه ما چې د طواف ښه مهارت زده کړی و، د خلکو په مخالف جهت کې هېڅ وخت حرکت نه کوم، نو ډېر نه په تکلیف کېږم، خو هغه خلک چې پــه مخالف جهت کې حرکت کوي او یا غواړي ځان له طوافه وباسي هغوی هر چاته مزاحمت پېښوي. دې طواف بیا لمونځ او بیا تر مسجده راتــگ تقریباً (۵۰) دقیقې وخت ونیو، لمونځ مې بیا په ښه ځای کې ادا کړ، اوس چې دا یادښت لیکم درې دقیقې کم پنځه بجې دي، اوس یو ځــل بیــا طواف ته کښته کېږم، خدای دی ددې طواف توفیق هم راکړي. گڼه گونه تر حده تېره ده.**

**دا ځل نو دومره گڼه گونه وه چې د غنم دانه دې له پاسه اچولې وای، نو د چا خبره ځمکې ته به نه وه غورځېدلې، په ډېر مهارت په مایل ډول د طواف دې بلې نقطې ته مې داسې ځان برابر کړ چې د ابراهیم مقام او د بیت الله شریف ترمنځ شوم، دلته هم د کعبې دېوال تــه درې څلــور لیکې خلک راڅخه وړاندې وو، په همدې لیکو کې تاوېدم، گڼه گونه تر**

(c) ketabton.com: The Digital Library





حده زیاته وه، د ټولې پښې داسې خولې او ښویې شوې وې، لکه کب، د چا پر پښه چې به د بل چا پښه ولګېده، نو لکه د کب په شان به ښویې شوه، ټولو درودونه لوستل، د هېچا چاته پام نه و، هر سړی او هر څوک په خپل غم کې ډوب و، مېرمن له خپل خاوند سره تر پایه په یوځای نه شوه تللی، ټول شیطاني هوسونه مړه وو، هر سړي ته د خپلــې تېــرې ماضي نیمګړتیا او تېرې هېرې خاطرې یوه په بل پسې یادېږي، ټــول د ښېښې لپاره لاسونه پورته کوي، بسم الله، الله اکبر، اللهم ربنا او نــورې مسنونه دعاګانې وایي، د هر چا په لاس کې د دعاګانو واړه واړه کتابونه وي، دا اتم طواف مې په ډېر تکلیف خو په خیر سره خلاص کړ، طــواف لمونځ مې بیا د بیت الله شریف دروازې ته مخامخ د طواف د لیکو تر شا په داسې حال کې ادا کړ چې د کعبې شریفې پر دروازې مــې مخــامخ سترګې لګېدې.

تر لمانځه وروسته بېرته مسجد ته پورته شوم، خو دا ځل د مســجد یوه بله څنډه کې اوس لس دقیقې کمې شپږ بجې دي. دغه یادښت مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ولیکه، اوس د ماښام لمانځه ته لږ وخت پاتې دی، تر دې ځایه خو خدای دومره توان راکړ چې زما په تصور کې هم نه ګرځېده چې په یوه ورځ به**



**زه اته بشپړ طوافونه وکړم، کېدی شي ډېرو کمو خلکو پر یوه ورځ دومره طوافونه کړي وي، ممکن ډېرو تر دې ډېر کړي وي، خو په داسې ګرمۍ او ګڼه ګونه کې کېدی شي ډېر کمو خلکو دومره طوافونه کړي وي، هغـه هم د اکبر حج په موسم کې چې ویل کېږي سږ کال لږ تر لږه لـه بهــر، عربي هېوادونو او په خپله له سعودي څخه اته نیم میلیونه کسانو پـه رسمي او نارسمي ډول د حج په مراسمو کې ګډون کړی دی. سعودیان او په مجموع کې عرب چې کله هم د اکبر حج  خبره واوري نو بیا ښځه او نر، ځوانان او بوډاګان حج ته راروان وي، دوی ته څوک ممانعت هم نه شي کولای او همدارنګــه نــور عربــان او پــانګوال. ماغونـدې عــاجز**

(c) ketabton.com: The Digital Library





او کمزوري انسان ته چې په دې سخته ګرمۍ کې خدای(ج) پر یوه ورځ د اتو بشپړو طوافونو توان راکړ، نو هر سړی دې په دې پوه شي چــې د دې نړۍ تر شا د داسې یو ځواکمن ذات واک چلېږي چې د هــرې ذرې ذرې حساب او کتاب ورسره دی. دادی ساعت شپږ بجې شو، لږه شېبه وروسته د ماښام جمع تیارېږي.

دوه دقیقې تر شپږو تېرې وې چې د ماښام جمعه تیــاره شــوه، تــر جماعت وروسته د جنازې لمونځ و، تر هغه وروسته مو سنت ادا کــړل، ساعت شپږ نیمې بجې و، یوځل بیا مې طواف ته زړه وشو، ما ویل راځه خدای به انرژي درکړي، هډوکي دې هم تیار نرم شوي، راځــه یــو بــل طواف هم وکړه. همداسې د ملک عبدالعزیز باب له لارې بیــا ورداخــل شوم، په ډېر مایل ډول چې هېڅ چاسره مې ټکر هم رانغی، بیــا مــې د ابراهیم مقام او د کعبې شریفې ترمنځ ساحې ته ځان ورسوه. طواف مې پیل کړ، دا ځل مې بین الرکین هم ښکل کړل او هــم مــې پــرې خپــل

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لاسونه او تندی وموښل، ګنه ګوڼه ډېره وه، خو طواف مې په ښــه ډول ترسره کړ، تر طواف وروسته مې بیا د کعبې شریفې دروازې ته مخامخ د**



**طواف د وروستۍ لیکې ترڅنګ دوه رکعته لمونځ وکړ، تر هغه وروسته چې مې ساعت ته وکتل نو پنځه دقیقې تر اوو تېرې وې، یو طواف بــل هم کېده، خو لږ راته حیا راغله، ما ویل خدای پاک به وایي چې څه دې غوښتل تر هغه مې درته زیات توان درکړ، ته څه د نورو عبادت ته هــم پام وکړه، ګنه ګوڼه مه جوړوه، هغوی چې کمزوري، معیوب، یــا ســپین ږیري او معذور دي، هغوی به څه کوي، که نه صحت مــې ډېــر ښــه و، پرېمانه اوبه مې څښلې او پرېمانه خولې راڅخه تللې، تراوسه پورې پــه ټول عمر کې زه تر دې حده نه وم خولې شوی، نهه ځله طواف په یــوه ورځ کې. هغو خلکو چې د حج په داسې ګنه ګوڼه کې طواف کړی وي، هغوی پوهېږي، چې پر یوه ورځ نهه طوافونه اسانه کار نه دی. له سهاره بیا تر دې دمه مې جامې وچې نــه شــوې. پــه مســجد الحــرام کــې د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عبدالعزیز باب له لارې راووتم او د مسجدالحرام بلې نوې جوړې برخې ته چې زموږ عمارې ته هم ډېره نږدې او ښایسته یــې جــوړه کــړې وه، راغلم دلته د ښځینه وو او نارینه وو برخه جلا ده، ډېر لوکس او ډېر ارام دی. اوس ساعت پنځه ویشت کم اته بجې دي او د ماسخوتن تر لمانځه وروسته به په خیر سره خپلې عمارې ته ځم، نن له سهاره بیا تر دې دمه**



**هېڅوک راسره نه شته، هېڅ حاجي ملګری، یوازې خدای راسره ملګری دی او پر سر مې ولاړ دی، دا دی د ماسخوتن د لمانځه اذان یې هم وکړ، څو شېبې وروسته جمع تیارېږي او تر لمانځه وروسته به عمارې ته ځم، ټلېفون مې چارج خلاص کړی، کېدی شي ډېرو دوستانو زنګونه وهلــي وي او ځینې یې عمارې ته د لیدو په خاطر هم راغلي وي، خدای دې زما دا طوافونه د ټول افغان ولس او مسلمان امت د سوکالۍ لپاره په خپــل دربار کې قبول کړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سوکالۍ احساس او مېلمانه

کله چې د ماسخوتن تر لمانځه وروسته عمارې ته لاړم، لومړی مې ټلیفون چارج کې کېښود، بیا مې پرځان اوبه تېرې کړې، لږه دمه راغله، تر دې دمخه په لاره کې عبدالخبیر، چې څو ورځې دمخه راسره په مسجد الحرام کې اشنا شو او څو تنه نور حاجیان هم راسره ملګري شول، د عمارې مخې ته مې افغاني ډوډۍ ولیده، هغې ته ودرېدم، د عبدالخبیر ملګري ژر راته ډوډۍ راواخیستې، پیسې یې ورکړې، ښه د مزې سترې وم، عزت الله خان هم ټلیفون په اتاق کې پرې ایښی و، حیران وم چې ډوډۍ به څنګه راوړم، حاجي رضاخان چې هر وخت راځي، نو یو پنډ ډوډۍ، مېوه او جوسان ورسره وي، کله چې مې ټلیفون روښانه کړ، نو د هغه زنګ راغی، ویل یې در روان یم څه د خوراک دروړم؟ ویل یې یو بل ملګری حاجي هم راسره دی، ما ویل چې راتلې دلته یو پاکستانی هوټل دی، له هغه څخه چکن کړايي راوړه، دې کې لا څو دقیقې نه وې وتلې چې زموږ د لغمان څو تنه اوسېدونکي چې دلته له کلونو کلونو راهیسې په طایف کې اوسېږي زما لیدو ته راغلل، ښاغلی حاجي عبدالکافي او څلور تنه نور مشران ورسره وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر عبدالکافي او ملګرو وروسته یې عبدالخبیر اتاق ته راغــی، ډک پلاستیکونه یې لاسونو کې وو، چکن کړایي، تازه مېوه او جوسان یې بار کړي وو، مېلمنو او ما ورته ویل دا څه کوې؟ ده ویل ما فکر وکړ چې ته به ستړی یې نو ځکه مې دا راوړل، ما ویل ما خو چاته دمخه ویلي وو، مــا



عبدالخبیر او نورو مېلمنو ته د ډوډۍ ست وکړ، خو دوی ویل موږ ډوډۍ خوړلې ده، دا وخت حاجي رضا خان او ورســره ملګــری حــاجي یــې رانوتل، ډک پلاستیکونه، تازه مېوه، جوس پیپســي او کــی اف ســي (K.F.C) چرګان ورسره دي، ویل یې چکن کړایي مې پیدا نه کړه دا مې راوړل، ما ویل هغه ده چکن کړایي هم یو ملګري راوړې ده. دوی یوه هم ډوډۍ ونه خوړه موږ مولوي صیب عبیدالله نیازی او مولوي حسیب الله راوغوښتل هغوی مړی نیمه وخوړه خو ما (یون) او عزت الله ځانونه ښه ماړه کړل. بیا له طایف څخه راغلو حاجي صــیب عبــدالکافي او نــورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملګرو اجازه واخيسته او ما ته يې بلنه راکړه چې طايف ته لاړ شم او له ټولو هېوادوالو سره هلته وګورم، هغوی وويل ستا راتګ حتمـــي دی او زموږ د زړونو د خوشالۍ سبب ګرځي، دا زموږ لپــاره ويــاړ دی چـــې د مسافرۍ په ژوند کې خپل يو داسې مشر ګورو چې له کلونو کلونو مــو ارمان و. زما دومره ټلوېزيوني مرکې او خبرې د حاجي عبدالکافي په ياد وې چې زما په خپله هم هغومره ياد کې نه دي پاتې، حاجي عبدالکافي وويل د ژوندون ټلوېزيون ليدل اوس زموږ داسې عادت ګرځېدلی لکه يو عملي سړی چې نسوار اچوي او چې يو وخت يې ونه ګورو نو فکــر مــو خراب وي، همدا ژوندون ټلوېزيون دی چې به مجموع کې ټول افغانان او په تېره بيا ويده پښتانه يې راويښ کړل، حاجي عبدالکافي وويــل، پــه طايف کې ډېر افغانان او په تېره بيا د لغمان خلک اوسېږي، ټول درته په طمع دي، نو هيله کوو چې ضرور راشې. د مدينې منورې لاره هــم لــه همدې ځايه تېرېږي، غرمه به دې موږ سره وي، بيا بــه پــه خيــر ســره مدينې منورې ته ځې، ما ويل که کارونه مو د جمعې تر ورځې پورې جوړ شي نو ضرور به درځو. بيا هغوی خدای پاماني وکړه، زه چې دا مـــهال ښه ستړی وم، د خوب پر لوري لاړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وروستۍ عمره

د میزان (۱۷)مه، دذوالحجې (۱۵)مــه او د اکتــوبر (۹)مــه نېټــه د پنجشنبې ورځ وه، سهار وختي پاڅېدم، اودس مې وکړ، زه او عزت الله د سهار لمانځه لپاره حرم شریف ته لاړو، تر لمانځه وروسته بېرته اتاق ته راغلو، استراحت مو وکړ، تر استراحت وروسته مو چای وڅښه دا مــهال نو، لس بجې شوې، بیا مې د انډیوالانو ټلېفونونو ته ځواب ورکړ، کابــل




کې ژوندون ټلوېزیون ته مې زنګ وواهه، یوه لنډه مرکه مې وکړه د ملي هویت او په برېښنایي تذکرو د اسلام او افغان کلمو د لیکلو په باب مې مرکه وکړه او د عمرې پلان مو ترتیب کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ماسپښین لمونځ او عمره: اودس مو وکړ یوولس نیمې بجې

له اتاقه رابهر شو، حاجي صیب نیازمحمد ناصري چې دا مــهال مدینې منورې ته زموږ د سفر د برابرولو پر چارو مصروف دی او په بعثه کې کار کوي، هغه راته احرام په اساسي ډول وتړه او بیا د حرم شریف پر لوري وخوځېدو، تیک د لمانځه وخت ته ورسېدو، د ماسپښین تــر لمانځــه وروسته د بي بي عایشې جومات تــه لاړو، دا جومــات چــې د (تنعــیم مسجد) په نامه هم یادېږي د مسجدالحرام په اوه کیلو مترۍ کې د مکې



مکرمې او مدینې منورې پر سړک چې د هجرت ســړک پــه نامــه هــم مشهور دی، پروت دی او هغه ځای دی چې رسول الله صلی الله علیــه وسلم بي بي عایشې ته هدایت وکړ چې له همدغه ځایه عمرې ته احرام وتړي، اوس حاجیان او هغه کسان چې په مکــه مکرمــه کــې دي، لــه همدغه ځایه احرام تړي. احرام تړلو لپاره بل ځای (جعرانه) جومات دی، دا مسجد د مکې مکرمې او طایف ترمنځ پروت او مکې مکرمې ته نږدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم چې کلــه د مجاهــدینو تــرمنځ د (هوازن) غنیمتونه وېشل، نو همدلته مېشت شو، همدارنګه کله چې له (حنین) غزا څخه راوګرځېد، نو همدلته ته کوز شو او له همدغه ځایــه یې د عمرې لپاره احرام وتړه. دا مسجد د مکې مکرمې اوسېدونکو لپاره د احرام تړلو ښه ځای دی. ټکسیوان راڅخه تر بي بي عایشې جوماتــه پورې (۳۰) ریاله واخیستل، موږ درې تنه وو، حاجي عزت الله او حاجي مولوي حسیب الله هم راسره وو. په احرام کې بي بي عایشې جومات ته



لاړو، د عمرې نیت له همدې ځایه کېږي. لومړی مو هلته په تشنابونو کې غسل وکړ، ښه وو پر تشنابونو ډېره ګڼه ګوڼه نه وه، بیا د بي بي عایشې جومات ته لاړو، لومړی مو دوه رکعته تحیة المسجد لمونځ وکړ او بیا مو دوه رکعته عمرې لمونځ ادا کړ، تر هغه وروسته ما د افغانیت، اسلامیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



او انسانيت لپاره د خپلې دې عمرې نيت وتړه، له الله رب العزت څخـه مې وغوښتل چې ددغو درېو سترو ارزښتونو د لوړاوي، ساتنې، پالنې او جګونې لپاره زما دغه عمره قبوله کړي او ماته يې اسانه کړي. تر هغـه وروسته همغه ټکسيوان چې موږ يې بي بي عايشې مسجد ته رســولي وو، بېرته په (۳۰) رياله حرم شريف ته راوستلو، د ملک فهد دروازې له لارې مسجدالحرام او بيا طواف ته داخل شو. مـا حـاجي عــزت الله او حاجي مولوي حسيب الله ته وويل چې د کعبې شريفې ترمنځ دېوال ته نږدې به طواف کوو، دا ځای لږ سخت دی خو طواف ژر خلاصېږي، هملته درې واړه ورغلو، زه مخکې او دوی راپسې وو، عزت الله زما پــر اوږو او مولوي صيب د هغه پر اوږو لاسونه ايښي وو، لومړی دور مو په دې ډول بشپړ کړ، د دويم دور په پای کې حاجي عزت الله وويل، زه مخکې کېږم، تا خلک په عزابوي، ته زما پر اوږو لاسونه کېږده، عزت الله چې د خدای په فضل وجود کې ښه دی، دمخه شو ما يې پر اوږو لاسونه کېښــودل، ګڼه ګوڼه ډېره وه، خو دی لکه زغروال ټانک دمخه او مـا يــې پــر اوږو لاسونه ايښي وو، پړاوونه مو په ښه ډول ترسره کړل، په (۳۵) دقيقو کې مو ټولې دورې پوره کړې، خو مولوي صيب حسيب الله راڅخه په نيمايي کې لادرکه شوی و، تر طواف وروسته ما او عزت الله خــان دوه رکعتــه لمونځ ادا کړ، د کعبې شريفې دروازې ته مخامخ، بيا د صفا غونډې مخې ته راغلو، وعده مو داسې وه چې که هر يو د طواف پر وخت لادرکه شو، وروستی ادرس به مو دا ځای وي او بيا به ددې مقدسو ځـايونو شــوط

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوره کوو. لږه شېبه وروسته مولوي صيب حسيب الله هم زنګ وواهــه موږ خپل ادرس ورکړ، پنځه دقيقې وروسته هغه هم راورسېد، له جېبه يې کتاب راوويست له صفا غونډۍ څخه مو په مسنونو دعاګانو خپــل عبادت پيل کړ. طبيعي خبره ده چې د حج د ټولو مراسمو او به هر ځای کې هغه اړونده دعا د ټولو حاجيانو په حافظه کــې نــه وي د بېلابېلــو هېوادونو حاجيانو په ځانګړو پــاڼو او وړو وړو کتــابګوټو کــې مســنونه دعاګانې چاپ کړې وي، ځينو سره يې د هغوی د خپلو ژبو ژباړه هم مل وي، اکثره د کاغذ له مخې دعاګانې لولي. نو زموږ مولوي صــيب هــم د واړه کتاب له مخې دعاګانې لوستلې، ددې لپاره چې راتلونکو حــاجي**



**صاحبانو ته مو يوه څه اسانتيا برابره کړې وي، ښه بــه وي چــې دلتــه مسنونه دعاګانې او د هغو اړوند ځايونه راوړو چې په کومو ځايونو کې د کومو دعاګانو لوستل په کار دي:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تلبیه:**

**لبَیک اللِهمِ لبَیک، لبَیک لا شریک لک لبَیک، إنِ الحمد و النِعمــة لک و الملک، لا شریک لک.**

**جومات ته د ننوتو دعا:**

**اللهم افتح لی ابواب رحمتک.**

**د طواف د پیل دعا:**

**بسمِ اللّه واللّهُ أكْبَرُ اللّهُمَّ إيماناً بِكَ، وَ تَصْديقاً بِكِتابِـكَ، وَ وَفـاءً بِعَهْـدِكَ، و إتِّباعَاً لِسُنَّةِ نَبِيِّكَ مُحَمَّدٍ عليه الصَّلاة وَ السَّلام.**

**د یماني رکن دعا:**

**الهم انی اسئلک العفو والعافیة فی الدنیا والاخره، ربنا اتنا فی الدنیا حسنة و فی الاخره حسنه و قنا عذاب النار.**

**د طواف پر مهال دعا:**

**سبحان الله والحمد لله و لا اله الا الله والله اکبر، ولا حول ولا قوه الا بالله.**

**د رحمت میزاب دعا:**

**اللهم اظلنی تحت ظلک یوماً لا ظل الا ظلک، اللهم اسقنی بکــاس محمد صلی الله علیه وسلم شربة هنیة و مرینة لا اظما بعدها ابدا.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د زمزم اوبو د څښلو پرمهال دعا:**

**اللهم انی اسئلک علماً نافعاً ورزقاً واسعاً وشفاءً من کل داء.**

**د صفا او مروه دعا:**

**ان الصفا والمروه من شعائرالله، فمن حج البیت اوعتمر فـلا جنـاح علیه ان یطوف بهما، ومن تطوع خیراً فان الله شاکر علیم. لا الــه الا الله وحده لاشریک له، له الملک و له الحمد و هو علی کل شئ قدیر.**

**د صفا او مروه ترمنځ دعا:**

**رب اغفرلی و ارحم، انک انت الاعز الاکرم.**

**د شیطان ویشتلو دعا:**

**بسم الله الله اکبر، رغما لشیطان و رضا للرحمن، اللهم اجعله حجـاً مبروراً و ذنباً مغفوراً و سعیاً مشکوراً.**

**د عرفات میدان دعا:**

**اللهم لک الحمد کاالذی نقول و خیراً مما نقول، اللهم لک صلاتی و نسکی و محیای و مماتی و الیک ما بي و لــک رب تراثــی، اللهــم انــی اعوذبک من عذاب القبر، و سوسة الصدر و شتات الامــر، اللهــم انــی اعوذبک من شر ما تجیئ به الریح، اللهم انی اسئلک من خیر ما سالک به عیدک ونبیک و اغوذبک من شر ما استعاذ به نبیــک، ربنــا ظلمنــا انفسنا و ان لم تغفرلنا و ترحمنا لنکونن من الخسرین، ربنا اتنا فی الدنیا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حسنة و فی الاخره حسنة و قنا عذاب النار. ( سل ځله) . (لا اله الا الله وحده لاشریک له، له الملک و له الحمد و هو علی کل شئ قدیر). ( قل هوالله احد (سل ځله). (پر حضرت محمد(ص) درود شریف ویل.)**

**اوه پړاوونه مو ووهل، هر کله چې به د صفا او مروه غونـډیو سـرته ورسېدو، مولوي صیب حسیب الله بـه دعاګـانې لوسـتلې او مـوږ بـه تکرارولې، ان یو نیم بل شخص به هم دا دعاګانې تکرارولې، په دې ډول مو خپلې سعې (هڅې) پوره کړې.**

**کله چې د وروستي (اووم) شوط لپاره د مروه غونډۍ سرته ورسېدو، دعا مو وکړه، نو یوه دقیقه وروسته د مازیګر اذان وشو، لږه شېبه چـې تېره شوه، لمونځ مو په جماعت سره ادا کړ او بیا مو د جنازې لمونځ وکړ، له همدې ځایه د عمارې پر لوري په دولتي موټر کې راغلـو، دوی دواړو وویل، موږ خو یو بل ته سر خریو ما ویل زه خو ځم سلماني تـه، زه لاړم سلماني ته، ګنه ګونه نه وه، سلماني ته کېناستم همغه سلماني ته چې د اختر پر لومړۍ ورځ یې د شیطانانو تر ویشتلو وروسته ماته سر په شـل ریاله خریلی وو، نن یې په لس ریاله کل کړ، اتاق ته راغلم، دوی لا خپل سرونه نه وو خریلي، تشناب ته ننوتم، بیا مې پر ځان اوبه تېـرې کـړې اودس مې وکړ او ځان مې له احرامه خلاص کړ، جامې مې واغوستې، لږ وروسته حاجي عزت الله او مولوي صیب حسیب الله دواړه سر خرییلي رابښکاره شول او هغوی هم ځان له احرامه خلاص کړ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لړه دمه مو وکړه، یــخچال کې چې مې له راتګ سره سم لړه انرژي او جوس ایښي وو، تیار څښاک ته برابر وو، ما او عزت الله هغه وڅښــل او بېرته د ماښام د لمانځه لپاره د حرم پر لوري راغلو. د ماښام لمونځ مو د صفا او مروه غونډې ترمنځ په دویم پوړ کې ادا کړ او بیا تر دې وروسته د



حرم شریف د نوې ودانۍ پر لوري وخوځېدو، چې دلته اکثره وخت موږ د ماسخوتن لمونځ ادا کوو او بیا د عمارې پر لوري پلي ځو. د ماښــام تــر لمانځه وروسته نیازمحمد ناصري ورور راته زنګ وواهه چې د وزیر صیب په همکارۍ مو درته د سفر امکانات انشاالله برابر کړل، د اکتوبر پر (۲۲) به مو له مدینې څخه پرواز وي. په (فلایټ دوبۍ) الوتکه کې، سبا پورې به انشاالله د سفر کاغذونه درته راوړم، مدینې ته به لاړ شئ.

خپل (۴۰) لمونځه به پوره کړئ او بیا به له همغه ځایه کابل ته ځئ، دا نو ډېر ښه زېری و، چې له څو ورځې راهیسې مې ورته انتظار درلود او هــر چاتــه دا ســهولت نــه برابرېــږي. د ماښــام تــر لمانځــه

(c) ketabton.com: The Digital Library





وروسته مې په مسجد کې دغه یادښت ولیکه، دادی اوس ساعت (۲۵) کمې اته بجې دي د ماسخوتن د لمانځه اذان یې وکړ، څو شېبې وروست جمع تیارېږي او تر جماعت وروسته به بیا عمارې ته ځو او پاتې کارونـه به تعقیبوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حج او اوقافو وزارت له وزیر سره ملاقات

کله چې د ماسخوتن له جماعته خلاص شو، نو د عمارې پر لوري مو حرکت وکړ، نږدې شلو دقیقو کې ورسېدو، خان پاچا ورور راتــه زنــګ وواهه چې ډوډۍ ګوره رانه وړې، زه ډوډۍ راوړم، کلــه چـــې اتــاق تــه ورسېدو، نو خان پاچا، بیا له یو پنډ ډوډۍ او ډول ډول جوســونو ســره اتاق ته راننوت، نیازمحمد ورور چې مې تېره شپه کتلی و او هغه وزیــر صیب (یوسف نیازي) ته ویلي وو چې نن شپه به زه (یون) ورځم، نو هغه هم راته په طمع و، خو ویل، زه خپله درپسې درځم او ځــان ســره دې راولم، هغه ته مې زنګ وواهه، ویل یې دادی پنځه لسو دقیقــو کـــې در رسېږم ما ویل ډوډۍ به دلته موږ سره خورې، هغه ویل نه وزیر صــیب درته په طمع دی، ما هغه ته ویلي، ما ورته وویل د وزیر صیب مېلمانــه زیات دي، هغه سره به چای وڅښو، نیازمحمد ورور چې راغی، نو ډېــر ټینګ شو، چې ډوډۍ هلته خورو، خو موږ مجبور کړ، چې همدلته ډوډۍ وخوري، ساعت نهه نیمې بجې وې چې د وزیر صیب د استوګنځي پــر لوري مو، چې خپله د بعثې په پنځم منزل کې و، حرکت وکړ، خو مخکې تر حرکته عبدالکافي ورور چې په سعودي کې د یو زیات شمېر لغمانیو له مخورو سره دی او ماته یې وار دمخه ویلي وو، چې قومي مشــرانو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپین ږیرو سره به یو ځانګړی ملاقات کـوو او هغـوی بـه ماتـه یـوه مېلمستیا کوي، خو دا مېلمستیا به په طایف کې وي. حاجي عبدالکافي وویل چې موږ اوس دا ښه وګڼله چې سپین ږیري د شنبې پر ورځ ټول (۷۰-۸۰) تنه دلته مکې مکرمې ته راشي، دلته به په یوه پارک کې کېنو، د سړک غاړې ته خپله افغاني ډوډۍ او کبابونه به تیار کړو او همدلته به مجلس وکړو. ما ورته وویل دا دی د بعثې مشر دلته ناست دی، نن شپه له وزیر صیب سره غږېږم، چې مدینې ته زموږ د تګ دقیق وخت معلوم شي، بیا تر هغه وروسته به له تاسې سره د مجلس وخت او ځای ټـاکو، خو تر هغه دمخه تاسو سپین ږیرو او مشرانو ته تکلیف مه ورکـوئ، ده



ویل خیر نو اوس ماته اجازه راکړه چې طایف کې د وطنـدارانو واده دی که لاړ نه شم، نو ټول به خفه شي، ضرور باید لاړ شم، عبدالکافي ورور له موږ څخه اجازه واخیسته، ډوډۍ یې هم ونه خوړه، ویل یې واده ته ځان رسوم او موږ د وزیر صیب  پر لوري لاړو. حاجي ډاکتر اسدالله او خـان

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پاچا هم راسره ملګري شول، هلته چې ورسېدو، نو نیازمحمد ناصــري ورور پنځم پوړ ته پورته کړو، د وزیر صیب (یوسف نیازي) د کوټې مخې ته لکه د طالبانو د وخت دفتر د رنګارنګ څپلیو ګڼه ګونه وه، کله چې ورننوتم نو ګڼ شمېر خلک ناست وو، سترِي مشي ته راپورته شول، په ولسي جرګه کې د هرات وکیله اغلې (جامي) خور هم په کې وه، د وزیر صیب په ګډون مو ټولو سره سترِي مشي وکــړل، وزیــر صــیب د ګڼــو کاغذونو منځ کې ناست و، هرې خواته لســتونه او کاغذونــه پراتــه وو، قلمونه د بالښت لپاسه ایښي وو، دا مــهال نور مېلمانه له اتاقه ووتل، د وزیر صیب په ګډون موږ څو تنه پاتې شو، ما لومړی له وزیر صــیب نــه مننه وکړه چې کارونه یې ښه او منظم روان دي، د افغانستان بیرغ هــر چېرته رپېږي او خوند خو دا کوي چې د افغانستان بیرغونه د پاکستان تر بیرغونو ډېر او هر چېرته لوړ وو. وزیر صیب زما له راتګ څخه مننــه وکړه او ویې ویل کاشکې چې ټول ستا غوندې حاجیان وای چې موږ نه په عذابوي، نه یې په ډوډۍ جنجال وي، نه په موټر او نه په نورو شیانو، وزیر صیب وویل، تاسو د حج اوسنۍ پروسې ته له مثبت نظــر کتلــي، ځکه درته ښه ښــکاري، خــو اوس هــم لا ډېــر کارونــه نیمګــړي دي، خدای(ج) دې موږ ته توفیق راکړي چې د حاجیانو خدمت وکړو، ما ورته وویل، موږ ته هغو حاجیانو، چې په تېرو کلونو کې راغلي وو، کیسه کوله چې سږ د تېر کــال او تېر کال د نورو کلونو په تناسب ښه وو. وزیر صیب سره څو دقیقې نور هم ناست وو، بیا مو ترې اجازه واخیسته هغه چای**

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ډوډۍ ته ډېر تېنګ شو، ما ویل ډوډۍ مو خوړلې، له هغه مـو اجـازه واخیسته، بیا لاندې د نیازمحمد ناصري دفتر ته راکښته شو، هغه پـه دویم پوړ کې و، نیازمحمد ناصري اصـلاً د لغمـان د کرغیـو ولسـوالۍ اوسېدونکی دی او دلته په سعودي کې د یو پوهنتون محصـل دی او د افغان حجاجو مشري هم پر غاړه لري، ډېر ویښ، تکړه، دلته ښه بلد او د رانه ضمیر او فکر څښتن دی. په لاره کې یې راته وویل چې ماته د ملي تحریک غړیتوب راکړئ، زما په شان دلته په سـلګونو افغانـان د ملـي تحریک له تګلارې سره تېنګه علاقه لري، زه به دلته یوه څانګـه هـم پرانیزم او نور ډېر کار به وکړم. ما ورڅخه مننه وکړه، امیري بیـا زمـا د



ټکټ او پاسپورت پوښتنه وکړه، هغوی ورته وویل، سبا (۸) بجې باید د (۵۸) مکتب (دفتر) مخې ته راشي، له دې ځایه یې موږ خپل موټر کې وړو، خو پاسپورت دوی ته لاس کې نه ورکوو، نیازمحمد ورور څخه مـو خدای پاماني واخیسته، ساعت تقریباً د شپې (۱۱) بجې وې. دا مـهال

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې خان پاچا ته وویل طایف پورې څومره لاره ده؟ هغه وویل (۹۰) کیلو متره شاوخوا ده، ما ویل ما خو عبدالکافي ورور سره د شنبې پــر ورځ وعده ایښې ده چې د لغمان او ځینو نورو سیمو مشرانو سره به دلته په مکه معظمه کې ګورم، دا خو چې زموږ سفر رالنډ شو، هغه خلک خفه نه شي، که ته ستړی نه یې نو راځه چې هلته لاړ شو، څو سپین ږیري به په همدې شپه کې وګورو ښښنه به ترې وغواړو چې له موږ څخه خفــه نــه شي. هغه وویل تر دې ښه خبره چېرته ده، ما باندې هسې هم د شــپې خوب نه راځي، راځه چې ځو په خیر سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د طایف پر لوري

له خان پاچا سره تر مشورې وروسته مې فوراً حاجي عبدالکافي ته زنګ وواهه، هغه ته مې وویل که ستا خوښه وي موږ به حرکت وکړو، هلته خو تیار واده هم دی، کېدی شي یو څو تنو سپین ږیرو سره وګورو، ښښنه ترې وغواړو چې راڅخه خفه نه شي، شنبې ته موږ نه پاتې کېږو، سفر مو دغسې لنډ شو، عبدالکافي سخت خفه شو، هغه وویل د شنبې پر ورځ به دې موږ مدینې منورې ته بوځو، له بعثې او مکتب څخه بېخي تېر شه، ما ورته وویل چې پاسپورتونه هغوی سره دي او هلته د عمارې غم هم دوی خوري هېڅ بله چاره نه شته، بیا عبدالکافي وویل زه لا هم



تراوسه د واده ځای ته نه یم رسېدلی، خو چې داسې ده نو راځئ همدا د شپې حرکت وکړئ. خان پاچا ته مو وویل چې نور کـش ورکـړه. هغـه اکسلېټر ته پښه ورکړه، لومړی مو حاجي ډاکتر اسدالله د خپلې عمارې مخې ته کښته کړ او بیا مو د طایف پر لوري حرکت کې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان پاچا لاره کې وویل زما یو خپلوان ترورزی (احمدشاه) هم ستا د لیدو سخت ارمانجن دی، څنگه دې خوښه ده چې هغه له ځان سره واخلو، تیار په لاره کې دی، ساعت به مو تېر شي د هغه ارمان به هم پوره شي، بیا خو تا نه شي لیدی، ما ویل بېخي سمه ده، هغه ته یې زنگ وواهه، تر شل دقیقې مزله وروسته هلته ورسېدو، هغه نو تیار په دروازه کې ولاړ و، تر سترې مشي وروسته یې ټینگ ست وکړ، ما ویل ناوخته دی ځان رسوو، درې واړه موټر ته پورته شو، په لاره کې مو ښه گپ ولگاوه، احمدشاه او خان پاچا دواړه ښه د گپ ځوانان وو، دواړو دلته



ډېر وخت تېر کړی، کاروبار یې هم ښه دی. په عربي ژبه او د عربو په کلتور هم ډېر ښه پوهېږي. احمدشاه د عربو کلتور په باب ډېرې جالبې او اوږدې خبرې وکړې، د عربو بېلابېل قبایل یې موږ ته معرفي کړل. تر یو ساعت مزله وروسته (طایف) ته ورسېدو، د طایف ښار خورا ښایسته و، د سعودي د نورو ښارونو په انډول ډېر شین او ښه تفریحي ښار و،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېوې هم په کې ډېرې کېږي، هوا يې هم يخه ده، هلته د ښار پــه يــوه څنډه کې حاجي عبدالكافي او څو تنه نور ملګري تيار د سړک پر ســر موږ ته منتظر وو. کله چې مو وليدل نو ډېر زيات خوشاله شول حــاجي عبدالكافي موږ سره په موټر کې پورته شو، ځکه چې لاره ورته معلومه وه، تر لس پنځه لس دقيقې مزله وروسته هدف ته ورسېدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لغمانیو واده

دلته نو د یو لغماني ځوان واده و. دلته نږدې (۳۵۰) کــوره لغمــاني اوسېږي، ټول په اتفاق دي، دا هغه لغماني دي چې له نږدې دېرشو کلونو راهیسې دلته په طایف کې اوسي. کله چې د واده ځای کې کښېته شو،



ټول واړه، زاړه او ځوانان زموږ هرکلي ته ولاړ وو، پــر مــا وړو او تنکیــو ځوانانو ګلان شیندل او لویانو غېږه راکوله، هر چا خپــل ټلېفونونــه د عکاسۍ لپاره نیولي وو، حاجي عبدالکافي په دې ترڅ کې یو یو مخــور هم رامعرفي کاوه. (شاه یا زوم) هم په لیکه کې ولاړ و، ستړي مشي مې ورسره وکړه او مبارکي مې ورکړه. تر ګرم هرکلي وروسته یــې بیــا یــو صالون ته پورته کړو چې نږدې دوه سوه تنه به په کې ځایېــدل، هلتــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کېناستو، ځوانان او ماشومان مخې ته ولاړ وو او مشران ما سره څنگ ته کېناستل. ټولو ډېره خوشالي وکړه، هر يو ويل دا زموږ لپاره يو خوب او خيال و، په ټلوېزيون کې مو ډېر ليدلی يې، خبرې مو دې ډېرې خوښې شوي، خو دا مو ارمان و چې کله به دې له نږدې وگورو، د لغمــان ددې ځای مشرانو ويل، موږ دلته يوه شورا لرو، ټول په اتفاق يو، يو بل ســره مرسته او همکاري کوو، په غم او درد کې يو بل سره شريک يو، شکر د**



**خدای فضل دی هر څه ښه ډېر دي، خو د وطــن درد او مســاپري مــو کړوي. دا مــهال ډوډۍ راوړل شوه، ما ورته وويل ما خو ډوډۍ خوړلې، دوی ويل چېرې کېږي چې ډوډۍ ونه خورې، موږ هم خوړلې، تاسره يې بيا خورو، پنځه لس شل کسان بيا ډوډۍ ته کېناستو، د وريجو، غوښو او تازه مېوو پرېماني وه، دلته دا رواج دی چې وريجې په لويو مجموعو کې باسي، لپاسه پرې غوښې ږدي، وچه ډوډۍ ورسره نه ږدي، خو افغانــان بيا پر دې سربېره وچه ډوډۍ هم ورسره راوړي، ډوډۍ مــو پــه خونــد**

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخوړه، مېوه مو هم لپاسه پسې وخوړه، انگور، کېنو او نوره مېوه، خـو دې منځ منځ کې مو خبرې هم کولې او ځوانانو خپل خپل عکسونه هم اخیستل. تر ډوډۍ وروسته بیا ټول راټول شول، ترڅنگ مې کېناستل، د ټولو تندي ورین وو، په شونډو او مخونو کې یې د خندا احسـاس لـه ورایه ښکارېده یو به غږ کړ، دا ټول دې گوره وطنداران دي، یو نیم پـه کې زموږ د نورو قومونو دي، هغوی هم واده ته راغلـي دي، دلتـه ډېـر خلک راغلي وو. کله چې نور خلک لاړل، نو دا خلک پاتې وو، په دې کې



ستا احوال راغی چې راځې، نو دا خلک ځای پرځای دلته پاتې شول او دوه ساعته یې درته انتظار وویست، هغه نور خلک که خبر شي چې ته راغلی یې او موږ نه دي خبر کړي، نو سخت به خفه شـي، مـوږ خپلـه پنځوس شپېته کسه درتلو، خو دا چې ته راغلې پر موږ دې ډېر غټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



احسان واچوه، بیا ما ورته وویل ما خو په لغمان کې هم په یو ځایي ډول دومره لغماني نه دي لیدلي، له هغه ځایه خو دلته ډېر زیات یاست، دوی وویل مونږ دلته نږدې څلور سوه کوره یو، ټول په اتفاق یو، مشران ســره کېني یوه خبره غوټه کړي، کشران یې مني، نورو خلکو سره هم مرسته کوو، ما ویل څه خدای مو په اتفاق لره، لغماني خو په لغمان کې اتفاق نه لري، دا چې تر وطن بهر یې لري دا هم غنیمت او د شکر ځای دی. مــا ورته وویل لغماني په لغمان کې سره وران دي، خو تر درونټې اخــوا پــه جلال اباد او تر ماهیپر دېخوا په کابل کې سره جوړ دي، دوی هم سخت وخندل بیا لږه شېبه وروسته حاجي صیب عبدالکافي ورته وویل، یون صیب دادی په خیر سره ځي، تاسې که څه غوښتنې لرئ، یا مشکلات نو



دی یې په خپله هم او د ټلوېزیون له لارې هم حکومت ته رسولای شي، دې وخت کې یو شمېر سپین ږیرو همغــه خبــره تکــرار کــړه چــې د پاسپورټونو په باب وه، که څه هم دوی وویل چې دوی دلته ډېر مشکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نه لري، خو نور افغانان اکثره د پاسپورت او اقامو مشکل لري، بیا یو مشر پوښتنه وکړه چې دا نوی حکومت به څه وکړي او کـه نـه دا بـه هـم همغسې وي لکه د کرزي صیب! ما ورته ورته وویل یو څه امیدشته، یـو څه به تر هغه ښه وي، خو داسې تقاضا هم باید ونه شـي او یـا داسـې هیله، چې ټول مشکلات به حل کړي، په ځینو برخو کې لکه د فساد د مخنیوي د ځینو خاصو ډلو د واک کمښت، اداري اصلاحاتو او ځینو نورو برخو کې به یو څه مثبت تغیر راشي، خو نه په ډېره غټه کچه، بیا هم یو څه امید په کار دی. ددې ځای (طایف) مېشتو افغانانو بیا دلته په طایف کې د یوه افغاني مکتب د جوړېدو غوښتنه هم وکړه چې درسـونه یـې**



**باید په پښتو او دري ژبو وي، دوی وویل زموږ ماشومان ټـول اوس پـه عربي خبرې کوي، په عربي ژبه لیک لوست کولای شي، خو په پښتو او**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دري ژبو يې ليک لوست نه دی زده. ځوانانو وويل په ټلوېزيون کې بايد مورې ته د هندي پروګرامونو او ډرامو پرځای پښتو ډرامې نشر شي، مورې په هندي کلتور څه کوو؟ دوی د نورو خپرونو د زياتونې غوښـــتنه هــم وکړه. دلته له افغان اوسېدونکو سره خبرې دومره اوږدې او خوندورې وې، چې يو وخت مې ساعت ته کتل، څو دقيقې درېو ته پاتې وې، لــه دوی څخه مې په ډېر تکليف اجازه واخيسته، په پای کې ټولو يادګاري عکسونه واخيستل، د (شاه) په ګډون ټول راسره تر موټره پورې بدرګه راغلل، له مينې او خلوصه ډکې شېبې وې او ټولو ويل د بيا ليدو په هيله دې يو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وداعي طواف

**د میزان (۱۸)مه د ذوالحجې (۱۶)مه او د اکتوبر (۱۰)مه نېټه د جمعې مبارکه ورځ ده. کله چې مو د لغمانیو د خوښۍ له محفله حرکت وکړ او عمومي سړک ته برابر شو، نو ساعت پوره درې بجې و، خان پاچا اکسیلټر ته پښه ورکړه. په لاره کې احمدشاه د حضرت پیغمبر(ص) د تکلیفونو او کړاوونو خورا زیاتې کیسې وکړې، د طایف پر لاره یې یوې ډبرې ته هم اشاره وکړه چې مشرکینو پر پیغمبر(ص) د قران کریم د تلاوت پر مهال له لوړې راخوشې کړې وه، خو د خدای(ج) په حکمت او مرسته ده مبارک ته تر رارسېدو دمخه ځای پرځای ولاړه پاتې شوه. طایف ته ځکه طایف وایي چې له دې ځایه د خدای تعالی پیغمبر د عمرې او طواف احرام تړلی و او مکې معظمې کې د خدای کور ته تللی دی.**

**موږ تر یو ساعت مزله وروسته مکې معظمې ته ورسېدو، خان پاچا خورا تېز راغی، څلور بجې شاوخوا وې چې حرم شریف ته نږدې راورسېدو، په لاره کې مو اودسونه تازه کړل. حرم شریف ته نږدې یوه دوکان کې مو (۱۲۰) جوړې تسبې واخیستې چې د خدای دکور پر دېواله یې د تبرک لپاره وموښم، دا نو د خدای له کوره زموږ وروستۍ لیدنه ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



تسبې مو واخیستې، موټر مو په سختۍ یوځای کې ودراوه، حرم شریف ته چې داخل شو، نو یوازې یو څو دقیقې جماعت ته پاتې وې، نیت مو وکړ او د مروه او صفا غونډیو ترمنځ مو د سهار لمونځ په جماعت سره ادا کړ. بیا د ملک فهد باب له لارې طواف ته داخل شو. زما څپلۍ احمدشاه واخیستې، له خپلو څپلیو سره یې په پلاستیک کې تاوې کړې. تسبې نیمې خان پاچا او نیمې احمدشاه واخیستې، هغوی وویل مورږ یې د بین الرکنینو ترمنځ موښو، ته خپل طواف ته ځه.

ما په ډېر مهارت سره په داسې حال کې چې تر انتها زیاته ګڼه ګوڼه وه، د ابراهیم مقام او بیت الله شریف ترمنځ طواف پیل کړ، دومره ګڼه ګوڼه وه چې له نوکانو نیولې تر وېښتانو پورې ټول په



خولو کې ډوب شوم، اخري او وروستی وارې طواف و، د خدای له کوره د خدای پامانۍ طواف، داسې خدای پاماني چې بیا به دې امید وي یا نه وي چې دلته به راځې او د خدای پر کور به دې سترګې لګي، اوه ځله د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای له کوره تاو شوم، د طواف پرمــهال مې یوځل بیا خپله تېره ماضي له نظره تېره کړه، ګناهونه، خطاګانې، تېروتنې، غلطۍ، هوسونه او نورو هر څه مې په ذهن کې لکه د ټلوېزیون د پردې په شان تېر شول، خپل ټول مړي او ژوندي را په یاد شــول، مــور، پــلار، خوینــدې، خپلــوان، انډیوالان، دوستان، لاسنیونکي او نور چې د عمر په ټول بهیر کې یــې راسره مرسته کړې وه، یو یو مې په سترګو کې وګرځېدل، بین الرکنین ته خدای ورسولم، دواړه لاسونه مې پرې کېښودل، د ژړا بهیر رامات شو، تندی مې پرې وموښود، لاسونه مې پر مخ راکاږل او نور نو د خلکو څپو ورو ورو د طواف له ساحې څخه څنډې ته کړم، لکه یو نېزه وړی چې د سېلاب څپې یې ورو ورو څنډې ته پورې باسي. کله چې د طواف له لیکو ووتلم، نو د خدای د کور دروازې ته مخامخ مې دوه رکعته لمونځ ادا کړ. خپل ځان، مور و پلار خپلو ټولو دوستانو، افغانانو، مسلمانانو او انسانانو ته مې د زړه له تله دعا وکړه، یو ځل بیا مې د لوی خدای(ج) له دربــار څخه وغوښتل چې خدایه زما خپل وطن خپلــو طبیعــي حــدودو تــه ورسوې، داسې یو هېواد راته جوړ کړې او د داسې یو هېواد جوړولو وس راکړې چې لکه ستا د دین په شان د تور او سپین، قوم او قبیلې، لوړ او ټیټ، غریب او بډای، امیر او فقیر توپیر په کې نه وي، توپیر یې یوازې په تقوا او لیاقت پورې اړه ولري، نه پر چا ظلم وکړي او نه څوک ظلــم تــه پرېږدي، په داسې حال کې چې سترګې مې د خدای پر کور خښې کړې وې، ورو ورو مې اجازه واخیسته، یو ځل بیا مــې پــر ســترګو لاســونه کېښودل، سترګې مې له اوښکو ډکې وې، اوښکې پر سپینو ږېرو تویې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې، د تندي خوله هم پر مرمر ډېرو وڅڅېده، په خپلو اوښکو کې مې د خپلې ماضي د ګناهونو تصویر ولید، انسان څومره کمزوری دی، انسان څومره بدرنګ دی، د خدای د رحمت په هیله مې ورو ورو ځان خروجي دروازې ته برابر کړ، خپل ملګري مې خان پاچـا او احمدشـاه چـې دا



مـهال راته د صفا غونډۍ ترمخه منتظر وو، د ټلېفون په لیکه پیدا کړل، دا ځای خورا یخ دی، هغو ته مې وویل چې له کومې دروازې وځـو؟ مـا وداعي طواف کړی، هغوی وویل پروا نه کوي، له هرې دروازې چې وځو، ما ویل په کتابونو کې راغلي چې له سلام باب یا دروازې څخه به ووځې، خان پاچا دا مـهال له یوه شیخ څخه پوښتنه وکړه هغه وویل له هـرې دروازې چې وځې پروا نه کوي، زړه کې مې وسواس و، مولـوي صـیب عبیدالله نیازي ته مې زنګ وواهه، ما وویل وداعي طواف مې خلاص کړ، له کومې دروازې بهر شم، هغه وویل ماشاالله مبارک! له هرې دروازې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وځې پروا نه کوي، که باب سلام وي که بله، درې واړه له مسجد الحرام څخه راووتلو، تر راوتو وروسته مې خان پاچا ته وویل چې ددې دروازې پوښتنه دې ونه کړه چې کومه یوه ده، هغه وویل همدا باب السلام ده،**



**که نه! ما ویل نه به وي، ده وویل ده، زه خو همدلته کار کوم، همـــدغې دروازې ته باب السلام وایي، باب السلام لویه دروازه ده چې بیا څو نورې دروازې هم د هغې مربوطې دي، همداسې د ملک فهـــد او عبـــدالعزیز دروازې هم دي چې هغه هم څو څو نورې دروازې لري، نو دا ټول بـــاب السلام دی، لاس یې ورته ونیو، دې سره مې زړه نور هم خوشاله شو.**

**د حرم شریف له ساحې چې ووتو، نو اتاق ته لاړو، ساعت د سهار (۷) بجې وې او ښه د مزې ستړي وو، په تېرو څلورو یشتو ساعتو کې مـــې سترګه هم نه ده پټه کړې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سهار چای او د مکتب پر لوري

سهار اوه بجې دي، خان پاچا او احمدشاه ډېر شله شول چې چــای څښنو او بیا به د مکتب پر لوري ځو، احمدشاه وویل دلته ډېر ښه (لری) پخېږي، خان پاچا به ورپسې لاړ شي، ما ویل هېڅ چای نه څښنو چې لږه دمه وکړو، دا تر هر څه ښه ده، خــو خــان پاچــا لاړ لــري پســې، ډېــر ګرځېدلی و، لری یې نه و پیدا کړی، بیا یې ځیګر راوړ، چای مو وڅښه،




تقریباً (۸) بجې او پنځه لس دقیقې شوې، غوټې مــو تیــارې کــړې، دا مــهال مې وحیدالله مومند ته زنګ وواهه، هغه ته مې وویل موږ ســره خپل ګاډی شته که دا مکتب (دفتر) راپسې پاسپورتونه راولېږي، موږ به

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې خپل ګاډي کې مدينې ته لاړ شو. هغه وويل (۹) بجې راشئ، زه بــه خپله درسره مکتب (دفتر) ته لاړ شم، نهه بجې هلته بعثې ته ورغلــو، مومند صيب تيار د دروازې په خوله کې منتظر و، څو نور هېوادوال هم هلته زموږ ليدو ته راغلي وو، مومند صيب راسره د مکتب پر لوري لاړ، هلته چې ورسېدو مسول کس سره مو تماس ونيو، هغــه وويــل هــېڅ امکان نه لري چې تاسې خپل موټر کې لاړشئ، دلته لوی ګاډي منتظــر دي، تاسې سره يو مسول کس ځي، هلته مو ګــاډي تــه پورتــه کــوي،




پاسپورتونه درېور ته ورکوي، تاسې ته يې نه شو درکولای. مــوږ وويــل سمه ده پاسپورتونه دې هغه سره وي، موږ به تر هغه دمخه لاړ شو، پــه هغه موټر کې به نه ځو، ويل يې نه دا هم نه کېږي، موږ وويل بيکونه به هغه موټر کې کېږدو او موږ به خپل موټر کې لاړ شو، ويل يې دا هم نــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي، مورږ ویل نو څه کېږي؟ ده ویل تاسې کولای شئ زمورږ له خوا پــه یوه وړوکي موټر کې لاړ شئ، خو تاسې به د هغه کرایه ورکوئ. مورږ وویل څو ده کرایه یې، ویل یې (۶۳۰) ریاله، مورږ وویل کمېږي نه، ده وویل نه، مورږ ټوکه وکړه، ورته مې وویل داسې نه کېږي چې دوه سوه ریاله تاسو ته درکړو او نور مورږ په خپل ګاډي کې لاړ شو، ویل یې پاســپورتونه لــه عرب پرته بل چاته نه ورکوو، دا مــهال یو افغان هم هلته ناست و، دوی سره یې کار کاوه، هغه هم ډېر بحث ورسره وکړ، خو خبره یې ونه منله، اخر هغه افغان ماته وویل زه دا څو کاله کېږي دوی سره کــار کــوم، دا



خلک د چا خبرې ته ارزښت نه ورکوي، دا واړه مــوټر چــې دوی پــرې ټینګار کوي، دا ټول دوی سره قرارداد لري، په ګټه کې ورسره شــریک دي، نو ځکه دوی حتمي هغوی ته کار پیدا کوي. تر ډېر بحث وروسته مو پرېکړه پر دې وکړه چې لاړ به شو، د موټرو تمځي ته، هلته به وګورو که غټ ګاډی تیار و او مسترح و، هغه کې به لاړ شو او که نه بیا به وړوکــي موټر ونیسو. زه او مومند صیب له دې افغان سره په موټر کې کېناستو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یو بل تور پوټکی چې زموږ پاسپورتونه ورسره وو او د همدې مکتب (دفتر) کارکوونکی و، هغه په مخکې سیټ کې کېناست، افغان ته مې وویل ته ده ته ووایه چې تاته به څه شیریني درکړو یو دوه سوه ریاله، موږ پرېږده، چې خپل موټر کې لاړ شو، هغه ورته په شفر کې وویل، دده زړه او ساړه دواړه کېدل، خو د تائید سر یې ونه خوځوه، افغان ماته وویل دده زړه کېږي، خو ډارېږي، موږ وویل څه دوه سوه یې نور، خو دی بیا هم وډار شو، تر لس پنځه لس دقیقو مزله وروسته هډې تــه ورســېدو، لوی او واړه موټر دواړه ولاړ دي.لوی مــوټر کــې د بېلابېلــو هېوادونــو**



**حاجیان خېږي، هر څوک چې موږ ته ورته کیس لري هغوی ته منتظـر دي، دا چې څه وخت به ډکېږي ددې نو پته نه لګي. خبره مــو پــه دې راټوله کړه چې وړوکي ګاډي کــې ځــو، (کیمــري) ټکســي مــوټر یــې راوغوښت، هغه تور پوټکي زموږ کاغذونه او پاسپورتونه هغه ته ورکړل، څو دقیقو کې موټر تیار شو، خپل بیکونه او سامان مو د خان پاچــا لــه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



موتره راکښته او دې کې مو ځای پرځای کړل، له مومند صیب، خان پاچا او احمدشاه څخه مو خدای پاماني واخیسته، هغوی ته مو وویــل چــې تاسې لاړ شئ استراحت وکړئ، هغوی ټینګار کاوه چې موږ هم درپسې درځو ما وویل نه! همدومره بس دی، هغوی ټکسیوان ته وویل چې دوی په ژبه نه پوهېږي، هر چېرې چې دوی غوښتل ته به ودرېږې، هغه لږ لږ په انګرېزي هم پوهېده، ما ویل څه مشکل حلېږي. له دوی څخــه مــو رخصت واخیست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مدينې منورې پر لوري

د مدينې ليدل مې د زړه يو ارمان و، حاجي عزت الله د موټر مخکې سيټ او زه په شاتني کې کېناستم، ساعت لس نيمې بجې دي، د جمعې مبارکې ورځ ده، موټر د مکې معظمې له ښاره په راوتو شو، ما تصور کاوه چې د مکې مکرمې او مدينې منورې ترمنځ پر غځېدلې لاره به لکــه د نورې نړۍ د سړکونو په شان شنې ونې وي، واړه ښکلي ښارګوټي به وي،



د تفريح لپاره به ښه ښه تمځايونه وي او نور تصورات مې وو، خو څومره چې د مکې معظمې له حدودو وتلو، سپېره دښته، وچ غرونه چې له تورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او سرو ډبرو او کاڼو ډک وو، نور څه نه لیدل کېدل، شنه ونه خو به کله کله داسې راښکاره شوه، لکه د پېغلې پر تندي چې خال رامعلــومېږي، سړکونه یې که څه هم نوي جوړ شوي وو، خو د اروپا له سړکونو سره یې سیالي نه شوه کولای، سره له دې چې سعودي عربستان تــر اروپــایي هېوادونو زیاتې پیسې لري، خو شرقي کلتور او عامه ذهنیــت لا هــم د سړکونو پر فضا خور دی.

دا چې په څلورویشت ساعتونو کې مې یوه شېبه هم سترګه نــه وه پټه کړې، نو کله به مې سترګه پټه کړه او چې بېرته به مې رڼه کړه نو بیا



به همغه غر و او هماغه کروبوړی، هر څومره چې مې چورت واهه چې دا دښتې، غرونه رغونه به څنګه اباد شي، فکر مې ورته کار نه کاوه، ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې نه اوبه وې او نه يې خاورې. د ابادۍ او زرغونتيا اساسـي عناصـر درلودل، په ټول سعودي کې رواني اوبه نه شته، پخوا چې کومې سيمې شنې وې هغه هم د څاه ګانو د اوبو په واسطه شنې شوې وې او اوس خو د سعودي حکومت له کلونو راهيسې د بحر تروې اوبه تصفيه کوي، هم يې څښاک ته برابروي او هم يې کرنې ته، نو په دې وجه اوبه په سعودي کې تر هر څه قيمته دي، دوه ليتره تېل په يو ريـال، خو يو وړوکی بوتل اوبه هم په يو ريـال دي، په دې ډول نو تېل تر اوبو څو برابره ارزانه دي. نو ځکه خو په سعودي کې د يوه شنه بوټي پالل اسـانه خبـره نـه ده، څومره چې د سعودي حکومت وسه کېږي تر هغې يې زياتې پيسې پرې لګولې دي، خو بيا هم شنه ځايونه ډېر کم دي. په غرونو او رغونو کـې ځينې طبيعي وړې ونې او بوټي شته چې هغه هم ډېر سپېره برېښي، له مکې مکرمې څخه تر مدينې منورې پورې ټوله لاره تقريباً يو شـان ده. دوه دوه نيم ساعته مزل به مو کړی وي چې ډرېور مـوټر يوځـای کـې ودراوه، سـوپر مارکېـټ و، لاړم د څښـاک او خـوراک يـو څـه مـې راواخيستل، حاجي عزت الله خان ښه دروند خوب وکړ، هغه هم تېـره شپه په طواف کې تېره کړې وه، ښه ستړی و، ډرېور سره په ژبه هم نــه پوهېده، نو په داسې يو حالت کې خوب تر ټولو ښه لاره وه. کله چې مې د څښاک او خوراک شيان موټر کې کېښودل، نو ډرېور ته مــې وويـل: صلواه صلواه (لمونځ لمونځ) هغه اشاره وکړه ويل يې هغه مســجد دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(مسجد عبدالستار قاسم ایمني) نومی مسجد و، اودس مې وکړ، بیا دې مسجد ته ورغلم دوه رکعته مسافرانه لمونځ مې ادا کړ، عزت الله خــان هم راغی او لمونځ یې وکړ، بیا مو د مدینې منورې پر لوري حرکت وکړ. په لاره کې مو مدینې منورې ته د پاتې واټن لوحې کتلې، فاصله ورو ورو کمېدله، مورږ لا خپله لاره وهله چې احمدشاه راته زنګ وواهه، مورږ هم درپسې یو، حرکت مو وکړ، ما ویل ولې مو دا کار وکړ، ده وویل طاقت مو



ونه شو، داسې یو یونیم سل کیلــومتره شــاته درپســې روان یــو، مــا احمدشاه ته وویل تاسې دواړو خو خوب هم نه دی کړی، هسې نه چې موټر چېرته ټکر نه کړئ، هغه وویل مــورږ بــل ډېــور هــم ځــان ســره راخیستی، هغه هم ستا ډېر علاقمند و، نو ځکه مــو هغــه ځــان ســره راواخیست، مورږ وویل ته په لاره کې ډرېوري کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس خان پاچا ویده شو، د هغه خوب چې پوره شو بیا زه ویده کېږم، هملته به انشاالله سره وګورو. موږ د مدینې ښار ته ورننوتي شو، څومره چې نږدې کېدلو، شنې ونې او شنه ساحه زیاتېدله، د ښار څنډو ته چې ور داخل شو، نو رښتیا هم د یوه پاک ښار ځرکونه یې ورکول، د ښار منځ ته لاړو، اباد ښار، پراخه سړکونه او تر مناسب حده شنه ساحه، بیا د افغان حاجیانو مرکز ته ورسېدو، درې بجې وې، ډرېور موږ ته خپل



پاسپورتونه راکړل او له موږ څخه یې لاسلیک واخیسته، ما ویل چې دا مو دومره په اسانۍ راکول، نو دومره په تکلیف مو ولې کړو. بعثې ته ننوتو، پاس دویم پوړ ته وختو، هلته مامورین ناست وو، سوړ چلند یې وکړ، مکتوب لرئ موږ وویل دغه دی، ده وویل نه دا نه دی چا معرفي کړي یاست؟ موږ وویل مرکز څخه نیازمحمد ورور، نه وروره موږ ته مکتوب په کار دی. زه پوه شوم چې دا میرزا قلمي کوي، هلته مخامخ روغ لېونی (د زابل امنیه قومندان) هم ناست دی، ټلېفون کې خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کوي کله چې يې ماته پام شو، نو راجګ شو سټړي مشي يې وکړل، بیا مې عطامحمد ته چې له مکې معظمې څخه نیازمحمد ناصري سره په تماس کې و، ټلېفون وکړ، هغه وویل ته دلته اوسه زه ډېر ژر درځم. په څو دقیقو کې راغی، له هغه سره په موټر کې کېناستو، روغ لېونی هم راسره موټر کې کېناست روغ لېوني ته مې د بل روغ لېوني (وزیر محمد روغ لېوني) کیسه وکړه.**

**هغه کیسه داسې وه چې یو شپه ظاهر الکوزي مونږ مېلمانه کړي وو، نور ګڼ شمېر مخور کسان يې هم دعوت کړي وو، وزیرمحمد روغ لېونی هم هلته و، هغه له نږدې شلو کلونو راهیسې له الکوزي شرکت سره کار کوي، ددې شرکت منشي دی. وزیرمحمد روغ لېوني راته وویل، یون صیب دلته یوڅوک پیداشوی د لوګر د امنیې قومندان دی، ځانته روغ لېونی وایي، والله که یا روغ لېونی وي یا بل څه، روغ لېونی خو زه یم، تاته خو معلومه ده چې اصلي روغ لېونی زه یم، له دې تېرو پنځو ویشتو کلونو مې دا تخلص دی او شل شعري مجموعې مې هم چاپ شوي، په هغو ټولو کې زه روغ لېونی یم. اوس یون صیب ته راته ووایه چې زه څه وکړم ځارنوالۍ ته عریضه وکړم که کوم بل څه وکړم؟ ما به مجلس کې ناستو خلکو د (د وزیرمحمد روغ لېوني) په ګډون ټولو ته وویل: مونږ هم عجیبه خلک یو، په نورو ځایونو کې د خلکو پر کورونو، مالونو او ملکیتونو جنجال او دعوه وي، زمونږ پر لېونتوب دعوه ده، یو وایي زه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېونی یم، بل وایي زه یم، دې سره ټولو وخندل او بیا مو نور د لېونتوب بحث بند کړ. غلام سخي روغ لېوني ته مې دا کیسه وکـړه، هغـه هـم سخت وخندل، هغه لا په کې دا هم وویل، څو ورځې وړاندې مورږ اشرف غني دعوت کړي وو، هلته چا ورتـه زه معرفـي کـړم چـې دا د زابـل قومندان غلام سخي روغ لېونی دی، هغه چې زه ولیدم لاس یې راکړ په خندا شو راته یې وویل، ته روغ لېونی یې که زه؟ که زما لېونتـوب دې ولید خپل به دې له یاده وځي. دا وخت نو ماته نوره هم خندا راغله، زړه کې مې وویل خدای دې د هغه ولس پر حال ورحمېږي، چې شاعر یـې هم روغ لېونی وي، قومندان یې هم او ولسمشر یې هم. هر یو یې د پوره روغ لېونتوب دعوه کوي، له داسې یو حالت څخه دې خـدای دا ولـس ساتي. دا خبرې مې ټولې په زړه کې تاوې راتاوې شوې، تر یو څو دقیقو مزله وروسته، عطامحمد لومړی روغ لېونی کښته کړ او بیـا یـې مـورږ (البدیي الیاس) عمارې ته راورسولو، له رسپشن (هرکلیوال) څخه یـې کیلي واخیسته (۹) پوړ کې (۱۳) کوټې ته ورغلو چې مسلسله شـمېره یې (۹۱۳) وه. پنځه چپرکټه په کې ایښي وو، اتاق که څه هم لوی و، خو دپنځو تنو د استوګنې لپاره مناسب نه و. ما عطامحمد ته وویل که دلته درې تنه نور راشي سخته به نه شي؟ هغه وویل، نور څوک نـه راځـي، تاسې دواړه به په کې اوسېږئ، هر څه مشکل چې و، ماته بـه ټلېفـون وکړئ! څو شېبې وروسته هغه له مورږ څخه اجـازه واخیسـته. مـازیګر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نږدې و لومړی زه تشناب ته لاړم، پرځان مې اوبه تېرې کړې اودس مې وکړ، بیا عزت الله خان لاړ اودس یې وکړ، هغه ته مې وویل لومړی به لاړ شو، لمونځ به وکړو او بیا به خپل کالي سره منظم کړو. کله چې له عمارې څخه کښته شو، نو ډلې ډلې خلک د حرم شریف پر لوري روان دي، موږ ورسره حرکت وکړ، درې څلور دقیقو کې ورسېدو، پر نبوي مسجد مو سترګې ولګېدې، ډېر ښه یې جوړکړی په ښکلې فضا او ارام رنګ د سړي زړه خلاصوي او فکر ته سکون ورکوي. د مازیګر لمونځ مو ادا کړ، بېرته اتاق ته راغلو، کالي مو سره منظم کړل، لږه دمه مو ووهله د**



**ماښام لمونځ مو په همدې ترتیب سره ادا کړ، د ماښام او ماسخوتن ترمنځ مو خپلو دوستانو او اندیوالانو ته ټلېفونونه وکړل، بیا د ماسخوتن لمانځه ته لاړو، تر لمانځه وروسته احمدشاه زنګ وواهه چې موقعیت مو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



چېرته دی؟ مورې وویلې لمونځ مو خلاص کړی، اوس پنځم نمبر تشـــناب سره چې باب شارع السلام ته مخامخ موقعیت لري ولاړ یو، هغــوی ژر راغلل پیدا یې کړو، احمدشاه، خان پاچا او یــو بــل ډوډۍ پســـې لاړل، ډوډۍ یې راوړه، ډوډۍ مو وخوړه. ځان مو خوب ته برابروه، دا مهال یو شمېر ملګري راغلل، د شپې (۱۲) بجې وې چې څلور تنــه نــور ځــوان ملګري له (حایل) څخه سترې ستومانه زمورې لیدو ته راغلل، هغوی سره څو شېبې کېناستو تر هغه دمخه څو تنه نور ملګري وو. کله چې مېلمانه رخصت شول، نو مورې ته خوب تیار منتظر وو، د خوب غېږې ته مو ځان وسپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حضرت رسول الله(ص) مبارکه روضه

د تلې یا میزان (۱۹)مه د ذوالحجې (۱۷) او د اکتــوبر (۱۱) نېټــه، د شنبې ورځ سهار وختي لومړی لمانځه ته لاړو، د سهار لمونځ مو په نبوي مسجد کې په جماعت سره ادا کړ، بیا بېرته اتاق ته راغلو، لږه دمه مــو ووهله، سهار اته بجې خان پاچا چای تیار کړ، چېرته یې (لری) پیدا کړی



و، هغه یې ښه خوندور په هوټلي پوخ کړی و، دلته یې راوړ، سهار چای مو په خوند وڅښه، بیا د حضرت رسول الله مبارکې روضې ته لاړو، هلته مو دوه رکعته لمونځ ادا کــړ، د هغــه ممبــر مخــې تــه چــې حضــرت

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیغمبر(ص) به پرې کېناسته، دوه رکعته لمونځ ډېر ثواب لري، دلته مې دوه رکعته لمونځ ادا کړ، دا داسې ځای دی چې یو مسلمان ویلای شي چې ما په جنت کې لمونځ ادا کړ، ددې ځای خاوره د جنت خــاوره ده، دې ته (ریاض الجنت) وایي. یوازې څو ګامه وړانــدې چــپ لاس تــه د حضرت رسول الله مبارک مقبره ده، چې د پنجرې تــر شــا یــې د وړې کړکۍ له لارې سرې لیدلای شي، همدلته خلک د خدای رسول ته سلام



کوي، ښي لاس ته په دېوال کې یوه کړکۍ ښکاري چې د (وحې کړکۍ) په نامه یادېږي، له همدې کړکۍ څخه به پر حضرت رســول اکــرم(ص) وحې نازلېدله، د حضرت محمد(ص) د مقبرې تر څنګ د حضرت ابوبکر صدیق(رض) او بیــا د حضــرت عمــر(رض) مقبــرې دي، د دنیــا ټــول مسلمانان لومړی د خدای رسول ته سلام کوي او بیا د هغه یارانو ته او

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداسې په خروجي درازه وځي، د حج په شپو ورځو کې دلته ډېره ګڼه ګوڼه وي. خلک ژر ژر دوه رکعته لمونځ کوي او بیا د خپل پیغمبر سلام او احترام کوي او همداسې له روضې مبارکې څخه خارجېږي. ســاعت تقریباً لس بجې وې چې موږ له روضې مبارکې څخه بهر شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د احد غر او د شهیدانو زیارت

کله چې له روضې مبارکې څخه ووتو، نو احد غره تــه لاړو. هلتــه د احد د شهیدانو هدیره ده، دا سیمه اوس د(شهدا) په نامه يادېږي. د احد غزا کې مسلمانان د غنیمت د مال د وېش له امله د کفارو له حملې سره مخامخ شول، سره له دې چې پیغمبر(ص) مسلمانانو ته ویلي وو، چــې تاسې به دغه ځای کې کېنئ، دښمن به ځارئ خو هغــوی د غنیمــت د مال د وېش په فکر کې شول له بلې خوا پرې کفارو حمله وکړه او ډېــر



مسلمانان یې شهیدان کړل. د رسول الله(ص) مبــارک غــاښ هــم پــه همدې غزا کې شهید شوی و. د حضرت محمد(ص) تره (امیرحمزه) هم همدلته شهید شوی، د حضرت امیرحمزه(رض) تر مقبرې ګرد چاپېره یو دېوال او کټاره راتاو دي. سرې د کټارې د سوریو لــه لارې د هغــه قبــر کتلای شي، پر قبر یې یوازې څو ډبرې ایښې دي، د یو ستر انسان ډېــر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساده قبر چې له ځمکې سره اوار ښکاري، که دا ډبرې نه وای، نو فکر نه کېده چې دلته به قبر وي، په زرګونو مسلمانان هره ورځ دلته راځي او د دې ځای لیدنه کوي، په څو ژبو یې مخې ته لوحې ولاړې دي، د عربو دا یو دود دی چې د قبر قدر نه کوي، د حضرت امیر حمزه قبر هم له ځمکې سره اوار دی. تر دې وروسته بیا د احد غونډۍ ته وختو، هغه ځای مو وکوت چې د حضرت پیغمبر(ص) له خوا مسلمانانو ته ویل شوي



وو چې دلته کېنئ او څارنه کوئ، دا مهال ځینې یې هلته پاتې وو او ځینې نور یې د غنیمت مال پسې کښته شوي وو چې کفارو پرې حمله وکړه او هغوی یې شهیدان کړل. غرونه په ژړا شول حرکت یې وکړ، هلته یو غر دی له نورو غرو راجلا شوی، داسې یو روایت دی چې دا د خدای(ج) د رسول د ملاتړ لپاره وخوځېد.

د احد له غره څخه څه کم دولس بجې راروان شو. خان پاچا او احمدشاه ته مو ویل چې موږ خو لمانځه ته ځو تاسو نور ځئ خپلو دندو ته موږ سره ډېر په تکلیفېږئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغوی مو په زوره رخصت کړل او موږ د ماسپښين لمانځه ته لاړو. تر لمانځه وروسته اتاق ته راغلو او لږ استراحت مو وکړ، مازيگر او ماښـــام لمونځونه مو بيا په جماعت سره ادا کړل، د ماسخوتن تر لمانځه وروسته بيا يو زيات شمېر انډيوالان زموږ اتاق ته د ليدو په خاطر راغلل، دلته د بعثې مشر او نورو انډيوالانو، ټولو سره د شپې تر ناوخته پورې ناست وو. پر بېلابېلو مسايلو مو خبرې وکړې او بيا دوی رخصت شول.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مدينې منورې څو نور سپېڅلي او تاريخي ځايونه

**د تلې يا ميزان (۲۰)مه د ذوالحجې (۱۸)مه او د اکتوبر (۱۲)مه نېټه د يکشنبې ورځ ده. سهار لمونځ مو ادا کړ، کله چې له جماعت څخه اتاق**



**راغلو ته نو لږ خوب مو وکړ، (۸) بجې وې چې زمـوږ د لغمـان يـو تـن ملګری چې دلته له يو عرب سره کار کوي (عمران) ټلېفون وکړ، زه درته لاندې منتظر يم، اودسونه مو وکړل، ورکښته شو، هغه سره مـوټر کـې کېناستو، لومړی د (قبا) مسجد ته لاړو، قبا مسجد کې دوه رکعته لمونځ د يوې عمرې په اندازه ثواب لري، د خدای رسول به هره شنبه هلته ته**

(c) ketabton.com: The Digital Library



او لمونځ به يې کاوه. قبا هغه مسجد دی چې نبي علیه السلام يې په جوړولو کې په خپله برخه اخیستې ده او جبرائیل علیه السلام د هغه قبله ټاکلې ده، له همدې امله ددې مسجد په باب روایت دی چې بنسټ يې په تقوا ایښودل شوی لکه چې په قران عظیم الشان کې راغلي دي: {لَمَسْجِدٌ أُسِّسَ عَلَى التَّقْوَى مِنْ أَوَّلِ يَوْمٍ أَحَقُّ أَنْ تَقُومَ فِيهِ} همدا راز له سهیل بن احنف څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ((څوک چې خپل کور ، خپله خونه کې اودس وکړي، قبا مسجد ته راشي او دوه رکعته لمونځ وکړي د یوې عمرې په اندازه ثواب او اجر به ورته ورکول کېږي.)) هلته لاړو، دوه رکعته لمونځ مو ادا کړ. پر قبا مسجد سربېره (میقات) یا (ذوالحلیفه) مسجد هم د تاریخي جوماتونو له جملې څخه دی، دې مسجد ته تر هغه وروسته (شجره مسجد) هم وایي. دې ته ځکه شجره مسجد وایي چې دا تر هغې ونې لاندې جوړ شوی، چې نبي علیه السلام ورلاندې ناست و او لمونځ يې کړی دی. دا مسجد د ذوالحلیفه په نامه هم یادېږي ځکه چې دا سیمه ذوالحلیفه نومېږي. څرنګه چې دغه مسجد د مدینې خلکو لپاره میقات دی، نو د میقات مسجد په نامه هم یادېږي. پر میقات مسجد سربېره جمعه مسجد هم تاریخي مسجد دی چې له قبا مسجد څخه (۵۰۰) متره واټن لري. رسول الله صلی الله علیه وسلم له قبا څخه مدینې منورې ته د راتلو پرمهال د جمعې لمونځ همدلته ترسره کړی دی، وروسته بیا صحابه کرامو همدې ځای کې مسجد جوړ کړ، دا مسجد په نورو نومونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هم یاد شوی دی، لکه وادي مسجد. په قبا جومــات کــې تــر لمانځــه وروسته (قبلتین) جومات ته لاړو، دا یو تــاریخي جومــات دی، چــې د مدینې منورې په (بنې سلمه) منطقه کې موقعیت لري، هلته مو هم دوه رکعته لمونځ وکړ. قبلتین هغه جومات دی چې په همدې جومات کې د**



**ماسپښین لمانځه پر وخت پر پیغمبر(ص) د خدای(ج) له خوا امر وشو چې قبله وګرځوه، رسول الله مبارک له بیت المقدس څخه چې تــر دې وړاندې د موحدینو او مسلمانانو قبله وه، د مکې معظمې پر لوري بیت الله شریف ته مخ وګرځاوه، ده سره (لسو تنو صحابه کرامو چې عشــره مبشره ورته ویل کېږي) مخ وګرځاوه، نورو ونه ګرځاوه، پر دې کسانو پر دنیا د جنت زېری وشو، تر دې دمخه (بیت المقدس) لومړۍ قبلــه وه، هلته په مسجد کې د لومړۍ قبلې د تثبیت لپاره د دېوال په دویم پــوړ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې محراب رسم شوی او مخامخ ورته اوسنی محراب دی. تر دوه رکعته لمانځه وروسته له دې ځایه لاړو، اوو مسجدونو ته چې په عربي کې ورته (سبعه مسجد) وايي، دا د (سلع) غره په سیمه کې موقعیت لـري او د خندق مشهوره غزا هم په همدې سیمه کې ترسره شوې ده. خندق ورته ځکه وايي چې رسول الله مبارک له کفارو سره د مقابلې په خاطر یو اوږد او ژور خندق وایسته چې د هغوی پلي او سواره په کې حصار شي او بیا مسلمانان پرې برید وکړي، اوس نویو ودانیو د پخواني خندق اکثره نښې



نښانې له منځه وړي دي. د اوو مسجدونو له جملې څخه یوازې درې یې پر خپلو ځایونو ودان دي چې هغه هم په پخوانۍ بڼـه نـه، بلکــې پـه راوروسته بڼه. دلته د صحابه کرامو بېلابېل ټولي وو، هر ټولي له خپلې سیمې دفاع کوله نو کله چې غزا پایته ورسېدله او کفارو ماتې وخوړه، نو دوی پر هر ځای یو جومات جوړ کړ، اوه جوماتونه شول. په کتابونو کــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلي، چې د هجرت پر پنځم کال د مدینې د دفـاع لپـاره د صـحابه کرامو او سلمان فارسي په مستقیمې مشورې په (سـلع) غـره کـې د دفاعي کندو یا خندقونو لپاره چې یو بل سره تړلي وو، د هر خندق لپاره یو ساتونکی وټاکل شو او خندق هم د هغه په نامه ونومول شو، بیا د عمر بن عبدالعزیز د مشرۍ پر مهال په هر خندق کې یو وړوکی مسجد جوړ شو او د هغه د ساتونکي په نامه ونومول شو. په دې کـې دغـه لانـدې جوماتونه شامل دي:

**فتح مسجد:** په اووګونو یا سبعه مسجدونو کې لوی جومـات دی چې د غزا پرمهال رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په کې لمونځ کاوه او ددې غزا د بري لامل شو.

**سلمان فارسي مسجد:** له اووګونو مسجدونو څخه یو دی، چـې اوه متره طول او عرض لري او د فتح مسجد په شل مترۍ کې واقع دی.

**ابوبکر صدیق مسجد:** دا هم له اووګونو مسجدونو څخه یو دی او د سلمان فارسي مسجد د جنوب لویدیځ په پنځلس مترۍ کې واقع دی چې اوس هم شته.

**عمرفاروق مسجد:** دا هم د اووګونو مسجدونو له جملې څخه دی، چې د ابو بکر صدیق مسجد په لس مترۍ کې د یوې مستطیلي برنډې په بڼه موجود دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**علي بن ابي طالب مسجد:** د اووګونو مسجدونو له جملې څخه دی چې د بي بي فاطمې مسجد ختيځ ته پروت دی، پنځه متره مربــع مساحت لري او د حضرت علي کرم الله وجهه په نامــه پــه دې خــاطر ونومول شو، چې ده غټ کافر (عمرو بن عبدود) چې کلــه لــه خندقــه راواوښت په همدې ځای کې يې وژلی و.

**فاطمة الزهرا مسجد:** دا په سبعه مسجدونو کې تر ټولو کــوچنی مسجد دی چې درې پر څلور متر مربع مساحت لري او ځينو ســرچينو دغه مسجد د (سعد بن معاذ) په نامه هم ياد کړی دی.

ددې مسجدونو له جملې څخه څلور يې چې سره څنګ په څنــګ وو، څو کاله وړاندې يې شهيدان کړل او پرځای يې ورته يو لوی جومات جوړ کړ، دا جومات خورا ښايسته ارام او سکون ښښونکی و، دوه رکعته لمونځ مو په کې وکړ، له دې ځايه د سړي زړه نه کېږي چې پــه اســانۍ رخصت واخلي، ښکلي فرش او ښکلې هوا يې د ســړي زړه تــه ارامــي ښښي، دا چې د خندق د غزا تاريخي نښې نښانې اوس نه ښکاري، پر دې نو زيات خفه شوم. له دې ځايه راووتو، نږدې (۱۲) بجې وې چې اتاق ته راغلو، بيا د ماسپښين لمانځه ته لاړو، تر هغه لږ وروسته مو خوب وکړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library





بیا مو د مازیگر او ماښام لمونځ وکړ او وروسې د ماسخوتن لمونځ، ټول موږه نبوي جومات کې ادا کړل. د شپې چې کله اتاق ته راغلو، نو بیا څو تنه ملگري زموږ لیدو ته راغلل، حاجي صیب محمد نعیم له خپله هوټله ډوډۍ راوړې وه، ډوډۍ مو په گډه وخوړه او بیا نو د خوب پر لوري لاړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د بدر پر لوري

د تلې یا میزان (۲۱)مه د ذوالحجې (۱۹)مه او د اکتوبر (۱۳)مه نېټه د دوشنبې ورځ ده. د سهار تر لمانځه وروسته اتاق ته راغلو کله چې اتاق ته راورسېدو لږ وروسته محترم ورور (عبدالکریم) او محترم ورور (سیار) اتاق ته راغلل، تېره شپه مو حاجي صیب نعیم سره وعده کړې وه، هغه وویل سبا سهار به هلکان راشي، زما تر ځایه به مو راولي او بیا به د بدر غزا ځای ته ځو، بدر له مدینې منورې څخه تقریباً (۵۰) کیلو متره لرې دی، که خدای کول ماسپښین لمانځه ته بېرته راځو. شل کم شپږ بجې مو له اتاق څخه حرکت وکړ، د مدینې ښار په سهار او ماښام کې ښکلی ښکاري، سړکونه یې پراخه، د سړک تر غاړې زینتي ونې یې هم ښې شنې دي او د سعودي د نورو ښارونو په انډول ډېرې دي. مدینې منورې ته یې پخوا (یثرب) ویلې، حمزه بابا هم په خپل یو شعر کې د یثرب کلمه او محتوا کارولې ده:

ماحمزه ته یثربي باده خاونده

په ښاغلي پیمانه کې د افغان را

(c) ketabton.com: The Digital Library



یثرب کې پخوا (تر اسلام دمخه) هم باغونه وو او دا ساحه نسبتاً زرغونه ساحه وه. د مدينې ښار سړکونه د مکې په انډول پراخ دي، خو بيا هم د ستر اسلامي مرکز په توګه هغه څه چې زما په تصور کې و چې تر اروپايي ښارونو بايد لوکس، ښکلي او پراخ وي، هر څه په کې تر کنټرول لاندې وي، لکه د زړو موټرو چک، ځمکلاندې لارې، شنې




ساحې، پارکونه، پلې لارې په هغه کچه نه وو چې د اوسنۍ اروپايي او پرمختللې نړۍ نور ښارونه يې لري. دلته د پيسو کمی نه شته، خو د نوي ژوند د تفکر کمی په کې محسوس و.

په مدينه منوره کې په لکونو بهرنيان چې دوی ورته اجنبيان وايي، کار کوي، د بېلابېلو کلتورونو او بېلابېلو مذهبونو، قومونو او د سيمو خلک دلته اوسي، تر داخلي اوسېدونکوددې ډول خلکو شمېر زيات

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، مشکله هم ده چې ټول د تمدن تر یوه لوړ کلتور لانــدې راوســتل شي، ما سره چې په ذهن کې د مدینې منورې کوم تصور و چې دا باید د نړۍ تر ګردو ښارونو ښایسته وي، هغه تصور له واقعیت سره سمون نــه درلود. البته په مدینه منوره کې هم د ترقۍ کارونه په ډېرې چټکۍ سره روان دي او دا هیله کېدی شي چې دا به یو وخت د نــړۍ یــو ســتر او ښکلی ښار وي. ساعت (۷) بجې دي، عبدالکریم وویل چې دلته د عربو یوه کمزوري دا ده چې ښځو ته د ټینګې نه دي، کله چې د ســړک پــر غاړه تور ټیکری وګوري نو دوی ورته ځان نه شــي ټینګــولای، خــو دا کارونه اکثره هغه اجنبیان کوي، چې (۳۰-۴۰) کاله دمخه راغلي او ددې



ځای تابعیت یې اخیستې وي. لس دقیقې وروسته (خضر) ســیمې تــه ورسېدلو، دلته یو روایت داسې دی چې دلته د خضر علیه السلام کور و،

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه کندواله دلته شته چې د پخوانۍ دورې ښکارندویي کوي، خو نــه د ډېرې پخوانۍ دورې چې خضر علیه السلام ته يې ریښه ورسي، خو دلته اوس د همغه په نامه مشهوره ده.

همدلته حاجي صیب نعیم هم موږ ته منتظر و، د هغه په موټر کــې پورته شو، زه، حاجي عزت الله او عبدالکریم او حاجي صیب نعیم، په یوه موټر کې کېناستو او سیار صیب خپلې وظیفې ته لاړ، په لاره کې مو له حاجي صیب نعیم سره د اسلام د تاریخي ځایونو د له منځه وړلو په باب اندېښنه وښوده، ده وویل دا خلک تاریخي ځایونو سره ډېره علاقه نــه لري، دوی وایي موږ نوی ژوند غواړو. پــه لاره کــې عبــدالکریم ورور د نعتونو یوه کیسټه ور واچوله.

کلي کوڅې دې په ښو جارو کومه ـــــ درغواړه مــې ـــــــ وګرانــه حبیبه روضې ته!

له مدینې څخه مو د (هجره) پر لویې لارې حرکت وکــړ، دې لــویې لارې ته ځکه (هجرت) لاره وایي چې پیغمبر(ص) له مکې څخه مدینې ته پر همدې لاره سفر کړی و. تر لس دولس دقیقو مزله وروسته (بدر) ته پر غځېدلې لارې ښي لاس ته وګرځېدو، لاره کې د تورو او وچو غرونو یو اوږد تسلسل و، کوم ځای کې چې اواره ځمکــه وه، نــو هلتــه د نویــو ښارګوټو د جوړونې چارې له ورایه څرګندېدې. په لاره کې د مېلو لپاره وړې وړې خېمې په دښتو کې ولاړې وې، ځینو د لرګیو څپرې جــوړې

(c) ketabton.com: The Digital Library





کړې وې، حاجي نعیم وویل چې عربان راځي دلته پسونه او واړه مالونه راوړي، همدلته یې حــلالوي، پخوي یې او خوري یې. شل دقیقې تر (۸) تېرې وې چې د (دبیره طلحه) ته ورسېدو، دا هغه ځاه وه، چې پخــوا یې اوبه ترخې وې، خو کله چې د خدای رسول هلته ورسېد، نو په هغې کې یې خپلې لاړې توکړې، تر هغې وروسته یې اوبه خوږې شوې، دا ځاه



ډېره ژوره نه ده، نږدې شل پنځه لس متره به ژوره وي، کله وچــه وي، کله کله په کې اوبه وي، موږ ورغلو ډولچه مو ورکښته کړه، لږې اوبه په




**کې راپورته شوې، اوبه مو وڅښلې رښتیا هم خوږې اوبــه وې، د ځــاه عزت نه کېږي، لکه د نورو تاریخي اسلامي ابداتو په شان دا ځاه هم په همغه پخوانی بڼه پرته ده، یوازې شاوخوا یې چا سمنټ کړې او لپاسه یې پرې یوه پنجره غوړولې ده، د ځاه داخل کې لاندې دېوالونه تر نیمــایي سنګکاري شوي ښکاري او نوره برخه یې په همغه پخواني شکل ده، لږ وروسته (دیره المازیمې) کلي ته ورسېدو اوس ړنګ شــوی، خــو ډېــر پخوانی ښکارېده.**

**تر نیم ساعت مزله وروسته (بدر) ښارګوټي او بیا د ښار په یوه ګوټ کې د بدر د شهیدانو هدیرې ته لاړو هلته مو دعا وکړه او بیا له هغه ځایه د شګو هغه ځای ته راغلو چې خدای پاک د بدر په غزا کې خپل محبوب تــــه د مرســـــتې پـــــه خـــــاطر ملایکـــــې را نــــازلې کـــــړې وې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library





د رېښو شګو یو جګ غر دی، یانې تر غونډۍ لوی او جګ دی، څوک یـې په اسانۍ سره سرته نه شي ورختلای، شګه یې داسـې ده چـې کـالیو پورې نه نښلي، یو ډول موټرسایکلونه دي چې کله کله پـرې عربـان د مېلو پر وخت په هغو، د شګو دې غر ته خېژي. (۹) نیمې بجې ببرتــه د مدینې پر لوري وخوځېدو. په لاره کې راباندې د خوب څپې څــو ځلــه غلبه وکړه، لږ ویده شوم، ستوني مې لږ شان خاربښت او درد کــاوه اواز مې هم ناست و، موټر ډېر تېز راغی، لس نیمې بجې دي چې د حــاجي نعیم هوټل (مطعم تراسل بخاري) هوټل ته ورسېدو، حاجي صیب نعیم تیار د سهار چای فرمایش ورکړی و، سره کړې غوښه تیاره شوه، چای مو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وڅښه او غوښه مو ښه په خوند وخوړه، دا هوټل په (النوش) سیمه کې دی، د بدر او مدینې ترمنځ ساحه ده.**

**اوس ساعت (۱۱) بجې او لس دقیقې دي، غواړو د مدینې پر لــوري حرکت وکــړو او ځــان نبــوي مســجد تــه د لمانځــه لپــاره ورســوو.**




**یوولس نیمې بجې مو له (النوش) څخه د نبوي مسجد پر لوري حرکت وکړ (۱۲) بجې او پنځه دقیقې وې چې مسجد ته داخل شو، لږه شــېبه وروسته اذان وشو او پنځه لس کم یوه بجه لمونځ خلاص شو او د اتاق پر لوري وخوځېدو، ښه ستړی یم، د ستوني درد او زکام لپاره مې یوه ګولۍ وخوړه او نور نو غواړم لږ استراحت وکړم، ټول وجود مې هم درد نیولی دی. لږه شېبه وروسته راباندې خوب غلبه وکړه، کله چــې لــه خوبــه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاڅېدم، نو ساعت درې بجې دي، تر درې نیمو بجو مې اودس وکړ، عزت الله خان هم ښه درانه خوب وړی و، کله چې مې هغه ته وویل، جګ شه چې لمانځه ته ځو، هغه فکر وکړ چې شپه یې تېره کړې سهار لمانځه ته ځو، ماته یې وویل وخت ډېر دی پنځه بجې لمونځ کېـــږي، مــا ویــل د مازیګر لمونځ کوو، څلور بجې شاوخوا لمونځ کېږي، هغه ویل ښه ښښنه غواړم، ما فکر وکړ چې سهار دی، درې نیمې بجـــې لــه اتاقــه ووتــو، د مازیګر لمونځ مو ادا کړ، بیا بېرته اتاق ته راغلو، په کابل او نورو ځــایونو کې مې ګنو دوستانو ته ټلیفونونه وکړل، د کور، ژونــدون ټلوېزیــون او دوستانو حال و احوال مې واخیست، بیا بېرته د ماښام لمانځه ته لاړو، ماښام لمونځ مو د نبوي مسجد په بېرونۍ سوپه کې چې ښه هوا په کې لګېدله او په لسګونو زره کسان پر یوه وخت په کې لمونځ کولای شي، هلته ادا کړ او بیا بېرته د خپل اتاق پر لوري راغلو او دغه یادښت مـــې ولیکه. اوس ساعت (۱۵) دقیقې کمې اوه بجې دي. تر دې وروسته بیـــا لاړم تشناب ته اودس مې تازه کړ، لږه شېبه وروسته زه او عزت الله خان دواړه د لمانځه لپاره مسجد ته لاړو، پر دې وخت حاجي فیض الله مزاري زنګونه ووهل که چېرې وخت لرئ، نو موږ سره نن ماسخوتن مېلمستیا ته لاړ شې، هغه وویل نور ملګري هم ځان سره راولئ، خو ما نور څوک پیدا نه کړل. زموږ مېلمه پال چې له څو ورځو راهیسې موږ پسې ټینګ وو، راته ویلي وو چې لــس تنــه مېلمانــه بــه ځــان ســره راولــئ، مـــا

(c) ketabton.com: The Digital Library






ورته ویلې چې مورږ دوه تنه یو، هغه راته ویلې: ((بیادر ازبک یــک گــپ میزنه حالا از دهن ما برامده و درخانه گفتیم که انجا مارا نشرمانی، مــا گفتم کتی یون صیب ده نفر است...)) نو ځکه زه یو بــل مېلمــه پســې گرځېدلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یوه ښه خوندوره افغاني ډوډۍ

کله چې د ماسخوتن له لمانځه څخه خلاص شو، نو حــاجي صــیب فیض الله مزاری راته له پخوانۍ وعدې سره سم، شارع السلام په عمومي خروجي دروازه کې ولاړ و، سترې مشي مو وکړل ډېر خوشاله شو، ماته یې وویل: ((کجا است دیگه رفیقایت)) ما ویل همدا یو ملګری دی نور نه شته، ده وویل: ((او بابا ما گفتم که حالا چند نفر باشد ما هــر شــب در



خانه چند نفر مهمان دارم.)) حاجي فیض الله مزاري په ختِه ازبک او ښه نر افغان دی، زما د یو ملګري مطیع الله ساپي پلار (حاجي نعیم) سره یې انډیوالي ده، هغوی ورته له کابله زنګ وهلی او زما د پالنې سپارښــتنه یې کړې وه، زه لا په مکه مکرمه کې وم چې ده څه کم شل زنګونه راته

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ووهل، کور ته يې لاړو، چای يې راوړ، تر ډوډۍ پورې يې د کابل او دلته د خپل مسافرانه ژوند خوږې ترخـې کيسـې وکـړې. بيـا ډوډۍ تيـاره شوه،رښتيا هم د لسو کسانو څه چې د پنځه لسو کسانو لپاره وه، قابلي پلو، منتو، غوښه، شوروا، کله و پاچه او څه نه وو چې نـه وو، هـر څـه پرېمانه وو، زموږ يې ډېر زيات عزت وکړ، د ګپ او شپ سړی و، داسې يو سړی و چې سړی ورسره هېڅ نه تنګېده، د ځوانۍ له وخته رانيولې بيا تر دې دمه يې ټولې کيسې وکړې، زامن يې کار او لونې يې تحصيل کوي، اوس يې هم زامن په کور کې نه وو، کار پسې تللي وو، يـوازې دوه واړه**



**زامن يې دلته په کور کې وو، چې د مېلمنو عزت يې کاوه، حاجي مزاري راته د عربو او عجمو د اخلاقو ټولې کيسې په زور او زېر سـره وکـړې، ځينې يې دلته د کولو نه دي، خو خدای دې هېڅ انسان د عربو مزدورۍ ته نه مجبوروي، حاجي مزاري، د عرب کفيلانو د چلند او کلني بـاج او همدارنګه د افغانانو لپاره د اقامې اوږد او غمجن داستان هم بيان کـړ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې خورا ځوروونکی و. کیسې اوږدې وې، بیا یې کابل کــې مطیــع الله خان او د هغه پلار (حاجي صیب نعیم) ته زنګ وواهه، هغوی سره مــو خبرې وکړې، بیا مو له ده څخه په ډېر تکلیف رخصت واخیست، موږ یې تر عمارې پورې راورسولو او دی بېرته خپل استوګنځي ته لاړ، کله چې خپل اتاق ته پورته شوم، نو د شپې (۱۲) بجې وې، یوه ستوني درد ګولۍ مې وخوړله او نور نو د خوب پر لوري لاړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پېريانو دره

د تلې (۲۲) مه، د ذوالحجې (۲۰) د اکتوبر (۱۴) مه نېټه د سه شنبې ورځ ده. د مدينې منورې مربوط يوه سيمه (وادي جن) يانې د پېريـانو دره ده. ډېر خلک يې ليدو ته ورځي، وايي چې دلتـه ډېـر عجايـب او



غرايب دي. حاجي صيب نعيم سره مو پرون خبره کړې وه، چـې کلـه وزګار شوې، نو دې درې ته مو بوځه، سره له دې چې پېريان خو چاتـه ځان نه ښيي، خو دلته به يې له کمالاتو خبر شو. د سه شنبې ورځ چې کله د سهار له لمانځه ځخه راغلو، نو هم مې ستونی سخت درد کاوه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم ښې ګرمې تبې نیولی وم، شپه مې نارامه تېره کړه، سهار لمانځه ته هم یو ساعت دمخه پاڅېدم. کله چې اتاق ته راغلو نو عزت الله خان دې خیر یوسي، اګمنتین او پاناډول ګولۍ یې راکړې، ګرم چـای یـې راتـه ګیلاس کې واچوه، چای مې وڅښه ګولۍ مې وخوړې، ما ویل لږه دمه به ووهم، دا مـهال حاجي نعیم زنګ وواهه ویې ویل هلکان راغلي، وادي جن ته به لاړ شو، بیا به وخت پیدا نه کړئ، ما ویل سـمه ده، دا وخـت



دروازه ټک ټک شوه، ښاغلی (عبدالکریم) راننوت ما ویل دومره ژر؟ ده ویل لاندې ولاړ وو، پنځه ویشت کم اوه بجې مو له هوټله حرکت وکـړ، لومړی مو حاجي صیب نعیم خان سره واخیست بیا د پېریانو درې پـر لوري وخوځېدو، په لاره کې ځای نیم شنه باغونه چې اکثره د خرما په ونو پوښلي وو، ښکارېدل، یوځای په کې د باران اوبه هم راټولې شـوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې، لکه یو وړوکی ډنډ، خو دا ډنډ هم په سعودي غونډې وچ ډاګ کې غنیمت ښکارېده، حاجي صیب نعیم راته وویل چې دلته ډېر ښه کبان پیدا کېږي، خلک راځي نیسي یې، ما ورته وویل کبان بېچاره ګان به له دې اوبو پرته نور چېرته لاړ شي، سیند خو غیر له هغې هم دلته نه شته، یو چا له چا څخه پوښتنه کړې وه چې که دا سیند اور واخلي نو دا کبان به چېرته لاړ شي؟ هغه ورته ویلي وو چې ونې ته به وخېږي، هغـه بـل ورته ویلي وو څه غوایان خو نه دي چې ونې ته په وخېږي، نو دا کبان به له دې وړوکي ډنډ پرته نور چېرته لاړ شي؟ نږدې نیم ساعت څلوېښت دقیقې مزل به مو کړی وي، چې د پېریانو درې لومړۍ برخې ته ورسېدو، تر موږ دمخه څو موټره نور هم ولاړ وو، هغوی هم ددې ځای ننداره کوله.



سړک پوخ دی، دا ځای نسبتاً ژور دی نږدې (۱۰-۱۵) سانتي به د سړک له برې او کوزې برخې ژور وي، دلته چې موټر ودروې، نو بیا شاته مخ په لوړ راکاږل کېږي، موږ موټر څو ځله تجربه کړ، رښتیا هم موټر له ژورې څخه نسبتاً برې خواته چې موږ پرې راغلي وو، کش شو. بیا مو د اوبو یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بوتل کېښود، هغه هم کش شو، سخت کولې شو، وار په وار یې سرعت زیاتېده، یوځل مو موټر له ډېرپور پرته ودراوه، ډېرپور مو ورته شاته لږ لرې ودراوه، موږ ویل که چېرې تېز لاړ شي چې بل چا سره ټکـر نـه شــي. سخت سپیډ (سرعت) یې واخیست، ژر عبدالکریم خان راغی، دروازه یې خلاصه کړه، موټر ته کېناست بریک یې ونیو، څو ځله مو دا تجربـه تکرار کړه، نورو خلکو هم دلته تجربې کولې، دا چې ساینس څه وایي یا یې نه وایي، خو څرنګه چې اوس دا ځای د پېریانو د درې په نوم نومول شوی موږ هم په همدې نیت او نظر دلته راغلي وو، اصلاً ددې ځای نوم بل څه دی، خو څرنګه چې په دې دره کې داسې کمالات دي، نو اوس د پېریانو د درې په نامه مشهوره شوې ده. حاجي نعیم راته وویـل چــې**



**مولوي صیب عبدالحق (د لغمان یو مخور شخصیت) دلته راغلی و، زه دا مــهال په کابل کې وم، چې زنګ راغی راته یې وویل چې پنجشنبه ځان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



رارسوه کور ته ، ما ویل څه خبره ده، ویل یې څه هلته به خبر شې، ډېر وارخطا شوم کله چې یې په تایمني کې کور ته ورغلم، نو د دوی کور څو منزله دی، په دویم منزل کې چت داسې ټکېږي، لکه څوک یې چې په تیږو ټکوي، ښځې او ماشومان ټول وارخطا دي، ټولو ویل پېریان دي، بیا ما لږ هډوکي پاس بام ته ورګوزار کړل، ټکهار غلی شو، ما حاجي صیب نعیم ته وویل مخکې به دې ویلي وو چې ما هم کور ته زنګ وهلی وای چې هلته راپیدا نه شي، هغه هم سخت وخندل، بیا په همدې دره کې لږ نور هم پورته لاړو، هلته نور هم څو داسې ځایونه شته چې موټر کشوي، غرونه یې هم له نورو غرونو سره څه ناڅه توپیر لري، تیږې یـې اکثـره سورۍ سورۍ دي. ځینې خلک دې غرو ته ختلـي او د خپـل هېـواد بیرغونه یې هلته په ډبرو رسم کړي دي، د افغانستان بیرغ هم دوه ځایه



د لوړ غره په لمن کې پر دوو ډبرو رسم شوی و. هلته مو هم یوه تجربـه وکړه، دلته یوه هدیره هم وه. تر دې هدیرې چې ښېرته راوځې او مـوټر پرېږدې، نو تر هغه لومړي ځای پورې چې موږ لومړۍ تجربه په کې کړې وه، د موټر سرعت په ساعت کې (۱۲۰) کیلو مترو ته پورته کېږي. ځینو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو د همدې تجربو په بهیر کې خپل موټر هم ټکر کړي او یو ځل خو (۷) تنه هندي مسلمانان په کې وژل شوي هم دي، له هغه ځایه بېرته د خپلې عمارې پر لوري وخوځېدو، په لاره کې مـو غوښــتل، د حضــرت عثمان(رض) ځاه هم وګورو، خو هغه ته لکه د نــورو اســلامي تــاریخي ځایونو په څېر د ورتګ اجازه نه وه، حاجي نعیم او حاجي عبدالکریم د سهار چای لپاره ډېر ټینګ شول، خو مونږ ویل ستړي هم یــو، مریضــان هم، ځو اتاق ته لږ خوب کوو، هغوی مونږ خپل اتاق تــه راورســولو، بیــا حاجي عزت الله یوه کاشوغه اګمنتین شربت او یوه پاناډول ګولۍ راکړل، چای یې راته دم کړی و، کور یې ودان لږه دمه راغله، د خوب څپه راته تیاره منتظر وه، همدې سره ویده شوم، پوره یوولس بجې وې چــې لــه خوبه پاڅېدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ماسپښين لمونځ او پرهېزانه

کله چې له خوبه پاڅېدم، نو تشناب ته لاړم اودس مـې تـازه کـړ، حاجي عزت الله يو کاشوغه اګمنتين شربت هم راکړ او نور نو د لمانځه لپاره نبوي مسجد ته لاړو، تر لمانځه وروسته بېرته د اتاق پر لوري راغلو. تر عمارې لاندې د ترکانو يو هوټل دی حاجي عزت الله وويل زه به درته يو څه د خوراک لپاره راواخلم، چې غوړ ونه لري، ته څه اتاق ته! زه اتاق



ته پورته شوم. کله چې وره ته ورسېدم، نو ګورم چې حاجي عبدالکريم له يو پنډ ډوډۍ، نوشابې او تازه مېوې سره د اتاق په خوله کې ناسـت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی. وه حاجي صیب دا څه کوې! هغه وویل ته مریض یې پرهېزانه مـــې درته راوړې، موږ یې په زحمت سخت خفه شو، دسترخوان یې وغوړاوه، سور کړی چرګ، وریجې او اش ته ورته غذا، تر دې دمخه چې لمانځه ته تللو، نو عزت الله خان وویل کاشکې چې اوس په خپل کور کـــې وای او اش یې پوخ کړی وای نو څه خوند به یې کړی وای، حـــاجي کـــریم، پـــه سپینو جوش کړیو وریجو کې شړومبې ورخوشې کړې، داسې خوند یې کاوه لکه په لغمان کې چې به مو پخوا نرۍ اوګره خوړله، نانا، شینشوبی او نور شیان یې هم په کې اچولي، ګرمه نرمه مې وخوړه وجود یې راته خولې کړ، ډېره دمه یې راوسته، ډوډۍ مو په خورا خونـــد وخـــوړه، تـــر ډوډۍ وروسته عبدالکریم له موږه رخصت واخیست ویې ویـــل تاســـې ستړي یاست استراحت وکړئ، خو بېګاه ته زما مېلمانه یاست چې بل چا سره وعده ونه کړئ! د هغه تر رخصت وروسته زه خپل چپرکټ ته پورته شوم او ښه سترګه خوب مې وکړ. تر دریو بجو پورې ویده وم، لږه دمـــه راغله، بیا لاړم اودس مې وکړ او بیا لږ وروسته زه او حاجي عـــزت الله د مازیګر لمانځه لپاره نبوي مسجد ته لاړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جنت البقیع

د جنت البقیع د فضیلت په باب مو په کتابونو کې ډېر څه لوستي او له ملایانو مو ډېر څه اورېدلي دي، خو په خپلو سترګو مې نه ده لیدلې، جنت البقیع هغه ځای دی، چې له ډبرو پرته نرمه خاوره لري او د مدینې منورې هدیرې په نامه هم یادېږي، دا هدیره د نبوي مسجد په ختیځـه برخه کې موقعیت لري. دا د هر حاجي ارمان وي چې په نبوي مســجد



کې تر عبادت وروسته دا هدیره وګوري، دې هدیرې ته هر وخت خلک نه پرېږدي، کله چې کومه جنازه خاورو ته سپاري، نو دا مــهال ډېر خلک ورځي کله چې مو د مازیګر لمونځ وکړ نو بیا ورپسې د جنازې لمونځ و،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د جنازې لمونځ چې خلاص شو، نو حاجي عزت الله وویل چــې جنــت البقیع ته نه ځو؟ ما ویل څه چې ځو، تر درې څلورو دقیقو پلــي مزلــه وروسته د هدیرې دخولي دروازې ته ورسېدو. ورتګ ازاد و، په زرګونــو خلک ور روان وو، د جنت البقیع له هدیرې یو لوی دېوال راتاو و، هدیره نبوي مسجد سره متصل موقعیت لري، ټوله ساحه به یې نــږدې (ســل جریبه) ځمکه وي، دلته د اسلام ستر خادمان، صحابه کرام او همدارنګه تر دې دمه پورې ډېر متدین او بختور خلک دفــن شــوي دي، د دیــن عالمان وایي چې څوک په جنت البقیع کې دفن شي هغوی جنتیان دي. جنت البقیع کې تر (۱۰) زیات صحابه کرام دفن دي، تراوسه پورې دوه**



**ځله جنت البقیع ته پراختیا ورکړل شوې، نور هم احتمالات شته چې دا مقبره لویه شي، یوازې حضرت عثمان(رض) ته منسوب قبــر پــه کــې معلوم دی، نور د هېچا قبر معلوم نه دی او نه لوحــه لــري، د حضــرت عثمان(رض) مقبره مخکې تر جنت البقیع بهــر پــه باغیچــه کــې وه،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وروسته هغه هم د جنت البقیع ساحه کې داخله شوه، دلته لــه نــورو ځایونو خاوره راوړل کېږي او نوي قبرونه په کې جوړېږي، اوس دا ځای دومره لوړ شوی چې د یوې غونډۍ بڼه یې خپلــه کــړې ده. د هــدیرې بېلابېلو برخو ته په مشخصو خښتو پوښل شوې لارې غځېــدلې دي او خلک د هدیرې هرې برخې ته تګ راتګ کوي. همدلته په هدیره کې وو چې په مدینه کې د افغان حاجیانو یو تن مسول ښاغلي عطامحمد زنګ راوواهه، ماته یې وویل چېرې یاست؟ ما ویل جنت البقیع کې یو، لــس دقیقې وروسته خپل اتاق ته ځو، هغه وویل زه هم لس دقیقې وروسته**



**در رسېږم. کله چې اتاق ته لاړم، نو عطامحمد ورور هم راغی، هغه دلته په مدینه کې زموږ ډېر عزت وکړ، هم یې راته ځانګړی اتاق ونیو او هــم یې راته د الوتکې ټکټونه ژر برابر کړل. دوه ټکټونه یې را وایستل ویــې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ویل دادی د اماراتو په الوتکه کې مو ټکټونه دي، ټول (۵۰) کیلو ګرامه مــال ځان سره وړلای شئ، د شنبې ورځ د شپې (یــوه) بجــه مــدینې هوایي ډګر ته لاړ شئ، بیا له هغه ځایه دوبی ته ځئ او د یکشنبې ورځ د ماسپښین یوه یوه نیمه بجه کابل ته په خیر سره رسېږئ، له عطامحمد ورور څخه مو ډېره مننه وکړه او کور ودانی مو ورته ووایه، بیا هغه وویل زما مېلمانه یاست راسره لاړ به شئ، موږ وویل نن شپه د بل چا مېلمانه یو، بیا به فرصت کې سره وګورو، هغه خدای پاماني وکړه او ما دا مــهال څو څو ټلېفونونو ته ځواب ورکړ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اسلام د انحصارولو یوه بېلګه

کله چې عطامحمد ورور رخصت واخیست، نو د ماښام لمانځه ته څو دقیقې پاتې وې، زه او عزت الله لمانځه ته لاړو، تر لمانځــه لــږ دمخــه احسان الله ورور چې همدلته په سعودي کې اوسي او په تېرو انتخاباتي



کمپاینونو کې کابل ته راغلی و، راته زنګ وواهه چې موږ راغلي یو تــه چېرته یې؟ ما ورته وویل د نبوي مسجد په بهرنۍ برخه (انګړ) کې یــم، لږه شېبه وروسته یې زه پیدا کړم، درې تنه نور ملګري: یو یې ورور بل یې هم خوریی او یو یې ماما ورسره و، راته یې وویل، ډېر خوشــاله شــو چې څنګه په اسانۍ مې پیدا کړې، کله چې احسان الله زمــا ترڅنــګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کېناست او همدا يې وويل يون صاحب خوشاله شوم چې ډېر ژر مې پيدا کړې، شاته صف کې يو بل شخص ناست و، هغه وويل زه هم يون صيب تاپسې ګرځېدم، زه له اتريش (ويانا) څخه راغلی يم، لږه شــېبه ســره ناست وو چې د ماښام جمع تياره شوه. تر لمانځه وروسته مو دوی ټولو ته ويل چې ځو اتاق ته، احسان الله او خوريی يې قاري صيب وويل تاسې ځئ، موږ درپسې درځو، هغوی ته مې وويل که ډوډۍ پسې ځئ، مه ځئ، ځکه موږ مېلمانه يو، خو هغوی وويل موږ بل کار لرو، ژر بېرته راځو، دا مــهال دوه تنه نور ملګري چې همدلته په مدينه کې کار کوي او زمــا د ليدو په خاطر راغلي وو، تر لمانځه وروسته راته زنــګ وواهــه چېرتــه ياست، ما ويل شارع السلام باب مخکې درته ولاړ يو. يو تن يې باچاخان**



**نومېده او د بل ملګري د نامه پوښتنه مې ونه کړه، ټول راغلو اتاق تــه، دلته يوه شېبه ناست وو، د احسان الله خان ماما ښې خوندورې خبرې وکړې، ده دلته په سعودي کې ډېر وخت تېر کړی، پر عربي ژبه او ديني**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسایلو ښه پوهېږي. ده وویل عربان ډېر تنګنظره خلک دي، یــوه ورځ امام نه و، زه خلکو مخکې کړم او جمع مې ورکړه، ملا ناوخته راغی، یو دم پر ما په قهر شو چې تا ولې جماعت ورکړ، ما ویل ولې څه ګنــاه ده؟ هغه وویل تاسې حق نه لرئ چې دلته جمع ورکړئ، هېڅ اجنبي حق نه لري، ډېر زیات جنجال یې راسره وکړ، تر هغه وروسته جمع نه ورکــوم دلته ټول امامان د سعودي حکومت د ارشاد د وزارت تر کنټرول لاندې دي، بهرنیانو ته حق نه ورکوي، چې امامت وکړي. هر څه چې حکومت وايي، دوی مجبور دي همغه شان وکــړي. ده د ســعودیانو او بهرنیــانو ترمنځ روابط په ډېر ښه ډول تشریح کړل، ویې ویل له افغانانو پرته چې



سرزوري خلک دي، پیسې ورکوي خو د خپل کفیل غلامي نه کوي، نور ټول بهرنیان، بنګالیان، پاکستانیان، هندیان او نور ټول د دوی د غلامانو غوندې دي، ښځې د سړي د زامنو په سترګه ورته نه ګــوري، افغانــان سختي پرځان مني خو د عرب غلامي نه کوي. د حاجي صیب په خبرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې خورا جالب ټکي نور هم وو. دا مــهال احسان الله او قاري صيب هم راغلل، په لاسو کې يې د ډاليو کڅوړې نيولې وې، ويل يې دا مې تاسو ته ډالۍ راوړې، هيله ده قبول يې کړې، ما ويل ګوره ښه کار دې ونه کړ، مورږ څخه دې په څه پلمه اجازه  واخيسته او داسې دې وکړل، احسان الله يو سيکو ۵ ساعت ماته راکړ او ويل يې چې دا به حتماً په لاس کوې، څــو شېبې همدلته سره ناست وو، بيا د ماسخوتن د لمانځه وخت شو، ټول په بيړه د مسجد پر لوري لاړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د افغانانو یوه بله صمیمانه مېلمستیا

د ماسخوتن په جمع کې احسان الله او نور ملګري یې ټول سره یوځای وو، تر هغه وروسته مو له هغو څخه اجازه واخیسته، هغوی موږ ته تر ټینګ ست وروسته رخصت شول، بیا پاچاخان او ورسره ملګري یې وویل، سبا ته چا سره وعده ونه کړئ، زموږ مېلمانه یاست، موږ ورته



وویل وعده نه کوو، خو سبا ماښام به همدلته په جومات کې تر لمانځه وروسته سره وګورو، هغوی ډېر ټینګ شول، خو موږ ورته وویل، تکلیف مه کاږئ، ژمنه درسره نه کوو، که څه مشکل نه وو، همداسې درځو ګپ درسره لګوو، خو نه د ملېمستیا په بنه، هغوی بیا وویل خیر سبا ماښام راځو، خو تاسې چا سره وعده مه کوئ، هغوی چې رخصت شول نو دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تنه نورو ملګرو راسره ستړي مشي وکړل، یون صیب له فیسبوکه خبر شوم چې مدینې ته راغلی یې، څومره ښه شو چې ژر مې پیــدا کــړې، ځان یې معرفي کړ ویې ویل زما نوم عزت الله دی، سیول انجنیــر یــم، دلته له یو عربي شرکت سره کار کوم، ترڅنګ ملګري یې هم وویــل زه هم له یوه شرکت سره کار کوم، انجنیر عزت الله سملاسي وویــل ســبا شپې ته زما مېلمانه یاست، چا سره وعده ونه کړئ، ما ویل همــدا اوس مې یو تن بل ملګري ته وویل وعده نه کوو، خو دلته د مازیګر، ماښام او ماسخوتن تر لمانځه وروسته ګڼو دوستانو سره ګورم، نو که تاسې هــم راځئ، دلته به سره وګورو، هغه وویل هېڅ امکان نه لري چې ما سره لاړ نه شئ، ما ویل ژمنه نه شو کولای، هغه وویل څه سبا لمانځه ته راځــم،**



**بیا به سره وګورو د ټلېفونونو نمبرې مو سره تبادله کړې، خپل اتاق تــه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پورته شو، دا مــهال نو عبدالکریم زنګ وواهه چې زه درته منتظر یــم زموږ هوټل ته راځئ، دده ټلېفون لا خلاص نه و چې حاجي صیب نعیم زنګ وواهه، زه لاندې د تعمیر دروازې په خوله کې درته منتظر یم راځئ چې ځو، لفت کې کښته شو، حاجي نعیم تیار په دروازه کې ولاړ و، تر څو دقیقو پلي مزله وروسته د هغه موټر کې سپاره شو، یو بل ملګری هــم راسره پورته شو، لس دقیقې مزل به مو کــړی وي، چــې د عبــدالکریم هوټل ته ورسېدو، د هغه هوټل وړوکی خو پاک او منظم دی، نهه لس تنه**



**کارکوونکي لري، د افغــاني ډوډۍ پــه ګــډون عربــي او نــور ډول ډول طعامونه هم تیارولای شي، موږ یې په ځانګړې خونه کې کېنولو، ډوډۍ ډېره ژر تیاره شوه، زما لپاره یې یخني پرهېزانه تیاره کړې وه، د وریجو، غوښو او تازه مېوو هېڅ کمی نه و، ډوډۍ مو په خوند سره وخوړه، بیا د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوټل کارکوونکي راغلـــل، حــاجي عبـــدالکريم وويــل، دا دې ســخت علاقمندان دي، په تا سر ماتي ولاړ دي، هغوی سره مو يادګاري عکسونه واخيستل، عبدالکريم بېرته خپلې عمارې ته راورسولو او دلته مې دغه يادښت وليکه، د ستوني درد يوه ګولۍ مې وخوړله، اوس ساعت د شپې پنځه لس کم دولس بجې دي، دغه يادښت مې وليکه او تر دې وروسته د خوب غېږي ته پناه ور وړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يادښتونه او د غزني ملگري

د ميزان (۲۳) مه د ذوالحجې (۲۱) مه د اکتوبر (۱۵) مه د چهارشنبې ورځ ده، د سهار تر لمانځه وروسته بېرته اتاق ته راغلو، لږ استراحت مو وکړ، بيا مو تريخ چاى وڅښه، گولۍ مې وخوړه او د خپلو يادښتونو ليکلو ته مې دوام ورکړ، دا مهال نو ښه وخت و چې د خپلو پاتې يادښتونو ليکلو ته يې وقف کړم، له څو ورځو راهيسې چې کوم يادښتونه پاتې وو، هغه مې اکثره وليکل. له کابله او نورو ځايونو چې کوم ټليفونونه راغلل، هغه مې ټول ځواب کړل، خپل کور، ژوندون ټلوېزيون او نورو دوستانو ته مې ټليفونونه وکړل، د ختم او خيرات لپاره مې ډاکتر مروان، ضياءالرحمن ضياء، حاجي محمد زمان، وفاالرحمن او نور انډيوالانو ته زنگونه ووهل. ضياءالرحمن ضياء تيار د ختم او خيرات بلنليک ليکلى و، ورته مې وويل چې ماته په کې الحاج يا حاجي ونه ليکې، چې تظاهر په کې رانه شي، بيا د ماسپښين لمانځه ته لاړو تر لمانځه وروسته بيا اتاق ته راغلو، لږ استراحت مې وکړ، بيا مې بېلابېلو ملگرو ته ټليفونونه وکړل، ځينو دوستانو راته د شپې د مېلمستيا وويل خو ما وويل، وروسته به پلان جوړوو. بيا مې ځينې يادښتونه بشپړ کړل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدې کې د مازيگر د لمانځه وخت رانږدې شو، اودس مې تازه کړ او د لمانځه د ادا کولو لپاره مسجد ته لاړو.

کله چې د مازيگر له لمانځه خلاص شو، نو يو ملگري راته زنگ وواهه (احساس) يم، استاده دروازه کې درته منتظر يم. (۷)مه دروازه له شارع السلام سره متصله ده او همدا لاره زموږ د استوگنې عمارې ته غځېدلې ده. هغوی سره مې روغبړ وکړ، حاجي هاشم او يو بل ملگری يې رامعرفي کړل، درې واړه د غزني اوسېدونکي او په ختته اندړ وو، اتاق ته راسره لاړل، ډېر ټينگ ست يې وکړ چې شپې ته زموږ مېلمانه شئ، ما



ويل بيا بل وخت سره گورو، اوس مو بل چا سره وعده کړې. تر ډېره وخته هغوی سره ناست وو، د هېواد په تېره بيا د غزني ولايت د حالاتو په باب مو هغوی سره هر اړخيزې خبرې وکړې، يادگاري عکسونه مو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**واخیستل، بیا هغوی له مورې څخه رخصت واخیست، دا مـهال نو حاجي رضا خان له مکې معظمې څخه مورې ته ځان راورساوه، مورې بیا د ماښام لمانځه ته لاړو. تر لمانځه لږ څه دمخه پاچا خان چې اصلاً د پکتیا ولایت اوسېدونکی او تېره ورځ مو ورسره کتلي وو، راته زنګ وواهه، اسـتاده چېرته یې؟ ما ویل مسجد کې یو، لمانځه ته لاړو. ده وویل زه خو د اتاق په مخکې درته منتظر یم، لږ سامان راسره دی، ما ویل تر لمانځه وروسته درځو کله چې مو لمونځ خلاص کړ، نو بیا له څو تنو هېوادوالو سره مخ شوم، هر کلی، سترې مشي او ډېر ټینګ ست یې وکړ، اتـاق تـه لاړم،**



**پاچاخان د اتاق مخې ته منتظـر دی، ګـورم چـې دوه کمپلـې او څـه خوراکي توکي؛ زیتون او نور ورسره دي، وه پاچاخانه دا څه کوې؟ هغه وویل زه د زیتونو په دکان کې کار کوم دا مې تاسې ته راوړي دي، درې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډوله زیتون وو، څه کلچې وې او دوه کمپلې، ما ویل دا خوراکي توکي به دې وخورو خو دا کمپلې دې ببرته ځان سره یوسه، تاڅخه ډېره مننه، ما ویل کمپلې خو هلته هم شته اړتیا ورته نـه شـته، دادی زیتـون مـې درڅخه واخیستل، هر څومره چې ټینګ شوم سړي کمپلې ببرته وانـه خیستې، لږ ژړغونی هم شو، اخر حاجي عزت الله وویل خیر دی پرېږده یې، باچاخان وویل ما خو تاسې ته راوړي دي، هر چاته چې یې ورکوئ ور یې کړئ، بیا مو کمپلې هم دلته پر چپرکټ کېښودې، پاچاخان موږ خفه کړو، بیا مو ترې مننه وکړه څو شېبې ناست وو، بیا یو بل ملګری انجنیر عزت الله هم راغی، هغه سره هـم څـو شـېبې کېناسـتو، دا وخـت د



ماسخوتن لمانځه ته ډېر کم وخت پاتې شو، ټول لاړو لمانځـه تـه، تـر لمانځه وروسته پاچاخان او انجنیر عزت الله رخصت واخیست، کله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر لاره راتلو نو یو څو تنه افغانان چې دلته په مدینه منوره کې اوسېدل، له هغوی سره مخامخ شو، ستړي مشي مو سره وکړل، یوه وویل زه مکې ته درپسې درتلم خو اجازه راته نه وه، دا دی دلته مې ولیدې، پرځان نه پوهېږم چې والوزم که څه وکړم؟ څه چې اتاق ته ځو، ډوډۍ به مو ماسره وي، ما ویل ډېره مننه، دا سپین ږیری زما په لیدو دومره خوشاله شـو، چې زه یې له ورایه د خوشالۍ په جذبه پوه شوم، له دوی څخه مو اجازه واخیسته په لاره کې یو بل ځوان مې څنګ ته روان و، ډېر په ځیر ځیر یې راکتل نور یې زړه تنګ شو، مخامخ شو راته، لاس یې راکړ، یون صیب په خیر، ما ورسره هم داسې ستړي مشي وکړه چې له کلونو راهیسې یې



پېژنم، مخکې تر دې چې خبرې پیل کړو، ماته یې وویل ما سره بــه لاړ شئ، ټلېفون یې راواخیست، خپل اتاق ته یې زنګ واهه، ما ورته وویل ته ټلېفون پرېږده، اول ځان راته معرفي کړه، ټلېفون نمبر دې راکړه، بیا بل وخت سره وعده کوو، ویل یې نوم مــې عبــدالرحمن دی، د پکتیــا

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسېدونکی یم، بیا مې ورسره یادګاري عکس واخیست، ورته مې وویل چې که دلته بیا وو، ضرور درسره ځو، له هغه مو په تکلیف خدای پاماني واخیسته، حاجي رضا خان له موږه ځان لادرکه کړ، لږه شېبه وروســته یې راته زنګ وواهه چې زه ډوډۍ راوړم ګوره چې ډوډۍ رانه وړئ؟

څو شېبې وروسته حاجي رضاخان، وریجې، چرګان او خوراکي توکي راوړل، ډوډۍ مو په ګډه وخوړه، تر چای وروسته حاجي رضاخان بیا لاړه ماته یې د زکام ګولۍ راوړې، اوس د شپې لس بجې دي، چې زه، حاجي رضاخان او عزت الله خان په خپل اتاق کې ناست یو او ما دغه یادښــت ولیکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تر نبوي مسجد چاپېره دوره

د میزان (۲۴)مه د ذوالحجې (۲۲)مه د اکتــوبر (۱۶) مــه نېټــه او د پنجشنبې ورځ ده. سهار وختي لمانځه ته لاړو، کله چــې تــر لمانځــه وروسته بېرته خپل اتاق ته راغلو، نو د خوب یوه څپه راباندې راغله، زما ملګری عزت الله هم خوب وړی و او حاجي صیب رضاخان هم. اته بجې دروازه ټک ټک شوه، کله چې مو دروازه بېرته کړه، نو حاجي عبدالکریم او ورسره یو بل ملګری یې دواړه ولاړ وو، په لاس کې یې ډوډۍ او دېګی وو، ویل یې سهار ناشتا مې درته برابره کړې ده. ترمخ او لاس وینځلــو



وروسته دسترخوان اوار شو، ډېر ښه جیګر یې پوخ کړی و. عبدالکریم خان لکه څنګه چې دمخه مې یادونه کړې، خپل هوټل لري، اشپزان یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هم ښه مسلکي دي، تنکی ځیگر یې له ښې مسالې سره پوخ کـړی و، سهار چای مو په ډېر خوند سره وڅښه، ډېر خوند یې وکړ. هغوی بیا له موږ څخه رخصت واخیست ما خپل درمل وخوړل، لږ شان استراحت مې وکړ او وروسته مې خپلو ټلېفونونو ته چې مس کړي مې وو، ځواب ورکړ، هر یو ته مې بېرته زنگونه ووهل، د کابل او وطن احوال مې واخیست او کور ته مې ټلېفون وکړ، بیا د ماسپښین د لمانځه وخت رانږدې شو، بیا لمانځه ته لاړو، تر لمانځه وروسته بېرته اتاق ته راغلو. لږه شېبه وروسته حاجي صیب رضاخان وویل زه به لاړ شم ډوډۍ به تیاره کړم، خو مـوږ ورته وویل چې هېڅ اشتها نه شته، کله چې اشتها راغله نو بیا به ډوډۍ وخورو، دا مــهال څو ټلېفونونه راغلل او همدارنگه یو نیم انډیوال مــو لیدنې ته راغی. بیا د مازیگر لمانځه ته راغلو، تر لمانځه وروســته مــې**



**حاجي رضاخان او حاجي عزت الله ته وویـل، راځــئ د نبــوي مســجد شاوخوا یو دوره ووهو، چې څومره ساحه لري. لــه (۷) نمبــر دخــولي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروازې څخه مو، چې موږ پرې هر وخت داخلېږو، خپل پلی مزل پیل کړ. پنځوس شپېته متره وړاندې ښځو ته ځانګړې ساحه بېله شوې او تقریباً د ټول مسجد یوه پر څلورمه برخه ښځو ته ځانګړې شــوې، حمامونــه، تشنابونه یې هم جلا دي او د لمانځه برخه یې هم، خو د مسجد دا برخه هم لکه د نورو برخو په شان ده، هېڅ توپیر ورسره نه لري، یــوازې پــه لوحو یې توپیر کېږي، چې دا ښځینه برخه ده او د لرګیو یا ټــیم پــرده دېوال یې مخې ته ودرول شوی دی. ښځې په ډاډه زړه او ډېر عزت سره خپل لمونځونه کوي، نارینه دې خواته نه راځي، البته له عمــومي لارو څخه ټول ګټه اخلي. هغه چا سره چې خپلــې مېرمنــې، خوینــدې یــا



میندې حج ته راغلي دي، هغه هغوی تر دې ځایه رسوي او بیا خپله د نرینه وو برخې ته داخلېږي، د ښځو لپاره واړه سر لوڅي بسونه چــې د نړۍ په ځینو هوایي ډګرونو کې هم ګرځي راګرځي، هغه شان موټر کار کوي او مسجد ته له بېلابېلو دخولي دروازو څخه مېرمنــې، د مســجد

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځینه برخې ته انتقالوي، خصوصاً هغه مېرمنې چې معذوره او کمزورې وي، نورې اکثره ښځې چې صحت یې ښه وي، په خپلــه د مســجد دې برخې ته ځان رسوي، موږ چې د مسجد له (۷) دروازې څخه مزل پیــل کړی و ارام ارام د مسجد چاپېره وګرځېدو، د مسجد ټولې دروازې یــو شان نما ورکوي، تر شل دقیقې مزله وروسته بېرته اوومــې دروازې تــه ورسېدو، په دې ډول مو له مسجد څخه د ګرځېدو یوه دوره بشپړه کړه،



حاجي عزت الله خان اتاق ته، زه او حاجي رضاخان سودا اخیستلو پسې لاړو، ځینې شیان مو پیدا کړل، لس لیتره اوبه مو په کار وې، خو لــس لیتره بوتلونه مو پیدا نه کړل، بیا مو یو ښځینه حجاب او د خپلو خپلوانو لپاره (۱۲۰) دانې ترکي ساخت ټیکري واخیستل، درې غټــې بــوجۍ او ورسره مل رسۍ مو هم واخیستې چې بیا خپل سامان پــه کــې ځــای پرځای کړو. اتاق ته لاړو دا شیان مو اتاق کې کېښودل، بیا د ماښــام د لمانځه لپاره مسجد ته لاړو. کله چې ماښام لمونځ خلاص شو، نو حاجي

(c) ketabton.com: The Digital Library



صیب عبدالکافي او ورسره څو نورو ملګرو چې له طایف څخه زما د لیدو لپاره راغلي وو، راته وویل چې موږ راغلي یو، د ماسخوتن تــر لمانځــه وروسته به موږ سره لاړ شئ، دلته مېشت لغمانیان درته په تمه دي. ما ورته وویل چې موږ خو نن شپه د غزني ځینې ملګري دي هغوی مېلمانه کړي وو، نو هلته به تګ ونه شي، خو د ماسخوتن تر لمانځه وروسته به سره وګورو. اتاق ته لاړو او لږ وروسته بیا بېرته د ماســخوتن د لمانځــه لپاره مسجد ته راغلو. کله چې لمونځ خلاص شــو، نــو حــاجي صــیب عبدالکافي او ورسره ملګري مو پیدا کړل، عبدالرحمن ورور او هغه سره بل ملګری (مبارک) مو پیدا کړل، تر روغبړ وروسته هر یو ویل چې موږ سره لاړ شئ. ما ورته وویل چې دغسې ملګرو مېلمستیا کــړې ده، لــه هغوی څخه مو رخصت واخیست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مدینه منوره او غزنیچۍ ښوروا

له دوو ورځو راهیسې د حاجي احسان الله احســاس او ځــو نــورو ملگرو دا غوښتنه وه، چې یوه شپه به زموږ ځای ته ځئ او یوه ښوروا به راسره خورئ، دا وعده نن شپه پوره شوه، کله چې ماسخوتن تر لمانځه وروسته بېرته خپل اتاق ته لاړو، نو احسان الله احساس او انجنیر عزت الله راته منتظر وو، هغوی سره په موټر کې سواره شو، تــر نــږدې نــیم ساعت مزله وروسته د هغوی استوگنځي ته، چــې د مــدینې منــورې



هوايي ډگر ته ورځېرمه واقع و، ورغلو. کله چې اتاق ته ورننوتو، نو ټولو موږ سره تود هرکلی وکړ، ډېر زيات خوشاله شول، څو شېبې وروسته هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو راته خپل ځان معرفي او د خپل کار او دلته د اوسېدو داستان بیــان کړ. دا داسې داستانونه دي چې هر یو یې یو ځانګړی کرکتر او کړلېچنه لار لري. دا داستان د غم په تار تړلی او د کړلېچ زیاتې غوټې لــري، بیــا دوی د افغانستان د حالاتو په باب له ما څخه پوښتنه وکړه، ما د هېواد د تازه حالاتو په باب خپل نظر دوی ته څرګند کړ، سره له دې چـــې دوی وخت پر وخت افغاني رسنۍ تعقیبوي او همدا شېبه یې هم په اتاق کې ژوندون ټلوېزیون لګېدلی و، دوی ډېر احسان منونکي خلــک وو، مــوږ چې په تېرو څو کلونو کې د خپل هېواد لپاره ډېر واړه کارونه هم کــړي



وو، دوی هغو ته د سترو کارونو په سترګه کتل. دوی وویل دا زموږ یــو ارمان و چې کله به یون صیب سره وګورو، زموږ اکثره ملګري وایي چې کله کابل ته لاړ شو، نو یون صیب ته به موږ څوک پرېږدي او که نه؟ هلته به باډیګاردان وي، وسلوال به ولاړ وي او تلاشي به وي. کله چې ما ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وویل لکه څنګه چې دلته ګورئ، همدغسې په هرځـای کـې یـم، نـه وسلوال شته، نه بندیزونه او نه هم تلاشۍ، هر کله چې کابل ته راغلئ، مولا مو راوله، پر همغه ساعت سره کتلای شو، بیا ډوډۍ تیـاره شـوه، پرېمانه ډوډۍ، ښوروا او وریجې، غزنیچۍ ښـوروا یـې زمـا مخـې تـه کېښوده، ډوډۍ یې په کې تیاره میده کړې وه او ماتـه یـې د شپاړسـو کلونو مخکې هغه خاطره رایاده کړه چې د طالبانو د واکمنۍ پرمـهال،**



**زه (یون)، زرین انځور صیب او اسدالله غضنفر صیب کندهار ته تللي وو، هلته مو د غزني – کندهار په لاره کې غزني ښار ته نږدې یـوه ښـوروا وخوړله، ژمی و، د جدي میاشت وه، د لمر څرک سره مو ګرمه ښـوروا وخوړه، خورا خوند یې وکړ. دا ښوروا مې چې وخوړه، نو همغه خاطره یې رایاده کړه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډوډۍ پر مــهال ګڼ شمېر ټلېفونونه راغلل، یو شمېر افغانان چې (حایل) او د سعودي له ختیزې برخې راغلي وو، موږ ته په حرم شریف کې منتظر وو او همدارنګه عبدالکافي ورور هم راته ویــل چــې کلــه د غزنیوالو ورونو له پروګرامه را اوزګار شوې، راساً به د لغمانیو غونډې ته راځئ، هغوی درته منتظر دي.

له غزنیوالو ورونو څخه مو تر ډوډۍ وروسته خدای پاماني واخیسته، هغوی موږ ته تحفې هم برابرې کړې وې، په ډېر اخلاص یې رخصت کړو، بیا یې تر اتاقه په خپل موټر کې راورسولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د افغانانو اوسېلي

کله چې ناوخته د غزنیوالو وروڼو له مېلمستیا څخه راستانه او اتاق ته پورته شو، نو جمیل ورور د سعودي له ختیزې برخې څخه، چې له دې ځایه نږدې یو زر کیلومتره واټن لري، راغلی و، اتاق ته راننوت، تر روغبړ وروسته یې راته وویل دغه یوه لونګۍ مې درته راوړې دا به حتماً په سروې او بل کوم رنګ دې خوښېږي چې جامې درته راوړم، جامې مې ځکه وانه خیستې چې ما ویل هغه رنګ به دې خوښ نه شي.

ما ویل جامې مې ډېرې دي، تانه مننه، اوس راته کیسه کوه چې څنګه راغلې، هغه وویل دا څو ورځې مې درته زنګ واهه، اخر مې په زنګ تونده ماته نه شوه، ما ویل چې یون صیب ونه ګورم نو دا به مې زړه کې یو ارمان وي. نو ځکه مې له کفیل سره چې هغه هم دېخوا ته تیار راته نو زه هم ورسره ملګری شوم، په لاره کې مو موټر ټکر کړ، خو ښه و، موټر د کفیل په نامه و، که چېرې زما په نامه وای، نو غرق وم. دلته چې افغان ټکر وکړي نو لاړ، تباه شو. جمیل وویل، مخکې زما کفیل بل څوک و، هغه یې د داعش په نامه ونیو، مړی او ژوندی یې ورته ورک کړ، بیا مې چې دې بل کفیل ته ځان اړوه، نو دې کې یې راڅخه څو زره ریاله واخیستل، همدومره پیسې پیدا کوو چې بېرته یې کفیل ته ورکوو. زه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار او یو ورور مې کار کوو، څو کاله مو کار وکړ چې ایله مو یو ورور تــه واده وکړ، خوست کې ولور (۱۲) لکه افغانۍ دی، جمیل وویل زما ړېره او برېت نه وو راغلي چې زه دلته راغلم، دا مې څلورم کال دی  چې خپل وطن ته نه یم تللی. په پاکستاني پاسپورت راغلی یم، په دې پاسپورت لومړی په پاکستان کې ډېر په تکلیف شوم، یوځل بندي شوم، اوس پرې نه پاکستان ته تللای شم او نه افغانستان ته!

همدلته پراته یو د خدای هیلې تــه! جمیــل ګرمیــو ســوی و، ډېــر دردونکي داستانونه یې لرل، دا مــهال دوه ملګري: اخترمحمد او یو تن بل ملګری ورسره راننوتل، هغوی له حایل څخــه، چــې لــه دې ځایــه



نږدې څلورنیم سوه کیلو متره واټن لري راغلي وو، هغوی اتاق ته راغلل، تر روغبړ وروسته هغوی هم داسې د غم داستانونه درلودل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا مــهال ما عبدالکافي ورور ته ټلېفون وکړ چې هلته نه شو درتلای، سبا د ماسپښین تر لمانځه وروسته به انشاالله وګورو، هغه وویل سمه ده اخترمحمد او جمیل سره د شپې تر یوې بجې کېناستو، هغوی بیا اجازه واخیسته او ویې ویل تاسې به نور ویده کېږئ، اخترمحمد او ملګري یې په اتاق کې یوه کڅوړه پرېښوده، په هغه کې جاینمازونه او څــه دینــي چاپي پاڼې وې، ویل یې دا مې تاسو ته تحفه راوړې ده، ما که هر څه ورته وویل، خو ده یې د بېرته اخیستلو مخالفت وکړ. هغوی رخصت شول او موږ خوب ته پناه یوړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جمعې لمونځ او د لغمانیو مېلمستیا

د تلې (۲۵) مه د ذوالحجې (۲۳)مه د اکتوبر (۱۷)مه نېټه او د جمعې مبارکه ورځ ده. د سهار تر لمانځه وروسته بېرته اتاق ته راغلو، لږ خوب مو وکړ او بیا عبدالکریم ورور یوځل بیـا سـهارنۍ راوړه، بـل ملګـري (عبدالرحمن) هم سهار ناشتا تیاره کړې وه، هغـه هـم سـهار وختـي سهارنۍ راوړې وه، لس لس نیمې بجې وې چې د سهار چای مو وڅښه،



عبدالرحمن او جمیل ورونه هم په چای کې راسره ناست وو، کله چې مو چای وڅښه نو عبدالرحمن وویل چې نن د جمعې ورځ ده، وختـي بـه جومات ته لاړ شو، ځکه وروسته نه بهر کې ځای وي، نه په جومات کې، دلته یو شمېر داسې عربان شته چې یوه جمعه او بله جمعـه د جمعـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لمانځه ته راځي او بس! همدارنګه ګڼ شمېر بهرنیان چې دلته کاروبار کوي، هغوی هم د جمعې لمانځه ته ځان رارسوي ان د باندې پر سړکونو هم خلک ولاړ وي. اودس مې وکړ، جامې مې بدلې کړې او مسجد ته لاړو، یوولس بجې د نبوي مسجد په داخل کې په مناسب ځای کې کېناستو، لومړی مو دوه رکعته تحیة المسجد لمونځ وکړ او بیا مې له دې موقع څخه ګټه پورته کړه د تېرې ورځې پاتې یادښتونه مې پسې ولیکل. صفونه ورو ورو بشپړېدل دا مهال یو سړي په زوره زما ترڅنګ ځان ځای کړ، ما وویل ځای خو نه شته په زوره ځان ځایوې که څنګه؟ هغه لومړی دوه رکعته لمونځ وکړ او بیا وروسته یې زما تر څنګ ملګري ته وویل یون صیب نه دی؟ بیا یې ماسره سترې مشي وکړل، ځان یې**



**معرفي کړ. زړه کې مې وویل ښه دی چې اول کې تېز ورسره نه یم تللی. دی خو افغان و، د تخار ولایت اوسېدونکی و او دا شل پنځه ویشت کاله کېږي چې دلته په مدینه منوره کې اوسېږي په (قبا شریف) کې د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**افغانانو یو ځانګړی جومات دی او دی د احنافو ملا دی. ده وویل دلته یې د احنافو لپاره ماته ځانګړې اجازه راکړې، د جمعې لمونځ مو ادا کړ، پر دې ورځ سخته ګڼه ګوڼه وه، کله چې اتاق ته راغلـو، نـو لـږ وروسـته عبدالکافي ورور او ورسره نور ملګري راپسې راغلل او د تېرې وعـدې مطابق هغوی سره لاړو، هلته زموږ د لغمان یو اوسېدونکی (عبدالقیوم) ورور له ډېرو کلونو راهیسې اوسېږي، د هغوی کور ته لاړو، هغـه ډېـره**



**لوکسه ډوډۍ تیاره کړې وه، د نږدې شلو کسانو لپاره یې ډوډۍ کړې وه، خو موږ ایله پنځه شپږ تنه وو، یو زه (یون) او نور لـه عبـدالکافي ورور سره له طایف څخه راغلي اندیوالان وو.ډوډۍ مو وخوړه، ډېره خوندوره او اخلاصمنده ډوډۍ وه، بیا حاجي عبـدالقیوم مـوږ خپـل اتـاق تـه راورسولو، د مازیګر او ماښام لمونځونه مو وکړل،تر هغه وروسته د تېرې ورځې د وعدې مطابق زموږ یو شمېر افغانان چې دلته د سـعودي پـه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلابېلو سیمو کې کار کوي او تېره ورځ په یوځایي ډول زما لیدو ته راغلي وو، هغوی راته زنګ وواهه چې ډوډۍ ستا اتاق ته راوړو او که زموږ اتاق ته راځې؟ دلته زموږ ډېر ملګري ستاسو انتظار دي، ما وویل نه موږ به هلته درشو، دا مهال ماته پته ولګېده چې دوی په دې خوشالېږي چې موږ هلته ورشو. د ماسخوتن تر لمانځه وروسته د دوی له جملې څخه یو تن موږ پسې راغی، خپل موټر یې راوړ. زه (یون)، حاجي رضاخان، جمیل، عبدالرحمن او حاجي عزت الله هغه سره لاړو. اتاق یې د بدر غره سره نږدې سیمه کې موقعیت درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اخلاص ډوډۍ او د عزت لونګۍ

کله چې ددې مسافرو افغانانو استوګنځې ته ورسېدو، نو ټول ملګري افغانان سره راټول شول، لومړی یې زموږ هرکلی وکړ او بیا یې خپل اتاق ته بوتلو، د غریبۍ، د کاریګرۍ او مسافرۍ اتاق، کله چې کېناستو، نو د اتاق څلورو دېوالونه او چت مې له نظره تېر کړل، د سختۍ، ګرمۍ، زیار او زحمت بېلابېل تصویرونه مې په ذهن کې تېر شول. دا افغانان دلته اوسي، اکثره یې موټر چلوونکي دي، ډېر سخت او ستړي کوونکي کارونه ترسره



کوي او اکثره یې لوی باربري موټر چلوي. د دوی په تندي کې که څه هم د زحمت نښې له ورایه ښکارېدې، خو نن زما په راتګ سره ډېر خوشاله وو، ټولو په ګډه کار کاوه، ډېر ژر یې ډوډۍ تیاره کړه، دسترخوان یې وغوړاوه، څه چې د دوی په وس کې وو، ټول یې پر دسترخوان وغوړول، ډېره د اخلاص او مینې ډوډۍ وه، ډوډۍ مې د درد له تصویر او د اخلاص

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له خوړلنیو سره یوځای تر ستوني تېره کړه، ټولو زما دومره عزت وکــړ چې زه یې هغومره مستحق نه یم، تر ډوډۍ وروسته چای تیار شو او بیا ټولو په ګډه یوه لونګۍ راوړه، ماته یې په سر کړه، راته یې وویل موږ خو دلتـــــــــــه مســـــــــــافر یــــــــــــو،**



**ستا ډېر عزت نه شو کولای، نو دا زموږ د اخلاص او عزت نښه وګڼه، ما ورته کور ودانی ووایه او د لوی خدای(ج) له درباره مې ورته د سوکالۍ او بېرته په خپل وطن کې د استوګنې او ښه ژوند هیله وکړه. سره لــه دې چې زړه مو نه کېده چې رخصت ورڅخه واخلو، خو ناچار وو اجازه مــو ورڅخه واخیسته، دوی ټول له خپل اتاقه راووتل، موږ یې په موټر کــې کېنولو او تر خپل اتاقه یې راورسولو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خدای(ج) رسول ته وروستی سلام او خدای پاماني

**کله چې د کارګرو او مسافرو افغانانو له عزتناکې مېلمستيا راستانه شو، نو خبره د شپې تر دولسو بجو اوښتې وه، فکر مو وکړ سبا ته کېدی شي هېڅ وخت پيدا نه شي او يا هم ګڼه ګونه وي، نو ښه بــه وي چــې همدا اوس د پيغمبر(ص) وروستي او وداعي سلام ته ورشو، بيا به دلته راشو که رانه شو، د خپل زړه دا ارمان به پوره کړو. حاجيان چې کله هم له مدينې منورې څخه رخصت اخلي، نو د حضرت محمد(ص) وروستی**



**سلام کوي او بيا ځي. عزت الله خان، عبدالرحمن، جميل، رضاخان او نور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ملګري چې راسره وو، ټولو زما خبره تائید کړه، ټول نبوي مسـجد تـه لاړو، ګنه ګونه وه، خو دومره ډېره نه وه، ځان مـو ریـاض الجنـت تـه ورساوه، دلته لمونځ دا مانا لري لکه په جنت کې چې حاضر یې، هلتـه مې دوه رکعته لمونځ وکړ، ګنه ګونه ډېره وه، خو ماته عمـران او نـورو دوستانو د لمانځه زمینه برابره کړه، لمونځ مې ادا کړ، یو ځل بیـا مـې خپلې تېرې ګناوې او خطاوې په ذهن کې تېـرې راتېـرې شـوې، لـه خدای(ج) څخه مې د هغه د محبوب په وسـاطت د مغفـرت غوښـتنه وکړه، خپلې مور، پلار، دوستانو ته مې د زړه له تله دعاګـانې وکـړې، د**



**خپل هېواد او خپل ولس د ابادۍ او سوکالۍ لپاره مې د دعـا لاسـونه پورته کړل، بیا له ریاض الجنت څخه ووتـم، کـېڼ لاس تـه د حضـرت پیغمبر(ص) مبارکه روضه ده، په اوسپنیزې کړکۍ کې د هغه د مبارکې مقبرې لپاره یوه ګرده دریڅه ده، چې هغې ته سر ورښکته کـړي، نـو د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیغمبر(ص) پر مبارکه مقبره دې سترګې لګېدی شي، لومړی ځل مې له



همدې دریځې څخه د حضـــــــــرت پیغمبـــــر(ص) پـــر مبـــارکې مقبـــرې سترګې ولګېدې، خو دا ځل پولیسو کړکۍ ته څوک نـــږدې نـــه پرېښودل، له نـــږدې واتـــن څخـــه مـــو د خدای رسول ته سلام او درنـــاوی وکـــړ او د هغه مبارکو یارانو ته.

دا مهال نـــو د هېڅـــا زړه نه کېږي چې له دې ځایه لاړ شي، خو د خلکو ګڼه ګوڼه او د پولیسو ډېر ټینګار ددې سبب ګرځي چې دلته درته د ډېر وخت لپـــاره د پـــاتې کېدو مجال در نه کړي، د پیغمبر(ص) له مبارکې روضې څخه په وتو شو، خو د خروجي دروازې په خوله کې بیا تم شو. دلته څو دقیقې ودرېدو، زړه مو نه کېده چې لاړ شو، خو د خلګو ګڼه ګوڼه خورا زیاته وه، بیـــا د نبوي مسجد بېروني انګړ کې وګرځېدو، هلته مو له بېلابېلو دوســـتانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره عکسونه واخیستل، ما د مســجد د بهرنــۍ فضــا څــو انځورونــه واخیستل، هوا او فضا دواړه ښایسته معلومېدل، زړه مو نه کېده چې د مسجد له ساحې ووځو، خو چاره نه وه، د اتاق پر لوري مو حرکت وکړ او پنځه شپږو دقیقو کې اتاق ته ورسېدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په مدینه منوره کې وروستۍ شپه او د سفر تیاری

د تلې (۲٦)مه د ذوالحجې (۲٤) د اکتوبر (۱۸) مه نېټه د شنبې ورځ ده. سهار وختي لمانځه ته لاړو دا ځل مو لمونځ د نبوي مسجد په تخت بام کې ادا کړ. کله چې بېرته اتاق ته راغلو، نو لږ خوب مو وکړ، لس بجې



له خوبه پاڅېدو، عبدالکریم او ملګري یې تیار سور کړی ځیګر تیار کړی و، ډېر خوندور و، د لس پنځه لسو کسانو لپاره وو، جمیـــل هـــم ســـهار وختي راغلی و، چای او ناشتا یې تیاره کړې وه، چای مو په ګډه وڅښه، وروسته حمدالله (عمران) او دده ملګري اخترمحمد او یو بل ملګری له

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکې معظمې څخه چې د عمرې لپاره تللي وو، هغوی هم راغلل، ټولو ته چای تیار شو، تر یوولس نیمو بجــو ټــول دلتــه ناســت وو، بیــا مــو د ماسپښین لمانځه لپاره تیاری ونیو. تر لمانځه دمخـــه اخترمحمــد ورور ورسره ملګري يې، حاجي رضاخان او جمیل ټولو زموږ د غوټو په برابرولو او تړلو کې مرسته وکړه، درې غوټې مو تیارې کړې، هر چا دومره تحفې



راوړې وې چې تر اصلي او قانوني وزنه زموږ وزن ډېر زیاتېده، غوټې مو به منظم ډول سره وتړلې، هره غوټه تقریباً دېــرش، اتــه ویشــت او اوه ویشت کیلو شوله، یوه غوټه مو لا بېخي سرخلاصې پرېښوده چــې تــر مازیګره نور څه راځي هغه په کې ځای پرځای کړو، اوبه مې لس لیتره په کڅوړه او لس لیتره نورې په لاس کې برابرې کړې، یو یو لاسي بکس مو هم ځان سره جلا برابر کړ. بیا ماسپښین لمانځه ته لاړو، لمونځ مو پــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمع ادا کړ، بیا بېرته اتاق ته راغلو، یوه سترګه خوب مـو وکـړ، بیـا د مازیګر لمانځه ته لاړو، هلته مو بیا یو شمېر نویو افغان حاجیـانو سـره وکتل، یو تن چې زما ترڅنګ په صف کې ناست و،وویل: یون صیب یې؟ ما ویل هو! او څومره ارمان مې و، دلته زه اوسېږم دا څو ورځې مې هیله وه چې دلته دې پیدا کړم خو امکان برابر نه شو، له ما سره مور او پلا هم حج ته راغلي دي، هغوی سره ډېر بند وم، خو خدای مې سوال قبول کړ دا دی دلته مې وکتلې، خپل ځان یې هم راته معرفي کړ، ګرمه سـتړې مشي یې وکړه، بیا یې جیب ته لاس کړ خپله بڅخګۍ یې راوایسـتله،



پیسې راوکاږلې هه دا واخله ځانته پرې کالي وکړه، ډېر ټینګ ست یې وکړ له صمیمیت څخه ډک ست، ما وویل ماته راورسېدې، ډېـره مننـه پیسې مې بېرته په زوره ورته جیب کې کېښودې، بېرته اتـاق تـه لاړو، حاجي رضا خان راته وویل د تحریک ملګرو ته ځینې شیان اخلـم، مـا ویل بار خو درته خپله معلوم دی، بل تحریکوال ښه دي، بیا چـې کلـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خپله راتللې هغه وخت به بیا پرې غور وکړې. حاجي رضاخان ویل خیر لس کیلو هجوه خرما خو درته ضرور اخلم، ما ویل هېڅ امکان نه لـري، بار مې ډېر دروند دی. په زوره زوره مې درې کیلو ته راکښته کړ، ماته یې درې کیلو خرما او مطیع الله ساپي ته، چې نوی یې واده کـړی و، عطـر واخیستل، اتاق ته راغلو، بیا د ماښام د لمانځه وخت شو. د لمانځه لپاره نبوي مسجد ته لاړو ماښام او ماسخوتن لمونځونه مو هملته اداکړل، تر لمانځه وروسته بېرته خپل اتاق ته راغلو، دا وخت نو عبدالرحمن هم له**



**وظیفې څخه فارغ شوی و، اتاق ته راغی، د هغه ورور راسره له نـاروې څخه هم خبرې وکړې او همدارنګه په دې مـنځ کـې یـو ګـڼ شـمېر هېوادوالو چې دلته په سعودي کې اوسېږي، حاجي رضاخان وویل چې نن به لاړ شو، کوم ښه افغاني کباب به چېرته پیدا کړو. دا مـهال شیخ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاجي نعیم یو ځل بیا زنګ وواهه، ګوره چې چېرته لاړ نه شئ، نن شپه زما مېلمانه یاست، زه همدلته اتاق ته ډوډۍ دروړم. د شپې تقریباً نهـه بجې وې چې حاجي نعیم، عبدالکریم، نعمت او یو تن بل حاجي ورسره هم ملګري وو، اتاق ته راغلل، یو پنډ ډوډۍ، مېوه او نوشابه ورسره وو. دوه قسمه کباب، وریجې او نور خوراکي شیان، ډوډۍ مو وخوړه، د شپې تر (۱۲) بجو پورې مو ګپ ولګاوه، خپلې غوټې مو ټولې پوره کړې، څلور غټې غوټې، دوه بوشکې اوبه، دوه لاسي بیکونه زموږ ټول شیان شول، د ټولو وزن نږدې (۱۵۰) کیلو ګرامه ته رسېده، په دو کسانو، پنځـه لـس پنځه لس کیلو مو بیکونه شول، لس لس لیتره اوبه شوې او تقریباً (۱۱۶) کیلو غوټې. تر (۱۲) بجو دمخه عمران خان (حمدالله) هم راغی، خپـل موټر یې هم راوست، هغه وویل زه به مو میدان ته ورسوم. لکه وړاندې چې مې معرفي کړ عمران خان دلته یو عرب سـره ډرېـور دی اصـلاً د لغمان دی، خورا خدمتګار سړی دی، دا څو ورځې کېږي چې موږ سـره دی هم ډېر ستړی دی، هر ځای ته مو رسوي.

(۱۲) بجې له اتاقه کښته شو، غوټې مو ټولې د عمران په موټر کې بار کړې. نورو ملګرو، حاجي رضاخان، حاجي نعیم، عبدالکریم، نعمـت او جمیل ټولو ویل چې موږ هم درسره میدان ته ځو، بل موټر هم تیار ولاړ دی، خو موږ وویل یوازې عبدالرحمن به راسره لاړ شي، دی هلته کـوم څوک پېژني، که مرسته یې وکړای شوه، ښه ده که نه هر څومره بار چې زیات شو، د هغو محصول ورکوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مازیگر مــهال راته چا وویل چې یو کیلو اضافه بار باندې (۷۵) ریاله اخلي، ما تیار (۳) زره ریاله جلا کړل، ما ویل هســې نــه وي چــې بیــا وشرمېږو او مال مو کم کړي، که څه هم موږ سره ځینې داسې شیان هم وو چې قیمت یې ددې نیمایي هم نه کېده، خو که هلته څومره ټکــس راته، ورته حاضر وم چې ور یې کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هوايي ډګر

دولس بجې مو د ميدان پر طرف حرکت وکړ، (۲۰) دقيقې وروسته هلته ورسېدو، حاجي عمران او عبدالرحمن دوه لاس ګاډي راوړل، سامان يې په کې بار کړ، کونتر (شمېرونکي) ته ودرېدلو، نږدې (۴۵) دقيقې انتظار مو وکړ، دا مهال عطامحمد ( د افغان حاجيانو مسول) او څو تنه نور ملګري هم راغلل، عطامحمد ته مې وويل زموږ د هر يوه د



کاليو وزن تر اصلي باره نږدې (۱۵-۲۰) کيلو زيات دی، نو اوس له خپل مهارت څخه کار واخله چې دا مال تېر کړو، که چېرې يې جنجال کاوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو پسې ګرځه مه، محصول ورکوو. هغه کاونټر ته ودرېد، ټکټونه برابر او پاسپورټونه چک شول، زموږ بار تقریباً (۱۶) کیلو زیات شو، البته دې کې لا د غاړې بېکونه شامل نه وو چې هغو هر یوه خپل خپـل وزن درلـود. هغوی غږ ونه کړ موږ هم ځان غلی کړ. هر څـه پـه خیـر تېـر شـول، عطامحمد ته مې وویل ځان غلی کړه. واسطه دې بل چاته وساته، کلـه چې مو خپلې غوټې تحویل کړې، نو موږ پاس منزل ته د ترمینل په لوري



وختو، له ښاغلي عمران او عبدالرحمن څخه مو رخصت واخیست او موږ تر امنیتي چک وروسته د ترمینل انتظار خونه کې کېناستو، تـر (۴۵) دقیقو زیات و کم انتظار وروسته د بورډینګ کـارت د چکولـو وخـت راورسېد، د انتظار په شېبو کې یو شمېر افغان حاجیان زمـا لیـدو تـه راغلل، حاجي صیب ګلاب، حاجي زین الله او یو بل ځوان تر اوږدو خبرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**او مرکو وروسته يادګاري عکسونه راسره واخيستل. د مشرانو جرګې مشر فضل هادي مسلميار صيب مو هم دلته وليد او بيا د بورډينګ کارت تر چک وروسته لومړی موټر او بيا الوتکې ته پورته شو. د اماراتو الوتکې په نړۍ کې د سهولت له امله ښه شهرت لري، په سوونو مسافر**



**په دې الوتکه کې ځايېدل، تقريباً اکثره څوکۍ ډکې وې، کومه يوه که په کې خالي پاتې وي، کېدی شي څو دقيقې وروسته الوتکه الوتنې ته چمتو شي. تر الوتنې وړاندې د الوتکې د ټلوېزيون پر سکرين ليکل کېدل، چې ټوله فاصله (۱۵۸۱) کيلو متره ده او الوتکه د ځمکې له سطحې (۶۵۰) ميله ارتفاع کې الوتنه کوي، اوس ساعت څلور نيمې بجې دی، تراوسه د الوتکې درک معلوم نه دی. دا دی اوس پيلوټ اعلان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وکړ چې دوبۍ هوايي ډګر مصروف دی. الوتنه تر ټاکلي وخت وروسته هم یو څه ځنډېږي.**

**دا دی اوس چې شل کم پنځه بجې دي الوتکې د ځمکې پر ځغاستلیکې خپل حرکت پیل کړ او همدارنګه یې د الوتکې ضروري معمول اعلانونه خپاره کړل، څو دقیقو کې به که خدای کول الوتکه د ځمکې له سطحې پورته شي. مدینه منوره د شپې له الوتکې څخه منوره ښکاري د ښار د هرې برخې رڼاګانو، ښار ښایسته کړی، په سکرین راغلل چې دوه ساعته او (۵) دقیقو کې به دوبۍ ته رسېږو. دادی اوس پنځه لس کم پنځه بجې الوتکه له ځغلیکې څخه پورته شوه، د الوتکې داخلي ګروپونه هم ګل شول.**

**شل کم شپږ بجې یې الوتکه کې سهار چای راوړ، شپږ او لس دقیقې یې اعلان وکړ چې موږ دوبۍ ته نږدې کېدونکي یو، پنځه لس کم اوه بجې وې چې الوتکه د دوبۍ پر نړیوال هوايي ډګر راکوزه شوه، البته د سعودي پر وخت، محلي وخت اوه بجې او پنځه څلوېښت دقیقې دی. کله چې له الوتکې کوز شو، نو د ترمینل د دخولي دروازې په خوله کې د اماراتو هوايي لیکې دوه تنه ښځینه کارکوونکې ولاړې وې او ((کابول کابول)) نارې یې وهلې، کله چې ټول خلک دلته راټول شول، نو دې وویل ما تعقیبوئ، یوه مخکې وه، یوه شاته، تر پنځه لس دقیقې پلې مزله وروسته امنیتي چک ته ورسېدو، تر هغه چې تېر شو بیا څو دقیقې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مزل و اخر ۳۷، ۳۸، ۳۹ نمبر انتظار خونې ته ورسېدو، تر لږ ځنډ وروسته بورډینګ کارتونه او پاسپورتونه چک شول، بیا په یوه هال کې کېناستو، تر هغه وروسته له ترمینله ووتلو، په یوه بس ګاډي کې یې چې نږدې لس پنځه لس دقیقې مزل به یې کړی وي د الوتکې تر سینې پورې راورسولو، (۷) دقیقې لسو ته پاتې وې چې الوتکې ته پورته شو، اوس



چې لس بجې او درې دقیقې دي، لا هم خلک خپلو ځایونو ته راځي، کېدی شي نیم ساعت شاوخوا کې الوتکه الوتنه وکړي. دا یادښت چې مې تر دې دمه راورساوه، نو ساعت لس بجې او پینځه دقیقې دي. لس او پنځه لس دقیقې وې چې الوتکې ځان ځغلیکې ته برابر کړ، اوس لس نیمې بجې دي، الوتکه پر عمومي لیکه ولاړه ده او ځان الوتلو ته تیاروي، لس دقیقې وروسته الوتکه والوته، دا مهال نو پر ما د خوب یوه څپه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغله، نه یوازې پرما، بلکې پر اکثرو نورو مساپرو، یوه سترګه خوب مې وکړ، کله چې مې سترګې رڼې کړې، نو د ډوډۍ د وېش وخــت و، ډوډۍ مو وخوړه، خو چندان ښه راباندې ونه لګېده، یو ګیلاس چای مې پسې وڅښه، هغه لا ښه و خوندور و، تر چای او ډوډۍ وروسته لاره هــم پــه لنډېدو وه. اوس نو کابل ته ایله نیم ساعت یا څلوېښت دقیقې شاوخوا لاره پاتې ده.

پر دې مهال یې اعلان وکړ چې پر محلي وخــت پــر یــوې بجــې او څلوېښتو دقیقو کې کابل ته رسېږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کابل کې هرکلی

د میزان یا تلې (۲۷) مه د ذوالحجې (۲۵)، د اکتوبر (۱۹) مه نېټــه د یکشنبې ورځ وه. یوه بجه او څلوېښت دقیقې وې چې الوتکه د کابل پر هوايي ډګر راکښته شوه، د خپل وطن هوا مې حس کړه. له الوتکې څخه د راوتو پرمهال حاجي شېرشاه ستور چې اصلاً زمونږ د لغمان لــه یــوې



مخورې کورنۍ څخه دی او په اریانا افغان هوايي شرکت کې کار کوي، تر هرچا لومړی ماته هرکلی ووایه، د الوتکې له دروازې څخه چــې رابهــر شوم، نو د (وي ای پي) کسانو لپاره ځانګړي شوي موټر کې یې کېنولم او د وي ای پي (VIP) له لارې له هوايي ډګره رابهر شوم، دلته ګڼ شـــمېر دوستان او د تحریک ملګري زما لیدو ته راغلي وو، حاجیانو ته د هرکلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



له معمول سره سم یې راته ګلان غاړه کې واچول، تر روغبړ او مبــارکۍ وروسته په خپل ګاډي کې کېناستم، نــور ملګــري راســره څنــګ تــه کېناستل، کله چې له هوایي ډګره راووتو، نو د هوایي ډګر په څلور لارې




کې راسره نور دوستان هم ملګري شول، څو دقیقې وروسته ټلوېزیون ته ورسېدو، هلته راته نورو ملګرو هرکلی وویه او په دې ډول د حج سفر دلته پایته ورسېد، خو د ختم او خیرات مراسم لا پاتې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ختم او خيرات

د حج تر مراسمو دمخه لكه چې هر حاجي د ختم و خيــرات هــوډ لري، ما هم دا هوډ درلود، د ژوندون ټلوېزيــون مــالي او اداري مســول ډاكتر مروان، ضياءالرحمن ضياء او نورو تحريكوالو ته مې ويلي وو، چې د خيرات لپاره خپل ترتيبات ونيسي، د حج د مراسمو په بهير كې مې هم




څو ځله ورته د خيرات په باب وويل، دوی وويل، موږ هر څه ترتيب كړي، كله چې ستا د راتلو نېټه معلومه شي، نو تر هغه يوه ورځ وروســته بــه ختم و خيرات ونيسو، د زمزم د اوبو په شمول، جاينمازونه، تسبې، خرما او ځينې نور ضروري شيان ما ځان سره راوړل، خو دلته دوی هم پــوره شيان اخيستي وو. ضياءالرحمن ضياء او وفاالرحمن وفا كارتونه مخكې تر مخكې چاپ او اكثرو دوستانو ته وېشلي وو، د خيرات ورځ مــو پــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټلیفون کې ورته ویلې وه. یانې کابل ته زما تر راتګ د یوې ورځــې پــه واټن، همداسې وشول. د میزان پر (۲۷) نېټه زه کابل ته راورسېدم، تــر یوې ورځې وقفې وروسته، د تلې پر (۲۹) مه نېټه د (سه شنبې) پر ورځ مو ختم و خیرات وکړ. په خیرات کې ټول ټال نــږدې درې زره کســانو ګډون کړی و، امیرانو او فقیرانو ټولو ته بلنه ورکړل شوې وه، د ټولو دې



کور ودان وي، په اخلاص یې په خیرات کې ګډون وکړ، ټولو خپله مینه ښکاره کړه، تر خیرات یوه ورځ دمخه چې دوستانو د پســونو د راوړلــو بهیر پیل کړ، بیا دوه درې اوونیو پورې دوام وکړ، یو وخت داسې راغــی چې د ژوندون ټلوېزیون په انګړ کې د پسونو یوه لویه رمه جوړه شوه. په دې ډول د حج مبارک هغه سفر چې زما د نیت او هــوډ پــر بنســټ د سنبلې میاشتې پر (۲۸) نېټه پیل شوی و، په دې ختم و خیرات سره په خیر پای ته ورسېد.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**